سرليکنه:

د لـوړو زده کړو وزارت يـوه پـر ځـاى هڅه

ځوانان د ټولنې ستون فقرات تشکيلوي، چې د ټولنې په رغښت، هوساينه او پرمختګ کې يې کارنده رول له هيچا پټ ندى؛ خو دا چاره هغه مهال شونې ده، چې د دغه بشري ځواک سالمه ښوونه او روزنه صورت ونيسي. افغاني ټولنه چې د نفوس څه د پاسه شپېته سلنه يې ځوانان دي، په هېواد کې د نړدې څلور لسيزو تپل شويو جنګ- جګړو زياتره قرباني همدغه قشر دى، چې د ګڼو ناخوالو ترڅنګ يې د ژوند له اړينو حقونو بې برخې کړي، او لاهم د يادو محروميتونو تراخه څکي. د وروستيو راپورونو له مخې يوازې د تېر (۱۳۹۲) کال د کانکور په ازموينو کې د (۲۵۴) زرو تنو ګډونوالو څخه (۸۰) زره تنه يې بې نتيجې پاتې کېږي او نشي کولاى، چې پوهنتونونو او تحصيلي موسسو ته لاره پيدا کړي؛ چې له لوړو زده کړو په دومره شمېر کې د ځوانو استعدادونو محروميت زمونږ جګړه ځپلې ټولنې ته له يوه بل ستر معنوي زيان او ناورين پرته بل څه کېداى شي !؟

له نېکه مرغه د لوړو زده کړو وزارت مشرتابه په خپل وخت ددغې ستونزې د اوارې په موخه يوه طرحه برابره او د دولت او نړيوالو مرستندويه ادارو په مخکې يې کېښوده، چې د پلي کېدو په صورت کې به يې هغه ځوانان چې د کانکور په ازموينه کې بې نتيجې پاتې شوي، خصوصي پوهنتونونو او دولتي شپې پوهنځيو ته لاره پيدا کړي. د ياد وزارت د شمېرنو له مخې د (۱۳۹۲) کال د کانکور په ازموينو کې شاوخوا (۲۵۴) زره تنو ګډون کړى، چې له دې ډلې (۲۰) زره تنه د لوړو زده کړو موسسو، (۳۰) زره تنه د نيمه لوړو زده کړو موسسو، (۳۴) زره تنه په تخفيف او وړيا توګه د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته جذبېږي، او (۸۰) زره تنه نور به بې نتيجې پاتې شي. د لوړو زده کړو وزارت مسئولين وايي چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ورسره منلې، چې د کانکور هغه بې نتيجې ځوانان چې له ۵۰ سلنې زياتې نومرې يې وړي، په کم فيس ومني او يو شمېر نور به يې په دولتي شپې پوهنځيو کې جذب شي؛ چې ددې طرحې د پلي کېدو لپاره (۲۴) مليون ډالرو مرستې ته اړتيا ده، چې د ياد وزارت مقام يې د اړوندو مرستندويه ادارو څخه غوښتنه کړې ده. مونږ هم په داسې حال کې چې د لوړو زده کړو وزارت ياده طرحه يو پر وخت او پر ځاى ګام بولو، له دولت او مرستندويه ټولنو غوښتنه کوو، چې په خپلو مرستو د ياد وزارت ملا وتړي او پرېنږدي، چې زمونږ لسګونه زره ځوانان د زده کړو له اساسي حق څخه محروم شي. دغه راز دې په هېواد کې د پوهنتونونو او نيمه لوړو زده کړو موسسو جوړېدو، ودې او پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه وشي، چې زمونږ ځوان نسل په راتلونکې کې ددغه ډول ستونزو او محروميتونو سره مخ نشي.

د يوه سوکاله او پرمختللي افغانستان په هيله

اداره

پوهـــندوی اســـرار الـــحـــی (مـــنيب)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

پـه سنن اربعه و کې بلخي راويان

لنډيز:

په دې څېړنه کې د افغانستان د بلخ ولايت هغه محدثين او راويان چې په سنن اربعه و (ابوداود، نسائي، ترمذي، ابن ماجه) کې ورڅخه روايتونه موجود دي، تر بحث لاندې نيول شوي. د هغوی پېژندنه، په اړه يې جرح او تعديل، د علماوو ويناوې، دوی له چا زده کړه او د روايت اخذ کړی او له دوی څخه په کوم کتاب کې روايت شوی، په نظر کې دي. د پلټنې په نتيجه کې په څلورو واړو کتابونو کې د (۱۱) تنو شتون ثابت شوی دی.

سريزه:

په اسلامي شريعت او نبوي حديثونو کې سند او د راويانو سلسله د پيغمبري ويناوو او کړنو د باوري کېدو لپاره د ملا د تير حيثيت لري، همدا سند او يا د راويانو سلسله ده چې نبوي ملغلرې يې تر مونږ په سمه توګه رارسولي. سمې، ضعيفه، او له ځانه جوړې شوې (موضوعي) او پردۍ خبرې او ويناوې يې سره جلا او د اسلام مقدس دين يې په سمه بڼه راپېژندلی. دا يو نه پټېدونکی حقيقت دی، که د حجاز ځمکه د الهي او نبوي انوارو لومړنی مرکز بلل کېږي، خو دومره تېزې وړانګې يې درلودې، چې د لمر له شعاع څخه يې هم په تېزۍ سره خپل چاپېريال روښانه او ننبې ننبانې يې تر افغانستانه راورسېدې. د افغانستان وګړو هم حق ته په کتنې سره دې دعوت او رڼا ته په خپل زړه او ذهن کې ځای ورکړ او په رښتينې توګه يې ورڅخه په قلم او تورې دواړو سره يوشان دفاع وکړه؛ خپل بچيان يې د دين زده کړې ته کېنول او داسې نوميالي شخصيتونه يې ورکړل چې د نبوي حديثونو ډېرې مؤلفين او راجمع کوونکي يې د لوی افغاستان زېږنده ګڼل کېږي. خو د حق او باطل د دوامداره مقابلې په اساس د دې خاورې اصيل او نوميالي علمي شخصيتونه له خلکو څخه هير او د لويو کتابونو په منځپانګه کې خواره واره پاتې شول. که څه هم د ملغلرو په امېل کې د ټولو پېيل او يوځای کول يو دروند کار دی، خو په دې کاروان کې د يوه برخوال په توګه مې په څو محدودو کتابونو کې د افغانستان د يوې محدودې سيمې نوميالي محدثين او راويان راجمعه کړل، تر څو د دين د لارويانو د بصيرت او پاملرنې وړ وګرځي.

موخې:

- د حديثو په روايت کې د افغاني محدثينو او راويانو شتون څرګندول
- د هغوی بشپړه پېژندنه او حالات ذکر کول
- په سنن اربعه ؤ کې د هغوی شمېر ته کتنه

مواد او کړنلاره:

لومړی مې د موضوع په اړه پلټنه وکړه، ترڅو معلومه شي چې په دې اړه خو به چا کومه علمي څېړنه نه وي ترسره کړې، د تحقيق په پايله کې څرګنده شوه چې په دې اړه ځانګړې ليکنه وجود نلري. بيا مې ذکر شوي څلورو اړه کتابونه په المکتبة الشاملة کې د کمپيوټر په واسطه ولټول؛ له دې لارې په هر کتاب کې د بلخ د راويانو نومونه په لاس راغلل. د هغوی پېژندنه او حالات مې بيا د علم حديث پورې مربوط د جرح او تعديل په کتابونو کې ولټول، په دې لړۍ کې مې د ابن حجر (رح) له تقريب التهذيب کتاب څخه هم استفاده کړې ده. نوموړې په دې کتاب کې ځانګړې تګلاره لري، او هغه دا چې نوموړې د راويانو په هکله د جرح او تعديل الفاظ په (۱۲) مرتبو ويشلي؛ همدارنګه د زمانې له لحاظه يې راويان هم په (۱۲) ډلو او طبقو ويشلي، لومړۍ ډله او طبقه د صحابوو، پنځه ډلې د تابعينو، څلور د تبع تابعينو او درې له دوی څخه د وروستۍ پېړۍ خلک دي، چې ځای ځای يې ورته منسوبوي.

سنن څه ته وايي؟

مخکې له دې چې د راويانو په تخريج او څېړنه باندې بحث وکړو، لومړی بايد پدې ځان پوه کړو چې سنن څه ته وايي او له کوم ډول کتابونو څخه عبارت دي. سنن د نبوي حديثو هغه کتابونو لپاره استعمالېږي چې په فقهي بابونو سره مرتب شوي وي؛ يعنې د فقهي د کتابونو په طرز او ترتيب سره يې عنوانونه او مباحث ځای پرځای شوي وي. دې ډول کتابونو ته په ابتداء کې (ابواب) ويل کېدل، وروسته يې نوم تبديل او په (مصنّف) سره ونومول شول او په پای کې ورته د سنن نوم کېښودل شو. په دې ترتيب سره تر ټولو لومړی ليکل شوی کتاب د امام ابوحنيفه د استاد ښاغلي عامر بن شراحيل الشعبي کتاب دی چې په (ابواب الشعبي) سره مشهور دی. له دې وروسته د حديثو په شپږو مشهورو کتابونو کې، سنن النسائی، سنن ابی داود، سنن الترمذی او سنن ابن ماجه دي، چې په سنن اربعه (څلورګوني سننو) سره شهرت لري. له دې پرته سنن بيهقي، سنن دارمي، سنن دارقطني، سنن سعيد بن منصور هم ددې نوعې مشهور کتابونه دي او سنن ابن جريج او سنن وکيع بن الجراح خو د دې ډول کتابونو پخواني او قديم ترين تصنيفات ګڼل کېږي. د يادولو وړ ده چې (مصنف عبدالرزاق او مصنف ابن ابی شيبة هم په دې ډول کتابونو کې شامل دي.(۱۱م م۵۰-۵۱، ج۱)

اوس به د هغو راويانو په ذکر کولو پيل وکړو چې په ذکر شويو کتابونو کې موجود دي:

۱- هارون بن صالح بلخي:

پېژندنه: هارون بن صالح بن ابراهيم بن محمد بن طلحه... تميمي د لسمې طبقې سړی دی او له مشرانو تبع تابعينو څخه يې روايتونه کړي؛ د ابن حجر (رح) په نزد د (صدوق) (۱م۵۲۸، ج۲)، (۷۳۳۲ترجمه) او د امام ذهبي په نزد د (ثقة) په مرتبه کې شمېرل شوی(۷م۳۳۰، ج۲، ترجمه۵۹۱)؛ ابن حبان (رح) هم په ثقاتو کې ذکر کړی دی. (۴م۲۳۹، ج۹)

له چاڅخه يې روايتونه کړي: نوموړي له خپل ورور طلحة بن صالح، عبدالله بن محمد بن عمران طلحی، عبدالرحمن بن زيد بن اسلم او عبدالعزيز بن ابو حازم څخه روايتونه کړي دي.

له ده څخه چا روايت کړی: له نوموړي څخه ابو اسماعيل محمد بن اسماعيل، يحيى بن موسى بلخي او ابو حاتم رازي (رح) روايت کړی (۹م۹۱، ج۹). امام ترمذي په خپل سنن کې له نوموړي څخه په (باب الاغتسال لدخول مکه) يعنې مکې ته د داخلېدو پر مهال د غسل کولو په باب کې يو حديث روايت کړی. (۵م۲۰۸، ج۳، حديث نمبر ۸۵۲)

۲- حسن بن محمد جريري بلخي:

پېژندنه: نوم يې حسين بن محمد بن جعفر جريري يا (حريري) بلخي دی؛ کنيه يې ابوعلي ده، خو په ابو محمد بلخي سره هم نومول شوی. د يوولسمې طبقې سړی دی او د تبع تابعينو د پېړۍ د منځنيو اشخاصو څخه يې روايتونه کړي. د ابن حجر (رح) په نزد د مستور په مرتبه کې دی(۱م۱۲۸، ج۱؛ ترجمه۱۳۴۷)، خو امام ذهبي يې په هکله څه نه دي ويلي؛ يوازې امام ترمذي (رح) ور څخه په سنن الترمذي په (باب فی رؤيا النبی (ص) اللبن والقمص) يعنې (د پېغمبر عليه السلام په خوب کې د شيدو او قميص ليدل) باب کې حديث روايت کړی. (۵م۵۳۹، ج۴)

۳- ابوبکر محمد بن ابان بلخي:

پېژندنه: نوم يې محمد بن ابان بن وزير بلخي دی، کنيه يې ابوبکر او لقب يې حمدويه دی. د وکيع مستملي ؤ(۹م۹۱، ج۹)، يعنې د املاء په شکل يې له وکيع څخه د هغه شاګردانو ته حديثونه ويلي)، ثقه او حافظ دی. د لسمې طبقې سړی دی او په (۲۴۴هـ) کې وفات شوی، خو ځينو ويلي چې په (۲۴۵هـ) کې وفات شوی دی. (۱م۴۲۵، ج۲؛ ترجمه ۵۲۸۹)

يادونه: د محمد بن ابان بن علي بن ابان بلخي په نوم سره بل شخص هم شته چې د هغه کنيه ابوعبدالله او دده کنيه ابوبکر ده، بله دا چې له دې دويم شخص څخه په صحيحينو او سنن اربعه ؤ کې روايت نشته او د مرتبې په لحاظ سره مستور دی (۱م۲۵، ج۲/۵۲۹۰). ابن حبان (رح) بيا زياتوي: مستملي ابوبکر محمد د ابان بلخي زوی له ابن عيينة او وکيع څخه روايت کړی او له ده څخه هم دده د منطقي او هېواد خلکو روايتونه کړي او په (۲۴۵هـ) کې وفات شوی؛ په جمع او تصنيف کې حيرانوونکی و او د وکيع بن الجراح مستملي ؤ (۴م۱۰۳، ج۹).

امام ترمذي (رح) په (باب ما جاء فی التشدید فی البول) کې له نوموړي څخه د سندونو د پرتلې په باره کې داسې نقل کړی: ((وسمعت ابابکر محمد بن ابان البلخی (مستملی وکیع) یقول سمعت وکیعا یقول: الاعمس احفظ لاسناد ابراهیم من منصور.))

ژباړه: امام ترمذي (رح) وايي د وکيع له مستملي ابوبکر محمد بن ابان بلخي څخه مې اورېدلي چې ويل يې، له وکيع څخه مې اورېدلي چې ويل يې: اعمش، له منصور څخه د ابراهيم د سند ښه حافظ دی.

او نسائي ور څخه هم په (باب ماجاء فی التشدید فی البول) يعنې (له متيازو څخه د ځان نه ساتنې په هکله د وعيد سختوالي موضوع) کې حديث روايت کړی. (۱۵م۱۵۷،ج۲)

او ابن ماجه ورڅخه په (باب المسح علی الجبائر) يعنې په پټۍ باندې مسح کولو) په باب (۳م۴۱۸،ج۱)، او (باب السماحة فی البیع) يعنې بيعه کې نرمي کولو په باب کې حديثونه روايت کړي دي. (۳م۷۴۲/ج۲)

۴- محمد بن عمرو السواق بلخي:

محمد بن عمرو السواق بلخي د لسمې طبقې شخصيت دی، د مرتبې له لحاظه (صدوق) يعنې رښتينی دی او په (۲۳۲هـ) کې وفات شوی؛ بخاري او ترمذي ورڅخه روايت کړی(۱م۵۰۰،ج۲/ترجمه۲۱۹۳). مغلطای بيا د نوموړي په هکله زياتوي چې دې ته سويقي هم ويل کېږي او کنيه يې ابو عبدالله بلخي ده او د (الزهرة المتعلمين فی اسماء مشاهير المحدثين) په حواله ليکي چې له ده څخه بخاري درې حديثونه روايت کړي او د ابو عبدالله بن منده او ابو اسحاق الجبال په ګډون د علماوو يوې ډلې د امام بخاري په استادانو کې هم شمېرلی (۱۴م۲۰۳/ج۱۰)، او امام ترمذي ورڅخه په (باب ماجاء فی المنی والمذی) يعنې د مني او مذي په هکله باب کې حديث روايت کړی.(۵م۱۹۳/ج۲)

۵- عمر بن رماح بلخي:

د نوموړي د پلار د نوم د تلفظ په هکله عبدالرحمن مبارکپوري وايي چې د (ر) فتحه او د (ميم) په شد سره تلفظ کېږي او دا عمر د ميمون زوی دی(۱۴م۳۷۹/ج۲)، او ابن حجر (رح) يې په اړه وايي چې نوم يې عمر بن ميمون بن بحر بن سعد الرماح البلخي دی او ابوعلي قاضي او سعد هم همدا رماح بلل کېږي. د اوومې طبقې شخصيت دی او د رتبې له لحاظه ثقه دی او د عمر په وروستيو کې ړوند شوی ؤ؛ په (۱۷۱هـ) کې وفات شوی او ترمذي ورڅخه روايت کړی(۱م۴۱۷،ج۲/ترجمه۴۹۷۲). ما د نوموړي روايت د ترمذي په (باب ماجاء فی الصلاة علی الدابة فی الطين والمطر) يعنې په ختو او باران کې په حيوان باندې د لمونځ کولو په باب کې وموند. (۵م۲۲۲/ج۲)

۶- ابو داود سليمان بن سلم مصاحفي بلخي:

نوم يې سليمان بن سلم بن سابق الهدادي دی، په ابو داود بلخي مصاحفي سره شهرت لري او همدا يې کنيه هم ده. د يوولسمې طبقې شخصيت دی (د تبع تابعينو د پېړۍ له منځنيو اشخاصو څخه يې روايتونه کړي(۱م۴۱۷،ج۲/ترجمه۴۹۷۲)؛ په (۲۳۸ هـ) کې وفات شوی، ابو داود، ترمذي او نسائي هر يو ورڅخه په خپل سنن کې حديث روايت کړي او د مرتبې له لحاظه ثقه دی(۱م۲۵۱،ج۱/ترجمه۲۵۲۵). امام ذهبي او نسائي يې د ثقه توب په هکله هم تصريح کړې ده(۷م۴۵۹/ج۱)، (۲م۱۷۰/ج۴)،(۱۴م۷۳/ج۱). له نضر بن شميل، عمر بن هارون بلخي، ابومعاذ الفضل بن خالد نحوي، ابومطيع بلخي او نورو څخه يې روايتونه کړي(۱م۱۷۰/ج۴)،(۸م۵۳۳/ج۵). امام ترمذي له نوموړي څخه په (باب ماجاء فی فضل الصلاة علی النبی) يعنې په پيغمبر صلی الله عليه وسلم باندې د درود ويلو فضيلت په باب کې حديث روايت کړی(۵م۳۵۲/ج۲) او نسائي ورڅخه په (باب الاستعاذة من فتنة الدنيا) يعنې د دنيا د فتنې او شر څخه پناه غوښتلو په باب کې حديث روايت کړی(۱۴م۲۲۷/ج۸)، او خزرجي وايي چې ابوداود ورڅخه تعليقا حديث روايت کړی. د ابو داود ددې حديث پلټنه مې وکړه، هغه مې په (باب تفسر اسنان الابل) يعنې د اوښانو د عمر د تفسير او توضيح په باب) کې وموند او داسې يې ذکر کړی: ((و بلغنی عن ابی داود المصاحفی عن النضر بن شميل)) يعنې د ابوداود مصاحفي څخه چې له نضربن شميل څخه روايت کوي، راته دا خبره رسېدلې ده. د ابو داود سجستاني د دې روايت په هکله د خزرجي خبره صدق کوي چې نوموړي تعليقا له ابو داود سليمان بن سلم څخه حديث روايت کړی دی. (۲م۱۵۲/ج۱)

۷- يحيى بن موسى بلخي:

نوم يې يحيى بن موسى بن عبدربه بن سالم الحداني دی، کنيه يې ابوزکريا بلخي سختياني ده او لقب يې خت دی؛ خو ځينې پوهانو ويلي چې دا يې د پلار لقب دی او اصل يې له کوفې څخه دی. د لسمې طبقې شخصيت دی (د تبع تابعينو د پېړۍ له مشرانو څخه يې حديث اخيستي او زده کړې يې دي؛ په (۲۴۰هـ) هجري قمري کال په بلخ کې وفات شوی او د ابن حجر (رح) په نزد ثقه دی، خو ذهبي يې په هکله څه ويلي نه دي. بخاري، ابوداود، ترمذي، او نسائي ورڅخه په خپلو کتابونو کې حديث نقل کړي(۱م۵۹۷/ج۲). ما ددې روايتونو تحقيق وکړ، خو په بخاري او ترمذي کې مې د يحيى بن موسى بلخي روايت ونه موند؛ لېکن امام ابو داود سجستاني ورڅخه په (باب التکبير بعد الصلاة) يعنې له لمانځه څخه وروسته د تکبير (الله اکبر) ويلو په باب کې حديث روايت کړی او امام نسائي ورڅخه په (باب عدد الحصى التى يرمى بها الجمار) يعنې د هغو کاڼو شمېر چې جمرې (شيطانان) پرې ويشتل کېږي.

۸- حامد بن يحيى بلخي:

نوم يې حامد بن يحيى بن هاني بلخي او کنيه يې ابوعبدالله ده، د طرطوس اوسېدونکی او د لسمې طبقې شخصيت دی (تبع تابعينو د پېړۍ د مشرانو څخه يې زده کړه او اخستنه کړېده)، په (۲۴۲هـ ق) کال په طرطوس کې وفات شوی. ابن حجر (رح) يې د مرتبې په هکله ويلي (ثقة حافظ) يعنې ثقه او حافظ دی(۱م۱۴۹/ج۱)، او امام ذهبي وايي ثقه دی او ابوداود ورڅخه روايت کړي(۷م۳۰۲/ج۱). نوموړي پخپله له ايوب بن النجار، ابن عيينة، مروان بن معاوية، ابوالنضرة، يحى بن سليم ابو عبدالرحمن المقرى، ابو عاصم، عبدالله بن يوسف التنسى او نورو څخه روايت کړی. ابوالحجاج له نورو خلکو پرده پورته کړې او بکر بن صدقة الجدى، حسن بن محمد بن عبيدالله بن ابى يزيد، حسين ابن على الجعفى، حفص بن سالم، سويد بن عمرو الكلبى، عبدالله بن الحارث المخزومي يې هم ورسره زيات کړي(۱۲م۳۲۵/ج۵). ابوداود سجستاني له نوموړي څخه په (باب من فاتته متى يقضيها) يعنې د فوت شويو لمونځونو د قضايي راوړلو په باب کې روايت کړی. (۱۰م۴۰۲/ج۴)

۹- سليمان بن منصور بلخي:

نوم يې سليمان بن منصور بلخي او کنيه يې ابوالحسن ده(۱م۲۵۴/ج۱)، او په ابوهلال بن ابي هلال الدهني البزار سره هم نومول کېږي(۷م۴۶۴/ج۱)؛ په تقريب التهذيب کې د الدهني او الكاشف فى معرفة من له رواية فى الكتب الستة (۱م۲۵۴/ج۱)، او تهذيب الكمال کې په الذهبي سره تصريح شوې(۱۲م۷۵/ج۱۲). لقب يې زرغنده دی، د (ز) او (غ) حروفو په فتحې سره او ځينو (زرغونة) ويلې، خو زرغنده صحيح بلل کېږي. د لسمې طبقې شخصيت دی(۱م۲۵۴/ج۱)، او په (۲۰۴هـ) کې وفات شوی(۷م۴۶۴/ج۱). ابن حجر وايي د (لابأس به) يعنې په دې سره کوم باک نشته په مرتبه کې قرار لري. ابن حبان په الثقات کې ويلي چې (مستقيم الحديث) دی (۴م۲۷۹/ج۸). له ابوالاحوص، ابن عيينة، مسلم بن خالد، عبدالجبار بن الورد، ابن المبارک، عبدالحميد ابو سلمة المدني، مسلم بن خالد الزنجي، ابو سهل نصربن عبدالكريم بلخي صيقل او ابوحفص العبدي څخه يې روايتونه کړي(۱۲م۷۵/ج۱۲) او له ده څخه نسائي، احمد بن علي الآبار او محمد بن علي الترمذي چې په حکيم ترمذي سره شهرت لري، روايت کړی(۱۲م۱۹۴/ج۴). نسائي د نوموړي څخه په (باب النياحة على الميت) يعنې مړي باندې د ژړا کولو په باب کې حديث روايت کړی.(۱۰م۳۱۷/ج۴)

۱۰- ابراهيم بن هارون بلخي:

ابراهيم بن هارون بلخي عابد ؤ، د يوولسمې طبقې شخصيت ؤ، د ابن حجر (رح) په نزد صدوق(۱م۹/ج۱)، د امام ذهبي په نزد ثقه(۷م۲۲۲/ج۱)؛ نسائي په (الجرح والتعديل، او مسلمة بن قاسم په (الصلة) نومي کتاب کې د لاباس به) په الفاظو سره ياد کړی(۱۳م۳۰۸/ج۱)؛ خو ابن حجر په تهذيب التهذيب کې بيا د نسائي څخه د نوموړي په هکله د (ثقة) د لفظ يادونه هم کړې ده. نوموړي له حاتم بن اسماعيل، رواد بن الجراح، نضر بن زرارة الذهلي او له دوی پرته له نورو څخه روايتونه کړي(۲م۱۵۳/ج۱)، او له ده څخه امام ترمذي په الشمائل، باب ماجاء فى حضاب رسول الله (د رسول الله (ص) د نکريزو لګولو په هکله باب) کې حديث روايت کړی(۵م۲۱/ج۱)، او امام نسائي ورڅخه په مختلفو بابونو کې حديث روايت کړی، لکه (باب الرخصة فى ترک القيام) يعنې د جنازې لپاره د نه پورته کېدو د رخصت په هکله باب(۱۵م۳۴۹/ج۴)، باب الاذان

فی التخلف عن شهود الجماعة فی الیلة المطیرة، یعنې په باراني شپه کې جماعت ته له پاتې کېدو څخه د اذان په هکله باب(۱۵م۱۴/ج۲)؛ باب الایضاع فی وادی المحسر، یعنې د محسر په کنده کې د سورلۍ تېزولو باب(۱۵م۲۷/ج۵)؛ (باب عدد الحصی التی یرمی بها) یعنې د هغو کاڼو شمېر چې شیطانان پرې ولې(۱۵م۲۷۴/ج۵)، (باب الجمع بین الظهر و العصر بعرفة) یعنې په عرفات کې د ماسپخین او مازیګر د لمونځونو جمع کول.(۱۵م۲۹۰/ج۱)

۱۱- حفص بن عبد الرحمن بلخي:

نوم یې حفص بن عبد الرحمن بن عمر بن فروخ او کنیه یې ابو عمر بلخي ده او د نهمې طبقې شخصیت دی او په ۱۹۹هـ کې د ذی القعدې په میاشت کې وفات شوی، په خراسان کې د امام ابو حنیفه په پیروانو کې زیات فقیه شخصیت ؤ. د ابن حجر او امام ذهبي دواړو په نزد د صدوق په مرتبه کې قرار لري او په عقیده کې د ارجاء د عقیدې نسبت ورته شوی(۱م۱۷۲/ج۱)،(۷م۳۴۱/ج۱). له خارجه بن مصعب، حجاج بن ارطاة، اسرائیل بن ابی عروبة، عاصم الاحول، محمد بن مسلم الطائفی، ابن ابی ذئب، ابن اسحاق، ابو حنیفه او نورو څخه یې روایتونه کړي(۲م۳۴۹/ج۲)، او له ده څخه دده زوی ابراهیم بن منصور، ابو داود طیالسي، بشربن الحکم العبدی، محمد بن رافع، حسین بن منصور بن جعفر، یحیی بن اکثم او نورو روایت کړی. ابو داود ورڅخه په قدر او نسائي ورڅخه د خپل سنن په (باب عقل الاصابع) یعنې د ګوتو د دیت په باب کې حدیث روایت کړی دی.(۱۵م۵۲/ج۸)

پایله:

په سنن اربعه ؤ کې مې د بلخ د راویانو پلټنه وکړه چې په نتیجه کې ټول یوولس (۱۱) راویان مې پیدا کړل. له دوی څخه هارون بن صالح د سنن الترمذي او ابن ماجه ترمنځ، ابوبکر محمد بن ابان د سنن الترمذي او سنن النسائي ترمنځ، یحی بن موسی د سنن ابی داود او سنن النسائي ترمنځ شریک راویان او پاتې یې په تفصیل سره په خپل ځای کې همغه چاته منسوب شوي چې هغوی ورڅخه په مستقیمه توګه روایت کړی دی.

وړاندیزونه:

- په ملي ژبو د حدیثو تحلیل او تحقیق ته متې رابډوهل او په دې میدان کې د دین خدمت کول
- د افغانستان د علمي، دیني او تاریخي شخصیتونو پېژندل
- په دې هکله لا زیات کار کول او د هرې سیمې او ولایت مفکرین او علمي شخصیتونه په ګوته کول

خلاصة البحث:

بحثت فی موضوع لم یطرق الی الآن و اخرجته من المواضع المبعثرة فی کتب الجرح و التعدیل و قد تبین ان عدد الرواة البلخیین من افغانستان فی السنن الاربعة حوالی (۱۱) بعض هولاء الرواة روی لهم اصحاب السنن الاربعة جمیعهم و بعضهم روی له بعض اصحاب کتب السنن علی الانفراد، غیر الامام ابن ماجه حیث لم ینفرد براو معین؛ بل روی عن هارون بن صالح و قد اخرج له الترمذی ایضاً.

اخځلیکونه:

۱. ابن حجر عسقلاني، احمد بن علی بن حجر. تقریب التهذیب. موقع شبکة الاسلامیة
۲. ابن حجر عسقلانی، احمد بن علی بن حجر. (۱۹۸۴م). تهذیب التهذیب. دار الفکر للطباعة و النشر
۳. ابن ماجه، ابو عبد الله محمد بن یزید القزوینی. ( ). سنن ابن ماجه. مکتبة ابی المعاطی
۴. بستی، محمد بن حبان بن احمد ابو حاتم. (۱۹۷۵م). الثقات. لبنان: دار الفکر بیروت
۵. ترمذی، ابو عیسی محمد بن عیسی. ( ). سنن الترمذی. دار الفکر للطباعة و النشر، موقع یعسوب
۶. خزرجی، صفی الدین احمد بن عبد الله ( ). خلاصة تذهیب تهذیب الکمال. موقع شبکة مشکاة الاسلامیة
۷. ذهبی، شمس الدین ابو عبد الله محمد بن احمد. ( ). الکاشف فی معرفة من له روایة فی الکتب الستة. جده: دار القبلة للثقافة الاسلامیة- مؤسسة علوم القران

۸. ذهبی، شمس الدین ابوعبدالله محمد بن احمد. (۲۰۰۳م). تاریخ الاسلام و وفیات المشاهیر و الاعلام- لومړی چاپ.
۹. رازی، ابومحمد عبدالرحمن بن ابی حاتم. (۱۹۵۲م). الجرح والتعدیل. بیروت: داراحیاء التراث العربی
۱۰. سجستاني، سلیمان بن الاشعث ابوداود. ( ). سنن ابی داود ،تحقیق: محمد محی الدین عبدالحمید. موقع شبکة مشکاة الاسلامیة
۱۱. عثمانی، محمد تقي. (۱۹۸۵م). درس ترمذی. پاکستان: مکتبة دارالعلوم کراچي
۱۲. مزي، یوسف بن الزکي عبدالرحمن ابوالحجاج. (۱۹۸۰م). تهذیب الکمال. بیروت: مؤسسة الرسالة
۱۳. مغلطای، ابوعبدالله علاء الدین. ( ). اکمال تهذیب الکمال فی اسماء الرجال- لومړی چاپ. الفاروق الحدیثة للطباعة والنشر
۱۴. مبارکفوري، محمد عبدالرحمن بن عبدالرحیم. ( ). تحفة الاحوذی بشرح جامع الترمذی. بیروت: دارالکتب العلمیة
۱۵. نسائي، ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب. (۱۹۸۶م). سنن النسائی. حلب: مکتب المطبوعات الاسلامیة
۱۶. نسائی، ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب. (۱۴۲۳هـ). مشیخة النسائی. مکة المکرمة: دار عالم الفواید

پوهـــاند محـــمد بشـــیر (دودیـــال)
ننګرهار پوهنتون- ځان ارزونې کمېټه

صنفي پروژې او عملي کار د کریډیټ سیستم بشپړوونکي

لنډیز:

د اوسني وخت غوښتنه فعالـه زده کړه ده، پـر محصـلانو عملـي کـار او د صـنفي پـروژو اجـرا کـول د کریـډیټ سیسـتم بشپړوونکی شرط بلل کېږي. د معاصرو علومو د تطبیق وړتیا، د ډېرو نویو علمي معلوماتو ترلاسه کول او پوهه د ملتونو قوت ګڼل کېږي، چې دغه قوت د پوهنتونونو له لوړ کیفیت څخه ترلاسه کېدای شي. کریډیټ سیستم زمونږ د درسي کیفیت ضمانت کوونکی دی، خو کریډیټ سیستم به هغه مهال بشپړ شي چې د محصلانو زده کړې د هغوی له واقعي ژوند سره په ارتباط کې شي. په کریډیټ سیستم کې صنفي فعالیتونه، عملي کار، capstone project، کورنۍ دندې اجرا کول، د special problem لیکنه، علمي سیر، د ساحې کار، د پرکتیک د دورې اجراکول او علمي روش (مونوګراف، سیمینار...) ډېر اوچت ارزښت لري. په کریډیټ سیستم کې اختیاري او اجباري مضامین سره تفکیک او جلا کېږي. په یو کریډیټ سیستم کې د عمومي، مسلکي- اختصاصي او تکمیلي مضامینو انډول او په صنف کې د حضوري ساعتونو او د محصل د عملي کارونو ترمنځ باید ټاکلی تناسب موجود وي. مثلاً د لسانس دورې ته باید اقلاً **۵۲** کورسونه په پام کې وي. د یوه محصل لپاره یوه اوونۍ کې ۲۰۰ ساعتونه کار د هغه د غوره زده کړې ښودونکې ده. په کریډیټ سیستم کې یو پنځوس دقیقه یې درسي ساعت، یو ساعت بلل کېږي، چې د (contact hours) لپاره معیار دی. له نېکه مرغه اوس د هېواد په پوهنتونونو کې د تضمین کیفیت (QI)، ریسرچ او نصاب کمېټې فعاله شوي دي، چې کولای شي د پام وړ معیارونه بشپړ کړي. د کیفیت د تضمین د درېیم معیار څلورم توک، په اړونده څانګه کې د کافي نظري او عملي پوهې غوښتنه کوي. د لوړو زده کړو وزارت د کریډیټ سیستم د لایحې نهم توک د عملي کارونو، کورنیو دندو او ځاني زده کړې (شاګرد محورۍ مېتود) لارښوونه کوي او د همدغې لایحې شلم توک د ارزیابۍ په ترڅ کې ددغو فعالیتونو د ارزونې حکم څرګندوي. د دې مقالې موخه په کریډیټ سیستم کې د همدغو ښودل شویو توکونو رول او د ارزیابي ډول دی.

سریزه:

ښکاره خبره ده چې یوازې لکچر ته کېناستل موثره زده کړه نده، بلکې له هغه سره یو ځای لوستل، لیکل او په تېره عملي کارونه د زده کړې موثریت او سلنه اوچتوي. د زده کړې له ساحې سره د محصلانو اړیکې د هغوی علاقمندي زیاتوي. تر کورنیو جګړو مخکې هم زمونږ په پوهنتونونو کې (چې په هغه وخت کې یوازې کابل پوهنتون، پولي تخنیک او د ننګرهار طب موجود وو) صنفي پروژې، د ساحې کار، عملي سیر، د ساحې کتنه، او راپور لیکل معمول و. په لابراتوار کې عملي کار، صنفي پروژې، پرکتیک او علمي سفرونه او کتابتون ته مراجعه د زده کړې پروسه متنوع کوي او د محصل د ستومانۍ لامل هم نه کېږي، خو له بده مرغه د جګړو په کلونو کې د کرنې د پوهنځي، د پولي تخنیک د انستیتوت، د انجنیري د پوهنځي او د ساینس او فارمسي د پوهنځیو مجهز لابراتوارونه له لاسه ووتل او د طب د پوهنځي د کدري روغتون نظم او کیفیت هم پاتې نشو. اوس د علمي سیر او د ساحې کتنو، سیمینارونو او میتیودیکي کنفرانسونو دایرولو ته هم پاملرنه نه کېږي، حال دا چې د علومو په ډګر کې له زیاتو پرمختګونو څخه خبرتیا، نوي علمي څېړنې او د معلوماتو د حجم فوق العاده زیاتوالی په کلکه ددې غوښتنه کوي چې تحصیلي پروسه باید موثره شي. په همدې موخه په کریډیټ سیستم کې د حضوري ساعتونو ترڅنګ نورې دندې او آموزشي فعالیتونه هم ترسره کېږي، د کریډیټونو شمېر هم ټاکلی

وي، د اساسي، اختصاصي، اختياري او حتمي مضامينو تناسب ښودل شوی وي، محصل د هر کورس لپاره نوم ثبتوي، هر مضمون د خپل کود په خوا کې د کريډيټونو شمېر لري، د حاضرۍ نصاب او نصف کريډيټ پکې مهم رول لري، د کاميابۍ نمرې يې په څلور (A،B،C،او D) کټګوريو ويشل کېږي او له هغو څخه ټيټ ناکام بلل کېږي او داسې نور شرايط. د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په پوهنتونونو کې د زده کړې او سنی نظام يو شاګرد محوري نظام دی او فعاله زده کړه يې يوه مهمه ځانګړتيا ده؛ په دغه طرز کې استاد، صنف، تخته، پروجکتور، کتابتون او نور صرف کومکي يا مرستيال وسايل دي، خو زده کړه په خپله محصل پورې اړه لري، چې په څه ډول له دغو وسايلو اغېزمنه ګټه او چته کړي او دا هم مهمه ده چې مونږ دغه وسايل ډېر په ښه شکل تنظيم او په کار واچوو. په دغه مقاله کې د وخت او ځای د کمښت له امله د ټول کريډيټ سيستم په هکله خبرې نه کوو، بلکې يوازې د کريډيټ سيستم د بشپړېدو په يوه شرط باندې چې هغه عملي کارونه، صنفي پروژې او Capstone دی، بحث کوو چې کريډيټ سيستم د بشپړتيا متضمن کېدای شي. شايد دا د افغانستان په شرايطو کې دروند تمام شي، نو ځکه مونږ يو څه کمښت تحمل کولای شو، اما بېخي ورڅخه سترګې نه پټوو. ورپسې به د کريډيټ سيستم اړوند نور مسايل نورو هغو مقالو کې راشي چې د ځان ارزونې کمېټه به يې په وار سره د تضمين کيفيت د شرط په توګه د دغه سيستم سره د ښې بلدتيا په خاطر چمتو کړي.

موخې:

- د صنفي پرژو او کاپستون پېژندنه او د هغې اغېزه پر زده کړه (موثره يا اغېزمنه زده کړه)
- د کريديت سيستم د اړتيا ثبوت کول او د ښېګڼو په ګوته کول
- په کريديت کې مضامين او د اندول ښودل يې
- د ځان ارزونې د درېيم، څلورم، پنځم، شپږم او لسم معيار د ترلاسه کېدو خواته ورنږدې کېدل

د کريډيټ سيستم ښېګڼې:

د ښوونې او روزنې پوهانو يو په زړه پورې ټکي ته اشاره کړې ده؛ دوی نن ورځ د(strategic knowledge) په هکله خبرې کوي او دغه مفهوم ته زښت ډېر اهميت ورکوي. لورين او ملګري په خپل يوه اثر کې وايي: ستراتيژيکي زده کړې د زده کړو، فکر کولو او ستونزو حلولو لپاره ستراتيژيکه پوهه ده(5م56)، چې ددې ډول زده کړې لپاره بايد هدفمند او فعال اموزشي سيستم موجود اوسي. کريديت سيستم يو واضح، شفاف، فعال د څو شرايطو لرونکی او هدفمند سيستم دی، چې زده کړه يعنې تيوريکي لارښوونې له عملي ډګر (واقعي نړۍ) سره په مطابقت ورکولو او نژدې کولو سره موثره او په زړه پورې کوي. محصل په دغه سيستم کې په پرانيستو سترګو او هدفمند ډول ځانته مضامين غوره کوي او په خپله خپل ديپارتمنت ته په مراجعې سره کورسونه اخلي...، لنډه دا چې:

- کريډيټ سيستم د محصل وخت نه ضايع کوي، په تېره بيا محصل اړ نه دی، چې په يوه مضمون کې د ناکامۍ په صورت کې يو مکمل سمستر بيا له سره ولولي.
- په کريډيټ سيستم کې د درس کيفيت ښه وي.
- په کريډيټ سيستم کې محصل د انتخاب آزادي لري.
- کريډيټ سيستم پراخ بنسټه وي، کېدای شي د عين ټولګي او څانګې محصلان د مربوطه څانګې بېلابېل مضامين ولولي او په هره څانګه کې د کادرونو د روزنې چانس مهيا شي؛ نو ځکه د حتمي او اختياري مضامينو په ځايولو سره يې بنسټ پراخه جوړېدای شي.
- زده کړه فعاله او شاګرد محوري او نه ستومانوونکې وي.
- د محصل د زده کړې ارزيابي په دقيق ډول کېدای شي.
- په زړه پورې وي.

په کريډيټ سيستم کې Capstone (برغولي) هغو کورسونو او صنفي دندو ته ويل کېږي، کوم چې په تېره بيا د لسانس دورې په وروستيو کې محصلانو ته ددې لپاره په پام کې نيول شوي وي چې د دوی نظري درس د راتلونکې د کار له ډګر سره

نژدې کوي. د مفاهيمو تعريفونه، اساسات، د اړونده څانګې د اختصاصي مضامينو تاريخچه او نور عموميات د لسانس دورې په دوو لومړيو کلونو کې د محصلانو د پوهې (Theoretical understanding) د پياوړتيا لپاره په پام کې وي، وروسته بيا اختصاصي او مسلکي مضامينو ته او (Theoretical-Practical) اړخ ته پاملرنه کېږي چې هغوته (Culminating course) هم ويل کېږي. د بېلګې په توګه د عامه ادارې او پاليسۍ د پوهنځي د لسانس دورې په دوو وروستيو کلونو کې نوي کريډيټ سيستم ددغې موخې ترلاسه کول ممکن کوي چې محصلان بايد د عمل او تيورۍ ترمنځ يو پول جوړ کړي. همدارنګه د اقتصاد په پوهنځي کې وروسته تر شپږم سمستر څخه د پرکتيک دورې ته د محصلانو معرفي کول او دوی ته د (Internship) د زمينې چمتو کول هم ددې يو غوره مثال دی او همداسې په نورو پوهنځيو کې. د پرکتيک د دورې اجرا کول، علمي سير او د يو شمېر صنفي پروژو او د علمي روش (Sci-method) اجرا ددغه پله د جوړېدو امکان برابروي. په څلورم ټولګي کې د بېلګې په توګه د (Assignment) اجرا، سيمينار او بيا مونوګراف ليکل دغه پول نور هم بشپړوي، مونږ د خپلو شرايطو سره سم (Capstone project) په لاندنيو بڼو په پام کې نيسو:

- د څېړنې او زده کړې سره يوځای کول Combination of learning and research
- په ډله ييزه او انفرادي بڼه د هغې تر سره کول (مثلاً د يوه Assignment ترسره کول، د يوه سيمينار ارايه کول او داسې نور فعاليتونه چې انفرادي بڼه لرلای شي، خو علمي سير، په لابراتوار کې د محصلانو د يوه ګروپ په واسطه د تجربې تر سره کول، په پرکتيک کې ډله ييزه برخه لرل او نور ګروپي فعاليتونه دي.
- معمولاً د Capstone project د پرکتيک برخه د يوه سازمان (مثلاً يوې حکومتي ادارې) په ګډه مرسته اجرا کېږي او دا بايد نمرې ولري.
- د محصل ارزونه (دا هغه وخت امکان پيدا کوي چې محصل د خپلې څانګې له ريښتيانۍ نړۍ سره په اړيکه کې شي، مثلاً د اقتصاد د پوهنځي محصلان د هېواد د بهرني تجارت، د يوه بانک د فعاليت ارزونه، د ګمرکي تعرفو د وضعيت څېړنه او د هغو معيار ته نژدېوالی، د بيو ثبات، نوسانات، د شاخصونو تحليل، او نورو برخو کې يو نهايي راپور ليکي، مونږ د هغوی ارزيابي د دوی د راپور له مخې ترسره کوو.
- په دوو نورو بڼو (Internship) او د رسالې (تېزس) د ليکلو په بڼه د (Capstone) اجرا کول. (۷)

په کريډيټ سيستم کې مضمونونه:

په ډېرو جزياتو سره د کريډيټ سيستم مضامين په شپږو ساحو (Area) ويشو:

۱. Core discipline: دا عمومي او اساسي مضامين دي، لکه د اقتصاد پوهنځي کې د احصايې عمومي تيوري، اقتصادي رياضي، ماکرو او نور چې په ټول کريکولم کې يې سلنه پنځه څلوېښت ده، ځينو څانګو کې په سلو کې تر ۴۸ پورې هم رسېدلای شي.

۲. تکميلي يا supplementary disciplines: لکه د اقتصاد پوهنځي کې د اقتصادي نظرياتو تاريخ، ديموګرافي او د نفوسو تحليل او نور چې سلنه يې د ۳۰ شاوخوا ده، ځينې وخت تر شلو هم رسېدلای شي.

۳. University wide يا پوهنتوني مضامين: لکه اسلامي ثقافت، د افغانستان معاصر تاريخ چې سلنه يې د ۱۸ شاوخوا وي.

۴. وروستۍ برخه capstone/internship او scientific method ده، چې سلنه يې د شلو يا له هغه څخه لږ څه کمه ده. (۷)

له همدې امله په دې وروستيو کې د بېلابېلو پوهنځيو په نصاب کې اساساً بدلون راغی، چې د حضوري ساعتونو (زمونږ په پوهنتونونو کې تر اوسه پورې غيابي زده کړې، له لرې واټن څخه زده کړې، د انټرنيټ له لارې او داسې نورې نشته، نو ځکه د شاګرد حاضروالی په ټولګي کې حضوري بولو.) شمېر تر پخوا ډېر کم شوی دی. مثلاً د ټولو کريډيټونو شمېر ۱۳۷ ته رسېږي (د امريکې په (US CPs) کې د کريډيټونو شمېر تر ۱۴۴ غوره بلل شوی دی، يعنې په هر سمستر کې اووه يا اته مضامين لري (اعظمي). اما که چېرې مونږ په راتلونکې کې (mandatory) او (elective courses) يو بل څخه جلا او مشخص کړو، د مجموعي مضامينو شمېر زياتېږي، اما که د کريډيټونو مجموعه همدومره پاتې کېږي، دا ځکه چې محصل په خپله خوښه يو مضمون خوښوي، بل پرېږدي (په لايحه کې دې ته (optional subjects) نوم ورکړل شوی). د

elective لپاره بايد څلور يا درې له اساسي مضامينو (basic subjects) څخه او دوه يا درې له (compulsory professional subjects) څخه غوره شي. په ميتود او مهارت کې غوره کول نشته، چې د ټولو شمېر بايد داسې وي:

7 courses/sem x 8 sem. = 56 courses

دلته د بېلګې په توګه د اقتصاد د پوهنځي يا د عامه اداري او پاليسۍ د پوهنځي د لسانس څلور کلنه دوره (اته سمسترونه) را اخلو. په هغه صورت کې چې کورنۍ دندې، Assignment، سير علمي، پرکتيک او اجراکېدونکې پروژې هم ورته وسپارل شي، په يوه سمستر کې اسلامي ثقافت 1CH/Week په mandatory کې شمېرل کېږي. پرکتيک دوره د اتو سمسترونو لپاره د شپږم سمستر په پای کې په نظر کې نيول شوې ده چې محصل د عمل په ډګر کې خپلو ترلاسه شويو معلوماتو ته مطابقت ورکوي او د راتلونکې لپاره خپله وړتيا په عملي کار کې ارزوي. کېدای شي محصل پرکتيک په حکومتي اداره، کومه NGO او يا هم خصوصي شرکت او تصدۍ کې ترسره کړي. ښه به وي چې د تدريس د حضوري ساعتونو او د محصل د خپلې (ځاني) مطالعې Self-learning وخت تر منځ تناسب ۱:۱ وي. د افغانستان د شرايطو لپاره ۱:۲ وخت ناممکن دی. د محصل د زده کړې دغه ټول وخت او د صنفي فعاليت تر څنګ د capstone په شمول د محصل په اوږو بار (workload) منل شوی دی، چې په متوسط ډول يې د نړۍ په بېلابېلو پوهنتونونو کې محاسبه داسې شوې ده:

Work load= total learning load a student

Total learning= teaching by lecturer+ reading+ other kind of independent learning

دلته ليدل کېږي چې محصل د زده کړې په محور کې راځي او د درسي پروسې اصلي فعاليتونه محصل اجرا کوي چې هم پکې لکچر ته کېناستل، مطالعه او لوستل او د درس فعاليتونه لکه کورنۍ دندې، د يوې موضوع ليکل، عملي کارونه او هغه ټول مثالونه چې مخکې وويل شول، ټول په (Workload) کې راځي او په دې ډول فعاليت کې هغه تناسب هم رعايت کېږي چې مونږ ۱:۱ وښود. دا هغه وخت ممکن کېږي چې مونږ د يوه ستندرد کورس لپاره درې پنځوس دقيقه يې ساعتونه عملي کړو، يعنې: 3x50 min= 3 hours

په هغه کريډيټ سيستم کې چې مونږ د يوه کورس لپاره په يوه اوونۍ کې دغه مجموعاً ۱۵۰ دقيقه يې ساعتونه په پام کې نيسو دا (contact hours) دي. اوس زمونږ محاسبه آسانه کېږي: 1 semester = 16 weeks: 3x16= 48 CH+ extra CH

که په يوه اوونۍ کې محصل ۲۰ ساعتونه خپله هم ځانته مطالعه وکړي او د پوهنتون له کتابتون څخه د مضمون اړوند کتابونه چې استاد ورته ښودلي ولولي، په يوه سمستر کې يې اندازه 300 h کېږي او دا يو مناسب workload دی چې د ټولګي دننه حضوري ساعتونو سره مساوي کېږي او لازم تناسب ايجادوي:

Total workload= 300+300= 600 h per semester= 1200 h per year

که چېرې په يوه سمستر کې مونږ شپږ مضامين ولرو، نو کريډيټ پانيټونه داسې په لاس راځي:

6 course per semester= 18 CP per semester

او که چېرې اووه مضامين وي: 7 courses/sem=7.3=21 CP/sem

په US credit points سيستم کې د لسانس څلور کلنې دورې ته ۱۴۴ غوره کېږي، يعنې:

18x2=36 cp per year= 144 cp for the whole the 4 years بحث

د هېواد په پوهنتونونو کې د زده کړې د پروسې د معياري کېدو په خاطر د کريډيټ سيستم معمول ګرځول يوه اړتيا ده. ددې سيستم يو مهم جز د محصل ځاني مطالعه، کتابتون ته مراجعه، عملي کار، پرکتيک اجرا کول، د پروژو بشپړول، د درېيم ټولګي په رخصتۍ کې دولتي ادارو، خصوصي تصديو يا کومې NGO ته تلل، علمي روش او په دفترونو کې يې د پرکتيک دورې ترسره کول دا امکان برابروي چې محصل خپلې نظري زده کړې له واقعيتونو سره مطابق او د دواړو ترمنځ پول جوړ کړي. برغولي د محصل ارزيابي آسانه او دقيقه کوي. مخکې تر دې د نظري او عملي زده کړې ترمنځ لوی واټن موجود و، نو ځکه زده کړه موثره او فعاله نه وه. په دې توګه د يوې مباحثې په توګه ويلاې شو چې په متناسبه توګه د نظري او عملي زده کړو په پام کې نيول د محصل د کار لازم بار ايجادوي. په راتلونکې کې د کريډيټ سيستم د نورو اجزاوو او شرايط تحليل دغه موضوع نوره هم بشپړوي.

پایله:

عملي کار، برغولي، پرکتیک او کتابتون ته مراجعه او صنفي پروژې کریډیټ سیستم بشپړوي. دغه بار د لسانس دورې لپاره ۲۰۰ ساعتونه په یوه سمستر کې مناسب حد دی. په دې توګه Assignment، کورنۍ دندې، علمي روش او نور فعالیتونه د محصل مهارت پوره او چټوي. کریډیټ سیستم اوس د نړۍ په پوهنتونونو کې یو منل شوی سیستم دی او د تضمین کیفیت درېم، څلورم، پنځم، شپږم او لسم معیار یعنې د ځان ارزونې سمه نیمایي برخه ډاډمنوي (۸). اوس چې په پوهنتونونو کې د تضمین کیفیت، ریسرچ او نصاب کمېټې فعالې شوې دي، د پوهنتون د اعتبار ترلاسه کولو او د یوه معیاري اکاډمیک کانون په توګه د هغه تثبیت کېدل شوني ده؛ اما د افغانستان په ستونزمنو شرایطو کې کېدای شي، مونږ د محصلانو بار هم کم کړو او د کریډیټونو شمېر د ۱۴۴ پر ځای ۱۳۷ ونیسو.

وړاندیزونه:

ډېره ضروري ده چې د عملي معیارونو د ترلاسه کولو لپاره د کریډیټ سیستم بشپړولو ته پاملرنه وشي. صنفي پروژې او Capstone د محصل لپاره ځکه ضروري دی، چې د زده کړې او عملي ډګر تر منځ فاصله سره نژدې کوي. ډېره ضروري ده چې محصلان کتابتون ته په مراجعې عادت شي. باید له موسساتو او اداراتو سره د پرکتیک د اجرا کلک تړون لاسلیک او موسسات محصلین مکلف کړي چې د پرکتیک په ورځو کې حاضرۍ ته پابند اوسي، د ځوانو استادانو لپاره د ریسرچ، نصاب او تضمین کیفیت کمېټې باید پرله پسې ورکشاپونه دایر کړي.

Abstract:

Active teaching is one of the characteristics of the present day education. Practicability and academic achievements belongs to learning capacity of the students. It is necessary unfortunately, we didn't have a standard credit system in Afghanistan. capstone is very important in credit system, so as students have to use their theoretical knowledge to show world realities. One way for this purpose is internship, which exchange of services for experience between the students and an organization (training-on-the-job). By internship, practice, homework, assignment and capstone enables the student to test her/his skills and attitudes development gained in her/his academic program. Students should get some kind of compensation and get "real work" assignment and H.W etc. Internship should be awarded with credit. He/she has to prepare an academic paper (report) on experiences. Capstone means a culminating course (find stone in ceiling) in which students have the possibility to bridge the gap between theory and practice. They are expected to integrate, extend, critique and apply the knowledge gained in all the courses they passed in practice-related project. Capstone projects maybe a combination of learning and research. It can be individually or in groups and usually in collaboration with an organization (e.g. government agency) students analyze" real world problems"(field study) and write a find report. In credit system we calculate work load for a student. Work load is total learning load of a student for the BA case, one standard course: 3 hours (3x50 min) teaching/week (contact hours). If one semester= 16 weeks: 3x16=48 CH+2extra CH=50 CH per sem. If 6 courses in one semester=30 CH, roughly same amount of self-learning: 20h. Self learning/week=about300h/sem. Total work load=300+300=600 h per semester= 1200h per year. In Afghanistan assumption of teaching to self-learning times as 1:2 is unrealistic. Relation of 1:1 is probably moved realistic (if not lower self-learning). Now we have research committee, Curriculum committee, and QI committee in our university. They will be together working and create a standard credit system.

References:

1. Dianna,L.Van,Blerkom.(7January,2011) College Study Skills. Becoming a strategic Learner, Cengage Learning.
2. International Baccalaureate, receiving IB credit, RICE University 2013 IB Credit list.

3. Course credit- Wikipedia, the free encyclopedia en.wikipedia.org/wiwki/Course_credit.
4. John, D.B *ET all*. (2000) How People Learn(Expanded Edition); NATIONAL ACADEMY PRESS Washigton,D.C.
5. Lorin, W.A. *ET all*. (2001) A TAXONOMY for LEARNING, TEACHING, and ASSESSING; The Longman Comp. New York,

۶. وزارت تحصیلات عالی، مجموعه قواعد، طرزالعملها...سال (۱۳۸۸). کابل: مطبعه وزارت تحصیلات عالی.

۷. مواد اموزشی کنفرانس سیلابوس و کریډیټ پوهنځی های اداره عامه افغانستان، پوهنتون پوتسدام، المان (از تاریخ ۱۳۹۲/۷۲۲ الی ۹۲/۸/۵ ش).

۸. اسناد رهنمودی ریاست تضمین کیفیت و معیارهای دوازده گانه برای پوهنتونهای کشور. (۱۳۸۹ش). وزارت تحصیلات عالی و ریاست تضمین کیفیت و پروژه SHEP2

پوهـــنوال شـــــــاه ولي خـــان
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

هنر پېژندنه

لنډيز:
په دې علمي او څېړنيزه ليکنه کې چې د (هنر پېژندنه) تر سرليک لاندې ليکل شوې، د هنر په لغوي او اصطلاحي تعريفونو سربېره د هنر اړيکې له ژوند سره په پراخه پيمانه څېړل شوي دي. دغه راز د هنر ډولونه او بيا په هر ډول باندې په ځانګړې توګه څېړنه شوې ده.

سريزه:
ددې علمي څېړنيزې مقالې يوه موخه داده، چې مونږ په ادبپوهنه کې د هنري ادبياتو په مختلفو ډولونو او ژانرونو بحث او څېړنه کوو، بايد چې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې محصلين په عامه معنی په هنر باندې پوه شي؛ دغه راز د هنر اړيکې له ژوند سره څېړل شوي دي. سره له دې چې د هنر موضوع ډېره پراخه موضوع ده، په دې څېړنه کې سيند په کوزه کې ځای شوی دی.

موخې:
ددې څېړنيزې علمي مقالې موخه داده، چې د پښتو او ادب مينه وال په پراخه پيمانه سره په هنر او هنري ادبياتو پوه شي او ددې ډول ادبياتو اغېز په ژوند او ټولنه باندې پوه او معلومات ترلاسه کړي، خو مونږ هڅه کړې ده، چې په لنډه توګه يې په دې مقاله کې راونغاړو.

هنر پېژندنه:

خوشال بابا وايي:

که طالع او هنر دواړه سره کېږدې
زه خـــوشال به په کې ونيسم هنر (دخوشال ارمغان) (۱م۲)

په ننني ژوند کې چې د بشريت په واسطه وهل شوو پوړيو پخپله بشريت داسې پړاوونو ته رسولی دی، چې د ده پوهه، احساس، عواطف او معنوي اړخونه يې ښه بشپړ کړي دي، استيتک (ښکلا پېژندنه او ښکلا خوښونه) د ننني انسان د روحي غوښتنو هغه برخه ده، چې حتی د روح غذا صفت يې ګڼي، هنر دی چې انساني عواطف نازوي. له نېکه مرغه پښتانه د خپل لرغوني تاريخ په ترڅ کې لرغونی هنري تاريخ هم لري، خلکو هنر او هنر مند ته په ډېره درنه سترګه کتلي دي؛ خو د دې سره سره بيا هم دوی هنر او د هغې علمي او سايکالوژيکي مفهوم په ډېر محدود شکل سره پېژني. په دې هکله څه نا څه هغه نظريې چې د پوهانو له خوا وړاندې شوې، بيا رابرسېره او د هغوی په رڼا کې د هنر او ښکلا پېژندنې د يو لنډ جاج په ترڅ کې يوې کوټلې پايلې ته ورسو.

د هنر لغوي اړخ:

هنر د دري ژبې ويی يا لغت دی، په لغت کې پېشه، صنعت او فن ته وايي او د لاتيني ژبې له (ارس_ARS) سره په يوې معنی راځي. د انګريزي ژبې (ارټ_ART) د لاتيني ژبې له ارس څخه اخيستل شوی دی. ارس وايي مهارت او لياقت ته، د جرمني ژبې (wonnen) هم د (kunst) يعنې قابليت درلودلو له رشتې سره اړه لري. پښتو پښتو تشريحي قاموس په (۳۰۵۳) پاڼه کې هنر داسې تعريف کړی دی: (هنر (hunar) نر. م. فن، کمال، جوهر، زده کړه، کسب ته وايي(۲م۲)، همدارنګه فرهنګ عميد کې د هنر تعريف داسې شوی دی: (هنر، پيشه و صنعت، فن و کار نمايان و برجسته؛ او هنر مند هغه چاته ويل کيږي، چې د

صنايعو له جملې څخه هغه هم ښکلي صنايع لکه نقاشي، موسيقي، تياتر يا هغه څوک چې په فلمونو کې کار کوي او په فلم کې رول اجرا کوي، ويل کېږي. (۳م۲)

همدارنګه د برېتانيکا انسايکلوپېډيا ليکي: (که چرته د مهارت خاوند خپل قابليت د ګټې او د ژوند د مادي اړتياوو د پوره کولو لپاره په کار واچوي، هغه ته (Artisan) يعنې کسبګر يا صنعتګر ويل کېږي او که خپل لياقت او مهارت، ښکلا او ظرافت ته وقف کړي (Artist) يعنې هنرمند ترې جوړېږي. (۴م۱۰)

په اصطلاح کې د هنر او ښکلا پېژندنې اصطلاحي تعريف او پېژندنې په هکله بېلابېلې نظريې او تعريفونه شته او د مختلفو هنر پوهانو له خوا راز راز تعريفونه په لاندې ډول وړاندې شوي دي:

هنر د ټولنيز ژوند او انساني تجربو لپاره څه ګټه لري: د ټولنيز ژوند او انساني تجربو د بيان او تفسير اغېزناکه وسيله ده، چې هېڅکله له ژونده نشي بېلېداى، د ټولنيز شعور يوه برخه ده او محض د هنر لپاره نه، بلکې اصلاً د ژوند لپاره دی(۵م۸). يا په بل عبارت هنر نه يوازې د شکل له مخې د واقعيت درک او پېژندنه ده، بلکې د معنوي اغېزو يوه قوي آله او وسيله هم ده. يا په بل عبارت هنر د کار يو شکل او د انسان خاص فعاليت دی(۶م۲). يا په بل عبارت هنر د بشري افکارو او انساني تجربو د اظهار وسيله ده او همدغه معناوې او ارزښتونه انساني استعداد ته وده او پراختيا ورکوي او په دې يې قادروي، چې خپل ژوند غني کړي، خپله ټولنه منظمه کړي او په خپل چاپېريال مسلط وي.(۷م۵)

هنر د انسان د ژوند په مختلفو اړخونو کې نوی والی، ترميم او جوړښت راولي، چې په دې اړه يو اروپايي پوه (سر ريچارد واکنر) ويلي دي: ((د هنر موضوع ژوند دی، د ژوند د ناسمو اړخونو څخه پرده پورته کول دي او د هنرمند هدف د هغو اړخونو سمولو ته د خلکو پارول دي)). (۸م۲)

په عنعنوي لحاظ د پوهانو له خوا د هنر عمده څانګې په لاندې ډول ښودل شوې دي:

۱- ازاد هنرونه (Liberal Arts)

۲- ښکلي هنرونه (Fine Arts)

۱- لومړی ازاد هنرونه: ازاد هنرونه د عملي چارو لپاره اسانتياوې پېښوي، لکه ګرامر، بيان، استدلال، منطق او رياضي او هغه ټولې پوهې چې د انسان د طبيعي، ټولنيز او کلتوري چاپېريال د پېژندنې سره مرسته کوي.

۲- دويم ښکلي هنرونه: د ټولنيز شعور يوه برخه ده، چې د استيتک (ښکلا پوهنه) ارزښتونو سره کلک پيوستون لري، په ښکلو هنرونو سربېره په موډل جوړولو، ادبيات، نقاشۍ، معمارۍ، پلاستيک او ګرافيک هنرونه، ادبيات، هنري حرکات او هنري ژستونه او نور... د هنر په ډله کې راځي. خو ځينې هنر پوهان بيا د هنر څانګې پنځه بولي:

ليدنيز هنرونه (Visual Arts): چې په دې کې ادبيات، هنري ژستونه او هنري حرکات راتلی شي. د ليدنيزو هنرونو عمده برخې دا دي:

ګرافيک او پلاستيک هنرونه: ګرافيک هنرونه دوه بعدي دي او پلاستيک هنرونه درې بعدي دي. په ګرافيک هنر کې نقاشي، رسامي، چاپ، ليتوګرافي، عکاسي، صحافت او نور راتلی شي، او په پلاستيک هنر کې معماري، ښاري پلان، منظره لرونکي ځايونه، د ودانيو دننه سينګارونه د موډلونو جوړونه، ښکلي کالي، جامې او د تياتر ډيزاين شامل دي.

د هنري ادبياتو عمده برخې (EPIC-LAYRIC_DRAMATIC حماسي- غنايي- ډرامه) کيسې، ناول، وړوکی ناول يا ناولټ، لنډې کيسې) شعر او ډرامه، مقالې او د ادبياتو نور ډولونه، تاريخ، بيوګرافي، ليکونه او يادداشتونه دي. د هنري ژستونو يا ګډا مهمې برخې سندريز هنري ژست يا ګډا، آلې هنري ژست يا ګډا او مرکې هنري ژست يا ګډا دي.

د هنري حرکاتو مهمې برخې: اتنوجيک هنري حرکات او کلتوري هنري حرکات شامل دي. (۸م۲)

انسانانو خپل ژوند د يو ډېر ابتدايي حالت يا لومړني وروسته پاتې حالت څخه پيل کړی، چې خداى تعالی (ج) داسې برکت په کې اچولی دی، چې د انسانانو د ګډو هڅو په نتيجه کې د هنر بېلابېلې بڼې منځ ته راغلې دي. د بشري نړۍ د ودې په بهير کې د وګړنيز ژوند له پرمختګ يا ارتقا سره جوخت نوي هنري ډولونه هم منځته راځي. انسانانو لا تر اوسه د خپلو اړتياوو د پوره کولو په خاطر ډېر شيان نه دي سپړلي؛ ژوند د هنر سر چينه او الهام بخښونکی دی. انسانان چې څومره د تاريخ په بهير کې وړاندې قدمونه ږدي، د ژوند د پټو رمزونو، رازونو، ژورتياوو او ارزښتونو سره اشنا کېږي. سره له دې چې هر هنري

شکل يا جوړښت د يو منفرد انسان په وسيله ارزښت او جوړښت موندلی دی، خو د ټاکلي هنري شکل د تخليق ويار يوازې د هغه د رامنځته کوونکي پورې محدود پاتې شوی نه دی، بلکې د هغې ټولنيز پړاو پورې اړه نيسي، کوم چې هنرمند په کې ژوند کوي. د هنر لومړنۍ نښې د (کالکلوليتيک) يا زاړه کاڼي د دورې په وروستي پړاو (۲۰۰۰-۴۰۰۰)ق م کې ليدل شوي دي. په لرغونو ټولنو کې هنر له کار سره نه شلېدونکې اړيکې درلودې، خو په وروستيو پنځو زرو کلونو کې نوموړې اړيکې ډېرې پېچلې بڼې پيدا کړې دي. د (کالکوليتيک) د وروستۍ دورې انسانانو به د يو حيوان د ښکار کولو لپاره د هغه حيوان تصوير ويستلو او د هغه په بدن کې به يې د ښخ شوي غشي، رسم هم ايسته او خيال به يې کولو چې نوموړی حيوان يې ويشتلی دی، چې په دې ترتيب د انځورولو او تصويرولو هنر په عملي شکل منځته راغی او د لرغوني انسان له اړتياوو سره يې نه شلېدونکې اړيکه درلوده، چې ددې دورې د تاريخي واقعاتو پر بنا اوس هم په افغاني ټولنه کې که يو انسان وغواړي، چې خپل دښمن ته ضرر يا تاوان ورسوي، نو د جادو او کوډګرۍ له مخې د هغه انسان يو وړوکی موډل يا ګوډيانه جوړوي، بيا يې په زړه کې ستنې ټومبي، چې په دې ترتيب لرغونی هنر د جادو په بڼه هم ښکاره شوی دی. (۸م۲)

په دې وسيله د لرغوني هنر مختلف اشکال د ساعت تېرۍ او لوبو په رڼا کې نه دي پيدا شوي، بلکې د کار د جوړولو د وسايلو د خوراک د پيداکولو او نورو اړتياوو له مخې منځ ته راغلي دي، له دې امله لرغونی انسان له انځورونې او موډل جوړونې سره داسې خيال کولو چې تصوير او رسم يې د ژوند اړتياوې په بشپړ ډول ترسره کړې دي، په دې ډول هنر د ورځنيو مهمو اړتياوو د پوره کولو په خدمت کې و. په لرغونو ټولنو کې اصلاً د هنر په معنی د هغه وخت ټولنه او وګړي نه پوهېدل. کله چې يوه شتمنه طبقه پيدا شوه، نو هنر يې د فزيکي کارونو او ورځنيو اړتياوو څخه رابېل کړ، د وخت په تېرېدو سره په تېره د ماشين د استعمال نه وروسته هنر لا نور هم پسې خپلواک شو. کله چې هنر خپلواکه بڼه غوره کړه، ددغې خپلواکۍ په نتيجه کې د هنر بېلابېل ډولونه رامنځته شول او په ډېرې چټکۍ سره يې لمن پراخه شوه. د هنر تاريخ خورا اوږد او د بشري ټولنې سره جوخت زېږېدلی او دا لړۍ لا روانه ده. دا چې هنر له ژوند څخه الهام اخيستی دی او د ژوند په رڼا کې د هنر اشکال يو د بل پسې منځته راغلي او راځي. هنر په خپل ذات کې ورو-ورو د ټولنې له پرمختګ سره يوځای بشپړتيا مومي، کوم اشکال او ډولونه چې تر اوسه د هنر په هکله موجود دي، اوسنۍ نړۍ په دې باندې بسنه نه کوي، بلکې د روښانه راتلونکې په رڼا کې دا زېړی هم راکوي، چې د امکان نه لرې نه ده، چې د هنر نور ډولونه او شکلونه د انسانانو د اړتياوو له مخې منځته راشي، چې په دې وسيله هنر د بشپړتيا په لور درومي او مکمل شکل غوره کوي. له اتلسمې ميلادي پېړۍ پورې د هنر او ښکلا پوهنې په مباحثه کې کومې د پاملرنې وړ تبصرې منځ ته رانغلې، فقط په پخوانيو تيوريو څرخېدلې. (۸م۲)

په (۱۷۲۵) کال کې د ايټاليې د نياپل د ښار اوسېدونکی (ګيام باتسيتاويکو) د لوی پوهنه (La sien za Nuova) تر عنوان لاندې يو اثر خپور کړ؛ مؤلف په دې کتاب کې دا نظريه اعلان کړه، چې تخيل او تصور ځانګړې او مستقله وظيفه ده، د لرغوني انسان تصويري ژبه وه، شاعري هغه هنر دی چې د يو ولس ذهنيت څرګندوي او هغه هم د تاريخ په لومړني پړاو کې؛ نو هنر په عمومي ډول د يوې ټولنې ذهنيت دی، څه چې دوی درک کړي وي، هغه په کې منعکسوي. د (۱۹۲۰) کال په شاو خوا کې يو ادبي مکتب چې په سبک پېژندنه کې ورته سور ريالېزم وايي (۸م۱)، د پيروانو په نظر يې هنر د طبيعي څېرو له واقعيت څخه بايد زيات څه ولري، يعنې د وخت د ټولنيزو، څېرو او ټولنيزو موسساتو د ظواهرو تر شا حقيقي کيفيتونه (حساب او مفسدات) بيان کړي. په شلمه پېړۍ کې هنر ډېر پرمختګ کړی دی، او د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې يې لاپرمختګ کړی دی. د يويشتمې پېړۍ له پيل څخه تر اوسه پورې هنر د پشپړتيا او د ژوند په هره برخه کې پوره پرمختللی دی. ګل پاچا الفت په خپل هنري ادبي اثر کې د فکر په نامه يو هنري مضمون ليکلی، دی وايي: (اوس دنيا بل راز شوه، او ددې عصر کارونه له مونږ نه فکر غواړي او د پخو فکرونو تقاضا کوي، موږ اوس مجبور يو چې فکر او د فکر خاوندان پيدا کړو، يعنې د فکر کولو مشق او تمرين وکړو). (۱م۸)

پايله:

په پای کې دې نتيجې ته ورسېدو، چې د هنر موضوع د انساني ژوند په ډګر کې ډېره پراخه ده، او هر هېواد د ژوند په ډګر کې د خپلو عقيدوي، تاريخي، ملي فرهنګي او نورو ارزښتونو په رڼا کې د هنر بېلابېل ډولونه د خپل تاريخ په رڼا کې لري او اړينه ده، په دې برخه کې ډېر کار وشي او مونږ افغانانو ته هم لازمه ده، چې د خپلو اسلامي، ملي، تاريخي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې د هنر په بېلابېلو اړخونو لا څېړنې او سپړنې وکړو؛ باید محصلينو ته په دې برخه کې د مونوګرافونو د ليکلو په وخت کې د هنر په مختلفو اړخونو باندې موضوعګانې ورکړل شي.

Abstract:

In this particular academic research work an attempt has been made to illustrate the literary personality of the famous Russian Author, Leo Nikolayevich Tolstoy and three of his well-known Romance Novels that are Sunday, Anna Karenina and War and Peace. In the peculiar academic research article, an attempt has been made to elucidate the esthetic peculiarities of the above mentioned literary works. A special sort of argumentation has been provided in the article regarding Anna Karenina. Some light has been shed upon the characteristics of the Upper Class in the literary work, War and Peace. Plus, further research has been provided regarding the war of Napoleon versus France and has been shown that the real victors of the war were the nation. Furthermore, a discussion had been provided regarding the characteristics the romance novel, Sunday, and an advanced research has been provided about the personality of Leo Nikolayevich Tolstoy in this compact research article.

اخځليکونه:

1. الفت، ګل پاچا. (۱۳۲۵). اجتماعي نظريات. پېښور: افغان مجاهد اطلاعاتي مرکز.
2. افق، محمد ظاهر. (۱۳۵۳). هنر او ښکلا پوهنه. کابل: دولتي مطبعه.
3. پښتو پښتو تشريحي قاموس. (۱۳۸۳هـ ق). کابل: ميديوتيک (د افغانستان لپاره د ټولنيزو رسنيو دفتر).
4. رشيدي، جمشيد. (۱۳۹۱). ادب تيوري. کابل: انتشارات نامی.
5. روهي، محمدصديق. (۱۳۸۰). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
6. روهي، محمدصديق. (۱۳۲۲). د ادب او فلکلور په باره کې. کابل: دولتي مطبعه.
7. عميد، حسن. (۱۳۸۴)خورشيدی. فرهنګ عميد. تهران: چاپخانه سپرو.
8. وزيري، محمداقبال. (۲۰۱۲م). د ادبياتو تيوري. پېښور: د پښتونخوا د پوهنې دېره.

پوهنوال دوکتور رضوان الله (نادري)
کرنې پوهنځی- د نباتاتو حفاظې څانګه

په ساتنځیو کې د کرنیزو محصولاتو د زیان رسوونکو ژویو لنډه پېژندنه

لنډیز:

زمونږ ګران هېواد افغانستان د حاره او نیمه حاره اقلیم لرونکې دی؛ په دې ډول اقلیم کې په ساتنځیو کې په نړیواله کچه د افتونو څخه وارد شوی زیان تر پنځوس سلنې (۵۰٪) پورې رسېږي. دا زیان نه یوازې دا چې د ودې په حال کې هېوادونو کې یوه ستره ستونزه ده، بلکې دا افتونه حتی په پرمختللو هېوادونو کې هم ډېر زیان واردوي. د امریکا په متحده ایالتونو کې د عصري ساتنځیو په لرلو او د هغوی څخه د جدي څارنې د میکانیزم د موجودیت سره سره د افتونو څخه په ساتنځیو کې کلنی وارد شوی زیان تر (۲۰۰) میلونو ډالرو پورې اټکل شوی دی، چې (۳۰۰) میلونه یې یوازې غلو دانو ته متوجې دی (2011Bhargava، Richard 2013). (۳،۵)

د ملګرو ملتونو د غذا او کرنې د نړیوال سازمان (FAO (UN د یو اټکل له مخې د غنمو او وریجو هغه حاصل چې په ۱۹۴۷ کال کې په نړیواله کچه راټول شوی و، (۳۳) ملیونو ټنه یې په ساتنځیو کې د افتونو په وجه له منځه تللی و، چې دا (۳۳) ملیونه ټنه له منځه تللی حاصل د (۱۵۰) ملیونو انسانانو د یو کال د غذایي اړتیاوو لپاره بسنه کوله. (۷)

ددې لپاره چې ددې زیانونو مخنیوی وشي، اړینه ده چې په ساتنځیو کې زیان رسوونکي موجودات وپېژنو او د مخنیوي اغېزمنې لارې چارې یې ولټول شي، ترڅو د ګران هېواد د اقتصادي پیاوړتیا سبب وګرځي.

سریزه:

زېرمه شوي محصولات په ډېرې اسانۍ سره د کوچنیو ذره بیني موجوداتو، حشراتو، کنو، موږکانو او مرغانو تر یرغل لاندې راتلی شي. حشرات ډېر د غلو دانو څخه تغذیه کوي، غلې دانې سورۍ کوي او د زېرمه شویو محصولاتو د تخریب سبب ګرځي. کوچني اورګانیزمونه لکه فنجي، بکتریا او نور په زېرمو کې په زیاته پیمانه د غلو د خوسا کېدنې باعث کېږي او د زېرمه شوو غلو او نورو محصولاتو د بدبویۍ، بې رنګۍ، د غذایي ارزښت له لاسه ورکولو او خوند د خرابوالي باعث ګرځي. موږکان او مږې د ډول ډول غلو څخه د تغذیې له امله په زېرمو کې د پام وړ زیانونه رامنځته کوي. موږکان د غذایي توکو د ککړتیا سبب ګرځي او د ناوړه اورګانیزمونو په خپرولو کې رول لري او غذایي مسمومیت منځته راوړي. مرغان هم په خونو او هم په سرخلاصو زېرمو کې د زیان باعث کېږي؛ دوی زېرمو ته داخلېږي او محصولات په وزرونو او مړو شوو جسدونو سره ککړوي. حشرات په زېرمه شویو محصولاتو کې د ډېرښت خورا لوړ قابلیت لري او د یوه فصل په جریان کې -۱۰ ۱۵ سلنه د غلو دانو د خرابولو او پاتې نورو کې د بدبویۍ او ناوړه خوند د رامنځته کولو باعث کېږي. (Bhargava 2010)

موخې:

- دا مقاله په ساتنځیو کې د افتونو څخه د واردېدونکو زیانونو په مخنیوي کې موثره واقع کېدای شي.
- د کرنپوهانو او د نباتاتو د حفاظې او ترویج فني متخصصینو او مامورینو لپاره په ساتنځیو کې د افتونو د مخنیوي په برخه کې د یو ښه لارښود اثر په توګه کار ورکولی شي.

په ساتنځیو کې د کرنیزو محصولاتو د زیان رسوونکو موجوداتو ډلې:

۱. کوچني ذره بیني موجودات (Microorganisms): مایکرو ارګانیزمونه (Microorganisms) لکه څنګه یې چې د نوم څخه معلومېږي، هغه کوچني واړه موجودات دي، چې د مایکروسکوپ پرته په سترګو نه لیدل کېږي او په ساتنځیو کې د ذخیره

شويو محصولاتو د زيان سبب ګرځي. هغه کوچني موجودات چې په ساتنځيو کې د محصولاتو د کيفيت د خرابېدو سبب ګرځي، عبارت له فنجي (Fungi)، بکتريا (Bacteria)، اکتينومائستيز (Actinomycetes)، پروتوزوا (Protozoa) او تومنو (Yeast) څخه دي.(Bhargava 2010)

کوچني زره بيني موجودات د ساتنځيو د بيولوژيکي عواملو څخه دي، چې په مناسبو شرايطو کې په فعاليت شروع کوي او په ډېرې چټکۍ سره د ذخيره شويو محصولاتو د تباهۍ سبب ګرځي. د کوچنيو زره بيني موجوداتو څخه فنګسونه په ساتنځيو کې د ډېرې خسارې سبب ګرځي، چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

Taxonomic Classification of Storage Fungi

Division — Mycota (Fungal Kingdom)

- Myxomycota (Cellwail absent)
- Eumycota (Cell wall present)

Sub-division

(1) Mastigomycotina
- (1) Class—Zygomycetes
  - Order—Mucorales
  - Family—Mucoraceae
  - *e.g., Rhizopus, Mucor* and *Absidia*

(2) Zygomycotina

(3) Basidiomycotina

(4) (Sexual stage absent) Deuteromycotina (Fungi imperfectii)
- Family—Dematiaceae
  - *e.g., Helminthosporium* sp.
  - *Cladosporium* sp.
  - *Alternaria* sp.
  - *Fusarium* sp.
  - *Epiccoum* sp.
  - *Nigrosopra* sp.
  - *Popularia* sp.
  - *Curcularia* sp.
  - Stemphylium

Ascomycotina
- (A) Class—Pyrenomycetes
  - (1) Order—Sphaeriales
    - Family—Sardariaceae
    - *e.g., Neurosopra sordaria*
  - (2) Order—Chaetomiales
    - Chaetomium
- (B) Class—Plectomycetes,
  - O. Eurotiales, Order (Complete)
  - *e.g., Aspergillus* and *Penicillium* sp.

Older Classification :
1. Phycomycetes
2. Ascomycetes
3. Basidiomycetes
4. Deuteromycetes

Phycomycetes cover—Myxomycotins, Mastigomycotina and Zygo-mycotina

Lower fungi : Myxomycotina + Mastigomycotina + Zygomycotes

Higher fungi : Ascomycotina + Basidiomyco + Deteromycetius.

د هغو فنګسونو طبقه بندي چې په ساتنځيو کې د ډېرې خسارې سبب ګرځي. (۴)

څېړنې ښيي چې په گرم او مرطوب چاپېريال کې چې فضا يې په پوره اندازه اکسيجن ونلري، ځينې تخمر کوونکي لکه کانديدا (Candida) د تخمر سبب گرځي او د درنو زيانونو سبب کېږي. ددې عواملو زيانونه د ساتل شويو محصولاتو په رنگ، مزه او بوی کې په بشپړ ډول ښکاري او غذايي ارزښت او د بازار کيفيت يې کموي. له بله پلوه ځينې فنگسونه په ساتل شويو غذايي محصولاتو کې زهر، چې د (Mycotoxin) په نوم يادېږي، توليدوي چې ددې زهرو استعمال په انسان کې د سږو او پښتورگو بې نظمي رامنځته کوي. ځينې وختونه ددې ډول زهرو کارونه په دماغ کې د وينې تويېدو سبب گرځي او عصبي ناراحتي رامنځته کوي. ددې ډول فنگسونو له ډلې څخه د Penicillium او Aspergillus نومونه يا دولی شو. د Aspergillusflavus او ځينې نور ډولونه يې په ساتنځيو کې د پستې او بادامو په زړو کې زهري مواد خوشې کوي، چې دا زهري ماده د افلاتوکسين (Aflatoxin) په نوم يادېږي. د افلاتوکسين مصرف انسانانو او مرغانو ته ډېر زيان رسوونکی دی؛ دا فنگس په هغه وخت کې ښه وده کوي چې د ذخيره شويو محصولاتو رطوبت لږ تر لږه په سلو کې ۱۷– ۵,۱۸ پورې اوسي. (۴)

A. restrietus او A. glaucus د اسپر جلسونو د ډېرو مشهورو نوعو څخه دي، چې په ساتنځيو کې د زيان سبب گرځي. دا فنگسونه په غنمو کې چې لمده بل يې په سلو کې ۱۴–۱۵ پورې وي، فعاليت کوي (۲). نورې نوعې يې د A . candidus ، A . ochraceus او A . niger دي، چې دا هم د ساتنځيو د محصولاتو د زيان سبب گرځي. معمولاً دا نوعې د ذخيره شويو دانو او تخمونو د ورستېدنې سبب گرځي. او Penicillium نوعې يې د ذخيره شويو محصولاتو په مختلفو ډولونو کې ډېر ليدل کېږي، د فعاليت د پيلېدو لپاره يې په سلو کې ۱۹ رطوبت ته اړتيا ده. دا هم د زهر توليدوونکو فنگسونو له ډلې څخه دي؛ د بېلگې په توگه P . viridicatum يو ډول زهر توليدوي، چې د اکراتوکسين (Ochratoxin) په نوم يادېږي. پټه دې پاتې نه وي، د Aspergillusochraceus فنگس هم همدا زهر (Ochratoxin) توليدوي (۲). د Penicillium بله نوعه د P. centrinin په نوم يادېږي، چې دا هم په ساتنځي کې زهر توليدوي او زهر يې د سترنين (Citrinin) په نوم يادېږي؛ دا زهر هم پښتورگو ته زيان رسوي. د Penicillium نورې ډېرې نوعې شته چې نه يوازې د ساتنځيو د محصولاتو د زيان سبب گرځي، بلکې مصرف کوونکو ته هم روغتيايي زيانونه اړوي. د هغې ډلې څخه د P.claviform, P. expensum, p. atricae او همدارنگه د Aspergillusclavatus نومونه يادولی شو. دا هم زهر جوړوونکي فنگسونه دي او زهر يې د پاتولين (Patulin) په نوم يادېږي. ددې زهرو مصرف په انسان کې د دماغ، پښتورگو او سږو د وينې تويېدنې سبب گرځي او په دې وروستيو کې د سرطاني ناروغيو عامل گڼل شوی دی. د فيوزاريم (Fusarium) فنگس ځينې ډولونه شته دی چې د ساتنځي محصولاتو باندې د مناسبو شرايطو په موجوديت کې وده کوي او د افلاتوکسين په توليد سره غذايي محصولات زهرجن کوي. يوه څېړنه ښيي چې د Aspergillus او Penicillium د ۵۹ نوعو فنگسونو څخه ۲۲ يې زهر توليدوونکي دي او د انسانانو د مسموميت سبب گرځي.

TABLE 5.4. Important mycotoxin produced by different fungi

Toxins	Crop	Fungi
1. Aflatoxin	Wheat, Rice, Corn, Sorghum, Oats, Rye, Barley.	*A· flavus*
2. Erogotamine	Rye, Gram, Bajra	*C. purpurea* *C. microcephala*
3. Tearalenose	Maize	*Fusarium* sp.
4. Ochratoxin	Maize, wheat, Oats.	*A. ochroceus* *P. viridicatum*
5. Citrinin	Barley, Oat.	*P. viridicatum* *Aspergillus* sp.
6. Sterigmatocystin	Wheat	*A. versicolor* *A. nidulans*
7. Patulin	Barley, Wheat.	*A.* sp., *Penicillium* sp. *P. urticae*
8. Penicillic acid	Maize	*A.* and *Penicillium* sp.
9. Luteoskyrin & Stadrybotryotoxin	Rice	*P. islandicum*
10. Citreoviridin	Rice	*P. toxicarium*

په ساتنځیو کې ځینې مهم زیان رسوونکي فنګسونه او زهري مادې یې. (۴)

۲. زیان رسوونکې حشرې: د هېواد اقلیمي شرایط د حشرو د ډېرښت او ودې لپاره د کال په جریان کې ډېر مناسب دي، دا ډېرښت ددې سبب ګرځي چې کرنیز محصولات زیانمن کړي. حشرې د ساتنځیو د محصولاتو سره د یو هیواد څخه بل هېواد ته انتقالېږي. د ساتنځیو د محصولاتو ځینې بالغې حشرې قوي الوتونکې دي او پرواز کوي او ددې پرواز په نتیجه کې د یوې سیمې او ځای څخه بلې سیمې او ځای ته انتقالېږي او کرنیز محصولات زیانمنوي. د ډوباروسکي ۱۹۶۱ د اټکل له مخې د غلو دانو حاصل په نړیواله کچه ۹۶ ملیونه ټنه د ساتنځیو د افتونو په وجه له منځه تللی و (Khare 2011). د ډوباروسکي د اټکل له مخې دا (۹۶) ملیونه ټنه له منځه تللی حاصل د (۳۷۵) ملیونو انسانانو د یو کال د غذایي اړتیاوو لپاره بسنه کوي. (۴)

په ټوله کې هغه حشرات چې په ساتنځیو کې تخمونه اخته کوي، ډېر یې د حشراتو د Coleoptera او Lepidoptera په اردرونو پورې اړه لري، مونږ ددې ادعا د ثبوت لپاره ځینې مهمې زیان رسوونکې حشرې چې په پورتنیو دوه او نورو اردرونو پورې اړه لري او په ساتنځایونو کې د محصولاتو د زیان سبب ګرځي د جدول په شکل په لاندې ډول طبقه بندي کوو(۳):

Common insect pests of stored commodities

S.No.	Order/family	Scientific name	Common name
		Coleoptera	
1.	Anobiidae	*Lasioderma serricorne* (Fab.)	Cigarette beetle
		Stegobium paniceum (Linn.)	Drug store beetle
2.	Anthribidae	*Araecerus fasciculatus* (De Geer)	Coffee bean weevil
3.	Bostrychidae	*Rhizopertha dominica* (Fab.)	Lesser grain borer
4.	Bruchidae	*Callosobruchus maculatus* (Fab.)	Pulse beetle
		C. analis (Linn.)	- do -
		C. chinensis (Linn.)	- do -
		Acanthoscelides obtectus (Say)	Bean beetle
		Bruchus pisorum (Linn.)	Pea beetle
		Caryedon serratus (Olivier)	Tamarind beetle or groundnut beetle
5.	Curculionidae	*Sitophilus granarius* (Linn.)	Granary weevil
		S. oryzae (Linn.)	Rice weevil
		S. zeamais Motsch.	Maize weevil
6.	Cucujidae	*Cryptolestes acutangulus* Gyll.	Acute angled fungus beetle
		C. ferrugineus (Stephens)	Rusty grain beetle
		C. pusillus (Schoenherr)	Flat grain beetle
7.	Dermestidae	*Trogoderma granarium* Everts	Khapra beetle
		Anthrenus scrophulariae (Linn.)	Carpet beetle
		Attagenus piceus Oliv.	Black carpet beetle
8.	Ptinidae	*Gibbium psylloides* (de Czenpinski)	Hump spider beetle
9.	Silvanidae	*Oryzaephilus surinamensis* Linn.	Saw toothed grain beetle
		Oryzaephilus mercator Fauvel	Merchant grain beetle
9.	Tenebrionidae	*Tenebrio molitor* Linn.	Yellow meal worm
		Tribolium castaneum Herbst	Rust red flour beetle
		Tribolium confusum Jacq.	Confused flour beetle
		Tribolium destructor Uython.	Large flour beetle
		Latheticus oryzae Waterhouse	Long headed flour beetle
		Alphitobius laevigatus (Fab.)	Black fungus beetle
		Alphiophagus bifasciatus Medford	Two banded fungus beetle
10.	Trogostidae	*Tenebroides mauritanicus* (Linn.)	Cadelle beetle
		Lepidoptera	
11.	Gelechiidae	*Phthorimaea operculella* (Zell.)	Potato tuber moth
		Pectinophora gossypiella (Saunders)	Pink boll worm
		Sitotroga cerealella (Olivier)	Angoumois grain moth
12.	Galleriidae	*Aphomia gularis* (Zell.)	Stored nut moth
		Corcyra cephalonica (Staint.)	Rice moth
		Galleria mellonella Linn.	Greater wax moth
13.	Phycitidae	*Cadra cautella* (Wlk.)	Fig/almond moth
		Ephestia elutella (Hubner)	Tobacco moth
		Plodia interpunctella (Hubner)	Indian meal moth
14.	Pyralidae	*Pyralis farinalis* (Linn.)	Grain snout moth
15.	Tineidae	*Nemapogon granella* (Linn.)	European grain moth
		Tinea pellionella (Linn.)	Case making cloth moth
		Tineola bisselliella (Hum.)	Webbing cloth moth
		Trichophaga tapetzella (Linn.)	Carpet moth
16.	Psocoptera	*Liposcelis divinitorius* Muller	Grain lice
	Psocidae	*L .transvallensis* (Endernein)	

د ځينو مهمو زيان رسوونکو حشرو شکلونه چې په ذخيره شويو تخمونو باندې حمله کوي، په لاندې ډول دي:





په ساتنځیو کې ځینې مهمې زیان رسوونکې حشرې (۳)

زیان رسوونکې حشرې د غله جاتو، جوارو، لیګومو، لوبیا، نخودو، وچو مېوو، سبو، او نورو غذایي موادو د زیانمن کېدو او د زیات مقدار د خرابېدو باعث کېږي؛ دوی کېدای شي په لومړني او دویمي افتونو وویشو.

Primary storage pests: هغه افتونه دي، چې سالمې غلې دانې زیانمنې کوي، لکه Rice Weevil, Lesser grain borer, Khapra beetle, pulse beetle Angoumois grain moth, او داسې نور.

Secondary storage Pests: دا ډول افات ماتې او تخریب شوې دانې زیانمنوي، لکه Rust red Flour beetle, flat grain beetle, saw toothed grain beetle او داسې نور.

۳. په ساتنځيو کې د غذايي محصولاتو کنې: په ساتنځيو کې د غذايي محصولاتو د زيان رسوونکو کنو څخه د غلو دانو کنې (Grain mite) چې عبارت د Acarussiro يا Tyroglyphusfarinae، د پنيرو کنې (cheese mite) چې عبارت د Tyrophaguscasei، پوپنکي کنې (Mould mite) چې عبارت د Tyrophagusputrescentiae او د وچو مېوو (Dired Fruit mite) يا د Carpoglyphuslacis يا Acaruspassularum څخه د غذايي محصولاتو کنو يادونه کولی شو. د کنو نورې نوعې هم شته، چې دې ډول ته ورته زيان اړوي او په ځانګړې ډول په اوړو، تخمونو او غلو دانو کې موجودې دي. (۳)



په ساتنځيو کې ځينې مهمې زيان رسوونکې کنې. (۳)

۴. په ساتنځيو کې مړې او موږکان: د نورو افتونو په خوا کې مړې او موږکان هم د کرنيزو نباتاتو او هم په ساتنځيو کې د غذايي محصولاتو د مهمو افتونو له ډلې څخه دي. دا هر څه خوړونکي دي، نو ځکه په ساتنځي کې ډېره خساره واردوي. د غلو دانو، حبوباتو، مېوو، سبو، غوښو او تخمونو څخه ګټه اخلي او خوري يې. داسې تخمين شوی چې موږکان يې تر ټولو ډېر زيان رسوونکي دي او په نړيواله کچه د ټولو توليد شويو دانو په سلوکې ۳۰ سلنه ددې حيواناتو په واسطه له منځه ځي. مړې په اوسط ډول د ورځې ۲۵ ګرامه او موږکان ۳ – ۴ ګرامه غذا مصرفوي (۳). دوی په ساتنځي کې غذايي محصولات زخمي کوي، مصرفوي او د خپلو فضله موادو په وسيله يې ورستوي او د نورو عاملينو لپاره لاره آواروي. مړې او موږکان د خپلې خولې د څيرونکو غاښونو په وسيله د ساتنځيو د سامان الاتو لکه بوجيو او کارتنونو د څيريکېدو سبب ګرځي. دوی کولی شي چې برقي غځېدلي لاينونه وجوي او د برقي تکان په صورت کې د ساتنځي د اورلګېدنې سبب شي. دوی په ساتنځيو کې د ناروغيو، په ځانګړې ډول انسانانو او د کورني حيواناتو لپاره ډېر زيان رسوونکې اوسي، د انتقال سبب ګرځي. په هند کې ددې آفتونو څخه تر اوسه ۸۴ نوعې پېژندل شوې دي، چې د Rodentia په ارد پورې اړه لري. (۴)

په نړۍ کې د مړو او موږکانو عامې نوعې چې د کرنيزو نباتاتو او هم په ساتنځيو کې د غذايي محصولاتو د زيان سبب ګرځي، په لاندې ډول دي:

Scientific names of common species of rats found in different parts of the world

S.No.	Rat species	S.No.	Rat species
1.	*Apodemus sylvaticul* (Linn)	39.	*Dacnonys millardi.* Thomas
2.	*Apodemus flavicollis* (Melchior)	40.	*Hadromys.* Thomas
3.	*Vandeleuria oleracea* (Bennett)	41.	*Diomys crumpi.* Thomas
4.	*Mus booduga* (Gray)	42.	*Tatera indica* (Hardwicke)
5.	*Mus musculus* (Linn)	43.	*Tatera dunni.* Wroughton
6.	*Mus cervicolor*-Hodgson	44.	*Gerbillus dasyurus* (Waguer)
7.	*Mus famulus* Bonhote	45.	*Gerbillus gleadowi.* Murray
8.	*Mus platythrix* Bennett	46.	*Meriones hurrianae* (Jerdon)
9.	*Mus fernandoni* (Phillips)	47.	*Cricetulus migratorius* (Pallas)
10.	*Mus pahari* Thomas	48.	*Cricetulus alticola.*Thomas
11.	*Rattus rattus* (Linn)	49.	*Chiropodomys gliroides* (Blyth)
12.	*Rattus rattodies* (Hodgson)	50.	*Micromys minutus* (Palias)
13.	*Rattus nitidus* (Hodgson)	51.	*Milliardia meltada*
14.	*Rattus blanfordi* (Thomas)	52.	*Millardia gleadowi*
15.	*Rattus norvegicus* (Berkenhout)	53.	*Arvicanthis niloticus*
16.	*Rattus mulleri* (Jentink)	54.	*Acomys cahirinus*
17.	*Rattus rogersi* (Thomas)	55.	*Rattus r. aicxandrinus*
18.	*Rattus bowersi* (Anderson)	56.	*R.r. alexandrinus*
19.	*Rattus manipulus* (Thomas)	57.	*Rattus rattus rattus*
20.	*Rattus nivivienter* Hodgson	58.	*R.r. frugivorus*
21.	*Rattus falvescens* (Gray)	59.	*Rattus (Mastomys) natatennis*
22.	*Rattus eha* (Wroughton)	60.	*Praxmys* (Mastomys) spp.
23.	*Rattus cremoriventer* (Miller)	61.	*Lemniscomys* sp.
24.	*Rattus sabanus* (Thomas)	62.	*Mastomys* sp.
25.	*Rattus cutchicus* (Wrougton)	63.	*Tatera leucogaster*
26.	*Rattus elvira* Ellerman	64.	*Rhabdomys pumilio*
27.	*Rattus fischer*	65.	*Acthomys namaquensis*
28.	*Rattus palmarum.* zelebor	66.	*Mus molisimus*
29.	*Rattus stoicus* Miller	67.	*R. exulans*
30.	*Rattus tacitutunum,* Miller	68.	*R. diardii*
31.	*Rattus tacitutunum,* Miller	69.	*R. annandaki*
32.	*Rattus burrus,* Miller	70.	*R. argenitiventer*
33.	*Rattus burrulus.* Miller	71.	*R. tiomanicus*
34.	*Rattus burrescens,* Miller	72.	*R. umbriventer*
35.	*Golunda ellitio* Gray	73.	*R. mindanensis*
36.	*Nesokia india* (Gray)	74.	*Gunomys gracilis*
37.	*Bandicota bengalensis* (Gray)	75.	*Bandicota savilei*
38.	*Bendicota indica* (Bechstein)		

(۳)

په ساتنځیو کې د مږو او موږکانو د مخنیوي لپاره د لاندې زهري خوړو او درملو څخه ګټه اخیستل کېږي:

۱. زنګ فاسفاید (Zinc phosphide): دا د هغه کېمیاوي درملو له ډلې څخه عبارت دي چې استعمال یې ډېر مروج دی. دا تور خړ رنګه پوډر دي، چې د زهري طعمې ترکیب یې په لاندې ډول دی:

الف. زنگ فاسفايډ دوه برخې
ب. غذايي مواد ۹۷ برخې
ج. غوړي يوه برخه. ددې زهري طعمې د جوړېدو لپاره د غنمو د اوړو څخه گټه اخيستل کېږي.
۲. Strychnine: دا ډېر زهري کېمياوي درمل دي، چې زهري طعمه يې په لاندې ډول جوړېږي:
الف. د Strychnine درمل ۲۷ گرامه په ۵۲ سي سي اوبو کې حلېږي.
ب. د گوړې دوه کيلوگرامه د ۴۵۵ سي سي گرمو اوبو سره حلېږي.
ج. دواړه سره گډېږي او په دې دواړو مخلوط کې بيا ۱۳ کيلوگرامه د gram دانې يا تخم اچول کېږي. ددې تهيه شوې گډولې څخه ۲۰ گرامه د مږې او يا موږک په سوري کې کېښودل کېږي.
۳. Warfarin: دا هم زهري کېمياوي مواد دي چې د زهري طعمې د جوړېدو لپاره يې د لاندنيو موادو څخه گټه اخيستل کېږي:
۲۵ گرامه Warfarin، د بادامو دانې ۴۵۰ گرامه، غوړي ۱۵ گرامه او تېل لس گرامه.
۴. پرولين (Prolin): په ځينو مږو او موږکانو کې Warfarin ښه اغېزه نلري، ددې لپاره چې ښه اغېزه وکړي، نو Warfarin د Sulfaguinone سره گډوي، چې په دې صورت کې د Warfarin او sulfaguinone گډوله د Prolin په نوم يادېږي.
۵. باريم کاربونيت (Barium carbonate): دا ځکه ډېر مشهور ندي، چې د اغېزې موده يې اوږده او بطي ده او تي لرونکو لپاره ډېر زهري وي، چې زهري طعمه يې په دې ډول جوړېږي: باريم کاربونيت ۱۲ برخې، غذايي مواد ۸۳ برخې، تېل يا غوړي يوه برخه.
۶. Red squill: دا هم بې خونده زهري کېمياوي مواد دي او مږې او موږکان ترې ډېره استفاده کوي، نو د استعمال سپارښتنه يې کېږي.
د ساتنځيو فوميگشن (Fumigation) د مږو او موږکانو د موجوديت په صورت کې په هغه وخت کې اغېزمن دی، چې د مږو او موږکانو سوري خلاص وي، ترڅو د Fumigation په وخت گاز سوريو ته ورننوځي. په دې طريقه کې د هغو پوډرو څخه گټه اخيستل کېږي، چې د هايدروجن سيانايد گاز توليد کړي. همدارنگه د المونيم فاسفايد گولۍ هم استعمالېږي؛ المونيم فاسفايد گولۍ د سوريو په خوله کې ايښودل کېږي او د Phosphine د توليد سبب گرځي او مږې او موږکان له منځه وړي. دا حتمي ده، چې د گوليو لپاره بايد لمده بل په سوريو کې موجود اوسي.
۵. د ساتنځيو هوايي افتونه (Avian pests): د هند يوه څېړنه ښيي (Saha 2009) چې په هندوستان کې د ۱۲۰۰ پېژندل شويو نوعو مرغانو څخه يوازې ۲۵ نوعې يې مېوو، سبو او نورو نباتاتو ته زيان رسوي. په همدې ډول دا زيان رسوونکي مرغان په ځانگړې ډول غلې دانې په سرخلاصو ساتنځيو کې زيانمنوي، خوري يې او گټه ترې پورته کوي. د ځينې الوتونکو آفتونو (هوايي آفتونو) څخه په لاندې ډول يادونه کېږي. (۲)
۱.۵. کارغه يا (Crow): علمي نوم يې Corvussplendens دی، د Passeriformes په اردر او د Corvidae کورنۍ پورې اړه لري، د کږې (Kaga) يا Kauwa نومونه يې د هند محلي نومونه دي، چې دلته ورته (House Crow) کړه يا کووا ويل کېږي. دا مرغۍ د ۱۲۰۰ مترو په لوړوالي الوتنه کولی شي. که چېرې د چپاتي (Chapatti) يوه ټوټه د Parathion 0,04% محلول کې غوټه کړو او د بالاخانې په سطحه کېښودل شي، دا د کارغانو لپاره يوه ښه زهري طعمه ده، چې په خوړولو سره يې کارغان مري.
۲.۵. چنچنه (House Sparrow): په هندي ژبه ورته Chidia وايي او Sparrow تر عنوان لاندې مطالعه کېږي. د Ploceidae په کورنۍ او د Passerinae فرعي کورنۍ پورې اړه لري. علمي نوم يې د Passer dometicus دی، دا مرغۍ د ۲۱۵۰ مترو په په لوړوالي الوتنه کولی شي. چنچنې په ډېره اندازه د غنمو د نمويي فصل په اخر کې کله چې دانه پخوالي ته ورسېږي، استفاده ترې کوي چې ددې کار د مخنيوي لپاره په کرونده کې د تيرام (Thiram) درمل څخه گټه اخستل کېږي. تيرام يا (TMTD) په وسيله د غنمو کروندې په داسې حال کې چې دانه د شيرې په مرحله کې وي، پاشل کېږي او کله چې چنچنې ددې ملوثو غنمو څخه استفاده وکړي، مري او له منځه ځي.

۳.۵. مينا (Common myna): په هندي ژبه ورته Gursqli وايي او د Desi myna په نوم هم يادېږي؛ د ۲۷۰۰ مترو په لوړوالي الوتنه کوي. د مينا د مخنيوي لپاره بايد په سرخلاصو ساتنځيو کې د دوی جالې ويجاړې شي، چې د تکثر او ډېرښت مخنيوی يې وشي.(۱)

۴.۵. کوترې (Pigeon): کوترې د ۳۸۰۰ مترو په لوړوالي الوتنه کوي، د Columbiformes په اردر او د Columbidae کورنۍ پورې اړه لري؛ علمي نوم يې Columba livea دی.

۵.۵. طوطي (Parrot): دا مرغه د ۱۲۰۰ مترو په لوړوالي الوتنه کوي، د Psittaciformes په اردر او د Psittacidae په کورنۍ پورې اړه لري؛ علمي نوم يې Psitticulakrameri دی او په هندي ژبه ورته طوطا (tota) وايي.

۶.۵. بلبل (bulbul): علمي نوم يې Pycnonotuscafer دی او د Passeriforms په اردر او د Pycnonotidae کورنۍ پورې اړه لري.

۷.۵. Baya: علمي نوم يې Ploceusphilippinus دی، د Passeriformes په اردر او د Ploceidae په کورنۍ پورې اړه لري.

د دوی مخنيوی په سرخلاصو ګودامونو کې د دوی د ځالو ټولول او له منځه وړلو په وسيله سرته رسېږي.



د سرخلاصو ساتنځيو هوايي افتونه (۳)

پايله:

په هېواد کې د افتونو څخه د وارد شوي زيان اندازه نژدې ۴۰ سلنې ته رسېږي. ددې لپاره چې زمونږ ګران کروندګر ددې زيان څخه وژغورل شي او وکولی شي، په ساتنځيو کې د محصولاتو څخه پوره ګټه واخلي، نو اړينه ده چې په ساتنځيو کې د محصولاتو په ځينو مهمو ناروغيو او افتونه پوه شي او د مخنيوي هڅې يې وکړي او د مخنيوي هغه لارې چارې او درملونه دې وکاروي، چې په دې مقاله کې يې يادونه شوې ده.

Abstract:

Stored products are subject to attack by several groups of living organisms that cause enormouslosses annually, particularly in developing countries like Afghanistan. The population in many countries including Afghanistan increasing fast and for stabilization of the current increasing population, efforts

should be undertaken for food security andagriculture products. One of the ways to reduces losses of agricultural produces, more attentionshould paid to plantprotection issues and protection of agriculture products in storages.This article covers the major groups of organisms that infest agriculture products in storages, particularly in Afghanistan. The article, describes common methods of their management which would have positive impact on economic growth of Afghan poor farmers.

References:

1. Atalwal A. S., (1976). Agricultural Pests of India and South Asia, Published by Kalyani Publishers, Ludhiana, Delhi, Pp: 389-412.
2. Bagheri- Zenous. (2010). Pests of stored Products and Management, Biology of insects, Acari and Microorganisms, Published by the University of Tehran, Press 2851 Third Edition, Pp: 449.
3. Bhargava M.C., Kumawat K.C. (2010). Pests od Stored Grains and their Management, published by New India Publishing Agency, PatamPuar. New Delhi 110088. Pages: 69-89.
4. Khare, B. P. (2011). Stored Grain Pests and Their Management, Published by Kalyani publishers Ludhiana, New Delhi. Pages 95- 262.
5. Richard T. Cotton. (2013). Insect Pests of Stored Grain and Grain Products (Identification, Habits and Methods of Control), published by Biotech Books, Delhi 110035, Pages 1-2.
6. Saha L. R., Dhaliwal G.S. (2009). Hand book of Plant Protection (Pests of Stored Products), Published by Kalyani publishers Ludhiana, New Delhi. Pages: 466- 470.
7. Sepasgosarian H. (1978). Storage Pests of Iran and their control, University of Tehran: publication number 1026, second edition. Pp: 278.
8. Karuna. Vishunava. (2009). Fundamentals of seed patalogy, Published by Kalyani Publishors, New Delhi, p: 170.

پوهـــنوال سـيد محـبوب شـاه (هاشمـي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

د نبوي حديثو د ليکلو په هکله د جواز او عدم جواز د احاديثو تطبيق

لنډيز:

الله تعالی خپلو بنده ګانو ته د هدايت اسباب او لارې ښودلي، چې عظيم الشان قران او نبوي آحاديث د هدايت سرچينې دي. د اسلام په اوايلو کې د ليک او لوست توکي د نشت سره برابر وو؛ کاغذ نه و، له هډوکو، کاڼو، پوستکو او د ونې له ډډونو د ليکلو توکو کار اخيستل کېده او ليکوالان هم کم وو، نو نبي عليه السلام خلک د حديثو د ليکلو نه منع کړي وو، چې خلک قران ياد کړي، ويې ليکي، چې د قران او حديث تر منځ اختلاط او ګډوالی رانشي؛ چې کله موانع ختم شو، نو بيا د حديثو د ليکلو اجازه وشوه.

سريزه:

قرانکريم د اسلامي شريعت اولنی مصدر دی او نبوي حديث د تشريع دويم مصدر دی، ځکه حديث د قرانکريم بيان، تفصيل او شرحه ده. يا په بل عبارت حديث د اسلام عملي تطبيق دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لارښوونه، چې مسلمانانو يې لارښونو ته د اسلام له پيل څخه تر اوسه غاړه ايښې ده. قرانکريم د شرعي احکامو مصدر دی، حديث د ادابو اخلاقو سرچينه ده، نو په قرانکريم او حديث عمل د بريالیتوب ضمانت کوي. هر هغه څوک چې په قران او حديث د عمل لپاره منګولې ولګوي، هيڅکله به بې لارې نشي او د دارينو سعادت به يې په برخه شي.

موخې:

- د نبوي حديثونو د ليکلو د جواز او عدم جواز په اړه شننه او څېړنه
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او لوستونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

الف: د منعې حديثونه:

۱- امام مسلم په خپل سند سره ذکر کوي: عن ابی سعيد الخدری رضی الله عنه، ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: لاَ تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ (۱۰:۱۸/۱۲۹). ژباړه: له ابو سعيد خدري رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما نه څه مه ليکئ، که چا د قران نه پرته بل څه وليکل، هغه محوه کړئ. دا هغه د ټولو نه صحيح حديث دی، چې د احاديثو د ليکلو په منع کې راغلی دی.

۲- ترمذي په خپل سند سره ذکر کوي او الباني د حديث په صحت حکم کړی، صحيح (۲م۱۲۵). عن أبی سعيد الخدری، قال: ((استأذنا النبی صلی الله عليه وسلم فی الكتابة فلم يأذن لنا)). ژباړه: ابو سعيد خدري نه روايت دی، وايي چې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه په ډېرې مبالغې سره د حديثو د ليکلو غوښتنه وکړه، خو هغوی انکار وکړ. بل روايت کې راغلي، چې مونږ ته يې د ليکلو اجازه رانکړه.

۳- امام بخاري په خپل سند سره د ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت کوي، عن ابی هريرة رضی الله عنه، قال: خرج علينا رسول الله صلی الله عليه وسلم و نحن نكتب الاحاديث، فقال ماهذا الذی تكتبون؟ قلنا احاديث نسمعها منك، قال كتاب غير كتاب الله؟ اتدرون؟ ما ضل الامم قبلكم الا بما اكتبوا من الكتب مع كتاب الله (۳م۳۴). ژباړه: د ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې يوه ورځ نبي عليه السلام بهر راووت او مونږ احاديث ليکل، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل داڅه ليکئ؟ مونږ وويل، هغه حديثونه ليکو چې له تاسې څخه يې اورو؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د الله تعالی له

کتاب پرته بل کتاب ليکئ؟ ايا تاسې پوهېږئ چې مخکېني امتونه پدې بې لارې شول، چې د الله تعالی کتاب سره يې نور کتابونه ليکل.

ب: د اجازې حديثونه:

۱- امام بخاري په خپل سند سره روايت کوي، چې عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمايلي: په دې خاطر چې احاديث ماته ياد شي، ما به د رسول الله نه هر څه چې اورېدل، هغه به مې ليکل؛ قريشو منعه کړم، راته يې وويل هر هغه شی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورې، هغه مه ليکه، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم بشر دی، کله به خوښ وي او کله به په غوصه کې وي. زه د ليکلو نه ايسار شوم، دا خبره يې رسول الله ته ذکر کړه؛ د الله رسول خپلې مبارکې خولې ته پخپلې ګوتې سره اشاره وکړه، ويې فرمايل: (اکتب فوالذی نفسی بيده، ما خرج منه الا حق) (۳م۳۵۲). ژباړه: وليکه! زما دې په هغه ذات قسم وي، چې زما نفس د هغه په اختيار کې دی، ددې خولې څخه له حق پرته بل څه خبره نه وځي.

۲- امام بخاري رحمه الله په خپل سند سره د ابوهريرة رضی الله عنه روايت کوي: (ما من اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم احد اکثر حديثا عنه منی الا ماکان من عبدالله بن عمرو فانه کان يکتب ولا اکتب (۱م۱/۳۹). ژباړه: د نبي عليه السلام صحابه کرامو ته زما څخه پرته بل چا ته دومره حديثونه ياد نه و، مګر عبدالله بن عمرو ته، ځکه هغه به احاديث ليکل او ما به نه ليکل.

۳- امام طبراني په خپل سند سره له ابوهريرة رضی الله عنه نه په صحيح سند روايت کوي، يو انصاري سړي به د نبي عليه السلام مجلس ته حاضرېده، حديث به يې نه يادېده، د ابوهريرة رضی الله عنه به يې پوښتنه وکړه، هغه به ورته ياد کړ؛ بيا دغه سړي رسول الله ته د خپلې ضعيفې حافظې شکايت وکړ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: (استعن علی حفظک بيمينک) د حديث شمېره (۱/۸۱۹). ژباړه: له خپلې حافظې سره د خپل ښي لاس په واسطه مرسته وکړه.

۴- امام طبراني په خپل سند سره د رافع بن خديج نه روايت کوي، چې مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وفرمايل: (انا نسمع منک اشياء افنکتبها؟ قال اکتبوا و لا حرج). طبراني (۴م۲۷۶) د حديث شمېره ۱۰-۴۴. ژباړه: مونږ ستاسې څخه ځينې شيان اورو، ايا هغه وليکو؟ د الله پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ويې ليکئ، هيڅ باک نشته.

۵- سنن الدارمي په خپل سند سره د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (قيد والعلم بالکتابة) (۱م۴۳۲). ژباړه: علم په ليکلو سره بند کړئ، يعنې ويې ساتئ.

۶- امام نسايي په خپل سند سره د عمرو بن حزم څخه روايت کوي: (عن عمرو بن حزم عن رسول الله صلی عليه وسلم انه کتب کتاب الصدقات والديات والفرائض و السنن و غيره له) (۸م۵۸). ژباړه: عمرو بن حزم د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي، چې هغه د زکات، ديات، ميراث او سنتو په باره کې ده ته او نورو واليانو ته مکتوبونه لېږلي وو.

۷- امام بخاري په خپل سند سره له ابوهريرة رضی الله عنه روايت کوي، چې د مکې د فتحې په ورځ نبي عليه السلام خلکو ته خطبه وويله، يو کس د يمن د اوسېدونکو څخه چې ابوشاه نومېده، د ليکلو غوښتنه وکړه، نبي عليه السلام وفرمايل: (اکتبو الابی شاه) ابوشاه ته يې وليکئ (۳م۱۲۵). ابوعبدالرحمن عبدالله بن احمد وايي، چې د حديثو په کتابونو کې ددې په شان بل صحيح حديث نشته، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د ليکلو امر کړی (۹م۱۲/۲۳۵). عن ابن عباس، قال: لما اشتد بالنبی صلی الله عليه وسلم وجعه، قال: (ائتونی بکتاب أکتب لکم کتابا لا تضلوا بعده)، قال عمر إن النبی صلی الله عليه وسلم غلبه الوجع، و عندنا کتاب الله حسبنا؛ فاختلفوا وکثر اللغط، قال: (قوموا عنی و لا ينبغی عندی التنازع). ژباړه: امام بخاري په خپل سند سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کوي، چې د نبي عليه السلام مرض سخت شو، نو ويې فرمايل: يو کتاب راوړئ چې داسې ليکنه درته وکړم چې د بې لارې نه بچ شئ، حضرت عمر وفرمايل چې نبي عليه السلام باندې د تبې او درد زور دی، مونږ سره د الله تعالی کتاب دی، دا مونږ لپاره کافي دی؛ اختلاف شروع او اوازونه پورته شو، نبي عليه السلام وفرمايل: زما څخه پاڅېږئ، زما په خوا کې لانجې کول مناسب ندي؛ د نبي عليه السلام دا غوښتنه د ليکلو په جواز باندې دلالت کوي. (۱م۳۴) رقم الحديث ۱۱۴.

د دواړو احاديثو تطبيق:

هغه حديثونه چې د ليکلو په روا والي يې دلالت کاوه، ځينې خاص وو، لکه د ابوشاه لپاره؛ ځينې عام وو، لکه عبدالله بن عمروبن عاص ته او هغه انصاري کس ته. علماء کرامو د دواړو روايتو تر منځ په لاندې ډول توافق کړی:

۱- ځينې علماء وايي چې د ابوسعيد خدري حديث موقوف دی، دليل په دې ندی روا، دا د امام بخاري نظر دی (۸م۷/۳۸). دا خبره ځکه صحيح نده چې دا حديث په مسلم کې ثابت دی او صحيح دی. ددې تاييد په حديث د ابوسعيد رضی الله عنه سره کېږي (استاذنت النبی صلی الله عليه وسلم ان اکتب الحديث فابی ان ياذن لی (۳م۳۲). ما د نبی عليه السلام نه مطالبه وکړه چې د حديث د ليکلو اجازه راکړه، نبي عليه السلام د اجازې څخه انکار وکړ.

۲- د احاديثو د ليکلو منع د اسلام په اوايلو کې وه، هغه مهال ددې وېره وه، چې حديث د قران سره خلط نشي، چې کله د مسلمانانو شمېر زيات شو او په قران باندې ښه پوه شول، د قران او حديث توپير او تميز وشو، د خلط وېره ختمه شوه، نو حکم منسوخ شو او د ليکلو اجازه وشوه. علامه رامهرمزي وايي د ابواسيد د حديث نه معلومېږي، چې نبي عليه السلام سره دا فکر ؤ، هسې نه چې صحابه د قران په ځای په احاديثو مشغول شي (۷م۷۱). ابن قتيبه وايي دلته نسخ د سنت په سنتو راغلې، د اسلام په اوايلو کې منع وو، چې بيا کله پوه شو چې احاديث زيات شول، د ضياع د مخنيوي لپاره د ليکلو امر وشو (۷م۳۲۵)؛ نو د ولاتکتبوا حکم په اول کې ؤ او (اکتبو لابی شاه) حکم د ژوند په اواخرو کې ؤ او هم د عبدالله بن عمرو بن عاص ليکل د ابوهريره د اسلام وروسته و. ځينې علماء وايي منع هلته وه، چې قران او حديث په يوه صحيفه کې ونه ليکل شي، ځکه صحابه کرامو به قران کې ليکل، نو د اشتباه د وېرې د ليکلو نه منع شوې وه.

۴- د ليکلو منع د هغه چا لپاره وه، چې په خپل حفظ باندې باوري وو، او په ليکلو سره يې يوازې اعتماد په ليکلو و؛ او د ليکلو جواز د هغه چا لپاره ؤ، چې حفظ يې کمزوری ؤ او په خپل حفظ يې باور نه ؤ، لکه ابوشاه.

۵- منعه عامه وه، خو د ليکلو اجازه د ليکونکي، لوستونکي او کره خلکو لپاره وه، چې په ليکلو کې د غلطۍ وېره ترې نه کېده، لکه عبدالله بن عمرو ته چې اجازه ورکړل شوه.

۶- د احاديثو د ليکلو منع د اسلام په اوايلو کې په دې خاطر وه، چې د خلکو پاملرنه د قران ليکلو او يادولو ته شي او حديث يادېدل آسان و، ځکه پيغمبر عليه السلام سره د خلکو ممارست و او هر وخت يې حديث يادولی شول.

۷- هغه چا لپاره د حديثو د ليکلو اجازه شوې وه، چې په چا باندې د قران او حديث تر منځ خلط او ګډوډي نه راتله، لکه ابن عمر ته.

۸- هغه چاته د ليکلو اجازه ورکړل شوې وه، چې هغوی ته د حديثو يادول ګران او مشکل و، چې له خپلو ليکلو نه ګټه واخلي؛ کله چې مسلمانانو قران ياد کړ او د قران او حديث ترمنځ تميز باندې پوه شول، نو عامه اجازه ورکړل شوه، نو د خلاصې په توګه ويلی شو، چې د اسلام په اوايلو کې نهې عامه نه وه او اجازه هم عامه نه وه، چې کله د نهې علت موجود و، نو د ليکلو ممانعت وشو، چې کله موانع پورته شول، نو د ليکلو اجازه ورکړل شوه. (۵م۳۰۹)

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو، چې د اسلام په اوايلو کې د ليک او لوست توکي د نشت برابر وو، او له بل پلوه ددې وېره هم وه چې د قران او حديثو تر منځ اختلاط رانشي؛ نو په کومو خلکو چې اعتماد او باور و، هغوی ته د ليکلو اجازه وه، او په کومو کسانو چې اعتماد نه و، هغوی منع شوي وو. کله چې د اختلاط وېره ختمه شوه، نو خلکو ته د ليکلو اجازه ورکړل شوه.

خلاصة البحث:

و اذا کانت الاخبار الدالة علی اباحة الکتابة منها خاص کخبر ابی شاه فإن منها ايضا ماهو عام لاسبيل إلی تخصيصه کسماحه لعبدالله بن عمرو بالکتابة و للرجل الانصاری الذی شکا سوء حفظه. فقد حاول العلماء ان يوافقوا بين ماورد من نهی عن الکتابة و ماورد من اباحة لها کما ان النهی عن الکتابة انما کان فی اول الاسلام مخافة اختلاط الحديث بالقران

فلما كثر عدد المسلمين و عرفها القران معرفة رافعة للجهالة و ميزوه من الحديث زال هذا الخوف عنهم نسخ الحكم الذى كان مترتبا عليه و صار الامر الى الجواز.

اخځليکونه:

1. ابن حنبل، ابوعبدالله احمد بن محمد بن حنبل. (۲۰۰۱م). مسند الإمام احمد بن حنبل. المحقق: شعيب الأرنووط عادل. مؤسسة الرسالة.
2. بخاری، محمد بن اسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاری.(۱۴۰۷هـ ق). الجامع الصحيح- حسب ترقيم فتح الباری. القاهره: دار الشعب.
3. ترمذی، ابوعيسی محمد بن عيسی. (۱۴۱۰هـ ق). سنن الترمذی. بيروت: دار الفكر.
4. خطيب بغدادی، احمد بن علی بن ثابت. (۱۹۴۹م). تقييد العلم. طبع دمشق.
5. خطيب بغدادی، احمد بن علی. ( ). الجامع الاخلاق الراوی و اداب السامع. دار الكتب العربيه.
6. خطيب محمد بن عجاج. (۱۴۰۰هـ ق). السنة قبل التدوين. بيروت: دار الفكر.
7. دارمی، ابو محمد عبدالله بن عبدالرحمن. (۱۴۱۲هـ ق). سنن الدارمی- تحقيق: حسين سليم اسد الدارانی. مملكة العربية السعودية: دار المغنی للنشر و التوزيع.
8. رامهرمزی، حسن بن عبدالرحمن بن خلاد. ( ). المحدث الفاضل بين الراوی و الواعی. دار الكتب المصريه.
9. دارمی، ابومحمد عبدالله بن عبدالرحمن. (۱۳۴۹). سنن الدارمی. دمشق: مطبعه الاعتدال.
10. سجستانی، سليمان بن اشعث، ابوداود. (۱۴۱۲هـ ق). سنن ابی داود. بيروت: دار الكتاب العربی.
11. سيوطی، جلال الدين. (۱۳۷۹). تدريب الراوی. مصر: مكتبه القاهره.
12. نيشاپوری، مسلم بن حجاج. ( ). صحيح مسلم. قاهره: مطبعه مصريه.

پوهنوال فرمان الله (هيله من)
ښوونې او روزنې پوهنځی- کېميا څانګه

په صنعت کې د اوسپنې د کاربني الياژونو لاسته راوړل او کارول

لنډيز:

هغه فلز او يا عنصر چې ډېر لرغونتوب لري، اوسپنه ده. اوسپنه چې سمبول يې Fe دی، د دوره يي جدول د B بلاک د عناصرو او يا د انتقالي ګروپ د عناصرو له ډلې څخه دی. اوسپنه څلور ايزوتوپونه لري، راډيو اکتيوي هسته يې فعاله نده. اوسپنه چې د اوسني تخنيک د ملا تېر جوړوي، له دوو لارو په لاس راځي:

- لومړی يې د اسماني تيګو د راغورځېدو څخه چې خالصه اوسپنه ده، په لاس راوړي.
- دويمه لاره يې په ځمکه کې د اوسپنې د تيګو څخه چې د اوسپنې د سلفايدونو، اوکسايدونو او سليکاتونو څخه عبارت دي، په لاس راوړي.

د اوسپنې تيګې په بټيو کې اچوي، د ډېرو سکرو په وسيله تودوخه ورکوي، هغه ويلي کوي او خالصه اوسپنه ورڅخه په لاس راوړي. په پخوا وختونو کې د اوسپنې اړتيا ډېره نه وه، د لومړنۍ لارې په لاس راغلې اوسپنه د اړتياوو د ليرې کېدو لپاره بس کېده، خو دا چې اوس د اوسپنې اړتيا ډېره شوې ده، نو د دويمې لارې په وسيله اوسپنه په لاس راوړل کېږي. اوسپنه د اوسني تخنيک د ملا تير دی، په اوسني وخت کې درانه ماشينونه د اوسپنې څخه جوړ شوي دي، چې د يوې شمېرنې له مخې ۹۵٪ درانه ماشينونه د اوسپنې څخه جوړ شوي دي. اوس اوسپنه د موټرو، الوتکو، بېړيو او نورو ډول ډول ماشينونو په مهمو برخو کې کارول کېږي، همدارنګه اوسپنه په طبابت کې هم په ډېره پيمانه کارول کېږي.

سريزه:

اوسپنه د نن څخه (۷۰۰۰) کاله دمخه کشف شوې ده؛ سومريانو او مصريانو د اسماني تيګو څخه د لاسته راغلې اوسپنې څخه واړه واړه سامانونه لکه نېزې او توري جوړولې. د ميلاد څخه د ۲۰۰۰ او ۳۰۰۰ کاله دمخه به يې ځينې فلزات لکه نيکل د اوسپنې سره ويلي کول او بيا به يې ورڅخه شيان جوړول، چې دا ډول شيان په بين النهرين او مصر کې ليدل شوي دي. په ښکاره توګه د دا ډول اوسپنې څخه د تشريفاتي شيانو په جوړولو کې ګټه اخيستل کېده او په هغه وخت کې فلزي اوسپنه د سرو زرو څخه قيمته وه[۵]. اوسپنه په لومړنيو کلونو کې په ډېر ستونزمن شکل په لاس راتلله، له همدې امله يې په هغې وختونو کې د سرو زرو په څېر ارزښت درلود. د ځينو سرچينو څخه په اخيستنې اوسپنه په پخوانيو وختونو کې د مسو د پاکولو څخه د يوې اړخيزې مادې په توګه لاسته راتلله. د ۱۲۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ ميلاد څخه دمخه زمانه کې اوسپنه په منځني ختيځ کې د يوې ورځې څخه تر بلې پورې ډېره کارېدله او د هغه وخت د تمدن دوره د اوسپنې د زمانې په نوم ياده شوېده.[۲]

موخې:

- د اوسپنې توليد ته د پانګوالو، صنعتکارو او دولتي چارواکو پام را اړول.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

تاریخي لرلید:

د کاني تیگو څخه د اوسپنې راایستلو د تاریخ په اوږدو کې ډول ډول پړاوونه وهلي دي، چې د موضوع د روښانه کېدو لپاره یو څه د اوسپنې تاریخي لرلید ته کتنه کوو. کله چې د کاربونیزلیشن Carbonlization صنعت کشف شو، په اوسپنې باندې به یې کاربن ډېروو او اوسپنه به ددې کاربن د تودوخې د ډېرېدلو له امله لکه د اسفنج په شان کېده، بیا یې هغه په څټک وهله او د کاربن محتویات به یې اکسیدي کول او په دې توگه به یې نرمه اوسپنه جوړوله. [۹]

د منځني ختیځ خلکو وموندله، چې د ډېرې تودوخې له امله په سکرو او اوبو او یا غوړو کې ډېر ټینگ محصولات لاسته راځي. په چین کې هم د اسماني تیگو د اوسپنې څخه داسې شیان جوړ شوي دي، چې د میلاد دمخه د ۸ مې پېړۍ سره تړاو لري، چې د چین په شمال ختیځه برخه یعنې د زینجیانگ Xinjiang په سیمه کې د اوسپنې څخه جوړ شوي موندل شوي شیان دي. ددې سیمې جوړ شوي شیان هم د نرمې اوسپنې څخه وو، چې د منځني ختیځ او د اروپا په څېر جوړ شوي وو، او داسې گومان هم کېږي، چې په چین کې د ژو د لړۍ د پاچاهۍ په وخت یا د میلاد څخه ۵۵۰ کاله دمخه د تخنیک او پرمختگ له امله د اوسپنې د تولید نوې بټۍ جوړې شوې. په دې بټیو کې د ؛۱۳۰۰C څخه اوچته تودوخه وه. د اومې اوسپنې یا د چدن جوړول چینایانو کړي دي. که د اوسپنې د کان تیگه د کاربن سره د ۱۴۲۰–۱۴۷۰؛C پورې تودوخه ورکړو، ویلې مایع په لاس راځي او د هغې الیاژ به ۹۲،۵ % اوسپنه او ۳،۵ % کاربن به ولري، چې ددې ټینگو محصولاتو څخه ښه ډولي او نازکه شیان جوړېږي. [۱۱]

د ژو Ju د لړۍ څخه وروسته د چین ډېری اوسپنیز تولیدات د چدن په څېر وو او ډېرو بزگرانو اوسپنیز سامان الات کارول. [۱۰]

په اروپا کې د چدنو پرمختگ د چین په شان نه و، ځکه چې د هغې په پیل کې د اوسپنې د ویلې کېدو لپاره د لرگو څخه کار اخیستل کېده. په ۱۸ مه پېړۍ کې په انگلستان کې د لرگو برابرول لږ شول، نو بیا به یې د ډېرو سکرو څخه کار اخیسته، چې دا کار د ابراهیم دربس Abrahim darbs په وسیله ترسره شوی، چې د صنعتي انقلاب لپاره یې انرژي برابروله. [۷]

پیدایښت: د ځمکې د ډېرو رواجي عناصرو د ډلې څخه اوسپنه ده، چې د ځمکې د پوړ ۵ ٪ یې جوړه کړې ده. اوسپنه د اوسپنې د کان څخه چې Fe_2O_3 فارمول لري، په لاس راځي. دا فلز د کاربن د ارجاع کېدو په وسیله بېلوي او د کان په لوړو بټیو کې چې د تودوخې درجه یې تر ۲۰۰۰ سانتي گرید وي، ترسره کېږي. په ۲۰۰۰م کال کې ۱۱۰۰ ملیونه ټنه خالصه اوسپنه د اوسپنې د کان څخه چې سوداگریز ارزښت یې ۲۵ ملیارده و، د امریکا په وسیله لاسته راغلې ده؛ په داسې حال کې چې د اوسپنې د کانونو څخه د اوسپنې لاسته راوړل د نړۍ په ۴۸ هېوادونو کې ترسره کېږي. چین، برازیل، استرالیا، روسیه او هند پنځه هېوادونه د ټولې نړۍ ۷۰٪ اوسپنه جوړوي. د ۵۷۲ ټنه اوسپنې د تولید لپاره نږدې ۱۱۰۰ ټنه د اوسپنې تیگې په کار دي. اوسپنه د انتقالي عناصرو د ډلې څخه ده؛ دا هغه ډول عناصر دي، چې په الکتروني جوړښت کې یې نیمگړي اوربیټالونه شته او یا په بله بڼه لږ نیمگړي وي. [۲]

انتقالي عناصر دي، چې په وروستي مدار کې سره یوشان، خو د وروستي مدار ور څېرمه مدار کې یې الکترونونه سره توپیر کېږي. دا چې کېمیاوي خواص د یو عنصر د وروستي عدد څخه ټاکل کېږي، د انتقالي عناصرو وروستي مدارونه سره یوشان دي، نو د عناصرو کېمیاوي خواص سره هم یوشان دي او دا چې د وروستي مدار څخه په ورڅېرمه مدار کې لږ توپیرونه دي، نو په کېمیاوي خواصو کې یې هم لږ توپیر لیدل کېږي؛ لکه د څلورم پیریوډ ټول عناصر د SC څخه وروسته دوه ولانسه مرکبات جوړوي او ټول یې دوه ویلانسه وي، لکه:

$$SC^{+2}\ ,\ Ti^{+2}\ ,\ V^{+2}\ ,\ Cr^{+2}\ ,\ Mn^{+2}\ ,\ Fe^{+2}\ ,\ Co^{+2}\ ,\ Ni^{+2}\ ,\ Cu^{+2}\ ,\ Zn^{+2}$$

ددې سره سره هم په انتقالي عناصرو کې یو تناوب کتل کېږي، داسې چې د سکاندیم SC ډېری مرکبات په اعظمي توگه د تیتانیم Ti عنصر دوه ویلانسه، د وناديم V عنصر پنځه ویلانسه او منگانیز اووه ویلانسه وي، د بېلگې په توگه د انتقالي عناصرو د لومړي پریوډ وروستی الکتروني اوربیټال په لاندې توگه دی:

Sc	Ti	V	Cr	Mn	Fe	Co	Ni	Cu
$3d^1\ {}_4s^2$	$3d^2{}_4s^2$	3d34s2	$3d^4s^2$	$3d^5s^2$	$3d^6s^2$	$3d^7s^2$	$3d^8s^2$	$3d^9s^2$
+3	+2	+2	+2	+2	+2	+2	+2	+1

+3	+3	+3	+3	+3	+3	+3	+2
+4	+4	+4	+4	+4	+4	+4	
	+5	+5	+5	+5			
		+6	+6	+6			
			+7				

انتقالي عناصر په ثابتو ويلانسونو سربېره د اکسيديشن څو شمېرې لرلی شي، ځکه د d الکترونونه د ويلانسي الکترونونو په توګه کارېدلی شي.[۲،۱]

لکه څرنګه چې د منګانيز عنصر دوه، درې، څلور، پنځه، شپږ او اووه مرکبات جوړولی شي؛ انتقالي عناصر له خپل ځان څخه يو لړ ګډ خصوصيات ښيي، د هغې ډلې څخه د مرکباتو د جوړېدو خاصيت، د مقناطيسي کېدو خاصيت او د ډول، ډول اکسيديشن شمېرو سره دي. انتقالي عناصر د جست د ګروپ د عناصرو پرته د ځمکني القلي ګروپ د عناصرو په نسبت ډېر سخت دي، د ويلې کېدو لوړ ټکي لري، چې د انتقالي عناصرو دا خصوصيت زياتره يې د اتومي شعاع په وړوکوالي پورې اړه لري.

ايزوتويونه: اوسپنه په طبيعي توګه څلور پايښتناکه ايزوتويونه Fe^{58} ، Fe^{57} ، Fe^{56} ، Fe^{54} لري. په طبيعت کې اوسپنه تقريباً Fe^{56} 7 % , Fe^{57} 2..2 % , Fe^{58} 3.0%، Fe^{54} 8.50% وي، راډيو اکتيو هسته يې غير فعاله وي. د عنصري اوسپنې د لاسته راوړلو لپاره بايد له هغې څخه يې ناخالصوالی د کېمياوي ارجاع د لارو چارو په وسيله لرې شي. اوسپنه د پولادو د جوړولو لپاره کاروي، پولاد يو مخلوط الياژ دی، چې د ډول ډول فلزاتو، لکه کاربن او اوسپنې څخه يې جوړوي. د اوسپنې سمبول Fe دی، اتومي شمېره يې 26 او اتومي وزن يې 55.84 دی او الکتروني جوړښت يې Fe = 1S2 2S2P6 3S2 3P6 4S23d6 دی. د Ni ، CO ، Fe عناصر په خپل وروستي مدار کې د S دوه الکترونونه لري او نور ويلانسي الکترونونه يې د d په اوربيټال کې د وروستي مدار څخه په ورڅېرمه اوربيټال کې وي، چې په هغې کې د نوموړو عناصرو ويلانسونه 3+ , 4+ , 6+ هم کېدی شي. ددې مرکباتو ثبات په اعظمي ويلانس سره د Fe تر Ni پورې کمېږي، لکه د اوسپنې 3+ ويلانس ثابت دی؛ ددې درېو فلزاتو څخه اوسپنه ډېره کارول کېږي، چې په طبيعت کې د ځمکې په قشر کې د وزن له مخې ۴۲% جوړوي. اوسپنه د ډول ډول مرکباتو لکه د سلفورس اوکسايدونه او د سليکاتونو په څېر موندل کېږي. اوسپنه په خالص او ازاد شکل يوازې هغه اسماني تيګې دي، چې له اسمانه راغورځېږي، موندل کېږي چې د سپنخړي په نوم هم يادېږي. ددې فلزونو مهمې تيګې عبارت دي، له: مقناطيسي اوسپنې Fe_2O_3 يا FeO يا Fe_3O_4 يا Magnatte يا فيريک اوکسايد Fe_2O_3 (Hematite FeO_3 $2H_2O$ ،فيريک کاربونيت $FeCO_3$ او Pyrite FeS_2 ده. [۲،۱]

د اوسپنې د ډول ډول منرالونو بېلګې چې د تيګو په بڼه دي، په اول انځور کې ليدل کېږي.



اول انځور.[۱۲]

د FeS_2 تیګې: هغه کاني تیګې چې د هغو څخه اوسپنه لاسته راځي، د اوسپنې د اوکسایدونو لکه مګنیتیت یا هماتیت دي، چې د ۲-۲۰٪ د سلیکاتونو او الومیناتونو ناخالص ورسره دي. دا ناخالص په بټۍ کې د هغه څخه بېلېږي او د خاورې په څېر بهر ته اچول کېږي او یا د دانو په څېر بټۍ ته راوړل کېږي. ددې کار لپاره ښې مناسبې ذرې باید د ۲ څخه تر ۲۵ ملي مترو پنډوالي پورې وي.

د اوسپنې د لاسته راوړلو لومړني پړاوونه:

اوسپنه د میخانیکي، فزیکي او کېمیاوي ځانګړو اصولو او لارو چارو په وسیله په لاس راوړل کېږي، په لومړي پړاو کې د اوسپنې تیګې وړې وړې میده کوي؛ اوسپنه د هغو تیګو څخه په لاس راوړي چې د ۲۰ څخه تر ۲۵٪ اوسپنه ولري. اوسپنه په معمولي لارو چارو په سترو بټیو کې په لاس راوړي.

عملي چارې: د اوسپنې د لاسته راوړو لپاره یوه ستره بټۍ چې د ۲۰ او ۳۰ مترو په لوړوالي د ۲۰ مترو په سور وي، جوړوي. د اوسپنې بټۍ د داسې خښتو جوړوي، چې د اور ضد وي او اور وربانديې هیڅ اغېزه ونکړي. کله چې د اوسپنې بټۍ جوړه شي او په هغې کې اور بل شي، نو بیا دا اور نه مړ کېږي او په پرله پسې توګه څو کاله دا اور بل وي او په یو شوا روز کې ددې بټۍ څخه تر ۲۰۰ ټنو اوسپنه په لاس راځي. د اوسپنې په بټۍ کې د ډبرو سکرو د ځانګړو ډولونو لکه کوکس څخه د اور بلېدو لپاره کار اخیستل کېږي.

۲ انځور: د اوسپنې د تولید زوړ موډل بټۍ.[۱۲]

۳ انځور: د اوسپنې د تولید نوې موډل بټۍ. [۱۲]

۴ انځور: د اوسپنې د تولید بله نوې موډل بټۍ. [۱۲]

اهاکي تیګې او ځینې ناپاکۍ لکه خاورې او شګې چې د اوسپنې د ویلې کېدو لپاره خنډ کېږي، کارول کېږي. د بټۍ په لاندېنۍ برخه کې د ځانګړو سوریو له لارې هوا د 800–600؛ **C** په تودوخې ورننباسي او په بله برخه کې کوک یا سکاره سوځي.

$$C+O_2 \rightarrow CO$$

د بټۍ په پاسنۍ برخه کې د تودوخې 4500- 500؛ **C** کې د Fe_3O_4 ارجاع کېدل ترسره کېږي، داسې:

$$3Fe_2O_3 + CO \rightarrow 2Fe_3O_4 + CO_2$$

په؛ **C** 600 کې FeO_4 په FeO داسې ارجاع کېږي:

$$Fe_3O_4 + 3FeO + CO_2$$

د؛ **C** 700 په شاوخوا کې د FeO څخه خالصه اوسپنه داسې ازادېږي:

$$FeO+Co \rightarrow Fe + CO3$$

د اوسپنې د اوکسایډ ارجاع کول تر خالصې اوسپنې پورې په لاندېنیو پړاوونو کې ترسره کېږي:

Fe2O3 Fe3O4 FeO Fe

هغه کاربن دای اوکسایډ چې دا فلز د اوکسایدونو د ارجاع کېدو په وخت کې په لاس راځي، بیا هم ډېر لږ یې د سکرو سره تعامل کوي او په کاربن مونو اوکسا ید بدلېږي. هغه غازونه چې د فلز د ویلې کېدو په وخت کې د بټۍ څخه ووځي، ۳۰% یې د ځانګړو سامانونو د تودولو لپاره کارول کېږي. هغه خالصه اوسپنه چې د تیګو څخه بېلېږي، د بټۍ لاندېنۍ برخې ته غورځېږي او د۱۲۰۰سانتي درجو په شاوخوا تودوخه کې ویلې کېږي، سکاره حلوي او په پایله کې د اوسپنې کاربیټ Fe_3c Cementite جوړېږي.(۴)

$$3Fe + 2CO \rightarrow Fe_3 + CO_2$$
$$3Fe + C \rightarrow Fe_3C$$

Fe_3 بیا هم په فلز کې ویلې او حلېږي، په دې توګه د اوسپنې مشبوع کېدل د کاربن په وسیله ترسره کېږي او چدن جوړېږي. منګنیز، سلیکان او فاسفورس چې د اوسپنې په تیګو کې وي، د سکروټو په وسیله ارجاع کېږي چې په لاندې توګه ښودل کېږي(۱):

$$MnO+C \rightarrow Mn+CO$$
$$SiO_2+2C \rightarrow Si+2CO$$
$$P2O_5+5C \rightarrow 2p+5CO$$

د منګنيز، سليکان او فاسفورس يوه برخه چې د زياتګي موادو په څېر د اوسپنې څخه بېلېږي، ددې عناصرو بله برخه يې په چدن کې ويلې او حلېږي. د Al_2O_3 , SiO_2 او نور په اړوندو اوکسايدونو او کاربن داى اوکسايد داسې تجزيه کېږي [۲]:

$$CaCO_3 \rightarrow CaO+CO_2$$

کلسيم اوکسايد د نورو موادو سره تعامل کوي، د اوسپنې زياتګي مواد جوړوي، چې دا مواد د کلسيم، سليکاتونو او الومينا تونو څخه دي. چدن او د اوسپنې ويلې زياتګي مواد د بټۍ لاندې کېني او مواد چې سپک وي، د چدن د پاسه ټولېږي.

د اوسپنې کارول:

د اوسپنې کارول د نورو فلزاتو څخه ډېر دي او په نړۍ کې د ټولو توليد شويو فلزاتو **۹۵**% جوړوي، د هغې ټيټه بيه او ښه مقاومت په موټرو او لويو بېړيو کې د هغې اهميت ډېر کړی دی، پولاد د اوسپنې ډېر نامتو الياژ دی.

۵انځور: د اوسپنې څخه د جوړو شويو ماشين الاتو يوه بېلګه.[۱۲]

چدن د اوسپنې يو بل ډول دی؛ نن د ودانيو په پوښلو او ټولو کانکرېټونو کې د اوسپنې کارول حتمي دي. د اوسپنې کارول د ايون په څېر د انسان په وينه کې، د زړه د اکسيجن وړل حجرو ته او هلته د اوکسيديشن د عمليې سرته رسول او د انرژۍ ازادول د اوسپنې په غاړه دي. ډېر جنګي وسايل له اوسپنې څخه جوړ شوي دي؛ توپونه، ټانکونه او زغره وال جنګي وسايل ټول د اوسپنې د ډولونو څخه دي.

پايله:

اوسپنه چې د اوسني تخنيک د ملا تير جوړوي، اوسمهال يې اړتيا تر بل هر وخت زياته ده. په اوسني وخت کې درانه ماشينونه د اوسپنې څخه جوړ شوي، چې د يوې شمېرنې له مخې د نړۍ **۹۵**٪ درانه ماشينونه له اوسپنې څخه جوړ شوي دي. دمګړۍ اوسپنه د موټرو، الوتکو، بېړيو او نورو ډول ډول ماشينونو په مهمو برخو کې کارول کېږي، همدارنګه اوسپنه په طبابت کې هم په ډېره پيمانه کارول کېږي؛ نو د پورتنيو اړتياوو د پوره کولو او د هېواد د اقتصاد د پياوړتيا او پرمختګ لپاره اړينه ده چې د اوسپنې استخراج صورت ونيسي. داچې زمونږ هېواد د سيمې په کچه د اوسپنې ذخاير لري، دولت او پانګوال يې بايد په راويستلو کې اړين ګامونه پورته کړي.

وړانديزونه:

1. د دولتي چارواکو څخه هيله کوو چې د حاجي ګک د اوسپنې کان، چې په سيمه کې د اوسپنې ستر کان دی، د هغې څخه د اوسپنې د راويستلو لپاره عملي ګامونه پورته کړي.
2. د ټولو پانګوالو څخه زموږ هيله داده چې خپله پانګه د کانونو د راايستلو لپاره په کار واچوي او په دې توګه د هېواد په پرمختګ کې کارنده برخه واخلي.
3. د خپلې وطني اوسپنې په توليد بدو سره په هېواد کې د سپک او درانه تخنيک او صنعت بنسټ کېږدئ.

Abstract:

Iron is probably the most precious of all metals, since man would certainly miss thiszron. The name “iron” comes from the Scandinavian “iarn”. Many fantastic stories have been told about the origin of iron. Iron has been known and used since prehistoric times .The by-products of the bloomer Epire , ironprouduction suffered a considerable development in particular in Spaine. Iron ores are rocks and minerals fromwhich metallic iron can be economically extracted.The ores are usually rich in ironoxides and very in color from dark grey ,bright yellow ,deep purple ,to rusty red .The iron itself is usually found in the form of magnetite (Fe_3O_4),hematite(Fe_2O_3),geotite (FeO(oH),Limonite (FeO(OH).n(H2O))or siderite ($FeCO_3$).Ores carring very high quantities of hematite or magnetite (greater than ~60% iron) are known as “natural ore “ or “direct shipping ore “ meaning they can be fed directly into iron –making blast furnaces.

اخځليکونه:

1. تېيوال، محمد عارف. (۱۳۸۲ل). غير عضوي کېميا.کابل پوهنتون.
2. عزيزي، عزيزالله (۱۳۹۰ل). عضوي او غير عضوي عمومي کېميا. پېښور: عنايت خپرندويه ټولنه.
3. Donald C .Gregg, principles of Chemistry 2nd, Boston, U.S.A 2007, pp: 430,481,493,581.
4. Dietary Intakes for Vitamin A, VitaminK, Arsenic, Boron, Chromium, Copper, Iodine, Iron, Manganese, ckel, Silicon, Vanadium and…
5. G.Brooks King ,college Chemistry , New York ,1998, pp:572-581.
6. J.M,Brown, H.Korsgen,and K.M.Evenson, Astrophys. pp: 509,927.
7. N.L.Glinka,obshaya 5.khimia, Moskva, 1978,p:662,681-690.
8. Oct 4, 2012, The amount of circulating iron bound totransferrin is reflected by the serum iron level pp: 55-60.
9. Raymond Chang, Williams, Colleg Chemistry 7th ed, Bosten, U.S.A, 2002, p: 881.
10. Steven, S Zumdahi,Chemistry , New York,1997,pp975-985.
11. Wood .RJ R ONNENBERG AG .Iron.in.shils ME ,Shike M.Ross AC ,Caballero, B Cousins RJ,eds, Modern Nutrition in Health and Disease
12. www.nap.edu/openbookn.php”?Isbn =0309072794

پوهنوال محمد اسحق (رازقي)
انجـــنيري پوهنځی- د عمومي
تخـنيکي مضمـونونو څـــانګه

په کېبلي جوړښتونو کې د کېبل رول او د هغې د محاسبې څېړنه

لنډيز:

کېبلونه د انجينرۍ په بېلابېلو ساحو کې ځانګړې ارزښت لري او ددې څخه جوړ شوي جوړښتونه د نورو جوړښتونو څخه توپير لري؛ نور جوړښتونه ستر ابعاد لري او ډيزاين يې د هغوی سره ورته نه دی. کېبلونه د لفت کابين يا غرفې د پورته کولو او ښکته کولو په خاطر، د پورته کوونکو ماشين الاتو لکه کرين، اسکواتور، لوډر او نور، د برېښنا د لېږدولو او د کېبلي پلونو او نورو ساحو کې کارول کېږي. ددې کېبلونو د انجينرۍ شمېرنې د نورو انجينري جوړښتونو په پرتله څرګند توپير لري، يعنې د نورو جوړښتونو دننه قوې د پرې کونې د طريقې په مرسته ټاکل کېږي او بيا ددې قوو له مخې په محکميت او د مقاومت کولو په نورو برخو کې شمېرنې ترسره کېږي. مګر د کېبل دننه قوې په يو ډول نه ترلاسه کېږي، لکه د لفټ کېبل چې په کشش کې فعاليت کوي، د پرې کونې د طريقې له مخې تر لاسه کېږي؛ په داسې حال کې چې د کېبلي پلونو او د برېښنا د کېبلونو دننه قوې په بله طريقه ترلاسه کېږي، نو ځکه د دننه قوو د ټاکنې ميتودونه پرتله کېږي او بيا د ډيزاين لپاره کارول کېږي. په دې علمي مقاله کې د کېبل څخه د ګټې اخيستنې د ساحې، د کېبلونو د محاسبې د طرز او د کېبل د ډيزاين لپاره د هغو دننه قوو د ټاکنې د طريقو په اړه څېړنه شوې ده.

سريزه:

زمونږ ګران هېواد يو غرنی هېواد دی، چې سيندونه يې د غرونو په منځ کې ډېر ژور تيرېږي. ددې سيندونو له پاسه د کانکرېټي پلونو په جوړولو کې انجنيران له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، نو ځکه د سيمې د کتنې له مخې انجنيران دې ته اړ کېږي، چې کېبلي پلونه ډيزاين کړي. همدارنګه د ځينو ځانګړو شرايطو په پام کې نيولو سره د برېښنا د لېږد په برخه کې هم هغه کېبلونه بايد انتخاب شي، چې د لوړ او ټيټ حرارت په وړاندې ميخانيکي مقاومت وکړي. دا ځکه چې زمونږ هېواد يو ډول اقليم نه لري، يعنې د اوړي او ژمي د حرارت درجو ترمنځ روښانه بدلون شته دی. لکه چې دمخه ورته کتنه شوه، چې کېبلونه د ژوندانه په مختلفو ساحو کې د ګټې اخيستنې لپاره کارول کېږي، نو ددغه رنګه کېبلونو انتخاب د تخنيکي اړخ له مخې بايد ترسره شي.

موخې:

- په کېبلي جوړښتونو او ساختمانونو کې د کېبل د رول څېړل او محاسبه کول
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د کېبل څخه د ګټې اخيستنې ساحې:

د کېبلي پلونو په جوړولو کې: د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د سيندونو له پاسه که د کېبلي پلونو تصويرونه وګورو، نو ليدل کېږي چې ددغه هېوادونو خلکو د سيندونو له پاسه د تګ او راتګ په موخه بېلابېل پلونه ډيزاين او جوړ کړي دي. ددې پلونو څخه ځينې يې يوازې د انسانانو او حيواناتو د تګ او راتګ په موخه او ځينې نور يې د ترانسپورتي وسايلو د تګ او راتګ لپاره جوړ شوي دي.



۱- تصوير: د انفرادي انسانانو د تګ او راتګ کېبلي پل. [5]



۲- تصوير: ترانسپورتي کېبلي پل. [5]

په ځينو هېوادونو کې دغه رنګه پلونه همهاله د درېو موخو لپاره جوړوي:

1. د انسانانو د تګ او راتګ لپاره.
2. د موټرو د تګ او راتګ لپاره.
3. د ريل ګاډو د تګ او راتګ لپاره.

په هغو ساحو کې، چې د سيندونو سور ډېروي، د سيندونو په منځ کې وايه ډوله پلونه جوړوي؛ يعنې د سيندونو په منځ کې څو پايې ډيزاينوي (۳- تصوير).

۳- تصوير: څو وايه ډوله کېبلي پل. [5]

دغه ډول کېبلي پلونه کله کله قيچي ډوله هم ډيزاين کوي.

۳- تصوير: قيچي ډوله کېبلي پل. [5]

لکه چې د مخه تري يادونه وشوه، زمونږ هېواد يو غرنی هېواد دی او ډېر داسې سيندونه لري، چې د هغوی له پاسه د کانکرېټي پلونو جوړول ډېر مشکل دي، دا ځکه د پل د جوړولو لپاره يوه ټاکلې وايه بايد انتخاب شي او په ډېرو سيندونو کې دغه ډول وايې ډېرې لويې دي او د سيند په منځ کې د پايې جوړول هم اسان نه دي. دا چې په ډېرو ځايونو کې د سيند په منځ کې ستري ډېرې رغړي او که پايه جوړه هم شي، ژر تخريبېږي؛ نو د ولسونو د سملاسي ستونزو د حل په موخه د نورو هېوادونو د کېبلي پلونو د تجربو پر بنسټ داسې کېبلي پلونه ډيزاين کېږي چې يوازې د انسانانو او حيواناتو تګ او راتګ پرې وشي. په ځينو سيمو کې د سپکو موټرونو د تګ او راتګ په موخه داسې پلونه ډيزاين کوي چې سور يې نسبي لوی وي، چې ددې ډول پلونو ثابت وزن ډېر دی او ددې لپاره د کېبل قطر لوی انتخابېږي.

۲- د لېږدېدونکو وسايلو او د لفټ د ساختمان په جوړولو کې د کېبل نوعيت او د ټاکلي بار لپاره د کېبل د قطر ټاکل ډېر ضروري دي. دا ځکه چې لفت نه يوازې د انسانانو د پورته کولو په موخه کارول کېږي، بلکې د ضروري اجناسو او سامانونو د پورته کولو لپاره هم کارول کېږي. په ځينو پرمختللو هېوادونو کې د لوړپوړيزو ودانيو په هر يو پوړ کې د موټرو ګراجونه جوړوي او د موټرو د لېږد په موخه ځانګړي لفتونه ډيزاين کوي.

۳- د کور جوړولو په فابريکو او نورو کارخانو کې د تعميراتي موادو د لېږد په موخه، چې د يوځای نه بل ځای ته يې لېږدول ضروري دي، د کېبلي وسايلو څخه کار اخيستل کېږي.

۴- د برېښنا د لېږد په موخه د کېبلونو کارول ډېر تر سترګو کېږي.



۴- تصوير: د برېښنا د کېبلونو ښودنه. [5]

۵- د مواصلاتي او مخابراتي خدمتونو د ترسره کولو په موخه.

۲- د ترافيکي مقرراتو د تنظيمولو په موخه د اشارو په نصبولو کې کارول کېږي او داسې نور.

د کېبلونو د محاسبه کولو طرز:

د کېبلونو محاسبه د بېلابېلو بارونو له مخې کېدای شي، لکه د موقتي بارونو او ثابتو بارونو له مخې. ژوندی يا موقتي بار هغه بار دی، چې عملاً د ساختمان له پاسه واقع کېږي، لکه د انسانانو، حيواناتو، موټرو او نور عوامل لکه د باد او زلزلې افقي موجونه او نور وزنونه دي. لکه د بېلګې په توګه د پل له پاسه د تېرېدونکو انسانانو، موټرو او حيواناتو وزنونه ثابت بار هغه بار دی، چې پخپله د عنصر وزن يې جوړوي، لکه د کېبلونو خپل وزن او نور. برېښنا هم د يو هېواد په اقتصادي

پرمختګ کې رغنده رول لري او د يوې ټولنې پرمختګ د برېښنا پورې اړه لري. برېښنا د ژوند رڼا ده چې نن د ژوند ټولې چارې د برېښنا په مرسته تر سره کېږي، يعنې د انټرنيټ نړۍ د برېښنا له برکته را منځته شوې ده، نو ځکه د برېښنا لېږدول د کېبل نه پرته ناشونې ده، چې د برېښنا د لېږدولو کېبل بيا د نورو کېبلونو سره چې د تخنيک په ساحه کې کارول کېږي، له تکنالوژيکي اړخه توپير لري، ځکه چې د برېښنا لېږدول اسان کار نه دی، باید د کېبل ټول اړخونه په پام کې ونيول شي.

د کېبل د ډيزاين لپاره د هغه دننه قوو د ټاکنې طريقې:

د کېبلونو د ډيزاين کولو لپاره د هغوی څخه د ګټې اخيستنې ساحې پېژندنه ضروري ده، ځکه چې د لفت کېبل د څو مزو څخه جوړېږي، د کرين کېبل بيا د څو محدودو مزو څخه جوړېږي؛ مګر د برېښنا د لېږدولو کېبل يو هوايي کېبل او بل ځمکنی کېبل دی، چې ځمکنی کېبل باید پوښ ولري، نو ځکه تکنالوژيکي جوړښت يې د نورو کېبلونو سره توپير لري. د پورتنيو واقعيتونو په پام کې نيولو سره د هر ډول کېبل لپاره بېلابېل ډيزاينونه باید ترسره شي. د بېلګې په توګه لومړی د يو لفت د کېبل يا مزې د دننه قوو د پيدا کولو لپاره د هغه جوړښت په پام کې نيسو(۱- شکل).



۱- شکل: د تګ او راتګ لپاره لفت [3]

د (۱- شکل) کې ليدل کېږي، چې د کېبل دننه قوه نارملې ده او د پرې کونې د طريقې په مرسته يې ټاکلی شو:

$$\sum F_y = 0 : \qquad N - w = 0 ;$$

له دې ځايه نارملې کشش قوه په لاس راوړلی شو:

$$N = W$$

N- په کېبل کې نارملې قوه ده. w- د لفت په کابين کې د سړو، اجناسو او پخپله د کابين وزن دی. د کششي نارملې قوې او د موادو د نوعيت له مخې د کېبل قطر پيدا کولی شو:

$$\sigma_{max} = \frac{N}{A} \leq [\sigma]$$

σ_{max} - په کېبل اعظمي نارملې تشنج دی. A- د کېبل عرضي مقطعې مساحت دی. $[\sigma]$ - نارملې مجازي تشنج دی، چې د موادو د نوعيت په پام کې نيولو سره له لارښود جدوله ترلاسه کولای شو. نو ځکه د کېبل د عرضي مقطعې د مساحت له مخې د کېبل قطر په لاس راوړلی شو [3]:

$$A = \frac{N}{[\sigma]}$$

کله چې د عرضي مقطعې مساحت پيدا شو د هغې له مخې يې قطر پيدا کولی شو:

$$A = \frac{\pi d^2}{4}$$

يعنې قطر:

$$4A = \pi d^2 \quad \Rightarrow \quad d = \sqrt{\frac{4A}{\pi}}$$

اوس په نورو کېبلونو کې لکه کېبلي پلونو او يا د برېښنا په لينونو کې هم دننه قوې د يو بل ميتود په مرسته پيدا کولی شو.
د موضوع د روښانه کولو په موخه د برېښنا يو کېبل د دوو A او B ستنو يا پايو تر منځ په پام کې نيسو(۴- تصوير):



۱-۴تصوير: د برېښنا د لين تمديدول. [3]

د (۴- تصوير) نه ليدل کېږي، چې کېبل په دغه برخه کې د خپل اوږدوالي په امتداد کې يو ډول ويشلی بار په ځان زغمي، يعنې د يو متر په اوږدوالي (۱- شکل) کې دغه بار د w له مخې په نښه کوو او واحد يې نيوټن پر متر N/m او يا پونډ پر فټ Lb/ft دی. د کېبل د اوږدوالي څخه يوه ډېره کوچنۍ برخه ds په پام کې نيسو او د هغې د ټيټې نقطې C څخه تر لوړې نقطې D پورې ټول بار $W = w \times s$ دی؛ نو ددې بار له مخې د کېبل کششي قوه چې د لاندېني فورمول له مخې تر لاسه کېږي، ټاکلی شو [1]:

$$T = \sqrt{T_0^2 + w^2 s^2} \qquad (۱-۱)$$

T- په کېبل کې پورتنۍ کششي قوه ده، T_0- په کېبل کې افقي کششي قوه ده، w– د کېبل په هر يو متر کې د کېبل وزن دی.



څرنګه چې د ځمکې د سطحې څخه د کېبل د ځوړندې شوې نقطې پورې فاصله ده، نو ځکه ددغه فورمول په مرسته يې پيدا کولی شو:

$$c = \frac{T_o}{w}$$

c- د کېبل ځوړندې شوې نقطې او ځمکې ترمنځ فاصله ده، ددغه قيمت په پام کې نيولو سره افقي کششي قوه پيدا کوو:

$$T_0 = w \times c$$

څرنګه چې د کېبل (۲-شکل) ټول بار $W = w \times s$ سره برابر دي، نو ځکه د کېبل په D نقطه کې کششي قوه په لاس راوړلی شو:

$$T = w\sqrt{c^2 + s^2}$$

د کېبل د CD برخه په دیاګرام کې ښودل شوې ده، ګورو. د کېبل ټول بار $W = w \times s$ سره برابر دی؛ نو لومړی د افقي کوچنۍ فاصلې ds د قیمت د پیدا کولو لپاره د c شکل له مخې دغه فورمول کاروو:

$$dx = ds \times cos\theta$$

د دغه شکل له مخې څرګند بېږي چې د افقي کرښې او د کششي قوې تر منځ د زاویې کوساین په لاندې ډول لاسته راځي:

$$cos\theta = \frac{T_0}{T}$$

نو د دې قیمت له مخې کولای شو، چې د dx فاصله پیدا کړو:

$$dx = ds \times cos\theta = ds \times \frac{T_0}{T}$$

که په دغه معادله کې د T قیمت وضع کړو، نو په لاس راوړو چې:

$$dx = \frac{w \times ds}{w \times \sqrt{c^2 + s^2}} = \frac{ds}{\sqrt{1 = \frac{s^2}{c^2}}}$$

که چېرې د کوردیناتو مبداء 0 او د c فاصله د $C(0, c)$ نقطې او د $D(x, y)$ نقطې تر منځ انتګرال کړو، نو ټوله افقي فاصله x په لاس راوړو چې:

$$x = \int_0^s \frac{ds}{\sqrt{1 + {s^2}/{c^2}}} = c\left[sin\ h^{-1}\frac{s}{c}\right]_0^s = c \times sinh^{-1}\frac{s}{c}$$



۲- شکل: د کېبل د نیمایي برخه [2]

په دغو فورمولونو کې $sin.h$ قیمت د هاي پابولیک ستندردو انتګرالونو څخه لاسته راځي: $z = sin.h^{-1} \times u$

دلته د u قیمت $u = sin.h \times z$ سره او د v قیمت $v = cos.h \times z$ سره برابر دی او یا دغه قیمتونه په لاندې ډول لاسته راوړلی شو:

$$u = sinh \times z = \frac{1}{2}(e^2 - e^{-2})$$

او:

$$v = cos.h \times z = \frac{1}{2}(e^2 + e^{-2})$$

د $sin.h \times z$ او $cos.h \times z$ تابع ګانو نارملي قيمتونه د هاي پاربوليکو توابعو څخه حاصلولی شو، نو ځکه ليکو:

$$\frac{dsin.h.z}{dz} = cosh. \qquad \frac{dcos.h.z}{dz} = sin.h.z \qquad (۲-۱)$$

څرنګه چې:

$$cos.h.0 = 1 \qquad sin.h.0 = 0 \qquad (۳-۱)$$

نو ځکه:

$$cos.h^2.z - sin.h^2.z = 1 \qquad (۴-۱)$$

که چېرې د s قيمت پر ځای x قيمت تبديل کړو، نو د s فاصله په لاس راځي:

$$s = c \times sin.h\frac{x}{c} \qquad (۵-۱)$$

د عمودي کوچنۍ فاصلې (dy) د لاسته راوړلو لپاره د c شکل څخه د (θ) زاويې ټانجنت پيدا کوو:

$$tan\theta = \frac{dy}{dx}$$

له دې ځايه dy په لاس راوړو:

$$dy = tan\theta \times dx$$

له بلې خوا θ د زاويې ټانجنت لاندېنی قيمت لري:

$$tan\theta = \frac{W}{T_0}$$

نو ځکه د دغه قيمت په پام کې نيولو سره dy پيدا کوو:

$$dy = dx \times tan\theta$$

که د θ زاويې د تانجنت قيمت په دغه معادله کې وضع کړو، نو په لاس راوړو چې:

$$dy = dx \times \frac{W}{T_0} = dx \times \frac{s}{c} = sinh\frac{x}{c}dx$$

که چېرې دغه معادله د $C(0.c)$ نه تر $D(x.y)$ پورې انتګرال کړو، نو په لاس راوړو چې:

$$y - c = \int_0^x sin.h\frac{x}{c}ax = c\left[cos.h\frac{x}{c}\right]_0^x = c\left(cos.h\frac{x}{c} - 1\right)$$

$$y - c = c.cos.h\frac{x}{c} - c$$

$$y = c.cos.h\frac{x}{c} \qquad (۶-۱)$$

د y او s تر منځ تناسب له مخې ليکو:

$$y^2 - s^2 = c^2 \qquad (۷-۱)$$

د دغه معادلې په پام کې نيولو سره (۱-۱) معادله د دغه شکل ځانته غوره کوي:

$$T_0 = w \times c \qquad W = w \times s \qquad T = w \times y \qquad (۸-۱)$$

کېبل د D په نقطه کې کشش کېږي، چې مستقيماً د عمودي y او افقي x فاصلو پورې اړه لري. کله چې د کېبل د A او B اتکاييز عکس العملونه يو ډول معادلې ولري او د دواړو اتکاګانو تر منځ فاصله L د کېبل د وايې په نوم سره او د کېبل د اتکاء او د ټيټې نقطې c پورې فاصله د (sag) سج (h) په نوم سره يادوي:

$$h = y_a - c$$

د کېبل د دواړو اتکاءګانو تر منځ فاصله د دواړو اتکاءګانو د افقي عکس العملونو د حاصل تفريق څخه لاسته راځي:

$$L = x_B - x_A$$

L- د دواړو اتکاءګانو تر منځ افقي فاصله ده. همدارنګه د کېبل د دواړو اتکاءګانو تر منځ عمودي فاصله هم د دواړو اتکاءګانو د عمودي عکس العملونو د حاصل تفريق څخه لاسته راځي:

$$d = y_B - y_A$$

d- د دواړو اتکاءګانو تر منځ عمودي فاصله ده. په پورتنیو معادلو کې c ثابت قیمت دی، چې د افقي او عمودي اتکا ییزو عکس العملونو د قیمتونو له مخې ټاکل کېږي، لکه چې که $x_B = 75\ m$ او $y_B = 30 + c$ وي، نو لاندېني جدول ته وګورئ:

۱- جدول: د بېلابېلو قیمتونو د ټاکنې جدول [2]

c	$\frac{75}{c}$	$\frac{30}{c}$	$\frac{30}{c}+1$	$cosh\frac{75}{c}$
90	0.833	0.333	1.33	1.367
105	0714	0.286	1.286	1.266
99	0.758	0.303	1.303	1.301
98.4	0.762	0.305	1.305	1.305

د کېبل عمومي اوږدوالی د d شکل څخه هم په لاندې توګه په لاس راوړلی شو:

$$\sum M_D = 0; \qquad w.x\frac{x}{2} - T_0 \times y = 0$$

د دغه معادلې څخه د y قیمت پیدا کوو:

$$y = \frac{w.x^2}{2.T_0}$$

د عالي ریاضیاتو د علم له مخې کولی شو، چې د کېبل څخه یوه ډېره کوچنۍ برخه رابېله کړو، لیدل کېږي چې د دغه برخې افقي او عمودي فاصلې به dx او dy وي، د b شکل له مخې لیکو چې د کېبل ډېر کوچنی اوږدوالی به لاندېنی قیمت وي:

$$ds^2 = dx^2 + dy^2$$

که د دغه معادلې دواړه خواوې په dx^2 باندې ویشو، نو په لاس راوړو، چې:

$$\frac{ds^2}{dx^2} = \frac{dx^2}{dx^2} + \frac{dy^2}{dx^2}$$



۲- شکل: کېبل په ځوړند حالت کې [1]

دغه معادله ساده کوو او په لاس راوړو:

$$\frac{ds^2}{dx^2} = 1 + \frac{dy^2}{dx^2}$$

دغه معادله په لاندې څېره هم اړولی شو:

$$\left(\frac{ds}{dx}\right)^2 = 1 + \left(\frac{dy}{dx}\right)^2$$

که د معادلې دواړه خواوې په جذر کې ونیسو، نو په لاس راوړو چې:

$$\sqrt{\left(\frac{ds}{dx}\right)^2} = \sqrt{1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2}$$

او يا:

$$\frac{ds}{dx} = \sqrt{1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2}$$

له دې ځايه ds قيمت پيدا کوو:

$$ds = \sqrt{1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2} \times dx$$

اوس دغه پورتنۍ رابطه انتګرال کوو او د s فاصله په لاس راوړو:

$$s = \int_0^x \sqrt{1+\left(\frac{dy}{dx}\right)^2} \times dx$$

د رياضياتو د علم له مخې دغه معادله که د $y = \frac{w.x^2}{2.T_0}$ قيمت په دغه معادله وضع کړو، نو دغه لاندېنۍ څېره ځانته غوره کوي:

$$\frac{dy}{dx} = \frac{w.x}{T_0}$$

$$s = \int_0^x \sqrt{1+\frac{w^2.x^2}{T_0^2}} \times dx = \int_0^x \left(1+\frac{w^2.x^2}{2.T_0^2} - \frac{w^4.x^4}{8.T_0^4} + \cdots\right) dx$$

او يا:

$$S = x\int_0^x \left(1+\frac{w^2.x^2}{6.T_0^2} - \frac{w^4.x^4}{8.T_0^4} + \cdots\right) dx$$

که چېرې دغه $y = \frac{w.x^2}{2T_0}$ قيمت په پام ونيول شي، نو په لاس راځي چې:

$$s = x\left[1+\frac{2}{3}\left(\frac{y}{x}\right)^2 - \frac{2}{5}\left(\frac{y}{x}\right)^2 + \cdots\right]$$

مثال: يو کېبل (۳- شکل) چې وزن يې $45\ {}^{N}/_{m}$ دی، د A او B په نقطو کې د دوو اتکاءګانو په مرسته ځوړند دی، په کېبل اعظمي او اصغري کشش او همدارنګه د هغه اوږدوالی پيدا کړئ[2]؟

حل: لومړی د y لوړوالی پيدا کوو:

$$y = c.cos.h\frac{x}{c}$$

او بيا افقي فاصله x_B پيدا کوو:

$$x_B = 75\ m \qquad \text{او} \qquad y_B = 30 + c$$

څرنګه چې $y = c.cos.h\frac{x}{c}$، نو د y_B قيمت وضع کوو:

$$30 + c = c.cos.h\frac{75}{c}$$

نو ځکه:

$$\frac{30}{c} + 1 = cos.h\frac{75}{c}$$

a)



۳- شکل: د دوو نقطو پورې نښتی کېبل.

۲- جدول: د c قیمت د پیدا کولو جدول [2]

c	$\frac{75}{c}$	$\frac{30}{c}$	$\frac{30}{c}+1$	$cos.h\frac{75}{c}$
90	0.833	0.333	1.33	1.367
105	0714	0.286	1.286	1.266
99	0.758	0.303	1.303	1.301
98.4	0.762	0.305	1.305	1.305

د اعظمي او اضغري کششي قوو د پیدا کولو لپاره دغه معادله کاروو:

$$T_0 = w \times c \qquad W = w \times s \qquad T = w \times y$$

$$T_{min} = T_0 = w.c = (45\ {}^{N}/_{m})(98.4\ m) = 4430\ N$$

او:

$$T_{max} = T_B = w.y_B = (45\ {}^{N}/_{m})(128.498.4\ m) = 5780\ N$$

د کېبل د اوږدوالي د پیدا کولو لپاره دغه معادله کاروو:

$$y^2 - s^2 = c^2$$

$$y_B^2 - {s_{BC}}^2 = c^2$$

$${s_{BC}}^2 = y_B^2 - c^2 = (128.4)^2 - (98.4)^2 =$$

$$= 16486.56 + 9682.56 =$$

$${s_{BC}}^2 = 26169.12$$

$$s_{BC} = \sqrt{26169.12}$$

$$s_{BC} = 82.5\ m$$

د کېبل ټول اوږدوالی پیدا کوو:

$$s_{AB} = 2 \times s_{BC} = 2 \times 82.5 = 165$$

$$s_{AB} = 165\ \ m$$

پایله:

له پورته څېړنې دې پایلې ته رسېږو، چې د نورو هېوادونو د کېبلي پلونو د ډیزاینونو څخه په ګټې اخیستنې سره د افغانستان په شرایطو کې ساختماني کېبلونه د پلونو په جوړولو کې ډېر کارول کېږي، دا ځکه چې ددې کېبلونو کارول ډېرې ګټې لري، یو خو د ژورو سیندونو له پاسه د کانکرېټي پلونو جوړول مشکل دي او دویم دا چې د موادو انتقال ساحې

ته اسان دی، او دریم دا چې منتاژ کاري یعنې جوړول یې دومره مشکل نه دي او په هر ډول اراضي کې یې جوړول ممکن دي؛ مګر د کېبلونو شمېرنه په یو ډول نه کېږي، بلکې د کېبل څخه د ګټې اخیستنې د طرز او د ساحې پورې اړه لري. نو باید د کېبلونو په ډیزاین کې نه یوازې یو میتود، بلکې د هغه میتود نه کار واخیستل شي، چې د هغه په مرسته دننه قوې په اسانۍ سره ترلاسه شي. زمونږ په هېواد کېبلي پلونه د کانکرېټي پلونو نه د ۲۰ نه تر ۳۰ فیصده پورې ارزان تمامېږي او همدارنګه کله ناکله د سیند لاندې د جیولوجیکي شرایطو د نه مطالعه کولو له امله د پلونو پایې چې د سیند په منځ کې جوړې شوې، تخریب شوې دي، لکه د کونړ د سیند له پاسه د بر کاشکوټ په سیمه کې کانکرېټي پل په منځ کې د پایې د کېناستلو له امله مات شوی دی. په پرمختللو هېوادونو کې د مهندسي ښکلا په موخه څو منزله کېبلي پلونه جوړ شوي دي، چې نسبت کانکرېټي پلونو ته ډېر ګران تمام شوي دي.

Abstract:

Cables are used in vary Engineering fields and have specific values, which it made structures are defer with other structures. Cables are used for pulling in up loading machines such as cranes, excavators, loaders and for power supply. The structure of cable are differ compare to other engineering structures, it means in the other structures of Engineering the forces are determined through the help of section method ,which working in pulling but the forces in power supply and cable bridges are found by other methods. Therefore the methods of selecting of inside forces in cables are first comparing and then using in design. So the contents of this scientific article are introduction, field of cable usage, method of cables calculation and methods of selecting of forces inside cables, conclusion and references.

References:

1. Ferdinand P. Beer and E. Russell Johnston(2012) Vector Mechanics for Engineers Static and Dynamics ninth edition
2. Ferdinand P. Beer and E. Russell Johnston .Elliot R. Eisenbeg (2004) Vector Mechanics for Engineers Statics seventh edition New Delhi 2012.
3. Евмушенко С.И и дроги Сопративление материалов Москва ИНФРА 20014.
4. J.L. Meriam and L.G. Kraige Engineering Mechanics Static Fourth edition New York 1998.
5. Internet:W.W.aiacincinnati.org/community/ABC
6. Meriam J.L and L.G.Kraige Engineering Mechanics Fifth Edition America.
7. Шинкаренко А.А.Киреева А.И. Сопративление материалов Ростов(Феникс) 2009
8. Sridhar S. Condoor. Engineering statics (2008). SDC publications Schroff Development Corporation.

پوهنوال دوکتور عبيدالله (شينواری)
اقتصاد پوهنځی- تجارت څـــانگه

د اقتصادي- اجتماعي پديدو په توگه د انفلاسيون او ديفلاسيون مطالعه او پرتله

لنډيز:

په دې علمي مقاله کې کوښښ شوی، چې د انفلاسيون او ديفلاسيون دواړو اصطلاحات په جداگانه شکل تجزيه او تحليل، خصوصيات، ډولونه، زيانونه، د له منځه وړلو لارې چارې يې په گوته او بيا په مقايسوي توگه د توضيح او تشريح لاندې ونيول شي، ترڅو لوستونکي ددې دواړو اجتماعي- اقتصادي پديدو په اړه يو عميق ماهيوي درک ترلاسه کړي. په نتيجه گيرۍ کې به چې ددې علمي مقالې په اخر کې ارائيه شوې، په مشخصه توگه د هغوی د منځته راتگ عوامل، تاثيرات، ټولنې او اقتصاد لپاره يې عواقب بررسي او وبه گورو، چې کوم دلايل ددې باعث شوي، چې په پرمختيايي هېوادونو کې يې نسبت پرمختللو هېوادونو ته ددې معضلې حل مشکل کړی دی.

سريزه:

د يوې اقتصادي- اجتماعي ستونزې په توگه چې د ټولنې هر وگړی او هره طبقه او قشر تر اغيزې لاندې نيسي، اکثراً اهل مسلک او د مسلک نه دباندې کسان غواړي پوه شي، چې انفلاسيون او ديفلاسيون څه دي، څنگه منځته راځي، خلکو او جامعې لپاره يې پايلې څه دي، په کومو اشکالو کې وجود لري او باالاخره څنگه له منځه ځي. په دې اساس دې پوښتنو ته د ځواب په خاطر مې وپتېيله چې نوموړي پديدې مطالعه، بررسي او د يوې علمي مقالې په ترڅ کې يې ارايه کړم. مسايل ساده، سليس او په عملي مثالونو سره مجهز وړاندې شوي، ترڅو د لوستونکي لپاره د درک وړ وي.

موخې:

ددې موضوعاتو د تحقيق او څېړنې څخه هدف دادی چې له يوې خوا د انفلاسيون او ديفلاسيون اصطلاحات د دوو اقتصادي- اجتماعي پديدو په توگه هر اړخيز او عميق مطالعه، بررسي، تجزيه او تحليل شي، ترڅو اهل مسلک او د اقتصاد علم مينه والو لپاره ددې دواړو پديدو اقتصادي او اجتماعي ماهيت څرگند او له بلې خوا د اقتصاد استادانو، شاگردانو او علاقمندانو ته د هغوی د علمي اثارو، مقالو، سيمنارونو او مونوگرافونو د تهيې او ترتيب لپاره يو ښه او مستند ماخذ شي.

انفلاسيون (Inflation):

د انفلاسيون د اصطلاح د تعريف په مورد کې لا تراوسه د اقتصاد پوهانو ترمنځ د نظر يووالی وجود نه لري، يو شمېر يې يو اړخ او بل شمېر يې بل اړخ په پام کې نيسي او د هغې مطابق خپل نظر ارايه کوي. په بل عبارت دغه اقتصادي ـ اجتماعي پديده د مختلفو اقتصاد پوهانو له خوا په مختلف ډول تعبير او تعريف شوې ده. مثلاً د (Chamber) په نوم د شلمې پېړۍ ډکشنري انفلاسيون د پېرودنې لپاره د موجودو شيانو په نسبت د پيسو په مقدار يا کريدت او يا په دواړو کې د يو غير متناسب او نسبتاً تند او ناگهاني زياتوالی په توگه په پام کې نيسي، چې همېشه د قيمتونو د سطحې د زياتوالي باعث کېږي. خو د (Kemmerer) په عقيده انفلاسيون بيا د هغه کاروبار د فزيکي حجم په نسبت چې بايد صورت ونيسي د ډېرو زياتو پيسو او پولي امکاناتو رامنځته کېدل دي. ولې (Crowther) انفلاسيون يو حالت بولي، په کوم کې چې د پيسو ارزش کموالی مومي، په بل عبارت قيمتونه پورته ځي(۱م۱۰۷). نوموړی وايي چې دا هغه ډېر ساده او مفيد تعريف د انفلاسيون دی؛ حال دا چې (Gregory) انفلاسيون د پېرودنې قدرت (Purchasing power) په مقدار کې د غير نورمال

زياتوالی په يو حالت پورې مربوطوي او (Hawtrey) يې د ډېرو زياتو پيسو په نشر پورې تړلی بولي. اما د (Pigou) په نظر انفلاسيون هغه وخت منځته راځي چې د توليدي اشخاصو تاديه شوی پولي عايد د هغوی له خوا د سرته رسېدلي کار د حاصل په نسبت د توسعې په حال کې وي. نوموړی د «جنګي انفلاسيون د ډولونو» تر عنوان لاندې په يوه مقاله کې ليکي چې « انفلاسيون هغه وخت وجود لري چې پولي عايد د عايد حاصلوونکي فعاليت په نسبت زياته توسعه ومومي. (۴م۱۸۷) د پورتنيو ټولو تعريفونو ګډه مشخصه د شيانو د عرضې او تقاضا تر منځ د نه اندول پر هغه حالت دلالت دی، کوم چې همېشه په اقتصاد کې د قيمتونو د سطحې د لوړوالي باعث کېږي. که دقيق وويل شي د عرضې او تقاضا د قانون په پام کې نيولو سره په قيمت کې يو لوړوالی په خپل ذات کې د انفلاسيون د منځته راتګ موجب نه ګرځي. مګر دا چې د عرضې او تقاضا توابع د قيمت له مخې کاملاً غير ارتجاعي وي، نو په حقيقت کې دا به يو ديفلاسيوني حالت وي، که چيرې په قيمت کې لوړوالی په تقاضا کې د کموالي او د شيانو د عرضې د زياتوالي په واسطه تعقيب شوی وي (۲م۵۹۲). حال دا چې داسې نه ده، ځکه لکه څنګه چې د خپلو ورځنيو تجربو څخه پوهېږو، تقاضا حتی د اړينو شيانو لپاره هم دقيقاً غيرارتجاعي نه ده او د عرضې تابع هم تر يو حده د زياتوالي په حال توليد د امکان په پام کې نيولو سره د عامل د تعويض له طريقه د قيمت له مخې د ارتجاعيت لرونکې ده، نو هغه څه چې انفلاسيون منځته راوړي؛ د تقاضا لوړوالي سره د قيمتونو لوړوالی- ددې حقيقت په واسطه توضيح او تشريح کېږي چې د ټولنې د معينو او ټاکلو برخو عوايد د قيمتونو د زياتوالي په نسبت په زياته پيمانه لوړوالی ومومي او په دې توګه د شيانو لپاره د تقاضا د زياتوالي موجب کېږي، کوم چې په لنډ وخت کې د موجودې عرضې د زياتوالي په واسطه رفع کېدای نه شي.

کامل او قسمي انفلاسيون:

په داسې حال کې چې انفلاسيون همېشه په اقتصاد کې د قيمتونو د عدم ثبات او زياتوالي د يو حالت بيانوونکی دی، خو دا به نامناسبه وي چې په يو هېواد کې د قيمتونو په سطح کې هر ډول لوړوالی د حقيقي يا کامل انفلاسيون د يو حالت په توګه تعريف او توصيف شي، ولو که د قيمتونو په سطح کې دغسې يو لوړوالی کېدای شي واقعاً انفلاسيوني وي، اما په ماهيت کې د قسمي انفلاسيون حالت په ګوته کوي. په بل عبارت د قيمتونو په سطح کې هر ډول لوړوالی نبايد د حقيقي يا کامل انفلاسيون په نوم ونومول شي، بلکې صرف د اقتصادي انکشاف د يو معينې او ټاکلې مرحلې نه پورته ـ کامل استخدام ـ په قيمتونو کې زياتوالی کېدای شي د کامل انفلاسيون په نوم ياد شي.



ترڅو چې اقتصاد د کامل استخدام يوې سطحې ته نه وي رسېدلی، د پيسو په مجموعي مقدار کې زياتوالی که څه هم چې په ټوله کې به د شيانو او خدمتونو په قيمتونو کې د يوڅه زياتوالي باعث شي، خو کامل انفلاسيون منځته نه راوړي (۸م۳۲۵).

په تيوريکي لحاظ ترهغې چې په يو سيستم کې کامل استخدام منځته نه وي راغلی، نو د پيسو په مقدار کې هر زياتوالی به په کلي توګه د استخدام او د حاصل د زياتوالي باعث شي، نه د قيمتونو د سطحې د لوړوالي. ځکه د مختلفو او متعددو عواملو په اساس د اضافه شوې پولي عرضې يوه برخه د قيمتونو د لوړوالي او پاتې يې توليدي کانالونو ته لار پيدا کوي او په هېواد کې د استخدام او د توليد د حجم د زياتوالي موجب کېږي. کله چې په اقتصاد کې د کامل استخدام حالت منځته راغی، نو د يو لړ انفلاسيوني ټکانونو له طريقه چې د پيسو په مقدار کې د زياتوالي له امله منځته راځي او هم دا چې د پيسو په مقدار کې د زياتوالي او د قيمتونو د سطحې ترمنځ يوه مستقيمه رابطه وجود لري، نو د پيسو په مقدار کې د غسې يو زياتوالی د قيمتونو په سطحه کې د مستقيم او متناسب لوړوالي باعث کېږي او په دې توګه حقيقي يا کامل انفلاسيون منځته راځي. د کامل استخدام نه مخکې دا چې حاصل د لنډ وخت لپاره زياتوالی مومي، نو په لوړو مزدونو سره د مصارفو د زياتوالي له امله قيمتونه لوړېږي او عوايد کمېږي، خو کله چې کامل استخدام منځته راغی، نو په مؤثره تقاضا کې هر بعدي زياتوالی چې د پيسو په مقدار کې د زياتوالي له امله را منځته کېږي، کاملاً د قيمتونو د لوړوالي موجب کېږي. کامل استخدام هغه نقطه ده چې حقيقي يا کامل انفلاسيون په کې قرار نيسي او له دې نګاه څخه انفلاسيون کېدای شي د کامل استخدام د يوې پديدې په توګه په پام کې ونيول شي. که څه هم چې انفلاسيوني تمايلات کېدای شي حتی لا له مخکې په اقتصاد کې موجود وي، خو حقيقي انفلاسيون صرف هغه وخت منځته راځي، کله چې قيمتونه پرته له دې چې په استخدام او حاصل کې د کوم لوړوالي باعث شي لوړوالی ومومي. کله چې کامل استخدام منځته راغی، نو په مؤثره تقاضا کې د بعدي زياتوالي په نتيجه کې حقيقي يا کامل انفلاسيون منځته راځي. په دې توګه حقيقي انفلاسيون د کامل استخدام تابع او هغه اقتصاد چې په بشپړه توګه په کار لوېدلي وي د انفلاسيون په مقابل کې ډېر حساس وي، خو له هغه څخه مخکې انفلاسيون صرف يوه لنډ مهاله مسئله ده. په يو ډيناميک او د توسعې په حال اقتصاد کې چې مخ پر زياتېدونکي توليد باندې قادر وي په اوږد مهال کې د انفلاسيون پرابلم وجود نه لري، ځکه د نفوسو په طويل المدته رشد، د توليد د روشونو په بهبود او اصلاح او د نوو منابعو په کشف سره به اقتصاد وکولای شي، چې د شيانو لپاره اضافه شوې تقاضا د انفلاسيون د تهديد پرته رفع کړي. د کامل او قسمي انفلاسيون ترمنځ تفاوت کېدای شي چې د لاندې ديا ګرام په ترڅ کې توضيح او تشريح شي:



په پورته شکل کې o د کامل استخدام د سطحې څخه عبارت دی. که څه هم چې قيمتونه حتی د کامل استخدام څخه مخکې په جيګېدو پيل کوي، خو مونږ د قيمتونو د اسې لوړوالي ته د حقيقي يا کامل انفلاسيون يو حالت ويلای نه شو. د قيمتونو

دغه لوړوالي په ماهيت کې صرف انفلاسيوني دی، په بل عبارت که چيرې د o څخه زيات ادامه مومي، نو د کامل انفلاسيون باعث به شي. په دې توګه په عمل کې د کامل استخدام مرحله صرف د سيستم د مختلفو کمبوديو په نتيجه کې د قسمي انفلاسيون د پروسې له طريقه منځته راځي او دا صرف لکه څنګه چې په دياګرام کې په ګوته شوې د o څخه پورته ده چې د حقيقي يا کامل انفلاسيون حالت منځته راځي، ځکه د o څخه وروسته په پيسو کې هر زياتوالی په قطعي توګه نه د استخدام او حاصل بلکې يوازې د قيمتونو د جګوالي باعث کېږي. (۲م۲۱۰)

د انفلاسيوني پروسې ځانګړتياوې:

د انفلاسيون د پرمختګ او جريان پروسه د خپل ماهيت له مخې دوراني ده، ځکه کله چې د انفلاسيون په حالت کې پيسې د شيانو په وړاندې خپله د پېرودنې د قدرت يوه برخه له لاسه ورکوي، نو په لومړي نظر منطقي معلومېږي چې په جريان کې د پيسو مبلغ زيات شي چې دا په خپل وارسره تقاضا، پېرودنې او حاصل، که چېرې کاروباري تصدۍ د توليد په زياتوالي قادر وي، زياتوي؛ خو د شيانو او خدمتونو لپاره په تقاضا کې هر زياتوالی د توليد د عواملو لپاره د تقاضا د زياتوالي موجب او په دې توګه اقتصاد د کامل استخدام خواته رهبري کوي. خو کله چې د توليد عوامل په بشپړه توګه په کار ولوېدل، نو د پيسو په جريان کې هر زياتوالی د توليد په نسبت يوازې په قيمتونو باندې د يو فشار په توګه تبارز کوي او په دې ډول په محسوسه توګه د قيمتونو د لوړوالي باعث کېږي. د قيمتونو او مصارفو دا لوړوالی بيا د بانکي کريدت لپاره تقاضا زياتوي او زيات بانکي کريدت بيا د زياتو پيسو د مصرف په معنی دی او په دې توګه شيطاني دايره يا Vicious Circle چې يو وار پيل شوه، نو د هغې څخه وروسته دوام مومي.

دا چې په اينده کې د قيمتونو د لوړوالي توقع کېږي، نو د پس انداز لپاره انګېزه کمه او د مصرف لپاره انګېزه زياتېږي؛ مستهلکين چې معمولاً پس انداز کوونکي وو، پس انداز کول په تعويق اچوي او په عوض يې هغه شيان پېري چې عاجل ضرورت ورته نه لري. د قيمت په لوړېدو سره په پيسو کې د د ارايو ساتل ورځ تربلې په يوه کمتره مطلوبه طريقه تبديلېږي او دا چې د پيسو ارزش کمېږي، نو خلک خاصتاً که په اينده کې د قيمتونو په لوړوالي ډاډمن وي، قوياً متمايل دي چې د خپل ثروت يوه کوچنۍ برخه د پيسو په شکل وساتي او په دې توګه د مصرف د زياتوالي له طريقه پيسې صرفه جويي کړي، چې دا کار د مصرف د مستۍ او د هغې لارې د پيسو د سرعت د زياتوالي او د قيمتونو د جيګوالي باعث کېږي. له بلې خوا کاروباريان هم خپلې اړتياوې پيشبيني کوي او په دې توګه په دواړو حسابونو کې مصرف زياتېږي، اما دا چې اقتصاد د مخکې نه په نسبتاً کامل ظرفيت کار کوي، نو په مصرف کې اضافي زياتوالی نه شي کولای باالترتيب په توليد کې د متقابل زياتوالي باعث شي. ددې په عوض هغوی قيمتونه، مزدونه او تمام شوی مصرف زياتوي او په دې توګه د قيمتونو، مزدونو او تمام شوي مصرف فنر په فعاليت پيل کوي. په بل عبارت د پېرودنې قدرت يا د پولي واحد ارزش چټک کموالی مومي. (۲م۲۱۲)

د انفلاسيون ډولونه:

انفلاسيون مختلف ډولونه لري او د مختلفو ملحوظاتو په اساس په مختلفو کټګوريو ويشل کېږي. په لومړي سر کې د قيمتونو د لوړوالي د درجې يا سرعت له مخې د انفلاسيون د مختلفو انواعو ترمنځ تفکيک منځته راځي. په دوهم قدم کې دا مسئله کېدای شي د مختلفو پروسو له طريقه چې د انفلاسيون د منځته راتګ باعث کېږي، تر مطالعې لاندې و نيول شي. ثالثاً د وخت د معيار په اساس هم کېدای شي چې د انفلاسيون د مختلفو ډولونو ترمنځ تفاوت منځته راشي. رابعاً انفلاسيون کېدای شي جامع او غيرجامع وي او خامساً ښکاره او پټ انفلاسيون هم وجود لري. د قيمتونو د لوړوالي د سرعت له مخې د انفلاسيون لاندې اشکال موجود دي:

۱. کښېدونکی انفلاسيون Creeping Inflation
۲. قدم وهونکی انفلاسيون Walking Inflation
۳. ځغليدونکی انفلاسيون Running Inflation
۴. خيزوهونکی انفلاسيون Jumping Inflation

د پورتنيو ډولونو هر ډول د هغه سرعت له مخې په کوم سره چې قيمتونه پورته ځي، يو د بل څخه تفاوت لري. البته سرعت اقتصاد ته د انفلاسيون د خطرناکو تاثيراتو له پلوه د خورا اهميت لرونکی دی چې ډېر ملايم او معتدل شکل يې کښېدونکی انفلاسيون دی. د ځينو اقتصادپوهانو په نظر دا ډول انفلاسيون د اقتصاد لپاره خطرنه لري. له دې امله د هغه څخه د ملاتړ او د دايمي رکود څخه د اقتصاد د نجات په خاطر په دايمي توګه د قيمتونو د داسې معتدل لوړوالي څخه طرفداري کوي؛ خو د اقتصادپوهانو يو بل شمېر بيا د کښېدونکي انفلاسيون خطرناکه جنبه په پام کې نيسي او وايي چې انفلاسيون لکه د يو تصور، درک او ايديا په شان چې يو وار يې تحقق وموند او يا لکه د يو طفل په شان چې يو وار يې تولد وموند، نو بيا غټېږي او لويېږي. که څه هم چې د وخت په اوږدو کې طفل کښېدل متوقف کوي، خو بالاخره زده کوي چې قدم ووهي، وځغلي او ټوپ ووهي. په دې اساس کښېدونکی انفلاسيون مخکې له دې چې پوخوالي ته ورسي، بايد مخه يې ونيول شي. لکه څنګه چې دې نوعې انفلاسيون چې په کې د يوې اوږدې مودې لپاره قيمتونه په تدريجي او ورو ډول لوړوالی مومي، د **۱۹۵۲** کال را پدېخوا په جرمني او امريکا کې توجه جلب کړې ده. قدم وهونکی انفلاسيون چې په کې د قيمتونو لوړوالی د کښېدونکي انفلاسيون په پرتله ډېر مشخص او مسلم دی. د ځغلېدونکي او خېزوهونکي انفلاسيون د پېښېدو لپاره چې د قيمتونو د غيرمنظم زياتوالي له امله يې د لوړوالي اندازه په مشکل د اندازه ګيرۍ وړ ده، د خطر علامه ده. په خېزوهونکي انفلاسيون کې چې قيمتونه هره لحظه لوړوالي مومي، د قيمتونو د جګوالي لپاره کوم حدوحدود وجود نه لري. په جرمني او استريا کې د جنګ څخه وروسته انفلاسيون چې په کې د پيسو مقدار د جنګ څخه مخکې مقدار په مقايسه په سلګونو کوينتليونو او د قيمتونو سطحې د جنګ څخه مخکې قيمتونو په پرتله څو تريليونه وارې زياتوالی وموند، د خيزوهونکي انفلاسيون يو کلاسيک مثال دی. که د کښېدونکي انفلاسيون څخه د خېزوهونکي انفلاسيون په لور د قيمتونو لوړوالی ورو او تدريجي وي، نو د قدم وهونکي او ځغلېدونکي انفلاسيونونو له طريقه د لوړوالي په لور د قيمتونو انتقال ډېر سريع او چټک دی. مثلاً که د کښېدونکي انفلاسيون په صورت کې د قيمتونو دوه چنده کېدل تقريباً د يو نسل موده په بر کې نيسي، نو د انفلاسيون په قدم وهونکي، ځغلېدونکي او ټوپ وهونکي انواعو کې عين لوړوالی کېدای شي بالترتيب د يوې لسيزې، پنځو کالو او يو کال په ترڅ کې صورت ونيسي، چې کولای شو په لاندې شکل کې د انفلاسيون د پورته انواعو ترمنځ تفاوت په ښه توګه درک کړو.



په پورته شکل کې د کښېدونکي انفلاسيون په صورت کې په قيمتونو کې تخمیناً ۱۰ فيصده لوړوالی تقريباً د ۱۲ کالو په ترڅ کې منځته راځي، حال داچې د قدم وهونکي انفلاسيون په صورت کې تقريباً د يوې لسيزې نسبتاً کم مدت په ترڅ کې

تخمیناً ۴۰ فیصده د قیمتونو لوړوالی صورت نیسي؛ خو کله چې انفلاسیون د ځغلېدونکي په ډول وي، نو په قیمتونو کې لوړوالی صرف تقریباً ۷ کاله په بر کې نیسي، چې د تخمیناً ۲۰ فیصدو په سطح پورته ولاړ شي. ولې د خېزوهونکي انفلاسیون په صورت کې د قیمتونو په زیاتوالي کې عملاً کوم حد وجود نه لري او د دوه کالو څخه په کمه موده کې به د قیمتونو په سطح کې زیاتوالی د ۱۲۰ فیصدو څخه زیات وي. د دویمې ملاحظې له مخې د بودجې د کسر څخه منځته راغلی انفلاسیون چې د عوایدو څخه د حکومتي مصارفو د زیاتوالي له امله صورت نیسي؛ د مزدونو څخه رامنځته شوی انفلاسیون چې مستقیماً د کارګرانو د کفایت په نسبت د پولي مزدونو د زیاتوالي په علت تحقق مومي، او د مفاد او ګټې څخه رامنځته شوی انفلاسیون چې د مؤلدینو په ګټه کې د زیاتوالي مستقیمه نتیجه ده، تفکیک وجود لري. په دریمه کټګورۍ کې د جنګ د وخت انفلاسیون چې په جنګ کې د جنګي اړتیاوو له امله منځته راځي؛ د جنګ څخه وروسته انفلاسیون چې د جنګ میراث دی او فوراً د جنګي دورې څخه وروسته صورت نیسي، لکه د جرمني د شلمې پېړۍ د شلمو کلونو انفلاسیون؛ او د صلحې د وخت انفلاسیون چې معمولاً د صلحې په دوره کې د حکومتي اضافه شوو لګښتونو په علت د قیمتونو د لوړوالي باعث کېږي، شامل دی. له بلې خوا انفلاسیون هغه وخت جامع وي چې د ټول اقتصاد په سطح د هر شي قیمت لوړ شي، خو غیر جامع انفلاسیون بیا لنډمهاله او بخشي وي او هغه وخت منځته راځي چې یو ګروپ قیمتونه د ځینو ساحو د انفرادي قیمتونو د زیاتوالي له امله چې د ټاکلو شیانو د غیر نورمال کمبود له طریقه یې صورت نیولی، لوړوالی ومومي. د غیر جامع انفلاسیون شرط یوازې د مارکېټ د شیانو د کمبود په معنی نه دی، چې د قیمت جوړښت د انحرافاتو له امله رامنځته شوی، بلکې داسې انفلاسیون کېدای شي هغه وخت هم منځته راشي چې د خامو موادو قیمتونه او یا مزدونه زیاتوالی ومومي، خو د کار تمامو محصولاتو قیمتونه په مخ پورته لوري تنظیم شوي نه وي، او دا معمولاً داسې حالات دي چې عرضه د فزیکي شرایطو له امله محدوده او په چټکۍ زیاتېدای نشي.

همدارنګه وروسته اچول شوې یا رزرف تقاضا د موجود تولید د کمبود سره لازیاته مرسته او کمک کوي. د داسې شرایطو لاندې د بازار قیمتونه به ډېر جګ او د قیمتونو لوړوالی به د تقاضا لوړې سطحې ته د عرضې د رسولو سره همکاري او معاونت ونه کړي. د غیر جامع انفلاسیون د نمونوي کیسونو په توګه کولای شو د حاصلاتو د کمبود له امله د غذایي موادو د قیمتونو لوړوالی، یا د صنعتي شیانو په قیمتونو کې جګوالی چې د انحصار د مؤفقانه تشکیل له لارې د حاصل د کموالي له طریقه صورت نیسي؛ او یا د هغو شیانو په قیمتونو کې لوړوالی چې تولید یې متوقف او ظرفیت د جنګ په واسطه کموالی موندلی، یاد کړو. د جنګ څخه وروسته د تکې، کور جوړونې او نور کمبودات په دې اړوند ښه مثالونه دي. ددې شیانو قیمتونه به د قیمتونو د کنترول په نه موجودیت کې سریعاً صعود وکړي، ولو که د نورو زیاتو شیانو قیمتونه به یا هیڅ او یا ډېر کم د زیاتوالي په لور تمایل ولري. په همدې ډول انفلاسیون کېدای شي ښکاره او یا پټ وي، انفلاسیون هغه وخت ښکاره وي چې قیمتونه پرته د کوم توقف څخه صعود وکړي، لکه د تېرې پېړۍ د شلمو کلونو انفلاسیون په جرمني، استریا او روسیه او یا د څلویښتمو کلونو انفلاسیون په چین کې. برعکس پټ انفلاسیون بیا په هغو شرایطو پورې اړه لري، په کومو کې چې د ټاکلو پالیسیو لکه د قیمتونو کنترول، د حکومت له خوا جیره بندي او نورو په غوره کولو سره په حاضر وخت کې د قیمتونو د لوړوالي څخه مخنیوی کېږي، خو په اینده کې کله چې نوموړي پالېسۍ ترک شوي قیمتونه لوړېږي. په دې توګه پټ انفلاسیون هغه وخت وجود لري، کله چې د قیمتونو د کنترول، جیره بندۍ او نورو فزیکي کنترولونو له طریقه د قیمت لوړوالی مخفي وي، خو همدا چې د قیمت کنترول، جیره بندي او نور له منځه ولاړل، نو پټ انفلاسیون بیا په علني یا ښکاره انفلاسیون باندې بدلېږي. د جنګ د وخت کنترولونه د پټ انفلاسیون او د جنګ څخه وروسته انفلاسیونونه په علني انفلاسیون باندې د مخفي انفلاسیون د انکشاف مثالونه دي. د اخفا کلیمه دلته لاندې مفاهیم افاده کوي:

- کوم راتلونکي تاریخ ته د فعلي تقاضا وروسته اچول
- د یو نوع شیانو څخه وبل نوع شیانو ته د تقاضا انحراف، په بل عبارت د هغو شیانو څخه چې د قیمت د کنترول او جیره بندۍ لاندې دي، وهغو شیانو ته چې د قیمت د کنترول او جیره بندۍ څخه فارغ دي.

پټ انفلاسيون د يو لړ زياتو نواقصو او کمبوديو لرونکی دی؛ په لومړي قدم کې دا ډول انفلاسيون اداري پرابلمونه منځته راوړي او د کنترولرانو او جيره بندۍ د مامورينو يو سلسله مراتب ايجادوي، څوک چې بايد په قيمتونو کې د زياتوالي مخنيوی وکړي. له دې امله د قيمت د کنترول او جيره بندۍ اداري ماشيني ډېر دقت غواړي، بايد کار او با کفايته وي او صادق او رښتينی خلک چې ددې طرحې او تد بير د اداري د کافي تجربې لرونکی وي، په واک کې ولري. ولې د جنګ د وخت د قيمت د کنترول او جيره بندۍ د طرحې او تدبير د عملي تحقق تجربه حتی د انګلستان په شان په پرمختللو هېوادونو کې په ګوته کوي چې د قيمت د کنترول او جيره بندۍ اداره معمولاً د داسې صفاتو لرونکي نه وي او په اسانۍ د فاسدېدو وړتيا لري. په داسې شرايطو کې د تور مارکېټ يوه ځانګړې ناګواره او ناخوش اينده پديده انکشاف کوي، د کوم له طريقه چې جيره بندي شوی او د قيمت له نګاه څخه کنترول شوی شی د معاملې لاندې قرار نيسي او هغه مراجع چې د تور پلورونکو د فعاليت لوري او جوانب دي، په چټکۍ سره د پټ قيمت انفلاسيون ته انکشاف ورکوي چې کېدای شي د علني انفلاسيون په مقايسه ډېر خطرناک وي.

د جيره بندۍ او د قيمت د کنترول د ضعيفې او فاسدې ماشينرۍ په صورت کې مخفي انفلاسيون د علني انفلاسيون بدترين شکل ځانته نيسي، ځکه تور بازار يوه رشد موندونکې پروسه ده، يوځل چې منځته راغی، نو بيا قوت مومي او د دوه ډوله ځانګړو معاملاتو د رامنځته کېدو لامل کېږي- قانوني او غير قانوني؛ چې وروستی يې د ړومبي څخه ډېر مهم دی.

په دې نوع مارکېټونو کې په داسې حال کې چې قانوني مارکېټونه د مال التجارې څخه خالي دي، د پېرودنې اضافي قدرت د قيمت شديد انفلاسيون منځته راوړي او يو دفعه چې خلکو تشخيص کړه چې هغه حتی خپلې نسبتاً کمې جيرې پېرودلای نه شي، نو د تور بازار عمليات بيا د هر سړي مصروفيت ګرځي. په دې ډول بازارونو کې يوه معامله د يوې هفتې يا يوې مياشتې سخت کار په نسبت ډېرې پيسې ګټي چې په نتيجه کې مؤلديت ډېر زيات کموالی مومي. پس ويلای شو چې تور بازارونه او ټيټ مورال د مخفي انفلاسيون فرعي محصولات دي. سربېره پردې پټ انفلاسيون د ضروري شيانو د صنايعو څخه چې قيمتونه يې قانوناً تعين شوي وهغو صنايعو ته د توليدي منابعو د غير اقتصادي انتقال موجب کېږي چې داسې شيان توليدوي چې کم ضرورت ورته احساسېږي، ولې قيمتونه يې چې د قيمت د کنترول لاندې نه دي په ازادانه ډول لوړوالی مومي. په دې توګه د زيات توليدي کانالونو څخه وکم توليدي ولې د پيسو له نګاه څخه ډېرو ګټورو کانالونو ته د ټولنې د نادرو منابعو انحراف صورت نيسي، چې د ټولنې او ټولنيزو ګټو له نظره چې رفاه او اسايش يې مستقيماً د خپلو توليدي امکاناتو څخه په مساعدې او بهترې استفادې پورې اړه لري، دا يو خطرناک تمايل دی. د ملتې فريډمن په عقيده پټ انفلاسيون د علني انفلاسيون څخه ډېر بد دی. نوموړی د دويم نړيوال جنګ څخه وروسته د جرمني مثال په پام کې نيسي او وايي چې کله انفلاسيون د اشغالي قوتونو په واسطه چې د قيمت کنترول يې په مؤثره توګه عملي کاوه، مخفي و؛ نو ددې اخفا په نتيجه کې د توليداتو کچه په جرمني (د دوهم نړيوال جنګ څخه وروسته جرمني د امريکا د متحده ايالاتو، برتانيا او فرانسې د مسلحو قوتونو له خوا اشغال شوی ؤ) کې نيمايي ته راکمه شوه؛ ځکه د قيمت سيستم چې د منابعو د مفيد او مؤثر تخصيص لپاره بهترين روش دی اجازه نه درلوده چې فعاليت وکړي. د بلې خوا هرڅه او هرڅومره چې د علني انفلاسيون خطر وي، وي به، ولې په دې ډول انفلاسيون کې د قيمت سيستم فعاليت کوي چې په نتيجه کې يې د منابعو مفيد او مؤثر اختصاص صورت نيسي. په دې توګه موصوف دې نتيجه ګيرۍ ته رسېږي چې که چيرې کوم انفلاسيون موجود وي، نو بايد علني وي، نه مخفي. (۴م۱۹۲)

د تقاضا او تمام شوي مصرف له طريقه انفلاسيون:

اقتصادپوهان د تقاضا او تمام شوي مصرف له طريقه د منځته راغلي انفلاسيون په اړوند هم خبرې کوي، د تقاضا له طريقه انفلاسيون هغه وخت منځته راځي چې مجموعي تقاضا د کامل استخدام د سطحې له حاصل څخه تجاوز وکړي. مستهلکين او پانګه اچوونکي په دې لټه کې وي، چې د حاصل د مجموعي مقدار څخه چې کېدای شي توليد شي، زيات و پېري. دا ډول انفلاسيون په لومړي قدم کې ممکن د پيسو په مقدار کې د زياتوالي له امله منځته راشي، ځکه همدا چې د پيسو مقدار زياتېږي، نو د ربحې نرخ ښکته راځي او په نتيجه کې يې پانګه اچونه ډېرېږي (مګر دا چې پانګه اچونه د ربحې له نګاه څخه کاملاً غير ارتجاعي وي) او دا به د ضريب له طريقه د استهلاکي لګښتونو د زياتوالي باعث شي؛ خو دا

چې اقتصاد د مخکې څخه د کامل استخدام په سطح فعاليت کوي، نو په پانګه اچونه او استهلاکي تقاضا کې زياتوالی به د قيمتونو د سطحې د لوړوالي موجب شي. همدارنګه د تقاضا له طريقه انفلاسيون کېدای شي چې د پيسو په عرضه کې د زياتوالي پرته تحقق ومومي. يعنې هغه وخت چې يا د سرمايې په نهايي بازده ـ د پانګې اچونې په متوقعه مفيديت کې ـ او يا مصرف ته د ميلان د زياتوالي په موجب په مجموعي تقاضا کې زياتوالی راشي. د تمام شوي مصرف له لارې انفلاسيون هغه وخت منځته راځي چې د توليد د عواملو د قيمت د زياتوالي په علت (کله چې د توليد د عواملو په قيمت کې دې زياتوالي د هغوی د مؤلديت د زياتوالي پرته صورت نيولی وي او يا کله چې د توليد د عواملو په قيمت کې زياتوالی د مؤلديت د زياتوالي څخه ډېر وي) تمام شوي مصرف زياتوالی موندلی وي او په نتيجه کې يې قيمتونه پورته تللي وي. دا چې د پلورونکي قيمت د پېريدونکي مصرف دی، نو کله چې کارګري اتحاديې مزدونه لوړوي، تصديګانې قيمتونه جګوي. د يو شي په قيمت کې لوړوالی د ځينو نورو شيانو د قيمت د زياتوالي باعث کېږي او ددې شيانو په قيمتونو کې زياتوالی موجب کېږي، چې د نورو شيانو قيمتونه لوړ شي. په دې توګه د عواملو له طريقه د مختلفو شيانو ترمنځ يوه نېږدې رابطه وجود لري، ځکه کله چې يو شی د نورو شيانو په توليد کې د يو عامل په حيث خد مت کوي، نو کله چې د اولي قيمت لوړېږي د وروستي قيمت هم بايد لوړ شي. مثلاً کله چې د فولادو د کارګرانو د مزدونو د زياتوالي له امله د فولادو قيمت لوړېږي، نو بايد د موټرو او زراعتي ماشين الاتو قيمت لوړ شي. د موټرو په قيمتونو کې زياتوالی بايد د انتقالاتو قيمتونه پورته بوځي، حال دا چې د زراعتي ماشين الاتو ـ ټراکټور، تريشر، تخم شيندونکي او نور ـ په قيمتونو کې زياتوالی بايد د غذا په شمول د زراعتي محصولاتو قيمت لوړ کړي. د غذا او انتقالاتو د قيمتونو لوړوالی باالنوبه د ژوند مصارف زياتوي او په دې توګه د مزد د نرخونو د زياتوالي سبب کېږي. په دې ترتيب کله چې انفلاسيون په يو صنعت کې د تمام شوي مصرف له طريقه منځته راغی، نو بيا ټول اقتصاد په بر کې نيسي.

انفلاسيوني خلا (تشه):

انفلاسيوني خلا د ۱۹۴۱ کال د اپريل په مياشت کې د انګلستان د ماليې وزير د بودجې په اړه په خپلو خبرو کې د حکومت د مصارفو د هغه مقدار په حيث تعين او تعريف کړه چې په مقابل کې يې د ټولنې د کوم بل غړي له خوا د مادي يا بشري واقعي منابعو متقابله واګذاري وجود نلري(۴م۱۹۴). په دې توګه هغه په ثابتو قيمتونو سره د شيانو په مجموعي عرضې باندې د مجموعي تقاضا زياتوالی په ګوته کوي. په بل عبارت که چيرې يې د کامل استخدام د سطحې د واقعي عايد سره په ارتباط کې په پام کې ونيسو، نو ويلای شو چې انفلاسيوني خلا (تشه) په جاري قيمتونو سره د کامل استخدام د سطحې د مجموعي حاصل په مقدار باندې د مجموعي لګښت د مقدار زياتوالی ارايه کوي؛ ځکه که چيرې شيان په جاري قيمتونو سره په پرېمانه اندازه موجود وي، نو د انفلاسيوني خلا مسئله به اصلاً منځته رانشي. برعکس هغه به صرف هغه وخت منځته راشي چې د پولي عايد مجموعي مقدار چې خلک يې د شيانو د پېرودنې په منظور مصرف ته لېوال دي، په جاري قيمتونو سره د کامل استخدام د سطحې د موجود حاصل د مجموعي مقدار څخه تجاوز وکړي. ددې لپاره چې واضح يې کړو چې يوه انفلاسيوني خلا څنګه منځته راځي او څنګه اندازه کېږي، کولای شو د جنګ د وخت اقتصاد چې د کامل استخدام سطحې ته تقرب کوي په پام کې ونيسو، چيرې چې به مجموعي ملي عايد د پانګې اچونې او لګښت لپاره د حکومت د مصرف جمع خصوصي مصرف سره مساوي وي. راځئ فرض کړو چې د ارزش له نګاه څخه په جاري قيمت سره سنجول شوی د مجموعي حاصل يو معين مقدار د مثال په توګه ۹۰۰ ميليونه افغانۍ دي چې ددې مجموعي حاصل څخه حکومت ۲۰۰ ميليون د جنګي اهدافو لپاره اخلي چې دا د ملکي مصرف لپاره ميسر نه دی. په عين وخت کې هغه پولي عايد چې جامعې ته تاديه شوي ۸۰۰ مليون دي، چې ۴۰ مليون ترې بېرته د ماليات په شکل حکومت ته تاديه کېږي او په دې سره به ټولنه يوازې ۷۶۰ مليون پولي عايد چې د مصرف لپاره ميسر دی، په واک کې ولري. لکه څنګه چې پوهېږو په واک کې ټول پولي عايد د شيانو د پېرودنې لپاره په مصرف نه رسي، بلکې يوه برخه يې پس انداز کېږي. که چيرې فرض کړو چې خلک په واک کې د خپل عايد يو فيصد پس انداز کوي، نو هغه عايد چې به مصرف شي ۴، ۷۵۲ مليون افغانۍ وي (۷۶۰ ـ ۲م۷). په دې صورت کې به انفلاسيوني خلا ۴، ۵۲ مليون افغانۍ وي (۴م م۷۵۲ ـ ۷۰۰). چې دا موضوع کېدای شي د لاندې مادل له طريقه په ښه توګه درک شي:

ټولنې ته تاديه شوی پولي عايد	= ۸۰۰ مليون افغانۍ
ماليات	= ۴۰ مليون افغانۍ
په واک کې عايد	= ۷۶۰ (۸۰۰ـ۴۰) مليون افغانۍ
په واک کې عايد څخه پس انداز	= ۷,۲ مليون افغانۍ
د پيش بيني شوي مصرف مجموعي مقدار	= ۷۵۲,۴ مليون افغانۍ
په جاري قيمتونو سره غير خالص ملي محصول	= ۹۰۰ مليون افغانۍ
د جنګ مصرف	= ۲۰۰ مليون افغانۍ
د ملکي مصرف لپاره ميسر ملي محصول	= ۷۰۰ مليون افغانۍ
انفلاسيوني خلا	= ۵۲,۴ مليون افغانۍ (۴م م۷۵۲-۷۰۰)

د انفلاسيوني خلا مفهوم کېدای شي چې د لاندې دياګرام په کومک هم توضيح شي:



په پورته شکل کې C د مصرف تابع، I د خصوصي پانګې اچونې مصرف، G د حکومت مصرف او C+I+G د ټول اقتصاد د لګښت تابع په ګوته کوي. Yf په کامل استخدام کې په جاري قيمتونو سره واقعي عايد دی. کله چې عايد yf وي، نو د خلکو او حکومت له خوا مجموعي لګښت ـ د مصرف او پانګې اچونې لپاره ـ چې د C+I+G منحني په واسطه ارائيه شوی په جاري قيمتونو سره د Yf مجموعي عايد سره مساوي دی او يو تعادل په ګوته کوي چيرې چې انفلاسيوني يا ديفلاسيوني خلا په اقتصاد کې وجود نه لري؛ خو که په يو يا بل د ليل د حکومت مصرف زيات شي، نو په يو معين مقدار (ΔG) به د حکومت مجموعي مصرف د G د پخوانۍ سطحې څخه د Ǵ لوړې سطحې ته زيات او که چيرې قيمتونه ثابت پاته شي، نو يو متقابل زياتوالی به د شيانو په عرضه کې منځته راشي يا د هغې پرته به قيمتونه زيات او په اقتصاد کې به د انفلاسيوني خلا د منځته راتګ باعث شي. دلته ممکن پوښتنه وشي چې په کوم مقدار حاصل يا واقعي ملي عايد بايد زيات

شي؟ ددې پوښتنې په ځواب ويلای شو ددې لپاره چې قيمتونه ثابت پاته شي حاصل بايد په هغه مقدار زيات شي چې وشي کولای اضافي تقاضا چې د حکومت د مصارفو د زياتوالي (ΔG) په موجب منځته راغلې او په دياګرام کې د AB سره مساوي ده جذب کړي. که چيرې حاصل يا واقعي ملي عايد د Yf څخه Yx ته د Yf Yx په مقدار زيات نه شي، نو انفلاسيوني خلا به له منځه لاړه نشي. د Yf په نقطه کې چې د کامل استخدام عايد ښايي C+I+G د AB مقدارپه اندازه چې انفلاسيوني خلا په ګوته کوي د Yf څخه تجاوز کوي. انفلاسيوني خلا د لاندې دياګرام په واسطه چې په يو ډول د پورتني دياګرام څخه رامنځته شوې، هم کېدای شي چې توضيح شي.



په يو څه تغيريافته مفهوم کولای شو چې انفلاسيوني خلا د هغه څه څخه د خصوصي پانګې اچونې (I) جمع د حکومت مصرف (G) د تفاضل په توګه په پام کې ونيسو چې ددې مجموعي مصرف (I+G) د تمويل لپاره ميسر دي. ددې مصرف د تمويل لپاره د وجوهو عرضه د پلان شوي خصوصي پس انداز (S) د مبلغ جمع د حکومت په واک کې عايد (T) څخه عبارت ده. په دې توګه د وجوهو مجموعي عرضه د S+T په واسطه ارائيه شوې ده. د I+Ǵ او S+T منحني چې په پورته شکل کې په ګوته شوې په واقعيت کې د مخکني شکل څخه لاس ته راغلې. د I+G منحني د عايد په هره متفاوته سطح کې د C+I+G تابع څخه د C تابع د وضع کولو او د S+T تابع د مساوات د OE خط څخه چې په هره نقطه کې د عايد او مصرف مساوات په ګوته کوي، د عايد په هره سطح کې د مصرف تابع د وضع کولو له طريقه منځته راغلې ده. د عايد د Yf په سطح کې د سرمايه ګذارۍ لپاره واقعي منابع (S+T) د مجموعي مصرف (I+G) څخه د A1B1 مقدار په اندازه چې په اقتصاد کې د کامل استخدام په صورت کې انفلاسيوني خلا په ګوته کوي، کمې دي.

تر اوسه مو انفلاسيوني خلا په دې فرضيې سره تحليل کړه چې اقتصاد د کامل استخدام په سطح فعاليت کوي او کله چې د حکومت مصرف په کوم اضافي مقدار (ΔG) سره زياتېږي، د حکومت مجموعي مصرف له G څخه و Ǵ ته لوړوالی مومي. خو اوس د کامل استخدام فرضيه پرېږدو او قبلوو چې د عايد د فعلي سطحې څخه پورته د واقعي ملي عايد زياتوالی ممکن دی. دا زياتوالی کېدای شي فوري او آني صورت ونيسي او يا کله چې مصرف زياتېږي د يو معين او ټاکلي وخت په تاخير سره تحقق ومومي. که چيرې په ملي عايد کې زياتوالی د مصرفي تقاضا په زياتېدو سره فوراً صورت ونيسي، نو د انفلاسيوني خلا پرابلم منځته نه راځي، خو لکه څنګه چې پوهېږو د توليد زياتوالی وخت غواړي، حتی که هغه منابع هم

موجود وي چې داسې زياتوالی ممکن کوي. نوې فابريکې بايد اعمار او نوي ماشين الات بايد په کار ولوېږي؛ د زراعتي او معدني توليد د زياتوالي له طريقه اضافي خام مواد بايد لاسته راشي. ډېر ماشين الات او تجهيزات بايد جوړ او کارګران بايد په نوو مهارتونو کې ټرين شي؛ چې ټول دا وخت غواړي او په مختلفو توليدي چينلونو کې سمتدهي ته ضرورت لري. په دې اساس حتی کله چې توليد کولای شي زيات شي بيا هم دا زياتوالی د وخت په تاخير سره صورت نيسي او کله چې مصرف او په تعقيب يې تقاضا زياتېږي، نو ترهغه چې د شيانو يا حاصل عرضه اضافه کېږي قيمتونه لوړوالی مومي. پس ولو که د يوڅه وخت وروسته انفلاسيوني خلا له منځه ځي ولې د وخت په تېرېدو او د حاصل تر زياتېدو پورې به بيا هم د يو وخت لپاره په اقتصاد کې موجود وي.



لکه څنګه چې په پورته شکل کې ليدل کېږي، که څه هم چې په پيل کې انفلاسيوني خلا ، چې د تقاضا (مجموعي مصرف) تفاضل په ګوته کوي او د عايد په OY0 سطح کې مجموعي حاصل يا عرضه ښايي او په موجودو قيمتو سره ددې مصرف د جذب لپاره ميسره ده، AB ده، ولې په نهايت کې کله چې حاصل د OY1 سطحې ته چيرې چې مجموعي مصرف (C+I+G) د موجود مجموعي حاصل (OY1) سره مساوي دی، زياتوالی مومي؛ نو دا خلا له منځه ځي. په دې توګه کله چې واقعي عايد د OY0 څخه OY1 ته زياتېږي، نو نا رفع شوې يا اضافي تقاضا وجود نه لري. لکه څنګه چې په پورته شکل کې ليد ل کېږي انفلاسيوني خلا د B ، C ، D ، E له طريقه جمع کېږي او د F په نقطه کې له منځه ځي او همدا چې د واقعي نګاه څخه حاصل اضافه کېږي په قيمتونو باندې فشار هم کمېږي. په بل عبا رت د هرې دورې څخه وروسته انفلاسيوني خلا نيژدې کېږي او کله چې حاصل د Y0 څخه Y1 ته زيات شي نو له منځه ځي. لېکن زمونږ د فرضيې په صورت کې دا چې حقيقي عايد د کامل استخدام د سطحې د واقعي عايد (Yf) څخه بيرون زياتېدای نه شي، نو واقعي عايد د Yx سطحې ته نه شي رسېدای. د Yf په واقعي عايد کې مجموعي مصرف يا تقاضا (C+I+Ǵ) د مجموعي حاصل څخه تجاوز کوي او لکه څنګه چې په لومړي شکل کې ليدل کېږي، د AB په اندازه يوه انفلاسيوني خلا منځته راوړي. دا انفلاسيوني خلا به د قيمتونو د لوړوالي باعث او دا چې د کامل استخدام د فرضيې په صورت کې د قيمتونو زياتوالی په هيڅ صورت د Yf څخه بيرون د واقعي حاصل د زياتوالي سره مرسته نه کوي، نو د قيمتونو لوړوالی او د هغې لارې انفلاسيون به دوام وکړي، مګر دا چې په کوم دليل C ، I يا G د هغوی د اوسنۍ سطحې څخه ښکته راشي.

د انفلاسيون زيانونه:

انفلاسيون مخکې له دې چې د کنترول څخه خارج شي، داسې يوه فضاء منځته راوړي چې د انقباضي په نسبت انبساطي وي، او دا چې يوه کاروباري شګوفايي (ترقي) په يوه کمه اندازه د ژوند د مصارفو د زياتوالي او د استخدام د يوې لوړې سطحې سره يوځای وي او د بلې خوا که څه هم چې د ټولنې لنډمهاله ګټه د هغې د اوږدمهالې ګټې متضاد ده، خو په حاضر وخت کې لومړنۍ ډېره محسوس او جذابه ده؛ نو دا به ډېره ګرانه وي چې يو عمومي مناسب ملاتړ او حمايت د ابتدايي انفلاسيون پر ضد د مجادلې لپاره لاسته راوړو. ټول د شګوفايي (ترقۍ) آني او فوري ګټې خوښوي، پرته له دې چې حتی د يوې لحظې لپاره درک کړي چې ممکن د نېکمرغۍ داسې وضع او حالت انکشاف وکړي، کوم چې نه يوازې ادامه موندلای نه شي، بلکې په نهايت کې کېدای شي چې په يوې اقتصادي بدمرغۍ باندې تمام شي. هغه پولي تغيرات چې د مجموعي توليد د زياتوالي باعث نه شي، صرف تر هغې اندازې پورې مهم دي چې په مختلفو لارو او مختلفو درجو په ټولنه کې مختلف طبقات او خلک تر اغېزې لاندې نيسي. که چېرې انفلاسيون په جامعه کې هر وګړی کاملاً په عين ډول او په عين درجه تر تاثير لاندې نيولای، نو دا به په هيڅ صورت د اجتماعي اهميت لرونکی نه وای. مثلاً که چېرې هر قيمت دوه چند شي، نو په اقتصاد کې به اقتصادي اړيکې تغير ونکړي. ولې هغه ډېر مايوسانه رويداد چې انفلاسيون ورسره يوځای دی دا دی چې هغه پرته له دې چې د اجتماعي عدالت اصول په پام کې ونيسي، د ځينو خلکو څخه په مطلقه توګه ثروت اخلي او نورو ته يې تسليموي. ددې سره سره دا زيرکانه غلا کاملاً قانوني ده. په دې توګه انفلاسيون کېدای شي د يو غل يا لاره وهونکي سره مقايسه شي؛ دواړه قرباني د ځينو دارايو څخه محروموي، خو په دې تفاوت سره چې غل مريي او انفلاسيون غير مريي دی. د غل قرباني په عين وخت کې کېدای شي يو يا څو وي، ولې د انفلاسيون قرباني ټول ملت دی. غل کېدای شي محکمې ته کش شي، ولې انفلاسيون قانوني دی. هغه کسان چې د انفلاسيون د بلوسيو څخه ډېر متاثيره کېږي، ځوانان ، زاړه، مريضان، کونډې، کوچني پس انداز کوونکي خلاصه ټول هغه کسان دي چې په کمه اندازه د ځان په تامينولو قادر وي. انفلاسيون د ټولو هغو کسانو لکه متقاعدين، معلمين، معاش لرونکي، د حکومت کارمندان او نورو لپاره چې په ثابتو عوايدو ژوند کوي، مشکلات منځته راوړي. طولاني او دوامداره انفلاسيون د ټولنې اساسات تخريبوي، د هرې کورنۍ غېږ ته ځان رسوي، پس اندازونه فرسوده کوي، او د مريضۍ، تعليم او زړېښت لپاره پيشبينۍ نقب ګذاري کوي. د انفلاسيون د زيانونو څخه منځنۍ طبقه ډېره متاثيره کېږي، لکه څنګه چې Angell په جرمني کې د جنګ څخه وروسته انفلاسيون په وخت کې د منځنۍ طبقې په هکله وايي: ((هغه ګروپ چې د يوې خوا په کمه اندازه د ځان په دفاع قادر و، او د بلې خوا د انفلاسيون څخه ډېر زيانمن شو، د منځنۍ طبقې او په خاص ډول شهري اوسېدونکي چې د کمو ثابتو عوايدو لرونکي وو، لکه معاش لرونکي مامورين، کاتبان، متقاعدين او هغه پانګه اچوونکي چې په ربح او کرايه (اجاره) باندې يې ژوند کاوه؛ د دوی څخه بيا وروستي خو د شهري کرايو (اجارو) د حکومتي کنترول له طريقه لا ډېر متاثر شوي وو، هغوی د انفلاسيون سره د مبارزې نه لازمه پوهه او نه مجال درلود)).

Kemmerer هم Angell ته ورته نظر لري او وايي: ((منځنۍ طبقې، چې د سخت کار او صرفه جويۍ په واسطه يې د پس انداز يو فند منځته راوړی، ترڅو خپل ماشومان تربيت او د مريضۍ او زړېښت لپاره يو معيشت اماده کړي، د جدي انفلاسيون په وخت کې يې ځان په ډېر سخت وضعيت کې وموند، ځکه د ژوند مصرف د عايد په نسبت په غيرمتناسب ډول لوړېده، پس اندازونه له منځه تلل، او سخت کار، استقلال، او صرفه جويي مبهم او بې معنی مفاهيم شول. په داسې شرايطو کې منځنۍ طبقې اغلباً د بيهوده ګۍ او نا اميدۍ احساس کاوه)) (۴م۱۹۸). په دې توګه که څه هم چې په عمومي ډول د هېواد ټول خلک زيانمن کېږي، خو د انفلاسيون چې د ريښې څخه د ټولنې جوړښت متزلزله کوي، بدترين قربانيان هغه خلک دي چې په منځنۍ طبقې پورې اړه لري. د لومړي نړيوال جنګ څخه وروسته په جرمني، استريا، پولنډ او فرانسه کې منځنۍ طبقه په نوموړو هېوادونو کې د شديد انفلاسيون له امله کاملاً له منځه تللې وه. په جرمني کې د يوې اوږدې مودې په ترڅ کې د منځته راغلي ثروت او موقف يو زيات شمېر کورنۍ په ګدايانو تبديل شوې، د زړې منځنۍ طبقې کورنۍ ناپديد شوې، پس اندازونه او پانګه اچونې بې ارزښته شوې، داسې چې د انفلاسيون په وخت کې د ټول عمر پس اندازونو حتی د قهوې يوه پياله پېرودلای نه شوه. انفلاسيون همدارنګه عامه مورال او روحيه له منځه وړي، په ټولنه کې د

خلکو تر منځ د ثروت د مجددې توزيع په واسطه چې په کورکورانه او مطلق ډول د عدالت او مساوات د اصولو برخلاف د يو د غارت کولو او بل ته د تاديه کولو جريان لري، په حکومت او اخلاقي نورمونو دواړو باندې د خلکو قوي باور متزلزله کوي او هغه خلک چې په مطلقه توګه د خپل ژوند د پس اندازونو څخه چې د سخت کار له طريقه يې جمع اوري کړي، ددې قانوني غل په واسطه محرومېږي، طغيان او شورش کوي. د قوي او شديدو انفلاسيونونو مراحل مطلقاً د ټيټو اخلاقي معيارونو او حکومت ته د احترام د کموالي مراحل دي او دا چې څومره عامه روحيه د انفلاسيون په ترڅ کې انحراف کوي، کېدای شي په فرانسه کې د فرانسې د انقلاب په وخت کې د فرماني پيسو د انفلاسيون په اړوند د لاندې بيان څخه تثبيت شي: ((يو د مرض د عميقو علايمو څخه چې اوس يې ځان ښودلی د فرانسې د خلکو د ذهن څخه د صرفه جويۍ له منځه تلل و. فرانسويان ذاتاً صرفه جويان دي، ولې د پيسو د داسې اندازو سره او په راتلونکو ارزشونو باندې د داسې شک و ترديد سره د پس اندازونو او مواظبت لپاره عادي انګېزې کمې شوې او په پراخه پيمانه عياشي په ټول هېواد کې خپره شوه. ددې سره سره بدترينه نتيجه يې د احتکار او قمار اضافه کېدل و. د فرانسې په سترو ښارونو کې عياشي او سؤاستفادې منځته راغلې چې د غارت په نسبت ډېرې خطرناکه وې. په هېواد کې د قمار روحيه ورځ تر بلې زياتېده چې د کاروباريانو په وړاندې دا نه بې باکه او نه فاسده روحيه وه. دا روحيه په رسمي حلقاتو کې هم خپره شوه او عوام چې څوکاله مخکې يې د ټولې الوده ګۍ څخه پورته ګمان کېده، عياش، بې باک او بالاخره فاسد شول. د عامه مورال د انحراف او د ټيټو اخلاقي معيارونو د بدترينې نوعې يوه وضع د جنګ څخه وروسته د شديد انفلاسيون په وخت کې په جرمني کې هم منځته راغله. په دې وخت کې د ښځو په جامو کې سلګونو نارينه و او د نارينه و په جامو کې سلګونو ښځو د پوليسو تر سترګو لاندې د برلين په بالرومونو کې رقص کاوه او ځوانو نجونو به په وياړ سره په خپل انحراف فخر کاوه)). (۵م۸۴)

د دوه نړيوالو جنګونو ترمنځ په پرمختللو هېوادونو کې انفلاسيونونو نه يوازې اقتصاد تخريب کړ، بلکې د اجتماعي او سياسي سترو تغيراتو لپاره يې زمينه هم مساعده کړه، لکه څنګه چې په جرمني کې په قدرت باندې د هټلر د منځته راتګ عمده دليل د هغه هېواد شديد انفلاسيون و. انفلاسيون منځني طبقات او اجتماعي هماهنګي له منځه وړي، کارګران غريبوي، محتکرين او تور بازارکوونکي خوشبخت کوي او د راديکالو قوتونو لپاره زمينه مساعدوي چې په قدرت راشي. که څه هم چې کاروباريان، مديونين او مؤلدين د انفلاسيون په وخت د قيمتونو د دايمي زياتوالي څخه ګټه اخلي ولې دائينين متضرر او مزد حاصلوونکي هم ډېرې سختۍ ګالي. پس انداز ته د پانګه اچوونکې طبقې په ظرفيت او ارزو دواړو کې کموالی راځي او په نتيجه کې د سرمايې په تراکم کې د کموالي له طريقه جامعه نه تخمين کېدونکي اضرار تحمل کوي، خو هير مو نه شي چې د انفلاسيون څخه ټول مزد حاصلوونکي په يوه اندازه نه متضرره کېږي. هغوی چې په حکومتي خدمتونو او تخصصي حرفو کې کار کوي، د غير ماهرو او روزمزدو کارګرانو په نسبت ډېر رنځ وړي. د بلې خوا په کارګري اتحاديو کې تنظيم کارګران د غير تنظيم شوو کارګرانو په مقايسه کم ضرر ويني، خو عمده او اساسي خطر هغه وخت منځته راځي، چې د مارکېټ د غلطې بررسۍ په وجه تمام شوی مصرف لوړ او د قيمت د زياتوالي له طريقه مشتري ته يې انتقال ګران شي، او دا چې د قيمت مفاد فشار وجود لري، نو د مفاد د فشار له امله په سرمايه ګذاريو، عايد او توليد کې کموالی راځي او د استخدام سطح ټيټېږي. د بېکارۍ په دوام سره پس اندازونه له منځه ځي، د کاروبار پلانګذاري او د پانګې اچونې اوږد مهاله پروګرامونه په خطر کې لوېږي، او دا چې د استهلاک مصارف او د مفاد پيشبينۍ تحريفوي، نو د کاروبار د زياتوالي او کموالي لپاره يو واقعي تهديد دی. انفلاسيون د هېواد اقتصاد د ارزش د ذخيرې او د حساب د يو باثباته واحد څخه محروموي، په خلکو کې د پس انداز عادت له منځه وړي، د ربحې نرخ لوړوي، او د پولي مارکېټ توازن مختل کوي.

د انفلاسيون د له منځه وړلو لارې چارې:

د انفلاسيون د اجتماعي او اقتصادي زيانونو په پام کې نيولو سره ويلای شو، چې د هغه څخه د رضايت کوم امکان نشته او په مؤثره توګه يې بايد د له منځه وړلو لپاره لارې چارې ولټول شي. د بلې خوا د اقتصادي او اجتماعي ثبات او د يوې سالمې ټولنې د موجوديت د مخکېنې شرط په توګه انفلاسيون مخکې له دې چې د اقتصاد مختلفو برخو ته سرايت وکړي، بايد له منځه ولاړ شي او دا چې انفلاسيون اساساً د منابعو د کامل استخدام څخه پورته شيانو او خدمتونو ته په مجموعي

مؤثرې تقاضا کې د زياتوالي له امله رامنځته کېږي، نو په لومړي قدم کې بايد د نهايي سطحې څخه لاندې د هغې د ساتلو لپاره اقدام وشي. مصرف ته ميلان کېدای شي د لوړو مالياتو او يا د قرضوي اسنادو او نورو پس اندازي وسايلو د پېرودلو په واسطه پس انداز ته د ميلان د زياتوالي او يا حتی د ربحې د نرخ د لوړوالي له طريقه کم شي چې نوموړي اقدامات کېدای شي په لاندې درې کټګوريو کې ځای په ځای شي:

۱. مستقيم اقدامات ۲. پولي اقدامات ۳. مالي اقدامات

د اولې کټګورۍ اقدامات اختياري يا اجباري او يا دواړه اقدامات په بر کې نيسي؛ اختياري اقدامات د اختياري پس اندازونو د طرحو، د مصرف د داوطلبانه مخنيوي او نورو څخه مرکب دي چې د يو لړ جدي محدوديتونو سره مخامخ دي، لکه د جنګ د انفلاسيون يو حالت. د بلې خوا د انفلاسيون په وخت کې پس اندازونه ددې لپاره چې تر يو حده مؤثر وي، بايد په پراخه پيمانه د هغو خلکو له خوا صورت ونيسي چې د عايد په ټيټه سطح کې قرار لري، ځکه دوی عمدتاً په اقتصاد کې پرته له دې چې په عين وخت کې د توليد حجم زيات شي، د مصرف سطح لوړه وړي؛ خو عملاً دا به ډېره ګرانه وي چې د ټيټ عايد لرونکي ګروپونه په اسانۍ سره د حکومت غوښتنې ته مثبت ځواب و وايي او په داوطلبانه توګه د پس انداز عادت ته انکشاف ورکړي، ترڅو د انفلاسيون ضد ثابت شي؛ ځکه يوه کورنۍ چې د عايد د کموالي له امله خپل دسترخوان کې د مسکې په اضافه کولو قادره نه ده، نو په کافي اندازه د عايد په زياتوالي سره به په هيڅ صورت د هغې د مصرف څخه ډډه و نکړي. پس که څه هم چې ممکن مسکه او نور مصرفي اقلام جيره بندي شوي وي، ولې د مصرفي تقاضا د لوړوالي څخه کېدای شي د اختياري پس اندازونو په نسبت د کومو نورو قوي وسايلو په واسطه مخنيوی وشي. د پس انداز کولو داوطلبانه ميتود صرف انفلاسيون محدودوي، اما د هغه د وقوع څخه مخنيوی نه کوي. ددې لپاره چې يو څه په مؤثره توګه د هغه پر ضد اقدام شوی وي، نو بايد د جاري مزد ومعاش د کموالي او د کارګرانو د پس انداز په حساب کې د هغوی د کريد ت کولو له طريقه د اجباري پس انداز طرح تر لاس لاندې ونيول شي. دا طرح په تاديه کې د تاخير د طرحې په نوم هم شهرت لري او اکثراً د جنګ او د جنګ څخه وروسته انفلاسيونونو د مخنيوي پخاطر په کار وړل کېږي. البته هغه مبلغ چې د کارګرانو د پس انداز په حسابو کې پاته کېږي د انفلاسيون تر ختمېدو او د کساد تر پيل کېدو پورې په نوموړو حسابو کې بلاک وي. ددې طرحې دوه اړخيزه برتري په دې کې ده چې نه يوازې د انفلاسيون بلکې د کساد څخه هم مخنيوی کوي او په دې توګه په سيستم کې د اقتصادي ثبات د تشويق باعث ګرځي. په مؤثره مجموعي تقاضا کې د زياتوالي مخنيوی د قيمت د کنترول او جيره بندۍ په واسطه هم کېدای شي، ولې په ازادو ټولنو کې سياسي تمايلات ددې ډول اقداماتو مانع او د خلکو د مختلفو اقشارو د خشم او مخالفت باعث کېږي. نور دوه وسايل (اقدامات) چې اکثراً د انفلاسيون د مخنيوي پخاطر ترې استفاده کېږي، د پولي او مالي سياستونو څخه عبارت دي. نوموړي اقدامات (سياستونه) د انفلاسيون ضد مؤثرې پاليسۍ لازمې او متممې برخې دي؛ د پولي سياست د مهمو وسايلو څخه چې د کريدت په شرايطو باندې د اغيزې په منظور د مرکزي بانک په واک کې وجود لري، د هغې پروسې څخه عبارت دی چې د ازاد بازار د عملياتو په نوم شهرت لري، په بل عبارت په ازاد مارکېټ کې د ارزش لرونکو حکومتي اوراقو پېر او پلور. کله چې مرکزي بانک په ازاد مارکېټ کې ارزش لرونکي حکومتي اوراق پېري، نو په دې په مجموعي بانکي اماناتو او د هغې لارې د هېواد په بانکي سيستم کې د کريدت د خلق کولو ظرفيت زياتوالی مومي.

بر عکس د مرکزي بانک په واسطه د ارزش لرونکو حکومتي اوراقو خالص پلور بيا د غړو بانکونو نغده رزرف کموي، ځکه چې مرکزي بانک ته بايد د نغده رزرفونو څخه تاديه شي. د هغوی په رزرفونو کې کموالی ددې باعث کېږي چې بانکونه خپل د قرض ورکونې او پانګې اچونې فعاليتونه محدود کړي، کوم چې به باالنوبه د ربحې د نرخ د زياتوالي او د پيسو په مارکېټ کې د نرخ د تنزيل په نسبت د نرخ د پورته والي موجب شي او په دې توګه د تنزيل په نرخ کې د لوړوالي لپاره لار پرانيزي. د بلې خوا د بازار په نرخ کې کوچني نوسانات شک او ترديد منځته راوړي او د اينده معاملاتو په اړوند د احتياط د رامنځته کېدو له طريقه د کريدت د لامحدودولو لپاره خدمت کوي. د بانک د نرخ لوړوالی د انفلاسيون پرضد مجادله کې د مرکزي بانک د مقاماتو لپاره يوه بله وسيله ده؛ د بانک نرخ د ربحې د هغه نرخ څخه عبارت دی چې يو غړی بانک يې بايد د لومړۍ درجې او نورو تصويب شوو با ارزښته اوراقو په مقابل کې د مرکزي بانک څخه د قرض کولو له طريقه د وجوهو د

لاسته راوړلو په وخت کې تاديه کړي. د بانک په نرخ کې لوړوالی په ګوته کوي چې پولي او کريدتي پاليسي د محدودولو په لور سمتدهي شوې ده او د محدودوالي په وخت کې د بانک په نرخ کې نور لوړوالی تحديدي عمل تقويه کوي. د بانک د نرخ د تثبيت توانمندي ډېره مهمه ده، ځکه که چيرې د کريدت عرضه د موجودو شيانو او خدمتونو په نسبت زياته شي، نو قيمتونه د لوړوالي په لور ميلان کوي؛ په داسې وضع کې د بانک په نرخ کې لوړوالی معمولاً په کريدت يا سايکالوژي مهم تاثير اچوي او بانکي سيستم او نور قرض ورکوونکي واداره کوي چې خپله د قرض ورکونې پاليسي د سره امتحان او د کريد ت شرايط له سره ارزيابي کړي.

بله وسيله چې د هغې په واسطه د مرکزي بانک مقامات کولای شي محدود کوونکې اغېزه اعمال کړي، د غړو بانکونو لپاره د رزرف د نسبت د مطالباتو زياتوالی دی چې په نتيجه کې يې نغدي ذخاير چې د کريدت د توسعې لپاره د يو اساس په توګه عمل کوي کمېږي. د رزرف په نسبت کې زياتوالی د رزرف هغه مبلغ پورته بيايي چې غړي بانکونه يې بايد هغوی سره د هر واحد پولي امانت په مقابل کې وساتي. نوموړی زياتوالی بانکونه مجبوروي چې يا زيات رزرفونه لاسته راوړي او يا د قرض ورکونې او پانګې اچونې د فعاليتونو د کموالي له طريقه امانات کم کړي. د رزرف د اضافه کولو د توانمندۍ موجوديت او تمرين حتی که په کمه پيمانه ترې استفاده هم شوي وي، بيا هم بانکونه واداره کوي چې زيات محتاط اوسي او په دې توګه کريدتي تحديدي پاليسي تقويه کوي. ولې پولي پاليسي د انفلاسيون په مخنيوي کې د يو لړ محدوديتونو سره مخامخ ده. اول دا چې کله عوايد هم د اوږدې او هم د لنډې مودې لپاره لوړ وي (په بل عبارت کله چې د سرمايې نهايي مفيديت لوړ وي) نو پانګې اچونې به د ربحې په نرخ کې د حرکاتو په مقابل کې نسبتاً بې تفاوته وي. په داسې يو حالت کې به د مثال په توګه د فولادو يوه کمپنۍ هيڅکله هم په مارکېټ کې خپل سهم او يا د خپل مشتري د اړتياوو د رفعې په خاطر د خپلې توانمندۍ سودمندي په دې علت چې پيسې د هغې تمام شوی مصرف يو څه لوړ بيايي، په خطر کې وانچوي. بل دا چې حکومت نه شي کولای واقعي پانګې اچونو سره په شايد وبايد شکل برخورد وکړي او يا ډېر ځله پکار وړل شوې پاليسي په عمل کې ډېرې ضعيفې او بې تاثيره وي. د پولي پاليسۍ جدي محدوديتونه معمولاً د انفلاسيون په مخنيوي کې د يوې درستې مالي پاليسۍ اهميت زياتوي. د حکومت د مصارفو او قرض اخيستنې په ترکيب او اندازه کې تغيرات کولای شي، پولي تاثيرات قوي يا ضعيف کړي. د حکومت د مصارفو ځينې برخې خو بيا د ضد سايکلي خصوصيت لرونکي دي چې په اتومات ډول په کسادي او انفلاسيوني تمايلاتو باندې اغېزه کوي. د حکومتي مصارفو د کموالي او د مالياتو د زياتوالي له طريقه په بودجه کې تفاضل د انفلاسيون پر ضد مجادله کې د مالي سياست يوه مهمه وسيله ده. د حکومت په بودجه کې تفاضل هغه وخت منځته راځي چې مصارف د عوايدو څخه کم وي. ددې تفاضل يو عمده شرط برګشتي ماليات او د ټولګټو پروګرامونو کموالی دی. د انفلاسيون په حالت کې د خلکو د پېرودنې قدرت او د ملت مالياتي ظرفيت تر زياتې اندازې پورې کمېږي، خو که د پيسو ارزش زيات او هېواد د بېکارۍ سره مخامخ نه وي، نو په دې صورت کې د خلکو مالياتي ظرفيت کاملاً لوړ وي. (۳م۳۲۸)

د انفلاسيون د مخنيوي په خاطر د مالي سياست بله وسيله د حکومت د قرض کموالی دی، د انفلاسيون په وخت د حکومت هدف بايد د مالياتو له طريقه د ملاحظې وړ خالص نغده مازاد لاسته راوړل وي. خالص نغده مازاد د انفلاسيوني فشار د کموالي لپاره يوه ډېره مؤثره وسيله ده. د مالياتو تاديه خصوصي امانات او د بانک رزرفونه کموي او د حکومت مصارف د معکوس تاثير لرونکي دي. په دې توګه د انفلاسيوني فشار په مخنيوي کې هغه طريقه چې په کې نغده مازاد د قرض په منزوي کولو کې پکار وړل شوې، خورا مهمه ده. انفلاسيون سره د مجادلې لپاره د مالي سياست بل ميتود د ربحې د جذاب نرخ سره د حکومت د جذابو پس اندازي اسنادو نشرول دي. په انفلاسيوني دوره کې شخصي او کاروباري دواړه اضافي پس اندازونه د ثبات د تشويق د ډېرو مؤثرو وسايلو څخه يوه مهمه وسيله ده. که چيرې نوموړي پس اندازونه په حکومتي ارزش لرونکو اوراقو کې سرمايه ګذاري شوي وي، نو حکومت وجوه لاسته راوړي او کله چې حکومت د عامه اضافي پس اندازونو له طريقه قرض کوي، نو خصوصي مصرف د حکومت په واسطه د قرض کړې شوي مبلغ په اندازه کمېږي؛ ولې کله چې حکومت د انفلاسيون په دوره کې د بانک څخه قرض کوي، نو ډېر کم احتمال لري چې د بانک څخه د قرض شوو وجوهو حکومتي مصرف په خصوصي مصرف کې د کموالي له خوا تعقيب شي.

د مالياتو هغه پاليسي چې د توليد د محدودېدو پرته د تقاضا د محدوديدو په لور رهبري شوي وي، انفلاسيون سره د مجادلې يوه بله مالي وسيله ده. همدارنګه په لوکسو شيانو لکه تنباکو، اوتوموبيل، جواهرات او نورو باندې غيرمستقيم ماليات که څه هم چې د استهلاکي شيانو د مارکېټ څخه د پېرودنې قدرت ليرې کوي، ولې پرته له دې چې د توليدي ظرفيت د توسعې مانع شي، موجودو شيانو ته د تقاضا د محدود کولو يوه مناسبه وسيله تهيه کوي. د انفلاسيون په دوره کې د حکومت د مصارفو خاصتاً عامه کارونو په تعويق اچول د استقراري تاثيراتو لرونکي دي. په عامه سکتور کې د کارګر او موادو لپاره حکومتي مصارف په خصوصي سکتور کې د توليدي ظرفيت د توسعې لپاره د مصارفو سره رقابت کوي، مګر دا چې هغه عامه کارونه چې بايد په تعويق ولوېږي، اقتصاد ته د کوم جدي تاوان پرته د مادي نګاه څخه د اقتصاد توليدي ظرفيت زيات کړي؛ ولې د حکومت يا د هغه د نمايندګيو (مرکزي بانک او مالي مقامات) له خوا د انفلاسيون ضد دغه اقدامات په سيستم کې په اتومات ډول د اجراء قابليت نه لري. ددې لپاره چې نوموړي اقدامات مؤثر وي، هغوی - ولو که په مختلفه درجه وي- بيا هم د هغو خلکو فعالانه او ارزومندانه همکاري ايجابوي، د چا په ګټه چې نوموړي اقدامات صورت نيسي.

ديفلاسيون (Deflation):

لکه څنګه چې انفلاسيون د قيمتونو په سطح کې د لوړوالي سره يو ځای دی، ديفلاسيون بيا هغه پديده ده چې د قيمتونو د لوېدو سره ملګرې ده. په بل عبارت ديفلاسيون اساساً د قيمتونو د لوېدو موضوع ده، ولې په قيمتونو کې نه هر نوع لوېدل د ديفلاسيون په معنی دي، مثلاً د قيمتونو هغه لوېدل چې لوړې سطحې ته د انفلاسيون د رسېدو څخه وروسته صورت نيسي نشي کېدای چې د ديفلاسيون سره يوځای وي. داسې لويدل صرف انفلاسيون سره د مجادلې په معنی دي، نه د ديفلاسيون؛ ځکه چې د قيمتونو د لوېدو په نتيجه کې په اقتصاد کې کومه بېکاري او د حاصل کموالی منځته نه راځي. په دې توګه د قيمتونو په سطح کې هر لويدل د حقيقي ديفلاسيون په مفهوم نه دي، بلکه صرف د قيمتونو هغه لويدل چې په تعقيب يې بېکاري او په حاصل کې کموالی منځته راشي. پس ويلای شو چې ديفلاسيون د چارو هغه حالت دی چې په کې د قيمتونو هر لويدل په اقتصاد کې بېکاري او د توليد د عواملو د عوايدو لويدل اضافه کوي.

د ديفلاسيون ضررونه:

د انفلاسيون برخلاف چې مجموعي مؤثرې تقاضا کې د زياتوالي له امله چې متقابلاً په توليد کې د زياتوالي سره يوځای نه دی، منځته راځي؛ ديفلاسيون اساساً د پيسو په مقدار کې د کموالي له طريقه په مجموعي مؤثره تقاضا کې د انقباض نتيجه ده. ديفلاسيون د انفلاسيون برعکس چې تل د قيمتونو د لوړوالي سره مل دی، د قيمتونو د لويدو، د بېکارۍ د زياتېدو او په يو سيستم کې د اقتصادي ثبات د تهديد باعث کېږي. دا چې ديفلاسيون څومره د بشري ټولنې لپاره مضر او خطرناک دی، کېدای شي چې د شلمې پېړۍ د ۳۰ مو کلونو د نړيوال بحران د عواقبو او نتايجو له مخې تر قضاوت لاندې ونيول شي. د بحران په وروستيو يعنې په ۱۹۳۲ کې د امريکا په متحده ايالاتو کې تقريباً ۱۵ مليون نفر بېکار وو او په مليونونو بېکاران به د مزد د سطحې په پام کې نه نيولو سره د کار په لټه په کوڅو او خيابانونو کې ګرځېدل، خو يوازې د هغو علامو سره چې د کاري موسساتو په دروازو او بيروني ديوالو به ځړېدل او پرې به ليکلي و، چې (خدمت ته اړتيا نشته) مخامخېدل. په همدې توګه په انګلستان کې هم د بحران په وخت د بېکارانو شمېر خورا زيات و. بېکاري جنګ ته ورته يو مصيبت دی چې په هر قيمت يې بايد مخنيوی وشي. (۷م،۱۲۰)

ديفلاسيون په ټولنه کې خلک بې روحيه کوي او د بېکارۍ له طريقه د هغوی د تغذيې مانع ګرځي چې د ټولنې له نقطه نظره د بېکارۍ اضرار کاملاً واضح دي. په قصيرالمدت کې که څه هم چې د توليد په حجم کې کموالی د خلکو د ژوند د سطحې لوړوالی مشکل کوي، ولې په طويل المدت کې د ټولنې لپاره د بېکارۍ تاثيرات لا بد دي. په بل عبارت د ديفلاسيون دايمي تاوان دادی چې د بېکار شخص توليدي کفايت بېکاره او د استفادې نه وباسي، ځکه يو شخص چې د اوږدې مودې لپاره د کار نه بيرون وي، نو د وخت په تېرېدو سره خپل مهارت له لاسه ورکوي چې بيا لاسته راوړل يې ډېر ګران دي. بېکار همدارنګه د نورو مختلفو لارو څخه خلک بې روحيه کوي، لکه يو زوړ متل چې وايي (د يو بېکار شخص ذهن د شيطان

ورکشاپ دی) کاملاً درست دی. بېکاري د شريرو کسانو شمېر زياتوي، کومو چې د هغې پرته کولای شول د با احترامه کاري اتباعو په توګه د ټولنې خدمت وکړي. دا بېکاره کسان د ټولنې په بدترينو دښمنانو بدلېږي او کافي توان لري چې د ټولنې اساسات خراب کړي؛ البته هغه قيمت چې د بېکارۍ د له منځه وړلو لپاره تاديه کېږي، کم دی؛ خو په دې شرط چې د اجتماعي نګاه څخه په پام کې نيول شوی وي. ديفلاسيون د قيمتونو لويدل، د نهايي مفاد کمښت، د توليد، کاروباري فعاليتونو او د استخدام د سطحې ټيټوالی په بر کې نيسي. نهايي ديفلاسيون چې د کاروباري سايکل په ترمنالوژۍ کې د بې نهايت ټيټو قيمتونو، کمو کاروباري فعاليتونو، او قوي بېکارۍ د يوې دورې په توګه شهرت لري؛ د بحران يا کاروباري بحران په نوم هم يادېږي. هير مو نه شي چې کله قيمتونه ټيټېږي، واقعي عايد لوړېږي او منځني طبقات ګټه کوي، خو په دې شرط چې د هغوی عوايد ثابت پاتې شي، ولې ثابتو عوايدو سره خلک هغه وخت کولای شي چې ګټه وکړي چې خپلې وظيفې وساتي. حال دا چې د بېکارۍ د زياتوالي په وخت کې د وظيفې ساتل ډېر ګران دي، ځکه فابريکې، تاسيسات او دستګاوې يو په بل پسې بسته او کارګران يې رخصتېږي، البته نه په دې خاطر چې د خلکو غوښتنې او اړتياوې ارضا شوي، بلکې دا چې د مارکېټ تقاضا دفعتاً کمه شوې ده. په دې توګه ويلای شو چې ديفلاسيون د ملي عايد د کموالي په معنی دی چې په نتيجه کې يې د ټولنې هره برخه متضرره کېږي. د معيشت له پلوه د اغنياوو پولي تاوان چندان عمده او د تشويش وړ نه دی، ځکه هغوی پخواني پس اندازونه لري چې پرې ژوند وکړي، ولې منځنۍ طبقه په ځانګړې توګه د ټولنې غريبې برخې ډېره خساره ويني. د مليونونو توانمندو ښځو او سړو لپاره ډېره ګرانه ده، ددې پر ځای چې په فابريکو او کارخانو کې کار وکړي، د خير وخيرات د لاسته راوړو پخاطر د دارالمساکينو او اعاني دفترونو مخ ته په قطارونو کې ودرېږي. له دې نګاه څخه ديفلاسيون د انفلاسيون څخه ډېر بد دی، ځکه انفلاسيوني تمايلات تر زياتې اندازې پورې کېدای شي چې کنترول شي. يوازې په اتفاقي ډول د کنترول څخه وځي، چې مسؤليت يې هم خپله د حکومتي اشتباهاتو پر غاړه دی؛ لکه څنګه چې ټول ستر انفلاسيونونه د بې پيسو حکومتونو له خوا د پيسو د توسعې په نتيجه کې منځته راغلي، ولې ديفلاسيون چې يو ځل شروع شو، نو ډېر ژر د کاروباريانو او بانکرانو ترمنځ په بدبينۍ تمامېږي او د کنترول څخه وځي. په ډېرو حالاتو کې يو هېواد بحران په يو بل ځای کې د بحران په نتيجه کې تجربه کوي، لکه څنګه چې د ۱۹۲۹ـ۳۳ نړيوال بحران په ګډون ټول بحرانونه ددې ادعا ثبوت دی.

د ديفلاسيون پر ضد د مجادلې لارې چارې:

ددې لپاره چې د ديفلاسيون پر ضد مجادله وشي، نو هلې ځلې که د مصرف د لوړېدو او که په اقتصاد کې د پانګې اچونې د تشويق له طريقه وي، بايد د مجموعي مؤثرې تقاضا د حجم زياتوالي ته متوجه وي. هغه اقدامات چې مصرف ته د ميلان د لوړېدو باعث کېږي، په پراخه پيمانه د لوړ عايد لرونکو خلکو په مترقي مالياتو او غريبو ته د سبسايديو په ورکولو پورې اړه لري، ترڅو مجموعي مؤثر مصرف په اقتصاد کې زيات کړي. په همدې ترتيب هغه اقدامات چې د پانګې اچونې تشويق پورې مربوط دي، اساساً کافي مالياتي مساعدتونه، د ربحې په نرخ کې تخفيف او نورې داسې اسانتياوې په بر کې نيسي چې وکولای شي په خصوصي سکتور کې د پانګې نهايي مفيديت پورته بوځي. په عامه سکتور کې د عامه کارونو داسې پاليسي بايد په لاره واچول شي، چې په مفيده توګه طرح او په جرئت سره اجراء شي. ددې لپاره چې د حکومت د عامه کارونو پاليسي ډېره مؤثره وي، نو داسې بايد تطبيق شي چې د خصوصي سکتور له خوا د پانګې اچونې د په لاره اچول شوو طرحو لپاره زيات مزاحمت خلق نه کړي. په بل عبارت د عامه کارونو پاليسي بايد په خصوصي سکتور کې د سرمايې د نهايي مفيديت متمم وي، نه مخالف؛ او ددې لپاره لازمه ده چې نوموړې پاليسي صرف هغه پروژې تر پوښښ لاندې ونيسي چې يا ډېرې لويې وي او يا د خصوصي صنعتکارانو لپاره سودمندې نه وي. سربېره پر دې د عامه کارونو د پاليسۍ مؤثريت تر زياتې اندازې پورې د داسې کارونو د تمويل په طرز پورې هم اړه لري، د عامه کارونو هغه پاليسي چې د مالياتي عوايدو له طريقه تمويل شوې وي، نسبت هغې پاليسۍ ته چې د عامه قرض اخيستنې دباندې او يا د تازه پيسو د انتشار له طريقه تمويل شوې وي، د تنزل پر ضد مجادله کې کمه مؤثره ده. پس ددې لپاره چې د ملاحظې وړ توسعوي تاثيراتو لرونکی وي، نو د عامه پانګې اچونې پروګرام بايد د قرض اخيستنې له طريقه تمويل شوی وي، نه د ماليه ګذارۍ له طريقه؛ چې دا نوع تمويل معمولاً د (مالي کسر) په نوم يادېږي.

د انفلاسيون او ديفلاسيون پرتله:

د انفلاسيون او ديفلاسيون دواړو ترمنځ تفاوت وجود لري، که په انفلاسيون کې د استخدام په سطح کې د کوم عمده تغير پرته يوازې قيمتونه پورته ځي، په ديفلاسيون کې بيا د قيمتونو د لوېدو سره يو ځای استخدام او توليد هم کمېږي. که څه هم چې انفلاسيون او ديفلاسيون دواړه ټولنيز مصيبتونه دي، ولې انفلاسيون د ديفلاسيون په پرتله کم مضر او خطرناک دي. په بل عبارت انفلاسيون غير عادلانه او ديفلاسيون نامناسب دی، ولې ديفلاسيون د دواړو بدتر دی. دا چې انفلاسيون د ټولنيز عدالت د اصولو برخلاف په مطلق ډول د ثروت د بيا توزيع باعث کېږي، نو يو مجرد مصيبت دی، حال دا چې ديفلاسيون يو دوګانه مصيبت دی؛ يعنې ديفلاسيون د انفلاسيون په معکوس لوري نه يوازې په مطلق ډول د ثروت بيا توزيع سرته رسوي، بلکې د بېکارۍ د رامنځته کېدو له طريقه په ټولنه کې د نوي ثروت د ايجاد مانع هم کېږي. انفلاسيون په ټولنه کې بې روحيه کول خلکو ته د هغوی د اړتياوو د رفعې د مشکل کولو له طريقه ترويج ورکوي، خو ديفلاسيون يې بيا په يو لا بد شکل د بېکارۍ له لارې خپروي. د کتلوي بېکارۍ د رامنځته کېدو له امله ديفلاسيون د کارګرانو د توليدي کفايت د کموالي باعث کېږي او دا چې يو بېکار ډېر ژر د کاره لوېږي، نو د بېکارۍ اوږد مهاله تاثيرات ډېر بد دي؛ لکه چې وايي (د کار وړ ولې بېکار کارګران په ټولنې باندې د يو دايمي پور په توګه تبارز کوي). په انفلاسيون کې بېچاره ګي صرف په غير کافي اندازه د خلکو د لاسته راوړنو څخه عبارت ده، ولې په ديفلاسيون کې بېچاره ګي بيا په قطعي ډول د شيانو په نه لاسته راوړو کې ده. پس له دې نګاه څخه چې د هيڅ نه لږ ښه دي، انفلاسيون چې وګړي د يو څه (ولو چې غير کافي دي) په لاسته راوړلو، قادروي؛ د ديفلاسيون څخه چې د هغوی لپاره هيڅ نه ميسروي، ښه دی. ديفلاسيون کلني عايد لرونکې غير مؤلده طبقه تشويقوي، حال دا چې انفلاسيون د لوړو مفاداتو د تأمين له طريقه د ثروت توليدوونکي متشبثين په لوړه روحيه کې ساتي؛ خو ددې سره سره چې انفلاسيون نسبت ديفلاسيون ته د ترجيح وړ دی، ولې هيڅ يو ددې دواړو بايد هدف ونه ټاکل شي او د حکومت د پولي او مالي سياستونو واضح هدف بايد د کامل استخدام په سطح په سيستم کې د اقتصادي ثبات لاسته راوړل وي.

پايله:

په نتيجه کې بايد په ګوته کړو چې د نړۍ ټول ستر انفلاسيونونه معمولاً د دولتي بودجې د کسر له امله رامنځته شوي دي، يعنې کله چې دولتونه د جنګونو، تسليحاتي مسابقو، اقتصادي بحرانونو او نورو له امله ونشي کولای چې خپل زيات شوي مصارف د عوايدو د عنعنوي منابعو په واسطه تمويل کړي، نو په دې صورت کې د کالايي جريان د ضرورت څخه زيات د پيسو نشر ته پناه وړي، چې په دې سره په جريان کې د پيسو مقدار زياتېږي او د شيانو، خدمتونو او خارجي اسعارو په مقابل کې يې ارزښت رالوېږي. د پيسو د ارزښت ټيټوالی په ټول اقتصاد بده اغېزه کوي او د قيمتونو د چټک، قوي او غير منظم لوړوالي باعث ګرځي، چې په نتيجه کې يې په مختلفو برخو کې د مفيديت تفاوت منځته راځي؛ په بل عبارت په ځينو برخو کې تکامل تشويق او په ځينو نورو کې بيا توليد د ملاحظې وړ کموالی مومي او په اقتصاد کې د عدم تناسباتو د منځته راتګ موجب کېږي. د قيمتونو غير متناسب لوړوالی د شيانو د احتکار لپاره فوق العاده مساعد شرايط منځته راوړي او په دې ترتيب د توليدي ساحې څخه د جريان ساحې ته د سرمايې د انحراف سره کمک کوي. کريدتي مناسبات مختل او په پيسو باندې د خلکو باور کمېږي. هغوی کوښښ کوي چې څومره امکان لري همغومره ژر يې د واقعي ارزشونو سره تبادله کړي. په عين حال کې هغه اشخاص چې کالي لري، په اينده کې د قيمتونو د لا لوړېدو په اميد خپل شيان ساتي چې په دې سره د شيانو او خدمتونو د جريان د ضرورت وړ مبلغ او په جريان کې د پيسو د مقدار ترمنځ عدم مطابقت لا زياتېږي او د ملي پولي واحد ارزش د لا ټيټېدو باعث ګرځي. دولتونه د خپلو پيسو د ارزش د ثبات او استقرار پخاطر د زړو پيسو د توقيف او يا نوو پيسو سره د هغوی د تعويض په شمول د مالي او پولي سياستونو له طريقه کوښښ کوي چې د خپل ملي پولي واحد لومړنی ارزش احياء او پر هغه باندې د خلکو ډاډ او باور تأمين کړي. په بله ژبه په بازار کې د امتعې او پيسو تر منځ برهم خوړلی تناسب د سره برقرار کړي، ولې دا امر که بېخي ناشونی نه وي، نو ډېر مشکل او ګران دی؛ ځکه انفلاسيون څو عاملېزه پديده ده چې د کاليو او پيسو د توليد او جريان څخه سرچشمه نيسي او پرمختللو او

پرمختيايي دواړه نوع هېوادونو کې د تقاضا څخه په جريان کې د بانکنوت د زياتې عرضې په شکل، د پيسو د پېرودنې قدرت په تنزيل او د قيمتونو په صعود کې ظاهرېږي. خو د پرمختللو هېوادونو په مقايسه په پرمختيايي هېوادونو کې د کار په نړيوال ويش کې د هغوی د نابرابر موقف، د انرژۍ د بحران، دولتي مصارفو، وروسته پاتې مالياتي سيستم او د بودجوي عايداتي منابعو د محدوديت، د خارجي پورونو د بېرته تاديه کولو د فشار، د مرکزي بانکونو د انفلاسيون ضد کنترولي معيارونو د ضعف، د صادراتي شيانو د قيمت د ثبات د ساتلو پخاطر د دولت د مخارجو، د ملاحظې وړ نظامي مصارفو، د بودجې د کسر، د تاديياتو بيلانس د وضعې د خرابوالي، د سرمايې د فرار، په اقتصادي جوړښت کې د اساسي او ژورو بدلونونو د منځته راوړو پخاطر ددې هېوادونو جدوجهد او د پرمختللو عمده صنعتي هېوادو په خاصه توګه د امريکا د متحده ايالاتو د پيسو د ارزش د تنزيل له امله يې په پرمختيايي هېوادو کې ددې معضلې حل مشکل او مغلق کړی او د هغوی د پيسو د ارزش د ټيټوالي لپاره يې شرايط مساعد کړي دي. خاصتاً د پرمختللو هېوادو او له هغې جملې څخه د امريکا د متحده ايالاتو د پيسو د ارزش لويدل ددې باعث شوي چې د نوموړو هېوادونو د وارداتي توليدي کاليو لکه ماشين الات او وسايلو قيمتونه لوړ او په نتيجه کې د پرمختيايي هېوادونو د ملي صنايعو د توليد د تمام شوي قيمت د لوړېدو له طريقه د داخلي قيمتونو د زياتوالي موجب شي، ځکه تقريباً ټول پرمختيايي هېوادونه د خامو موادو صادروونکي دي، چې دې حالت د نوموړو هېوادونو لپاره دوه پرابلمونه منځته راوړي دي، اول دا چې نوموړي ټول هېوادونه د پرمختللو صنعتي هېوادو په کالايي مارکېټ پورې وابسته او دوهم دا چې نوموړي هېوادونه د هغوی د صادراتي شيانو د قيمت د تنزيل له امله چې د تمويل اصلي منبع ده، د اقتصادي- اجتماعي انکشاف د روښانه دورنما څخه محرومېږي. د انفلاسيون بر خلاف ديفلاسيون بيا هغه حالت دی په کوم کې چې د پيسو ارزش پورته ځي، په بل عبارت قيمتونه لوېږي. که څه هم چې دا دواړه اصطلاحات د قيمتونو په خوځښت پورې اړه لري، خو انفلاسيون معمولاً د فعاليتونو او د استخدام د سطحې د زياتوالي او ديفلاسيون د فعاليتونو او د استخدام سطحې د لويدو سره ملګری دی؛ ولې دا يوځای والی مطلق او قطعي نه دي. ځکه ممکن فعاليتونه او استخدام د انفلاسيون پرته لوړ شي، لکه د Recovery په صورت کې او يا انفلاسيون د Recovery پرته وي. په همدې توګه ممکن تنزيل يا Depression د ديفلاسيون پرته وي او يا ديفلاسيون د Depression پرته وي. که څه هم چې ددې دواړو بېلوالی بايد ډېر نادر وي؛ په بل عبارت د قيمتونو د سطحې هر لويدل د واقعي ديفلاسيون په معنی نه دي، بلکې د قيمتونو صرف هغه لويدل به د ديفلاسيون په مفهوم وي چې په اقتصاد کې د بېکارۍ د زياتوالي، د حاصل او توليد عواملو د عوايدو د کموالي سره يوځای وي.

Abstract:

The term inflation has been defined differently by different economists. The common characteristic of all these definitions is the evidence of a state of disequilibrium between the demand for and supply of goods which always causes raise in the level of prices in the economy. What gives rise to inflation – rise in demand with the rise in prices– is explained by the fact that income of certain section of the community rises at faster rate than the increase in prices giving rise to increased demand for goods which can not be met by available supply that can not be increased in short period. While inflation is always indicative of a state of instability and of rising prices in the economy, it would be improper to describe every rise in the price levels in a country as a state of true or full inflation, notwithstanding the fact that such a rise in the level of prices may really be inflationary in character indicating the state of partial inflation. It is not every rise in the level of prices that can be called true inflation but only the increase in the prices above a certain stage of economic development- full employment- that can be called full inflation. On the contrary deflation is a phenomenon associated with the falling prices. But while deflation is essentially a matter of falling prices, it is not each and every fall in prices which can be given the name, truly speaking of deflation. Thus for instance, a fall that takes place in the prices after inflation has reach its peak can not be associated with deflation such a fall is only dis- inflationary and not deflationary, because as a result of the fall in prices, there does not result any unemployment and curtailment of output in the economy. Thus it is not each and every fall in the level of prices that is

associated with the state of true deflation, but only those falls in prices which cause unemployment and reduction in output in their wake. In short, deflation is a state of affairs in which every fall in prices adds to the rot of unemployment and fall in incomes of the factors of production.

References:

1. Crowther, Geoffrey. (1963). an Outline of Money. London.
2. Hanson, J.L. (1965). Monetary theory and practice. 3rd Edition. London.
3. Nasir, M. Saeed. (2006). A text book of economics. Lahore. Ilmi kitab khana.
4. Vaish, M.C. (1966). Monetary Theory. Jaipur.
5. Младенов, Милети Христов. (1985). Парично Обръщение и Кредит на Капитализма.София.
6. Наука и изкуство.(1984). Икономическа Енцеклопедия. София.
7. Речник по Политическа Икономия.(1984). София.
۸. فرجی، یوسف. (۱۳۸۵). پول، ارز و بانکداری. تهران.

پوهـــنوال ګلاب شـــاه (سبحـــاني)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانګه

د سوداګرۍ منځته راتلو لاملونه، ښېګڼې او نيمګړتياوې

لنډيز:

دا چې د بشر اړتياوې او غوښتنې د هرې ورځې په تېرېدو سره زياتېږي او نشي کولای چې خپلې اړتياوې په مستقيمه توګه رفع کړي، نو اړينه ده چې خپلې اړتياوې په غير مستقيمه توګه د تجارت (سوداګرۍ) له لارې رفع کړي؛ چې دا د اړتيا پوره کولو لپاره يوه ښه او غوره طريقه ګڼل کېږي، په دې توګه سوداګري د اړتياوو د تبادلې بېلګه ګرځي. دا ښکاره خبره ده چې هر يو هېواد د نورو هېوادونو سره راز راز اړيکې لري، چې له دې جملې تجارتي اړيکو ته اړتيا لري، نو ملتونه يو بل سره د بېلابېلو روابطو په لرلو يو د بل په مرسته د ترقۍ لوړو مراحلو ته رسېږي. نننۍ پرمختللې ټکنالوژي نړۍ ته د يوه کوچني کلي حيثيت ورکړی او د نړۍ ټولو ملتونو په يوه يا بل ډول په خپلو منځونو کې سياسي، نظامي، فرهنګي، اقتصادي او نورې اړيکې او متقابلې همکارۍ رامنځته کړې دي؛ چې په دې ټولو کې اقتصادي اړيکې ډېر لوړ ارزښت لري او په خاص ډول تجارتي اړيکې يې ښه او څرګنده بېلګه ده.

سريزه:

انسان د خپل پيدايښت څخه راپدېخوا بېلابېلې اړتياوې او غوښتنې لري او پرته ددغو اړتياوو د رفع کولو څخه د انسان ژوند ممکن نه دی، چې په هماغه ابتدايي ژوند کې يې هم خوړو، اوبو، پوښاک، استوګنځي او سوله ييز ژوند ته اړتيا درلوده. د وخت او زمان په تېرېدو سره يې اړتياوې او غوښتنې زياتې شوې او دوی نشو کولای چې خپلې ټولې اړتياوې پخپله پوره کړي، نو ددې ضرورت رامنځته شو، چې خپلې اړتياوې په غيرمستقيم ډول پوره کړي، چې په دې توګه د اقتصاد د علم له نظره په غيرمستقيمه توګه اړتيا پوره کولو ته تجارت (سوداګري) وايي. په نننۍ عصر کې داسې ټولنه او هېواد نه تر سترګو کېږي، چې د سوداګرۍ څخه دې برخمن نه وي او يا دې په يوازېتوب سره خپلې ټولې اړتياوې پوره کړي؛ نو د همدې ضرورت له امله مې وغوښتل چې د سوداګرۍ لاملونو، ښېګڼو او نيمګړتياوو په اړه يوه څېړنه ترسره کړم، چې د محصلانو، سوداګرو او نورو عامو لوستونکو ته په زړه پورې او ګټوره ثابته شي.

موخې:

- د سوداګرۍ د لاملونو، ښېګڼو او ستونزو روښانه کول
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د سوداګرۍ پېژندنه:

تجارت يا سوداګري، د سوداګرۍ کاروبار او د سوداګرۍ چارو ته ويل کېږي (۲۱۴م۳)؛ يا په بله وينا سوداګري د حقيقي او حقوقي شخصيتونو تر منځ د ارزښت لرونکو کاليو يا خدماتو راکړې ورکړې ته ويل کېږي (۱۹۰م۲). همدارنګه تجارت په مجموع کې د سوداګرۍ د هر ډول امتعو راکړې ورکړې ته ويل کېږي (۳۷۵م۵). د ذکر شويو تعريفونو په رڼا کې دې نتيجې ته رسېږو، چې سوداګري د اجناسو او مصرفي توکيو اخيستل او خرڅول دي، چې په دې کې د اړتياوو رفع کېدل او ګټه کول يې مهم او ځانګړی هدف دی. کله چې يو مولد اجناس د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره نه، بلکې بازار ته د هغو د عرضه کولو لپاره توليد کړي، دې ته سوداګريز توليدات او اړوند اجناسو ته تجارتي توکي (Trade goods) ويل کېږي. پورتنی مفهوم هم په کوچنيو ساحو لکه کلي، ولسوالۍ، ښارونو او ولاياتو کې صدق کوي او هم په لويه ساحه لکه

هېوادونو، لويو وچو او ټوله نړۍ کې صدق کوي، چې په دې ترتيب کلي د ولسوالیو او ولسوالۍ د ولاياتو او هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکاري او اړيکې رامنځته کوي.

د سوداګرۍ د رامنځته کېدو لاملونه:

انسانان په ژوند کې زيات ضرورتونه لري، د هر يو ضرورت د رفع کولو لپاره مختلف وسايل کاروي، چې دا وسايل د ځمکې پر مخ په مختلفو ساحو کې د تعداد (کميت) او کيفيت له نظره توپير لري. په دې توګه يو شخص، ټولنې او هېوادونه د اړتياوو د پوره کولو اړوند وسايل د هغوی د ټولو ضرورتونو د رفع کېدلو لپاره بسنه نه کوي. په دې توګه شخص، ټولنې او هېوادونه دې ته اړتيا لري، چې د خپلو اضافي وسايلو په بدل کې د ضرورت وړ توکي او وسايل د نورو اشخاصو، ټولنو او هېوادونو څخه ترلاسه کوي؛ چې دې جريان ته تجارت ويل کېږي، نو د پورتنيو معلوماتو څخه نتيجه اخيستل کېږي، چې فرد، ټولنې او هېوادونه د خپلو اړتياوو د پوره کولو په موخه سوداګرۍ ته ضرورت لري. سوداګري د ټولنو او هېوادونو د پرمختګ په ټولو شرايطو کې ضرور خبره وه او ده، او د نورو عواملو تر څنګ د نفوسو د زياتوالي سره هم نېغ په نېغه اړيکې لري. په نننۍ نړۍ کې د سوداګرۍ نه پرته د بشريت د اړتياوو پوره کول ممکن نه دي. بله دا چې د ځمکې د کرې پرمخ هر کال (۷۵.۷۰) مليون نفوس (انسانان) زياتوالی مومي. د عيسوي عصر په شروع کې د نړۍ د نفوسو شمېر (۲۳۰) مليونه او په ۱۸۵۰م کال کې (۹۵۲) مليونه او په ۱۹۵۰م کال کې (۴، ۵) مليارده څخه زيات و (۲م۳). په همدې توګه د يوې بلې احصايې له مخې په ۱۹۹۰م کال کې د نړۍ د نفوسو شمېره (۵۵۵۷) مليونو تنو ته رسېدلې وه. د نړيوال بانک د منابعو د تخمين له مخې د نړۍ نفوس په ۱۹۹۴م کال کې (۷،۵) مليارده او په ۲۰۰۰م کال کې به ۶۵۵۲ مليونو تنو ته او په ۲۰۳۰م کال کې به (۸،۵) مليارده تنو ته ورسېږي(۴م۱۲۲). د روان ۱۰-۵ ـ۲۰۱۳ کال کې د نړۍ د نفوسو شمېر (۷,۱۸۳,۲۴۲,۰۰۰) تنو ته رسېږي او هره ثانيه د زياتېدو په حال کې دی.(9)

د پورتنيو معلوماتو په نظر کې نيولو سره هر کال د ځمکې د کرې پر مخ نفوس زياتوالي مومي، چې ټول يې د ژوند ضروري شيانو او لګښتونو ته ضرورت لري او دا اړتيا کېدای شي د سوداګرۍ لـه لارې رفع شي. په کومه اندازه چې د يوه هېواد نفوس زياتوالی مومي، دې تـه اړتيا پيدا کېږي چې خپل ضرورت د سوداګرۍ لـه لارې پوره کړي. سوداګري د نورو موضوعاتو په څېر د اقتصاد د علم مهم بحث دی؛ پټه دې پاتې نه وي، چې د نورو عواملو ترڅنګ د نفوسو د زياتوالی بـه د پورتنيو ذکر شويو ارقامو او وړاندوينو څخه هم زيات شي. ددې څخه داسې څرګندېږي چې د انسانانو اړتياوې د يو وخت او زمان څخه بل وخت او زمان ته د زياتېدو په حال کې دي ،نو دې نتيجې ته رسېږو چې د سوداګرۍ اصلي منبع، اساس او بنسټ انساني اړتياوې دي. له دې امله چې يو شمېر سيمې او هېوادونه د طبيعي منابعو، اقليم او پيداوار لـه کبله لـه نورو سره توپير لري. اقتصادپوهانو د بهرنۍ سوداګرۍ لپاره لاندې درې مهم عوامل ښودلي دي:

۱. د مصرفي اجناسو په کيفيت کې توپير، چې دا د مشتري د رجحاناتو پورې اړه لري.

۲. د ځانګړو انساني قواوو او مهارتونو، طبيعي منابعو او لومړنيو يا خامو موادو شتون.

۳. د توليد په پروسه کې د هغه په لګښت کې نسبي يا مطلق توپير.

يو فرد، ټولنه او هېواد نشي کولای چې په يوازېتوب (ځانګړې) توګه خپلې ټولې اړتياوې پوره کړي، نو په غيرمستقيم ډول خپل احتياج پوره کوي، په دې توګه د اقتصاد د علم له نظره په غيرمستقيمه توګه احتياج پوره کولو ته تجارت وايي.

د سوداګرۍ ډولونه: د اقتصاد له نظره سوداګري په لاندې دوو مهمو ډولونو ويشل کېږي:

۱- کورنۍ يا داخلي سوداګري: د هېوادونو دننه سوداګرۍ تـه کورنۍ يا ملي تجارت ويل کېږي. سوداګري د اقتصادي فعاليتونو لويه برخه جوړوي او په پخوا وختونو کې د خصوصي سکتور لـه خوا تنظيمېده. کورنۍ سوداګري د اقتصادي فعـاليتونو پـه پراخه کولـو، د کـار د رامنځتـه کولـو، د عايـد د سطحې او ټولنيز ژوند د کچې پـه اوچتولـو او د هېـواد د اقتصادي پراختيا ورکولو کې زيات اهميت لري. سوداګري نه يوازې ښارونه د يو بل سره تړلي، بلکې ښارونه لـه کليو سره او خلکو ته د يو بل سره پيوند ورکوي؛ ټولنيزې، فرهنګي، اقتصادي او سياسي اړيکې د بېلابېلو قومونو او قبايلو ترمنځ پراخوي. له بلې خوا کورنۍ سوداګري په غيرمستقيم ډول سره زرګونو انسانانو تـه ګټه رسوي، نـه يوازې سوداګرو، بلکې

نورو افرادو او اشخاصو ته لکه پنډيانو (حمالان)، د دوکانونو (هټيو) مالکانو، څوکيدارانو، منشيانو، دلالانو، ميانجيانو، د ترانسپورتي وسايلو مالکانو، ډريورانو، د رستورانتونو، هوټلونو او کافي ګانو (چاي خانو) څښتنانو او اړونده پرسونل (کارکوونکو) ته ګټه رسوي. واړه سوداګر تجارتي مالونه د کليو او باندو څخه کوچنيو ښارونو ته او ځينې وخت يې لويو ښارونو ته لېږدوي. د هېوادونو زيات سوداګر د اړتيا وړ سوداګري مالونه د هېواد د لويو ښارونو څخه کوچنيو ښارونو، ولسواليو او د هېواد ليرو پرتو سيمو ته لېږدوي او له تجارتي فعاليتونو څخه ګټه پورته کوي. دغه سوداګر خام (اومه) مواد، مېوې، لاسي صنايع، غذايي مواد، څاروي ښارونو ته عرضه کوي او په بدل کې يې مصرفي تجارتي مالونه اړوندو سيمو ته لېږدوي (۱م۱۳). دغه لېږدول او د مصرفي توکيو استول د يوې سيمې نه بلې ته د سيمو د اقتصادي ظرفيتونو د توپير له امله ده. اجناس او مصرفي توکي د هغه سيمې څخه چې اوچت ظرفيت لري، هغو سيمو ته لېږدول کېږي چې نفوس يې ورته اړتيا لري. بايد وويل شي چې داخلي سوداګري د خلکو د اړتياوو په رفع کولو کې ستر رول او ونډه لري.

۲- بهرنۍ يا خارجي سوداګري (Foreign trade): د يو هېواد د سياسي پولو څخه بهر د نورو هېوادونو سره د اجناسو مبادلې (تبادلې) ته بهرنۍ سوداګري وايي، چې د هېوادونو په اقتصادي اړيکو کې ډېر اهميت لري. دلته هر هېواد کوښښ کوي چې په سيمه کې خپل تجارتي دريځ او داخلي توليدات او منابع وپېژني او د نسبي لګښتونو د مقايسې اصول (Principle of competitive cost) رعايت کړي او د خاصو اجناسو او خدماتو په برخه کې تخصص ته ځان ورسوي. مثلاً جاپان عمدتاً په اسيا کې د برقي وسايلو صادروونکی هېواد دی، هند د مساله جاتو او چاي، ماليزيا د ربړ او استرليا د وړيو صادروونکی دی، پاکستان او هند د ماشين الاتو واردوونکي دي. د خليج هېوادونه د نفتو توليدوونکي دي او داسې نور مثالونه چې هر يو يې د تخصص معنی لري. په دې توګه يو هېواد د کار په سيمه ييز ويش کې مهارت پيدا کوي او په همدغې ځانګړې برخه کې يې توليدي عوامل هڅول کېږي.

د سوداګرۍ په اړه نظريې:

سوداګري د اړتيا څخه سرچينه اخلي، هر هېواد يو شمېر اړتياوې له خپلو ګاونډيو هېوادونو پوره کوي او ګاونډيو هېوادونو ته هم څه ورلېږي. په تاريخ کې سوداګري نوې ښکارنده نه ده، بلکې له پخوا وختونو څخه موجوده وه، نو ځکه په اقتصادي نظرياتو کې هم څېړل شوې ده. مثلاً په کلاسيکه دوره کې يو شمېر داسې افکار موجود وو، چې ثروت او ځمکه يې د اقتصادي پرمختيا اصلي منبع (سرچينه) بلله. يو شمېر نورو طبيعي منابع مهمې بللې، خو ورو ورو يوه بله مفکوره رامنځته شوه، چې د هغې پيروانو ته يې د سوداګرانو مکتب (مرکانتلېزم) وايه چې مهمو طراحانو او پيروانو يې په دولسمه پېړۍ کې ژوند کاوه چې د کوچنيو کسبونو او بزګرۍ پر ځای يې سوداګري د ثروت منبع بلله. د دوی بل نظر د تجارت بيلانس مثبت ساتل و، د مرکانتلېستانو نظرياتو په ديارلسمه او څوارلسمه ميلادي پېړۍ کې تجارت ښه پياوړی کړ، په تېره بيا په فرانسه او انګلستان کې او آن په يو شمېر نورو اروپايي هېوادونو کې د تجارت رونق او د سوداګرو سياسي او ټولنيز نفوذ فيوډالي طبقې، ارباب سالارۍ او ملوک الطوايفۍ ته ماتې ورکړه، او دا د اقتصادي تحرک سبب شو. د کسبه کارۍ صنعت لازياته ترقي وکړه، د اقتصاد ښه کېدل د معاش اخيستونکي نفوس د زياتوالي سبب شو او د دولت شکل نوی شو، چې ثروت يې د سياسي قدرت بنسټ و. همدې تجارت او د ثروت ټولولو انګېزې د بريتانيا کمپنۍ تر هندوستانه راورسوله، په تيره بيا (اليزابتي) او (کرومول) د تجارت له لارې د سرمايې د زياتولو پلوي وکړه او د انګلستان سياست په يو استعماري سياست بدل شو. د تجارت په اړه نظريات د مرکانتلېستانو له خوا رامنځته شوي وو، او د نورو پوهانو له خوا پرمخ بوتلل شو. د بېلګې په توګه William Stanley jevons (۱۳۸۳-۱۸۳۵م) په سوداګرۍ کې نوي نظريات ورکړل. په تېره بيا د اجناسو د تبادلې ښېګڼې يې وښودې، له دويمې نړيوالې جګړې وروسته يې په اقتصادي افکارو کې بدلون راغی. (۷م۲۲۹)

Maynard Keynes د تجارت په تېره بيا د نړيوال تجارت په اړه نوي غوره پيشنهادونه ورکړل او له ۱۹۴۴م وروسته يې د جګړې څپلو هېوادونو د بيارغاونې په اړه ګټور نظريات ارايه کړل چې په چرچيل، روزولت او نورو سياسي ليډرانو يې اغېزه وکړه. Fridman Milton چې ۱۹۲۲م کې په انګلستان کې زېږېدلی و، د خپل وخت د نامتو سياستوالو د يو شمېر نورو

سياستوالو لکه ريگان، ټاچر او پنوچت پاملرنه يې خپلو نظرياتو ته واړوله، همدارنگه په تجارتي وضع کې يې بدلونونه راوستل Mankiw Gregory او Prof. Todaro د تجارت د ارزښت په اړه په معاصر وخت کې يې ډېرې نوې نوې نظريې ورکړې؛ مثلاً واسيلي ليوتسف وويل چې متحده ايالات په حيرانوونکې توگه چارکښ (labor intensive) توکي صادر او پانگه يې (Capital intensive) توکي واردوي، نو ځکه په بهرنۍ سوداگرۍ کې بريالي او د نړۍ بډاى هېواد دی. هر هېواد هڅه کوي چې د بهرني تجارت له پلوه په ښه حالت کې وي، چې دا په يو شمېر ځانگړو عواملو پورې اړه لري.

د بهرنۍ سوداگرۍ حالتونه:

اقتصاد پوهانو د تجارت لپاره درې حالتونه ښودلي دي، چې په لاندې ډول دي:

۱. د تجارت کسر يا نقصان (Trade deficit): په هغه صورت کې چې واردات زيات او صادرات کم وي، دې حالت ته د تجارت کسر وايي.

۲. د تجارت برابروالی يا توازن (Trade balance): په هغه صورت کې چې د صادراتو او وارداتو حجم او ارزښت يو د بل سره برابر وي، چې همدې پورتنې حالت ته د تجارت برابروالی يا توازن ويل کېږي.

۳. د تجارت مازاد (Trade surplus): په دريم حالت کې چې ښه حالت دی، صادرات تر وارداتو ډېر زيات وي. اقتصاد پوهان وايي چې د تجارت د ښه کولو په خاطر بايد د داخلي توليد کچه لوړه شي او د وارداتو په تدريجي تعويض سره صادرات پياوړي کړي، ترڅو د اقتصاد عمومي حالت ښه شي. دا ددې امکان برابروي چې سپما کول (saving) ښه شي، د سپما په صورت کې پانگه جوړېږي او بيا همدا پانگه تشکل مومي او د پانگې اچونې امکانات برابرېږي. ورو ورو د تجارت د اهميت په پېژندلو سره گڼ شمېر سيمه ييز سازمانونه او کنفرانسونه جوړ شوي او جوړېږي چې د سوداگرۍ د ستونزو د حل په لاره کې کار کوي. د بېلگې په توگه په ۱۹۲۰م کې د بروکسل کنفرانس، په ۱۹۲۲م کې د جنيوا کنفرانس، په ۱۹۲۷م کې يو ځل بيا د جنيوا کنفرانس او په ۱۹۲۸م د تجارتي تعرفو په اړه د تړونونو لاسليک کېدل. له دويمې نړيوالې جگړې وروسته د سوداگرۍ په برخه کې د لازيات نژدېوالي او همکارۍ اړتيا احساس شوه، چې د GAAT د تعرفو او د نړيوال وجهي صندوق جوړېدلو هېوادونه نور هم سره نږدې کړل، چې د هېوادونو تر منځ اقتصادي موافقو او اړيکو دا زمينه برابره کړه، چې يو نړيوال اقتصادي نظام رامنځته او په هغه کې سوداگري ځانگړی مقام او ارزښت لري. په معاصر وخت کې د ترانسپورتي آسانتياوو زياتېدو تجارت ته نوره هم ترقي ورکړې ده. زمونږ گران هېواد د ډېر پخوا څخه د سوداگرۍ په برخه کې تجربې لري، يو وخت دغه سيمه د ختيځ، لويديځ او جنوب هېوادو ترمنځ مهمه سوداگريزه لاره وه، چې د وربښمو لار له همدې هېواد څخه تېرېدله. د افغانستان صادراتي مالونه لکه وچې مېوې، څرمنو، غاليو، قره قل او يو شمېر لاسي صنايعو نړيوال نوم درلود چې بېلابېلو هېوادونو ته صادرېدل او هر کال يې ډېر اسعار هېواد ته رالېږدول. اوس هم افغانستان په سيمه او هم په نړيواله کچه لوی تجارتي شريکان لري، د افغانستان د پرمختيايي ستراتېژۍ په تطبيق سره به د هېواد د تجارت په حالت کې غوره ښه والی راشي.

په نړيوال تجارت کې عمده ستونزې:

په نړيوال تجارت کې يو شمېر عمده ستونزې وجود لري، چې عبارت دي له:

۱. فاصله: د مختلفو هېوادونو ترمنځ د اوږدې فاصلې په اساس د هغوی د سوداگرانو تر منځ د سريع او نږدې روابطو رامنځته کول يو ستونزمن کار دی؛ په همدې سبب خرڅوونکی او اخستونکی يو د بل سره د ډېرو کمو اړيکو درلودونکي وي. په دې توگه فاصله د لويو خطرونو تر څنگ د ډېرو ترانسپورتي لگښتونو سبب هم کېږي.

۲. مختلفې ژبې: دا يو حقيقت دی، چې په مختلفو هېوادونو کې په مختلفو ژبو خبرې او ليکل کېږي؛ د قيمتونو لېستونه، کتلاکونه، اعلانات په هر هېواد کې د هغه هېواد په خپله ژبه تيارېږي، نو په دې حالت کې که يو سوداگر غواړي چې د بهرنۍ نړۍ څخه يو څه واخلي، يا يې وربانديې وپلوري، نو بايد په بهرنيو ژبو پوهه وي او يا کم تر کمه يو داسې څوک وگماري چې په بهرنۍ ژبو پوهه وي.

۳. په ترانسپورت او مخابراتو کې ستونزې: په نړيواله سوداګرۍ کې د اجناسو راکړه ورکړه ډېر وخت او لګښتونو ته اړتيا لري. د جګړې او خراب اقليم په صورت کې ترانسپورت نور هم ستونزمن کېږي، په همدې ډول د سوداګرۍ په نوموړي ډول کې معلوماتو ته لاسرسی او لېږد يې هم ډېرو مصارفو ته اړتيا لري.

۴. د ترانزيت خطر: نړيواله سوداګري د کورنۍ سوداګرۍ په نسبت د ډېر خطر درلودونکې ده، ځکه چې په نړيواله سوداګرۍ کې اجناس بايد د اوږدو فاصلو او دريابونو له لارې انتقال شي، اګر که دغه ډول خطرونه د بيمې له لارې تلافي کېدای شي، مګر د اجناسو په قيمتونو کې د لوړوالي سبب ګرځي.

۵. د بهرني سوداګرو په اړه د معلوماتو کموالي: د اخستونکو او خرڅوونکو ترمنځ د نږدې او سريعې رابطې د نشتوالي په صورت کې ځينې خاصو اقداماتو ته اړتيا ده، چې د بهرني اخستونکو د وضعيت په اړه معلومات ترلاسه شي؛ مګر دا هم ستونزمنه ده چې د بهرنيو سوداګرو د سوداګريز او مالي وضعيت په اړه ډاډمن معلومات ترلاسه کړو. په دې توګه يې د اعتبار خطر هم ډېر لوړ دی.

۶. صادراتي او وارداتي محدوديتونه: هر هېواد هڅه کوي چې د خپل داخلي صنعت د تقويې په خاطر په وارداتو ګمرکي تعرفې وضع کړي؛ ددې ترڅنګ د خامو موادو په صادراتو هم ګمرکي تعرفې وضع کېږي، په دې توګه صادروونکي او واردوونکي دواړه د ګمرکي تهديداتو سره مخامخ کېږي. ددې ترڅنګ د هېوادونو بهرنۍ سوداګريزه پاليسي، قوانين او مقررات همېشه د تغير په حالت کې وي.

۷. اسناد: دواړه صادروونکي او واردوونکي بايد ډېر داسې اسناد چې د وخت او پيسو سره اړيکه ولري، د ځان سره وساتي، چې دا يو ستونزمن کار دی.

۸. د بهرنيو بازارونو مطالعه کول: هر بهرنی بازار خپل خاص خصوصيات لري، لکه رواجونه، اوزان، د اندازه ګيرۍ طريقې، د بازاريابۍ طريقې او داسې نور؛ په همدې سبب د بريالۍ بهرنۍ سوداګرۍ لپاره ددې بازارونو پراخه مطالعې ته اړتيا ده، او دا ډېره ستونزمنه ده، چې د بهرني بازارونو په اړه ډاډمن او تازه معلومات ترلاسه شي.

۹. په تاديياتو کې ستونزې: څرنګه چې هر هېواد خپل ځانګړی ملي پولي واحد لري، ددې تر څنګ هر هېواد د نورو پولي واحدونو سره د خپل ملي پولي واحد د تبادلې ځانګړی نرخ هم لري، څرنګه چې د تبادلې نرخ هره ورځ د تغير په حال کې دی، چې دغه تغير هم د نړيوالې سوداګرۍ په مخکې يو عمده خنډ دی.

۱۰. د بازار تغيرات: دا ډېره ستونزمنه ده، چې په نړيوالو بازارونو کې د عرضې او تقاضا تغيرات سم درک شي، کېدای شي چې په نړيوالو بازارونو کې قيمتونه په مسلسل ډول د تغير په حال کې وي، چې دغه تغير په بازار کې د نويو رقيبانو د داخلېدو، د اخستونکو په ذوق کې تغير، په وارداتو باندې د ګمرکي تعرفو تغير، د کرايو تغير، د تبادلې په نرخ کې تغير او داسې نورو سره اړيکه لري.

۱۱. د اوږدې مودې پانګه اچونه: څرنګه چې اکثره وخت په نړيوال تجارت کې د عرضې او تاديياتو ترمنځ اوږد واټن رامنځته کېږي، نو صادروونکي ته خپله پانګه د اوږدې مودې لپاره په لاس نه ورځي، چې دا هم په نړيوال تجارت کې يو عمده خنډ ګڼل کېږي.

۱۲. شديد رقابت: هغه سوداګر چې غواړي خپل اجناس د هېواد څخه دباندې خرڅ کړي، په نړيوال بازار کې د مختلفو هېوادونو د شديد رقابت سره مخ کېږي، نو په دې خاطر چې په بهرني بازارونو کې د توليد خرڅلاو ممکن کړي، بايد د بازار دقيق تحقيق ترسره کړي، چې کېدای شي په دې برخه کې په اعلاناتو او د خرڅلاو په پراختيا باندې کافي مصارفو ته اړتيا وليدل شي. (۱۰)

د نړيوال تجارت ښېګڼې (Advantages of International Trade):

تجارت که داخلي وي او که خارجي، دواړه د يو هېواد د انکشاف لپاره حياتي ارزښت لري، ولې نړيوال تجارت ځينې خاص امتيازات لري، چې په لاندې ډول ورڅخه يا دونه کوو:

۱. د نړيوال تجارت په مرسته يو هېواد هغه اجناس لاسته راوړي، چې په نوموړي هېواد کې نه توليد ېږي؛ که چېرې خارجي تجارت موجود نه وای، نو د يو هېواد وګړي به د ډېرو اساسي او لومړنيو اجناسو د لاسته راوړنې څخه محرومېدل، چې په نتيجه کې به وګړي د زياتو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېدل.

۲. د نړيوال تجارت په مرسته يو هېواد هغه اجناس په ارزانه بيه تر لاسه کوي، کوم چې په داخل د هېواد کې په لوړه بيه توليد ېږي. د مثال په ډول د جاپان په هېواد کې پنبه توليد ېدلای شي، ولې جاپان يې نه توليدوي؛ ځکه چې د پنبې توليد په جاپان کې په لوړو مصارفو صورت نيسي، نو جاپان د هند او پاکستان څخه مالوچ واردوي، ځکه جاپان ته د مالوچو واردول ارزانه تمامېږي، نظر دې ته چې پنبه خپله توليد کړي.

۳. خارجي تجارت يو هېواد ته دا توانايي ورکوي چې د هغه اجناسو په توليد کې تخصص تر لاسه کړي، د کوم لپاره چې د دوی منابع مناسبې وي؛ نو په دې طريقه يو هېواد کولای شي چې اجناس په نسبي ډول په کم مصرف او زيات مقدار سره توليد کړي.

۴. نړيوال تجارت د هېواد د صنعت او د کرنې سکتور په انکشاف کې اساسي رول لوبوي، د تجارت په برکت يو هېواد اجناس، خام مواد، ماشيني، وسايل..... او داسې نور واردوي، کوم چې د اقتصادي انکشاف لپاره ضروري دي. وروسته پاتې هېوادونه د پرمختللو هېوادونو څخه تکنالوژي انتقالوي، د سعودي عرب او نورو عربي هېوادونو د چټک انکشاف علت خارجي تجارت دی. د خارجي رقابت په نتيجه کې د هېواد په داخل کې د اجناسو په کيفيت کې هم ښه والی رامنځته کېږي.

۵. کله چې په يو هېواد کې د توليد شويو اجناسو مقدار د تقاضا څخه زيات شي، نو اضافي توليدات خارج ته صادروي او دا هغه وخت ممکن دی، چې خارجي تجارت وجود ولري.

۶. نړيوال تجارت د مارکېټ د پراختيا سبب ګرځي، څومره چې اجناسو ته تقاضا زياتېږي، په همغه اندازه د اجناسو په مقدار کې زياتوالی رامنځته کېږي، چې په نتيجه کې په زيات مقدار سره اجناس توليد ېږي، چې د زيات مقدار توليد په نتيجه کې د في واحد توليد شويو اجناسو د تمام شد قيمت کمېږي. علاوه له دې څخه په محلي مارکېټونو کې په قيمت او د توليد په سطحه کې ټيټوالي او جګوالی له منځه وړي.

۷. نړيوال تجارت داخلي انحصار له منځه وړي، کله چې په يوه هېواد کې يو توليدوونکی وي، نو هغه د خپلې خوښې غوښتنې په مستهلکينو تطبيقوي، ولې دا په هغه صورت کې ممکن وي، چې خارجي تجارت موجود نه وي. د خارجي تجارت په صورت کې د بهر څخه عيني اجناس په ارزانه بيه او ښه کيفيت سره وارد ېږي، چې په نتيجه کې داخلي انحصار له منځه ځي او مستهلکين د پرېکړو کولو وړتيا ترلاسه کوي.

۸. نړيوال تجارت د مختلفو هېوادونو د وګړو د نږدې کېدو سبب ګرځي؛ دوی نوي نظريات، تکنيکونه او د ژوند د ښه تېرولو طريقې يو د بل څخه زده کوي، مختلف کلتورونه سره يوځای کېږي او نوي کلتورونه او د ژوند د تېرولو نوې طريقې رامنځته کېږي.

د خارجي سوداګرۍ نيمګړتياوې (Disadvantages of International trade):

د نړيوال تجارت ګټې ډېرې زياتې دي او د يوه هېواد په اقتصادي انکشاف کې عمده او اساسي رول لوبوي، ولې ازاد نړيوال تجارت يو لړ نواقص هم لري، چې د هغې په نتيجه کې ځينې هېوادونه د نړيوال تجارت له وجې متضرر کېږي؛ خصوصاً د پرمختللو هېوادونه د نړيوال تجارت د ځينې نيمګړتياوو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

۱. د زياتو صادراتو په صورت کې يو هېواد په راتلونکې کې د هغو منابعو چې دوباره د نوي کېدو قابليت ونلري، نو په دې صورت کې د طبيعي منابعو د جدي کمبود سره مخاخ کېږي. د مثال په ډول د منځنۍ اسيا هېوادونه د تېلو د ذخايرو څخه په پراخه اندازه صادرات کوي، چې راتلونکې نسلونه به يې د تېلو د با ارزښته منابعو څخه محرومېږي. که چېرې دغه هېوادونه نوي صنعت ته انکشاف ورنکړي او د عايد نور منابع ونه لټوي، نو د دوی راتلونکي نسلونه به د ډېرو زياتو ستونزو سره مخاخ شي.

۲. د نړيوال تجارت په وسيله يو هېواد ته مضر اجناس داخلېږي، چې ددغو اجناسو داخلېدل د يوه هېواد د وګړو ژوند ته ستر ګواښ دي.
۳. ځينې هېوادونه ډېر زيات د نورو هېوادونو په توليد شويو اجناسو او خامو موادو متکي وي. د جنګ په وخت کې هغه هېوادونه چې په اقتصادي لحاظ په نورو متکي وي، د ډېرو زياتو مشکلاتو سره مخاخ کېږي؛ علاوه ددې څخه کله چې په هغه هېواد کې چې نور هېوادونه پرې متکي وي، اقتصادي بې ثباتي رامنځته شي، نو متکي هېوادونه هم ورڅخه متاثره کېږي. د مثال په ډول کله چې د امريکا په هېواد کې اقتصادي بې ثباتي رامنځته شي، نو د نورې نړۍ هېوادونه ور څخه ډېر زيات اقتصادي زيانونه ګوري.
۴. د يو څو خاصو اجناسو په توليد کې تخصص ترلاسه کول د اقتصادي بې ثباتۍ د رامنځته کېدو امکان زياتوي.
۵. د وارداتو په موجوديت کې پرمختيايي هېوادونو ته ډېره ستونزمنه ده، چې نوی صنعت رامنځته او په پښو يې ودروي، ځکه چې نوموړي هېوادونه ددې جنس په توليد کې تخصص نلري؛ ولې د هغې په مقايسه پرمختللي هېوادونه د نوموړي جنس په توليد کې کاملاً تخصص او سابقه لري. نو پدې اساس نوی رامنځته شوی صنعت د نوموړو هېوادونو د صنعت سره رقابت نشي کولی.
۶. نړيوال تجارت د جنګ رامنځته کېدو سبب ګرځي، ځينې وختونه د مارکېټ د ترلاسه کولو او همدارنګه د خامو موادو د ترلاسه کولو پر سر د هېوادونو تر منځ رقابت رامنځته کېږي، چې دوی د قدرت د ترلاسه کولو په خاطر خپل منځ کې په جنګ اخته کېږي. د اول نړيوال جنګ د رامنځته کېدو اساسي عامل د انګلستان او جرمني تر منځ د مارکېټ پر سر رقابت و. په نتيجه کې ويلی شو چې د نړيوال تجارت ګټې نسبت د هغې ضررونو ته ډېرې زياتې دي او همدارنګه د خارجي تجارت د ښه او مناسبو پاليسيو په رامنځته کولو سره کولای شو دغه ضررونه له منځه يوسو او يا يې راکم کړو؛ نو ټول هېوادونه ددې طرفدار دي، چې نړيوال تجارت ته نوره پراختيا ورکړي. (۸)

پايله:

انسانان خپلې اړتياوې په ځانګړې توګه نه شي پوره کولی او د خپل ژوند د اړتياوو د رفع کولو په خاطر ضروري شيان د تجارت په مرسته د نورو اشخاصو او هېوادونو څخه ترلاسه کوي. داخلي تجارت په ملک کې دننه توليد شويو توکو راکړه ورکړه څرګندوي؛ نړيوال تجارت د نورو ملکونو سره د توکو او خدماتو تبادله ښکاره کوي. د نړيوالې سوداګرۍ له لارې يو هېواد ته نوې تکنالوژي او د ضرورت وړ پانګه جريان پيدا کوي. نړيواله سوداګري د ښېګڼو تر څنګ ستونزې او نيمګړتياوې هم لري، چې ددې ستونزو حل د هېواد د خصوصي او دولتي سکتورونو د مسئولينو له خوا د مناسبو پالېسيو په غوره کېدو سره ممکنېږي. نړيوال تجارت د هېوادونو ترمنځ د عواملو د انتقال په نتيجه کې د قيمتونو د برابروالي سبب ګرځي. بله دا چې سوداګري که بهرنۍ وي او که کورنۍ، دواړه ډولونه يې د اقتصادي فعاليتونو په پراختيا سره، د کارونو د رامنځته کېدو، د عايد د سطحې د لوړوالي، د ټولنيز ژوند د کچې په لوړولو او د هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې مهم ارزښت لري. همدارنګه سوداګري نه يوازې ښارونه له يو بل سره تړي، بلکې ښارونه له کليو سره تړي او خلکو ته له يو بل سره پيوند ورکوي او د بېلابېلو قومونو، قبايلو او هېوادونو تر منځ ټولنيزي، فرهنګي، اقتصادي او سياسي اړيکې پراخوي.

وړانديزونه:

۱. ملي سوداګرو څخه بايد جدي ملاتړ، او پاملرنه ورته وشي.
۲. د هېواد مختلفو سيمو ته د ملي توليداتو د انتقال لپاره بايد اسانتياوې برابرې شي.
۳. د تجارتي اجناسو د ضايع کېدو د مخنيوي او کموالي په خاطر سړې خونې، ګودامونه او نور حفاظتي مرکزونه چمتو شي.
۴. د صادراتو د زياتوالي په خاطر په بهرنيو هېوادونو کې ملي توليداتو ته بازارونه وموندل شي.
۵. په سوداګرۍ کې د ستونزو د عواملو مخنيوی او ملي سوداګرو ته اسانتياوې برابرې شي.

۶. د غير ضروري توکو د واردولو مخنيوی او د ضروري توکيو د واردولو لپاره سوداگر وهڅول شي.
۷. سوداگر بايد د دولت د قانوني ملاتړ څخه برخمن اوسي.
۸. سوداگرو ته بايد د سوداگريزو چارو د ترسره کولو لپاره د پاسپورت او وېزې اسانتيا برابره شي.

Abstract:

As the needs and necessities of human being is increasing day by day, and they cannot fulfillment their needs directly, so they must fulfill their needs indirectly from trading, as trading is a better economic resource of fulfilling needs and creating of values and employment opportunity. It is certain, that no country can develop without having trading relationships with other countries. Today's developed technology has given the world a village shape and all nations have tightened up across and economic relationships with each other. These economic relations have a great value, and specially, trading relations is a good and explosive example of it.

اخځليکونه:

۱. اميري، عبدالحق. (۱۳۸۱ل). په افغانستان کې سوداگري؛ ژباړن: محقق حفيظ الله (حداد). اريک د گرځنده کتابتون اداره.
۲. جويا، شېراحمد؛ رحمتي، محب الرحمن. (۱۳۸۲ل). جغرافيايي نفوس. کابل: کابل پوهنتون.
۳. زاهد مشوانی، عبدالقيوم. (۱۳۸۵ل). پښتو قاموس؛ د افغانستان د علومو اکاډمي- د پښتو څېړنو نړيوال مرکز. دانش خپرندويه ټولنه.
۴. شبان، محمدانور. (۱۹۹۲م). تيوری ها، عوامل و سياست های انکشاف. پشاور: مطبعه نياز ارت پريس.
۵. عميد، حسين. (۱۳۸۴). فرهنگ فارسی عميد. تهران: موسسه انتشارات امير کبير.
۶. قاموس اصطلاحات حقوقی. (۱۳۸۹هـ ش). دري و پشتو. پروژه امور عدلي و قضايی افغانستان. کابل پوهنتون.
۷. آريانا دايرة المعارف. (۱۳۸۲-۱۳۹۰). کابل دويم ټوک، دويم دور؛ د افغانستان د علومو اکاډمي. کابل: د نبراسکا مطبعه.
8. Macroeconomics & economic development of Pakistan, professor: M.Saeed Nasir, Ilmi Katab Khana, 2009/2010, p.220/221.
9. www.worldometers.info/world-population (accessed 05.10.2013).
10. www.Preservearticles.com/index.php.

پوهنوال سيف الله (هادي)
طب پوهنځی- داخله څانګه

د خوړو انتي اوکسيدانت توکو ارزښت

لنډيز:

انتي اوکسيدانت ارجاعي توکي دي، چې بدن د ازادو راديکالونو د زيانونو څخه ساتي، او په سبو، مېوو او ځينو نورو خوړو کې موندل کېږي. دا توکي عبارت دي له ويټامين سي، ويټامين E، ويټامين A بيتاکاروتين، ګلوتاتايون، بيلوروبين، يوريک اسيد، فلاوونيد، سيلينوم، منګنيزم، مس او زينک څخه. فوليک اسيد، ويټامين بي ۱۲، ويټامين بي۲، او ويټامين بي۲ د وينې د هموسيستين کچه کموي. انتي اوکسيدانت د سرطان، حاد التهاب، د زړه د رګونو ناروغي (د زړه اسکيميا، انفارکشن)، اتيرو اسکليروزس، د شکرې ناروغي، نيورو ديجينيراتيف ناروغي(عصبي خرابوالي) (Alzheimeirs ناروغي)، سينيل ډيجينيرشن (د زوړتوب انحطاط)، کترکت (د سترګو ګل) زکام، نزله، او د لوړو ارتفاعاتو ناروغيو د منځته راتګ څخه مخنيوی کوي او د بدن معافيت لوړوي. (۵،۱)

سريزه:

انتي اوکسيدانت توکي په پراخه اندازه په سابو او مېوو کې شته، چې د زړه رګونو ناروغۍ، اتيرو سکليروزس څخه مخنيوی کوي. د ژمي په موسم کې د زړه ناروغيو پېښې زياتې وي، ځکه چې په دې موسم کې سابه او مېوې کمې وي. د ۱۹۵۰ کال څخه راپدېخوا په امريکا کې د زړه د رګونو ناروغيو پېښې کمې شوي، ځکه چې خلک سابه او مېوې ډېرې خوري. په انګليند کې National diet and nutrition سروې ښودلې، چې ۲۵ کلن او له دې څخه پورته عمر کې د بې کمپلکس ويټامينونو (فوليک اسيد، ويټامين بي ۲، ۶، ۱۲) او انتي اوکسيدانت کمښت زيات وي. څرنګه چې انتي اوکسيدانت د بدن لپاره ګټور توکي دي، نو ما اړينه وګڼله چې ددغو توکو د ارزښت په اړه يوه علمي مقاله وليکم، ترڅو د لوستونکو د ګټې وړ وګرځي.

موخې:

- د انتي اوکسيدانت توکو پېژندل او په ارزښت يې پوهېدل.
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او لوستونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

د خوړو د انتي اوکسيدانت توکو اغېزې:

د انسان په بدن کې د ځنډنيو ناروغيو، التهابي ناروغيو، راډيوتراپي او سګريټ څکلو له کبله يو شمېر ازاد راديکالونه (پرو اوکسيدانت، لکه هايدروجن پر اوکسيد، هايپوکلوريس اسيد، هايدروکسيل راديکالونه) جوړېږي، چې د بدن شحمي اسيدونه، پروتينونه، DNA، معافيت او تکثري پروسه تر بريد لاندې نيسي او د تخريب لامل کېږي، چې په نتيجه کې د سرطان، حاد التهاب، د زړه او رګونو ناروغي، د اوعيو انسدادي ناروغي، اتيروسکليروزس، د شکرې ناروغي، عصبي استحالوي ناروغي (Alzheimeirs ناروغي)، د زوړتوب استحالوي ناروغي، تنفسي ناروغي، د ځيګر ناروغي، د پوستکي ناروغي، کترکت (د سترګو ګل) او د لوړو ارتفاعاتو ناروغي د زکام او نزلې او ډول ډول وايروسي ناروغيو لامل کېږي؛ د بدن معافيت کموي، د تنفسي هوايي لارو د سلياد مقاومت کموي او انتان ته لاره هواروي. انتي اوکسيدانت هغه توکې دي، چې بدن د دغه ازادو راديکالونو د زيانونو څخه ساتي. د ۵۰ کلونو څخه پورته هر لس کالو کې د ماکولا د استحالې او اتروفي له کبله د ليدلو توان کمېږي، نو دغه کسان بايد ډېر انتي اوکسيدانت ويټامينونه او منرالونه وخوري؛ همدارنګه فوليک اسيد او ويټامين بي ۱۲، ۶ او ۲ زيات استعمال کړي. د انتي اوکسيدانت لرونکو توکو زيات خوړل د ځينو خوراکي موادو د جذب د خرابوالي لامل کېږي، ځکه چې په پالک، چايي، لوبيا، شلغم، چاکليت، کباڅ او نورو حبوباتو کې اوکسالېک اسيد، فائتيک اسيد، تانين دي، دوی د اوسپنې، زينک، کلسيم د جذب څخه مخنيوی کوي. (۷،۲)

د انتي اوکسيدانت ډولونه:

1. ويټامينونه: A,C,E
2. منرالونه: سيلينيوم، منگنيزيم، مس، او زينک.
3. انزايمونه: glutathione peroxidase glutathione reductase, Super oxid dismutase, catalase,
4. نور مغلق مرکبات: لکه گلوتاتايون، فلاوونيد، بيلوروبين، او يوريک اسيد.
5. فوليک اسيد، ويټامين بي۲،۲،۱۲ انتي اوکسيدانت نه دي، د سيروم هموسيستين کچه کموي، په دې توگه د زړه د اسکيميک ناروغيو رامنځته کېدو څخه مخنيوی کوي.

د انتي اوکسيدانت توکو سرچينې:

۱- بيتا کاروتين (ويټامين A) او نور بيتا کاروتونيد: دا انتي اوکسيدانت په لوکاټ، براکولي، گازرې، جوار، شنه مرچ، چغندر، ام، شلغم، شنه رنگ لرونکې مېوې، سابه، شهد، د گلانو اوبه، شفتالو، الو، انگور، کدو، اسکواش، جوس، د مېوو اوبه، پالک، خواږه کچالو، روميان، هندوانه، او سنتره کې وي.

۲- ويټامين C: ويټامين سي په ځمکني توت، گلپي، د انگورو اوبه، شهد، ام، نارنج، سره، شنه او ژيړ مرچ، خواږه کچالو او روميانو کې وي.

۳- ويټامين E: دا د اتيرو اسکليروزس د پرمختگ څخه مخنيوی کوي او LDL (لوډينستي ليپو پروتين) اوکسيدشن کموي. ويټامين E په گازرو، حبوبات، براکولي، شلغم، افتاب پرست، ام، داني، سور مرچ، پالک، الو، الو بخارا، منه، ممیز، بانجان، پياز، باقلي او لوبيا کې وي.

۴- سيلينيوم: په حبوباتو، چرگانو او د غوا غوښه کې وي.

۵- زينک: په کبانو، سره غوښه، چرگ، حبوباتو، بحري خوړو کې وي.

۶- فلاوونيد: په پياز، منه، سور، ژيړ او نارنجي رنگه سبو کې وي؛ دا د زړه رگونو او د ځنډنيو ناروغيو د منځته راتگ څخه مخنيوی کوي او د بدن معافيت لوړوي. د کمښت څخه يې په بدن کې پړسوب، زخمونه، د پزې وينې کېدل، او زکام پيدا کېږي. کله چې مېوه او سابه ډېر وخوټول شي ۵۰فيصده فلاوونيد له منځه ځي، نو هڅه دې وشي چې سابه او مېوه اومه وخوړل شي.

۷- ليپوئک اسيد: په اوبو کې منحل انتي اوکسيدانت دی، چې په خوړو کې وي.

۸- يوريک اسيد: په اوبو کې منحل انتي اوکسيدانت دی، چې په لوړو ارتفاعاتو کې د هايپوکسيا بدې اغېزې کموي؛ هغه ناروغان چې په نقرص اخته دي، د لوړو ارتفاعاتو په ناروغۍ (acute mountain disease) نه اخته کېږي؛ همدارنگه يوريک اسيد د الرژيک انسفالوميالیتس په درملنه کې اغېزمن دي.

۹- يوبيکوينول: په شحم کې منحل انتي اوکسيدانت دی چې په نباتاتو او حيواناتو کې موندل کېږي.

۱۰- ليکوپين: يو سور کاروتونيد صباغ دی، چې په سبو، بېرې، او روميانو کې وي؛ دا د زړه انفارکشن څخه مخنيوی کوي. (۲،۳،۴،۸)

هموسيستين، د زړه رگونو ناروغي او بي کامپلکس ويټامينونه:

هموسيستين يو امينو اسيد دی، که په وينه کې يې اندازه زياته شي، د زړه د اسکيميک ناروغي، ستروک، ترومبوسس، د سږو امبوليزم، د اکليلي شريانو د بيا تنگېدو او د زړه د عدم کفايې د پيدا کېدو لپاره خطري فکتور دی. په کومه اندازه چې سگرټ او د وينې غوړوالی زياتوالی د پورته ناروغيو په منځته راتلو کې خطري دی، په همغه کچه د امينو اسيد هم دی. که چېرې يو څوک د پخوا څخه د زړه د رگونو ناروغي ولري او د سيروم نوموړي امينو اسيد اندازه پنځه ملي مول في ديسي ليتر ته ورسېږي، د زړه د ناروغيو پيداکېدو خطر دوه چنده کېږي. که د سيروم هموسيستين د ۱۰ملي مول في ديسي ليتر وي، د زړه د رگونو ناروغيو خطر کم وي. که ۱۰-۱۵ملي مول في ديسي ليتر ته ورسېږي، خفيفاً د زړه د رگونو ناروغۍ خطر زياتېږي؛ او که د ۱۵ملي مول څخه زيات وي، شديداً د زړه د ناروغيو خطر زياتېږي. په ۵-۲۰ فيصده خلکو کې د سيروم

هموسيستين غلظت د ۱۵ملي مول څخه لوړ وي. هغه فکتورونه چې د سيروم د هموسيستين د غلظت د زياتوالي لامل کېږي، عبارت دي له:

1. نارينه جنس، مينو پاوس او د عمر زياتوالی.
2. life style فکتورونه: سګرټ څکل کې کافي زياتوالی، الکول څکل، سپورت نه کول.
3. د ويټامينونو کمښت: فولات ويټامين بي ۱۲، ۲، ۲: دا ويټامينونه د سيروم هموسيستين اندازه کموي، الکول د نوموړيو ويټامينونو کچه کموي.
4. د ځينو غړو عدم کفايه، لکه د ځيګر او د پښتورګو عدم کفايه.

هموسيستين د لاندې ميکانيزمونو په واسطه د اوعيو د ناروغيو لامل کېږي:

1. هموسيستين د اوعيو د اپي تيليل حجرات تخريبوي.
2. د وينې اوعيي شخوي.
3. د وينې پرنډېدل زياتوي. (۸، ۲، ۴)

هموسيستين په خوړو کې نشته؛ په بدن کې د فوليک اسيد، ويټامين بي ۱۲، ۲، او بي ۲ په واسطه د انزايماتيک تعاملاتو له کبله په يو ضروري امينو اسيد (ميتونين) بدلېږي. په وينه کې د هموسيستين غلظت زياتوالی په مقدم ډول د زړه او رګونو ناروغي او ترومبوسس لامل کېږي. که چېرې د وينې غلظت يې د ۳ملي مول في ديسي ليتر څخه کم وي، د زړه د اسکيميک ناروغيو ۱۲ فيصده، د ژورو وريدونو ترومبوسس ۲۵ فيصده او ستروک ۲۴ فيصده کمېږي. د فوليک اسيد، ويټامين بي ۱۲، ۲ د ورکولو سره د وينې د هموسيستين کچه کمېږي، چې د زړه د اسکيميک ناروغيو او د ژورو وريدنو ترومبوسس پېښې کمېږي. که چېرې يو ناروغ د اسکيميک ناروغيو له کبله انجيوپلاستي شوی وي، ددې ويټامينونو د ورکولو سره د هموسيستين د کچې د کمولو له لارې درې ستېنوسس خطر کمېږي. ددې ويټامينونو کمښت په زړو خلکو کې ډېر دی. په انګلينډ کې national diet and nutrition سروې ښودلې، چې ۲۵ کلن او پورته ددې څخه د فوليک اسيد کمښت ۲۹ فيصده (۸ فيصده شديد) او ويټامين بي ۱۲ اته فيصده خلکو کې وي. د بي ۲ ويټامين کمښت په زړو خلکو کې معلوم نه وي او په ځوانانو کې د نارمل اندازې په پرتله نيم و. ددغه ويټامينونو (په تېره فوليک اسيد) د زرق سره د دوراني هموسيستين اندازه کمېږي. دغه ويټامينونه ارزان دي. د هموسيستين د سيروم کچه د زړه او رګونو په هغو ناروغانو کې ولټول شي، چې د اسکيميک ناروغيو کورنۍ تاريخچه ولري او نور خطري فکتورونه لکه سګرټ څکلو، د وينې لوړ فشار، د وينې غوړ لوړوالی، فزيکي فعاليت نه کول، چاغوالی، او شکري ناروغي ونلري.

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې انتي اوکسيدانت د انسان د روغتيا او سلامتيا لپاره هغه اړين او ضروري توکي دي چې بدن د ازادو راديکالونو د ضرر څخه ساتي او د اتيرواسکليروزس، د زړه رګونو ناروغيو، د وينې لوړ فشار، سرطان، د بندونو د التهاب، انتاناتو، زکام او يخ وهلو څخه مخنيوی کوي او د بدن معافيت لوړوي. نن سبا په هېواد کې د زړه د رګونو ناروغي، د شکري ناروغي، د وينې فشار لوړوالی او د وينې غوړ لوړوالی غټې ستونزې دي او ډېر خلک پرې اخته دي؛ ددې ستونزې د اواري لپاره د انتي اوکسيدانت توکو خوړل اړين دي. څرنګه چې دا توکي زياتره په شنو سابو او مېوو کې دي، نو خلک دې کوښښ وکړي چې د يادو ناروغيو د مخنيوي لپاره خپلو ورځنيو خوړو کې سابه او مېوې ډېرې کړي، ترڅو د ذکر شويو ناروغيو مخه ونيول شي.

وړانديزونه:

1. څرنګه چې انتي اوکسيدانت توکي د نورو خوړو په پرتله په سبو او مېوو کې ډېر دي، نو کوښښ دې وشي چې نوموړي خواړه زيات او دغه راز اومه وخوړل شي، ځکه چې د پخولو او خوټولو سره نوموړي توکي له منځه ځي.
2. داکتر صاحبان دې هم ناروغانو ته چې په نوموړيو ناروغيو اخته وي او که نه وي، د سبو او مېوو د خوړلو سپارښتنه وکړي.

Abstract:

Antioxidants are reducing agents; protect body from damge of free radicals. Antioxidant is vit.C, vit.E, vit.A, beta carotene, glutathione, bilrubin, uricacid, flavonid, selenium, mangnesium, coper, and zinc. Folic acid, vit.B12, vit.B6, vit.B2, reduces serum homocystein level.

References:

1- ^ a b c d e f Sie, Helmut (1997)."Oxidative stress: Oxidant and antioxidant". Experimental physiology 82(2): 291- 5. PMID 9129943 http://ep.physoc.org/content/82/2/29.log.

2-Asplund k (2002) Antioxidant vitamins in the prevention of cardiovascular disease: a systemic review. Journal of internal medicine 251:372-392.

3-Braunwald Eugene 2005 Harrison's Principle of internal medicine Mc Grawhil New york p-1549,52,22

4-Carmel R Jacobsen DW (2001) Homocystein in Health and Diseases. New York. Cambridge ACademic Press.

5-Has lett Christopher 2002 Davidson's principle and practice of medicine , Churchill Livingstone , London p-644

6-Institude of medicine(2000) Dietary Reference Intakes for thiamin ,Riboflavine,Niacin ,Vitamin B6 ,Folate ,Viamin B12 ,Panthotinic acid ,Biotin and Cholin e. Washinton DC :National Academic Press.

7-Kummar Parveen and Clark, michal 2002, clinical medicine W.B Saunder's ,London p 247

8-Tierney JR lowrence M 2011 current medical diagnosis and Treatment, MC Grawhill,New York p181,11,124

پوهـــندوی فـــضل ولـــي (ناګار)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

د بايزيد روښان د ستر خليفه ملا ارزاني په باب نوې څېړنې

لنډيز:

ملا ارزاني چې د بايزيد روښان مشر خليفه او د روښاني طريقت تر ټولو لوی مبلغ او مفسر دی، د اخون درويزه دې وينا چې له روښان نه خپه شوی ؤ، څېړونکي په شک کې اچول. که څه هم دده دوه ورونه چې له روښانيانو سره تر پايه پاتې او د يوه شهادت يې هم په حالنامه کې راغلی، نوره دغه تذکره د ارزاني په باب چوپه وه. اوس چې د ارزاني پر مزار، خانقا او مدرسې نړيوال راپورونه خپاره شول او هم د نولسمې پېړۍ د يوه هندي ليکوال د ارزاني په باب حقايق راڅرګند شول؛ نو جوته شوه، چې اخون درويزه او نور ليکوال د مغلو د پروپاګند تر اغېزې لاندې راغلي وو.

سريزه:

ملا ارزاني د روښان په ګروهمنو کې ډېر لوی عالم او د وحدت الوجود په رموزو او اسرارو خبر شخصيت و. په دې ليکنه کې زيار ګالل شوی، چې پر علمي اسنادو او شواهدو جوته شي، چې ارزاني د روښاني طريقت له مرکزه ډېر لرې هم د همدې تګلارې پلوي او خپروونکی ؤ. دده ديوان د داخلي شهادت په توګه، همداسې يې ورونه، د خبري رسنيو راپورونه او يو بل ډېر ستر ماخذ (تحقيقات چشتي) د شواهدو په توګه وړاندې شوي دي.

موخې:

د ليکنې موخه داده، چې مغلي امپراتورۍ له روښانيانو سره يوازې د ميداني مبارزې لاره نه وه نېولې، بلکې له نورو وسايلو لکه مذهبي تورونو او ډول ډول دسيسو نه يې هم کار اخيستی و. دې ليکنې د نوو لاسته راغلو ماخذونو په مټ جوته کړه، چې روښاني طريقت تر پايه د خپلو ګروهمنو او پښتنو تر منځ مقبول پاتې شوی دی. پکار خو دا وه، چې اخون درويزه او نورو روحانيونو بايد د اکبر د (دين الهي) پر ضد تبليغاتي جګړه کولی، لکه ارزاني چې په هند کې دغه دنده ترسره کړه؛ خو متاسفانه په ناخبره توګه د بې لارې اکبر لپاره د يوه ازادي بخښونکي غورځنګ او حقاني طريقت پر ضد وکارول شول، چې تاريخ به يې هيڅکله هم ونه بخښي.

د بايزيد روښان د ستر خليفه ملا ارزاني په باب نوې څېړنې:

ملا ارزاني خويشکی د بايزيد روښان په خلفاوو کې هغه نوميالی عالم شخصيت دی، چې مخالفين يې هم پوهه مني او پرې اعتراف کوي. له ده نه يو لوی پښتو ديوان پاتې دی، چې د پښتو ژبې د عرفاني ادب يوه لويه پانګه يې ګڼلی شو. حالنامه چې د روښاني کورنۍ يوه هر اړخيزه تذکره ده، د ملا ارزاني په اړه همدومره وايي، چې خليفه مودود او ملا ارزاني له هندوستانه راغلل، مريدان شول او خپل مطلب ته ورسېدل. ملا ارزاني په پښتو ژبه يو ديوان لري چې بېساري رباعي ګانې يې پکې ويلي دي او څه وخت چې شاوخوا واکمنو ته د خپلو خلفاوو په وسيله بلنه ورکوي، نو بيا ليکي: ((بيا يې ملا ارزاني هندوستان ته رخصت کړ، چې د خدای ج بندګان ترې د ذات معرفت او د توحيد علم زده کړي)). (۲)

د روښانيانو ډېر کلک او سخت مخالف اخون درويزه ليکي: څرنګه چې ارزاني تيز فهمه او فصيح ژبی شاعر و، په فارسۍ، هندي او عربي ژبو يې د بېلابېلې ګمراهۍ او بدعت شعرونه ويلي دي او ددې لعين (روښان) د کتاب (خيرالبيان) په بشپړتيا کې يې مرسته کړېده. (۱۰)

اخون درويزه ددې لپاره چې روښان وغندي، د ملاارزاني په باب وايي: څه وخت چې پير تاريک لارې وهل او مسلمان وژنه پيل کړه، ارزاني ترې بېل شو او بېرته هند ته ولاړ. په مخزن الاسلام کې چې د درويزه تاليف دی، د روښان مسجعې غندنې متلونو ته هم لاره کړې، لکه دا نيمه نظم، چې: تيرايي له عقله پلي، پير تاريک يې ګرځاوه کلي په کلي. نن هم زموږ د سيمې شاوخوا (بتې کوټ ولسوالۍ) کې ځينو ولسونو ته خطاب کېږي. (۱۱)

پر پورتنيو شواهدو سربېره يو بل مهم اصل چې د اخون درويزه ادعا ردوي، هغه د روښان په عرفاني غورځنګ کې د ارزاني د نورو دوو ورونو ملا علي او ملا عمر ګډون دی، او که چېرې رښتيا هم ملا ارزاني روښاني تصوف ته شا کړې وه، نو بيا يې دې دوو ورونو له روښانيانو سره څه کول چې او سېدل. د ارزاني ورور ملاعمر خويشکی د روښان له نوميالیو خلفاوو ګڼل کېده، چې په غزای کلان (۹۸۹) هـ کې شهيد شو. حالنامه وايي: ((در آن روز سه تن از خلفای نامدار شهيد شدند. يکی ايوب، دوم ملا ذکريا، سوم ملا عمر خيشکی رضوان الله عليهم)). د داخلي شهادت په توګه د ملا ارزاني ديوان يو لوی سند دی؛ دغه پنډ او ضخيم کتاب له سره تر پايه د روښاني تصوفي ګروهې د مقامونو او افکارو شرحه او تفسير دی، تر دې چې ارزاني سل ځايه پکې پښتو يادوي او ځان ته افغان وايي. له دې هم ښکاري، چې ارزاني د روښان د يوه پليوني په توګه د روښاني ذهنيت ددې فکر علمبردار ؤ، چې په هند کې پښتنه امپراتوري يو ځل بيا رامنځته شي. که څه هم دا يوه سياسي ربړه ده، خو په ژبه او قام دومره ويارل د يوه ځواکمن ملي او سياسي شاليد (پس منظر) استازي کوي:

ارزانـــي پښـــتو خبره – ته يې مه ګڼه هلکـــه
دا خبره که پښتو ده – څوک دې نه کا ځنې کرکه

او يا:

دا پښـــتو خـــبره واوره – لـــه دې ارزاني افغانه
(۴)

بايزيد روښان په خيرالبيان کې يو حديث راوړی، چې: ((انا فی السماء احد و فی الارض محمد و من ورائهم احد. نبي ويلي دي عليه السلام)).

روښان چې د دې حديث (د قاسمي صيب په اند موضوعي) کوم تاويل کوي، نو ارواښاد قاسمي صيب ليکي، چې اخون درويزه او پير بابا له ده سره په دښمنۍ ګرم نه وو. (۵)

که څه هم دا خبره له روښان بابا ډېره مخکې شيخ محمود شبستري په لږ څه بېل انداز کړې:

زاحمد تا احد يک ميم فرق است - همه عالم درين يک ميم غرق است
(۶)

او بيا يې په شعر او تصوف کې رواج موندلی، تر دې چې موشګاف عبدالحميد مومند يې هم په شعر کې راوړي:

د احد د احمد فرق په يوه ميم دی – چې په بوی يې د مخلوق سره شميم دی
(۷)

موږ د حديث له موضوعيت او اختلاف سره کار نه لرو او ترې موخه مو داده، چې که چېرې رښتيا هم ارزاني له بايزيد روښان نه خپه وی، نو هيڅکله به يې دده پر پل، پل نه وای ايښی. ارزاني د روښاني طريقت پر نورو افکارو سربېره دا مطلب داسې راوړي، چې بايد خيرالبيان د فکر و اند تفسير يې وګڼو:

دا احد په ميم احمد دی – احد يو دی له احمده
دا د ميم برخه کثرت شو – لـــه احده شوه عدده

علي محمد مخلص چې د حالنامې اوډونکی او پرې زياتونې يې کړې دي، د ارزاني پر پله روان ښکاري. هغه هم دغه مطلب راسپړي، نو که چېرې رښتيا هم ارزاني له روښاني طريقته اوښتی وی، ده به يې په يوه نه يوه شکل يادونه خامخا کړې وی. مخلص دغه فکر داسې سندريز کوي:

په اسمـــان يې نوم احمد ؤ – کـــوز په ځمکه محمد ؤ

نور ورايي له کـــوزه پاسه – دی نوملـــی په احـــد ؤ

روښاني طريقت د خفي ذکر او کامل پير ډېر سپارښت کوي، له دې کبله پرې مخالفينو د اسماعليت تور هم لګولی و. ارزاني وايي:

نن کامـــل لـــره وردرومه – خپله چـــار کـــره سر انجامه

دی به درکـــرې خفي ذکر – پرې مشغول اوســـه مدامـــه

د ارزاني پښتو يادول او ځان افغان ګڼل د مغلو په وړاندې د پښتنو د هغې سرغړاني احتجاج انځور دی، چې پېړۍ- پېړۍ ورسره پښتانه لاس و ګرېوان پاتې شوي دي. د نهمې هجري پېړۍ غزلبول شاعر اکبر زميندا وري پخوا ويلي وو، چې:

د مغلو تيمور هسې په زړه وسوم – چې به هېر په دا ماتم زميندا ور کړم

ارزاني په هندي پښتنو کې لومړی سړی دی، چې په نثر يې هم ليکل کړي دي؛ نثر يې ساده او روان دی، که څه هم دا وخت په پښتونخوا کې مسجع نثر رواج ؤ، خو ارزاني سجعې ته ځای ورنکړ. ددغې نيمګړې رسالې موضوع عبادات، اخلاق، عقايد او په پای کې د روښاني طريقت د اتو مقامونو تشريح او تفصيل دی. (۹)

(تحقيقات چشتي) په اردو ژبه د مولوي نور احمد چشتي (۱۸۲۹) م زوکړه، تاليف چې د لاهور په دايرة المعارف شهرت لري، د ملاارزاني په باب چې دی يې شاه ارزاني بولي، څرګندونې لري؛ نه پوهېږو چې دغې څېړنې ته تر اوسه ولې زموږ د محقيقينو پام ندی اوښتی. د تحقيقات چشتي ليکوال ليکي، چې حضرت حسين ته شاه ارزاني وويل، چې راځه د باطن پر ځواک زرو ازمايي وکړو، پدغې باطني او روحاني سيالۍ کې حضرت حسين غالب شو، تر دې چې شاه ارزاني يې باطني زور ومانه. بيا يې ورته وويل، چې هند ته لاړ شه، خو ارزاني تر مرګه ورسره پاتې شو. حضرت حسين ورته وويل، چې که ته چېرې د پير روشنضمير علمبردار نه وی، نو سزا به مې درکړی وی. ارزاني ددې حکم له مخې د هند پټنې ته لاړ، هلته يې ډېر عزت او شهرت پيدا کړ، تر دې چې په څو ورځو کې يې د مريدانو شمېر دوو لکو ته ورسېد، چې تر اوسه يې قبر د خلکو زيارتګاه او له زايرينو نه ډک وي. (۱۰)

په دې ليکنه کې د هند پټنه او د پير روشنضمير يادول او همدارنګه يې هلته جومات، خانقا، مدرسه او مريدان هغه شواهد دي، چې د حالنامې څرګندونې لاپياوړې کوي. بي بي سي نړېوالې راډيو د ځينو پروګرامونو په ترڅ کې د هند په پښتنو هم څېړنې کړي، لکه د اردو برخې خبريال سيد عابدعلي عابد چې پر (جرنيلي سرک) خپل راپورتاژ د کتاب په ډول خپور کړی او دا يې جوته کړې، چې جرنيلي سرک د سوري شېرشاه له خوا تر بنګاله غځېدلی ؤ. د پېښور په صدر بازار کې يې هغه تيره موندلې، چې عادل شېرشاه ترې پيلامه کړې وه. د لرې پښتونخوا تکړه ليکواله او د بي بي سي د خپل وخت ويانده (صفيه حليم) د هند پر پښتنو څو کتابه خپاره کړي دي. د (د هندوستان پښتانه، بهار) په کتاب کې ليکي: په (۲۰۰۳) م چې کله نه د بهار د پښتنو په پوښتنه پټنې ته لاړم، نو حسين احمد د ارزاني د مزار په خانقا کې غونډه جوړه کړه؛ هلته راته ده او نورو استاذانو معلومات راکړل. حسين احمد د شاه حسين په نامه د ارزاني ديارلسم ځايناستی دی، چې د روښاني تصوف ډيوه يې بله ساتلې ده.

ارزاني د خپل پير (روښان) غوندې د وحدت الوجود لاروی او مبلغ ؤ، چې د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم په بشارت هندوستان ته تللی دی چې موخه يې د مغل واکمن (اکبر) د (دين الهي) د اغېزو ليرې کول و. د اکبر د نوي مذهب مخالفت حضرت مجدد الف ثاني هم کړی دی، خو د هغه وخت تاريخونه وايي، چې حضرت مجدد د مناظرو لاره نيولې وه، چې شخړې يې جوړولې؛ خو ملا ارزاني په ډېره مينه د يوه مهربانه مشر په توګه د امن لاره نيولې وه. ارزاني پټنې ته له ورتللو ړومبی له قصوره، اجمير، ډيلي، بنارس او عظيم اباد کې ايسار او په سلګونو شاګردان يې وروزل. ددې تبليغ تر څنګ يې په بهار کې د مدرسة الاسلام په نامه مدرسه هم جوړه کړه، چې تفسير، فقه او حديث پکې تدريسېدل. د پارس له کرمان څخه يو کس د شاه عبدالله کرماني په نامه د ارزاني د شهرت په اوازه راغی، له ارزاني څخه يې بيعت تر لاسه او هغه بنګال ته ولېږه. د همدې شهرت اغېزه وه، چې مغل شهزاده شاجهان يې حضور ته راغی؛ ارزاني ورته په راتلونکي کې د پاچا کېدو زېری ورکړ. همدا لامل ؤ، کله چې شاجهان پاچا شو، دده د مزار د جوړولو امر يې وکړ، ځمکې يې ورته وقف

کړې، چې د مدرسې او مزار ساتنه پرې وشي. د مزار شاوخوا يې نور مريدان هم ښخ دي، پخوا يې د زيارت تر څنګ ونې او عيدګاه هم وه.
ملا ارزاني واده نه لاره، کله چې پر ((۱۰۲۸)) هومړ، نو د مريدانو د پرېکړې له مخې دده د ښوونو د تلپاتې بهير لپاره يې يو خليفه پر ګدۍ ناست او مدرسه به اداره کوي. کله به چې اختلاف ؤ، نو د ټاکنې لپاره به رايې اخيستل کېدلې؛ اوس يې هم د خانقا ځايناستی (سجاده نشين) ټاکل کېږي، چې زياتره د پټنې پوهنتون استاذ وي. په ټول هند کې دا يوازېنی مزار دی، چې موروثي نه دی؛ د هند تر ويش وروسته مدرسه وتړل شوه، خو اوس بيا پرانستل شوې ده.
هر کال د شاه ارزاني عرس درې ورځې وي، يوه ورځ د ښځو لپاره وي؛ دلته د هر مذهب خلک راځي او خپل د زړه مراد غواړي. د خلکو شمېر تر څلوېښت زرو زيات وي، چې دغه مهال زياترو خلکو پښتني لباس اغوستی وي.
شاه حسين وايي: د ارزاني له ديوان پرته يوه يې سفرنامه او بل د مرأت المحققين کتاب و، خو هندي څېړونکو پرې نور نومونه وليکل او خپاره يې کړل. يو کتاب يې د بسم الله تفسير ؤ، چې له موږ سره نشته، خو ځينې برخې يې چاپ شوې دي. همدا راز دده جامې، پګړۍ، خولۍ، پټې، تسپې، کچکول او مسند شته، چې د عرس (يادغونډې) پر وخت يې راوباسو. (۱۱)

پايله:

دغه څېړنه د ارزاني د عرفاني ژوند په باب په ځواکمنو اسنادو او شواهدو جوتوي، چې که څه هم د مغلي امپراتورۍ زور او تزوير روښاني غورځنګ د جګړې په ډګر کې مات کړ، خو هغه مشال چې بايزيد روښان د خپل علم، فن او روحانيت په وړانګو روښانه کړی و، تر ډېره له هنده تر پښتونخوا په ځلا و. دې څېړنې ثابته کړه، چې اخون درويزه د مخالفينو د بد تبليغ تر اغېزې لاندې ؤ. ارزاني تر پايه د روښاني طريقت ګروهمن ؤ، چې لا تر اوسه دا لړۍ څپانده ده. همدارنګه د پښتو ادب تاريخ به د روښان د عرفاني- ادبي ښوونځي ادبي او فرهنګي ډالۍ تر عمره په زرينو کرښو ليکلې ساتي.

وړانديزونه:

- بايد د هند کتابتونونه د ارزاني په اثارو پسې وپلټل شي او هم بايد له چاپ شويو اثارو نه د ارزاني ليکنې چې ځينو د نورو په نومونو خپرې کړې او د ارزاني د مزار ځايناستي يې يادونه کړې، راټولې او له سره چاپ شي.
- د افغانستان حکومت بايد ددې لوی روښاني عالم په ياد سيمينارونه جوړ او هم دې يې اثار چاپ کړي. همدارنګه د هند په پټنه کې دده مزار ته هم ځانګړې پاملرنه پکار ده، چې دا به زموږ د ديني تشخص او کلتور د ودې کارنامه وي. همدغسې دې په هند کې د ارزاني د مزار او طريقت ځايناستي او مجاوران ووياړل شي.

خلاصة البحث:

ملا ارزانی هو الرأيد الأول و من الواعظين و المفسرين الكبار، لطريق الروخانية الصوفية. بناءً على قول اخون درويزه عضب من الروخان اوقع موقفه الباحثين و ألشک حوله. رغم كل هذا بقى اخواه الى اخر حياتهم؛ كما اشير اليه فى رساله (حالنامه). ولكن لم يشر اليه الأرزانى فى تذكرته وعند ما نشر و بث الصحيفون العالميون و كذالک الكاتب الهندى؛ الذى عاش فى القرن التاسع عشر الحقايق حول مزاره و خانقاه و اتجاهاته فظهر للناس ان هذه من اكاذيب و اباطيل المغل حوله.

اخځلیکونه:

۱- مخلص، علي محمد. (۱۳۸۸). حالنامه. د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت.
۲- مهجور خویشکی، ډاکتر پرویز. (۲۰۰۵). د ارزاني دیوان. پېښور: پښتو اکیډیمي
۳- دروېزه، اخون درویزه (۱۹۸۷). مخزن. پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي
۴- انصاري، بایزید. (۱۹۶۷). خیرالبیان. پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي
۲- لاهیچی، شمس الدین. (۱۳۸۳). مفاتیح الاعجاز فی شرح گلشن راز. شرکت قلم تهران
۷- حمید ، عبدالحمید مومند. (۱۳۸۳). سریزه، څېړنه د استاد صمیم. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۸- مخلص، علي محمد. (۲۰۰۴). د مهجور خویشکي سریزه. پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي
۹- هېوادمل، زلمی.(۱۳۷۳). په هند کې د پښتو ژبې د ایجاد او ودې پړاوونه. کابل: د علومو اکاډمي
۱۰- چشتي، مولوي نور احمد. (۲۰۰۲). تحقیقات چشتي. اردو بازار لاهور
۱۱- حلیم، صفیه. (۱۳۸۹). د هندوستان پښتانه، بهار. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

پوهندوی عبادالرحمن (مومند)
انجنيري پوهنځی- سيول ځانګه

د سيندونو په غاړو کې د کانکرېټو خوړنه (Corrosion) او له هغې څخه مخنيوی

لنډيز:

اوسمهال ډېری ساحلي ساختمانونه، چې په سيمو کې د اوسپنيز کانکريټي ساختمانونو څخه جوړېږي او ورځ تربلې يې استعمالول ډېرېږي، نو له همدې کبله د ساحلي ساختمانونو ګټور عمر ډېر مهم او د پاملرنې وړ دی، چې په ګټې اخستنې کې د وخت په تېرېدو سره کله، چې د خوړنې (Corrosion) لامل شي، نو لګښت يې ډېرېږي، حتی تر دې حده چې په ځينو حالتونو کې د بيا رغونې په پرتله له سره بيا جوړنه ترې ارزانه او لږ لګښته وي. په ډېرو تودو او خوړونکو سيمو کې (هغه سيمو کې چې د کانکرېټو خوړنه ډېره وي) ساختمانونو ګټور عمر دا په ثبوت رسولې ده چې په دې سيمو کې د کانکرېټو دا خوړنه ډېره زياته خطرناکه ده. د کانکرېټو د خوړنې د عناصرو د پېژندلو لپاره اړينه ده، چې څېړنه وشي، تر څو د کانکرېټو د خوړنې د کمېدنې او مخنيوي لپاره هغه تخنيکونه او طريقې وکارول شي، چې د دې په واسطه د هغې د ترميمولو لګښت راښکته کړي. په دې مقاله کې کوښښ شوی، چې د ځينو داسې اقتصادي، د اجرا وړ او مناسبو طريقو وړانديز وشي، چې د هغې په واسطه په کانکرېټو کې د خوړنې د عناصرو د کمېدنې او مخنيوي اغېزمن عناصر وپېژندل شي او د هغې څخه وروسته د دويمي لګښت د کمېدلو لپاره دغه عناصر کنترول شي.

سريزه:

د تعريف له مخې خوړنه يا فرسوده کېدنه (Corrosion) کېمياوي يا الکترونيکي عکس العمل دی، چې د يوې مادې يا يو فلز او د هغې د چاپېريال تر منځ واقع کېږي، چې د مادې د خواصو د بدلون لامل کېږي، او په پايله کې ماده يا فلز زيانمنېږي. کانکريټي ساختمانونه د چاپېريال د څلورو لاملونو له امله د سيخانو خوړنې (Corrosion)، د ډکوونکو موادو القلي کېدنې، کنګل نيونې او د سلفاتو د حملې په پايله کې ډېر ژر زيانمن او له منځه ځي. د سيندونو په غاړو او ساحلونو کې په اوسپنيز کانکريټي ساختمانونو او عناصرو کې په کانکرېټو کې د کلورايدو نفوذ د سيخانو په چاپېر لايه (طبقه) د منځه وړي، له همدې امله د سيخانو د خوړنې يا فرسوده کېدنې پيلامه کېږي. د کلورايدو ايونونه د کانکرېټو د اچونې چاپېريال او د کانکرېټو د ترکيب او کيفيت پورې تړلي دي. [۱]

څېړنو ښودلې ده، چې د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) او په کانکرېټو کې د (Micro Slice) مايکرو سليس کېمياوي علاوه کوونکو کارول په کانکرېټو کې د کلورايدو د ايونونو د نفوذ په کمېدنې اغېزمن دي. په دې نژدې کلونو کې د علم، تخنيک او تکنالوژۍ په چټک پرمختګ سره په نړۍ کې د بحرونو، بحيرو او سيندونو په غاړو کې په ځانګړې توګه د نفتو او ګازو د پلټنې او کشف لپاره د کانکريټي ساختمانونو د جوړېدنې شاهدان يو، چې په ځانګړې توګه د فارس خليج په سيمه کې د کانکريټي ساختمانونو د سيخانو د خوړنې يا فرسوده کېدنې په پايله کې د عمر کمېدنه د يادولو وړ ده. په دې سيمه کې د لاندېنيو بېلابېلو ترکيبي لاملونو په پايله کې دا ستونزې رامنځته کېږي:

۱. په چاپېريال کې د کلورايدو او سلفاتو د لوړ غلظت شتون.
۲. د وچو او تودو بادونو سره د لوړې تودوخې او لمدبل (رطوبت) شتون.
۳. په سيمه کې د صنعتي فاضله اوبو شتون.
۴. د شپې او ورځې په اوږدو کې د لمدبل او تودوخې د ډېر بدلون شتون.
۵. د نا مناسبې تکنالوژۍ په شتون کې د ټيټ کيفيت مسالې کارول.

۲. د سيمې د هوا په لوړ لمدبل کې د بېلابېلو ګازونو شتون.

موخې:

د دې مقالې موخه د کانکرېټي ساختمانونو په سطحه د پورتنيو شېړو لاملونو له امله د کانکرېټو د خوړنې يا فرسوده کېدنې د اغېزو څېړنه او د هغې د مخنيوي لپاره وړانديزونه دي، چې په څه ډول د دې لاملونو د اغېزو مخه ونيول شي.

د کانکرېټو د زيانمنېدنې او تخريبېدنې ميکانېزم:

د کانکرېټو جوړښت، د کانکرېټو دننې تخريب، د کېمياوي موادو په وړاندې د کانکرېټو حالت او د چاپېريال، شرايط او همدارنګه د سولېدنې په وړاندې مقاومت، د سيخانو زنګ وهنه په حقيقت کې په سيندنۍ ساحلي سيمو کې د کانکرېټو او اوسپنيز کانکرېټو چاپېريال لپاره د زيانمن کېدنې د لاملونو څخه شمېرل کېږي.

د سيند په اوبو کې د کانکرېټو تخريبېدنه:

د سيند اوبه له څو طبيعي عناصرو ترکيب شوي چاپېريال دی، چې د کانکرېټو سره د پېچلي فزيکي- کېمياوي سيستم له امله، د الکترولېتونو شتون، په کانکرېټو اغېزه کوي. د ا الکترولېتونه د سوديم کلورايدو، سلفاتونو او کلسيم کلورايدو سره جوړېږي او په فولادو کې د ګلوانيکو پيل جوړوي. د سيند په اوبو کې د کانکرېټو پايښت د سمنټو د منرالوژۍ د ترکيب پورې تړلی دی، چې له همدې امله د سيندونو د اوبو په لاندېنۍ برخه کې د پوسولانې سمنټ لرونکې مسالې په کارونې سره ستونزه حلېږي. څېړونکي په دې ډول چاپېريال کې د هغې مسالې، چې په هغې کې دا ډول سمنټ چې هغه په خپل ترکيب کې د اليومينو او د کلسيمو سلفات ولري، سليسي سمنټ نومېږي، چې په هغې د اوبو اغېزه لږه ده، وړانديز کوي. [۲]

په ټوله کې په کانکرېټو باندې د اوبو د حملې په پايله کې په کانکرېټو کې د اترنژيت [$C_3A.3CaSO_4(31\text{-}32)H_2O$] ، بروسيت يا منګنيزيم هايدرواوکساید [$Mg(OH)_2$] او د فريدل مالګې [$C_3A.CaCl_2.10H_2O$] جوړېږي. د اترنژيت په جوړېدنې سره په کانکرېټو کې غځېدنه يا انبساط رامنځته کېږي او د مقاومت د کمېدنې لامل کېږي، چې له اغېزې يې په کانکرېټو کې وينښته ډوله درزونه پيدا کېږي او کېمياوي اړيکې يې کمزورې کېږي. د بروسيت يا منګنيزيم هايدرواوکسايدو جوړېدنه په کانکرېټو کې د کېمياوي غبرګون له مخې په ($Ca^{++} \Leftrightarrow Mg^{++}$) اوړي، چې په پايله کې يې مقاومت او چسپېدنه کمېږي. په ټوليزه توګه د سيند په اوبو کې په کانکرېټو اغېزمن او زيانمن کوونکي د سلفاتو، کلورينو، کاربوناتو، بې کاربوناتو، القلي فلزاتو او د مګنيزيومو ايونونه دي، چې د هوا په تودېدو سره يې تعاملات ګړندي کېږي. دا لاملونه په لنډه توګه تشريح کېږي:

الف- سلفاتونه: د سلفاتونو او د سيند د اوبو تر منځ تعاملونو ميکانېزم په لاندې ډول اجرا کېږي:

۱. د جامد- مايع د فعل او انفعال له امله چې (C_3A) په درندو هايدروسلفو آلومينا تو بدلېږي.

۲. د منګنيزيوم هايدرو اوکساید او يا هم د ګچو په توليد سره د جامد فاز سطحې انرژي ډېرښت مومي.

۳. د مالګو د کرستالونو د ميکانيکي فشار له امله چې د کانکرېټو له سطحې څخه په لږ ژوروالي د لمدبدلو او وچېدلو په حالت کې د متناوب کېدنې لامل وده کوي.

پورتني درې واړه عملونه څه نا څه په يوه وخت او يو ډول شرايطو لاندې پيدا کېږي.

ب- کاربونات او بې کاربونات: د کاربوناتو او بې کاربوناتو ايونونه د کاربوناتيشن په فعل او انفعال سره (Ca^{++}) د [$Ca(OH)_2$] ، چې په همدې وخت کې د سمنټو هايدرېشن منځته راځي، يوځای کېږي. په اوبو کې د کاربن ډای اوکساید (CO_2) محلول د کاربونيک اسيدو په څېر موضعي نرمښت او تجزيه کېدنه رامنځته کوي، چې په پايله کې د کاربوناتيشن د ټولېدنې لامل کېږي. د کاربوناتيشن په شدت تېرېدنه، د نسبي دننې يا داخلي لمدبل، د سمنټو د خمېرې د مخصوصې سطحې او د کاربن ډای اوکساید (CO_2) د غلظت پورې تړلې ده، خو خپله د کاربن ډای اوکساید (CO_2) فعل او انفعال د هايدريشن شويو سمنټو له ډېرې اجزاوو سره دومره پايښت نه کوي. [۳]

ج- القلي ګانې: د القليو فعل او انفعال په حساسو ډکوونکو موادو (کرېږ او شګه) د هايدرايت د ايونونو له حملې څخه عبارت دی، چې د سليکاتي القلي د منځته راوړنې لامل کېږي او د سمنټي خمېرې له پاسه فشار، انبساط يا غځېدنه او درزونه پيدا کوي. فلزي القلي ايونونه د سيند د اوبو له بېلابېلو مالګو سره د تعامل له امله په کانکرېټو کې د (PH) اندازه کمېږي او په پايله کې يې په کانکرېټو کې دننه فولادي سيخانو خوړنه شدت پيدا کوي.

د- د کلورينو ايونونه: د کلورينو ايونونه د سلفاتو د ايونونو په څېر عمل کوي، چې د کلور آلومينات په نامه کېمياوي محلول توليدوي او دا محلول هم په کانکرېټو کې دننه د فولادي سيخانو د خوړنې لامل کېږي. د سيند په اوبو کې د کلورينو ايونونه دوه کړنې سرته رسوي، يوه دا چې په خپلواک ډول په اوسپنيزو کانکرېټو اغېزه کوي او بله دا چې د سلفاتو د محلول په واسطه د کانکرېټو د انبساط يا غځېدنې مخنيوی کوي او يا يې ځنډنی کوي. [۴]

د سيند په اوبو کې د اوسپنيز کانکريټي عناصرو نېمه غوټه کېدنه يا ددې عناصرو په پرله پسې توګه لمدېدنه او وچېدنه ځانګړي شرايط منځته راوړي. په دې شرايطو کې د اوبو د راکښنې له امله تشنج پيدا کېږي، د دې عمل له مخې يوه اندازه بېلابېل محلولونه له کانکرېټو سره يو ځای او په هغې کې خپرېږي، کله چې د عناصرو سطحې ته رسېږي، په هوا کې تبخيرېږي او په پايله کې د دننيو يا داخلي تشنجاتو د چټکتيا لامل کېږي. کله چې د تبخير سرعت د محلول د ننوتلو له سرعت څخه ډېروي، نو تبخير د کانکرېټو تر بېخ پورې اغېزه کوي، چې د دې له امله د محلولونو کرستاليزيشن (Crystallization) منځته راځي، چې له امله يې حجم ډېرېږي او د دننې يا داخلي تبخير د پيدا کېدو لامل کېږي. که چېرې په حمله کوونکو محلولونو کې کومه حمله کوونکې ماده شتون ولري، چې انحلاليت ته چټکيا ورکوي، نو د هغې له امله د کانکرېټي عنصر څخه کلسيم هايدرايت بېلېږي او هغه کاني مواد چې سخت شوي سمنټ جوړوي، هايدروليز کېږي او کانکرېټ زيانمنوي. که چېرې د تبخير چټکتيا د محلول له جذب څخه لږه وي، نو د کانکرېټو په سطحه کې د حل شويو مالګو ازادېدنه څرګندېږي، له دې څخه جوتېږي، هغه کانکرېټ چې د اوبو د څپو د ښکته کېدنې او پورته کېدنې تر منځ واقع وي، نو هغه په پرله پسې توګه لمدېږي، وچېږي او په ډېره چټکۍ سره د محلولونو د حملې لاندې راځي؛ سره د دې چې په اوبو کې ډوب کانکرېټ لږ زيانمن کېږي. د سيند د اوبو په واسطه د کانکرېټو د سوريو يا منفذونو د منګنيزيم هايدرواکسايدو له رسوباتو څخه د ډکېدنې په کانکرېټو حملې ځنډنی او په تودو اوبو او توده هوا کې چټکتيا مومي، نو په همدې لحاظ د سيندونو ځانګړې اقليمي موقعيت په کانکرېټو اغېزه لري. په کانکرېټو کې د سمنټو ډېر لګښت، د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) ټيټوالی او د کانکرېټو بشپړ تراکميت هغه لاملونه دي، چې کانکرېټ د سيندونو له اوبو لاندې شرايطو کې پايښت ډېروي. همدارنګه د کانکرېټو په سطحه کې د کلسيم کاربوناتو د لايو (طبقو) د سيندونو د اوبو په وړاندې د مقاوم کېدنې لپاره له ډېر پخوا څخه يې پېژندنه شوې ده. د اوږدې مودې لپاره په اوبو کې وړاندې له دې څخه چې په اوبو کې غوټه شي، د کانکرېټو د ډېريو ساتنه د هغې د پايښت اندازه لوړوي. همدارنګه د سيندونو په اوبو کې د کانکرېټو د سطحې په مخ د کلستو او بروستو جوړېدنه، د کانکرېټو د سطحې پر مخ د نورو زيانمنه شويو لايو (طبقو) د ځای په ځای کېدنې مخنيوی کوي، چې په پايله کې يې د کانکرېټو پايښت لوړېږي. جاپاني څېړونکي د کلورينو د ايونونو په اړه، چې په لومړي پړاو يا مرحله کې د هغې د غلظت له مخې د سيند د اوبو د شدت په واسطه په کانکرېټو کې نفوذ کوي، په اغېزمنتيا قايل شوي دي، چې په کانکرېټو کې د کلوروآلومينا تو او د سلفرکلوروآلومينا تو د جوړېدلو لامل کېږي. د کلورينو ديفوزيون په سيخانو کې د تخريب د پراختيا له مخې د مطالعې لاندې نيول شوي دي. د موجوده اطلاعاتو پر بنسټ د کلورينو ديفوزيون په کانکرېټو کې د ډېرو پورټلند سمنټو په لرلو سره د وخت په تېرېدلو سستېږي. [۵]

د سمنټو د دانه يې ترکيب او همدارنګه د هغې د (C_3A/SO_3) نسبت اغېزه د بېلابېلو څېړونکو په واسطه په پوره اندازه د مطالعې لاندې نيول شوې او د (C_3A) ګچو او سمنټو د ذرو د نرمۍ اندول د سلفاتو په وړاندې د هغې د مقاوم کېدنې يا کلکېدنې د تاييد وړ ګرځېدلې ده.

د سيندونو په اوبو کې د حل شويو مالګو شتون:

په سيندونو کې د حل شويو مالګو انداز ې د بېلابېلو تجربو په پايله کې پيدا شوي دي او په لاندېني جدول کې د (ppm) د کچې له مخې ښودل شوې دي:

۱- جدول: په سيندونو او بحرونو کې د حل شويو مالګو اندازه د (ppm) کچې له مخې. [۷]

مالګې	د سيندونو په اوبو کې	د بحرونو په اوبو کې
د کلسيم مالګې	50 – 480	480
د منګنيزيم مالګې	306 – 14010	1600
د سوډيم مالګې	2190 – 12200	12600
د پوتاشيم مالګې	70 – 550	470
د سلفاتو مالګې	580 – 2810	3300
د کلورينو مالګې	3960 – 20000	23400

له پورتني جدول څخه څرګندېږي، چې د بحرونو د مالګو د غلظت اندازه د سيندونو د مالګو د غلظت اندازې سره معادل او يا لوړه ده، چې د دې له مخې بايد د سيندونو او بحرونو په غاړو کې د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو په جوړولو کې ځانګړې شرايط په پام کې ونيول شي.

د متالورژي انجنيرانو او سلاکارانو د څېړنو له مخې د فارس په خليج کې د سيند د اوبو د فولادو د خوړنې اندازه په کال کې د (0.14mm) په اندازه اټکل شوې ده. دا اندازه په ټولو پروژو کې په ځانګړې توګه له مطالعې لاندې نيول کېږي، د طرحې او محاسبې په وخت کې د دې له مخې د سيندونو تر څنګ د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو د جوړولو لپاره اړين ضريبونه په پام کې نيول کېږي[۵]

د فولادو د خوړنې ميکانېزم:

د فولادو (سيخانو) خوړنه په کانکرېټو کې يو کېمياوي او يا بهتره ده وويل شي، چې الکتروکېمياوي فعاليت دی، لکه د نورو کېمياوي تعاملونو په څېر دا کېمياوي فعاليت د چاپېريال په ځانګړې توګه د چاپېريال او د کانکرېټو د تودوخې پورې تړاو لري. د سيمې په توده هوا کې دا فعاليت چټکتيا مومي. همدارنګه د (OH) ايون د فلزاتو د هايدرو اوکسايدونو په جوړولو کې مهم رول لري، چې په لوند چاپېريال کې د خوړنې لامل کېږي، چې په دې کې موجوده اوبه د الکتروليت رول لوبوي او د ايونونو د هڅونې لامل کېږي. د همدې دليل له مخې د لمدو او مشبوع شويو کانکرېټو الکتريکي مقاومت څو ځلې په وچه هوا کې د کانکرېټو له الکتريکي مقاومت څخه لږ دی. د کانکرېټو دايمي اشباع د اکسيجن د نفوذ د کمېدنې لامل کېږي، خو يوازې لږ مقدار په اوبو کې د حل شوي اکسيجن د سمنټو (کانکرېټو) د خمېرې ته لاره کوي. دا جوته شوې ده چې په وچ چاپېريال کې خوړنه نه پيدا کېږي او همدارنګه د اکسجن په نه شتون کې سيخان هم زنګ نه وهي. په حقيقت کې په کانکرېټو کې د اکسيجن نفوذ، د هوا نفوذ دی؛ سره له دې چې په هوا کې د (CO_2)کاربن ډای اوکسايد له اثره د سمنټو سخته شوې خميره د کاربونيشن لامل کېږي، خو په لوند چاپېريال کې د کتنې وړ اغېزه کوي. د (PH) کموالی هم په قلوي چاپېريال کې د خوړنې اندازه ډېروي، نو په ځينو حالاتو کې د کانکرېټو کاربونيشن کېدنه د کانکرېټو د خوړنې لامل کېږي. [۸]

کله چې کانکرېټ بشپړ په اوبو کې ډوب شي او د سيند له اوبو څخه ونه ويستل شي او د زنګ خوړلو لپاره دومره اکسيجن شتون ونلري، نو له دې امله د کانکرېټو خوړل به په ډېره لږه اندازه وي. له همدې اثره د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) د سيند په اوبو کې په ډوب شويو کانکرېټو کې (0.45) او په خوړونکي چاپېريال کې دا اندازه تر (0.40) پورې په پام کې نيول کېږي. [۵]

د کانکرېټو په چاپېريال کې د کلورينو د ايونونو ډېروالی د سمنټو د خميرې او کانکرېټو دننه ته د هغې د ننوتلو لارې پرانيستل کېږي. په هر حال ځينې څېړونکي په دې باور دي، چې په هر ډول چاپېريال کې لکه د سلفاتو شتون کېدای شي،

چې د کلورينو د ډېرو ايونونو د نفوذ لامل شي او په لمدو خاورو کې د ښخ شويو کانکرېټو چې د سلفاتو او د کلورينو ايونونه په کې شتون ولري، د سيند په تروو اوبو کې د ډوب شويو کانکرېټو په پرتله په ډېرو بدو شرايطو کې واقع کېږي، چې يو لامل يې د اکسيجن شتون او د اوبو په واسطه نه مشبوع کېدنه وي. ازمايښتونو او تجربو ښودلې ده، چې په کانکرېټو کې د خوړنې د فعاليت پيل او د هغې دوام د کانکرېټو په چاپېريال کې د کلورينو د ايونونو ځانګړې اندول اړين دی، چې په کانکرېټو کې د دننه سيخانو په چاپېر قلوي چاپېريال بايد په پام کې ونيول شي. دا اندول د کلورينو د ايونونو لپاره د سمنټو د وزن له مخې له (0.25%) سلنې څخه تر (0.5%) سلنې پورې ټاکل شوې ده. د دې مقدار په بېلابېلو مواخذونو کې د نظر توپير شتون لري، چې ډېرى يې دا مقدار د (0.35) سلنې څخه تر (0.4) سلنې پورې په پام کې نيسي. دا مقدار بايد په تازه او لومړنيو کانکرېټو کې د کلورينو له مجازي مقدار سره د اشتباه لاندې رانشي. [۶]

د باد لګېدنه هم په ځانګړو سيمو او په ځانګړو کانکرېټو کې د کلورينو د ايونونو د نفوذ لامل کېږي. په تکراري توګه د کانکرېټو لمدېدنه او وچېدنه په ځانګړې توګه په هغه چاپېريال کې چې د سيند د اوبو پاشل په کې ډېر وي، په ډېره چټکۍ سره په هغې کې سيخان له خوړنې سره مخامخ کېږي. همدارنګه د سيند په اوبو کې د مالګو د غلظت ډېرښت او د ډېر لمدبل او اکسيجن شتون هم د هغې د چټکتيا لامل شي. [۸]

که چېرې د سيخانو د زنګ نيولو اصلي محصول [$Fe(OH)_3$] وي، نو د هغې حجم د لومړني حجم د (2) څخه تر (14) پورې ډېر وي او د انبساط په پايله کې د کانکرېټو په چاپېر ډېر فشار واردوي، چې د سيخانو په چاپېر د کانکرېټو د درزونو د پيداکېدنې لامل کېږي او پرته له ژغورنې او محافظې د سيخانو د چاپېريال د اغېزې د لاملونو لاندې واقع کېږي او د خوړنې دوام د سيخانو د سطحې د کموالي لامل کېږي، خو که يې مخنيوى ونشي، نو په پايله کې يې تخريب او ماتېږي، چې په دې حالت کې د عناصرو ګټور عمر پای ته رسېږي، لکه په (۱-شکل) کې د تکراري لمدېدنې او وچېدنې له امله خرابې شوې نمونې په ډول. [۷]

۱- شکل: د تکراري يا پرله پسې لمدېدنې او وچېدنې له امله د کانکرېټو خرابې شوې نمونې. [۷]

په کانکرېټو کې د خوړنې اغېزمن لاملونه:

د کانکرېټو په دننه کې د فولادي سيخانو د خوړنې په وړاندې له هر څه دمخه هغه لاملونه چې په سيمه کې ددې لامل کېږي، د هغې په هکله پلټنه او پېژندنه وشي. هغه مهم لاملونه چې د هغې له مخې په کانکرېټو کې دننه سيخان زيانمنېږي، په لاندې ډول دي:

الف- د کانکرېټو پوښښ:

- په کانکرېټو کې د نفوذ کېدنې اغېزمن لاملونه.
- د کانکرېټو د (PH) اندازه (بېلابېل ډول سمنټ له هايدريشن څخه وروسته د بېلابېل ډول القليو د پيداکېدنې لامل کېږي، چې له بېروني منابعو سره د عکس العمل په پايله کې يې د (PH) اندازه ممکن راټيټه شي.
- په کانکرېټو کې د درزونو شتون.
- د کانکرېټو محافظوي قشر (Cover).

ب- د بېرونيو منابعو کېمياوي لاملونه:

- د ايونونو د غلظت په واسطه د خوړنې چټکتيا ، لکه (CL^-, NO_3^-, SO_4^-)
- د لاسته راړنې وړ اکسيجن.
- د امونيايي ګازونو شتون، لکه (CO, CO_2, H_2S) ،متان ، ايتان ، بوتان ، SO ، SO_2 ، د ګوګدر د بخارونو او د هغوی ځانګړي ترکيبونه.

ج- فولادي سيخان:

- د سيخانو سطحي حالت.
- د فولادو ډول.
- وارده تشنجات.

د کانکرېټو درزونه: په کانکرېټو کې درزونه او په ځانګړې توګه خلاص درزونه د کانکرېټو د نښتنې د غوڅېدنې لامل کېږي او د هغې له امله د (PH) اندازه بدلون مومي او په پايله کې د خوړنې په وړاندې يې مقاومت کمېږي. په کانکرېټو کې د درزونو عرض د سيخانو د کششي مقاومت د انډول پورې تړلی دی، نو له همدې امله د خوړنې د عمل د مخنيوي لپاره د فولادي سيخانو د کششي تشنجاتو اعظمي حد محدودېږي. د کانکرېټو په سطحه کې د درزونو عرض د کانکرېټو د ضخامت پورې اړه لري، د فولادي سيخانو د محافظت لپاره د کانکرېټو د پوښښ د ضخامت ډېرېدنه، د کانکرېټو په پوښښونو کې د پراخو او ژورو درزونو لامل کېږي. [۲]

د بېرونيو منابعو کېمياوي مواد: دا مواد د محلول او يا بخار په حالت په سيخانو کې د خوړنې د اغېزې په اړه که ورته پاملرنه وشي، د خوړنې د چټکتيا ايونونه (CL^-, NO_3^-, SO_4^-) له غلظت سره د منفعله لايو د پايښت محدودېدنه بدلون مومي. دا ايونونه حتی په پرته له کاربوناتي کانکرېټو کې د ژورې موضعي خوړنې وړتيا لري او کېدای شي، چې په مخکښې متشنج شويو فولادي سيخانو کې د تشنجي خوړنې لامل شي. د سيندونو په اوبو کې د کېمياوي محلولونو شتون د کلورينو او سلفاتو شتون دی، له کانکرېټو سره د سلفاتو د عمل په وړاندې مقاوم کول د حل وړ دي، تر څو چې د کانکرېټو ضخامت په پوره اندازه په پام کې نيول شوی وي، نو کېدای شي چې سيخان له خوړنې څخه وژغورل شي. د کلورينو خپرېدنه (Pitting) د فولادي سيخانو د خوړنې لامل کېږي. د کانکرېټو په منفذونو کې د کلورينو د ايونونو نفوذ د هغې د محلول غلظت او د خپرېدنې له مودې پورې تړلي دي؛ نو له دې امله په داسې يو چاپېريال کې چې په هغې کې کلورينو غلظت د پام وړ شتون ولري، اړينه ده چې د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) لږ، بهتره بارېدنه، د لږ نفوذ قبلېدنه او د کانکرېټو د پوښښ ډېر ضخامت په پام کې ونيول شي. [۲]

بيالوژيکي او مايکروبيالوژيکي خوړنه:

د ذره بيني موجوداتو ، لکه د بکتريا ګانو شتون په ځانګړو شرايطو کې د ميکروسکوپي سيمو په پيدا کېدنې سره د (PH) د اندازې په ډېره لږه ښکته کېدنه او ډېرې زياتې پورته کېدنې د خوړنې په چټکتيا کې د پام وړ اغېزه لري. د کانکرېټو په خوړنه کې هغه بکتريا ګانې چې د سلفاتو د احيا کېدنې، د متان ګاز د توليد ېدنې، د نايتريتو احياکوونکي، د ګوګرد او د اوسپنې مهم رول لري. د نايتريتو احيا کوونکې او متان توليدوونکې بکتريا ګانې ممکنه ده چې د (PH) د ډېرښت لامل شي، د کانکرېټو د سطحې په هغه نقطه کې بايد له منځه يوړل شي، چې ددې عمل د کانکرېټو د خوړنې د چټکتيا لامل کېږي. د بيالوژيکي او الکتروکېمياوي خوړنو تر منځ اړيکې ډېرې پېچلې دي، د ځينو تجربو په واسطه جوته شوې ده، چې په ځينو سيستمونو کې بيالوژيکي خوړنه د الکتروکېمياوي خوړنې په پرتله ډېره مهمه ده. [۴]

د کانکرېټو په واسطه د فولادي سيخانو ساتنه:

د سرته رسېدلو څېړنو پر بنسټ کېدای شي چې د کلدرينو په وړاندې د پورتلنډ سمنټو د نفوذ وړتيا د نرمو شويو پوزولاني په واسطه تر (20) ځلې پورې او د مايکروسليسو په واسطه تر (10) ځلې پورې راټيټه شي. د دې موادو په زياتېدنې سره د محلول په ډول کولی شو د سختو شويو سمنټو د جوړښت تراکميت زيات کړو او د نفوذ وړتيا يې په چټکۍ سره راښکته کړو ، دا کړنه د اوبو او سمنټو د نسبت (W/C) د کمېدنې لامل کېږي، چې د تجربو له مخې په ډېرو پروژو کې ترې ګټه

اخيستل شوې ده او د فارس خليج په عسلويه سيمه کې چې د کانکرېټو د چټکې خوړنې چاپېريال دی، د اوبو او سمنټو نسبت (W/C) د (0.32) څخه تر (0.35) پورې په پام کې نيول کېږي. د کانکرېټو د ساتنې خواص يا د چاپېريال حمله ييز عمل کولی شي په حمله ييز چاپېريال کې د کېمياوي علاوه کوونکو موادو يا د کانکرېټو د مخلوط اوبو د ډېروالي سره ښه کمښت ورکوي؛ د بېلګې په توګه که چېرې د اوسپنيزو کانکرېټو نمونې د سيند په اوبو کې وساتل شي، د کانکرېټو د تخريب موده، د کلسيم نايتريت په علاوه کولو سره په چاپېريال کې د پام وړ بدلون رامنځته کېږي.

له خوړنې څخه د اوسپنيز کانکريټي عناصرو ژغورنه: په ډېرې چاپېريالونو کې د خوړنې په وړاندې د سيخانو د ساتنې له مخې د کانکرېټو د پوره پاينښت، د باکيفيته، وړ او د پوره پوښښ لرونکو کانکرېټو په کارونې سره حاصلېږي، نو له همدې امله په ډېر خراب او بد چاپېريال کې ددې اړتيا ليدل کېږي، چې د ځينو ساتونکو او يا حفاظتي طريقو څخه ګټه واخيستل شي، خو د ډېرو عادي چاپېريالونو په شرايطو کې د غلطې طرحې او د ضعيفې مسالې په کارولو سره سيخان د کانکرېټو دننه خوړل شوي دي، نو له همدې کبله د سيخانو او کانکرېټو د خوړنې د مخنيوي لپاره د لاندېنيو چارو په پام کې نيولو سره کمېږي:

- له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د کېمياوي موادو کارول.
- له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د کانکرېټو د سطحي آلې کارول.
- له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د سيخانو پوښل.
- له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره سيخان د الياژو په واسطه مقاوم کول. [۹]

له خوړنې څخه د مخنيوي موادو ډولونه:

دا چې تر اوسه د ډېرې خوړنې څخه د مخنيوي مواد کارېدلي دي، خو يو څو يې د څېړونکو ډېره پاملرنه ځانته اړولې ده؛ د انجنيرانو نړيوالې ټولنې [NACE] له خوړنې څخه د مخنيوي مواد په درېو لويو ګروپونو ويشلي دي:

۱. له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د آندېک مواد.

۲. له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د کاتديک مواد.

۳. له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره د آندېک-کاتديک مواد.

د اوسپنيزکانکرېټي عناصرو جوړونې په وخت کې د کانکرېټو د القلي چاپېريال له پاسه د اکسايدو يوه لايه ځای پر ځای کېږي، دا لايه د کلورين په چاپېريال کې د ($24\ kg/m^3$) يا ($1.5\ lb/ft^3$) غلظت سره سيخان له خوړنې څخه ژغوري. له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره انديک مواد د اکسايدو دې طبيعي لايې ته ګټه رسوي او د سمنټو له خميرې سره پيوست د سيخانو د غيرفعالېدلو خاصيت ځواکمن کوي. [۷]

ددې موادو څخه يو هم کلسيم نايتريت دی، چې څه د پاسه (15) کلونه کېږي، چې د نړۍ په سوداګريزو بازارونو کې پيدا کېږي او تر اوسه دې موادو په اوسپنيز کانکرېټي عناصرو د کومې منفي اغېزې راپور نه دی ورکړل شوی. دوه نورې له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره مادې چې په (1991) زيږديز کال کې بازار ته راوتلې دي، چې سيندني باتيل استرونه او ترس امنتونه نومېږي او دا هره يوه ماده په کانکرېټو کې دننه د فولادي سيخانو له خوړنې څخه مخنيوی کوي. باتيل استرونه لومړی په کانکرېټو او مساله کې د نفوذ د وړتيا اندازه کموي او متراکم کوي يې. په دويم قدم کې د فولادي سيخانو په مخ يوه نرۍ لايه راوړي، چې دا ميکانېزم د کلورينو له نفوذ څخه مخنيوی کوي، تر اوسه د هيڅ يوې منبع په واسطه ددې موادو ارزيابي او تاييد نه دی شوی.

وروستۍ سرته رسېدلې څېړنې:

په کانکرېټو کې له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره مواد په بېلابېلو وختونو کې د بېلابېلو هېوادونو څېړونکو لکه (Russel, Treadway and Slater, Graig and Wood او Berke) په واسطه د څېړنې لاندې ونيول شول. د پورته يادو شويو څېړونکو په واسطه کلسيم نايتريت له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره له ډېرو ښو موادو څخه وشمېرل شو، چې په نړۍ کې يې کارونه مخ په ډېرېدلو ده. دا ماده په هغو اوسپنيز کانکرېټي عناصرو کې کارېږي، چې د کلورينو د ايونونو په واسطه په

ککړ چاپېريال کې جوړېږي. کلسيم نايتريت په لومړي ځل د امريکا متحده ايالاتو د لېږد رالېږد ايالاتي ډيپارتمنت له خوا په (1978) زېږديز کال عملاً د بې پوښه سيخانو د محافظت لپاره وکارېدل. وروستنيو څېړنو ښودلې ده، چې په کانکرېټو کې د نايتريتو د شتون په حالت کې کانکريټ خپل انفعالي حالت ساتي. په (1980) زېږديز کال کې په ماساچوست کې د مخکنې متشنج شويو کانکرېټو لپاره د کلسيم نايتريت سيستم وکارېده، خو د (1991) زېږديز کال څېړنو جوته کړله، چې په ماساچوست کې د کارېدلي کلسيم نايتريت له امله هيڅ ډول د خوړنې نښانې نه وې پيدا شوې. له دې عناصرو څخه چې کومې باارزښته پايلې په لاس راغلې وې، نو د کلسيم نايتريتو د ګټورې کارېدنې د ډېرې مودې لپاره ښکارندوی وه.[۸]

د کلسيم نايتريتو بريالیو څېړنو او په پراخه کچه مطالعو د سيند په غاړو او په ځانګړې توګه په هغو سيمو کې چې لمدبل ډېر وي، د کلسيم نايتريتو کارېدنه په نړۍ کې ورځ تر بلې مخ په ډېرېدو ده. د امريکا په متحده ايالاتو او کانادا کې د هالي فکس څخه تر بوستن او سی آتل پورې په ډېرې ساختمانونو کې کلسيم نايتريت کارېدلي دي. په ځينو ساختمانونو کې د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو لپاره د سيليکا فوم اېرو او د اوسپنې له مېده ذرو څخه هم ګټه اخيستل کېږي. د يادولو وړ ده، چې د سيليکا فوم کارېدنه هم مخ په ډېرېدنې ده.[۴]

هغه اوسپنيز کانکرېټي عناصر، چې په هغې کې د کلورينو د خوړنې د محافظت لپاره کلسيم نايتريت کارېږي، د تهکوی ساختمانونه، د سطحې اوبه دفع کوونکي پلچکونه، د سيندونو او بحرونو د غاړو او ساحلونو کې ساختمانونو او داسې نورو څخه يادونه کولی شو. همدارنګه هر چېرې چې فلز يا فولادي سيخان په کانکرېټو کې دننه ځای په ځای کېږي او په لمدو سيمو کې ترې ګټه اخيستل کېږي، اړينه ده چې د کانکرېټو له خوړنې څخه د مخنيوي لپاره دا مواد وکارول شي. د دې مادې فعل او انفعال په دې ډول دی، چې کلسيم نايتريت د زنګ (Fe_2O_3) سره ترکېبېږي، په پايله کې د اوسپنې اوکسايد (FeO) محافظوي قشر جوړوي، د دې نيمګړتيا په دې کې ده، چې د لګښت کچه يې بايد په ډېره مطمئينه توګه محاسبه شي، چې يو ستونزمن کار دی؛ ځکه چې که په ډېره کچه وکارول شي، نو په کانکرېټو کې درزونه پيدا کېږي او که چېرې لږ وکارول شي، نو د کانکرېټو د خوړنې مخنيوی نه شي کولی.[۲]

د کوچېدنې په واسطه د خوړنې مخنيوی [Migratory Corrosion Inhibitor (MCI)]: په اوسني وخت کې يو د پرمختللې تکنالوژۍ څخه هغه هم د (MCI) يا په بل عبارت د خوړنې د مخنيوي لپاره د سيخانو لوري ته د کوچېدنې يا حرکت او نفوذ خاصيت دی. (MCI) د خوړنې د مخنيوي يا ضد لپاره کارول کېږي، چې د آمينه الکولو او ماربوکسيلاتو يو ډول دی، چې د لېږدېدنې د نفوذ کولو خاصيت لري، چې په کانکرېټو کې د علاوه کولو او يا د کانکرېټو او يا د سيخانو په مخ د سپری کولو د هغې دننه ته نفوذ کوي او د سيخانو په ګېرچاپېر يوه مالکولي محافظوي لايه جوړوي، چې د دې تکنالوژۍ په واسطه نفوذ کېدونکي مواد د کانکرېټو او سيخانو د ساتنې لامل کېږي. اوس د (MCI) تکنالوژۍ ډېر رواج موندلی دی، چې د کانکرېټو په مساله کې ترکېبي علاوه کوونکو او يا اشباع کوونکو موادو په ډول کارول کېږي. دا طريقه د نورو طريقو په پرتله لږ لګښت لري.[۱۰]

په نړۍ کې ډېرې مهمې پروژې چې پورتني مواد په کې کارېدلي دي، په دوبۍ کې د پرنس برج، په امريکا کې د پنتاګون ساختمان، په روسيه کې د تور سيند تر غاړې د دلی سکله ساختمان، په چين کې د اوسپنې لارې، په ايران کې د عباس بندر د اوسپنې د لارې پل او د تم کېدنې مرکز، د بندر عباس د فرا ساحل کې د کشتۍ جوړونې ودانۍ، په شيراز کې د اوسپنې د لارې د پلونو جوړې شوې قطعې، همدارنګه د عسلويه، بوشېر او په قم کې ډېرې د بحر غاړه کې د جوړو شويو ساختمانونو کې د دې ډول مادې څخه د کانکرېټو او فولادي سيخانو د ساتنې لپاره کارېدلي دي. د پورتنۍ مادې په کارونې سره د اوسپنيز کانکرېټو د لګښت (25%) اندازه لوړوي، چې په پايله کې د ګټې اخستنې په اوږدو کې د ساتنې او حفاظت د لګښت کچه ډېره را ښکته کوي.

له خوړنې څخه د ژغورنې ميکانېزم:

په ماليکولي ډول د خوړنې ضد مواد نفوذ، د (MCI) مواد چې په کانکرېټو کې د سيخانو د سطحې په لور لېږدېدنه او نفوذ، د سيخانو په مخ د (MCI) موادو سطحي جذب، په کانکرېټو کې دننه د سيخانو په مخ د ماليکولي لايې پيدا کېدنه،

د اوسپنيزکانکرېټي عناصرو د سيخانو د کلوريشن او کاربونيشن او د خوړنې د هر ډول لاملونو په وړاندې محافظت او ساتنه کوي، لکه په (۲) او (۳) شکلونو کې چې ښودل شوي دي. [۹]



۲- الف شکل: د (MCI) په واسطه محافظه شوی اوسپنيز کانکرېټ



۲- ب شکل: معمولي اوسپنيز کانکرېټ

۳شکل: د (MCI) د ترکيباتو په واسطه د اوسپنيز کانکرېټو د فولادي سيخانو محافظه کول

پايله:

۱. سره له دې چې د يوې سيمې تود او لوند چاپېريال د کانکرېټو لوړ فشاري او کششي مقاومت چټکوي، خو د کلورايدو د تخريبي ايونونو فعاليت هم ډېروي او د داسې چاپېريال په شرايطو کې د کانکرېټو د ساتنې او ګټې اخستنې د خوړنې اغېزې ډېر ژر څرګندېږي.
۲. د کلسيم نايتريتو څخه په درسته او ښه انډول کارونه او ګټه اخيستنه د تازه او د سخت شويو کانکرېټو په مخ کومه بده اغېزه نه رامنځته کېږي.
۳. تود او لوند چاپېريال د خوړنې په وړاندې د کلسيم نايتريتو مثبتې اغېزې راکموي.
۴. په ټوله کې ويلی شو چې کلسيم نايتريت په ځانګړې توګه د معمولي او يا د هغو کانکرېټو چې د هغې په ترکيب کې د اوبو اندازه د سمنټو په پرتله ډېره وي، په دارنګه سيمو کې د خوړنې په وړاندې په غوڅه جواب نه شي ويلی او د لا ښه والي لپاره د نورو لارو او طريقو او يا د هغو کانکرېټو څخه چې په خپل ترکيب کې مايکروسليس، د زنګ ضد فولاد، د سيخانو يا د کانکرېټو د سطحې لپاره اپوکسي پوښښونو څخه ګټه اخيستل کېږي.
۵. د (MCI) مواد په کانکرېټو کې د هوا په ظرفيت د سختېدنې په وخت، سلمپ، فشاري مقاومت، د کنګل نيولو په وړاندې مقاومت او داسې ډېره ناڅيزه اغېزه کوي او يا هم هيڅ اغېزه نه کوي.
۶. په ټوليزه توګه د (MCI) مواد د کانکرېټو د مسالې په ترکيبي اجزاو او په هغې کې له علاوه کوونکو موادو سره جوړښت کوي او د کانکرېټو مخلوط په طرحې کومه بده اغېزه نه کوي.
۷. د ژوند د هر ډول چاپېريال سره جوړښت لري.
۸. له هغې څخه نادرستې کارونې په پايله کې کوم خطر نه پيدا کېږي.
۹. د (MCI) تکنالوژي د کانکرېټو او د سيخانو د خوړنې د ارزښت د اندازې په اعظمي توګه د (83%) د کموالي لامل کېږي او د اوسپنيز کانکريتي عناصرو د خدمت کولو د عمر اوږدوالی د خوړنې په چاپېريال کې لږ تر لږه تر (26) کلونو پورې ډېروي.
۱۰. د اقتصادي پلوه ارزانه ده.

Abstract:

Recently most of the coastal structures which are forming in those regions are from reinforced concrete structures and using of them is rising every day. Now, useful age of coastal structures will be so important where exploitation is passing after a while, corrosion will cause so much cost. Even in some cases, rebuild is cheaper than the renovation. This is more critical about coastal structures in hot and corrosion area and, useful age of structures in this region is proving that. Anyway, it is necessary to do researches to know elements of corrosion and to suggest some scientific and academic techniques to decrease the corrosion to be able to use these methods, reduce the cost of next mending or renovation. In this article, trying to suggested some economical-executive and suitable methods to control these elements for reducing second costs after knowing effective elements in concrete corrosion.

اخځليکونه:

۱. اژدری، مسعود. (۱۳۸۳). مقاله بررسی مشکلات اجرای بتن در سواحل گرم خلیج فارس. بندر عباس
۲. ساعتچی، احمد. (۱۳۸۷). مهندسی خوردگی. انتشارات جهاد دانشگاهی صنعتی اصفهان
۳. سواد کوهی، فرساسان. (۱۳۸۲). مبانی مدیریت پروژه عمرانی شهری و بحران. انتشارات دانشگاه امام حسین (ع)
4.Benture, S. Diamond and N. S. Bereke. (1997). Steel Corrosion in Concrete. PP (7-9)
5.ASCE. (2005). Manuals and Reports on Engineering Practice No.6. PP (142-148).
6. Bjegovic Dubravka and Micsic Boris. (2004). FNACE. MCI Protection of Concrete. PP (64-69).
7. C. Buisman. (1990). Biotechnological Supplied Removal Vol.24, No.2. PP (81-83).
8. H. Steven and Ksmatka. Concrete Mixed Design. (2006). Thirteen edition. PP (21-39).
9. Kosmatka and H. Steven. (2003). Design and Control of Concrete Mixtures. PP (23-27).
10. Neville A.M. Brooke J.J. (2005). Concrete Technology. Fifth edition. PP (231-278).

پوهـندوی محمـد ابراهـيم (همکار)
ښوونې او روزنې پوهنځی- پښتو څانګه

د کامل احمد نژاد پر ژباړل شوي اثر (ادبي فنون) کتاب ادبي کره کتنه

لنډيز:
د ښاغلي الحاج انجينر محمد ظاهر بارکزي په زيار ژباړل شوی کتاب (ادبي فنون) چې د ډاکټر کامل احمد نژاد د (فنون ادبي) اثر ژباړه ده، له پيله تر پايه مې ولوست، چې ځينو موضوعګانو يې زما فکر ځانته راواړاوه. په نوموړي اثر کې د قافيې، بيان، بديع، فصاحت او بلاغت په اړه بحث شوی دی؛ که څه هم چې نوموړی اثر په خپل ځان کې د محتوی له مخې ډېر څه لري، خو په ځينو برخو کې يې د پام وړ تېروتنې شوي دي، چې ژباړونکي هم د احمد نژاد د اثر تېروتنې د تېروتنو په بڼه را اخيستي او هېڅ ډول پاملرنه يې د سمون لپاره ورته نه ده کړې او همدا شان پخپله يې هم د نامسلکي والي له مخې په بېلګو کې تېروتنې کړي، چې نامسلکي لوستوال پر ګڼو ستونزو سربېره د بې لارې لور ته بيايي. هيله ده، چې لوستوال د نوموړي اثر د لوستلو پر مهال ورته متوجه واوسي او خپله ټولنه له علمي افاتو څخه وژغوري.

سريزه:
کره کتنه په ټولېز ډول د ټولنې د نيمګړتياوو مخه نيسي او د مثبتو لاسته راوړنو هرکلی کوي، چې د ټولنې په پرمختګ کې خورا اړين دي. ادبي کره کتنه، چې ادبياتو ته ځانګړې ده د ادب ټولې هغه خواوې په بر کې نيسي، چې په تخليقي او څېړنيز ډول او يا هم د ژباړې په بڼه ليکل شوي وي. که ادبي کره کتنه نه وي، د ادب په پلمه به ډېر داسې څه ادب ته راننوځي، چې د ټولنې د پرمختګ پر ځای ټولنه مخ پر ځوړ روانه کړي. د ښاغلي انجينر بارکزي په زيار ژباړل شوی اثر (ادبي فنون) د ادبي فنونو په لار کې يو څه خنډ او خار لري، چوپ پاتې کېدل راته په دغې برخه کې د الله (ج) او ټولنې پر وړاندې د ملامتۍ درونډ پېټی ښکاره شو، هيله ده زما دغه ليکنه ښاغلی بارکزی د ده د يو کشر په توګه زما علمي او مسلکي مسوولیت وګڼي.

موخې:
- پر علمي اثارو له عملي کره کتنې سره د مسلکي کادرونو اشنا کول
- مخکې تر ژباړې د هغه اثر چې ژباړل کېږي، پر منځپانګې ځان پوهول
- نامسلکي کسان د مسلکي علمي کتابونو په ژباړه کې خپلو نيمګړتياوو ته متوجه کول

۱- ژباړه: ژباړه هغه څه دي، چې يو ليکوال له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته د يو علمي يا تخليقي اثر منځپانګه ولېږدوي، چې ددغه کار يو څه حد او قانون بايد ټاکلی وي، لکه:
الف- څوک چې د کوم اثر ژباړه کوي، بايد د هماغه علم مسلکي وي.
ب_ هغه څوک چې له چا د ژباړې تمه کوي، هغه هم بايد د ژباړن مسلک وپېژني.
د کتاب پر ژباړه زه څه اعتراض نه لرم، خو دا چې ښاغلی بارکزی د جيولوژي او کېميا په څانګه کې ښې لاسته راوړنې لري، زموږ په سر سترګو قبولې دي او د پښتو ژبې او پښتنو د ويار شمله يې ګڼو، خو ددې کتاب په ژباړلو داسې ويلی شو، چې ناروغ د زړه دی او د هډوکو له ډاکټره يې علاج کړی دی، چې پايله يې په خپله څرګنده ده. زما په نظر هرڅوک چې ژباړه کوي، په خپل مسلک کې يې بايد وکړي چې د ژبې ويار نه، بلکې ويار يې شي.
۲- د ژباړې اړتيا: مخکې تر دې چې يو اثر ژباړو، په دې فکر په کار دی چې ايا دا کتاب د ژباړې ارزښت لري او که نه، يو خو د کتاب منځپانګه بايد په پام کې ونيول شي، چې سمه ده که نه؛ که نه نو د هر غلط فکر په ژباړلو خپلې ژبې ته ددې پر ځای

چې ګټه ورسوو، تاوان به مو ور اړولی وي، چې د نوموړي اثر ژباړې زموږ ژبې ته د ګټې پر ځای پوره زيان رسولی دی؛ ځکه چې ځوانان او هغه ښاغلي چې په دې اړه زده کړې ترسره کوي، له سمې لارې کږوي. بله خبره داده چې د احمد نژاد تر اثر په پښتو ژبه کې ډېر پخوا چې لسيزې او پېړۍ پرې اوښتي، ډېر معتبر کتابونه شته. د احمد نژاد اثر پخپله ډېرې تېروتنې لري، چې د بېلګې له مخې يې څو ما راوړي دي.

۳- سريزې يا تقريظونه: په دې برخه کې يوه لنډه کيسه لرم، يوه ورځ د احسان خپرندويه ټولنې مرستيال محترم حاجي مالک راته د يو چا په اړه ويل، چې د خپلې شعري ټولګې په سر کې يې د ښاغلي رفيع هغه سريزه راوړې، چې د بل چا پر کتاب يې کښلې وه، ده يوازې خپل نوم او د خپل کتاب نوم پکې وليکه او نوره يې کټ مټ هغه سريزه وليکله، ما ترې پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ هغه راته ويل پرېږده مړه څوک يې پوښتنه کوي. پر دغه کتاب هم ماته يوه نيمه سريزه همدا شان برېښي. د ښاغلي ګړندي د سريزې لومړۍ برخې خوند رانکړ، خو کله چې د هغه ځينو مشورو زما نظر ځانته راواړاوه، زړه مې ښه شو. کاشکې ښاغلي بارکزي پرې عمل کړای وای، خو زما له ټولو مشرانو، استادانو او ليکوالو څخه دا هيله ده، چې بې ځايه ستاينې د ژبې ملا ماتوي، راځئ چې ژمنه وکړو او خپله ژبه له داسې افتونو څخه وژغورو.

۴- د احمد نژاد فنون ادبي: د ښاغلي احمد نژاد اثر فنون ادبي (۱۲۲) مخونه لري، چې پکې پر عروضو، قافيه، بيان، بديع، د فارسي ژبې د نظمونو پر قالبونو، فصاحت او بلاغت غږېدلی دی. کله چې ما د احمد نژاد اصل اثر او د ښاغلي بارکزي ژباړلی (ادبي فنون) سره پرتله کړل پايله دا شوه:

۱- د کامل احمد نژاد اثر له پنځم مخ څخه تر اته ويشتم مخ پورې د بلاغت د علومو پر تاريخچه او قافيه ليکنې لري، چې دا برخه ښاغلي بارکزي راژباړلې ده. په دې پسې له نهه ويشتم مخ څخه تر درې اتيايم مخ پورې پر عروضو بحث لري، چې ښاغلي بارکزي ورته هيڅ ګوتې نه دي ور وړي؛ زه نه پوهېږم چې دا برخه په ادبي فنونو کې نه راځي، يا ښاغلی بارکزی ورته متوجه نه دی، که نه پښتنو لوستوالو ته يې د لوستو ضرورت نه و !؟

همدا رنګه له پنځه اتيايم مخ څخه تر يوسلو دوه شپېتم مخ پورې نورې يادې شوې موضوعاګانې دي، چې ښاغلي بارکزي راژباړلې دي. ښاغلی بارکزی د اثر په سريزه کې ليکي: ((دا کتاب چې ادبي فنون نومېږي، په فارسي ژبه کې د ايران يو تکړه ليکوال ډاکټر کامل احمد نژاد د فنون ادبي په نوم ليکلی و، په دې کتاب کې په عروض، قافيه، بيان، بديع او فصاحت او بلاغت باندې بحث شوی دی. دا کتاب د هغه علمي ارزښت له مخې چې د فارسي او دري ژبو زده کوونکيو لپاره يې لري، د خاور خپرندويې ټولنې لازم وليدل چې پښتانه دې هم ورڅخه بې برخې پاتې نشي؛ له دې امله يې له ما څخه ددې کتاب د ژباړلو هيله وکړه او ما هم له يوې خوا د پښتو ژبې سره د بې کچې مينې په لرلو او له بلې خوا د خپل هغه استعداد له امله چې دولس کاله په پرلپسې توګه اول نمره وم او لا مې د ښاغلي سبحاني (صاحب) هغه خيال زېږوونکي او زړه تخنوونکي د بديع او بيان درسونه په غوږ کې وو، دا جرئت وکړ، چې د کتاب ژباړې ته ملا وتړم.)) (2 م ژباړن سريزه).

ښاغلی بارکزی په خپله سريزه کې د (عروضو) نوم اخلي، خو دا نه وايي چې دا برخه مې نه ده ژباړلې، چې دا په خپله د ژباړې له قانون سره سم نه برېښي. بله خبره داده چې سمه ده يو سړی به استعداد لري، خو دومره په شد او مد سره د خپل ځان ستاينه په خپل ځای سم نه برېښي، دا برخه بايد ژباړن موږ ته پرېښې وای.

بل ځای ليکي: ((د فارسي کتاب ژباړل به پښتو ته دومره ستونزمن کار نه وي، خو ستونزه په دې کار کې وه چې د هر تعريف نه وروسته د يو منظوم مثال راوړلو ته اړتيا ليدل کېده، چې د مثال د پيدا کولو لپاره د پخوانيو مشهورو شاعرانو لکه خوشحال خان بابا، عبدالرحمن، عبدالحميد بابا او نورو ديوانونو او کتابونو ليدلو ته اړتيا وه....)) (ادبي فنون ژباړن سريزه). ښاغلي بارکزي که يوازې زما کتاب (د بديع فن او پښتو شاعري) مطالعه کړې وای، نو په پښتو ادب کې به له لسګونو داسې کتابونو سره مخ شوی وای، چې کره او سمې بېلګې به يې په هره برخه کې پيدا کړې وای او هم به يې د احمد نژاد د اثر غلطۍ او تېروتنې په نښه کړې وای، خو دا چې هر چاته خپل اولاد ګران وي، نو بارکزي ته هم (د ژوند انځور) او نور خپل خواره واره شعرونه ښه ښکاره شوي او په همدې کار يې د کتاب په منځپانګه کې ځان زياتوونکی بولي او دا يې هېر دي، چې د عروضو د بحث په نه راوړو کموونکی هم دی.

د ژباړې منځپانګه: دلته زه (مشت نمونه خروار) په ډول څو هغه بېلګې چې تېروتنه لري، ستاسې پر وړاندې ږدم:

ښاغلی احمد نژاد پر دریارلسم مخ کې لیکي: ((کلمه های نا مکرر اخر بیتها و مصراعها را که تمام با قسمتی از آنها هماهنگ و حرف اصلی اخر انها یکسان است، کلمات قافیه می گویند.)). (۱م ۱۳)

د ښاغلي بارکزي ژباړه: ((قافیه په لغت کې وروسته یا څټ ته وايي او د ادب په اصطلاح کې هغو کلیمو ته ویل کېږي، چې د یو شعر د هر بیت په اخر کې پرته له تکراره راځي، چې ټولې کلیمې او یا یوه برخه یې ګډ غږونه (هماهنګي) ولري او د قافیې اصلي توري یې کټ مټ یو شی وي.)) (۲م۱)

پورته اصل متن او ژباړه دواړه معنوي غوټه لري، چې د معنی په رسولو کې کمزوري دي، بله مهمه خبره داده چې همدا دیارلسم مخ یو څه ژباړل شوی دی او څوارلسم مخ چې ډېرې اړینې خبرې پکې دي، نه دی ژباړل شوی او بیا یې د قافیې تورو ته مخه کړې ده.

((حروف قافیه: اساس قافیه حرف (روی) است، روی اخرین حرف اصلی کلمه قافیه است و علت اینکه گفته اند: (قافیه در اصل یک حرف است) این است که قافیه بدون روی قابل تصور نیست، یعنی باید اخرین حرف اصلی کلمات قافیه یکسان باشد؛ اما حروف دیگر قافیه ممکن است در کلمه باشند و ممکن است نباشند)). (۱م ۱۵)

د کتاب ژباړه: ((د قافیې توري: د قافیې اساس د روي توری دی، روي د قافیې د کلیمې اخرني توري ته وايي او دا چې ځینې وايي چې قافیه اصلاً یو توری دی، علت یې دادی چې قافیه بې له روی څخه تصور کېدلی هم نه شي، یانې د قافیې د کلیمو اخرنی توری باید یو توری وي او د قافیې نور توري کېدای شي چې یوشان وي او کېدای شي چې توپیر ولري)). (۲م م۱-۲)

په پورته جملو کې نوره ژباړه په هر ترتیب خو زه د پورته متن یوه جمله ستاسې لپاره بېلګه کوم: ((اما حروف دیگر قافیه ممکن است در کلمه قافیه باشند و ممکن نباشند)). (۱م ۱۵)

د ښاغلي بارکزي ژباړه: ((او د قافیې نور توري کېدای شي چې یوشان وي او یا کېدای شي چې توپیر ولري.)) (۲ م۲۲)

سمه ژباړه: د قافیې نور توري کېدای شي د قافیې په کلمه کې راغلي وي او یا کېدای شي نه وي راغلي.

ښاغلی ژباړن چې لیکي: ((د قافیې نور توري کېدای شي چې یوشان وي او یا کېدای شي توپیر ولري) د احمد نژاد علمي شخصیت یو څه ټکنی کوي، ځکه د قافیې توري نهه دي، چې روي پکې اصل دی او نور اته توري ضمني دي، که راغلي و ځای ورته شته او که نه و راغلي اړه ورته نشته؛ البته داسې قافیه چې هماهنګه برخه یې یوازې روي تشکیلوي (یوازې متحد الروی یا بسیطه قافیه) ورته وايي او که پر روي سربېره د قافیې په هماهنګه برخه کې نور توري راغلي وي، بیا یې (مرکبه) قافیه بولي. (۳م ۲۶)

د قافیې برخه: ((۱- حرف تاسیس: اگر مصوت بلند (ا) با فاصله یک حرف متحرک پیش از روی بیاید، حرف تاسیس خوانده می شود))

از سر کوی تو هر کو به ملالت برود
نرود کارش و آخر به خجالت برود

درین بیت (برود) ردیف، ملامت و خجالت کلمات قافیه (ت) حرف روی و (ا) حرف تاسیس است.

۲_ حرف دخیل: حرف متحرک است که میان حرف تاسیس و حرف روی فاصله میشود، در کلمات (ملامت) و (خجالت) حرف (ل) که بین حرف تاسیس (ا) و حرف روی (ت) فاصله شده و مفتوح هست، حرف دخیل است.)) (۱م ۱۵)

د ژباړن ژباړه: ((د تاسیس توری: که د الف (ا) توری د روي څخه د یو متحرک توري په فاصله د مخه راشي، د تاسیس د توري په نوم یاد ېږي. ۲_ دخیل توری: هغه متحرک توری دی، چې د تاسیس د توري او روي تر منځ فاصله جوړوي، لکه د لاندې بیت د رزالت او خجالت په کلیمو کې د (ل) توری د روي (ت) او تاسیس د توري (ا) ترمنځ چې مفتوح هم دي، فاصله شوې ده او دخیل ورته وايي، لکه:

چې مشهور کـــوم یو سړی په رذالت شي
سر یې ځوړند په مجلس کې خجالت شي
(ظاهر بارکزی)

په پورتني بيت کې (شي) رديف، رذالت او خجالت د قافيې کليمې، (ت) د روي توری او لام نه مخکې (الف) تاسيس توری دی)). (۲م۲)
(د تاسيس الف) په ټاکلو کې احمد نژاد او بارکزی دواړه تېروتي او د هغه په تشخيص کې يې نيمګړتيا رامنځته کړې ده.
د تاسيس الف ځانګړتياوې:
۱- خپلواک الف وي.
۲- هماهنګي پرې پيل وي.
۳- ورپسې دخيل يا متغاير توري راغلي وي.
۴- په متغايرو تورو پسې بل متحد توری چې روی نومېږي، راغلی وي.
د احمد نژاد د بېلګې د قافيې کلمې (ملات او خجالت) دي او د بارکزي د بېلګې د قافيې کليمې (رذالت او خجالت) دي چې په څلور واړو کلمو کې هماهنګه برخه (الت، الت) ده، چې لاندې يې شنو:
(الف) چې هماهنګي پرې پيل شوې خپلواک توری دی او بل هماهنګ توری (ل) ورپسې راغلی، اصلي (ردف) بلل کېږي
(ل) چې په ردف پسې متصل متحد توری دی (روي) دی او (ت) چې په روي پسې متحد توری دی (وصل) بلل کېږي.
پورتنۍ قافيه د هماهنګۍ برخې د جوړښت له مخې (مردفه) ده، نه موسسه چې احمد نژاد او بارکزی دواړه پکې ښوييدلي دي. همدارنګه د پورته کلمو په هماهنګه برخه کې دواړو ليکوالو (ل) دخيل يا متغاير توری ګڼلی دی چې دتامل وړ ده.
پوهنوال محمد اقا شېرزاد د تاسيس او دخيل توري په اړه ليکي: ((په موسسه قافيه کې هغه الف ته د تاسيس الف وايي، چې د ده او روي ترمنځ يو مغاير توری واقع شوی وي، دغه مغاير توري ته دخيل وايي.

هغو بياموند سعادت په دا دنيا
چې يې وکړ قـــناعت په دا دنيا

په پورتني شعر کې (سعادت او قناعت) د قافيې کلمې دي او متحد غږ پکې (ت) ده، چې حرکت نه لري، روي بلل کېږي، (د او ع) د تاسيس الف او روي ترمنځ واقع شوي دخيل توري دي او الف پکې تاسيس الف دی.)) (۲م۲۵-۲۲)
د ليکوال او ژباړن په بېلګه کې هماهنګه برخه (الت،الت) ده، چې د دخيل تورو درک هم پکې نشته، حال دا چې دخيل توري او تاسيس الف لازم او ملزوم دي. (رزالت او خجالت) کلمې که قافيه شي د مردفې قافيې بېلګه ده، (الف) ردف، (ل) روي او (ت) وصل توری دی. لکه څنګه چې مو ولوستل د دواړو کتابونو نظر د (ردف) توري په ټاکلو کې هم همداشان دی.
((حرف ردف: ردف دو نوع است، اصلی و زائد. ردف اصلي: اگر (ا)، (و)، (ی) (مصوتهای بلندی) بی فاصله يا بافاصله يک حرف ساکن قبل از روی بيايند، ردف اصلی خوانده می شوند:

آفـــــتاب امد دليل افتاب
گر دليلت بايد از وی رومتاب

در بيت مصوت بلند (ا) بی فاصله از روی امده است)). (۱م۱۲)
د ژباړن ژباړه: ((ردف په دوه ډوله دی چې عبارت له اصلي او زايد ردف څخه دی. اصل ردف: که (الف، و، ی) له روي څخه دمخه په ساکن ډول بې فاصلې يا د فاصلې نه وروسته راشي، د اصلي ردف په نوم ياد ېږي.

هسې مست يم ستا د شونډو په شراب
چې به نه وي بل دا هسې مست خـراب
(عبدالرحمن بابا)

په پورته بيت کې (الف) د روي له توري څخه دمخه بې فاصلې راغلی او د اصلي ردف په نوم ياد ېږي.)) (۲م م۳-۴)
لومړی به د احمد نژاد د بېلګې د قافيې کلمې وشنو:
۱- (افتاب او متاب) د قافيې کلمې دي.
۲- (تاب، تاب) هماهنګه برخه ده.

هماهنگې برخې نومونه: (ت) چې هماهنگې پرې پيل شوې او مخکې ترې تاسيس الف، ردف ياقيد نه دی راغلی (روي) دی (الف) چې په روي پسې متحد متصل توری دی (وصل) دی او (ب) چې په وصل پسې بل متحد متصل توری دی، (خروج) ورته وايي. د ژباړن د بيت د قافيې د هماهنگې برخې شننه:

۱- د قافيې کلمې: (شراب، خراب) دي.

۲- هماهنگه برخه: (راب، راب) ده.

۳- د هماهنگې برخې نومونه: (ر) چې هماهنگې پرې پيل ده او مخکې ترې تاسيس الف، ردف او قيد توري نه دي راغلي (روي) دی، (الف) په روي پسې بل متحد متصل توری دی (وصل) دی او (ب) په وصل پسې بل متحد متصل توری دی چې (خروج) بلل کېږي. پورته دواړه قافيې موصلي دي او د اصلي ردف او زايد ردف هيڅ درک پکې نشته چې دلته هم اصل ليکوال او ژباړن ښوييدلي دي. د قافيې په برخه کې د دواړو ليکوال او ژباړونکي اکثره بېلگې ناسمې دي او ځوانان له علمي گمراهۍ سره مخامخ کوي، چې په دې برخه کې پورتنۍ بېلگې کافي گڼم.

د بيان برخه: درنو لوستوالو په دې برخه کې هم زه يو دوې بېلگې درته راوړم؛ د نوموړي اثر په **۲۵** مخ کې ژباړن ليکي:

((۲ – مشبه حسي او مشبه به عقلي وي: په دې مانا چې مشبه محسوسه او مشبه به عقلي وي.

عجيبه ښــکلی وطن و سيال يې کله چين ختن و
مېوه دار شينکي باغونه ښايسته ښکلي چمنونه
تا ورکړی لوی زينت ؤ سر د ځمکې کــــې جنت ؤ
(د ژوند انځور)

په پورتني مناجات کې شاعر لـه الله (ج) سره خبرې کوي، خپل وطن ستايي او د جنت سره يې تشبيه کوي. وطن مشبه او محسوس دی، جنت مشبه به او معقول دی)). (۲م۲۵)

په پورته بيت کې جنت د معقول يا معنی نوم په ډله کې شمېرل شوی چې سمه نه ده، بلکې جنت د ذات نوم دی، ځکه په ذهن کې انځورېږي، همدارنگه د جنت معنی باغ ده، پورتنۍ تشبه (محسوسه له محسوسې) سره ده. د اثر په **۲۲** مخ کې ليکي:

((۱- د تشبه دواړه خواو ې مفرد او غير مقيد دي، لکه په لاندې بيت کې:

زړه مې د پرکار په څېر هر خوا و هي چکر
مرکـــــــز او له محيط د دايرې نشو بهر
(ظاهر باركزی)

په پورتني بيت کې زړه مشبه او پرکار مشبه به دی، چې دواړه مفرد او غير مقيد دي)). (۲م۲۲)

ډاکتر محمد علوي او ډاکتر اشرف زاده ليکي: ((مفرد: به مشبه يا مشبه بهی گفته ميشود، که از يک صورت ذهنی بيشتر تشکيل نشده باشد و بر دو قسم است: مفرد مجرد، مفرد مقيد؛ مفرد مجرد به صورتی ذهنی می گويند، که فقط يک کلمه باشد، مفرد مقيد به مفردی می گويند که به همراه آن يک کلمه، صفتی يا مضاف اليه يا قيدی ديگر باشد)). (۷م م۱۰۱-۱۰۲)

شننه: د گرامر له مخې موږ شخصي ضميرونه په دوو ډولو ويشو چې متصل او منفصل يې بولي، بيا منفصل په دوو ډولو ويشل کېږي چې خپلواک او ناخپلواک ورته وايي. په پورته بيت کې (مې) د مفرد متکلم لپاره ناخپلواک ضمير دی، چې له (زړه) سره د اضافت په بڼه راغلی: (زړه مې) يعنې د متکلم زړه د هر هر چا زړه نه. د لته (زړه) په (مې) ناخپلواک ضمير سره مقيد شوی دی، چې پورته تشبيه مفرد غير مقيد نه، بلکې مقيده مفرده له مفردې سره ده، يعنې مشبه مقيده مفرده کلمه ده او مشبه به مفرده کلمه ده. بل ځای د (مشبه مفرده مقيده او مشبه به مفرده غير مقيده) په اړه ځينې بيتونه په **۲۲** او **۲۷** مخ کې راوړي، چې په دې بېلگو کې مشبه او مشبه به دواړه مقيد راغلي دي، خو دې مشبه به غير مقيد بولي:

دا چـــې زشت مزاج شولو تبديل د يار
زشت مخ يې د شمع غوندې کړي پړقار

***

ښايسته مخ يې د سپوږمۍ غوندې ځلېږي
نرى قـد يې ښايسته لوړ لکـــه سپېدار
(ظاهر بارکزى)

په پورته دواړو بيتونو کې د غايب زشت مخ له پرقېدلې شمع سره تشبيه کوي او بل شعر کې د غايب ښايسته مخ له ځلېدلې سپوږمۍ سره تشبه کوي. دا چې وايي (د شمعه غوندې پرقار) په خپله مقيد شو او دا سپوږمۍ غوندې ځلېږي، دلته ځلېدل د سپوږمۍ صفت دى چې پرې مقيد شوې ده. په (۲۸) مخ کې يې (کاڼي کرښه) مرکب مشبه به بللى دى، چې دا مرکب نه (مقيد مفرد) دى، کرښه په کاڼي مقيده شوې ده؛ په دې برخه کې په هره بېلګه کې همدا ستونزه ده.

ښاغلى ژباړن د خپل ژباړلي اثر په (۳۲) مخ کې لاندې بيت د تفضيلي تشبيه په بېلګه کې راوړي:

((سپين غاښونه يې په شان د مرغلرو
نه خـطا شوم ته وا دې د سپينو زرو
(ظاهر بارکزى)

په پورته بيت کې غاښونه مشبه او (مرغلرې) مشبه به دي، چې شاعر په کې خپله سهوه مني او وايي چې غاښونه يې تر مرغلرو زيات، بلکې د سپينو زرو په شان دي.)) (۲م۳۲)

شننه: لومړى به د مرغلرو او سپينو زرو پرتلې ته راشو: ښاغلى بارکزى د جيولوژي ښوونکى او هم يې په دې برخه کې ګڼې څېړنې او ليکنې کړي، خو زه چې څومره فکر کوم او په بازار کې د مرغلرو او سپينو زرو له قيمت څخه خبر يم، مرغلرې څو چنده تر سپينو زرو ګرانې دي؛ همدارنګه د مرغلرو جوړښت او ښکلا هم تر سپينو زرو زياته ده، لومړى ستونزه خو پکې همدا ده، بله دا چې موږ د تفضيلي تشبيه تعريف داسې کوو: چې مشبه د وجه شبه له مخې تر مشبه به ځواکمن وي. (۹م۱۸)

اوس پوښتنه داده چې ايا په پورته بيت کې غاښونه تر مرغلرو او سپينو زرو غوره ګڼل شوي او که نه په عادي حالت کې دي، پايله داده چې مرغلرې او سپين زر تر غاښونو د وجه شبه له مخې ځواکمن او غوره بلل شوي، نو پورتنۍ تشبيه (عادي تشبيه) ده، نه تفضيلي.

د استعارې برخه: ښاغلى بارکزى په (۳۲) مخ کې د مکنيه استعارې په اړه ليکي: ((په مکنيه استعاره کې قرينې ته اړتيا ليدل کېږي او دا قرينه معمولاً د مشبه به د لوازماتو څخه وي چې مشبه به ور څخه معلومېدلاى شي)). (۲م۳۲)

له پورته جملې څخه داسې جوتېږي، چې (مصرحه استعاره) قرينې ته اړتيا نلري. د احمد نژاد جمله داده: ((درين صورت استعاره قرينه لازم دارد و اين قرينه معمولاً چيزى است از لوازم مشبه به)). (۱م۹۹)

پورته احمد نژاد (قرينه لازم) ذکر کوي، چې په ژباړه کې سمه نه ده ژباړل شوې. د مرسل مجاز په برخه کې د کليت علاقې په بېلګه کې ليکي: (((د څاه اوبه مې وڅښلې) مطلب يې دادى، چې د څاه د اوبو څخه مې يو څه وڅښلې)). (۲م۳۹)

پورتنۍ بېلګه د مضاف او مضاف اليه ده، نه د کليت (څاه) مضافه اليه، (اوبه) مضاف او (د) د اضافت توري دى، لکه (د احمد کتاب).

چا پېژندم زه چې عـــــاشق نه وم په جهان کې
اوس مې ستا له رويه نوم رسوا به ټول جهان شو
(۵م۴۴)

پورته جهان ذکر دى، چې مراد ترې د عبدالرحمن بابا د اوسېدو خواوشا سيمې دي، چې د کليت علاقه يې بولي.

د بديع برخه:

د مطرفې سجع په اړه ليکي: ((هغې سجعې ته وايي چې د سجعې په کليمو کې يوائې اخريني توري يو شان وي، مګر په وزن کې توپير ولري.)) (۲م۴۵)

پورتنى تعريف ګونګ او ناسم دى؛ سم تعريف يې دا دى: چې د سجع کلمې د روي په تورو کې سره يوشان وي او په وزن او شمېر کې يې توپير وي. لکه: ژرنده که د پلار ده هم په وار ده. (۴م۱۴)

د (پلار- وار) په کلمو کې مطرفه سجع راغلې ده. ښاغلي ژباړن د ردالمطلع د بېلګې لپاره دوه بېته بېلګه کړې، حال داچې په هغه کې د غزل په مقطع کې چې د شاعر نوم يا تخلص راوړل شوی وي، د مطلع لومړی يا دويم نيم بيتی راوړل کېږي؛ د احمد نژاد په بېلګه کې د حافظ د غزل لومړی بيت راوړل شوی، بيا درې ټکي دي، چې معنی يې د نورو بيتونو حذفول دي او بيا يې مقطع راوړې، چې د غزل د مطلع لومړی نيم بيتی پکې هوبهو راغلی دی، چې په ژباړه کې دې اصل ته چندان پام نه دی شوی، وګورئ ادبي فنون (۵۸) مخ. ښاغلي ژباړن د خپل اثر په (۷۱) مخ کې د تلميح لپاره لاندې بيت بېلګه کړی دی:

مين ځکه په دنيا يې په دنيا

چې نالوستی يې ايت د لنتنا

پورته بېلګه د اقتباس ادبي صنعت ده، چې په صراحت سره پکې د ايت شريف يوه ټوټه يا کلمه راوړل شوې ده. (۸م۱۵۹) لکه پورته چې د (لن تنا) کلمې راغلې دي. په تلميح کې پر پېښې سربېره د يو ايت يا حديث ژباړه مطرح ده، نه د ايت يا حديث اصلي کلمې. په ژباړه کې چې د التفات ادبي صنعت لپاره کومې بېلګې راوړل شوي، ټولې ناسمې دي. همدارنګه (د مرتب لف و نشر نور مثالونه) تر سرليک لاندې ټولې بېلګې د (تقسيم) ادبي صنعت لپاره ښې بېلګې دي او هم د (نامرتب لف و نشر) ځينې بېلګې يې د تقسيم ادبي صنعت دي. د عارفانه تجاهل هغه بېلګې چې د ښاغلي بارکزي خپل کلام دی، سمې نه دي. همدارنګه د ځلوريزې لپاره چې کومې بېلګې راغلې، ځلوريزې نه، بلکې د غزل لومړي دوه بيته ښکاري، چې په معنی کې نور بيتونه هم ورپسې راتلای شي. د ټولو نيم بيتيو محتوی په يوه ټاکلي هدف پورې نه تړل کېږي. د بوللې تر سر ليک، چې کومه شرحه راغلې نيمګړې ده، چې نور کار هم غواړي. د مربع لپاره چې کومه بېلګه راغلې لومړی بند يې شپږ نيم بيتي دي، چې د تعريف او بېلګې تر منځ واټن رامنځته کوي او قافيې يې هم دقيقې نه دي، راوړل شوي. د ژباړل شوي اثر (۹۹مخ) وګورئ.

پايله:

د (ادبي فنون) کتاب چې د ډاکټر احمد نژاد د (فنون ادبي) ژباړه ده، ټکي په ټکي مې ولوست او ځينې وخت کې يې د دواړو اثارو (فنون ادبي) او (ادبي فنون) پرتليزې لوستنې ته هم اړ کړم، چې دې پايلې ته يې ورسولم:

۱- د ښاغلي ډاکټر احمد نژاد (فنون ادبي) په خپله ډېرې تېروتنې لري، چې همدې کار ښاغلی بارکزی هم له ګڼو ستونزو سره مخ کړی او د هغه تېروتنه يې په تېروتنه ژباړلې ده.

۲- په خپله ښاغلي بارکزي چې کومې بېلګې راوړي، يو څه د تېروتنو ستونزې لري.

۳- نوموړي اثار زموږ لوستونکي او هغه چې په دې لار کې زده کړې کوي، پر ګڼو ستونزو سربېره په ناشعوري توګه يې د ادبي فنونو په برخه کې تېرباسي.

وړانديزونه:

1. هر څوک چې ژباړه کوي، د مسلک له مخې بايد پوره رسېدلی وي.
2. هغه څوک چې د مسلک له مخې له يوې موضوع سره تړاو ونلري، په کمو معلوماتو دې ژباړې ته ملا نه تړي.
3. هغه کتاب چې ژباړل کېږي، د هغه محتوی دې په دقت سره ولوستل شي، چې ايا تېروتنې پکې شته که نه او د معنی له مخې ژبې ته څومره ګټه رسوي.
4. هره خپرندويه ټولنه چې څوک د ژباړې لپاره ګماري، د ژباړونکي مسلک بايد وپېژني.
5. زما ځانګړی وړانديز د خاور خپرندويې ټولنې مشرتابه او ښاغلي بارکزي ته دادی چې د (ادبي فنون) ژباړل شوی کتاب دې بازار ته نه وړاندې کوي، چې په دې سره ډېر لوستونکي او ددې مسلک نوي پيروان له تېروتنو او سهوو څخه وژغورل شي.

يادښت: د ادبي کره کتنې په تله کې لومړی د اثر ښېګڼې راوړل کېږي او بيا يې نيمګړتياوو ته په احتياط اشاره کېږي، چې د سمون لاره خپله کړي، په ډېرې خواشينۍ چې ما پکې دومره تېروتنې وليدې، چې ښېګڼې يې هم په خپله غېږ کې پټې کړې وې.

Abstract:

The book "Literary funs" translated by the efforts of Mr. Alhaj enjeer muhammd zahir Barakzai wich is in fact translation of the book "Literary Funs "written by Dr. Kamil Ahmad Nijad. I studied this book from beginning to its end. Some topics attracted my attention and thought to them. Qafia, Baya, Badi, Fasahat and Balaghat have been fully explained in the said book. This book has many good topics and ideas in term of content but it does have some considerable mistakes too. In Fact the translator of the book has mentioned Kamil Ahmad nijad mistakes without having corrected them. Furthermore, because of his unprofissionality, the translator has perpetrated many mistakes in mentioning examples. These mistakes cause to mislead unprofessional reader and beginner professional reader and may create many other problems to him. I hope readers while reading this book be attentive to these mistakes in order to protect and save their society from scientific disasters.

اخځليکونه:

1. احمد نژاد، کامل. (۱۳۸۲ل). فنون ادبي. تهران: انتشارات پايان
2. بارکزی، محمد ظاهر. (۱۳۸۸ل). ادبي فنون. پېښور: خاور خپرندويه ټولنه
3. حقپال، محمداجان. (۱۳۹۱ل). قافيه پوهنه. کابل: کابل پوهنتون
4. حقپال، محمداجان. (۱۳۸۹ل). بديع پوهنه. کابل: کابل پوهنتون
5. شاکر، نورمحمد. (۱۳۵۵ل). بديع بيان. کابل: پوهنې وزارت
6. شېرزاد، محمداقا. (۱۳۸۶ل). قافيه. ننگرهار: صميم ادبي ټولنه
7. مقدم، محمدعلوي او اشرفزاده، رضا. (۱۳۸۴ل). معاني و بيان. تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاها(سمت)
8. همکار، محمدابراهيم. (۱۳۸۶ل). بديع فن او پښتو شاعري. ننگرهار: رڼا کولتوري مرکز
9. يوسفزی، مشتاق مجروح. (۱۹۹۸زېږديز). زرکانی. پېښور: تاج کتب خانه

پوهندوی حميدالله (يار) - ساينس
پوهنځی- رياضي او فزيک څانگه

د هاملتون عامل (Hamelton's Operators) اهميت ته لنډه کتنه

لنډيز:

ويليم روون گاملتون (William Rawan Hamelton) يو آيرلينډی رياضي پوه چې له 1865-1805 کلونو پورې يې ژوند کاوه، د لومړي ځل لپاره د وکتور مفهوم ته انکشاف ورکړ او د خپل ژوند په اوږدو کې يې د رياضي او فزيک په ډېرو برخو کې عملاً د ضرورت وړ استفادې تر سره کړې. څرنگه چې په يو بعدي، دوه بعدي او درې بعدي فضا گانو کې نوموړي عالم د وکتورونو د څېړنې په نتيجه کې مونږ ته ډېر معلومات د اثارو په شان پرېښودي دي، له همدې امله د نوموړي عالم د معلوماتو څخه په استفاده دلته د ټولو وکتورونو په نماينده گی يوازې په درې بعدي فضا کې نبله وکتور يا د گاملتون اوپراتور يا د هاملتون عامل په ډېره لنډه توگه تر بحث لاندې نيسو.

سريزه:

په عمومي ډول د رياضياتو په علم کې د وکتورونو مطالعه کول او په دې لړ کې د $\mathbb{R}^3$ په درې بعدي فضا کې د وکتورونو د مطالعې او پېژندگلوۍ له مخې به دا په وضاحت ورسېږي چې په درې بعدي فضا کې وکتور د کوم شکل لرونکی دی او د يوه عامل (اوپراتور) په توگه په رياضي کې کوم اهم رول لوبوي. يو ډېر اهم اوپراتور چې نبله وکتور ورته وايي، په سکالري او وکتوري توابعو د عمل په نتيجه کې به د گرادينت، د يو رجنت او روټيشن په مفهوم عملاً پوه شو. پر دې سربېره به د فورمولونو په شکل د يو لړ نورو مفاهيمو په باب کافي معلومات تر لاسه کړو؛ دې مطلب ته به په هغه صورت کې ورسېږو کله چې د موضوع په څېړنې او بحث پيل وکړو.

موخې:

د گاملتون عامل په پېژندگلوۍ د درې اساسي مفاهيمو گرادينت، ديورجنت او روټيشن په اساسي معنی سره پېژندل
په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو ته د گټورو مفاهيمو وړاندې کول

د گاملتون عامل (Hamelton's Operators) اهميت:

قبلوو چې د $\mathbb{R}^3$ په درې بعدي فضا کې د $f = f(x, y, z)$ يوه سکالري تابع راکړ شوې ده، داسې چې د دومين په هره نقطه کې متمادي او مشتق منونکې ده. د نوموړې تابع په نظر کې نيولو سره غواړو يو ډېر مهم عامل (اوپرتور) چې د گاملتون عامل (Hamelton's Operators) يا نبله وکتور په نوم يادېږي، وپېژنو او د هغې په مرسته په لاندې توگه يو اساسي مفهوم مينه والو ته معرفي کړو او هغه دا چې د $f = f(x, y, z)$ سکالري تابع قسمي مشتقات دي. په دې توگه که $\frac{\partial f}{\partial x}$، $\frac{\partial f}{\partial y}$ او $\frac{\partial f}{\partial z}$ د f سکالري تابع قسمي مشتقات په ترتيب سره نظر x, y او z ته راکړ شوي وي، نو په $\mathbb{R}^3$ درې بعدي فضا کې د f تابع گرادينت په لاندې توگه تعريفوو:

$$grad\ f := \frac{\partial f}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial f}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial f}{\partial z}\vec{k} = <\frac{\partial f}{\partial x}, \frac{\partial f}{\partial z}, \frac{\partial f}{\partial z}>$$

داسې چې:

$$\|grad\ f\| = \sqrt{(\frac{\partial f}{\partial x})^2 + (\frac{\partial f}{\partial y})^2 + (\frac{\partial f}{\partial z})^2}$$

ته د f سکالري تابع د گرادياننت نورم (مقدار) ويل کېږي.

د معلومات له مخې گرادیانت داسې یو وکتور دی چې په یوې نقطې کې د سکالري ساحې تر ټولو لوی تزاید راښیي او $\|grad\ f\|$ د نومورې تزاید سرعت راښیي. د پورته معلومات مطابق $grad\ f$ په لاندې توگه هم لیکلای شو:

$$grad\ f = \frac{\partial f}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial f}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial f}{\partial z}\vec{k} = \left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right) f = \vec{\nabla} f \Rightarrow grad\ f = \vec{\nabla} f.$$

په وروستۍ لیکنه $grad\ f = \vec{\nabla} f$ کې د $\vec{\nabla} = \frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}$ وکتور ته د دل وکتور (del Vector) یا د گاملتون عامل (Hamelton's Operators) یا په فزیک کې د نبله وکتور وایي، چې په زیاته پیمانه د اهمیت وړ وکتور دی. دا هم یادوو چې نبله یوناني کلیمه د موزیک داسې یوه آله (عامل) ده چې موزیک پرې ډېر ښه شو کېږي. په ریاضي کې دغه عامل ځکه ډېر د اهمیت وړ دی چې لکه یوه د شو کېدو آلې په شان د گرادینت، دیورجنت او روټیشن په معرفي کولو کې ډېر رول لوبوي. دې ته په توجه چې د f سکالري تابع گرادینت $grad\ f = \vec{\nabla} f$ په حقیقت کې د $\vec{F}$ یو وکتور (یا وکتوري تابع) ده، که چېرې f د $\vec{F}$ لپاره یوه پوتنسیلي تابع وي او لیکو چې:

$$grad\ f = \vec{\nabla} f = \vec{F}$$

د گرادینت د لا وضاحت لپاره دا هم په پام کې نیسو: مثلاً که $u = f(x,y) = 2x^3y^4$ وي، $grad\ u$ عبارت دی له:

$$grad\ u = \frac{\partial u}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial u}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial u}{\partial z}\vec{k} = 6x^2y^4\vec{i} + 8x^3y^3\vec{j}$$

د مثال په توگه د $u = f(x,y,z) = xy + yz + xz$ لپاره $grad\ u$ عبارت دی له:

$$grad\ u = \frac{\partial u}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial u}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial u}{\partial z}\vec{k} = (y+z)\vec{i} + (x+z)\vec{j} + (x+y)\vec{k}$$

[2 م242]، [3م97- 101]

په همدې توگه د $f(x,y,z) = 4x^2 + y - e^{xz}$ لپاره $grad\ f$ په (1,-1,0) کې عبارت دی له:

$$grad\ f = (8x - ze^{xz})\vec{i} + \vec{j} - xe^{xz}\vec{k}$$

$$And: grad\ f\ |_{(1,-1,0)} = 8\vec{i} + \vec{j} - \vec{k}$$

اوس چې د [6 م 1103] او [5م244] ته په کتنې مو د $\vec{\nabla} = \frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}$ نبله وکتور په هکله پوره معلومات په لاس راوړل، غواړو د دې عامل (اوپراتور) اهمیت په لاندې توگه واضح کړو.

i. لکه چې مخکې مو هم ورته اشاره کړې ده، کله چې د $\vec{\nabla}$ اوپراتور د f په سکالري تابع عمل وکړي $\vec{\nabla} f$ د f سکالري تابع گرادینت په لاس راځي یعنې:

$$\vec{\nabla} = \frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k} = \frac{\partial f}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial f}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial f}{\partial z}\vec{k} = grad\ f$$

[4م597]

د مثال په توگه که $f(x,y,z) = xyz$ وي، $\vec{\nabla} f$ عبارت دی له:

$$\vec{\nabla} f = \left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right) = xyz = \frac{\partial(xyz)}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial(xyz)}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial(xyz)}{\partial z}\vec{k} = yz\,\vec{i} + xz\vec{j} + xy\vec{k} := grad\ f.$$

ii. که د $\vec{\nabla}$ اوپراتور په $\vec{F}$ یوې وکتوري تابع عمل وکړي، د هغوی د سکالري حاصل ضرب پایله د $\vec{F}$ وکتوري تابع د ایورژنس معرفي کوي، یعنې:

$$div\ \vec{F} = \vec{\nabla}.\vec{F}$$

په دې تعبیر، که $\vec{F} = F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}$ یوه وکتوري تابع وي:

$$div\vec{F} = \vec{\nabla}.\vec{F} = \left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right)(F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}) = \frac{\partial F_1}{\partial x} + \frac{\partial F_2}{\partial y} + \frac{\partial F_3}{\partial z}.$$

په پایله کې $div\ \vec{F}$ په ټولو هغو نقطو کې تعریفېږي، په کومو کې چې د F_1 ، F_2 او F_3 توابع تعریف شوې وي. [7م972]، [5م245]

د مثال په توگه که $\vec{F} = sinx\,\vec{i} + cosy\vec{j} + z^2\vec{k}$ وي، $div\ \vec{F}$ عبارت دی له:

$$div\ \vec{F} = \vec{\nabla}.\vec{F} = \left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right)(sinx\,\vec{i} + cosy\vec{j} + z^2\vec{k}) = \frac{\partial}{\partial x}(sinx) + \frac{\partial}{\partial y}(cosy) + \frac{\partial}{\partial z}(z^2) =$$

$$= cosx - siny + 2z$$

iii. که د $\vec{\nabla}$ اوپراتور د $\vec{F} = F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}$ په وکتوري تابع عمل وکړي، روټيشن (کرل) چې په $rot\vec{F}$ يا $Curl\,\vec{F}$ ښودل کېږي، د $\vec{\nabla}$ نبله وکتور او $\vec{F}$ وکتوري تابع (يا وکتور) له وکتوري حاصل ضرب څخه عبارت دی، په لاس راځي. يعني: $\vec{\nabla}x\vec{F} = curt\,\vec{F} := rot\vec{F}$

يعني دا چې په يوې وکتوري تابع کې د $\vec{\nabla}$ اوپراتور د عمل په نتيجه کې ببرته يوه بله وکتوري تابع په لاس راځي او هغه عبارت ده له:

$$Curl\ \vec{F} = \vec{\nabla}x\vec{F} = \begin{vmatrix} \vec{i} & \vec{j} & \vec{k} \\ \frac{\partial}{\partial x} & \frac{\partial}{\partial y} & \frac{\partial}{\partial z} \\ F_1 & F_2 & F_3 \end{vmatrix} = \left(\frac{\partial F_3}{\partial y} - \frac{\partial F_2}{\partial z}\right)\vec{I} + \left(\frac{\partial F_1}{\partial z} - \frac{\partial F_3}{\partial x}\right)\vec{J} + \left(\frac{\partial F_2}{\partial x} - \frac{\partial F_1}{\partial y}\right)\vec{K}$$

[8م1040]، [1م234]

د مثال په توګه $\vec{F} = x^2y\vec{i}(3x - yz)\vec{j} + z^3\vec{k}$ وي $rot\vec{F}$ عبارت دی له:

$$rot\vec{F} = curt\ \vec{F} = \vec{\nabla}x\vec{F} = \begin{vmatrix} \vec{i} & \vec{j} & \vec{k} \\ x^2y & 3x - yz & z^3 \end{vmatrix} = \left(\frac{\partial(z^3)}{\partial y} - \frac{\partial(3x-yz)}{\partial z}\right)\vec{i} - \left(\frac{\partial(z^3)}{\partial x} - \frac{\partial(x^2y)}{\partial z}\right)\vec{j} +$$
$$+\left(\frac{\partial(3x-yz)}{\partial x} - \frac{\partial(x^2y)}{\partial y}\right)\vec{k} = y\vec{i} + (3 - x^2)\vec{k}$$

يادونه: کولای شو دا وښيو چې: $rot\vec{F} = \vec{k}$ دی، که چېرې $\vec{F} = (x^3 - y)\vec{i} + y^5\vec{j} - e^z\vec{k})$ وي.

تبصره: د يادونې وړ ده چې ګرادينت، ديورژنس هر يوه ته يو اوپراتور يا په بل تعبير ديفرنسيلي اوپراتور وايي چې په دوی کې په زياته پيمانه د ګرادينت اوپراتور د اهميت وړ دی.

سربېره په پورتنيو يادونو دا هم بايد هير نه کړو، چې د $\vec{F} = \vec{F}(x, y, z) = F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}$ وکتوري ساحې ته پوتنسيلي وکتوري ساحه وايي، که چېرې د $\vec{F}$ وکتور د u يوې سکالري تابع ګرادينت يعني: $\vec{F} = grad\ u := \vec{\nabla}u$

په دې تعبير چې $F_1 = \frac{\partial u}{\partial x}, F_2 = \frac{\partial u}{\partial y}$ او $F_3 = \frac{\partial u}{\partial z}$ وي او هغه ساحه چې په شاخوا کې يې برقي چارج توليد ېږي، وکتوري ساحه ورته وايي.

b) **د** u سکالري تابع لپاره $rot\ grad\ u = 0$ دی، ځکه چې: $rot\ grad\ u = \vec{\nabla}x\vec{\nabla}u = (\vec{\nabla}x\vec{\nabla})u = \vec{0}u = 0$

(د $\vec{\nabla}x\vec{\nabla}$ په نقطو کې نيولو سره). دې ډول وکتوري ساحې ته غير دوراني (Irrational) ساحه وايي او هره پوتنسيلي ساحه غير دوراني ده.

C) که $u = u(x, y, z)$ يوه سکالري تابع وي، $div\ (grad\ u)$ عبارت دی له:

$$div(grad\ u) = \vec{\nabla}.(\vec{\nabla}u) = (\vec{\nabla}.\vec{\nabla})u = \{\left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial y}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right)\left(\frac{\partial}{\partial x}\vec{i} + \frac{\partial}{\partial u}\vec{j} + \frac{\partial}{\partial z}\vec{k}\right)u =$$
$$= \left(\frac{\partial^2}{\partial x^2} + \frac{\partial^2}{\partial y^2} + \frac{\partial^2}{\partial z^2}\right)u = \nabla^2 u := \Delta u$$

په دې ځای کې $\Delta = \frac{\partial^2}{\partial x^2} + \frac{\partial^2}{\partial y^2} + \frac{\partial^2}{\partial z^2} = \nabla^2$ ته د لاپلاس اوپراتور وايي دا سې چې $\Delta u = \nabla^2 u = 0$ ته د لاپلاس معادله وايي. هغه تابع چې د لاپلاس معادله صدق کړي، يوه هرمونيکي معادله ده. دا بايد هير نه کړو چې که د لاپلاس اوپراتور په يوه وکتور عمل وکړي، په پايله کې يو وکتور په لاندې توګه په لاس راځي:

$$(\vec{F} = F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k})$$
$$\Delta\vec{F} = \Delta(F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}) = \left(\frac{\partial^2}{\partial x^2} + \frac{\partial^2}{\partial y^2} + \frac{\partial^2}{\partial z^2}\right)(F_1\vec{i} + F_2\vec{j} + F_3\vec{k}) =$$
$$= \left(\frac{\partial^2 F_1}{\partial x^2} + \frac{\partial^2 F_1}{\partial y^2} + \frac{\partial^2 F_1}{\partial z^2}\right)\vec{i} + \left(\frac{\partial^2 F_2}{\partial x^2} + \frac{\partial^2 F_2}{\partial y^2} + \frac{\partial^2 F_2}{\partial z^2}\right)\vec{j} + \left(\frac{\partial^2 F_3}{\partial x^2} + \frac{\partial^2 F_3}{\partial y^2} + \frac{\partial^2 F_3}{\partial z^2}\right)\vec{k}.$$

d) که $\vec{F} = grad\ u$ وي، $div\ (rot\vec{F}) = 0$ په لاس راځي، دا ځکه چې:

$$div\ (rot\vec{F}) = \vec{\nabla}(rot\ \vec{F}) = \vec{\nabla}.(\vec{\nabla}x\vec{F}) = \vec{\nabla}(\vec{\nabla}x\vec{\nabla}) = \vec{\nabla}(\vec{\nabla}.\vec{\nabla})u = \vec{\nabla}(\vec{0})u = 0.$$

پایله:

مونږ په دې څېړنه کې د یوه عامل (اوپراتور) د عمل کولو په نتیجه کې کوم چې د دل اوپراتور یا گاملتون عامل او یا نبله وکتور په نوم یې یادوي، د هغې د عمل کولو په نتیجه کې په لاندې توگه یو لړ پایلو ته رسېږو:

۱. په یوې سکالري تابع د نوموړي عامل د عمل کولو په نتیجه د هغې تابع د گرادینت په مفهوم پوه شو.

۲. په یوې وکتوري تابع د عمل کولو په نتیجه کې لکه چې ومو لیکل، د دیورجنت او روتیشن مفاهیم راته څرگند او واضح شول او په دې حالتونو کې د مثالونو د حلولو هم جوگه شو.

۳. د دې مفاهیمو څخه په استفاده یو لړ مفاهیم مو هم وپېژندل.

۴. دغه پایلې د ځان او لوستونکو لپاره مناسبې لاسته راوړنې گڼلی شو.

وړاندیزونه:

۱. د امکان تر حده لازم دي چې یو بعدي، دوه بعدي او درې بعدي سیستمونه وپېژنو او پر هغوی د نقطې او خط تعینول وکولای شو.

۲. پورته درې سیستمونه د یو بعدي فضا، دوه بعدي فضا او درې بعدي فضا په صفت وپېژندل شي.

۳. په یو بعدي، دوه بعدي او درې بعدي فضاگانو کې وکولای شو، وکتور رسم او نورم (مقدار) یې معلوم کړی شو.

۴. د سکالري او وکتوري ساحو او توابعو په باب څه نا څه معلومات ولرو.

۵. د یوې تابع د قسمي مشتقاتو پیدا کولو ته لاس رسی ولرو.

۶. د وکتور واحدونو او قسمي مشتقاتو په پېژندگلوۍ نبله وکتور وپېژنو.

که پورته معلومات ولرو، کولای شو د گرادیانت، دایورجنت او روتیشن او یو لړ نورو مفاهیمو ځانونه پوه کړو او په مفهوم یې نور مینه وال خبر او مستفید کړو.

Abstract:

Willam Rawan Hamilton was and Irish mathemation and scholar (1805-1865). For the first time he introduced the concepts of vector in his life he has fulfilled his attempts practically in different parts of physics and Mathematics in addition mentioned scholar in the result of his research in one , two and three dimensions spaces. He studied the vector. Here we study only about Hamilton operator or Nabla vector in three dimensions briefly. Here we want to mention that Nabla is Greek word which is derived from musical instrument is called harfa.We indicate Nabla vector by symbol of ($\vec{\nabla}$) If this operator act on $F = F(x, y, z)$ scholar function obtain gradient of given scalar function. In addition if this operator act on $\vec{F} = \vec{F}(x, y, z)$ vector function at the end we will know about the concept of (divergence) and "rotation" or "curt". In addition from these concept "grad", "div" or "rot". We will know and add more information about these concepts.

اخځلیکونه:

۱. فروهنده، فرخ. (1387). حساب دیفرنسیل و انتیگرال (ریاضیات عمومی۳) چاپ دوم. دانشگاه صنعتی شاهرود

۲. کاظمی، محمد حسین پور. (1379). ریاضیات عمومي و کاربرد های آن– جلد دوم. تهران

۳. محمدی، مهندس ناصر. (1386). کتاب برگزیده از کتاب آپوستیل– جلد دوم، چاپ سوم. تهران

4. Finney .R.L (1980). Calculus and analytic Geometry5nd Edition. University of Illiois at Urbana champing. (p 597).

5. Piskonov. N.C. (1981). Differential and Integral calculus vol II. Mir publisher Moscow (p245)

6. Smith .R.T. (2002).Calculus 2nd Edition. Millersville university Pensylvainisa (pp 972)

7. Smith .R.T. (2009). Thomas calculus 12th Edition.Goel Hass, university of California Davis,(p 245)

8. Wylie.C.R(1995).Advanced Engineering Mathematics6th Edition.Montana state university (p1030)

پوهنـــدوی جـــان محمـــد (پیغـــام)
ښـــوونې او روزنـــې پوهـــــنځی
تاریـــخ څـــــانـــګـــــه

د غازي محمدجان خان وردګ ملي مبارزه او وطنپالې هڅې

لنډیز:

په دې څېړنیزه تاریخي مقاله کې د هېواد د ملي اتل جرنیل محمد جان خان وردګ د وطنپالو او تاریخي هڅو په اړه څېړنه شوې. دغه راز د نوموړي ملي مبارز د زوکړې، زده کړې او نورو هڅو سربېره د یاد ملي او وطنپال مبارز ملي احساس او د برتانیې د یرغلګر ځواک خلاف وسله والې مبارزې په اړه بحث شوی او په اړه یې ګټور تاریخي معلومات راټول شوي دي.

سریزه:

غازي محمد جان خان وردګ د امیر دوست محمد خان د امارت د اعلان پرمهال په (۱۸۳۵م) کال زېږېدلی، چې د نوموړي د زېږېدنې څخه تر مړینې پورې افغان ولس د برتانوي پوځ د یرغلونو سره لاس او ګرېوان و. نوموړی ملي او وطنپال مبارز هم د خپلو پلرونو او نیکونو غوندې په ملي او وطنپالو احساساتو روزل شوی دی. غازي محمد جان خان وردګ هم د نظامي زده کړو د بشپړولو وروسته د خپلو خلکو او هېواد دفاع لپاره د برتانیې د یرغلګر ځواک خلاف مبارزه پیل کړه او د کابل، وردګو، غزني، کلات او کټواز خلک یې د برتانیې خلاف د هېواد د دفاع پر لور وهڅول او د ژوند تر پایه د برتانیې او د هغه هېواد د ګوډاګیانو خلاف یې خپله مبارزه جاري وساتله، چې بالاخره په (۱۸۸۱م) کال د امیر عبدالرحمن خان له خوا مزار شریف ته تبعید او هلته د امیر په حکم ووژل شو.

موخې:

- د ملي اتل غازي محمد جان خان وردګ د ملي هڅو او وسله والې مبارزې څېړل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مینه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

غازي محمد جان خان (وردګ):

غازي محمد جان خان وردګ د سیدال خان زوی او د اکرم خان لمسی و، چې د وردګو د بیدمشک سیمې د کربت غره په لمن کې د امیر دوست محمد خان د امارت د اعلان پر مهال په (۱۸۳۵م) کال زېږېدلې او د نوموړي د ژوند ټول مهال د (۱۸۸۰-۱۸۳۵م) کلونو ترمنځ اټکل شوی، چې دې نومیالي د افغانستان په سیاسي تاریخ کې ستر رول لوبولی دی. د کربت غرنۍ سیمه د غزني د ښار څخه شل میله لرې پرته ده، چې اوسېدونکي یې د هېواد د خپلواکۍ په مینه د خپلو پلرونو او نیکونو له خوا روزل شوي او د خپل هېواد د خپلواکۍ سره ډېره مینه لري. غازي محمد جان خان وردګ په زلمیتوب کې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د علمي هڅو په لړ کې کابل ته راغی او د افغانستان په لومړني او نوي تاسیس شوي ښوونځي کې چې دوه څانګې (عسکري او ملکي) یې درلودې، نوموړي مېړني او وطنپال زلمي په عسکري څانګه کې خپلې زده کړې پیل کړې، چې د همدې ښوونځي څخه له فراغت وروسته یې د توپچي په مسلک کې د جرنیلۍ عسکري رتبې کې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ تر پایه په صداقت او ایمانداری دنده اجرا کوله او د افغانستان سرحدات یې د سر په بدل ساتل. د امیر شېرعلي خان د دویم ځل واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې فرهنګي هڅې پیل شوې، چې په (۱۸۷۴م) کال د لومړي ځل لپاره د افغانستان دولت منظمه کابینه جوړه کړه او د حکومت ټولې چارې یې لومړي وزیر (لوی مختار) ته وسپارلې. په (۱۸۷۰م) کال د شېرپور د نوي ښار د بنسټ ډېره کېښودل شوه او د شمس النهار جریده چې په افغانستان کې لومړنۍ

مطبوعاتي خپرونه وه، تاسيس شوه او غازي محمد جان خان وردګ د عسکري ښوونځي د توپچي په مسلک کې خپلې زده کړې په يوه ملي او وطنپاله روحيه پيل کړې. (۳م۵۹۵)

غازي محمد جان خان وردګ د عسکري زده کړو د بشپړولو وروسته په پوځي دنده وګمارل شو او د هېواد په بېلابېلو سيمو کې يې عسکري دنده په صداقت او ايمانداري سرته رسوله، چې بالاخره د امير شېرعلي خان د واکمنۍ په وروستي مهال د خيبر په سرحدي پوځ کې د قومندان په توګه وټاکل شو. کله چې په (۱۸۷۹م) کال د افغانستان سياسي حالات ترينګلي شول، غازي محمد جان خان وردګ په علي مسجد سيمه کې د برتانوي پوځ خلاف وسله واله مبارزه نوره هم ګړندۍ کړه او د برتانوي يرغلګر ځواک ته يې اجازه نه ورکوله، چې افغانستان ته راننوځي. په همدې مهال نوموړي مېړني منصبدار د کرنيلۍ په عسکري رتبه کې مسؤليت درلوده، کله چې امير شېرعلي خان د نوموړي افغان د ټينګ او پياوړي عزم څخه خبر شو، د نوموړي ځوان منصبدار د کرنيلۍ عسکري رتبې څخه يې د جرنيلۍ عسکري رتبې ته لوړېدل د يو ځانګړي شاهي حکم له مخې تصويب او منظور کړه. کله چې برتانوي پوځ د پېښور او خيبر درې له لارې پر افغانستان يرغل کاوه، د جمرود څخه تر ډکې پورې سيمه کې يې د کنړ، ننګرهار او دره خيبر خلکو او ولسونو د افغانستان د وسله وال پوځ سره اوږه په اوږه د غازي محمد جان خان وردګ په مشرۍ وسله واله مبارزه پيل کړه او په خپلو همکاريو يې د جنرال غازي محمد جان خان وردګ پوځ نور هم پياوړی کړ او برتانوي پوځ ته يې د افغانستان پر لور د پرمختګ اجازه نه ورکوله او د خيبر درې څخه تر کمکي خيبر او ډکې پورې په هر مورچل او سنګر کې د وسله وال پوځ سره يو ځای په يو اتفاق شينوارو، مومندو او افريدو قومونو برتانوي پوځ ته خوله ماتوونکي ځوابونه ورکول او برتانوي يرغلګر پوځ ته يې د افغانستان پر لور د پرمختګ اجازه نه ورکوله. په همدې مهال (۱۲۵۶) لمريز کال چې د (۱۸۷۸م) سره سمون خوري، د جنرال براون او جنرال ماد د دوه عسکري فرقو په ملاتړ پر علي مسجد يرغل وکړ او هغه سيمه يې ونيوله او د جنرال ماد په مشرۍ (۲۰۰۰) تنه پوځ د خيبر درې د امنيت د ټينګښت په دنده وګمارل شو او په همدې مهال افريدو، مومندو او شينوارو قومونو او د سوات او کنړ خلکو د برتانوي پوځ د يرغل پر خلاف په چمتوالي بوخت وو. (۷م۱۵۷)

کله چې امير محمد يعقوب خان په ګندومک کې د برتانيې د سياسي نماينده کيوناري سره سياسي تړون لاسليک کاوه، غازي محمد جان خان وردګ په کمکي خيبر او ډکه کې د برتانوي پوځ خلاف په جګړه بوخت و؛ مګر کله چې د امير محمد يعقوب خان او د برتانوي هند د سياسي نماينده کيوناري د سياسي تړون د لاسليک څخه خبر شو، د جګړې څخه يې لاس واخيست او د کابل پر لور وخوځېد او نېغ د امير محمد يعقوب خان دربار ته ورغی او د هغې سره يې د اوږدو خبرو وروسته په داسې حال کې چې امير محمد يعقوب خان ورته خپل عذر او ناچاري وړاندې کړه، مګر بيا هم د هغه عذر يې ونه مانه؛ خپل عسکري تجهيزات، ټوپک او د کارتوسو ډکه ګردنۍ يې امير ته په مېز کېښوده او د کابل څخه د وردګو پر لور وخوځېده. غازي محمد جان خان وردګ په (۱۸۷۹م) کال د مې په مياشت کې د يو ټولي عسکرو سره د کوهستان له لارې کابل ته راغی او خپل پوځ يې د اسمايي غر لوړو څوکو ته ورساوه او هلته يې د برتانوي پوځ خلاف مورچلې جوړې کړې، چې د همدې نېټې وروسته جرنيل محمد جان وردګ د غازي محمد جان خان وردګ په نوم ونومول شو، مګر څرنګه چې عسکري ټولي يې ډېر کوچنی و، د جګړې څخه وروسته د وردګو پر لور وخوځېد او هلته يې ملي او مذهبي مشران (ملامشک عالم، محمد افضل خان، عبدالغفور لنګري) او ځينو نورو قومي مشرانو سره مشوره وکړه او ټولو په يو اتفاق خپل چمتووالی څرګند کړ او په (۱۸۷۹م) کال د دسمبر په مياشت کې د کابل پر لور وخوځېدل. کله چې وردګو ته ورسېده، هلته يې د ولس پراخه جرګه راوبلله او د اوږدو او هر اړخيزو خبرو وروسته د ميدان وردګو پراخو پرګنو د برتانيې د يرغلګر ځواک وسله والې مبارزې ته خپل چمتووالی څرګند کړ. له وردګو څخه د ځينو قومي مشرانو په ملاتړ د غزني پر لور وخوځېده، ترڅو د هغې سيمې ولسونه د برتانيې خلاف وسله والې مبارزې ته چمتو کړي او له هغه ځايه د وردګو او غزني د قومي مشرانو په ملاتړ د شلګر او کټواز پر لور وخوځېد او هلته يې ملامشک عالم اندړ په ګډون يې د سلېمانخېل خروټي، تره کي، اندړ او ځينې نور قومونه يې د برتانوي پوځ خلاف وسله والې مبارزې ته راوبلل. نوموړيو مېړنيو ولسونو د محمد جان خان وردګ پوځ نور هم پياوړی کړ. په همدې مهال د غازي محمد جان خان وردګ د پوځ د لګښت لپاره اويا خرواره اوړه (۲۰۰۰) پسونه څلور خرواره غوړي، وريجې او نور خوراکي مواد د غزني، وردګو، کټواز او قلات د ولسونو له

خوا چمتو او د غازي محمد جان خان وردګ په واک کې ورکړل شول. غازي محمد جان خان وردګ به تل خپلو ملګرو ته ويل چې د واک او قدرت لپاره نه جنګېږم، غواړم چې هغه ملي مبارز ته بيعت ورکړم، چې په هېواد او افغان ولس مين او يو نوميالی او توريالی شخص وي.

په همدې مهال ټول افغان ولس په يو ملي او منلي واکمن اتفاق ونکړ، نو ځکه يې سکه د يو ملي اتل غازي محمد جان خان وردګ له خوا ووهل شوه، چې په همدې سکه د هغه مهال ټول سياسي حالات يې انځور کړي و او د قومي مشرانو له خوا داسې پرېکړه وشوه، چې دا سکه به تر هغه په افغانستان کې د راکړې ورکړې پر مهال استعمالېږي، تر څو يو ريښتينی واکمن د افغانستان د حکومت اداره په خپل لاس کې ونيسي، چې د ټولو قومي او مذهبي مشرانو همدا پرېکړه د افغان ولس د تائيد وړ وګرځېده. د افغان ولس د همدې وسله والې مبارزې په لړ کې د برتانوي حکومت غړي وپوهېدل، چې افغانستان په مستقيمه توګه نشي اداره کولی، نو ځکه يې د امير عبدالرحمن خان سره خبرې پيل کړې او د افغانستان د حکومت واک يې په (۱۸۸۰م) کال ورته وسپاره. د ځينو ليکنو له مخې امير د حکومت د پيل پر مهال غازي محمد جان خان وردګ ملي دفاع وزارت د مسوول په توګه د دندې د ګمارلو يادونه کړې وه، مګر نوموړي غازي د امير د پرېکړې سره مخالفت څرګند کړی و. امير عبدالرحمن خان د برتانوي لوړ رتبه مامورينو سره ګډه غونډه وکړه او برتانوي حکومت د هر راز مادي او معنوي همکارۍ ډاډ ورکړ او هم ورته لارښوونه وشوه، چې ستاسې د حکومت د پياوړتيا لپاره بايد غازي محمد جان خان د پوځ د سپه سالار په توګه وټاکي، مګر د برتانويانو دا وړانديز د افغاني مشرانو خپل منځي نفاق او د امير عبدالرحمن خان تر منځ د يوې فتنې رامنځته کول و، چې د همدې وړانديز له مخې د افغان ولس ترمنځ د بې اتفاقۍ تخم وشيندل شو. (۲م۲۷۳)

امير عبدالرحمن خان د برتانوي حکومت په تګلاره عمل کاوه او د هېواد ملي مبارزين عصمت الله خان جبارخېل د امير په حکم زندان ته ولېږل شو او هلته په زندان کې د وهلو او ټکولو له امله مړ شو او د نوموړي ملي مبارز ورور ارسلاح خان جبارخېل يې علني اعدام کړ او محمد افضل خان وردګ او محمد موسی صافی يې د امير عبدالرحمن خان په حکم د بني حصار په چمن کې سنګسار کړل او غازي محمد جان خان وردګ او عبدالغفور لنګري دواړه يې په چل او فريب دربار ته راوغوښتل او د حکومت خلاف د توطيو په تور يې په (۱۸۸۱م) کال مزارشريف ته د تبعيد په نوم په داسې حال کې ولېږل چې د (۲۰۰) تنو سورو پوځيانو له خوا څارل کېدل او کله چې مزار شريف ته ورسېدل، څو ورځې وروسته د ښار څخه يو ميل لرې اعدام شول او د يو بل روايت له مخې د هندوکش د غرونو څخه يې لاندې وغورځول، چې تر نن ورځ پورې ترې تم شول، چې هديره او قبر يې هيچاته څرګند نه دي. (۲م م۱۲۰-۱۱۹)

د غازي محمد جان خان ملي او وطنپاله مبارزه:

کله چې په (۱۸۷۸م) کال برتانوي حکومت د افغانستان د يرغل لپاره پنځوس زره پوځ منظم او په وسله سمبال کړ او پر افغانستان يې د درې لورو څخه د يرغل لپاره چمتو کړ، برتانوي پوځ چې د ستونزمنو جګړو وروسته کابل ته راورسېده، په (۲۲) د سمبر (۱۸۷۹م) کال يې د غازي محمد جان خان وردګ، غلام حيدرخان چرخي او ملامشک عالم پرته يې ټول افغان ولس ته عمومي بښنه اعلان کړه. (۹م۲۲۹)

مګر په همدې مهال د کوهدامان او کوهستان خلکو په خبرخانې کوتل، د پغمان او ارغندي خلکو کارېزمير او د لوګر خلکو د کابل جنوب بني حصار، شېر دروازې، تخت شاه او بګرامیو کې د برتانوي پوځ خلاف سنګرونه جوړ کړي وو. ملامشک عالم د دارالامان د لارې د واصل اباد او چهلستون ته خپل پوځ ورساوه او د غازي محمد جان خان وردګ پوځ يې نور هم پياوړی کړ. په همدې مهال د کابل کوهدامان او کوهستان وسله وال پوځ د محمد کريم افسر، غلام حيدر کابلي، ميربچه خان کوهدامانی، ميرغلام قادر او پرويزشاه خان اوپياني په مشرۍ د لوګر منظم پوځ د غلام حيدر چرخي، سمندرخان چرخي او محمد حسن لوګري په مشرۍ، د ميدان وردګ مېړني خلک د غازي محمد جان خان وردګ او محمد افضل خان وردګ په مشرۍ، د غزني او زابل ملي مبارزين د ملامشک عالم اندړ، عبدالقادر غزنوي، ملاعبدالغفور لنګري او ګل محمد اندړ په مشرۍ، د ننګرهار ملي مبارزين د عصمت الله خان جبارخېل په مشرۍ او د تګاب او نجراب باتور او مېړني خلک د محمد عثمان خان صافي په مشرۍ په يو اتفاق د کابل پر لور د برتانوي پوځ د يرغل پر خلاف وخوځېدل او ټولو ملي

مبارزينو هوډ وکړ چې د برتانوي پوځ خلاف به تر هغې وجنګېږو، ترڅو برتانوي يرغلګر ځواک ته د پخوا په شان تاريخي ماتې ورکړو او د خپلو پلرونو او نيکونو پخوانۍ مېړانې يو ځل بيا وريادې او د عبرت درس يې ورکړو، ترڅو بيا د افغانستان پر لور په کږه سترګه ونه ګوري. (۳،۵)

د افغانستان په ټولو سيمو کې د شمال څخه تر جنوب او د ختيخ څخه تر لويديځ پورې ولسونو او افغاني ملي مشرانو د خپلو قومونو سره په جرګو او مرکو بوخت وو. ټولو په يو اتفاق د هېواد دفاع او ساتنې ته خپل چمتووالی څرګند کړ او ملي مبارزين ډلې ډلې راټولېدل او د برتانوي پوځ خلاف يې خپل ملي هوډ تازه کاوه او د برتانوي پوځ د ګواښ او يرغل خلاف يې د افغاني مېړانې په اړه خپل چمتووالی د قومي غونډې په ترڅ کې په اتفاق څرګند کړ. غازي محمد جان خان وردګ چې د اميرشېرعلي خان د واکمنۍ پر مهال هم افسر او تجربه کار جنرال و، د کوهستان له لارې کابل ته راننوت او د اسمايي غر لوړې څوکې ته يې د خپل پوځي ټولګي سره يوځای ځان ورساوه او د اسمايي غر ګرد چاپېره سيمه يې د خپلې څارنې او کنترول لاندې ونيوله او د برتانيې پر يرغلګر پوځ يې يرغلونه پيل کړل، مګر د لنډمهالې جګړې وروسته وپوهېده، چې دا کوچنی پوځي ټولګی د برتانيې د پوځي ځواک د مقابلې توان نه لري. د اسمايي غر لوړه څوکه يې پرېښوده او د لويديځ پر لور وخوځېده، د لارې په اوږدو کې يې د مرغګيران په سيمه کې د برتانوي پوځ سره د خونړۍ جګړې وروسته د وردګو پر لور وخوځېده؛ د وردګو قومي مشرانو ته يې د برتانيې د پوځي تېري او د کابل پر اوسېدونکو باندې د هغوی د ظلمونو او تېريو په اړه بشپړ او هر اړخيز معلومات وړاندې کړل. د ميدان وردګ قومي او مذهبي مشرانو د غازي محمد جان خان وردګ د ملي انقلابي او وطنپالو خبرو وروسته د برتانيې د تېري خلاف خپل چمتووالی څرګند او د هغه ملي مبارز پوځ يې پياوړی کړ. د افغانستان ملي اتل غازي محمد جان خان وردګ د وردګو څخه د ځينو قومي مشرانو په ملاتړ د غزني، کلات او کټواز پر لور وګرځېده او د ملاعبدالغفور لنګري، ملامشک عالم، محمد افضل وردګ او عبدالقادر غزنوي په مشرۍ يې د هغو سيمو ملي مبارزين (تره کي، سلېمانخېل، وزير، ځدران، خواجک، تاجک) او ځينې نور قومونه د توپاني سېلاب غوندې يو د بل سره يو ځای کېدل او ډېر لوی لښکر ترې جوړ شو، چې همدا لوی پوځ د دسمبر په وروستۍ لسيزه کې د وردګو سيداباد ته راورسېدل. (۲م۲۲)

غازي محمد جان خان وردګ د تخت کوتل له لارې خپل ځان د کابل د چهاردهي ولسوالۍ ته ورساوه او په قلعه قاضي کې يې د برتانوي پوځ خلاف کلک او پياوړی سنګر جوړ کړ. کله چې رابرتس د غازي محمد جان خان وردګ د مورچل په جوړولو او د پوځ په پياوړتيا خبر شو، د برتانوي پوځ يو جنرال ميکفرسن ته يې د کاربزمير پر لور او جنرال مسيسو ته يې د افشارکلا پر لور د پرمختګ دنده وسپارله او په خپله رابرتس په چهاردهي کې د چمچه مست سيند پر غاړه د غازي محمد جان خان وردګ د پوځ خلاف پياوړی سنګر جوړ کړ او د نوموړي اتل غازي پوځ يې د درېو خواو کلابند کړ. مګر ميربچه خان کوهداماني د حالاتو څارنه کوله، کله چې وپوهېده چې د غازي محمد جان خان وردګ پوځ د دښمن د پوځ له خوا د درېو خواوو کلابند دی، نو ځکه يې پر برتانوي پوځ په ګړندیتوب برید وکړ او هغه پوځ يې په شاتګ ته اړ کړ او رابرتس د ماتې وروسته د خپلو (۴۰) تنو سورو پوځيانو سره خپل ځان په تېښته دهمزنګ ته ورساوه او هلته يې د تازه دمه پوځ د راتګ انتظار کاوه. (۳،۵،۷)

په همدې مهال که چېرې د افغان ولس مېړنيو جنګي ډلو پر دوو لورو دښمن تعقيب کړی وای، چې يوې ډلې د باغ بالا او بلې ډلې د دهمزنګ پر لوري پر برتانوي پوځ يرغل کړی وی، د شېرپور چوڼۍ يې په ډېره اسانۍ سره نيولی شوه. په قلعه قاضي کې د ميربچه خان، غلام حيدر چرخي او محمد جان خان وردګ پوځونو برتانوي مجهز پوځ ته درنه ماتې ورکړه او برتانوي پوځ يې د جګړې د ډګر پرېښودو ته اړ کړ. نږدې وه چې د افغانستان ملي مبارزين برتانوي پوځ ته بشپړه ماتې ورکړي، مګر برتانوي چارواکي په همدې مهال وپوهېدل، چې افغانستان په مستقيمه توګه نشي اداره کولی، نو ځکه يې د امير عبدالرحمن خان سره خبرې پيل کړې او هغه ته يې د تاج او تخت د سپارلو وعده ورکړه. کله چې اميرعبدالرحمن خان د کابل د حکومت واک ونيوه، د برتانيې د ټولو مخالفينو د له منځه وړلو هڅې يې پيل کړې. د غزني والي سردار محمد حسن ته يې لارښوونه وکړه، چې اندړ قوم لويه غونډه راوغواړي، ترڅو ملامشک عالم په همدې غونډه کې ونيسي، مګر نوموړي مذهبي مشر او ملي مبارز د غزني د والي بلنه ونه منله. همدارنګه د پکتيا والي شېرېندل خپل ورور ملاعزيز او د پکتيا

کوټوال محب علي ملامشک عالم ته ورولېږل. د عصمت الله جبارخېل، ملاعبدالغفور لنگري او محمدافضل وردګ پرته (۳۰۰۰) تنه نور افغاني ملي مبارز ولس چې د امیرعبدالرحمن خان په حکم زندان ته لېږل شوي وو او وروسته د امیر په حکم سردار نېک محمد خان، عصمت الله خان جبارخېل، محمدافضل وردګ، بهرام خان جبارخېل، محمدجان خان وردګ او ځینې نور ملي مشران چې ځینې یې اعدام او ځینې یې زندان ته ولېږل شول او پاتې ملي مبارزین لکه میربچه خان کوهداماني د هېواد پرېښودو ته اړ شول. (۲م م۵۸-۵۷)

په همدې مهال امیرعبدالرحمن خان د محمدجان خان وردګ خلاف پروپاګند پیل کړ، چې نوموړی د افغانستان د پوځ د سپه سالار په توګه د ټاکنې هیله لري، چې البته دا د نومیالي جنرال محمدجان خان وردګ خلاف پروپاګند و، ترڅو د نوموړي مېړني جنرال او په هېواد مین شخص پر خلاف د هېوادوالو نفرت او کرکه راوپاروي، چې دا پروپاګند امیر عبدالرحمن خان د برتانیې د سیاسي نماینده په مشوره پیل کړ. (۳م م۲۲۲-۲۲۵)

غازي محمدجان خان وردګ په پوځ کې د نارینه و سربېره ګڼ شمېر مېرمنو هم برخه اخېستې وه، چې د هغوی له ډلې څخه مونږ د غازي ادې نوم یادولای شو. غازي ادې یوه نومیالۍ مېرمنه وه، چې د پېوړ په جګړه کې یې مېړه او زوی دواړه د برتانیې د پوځ سره په مخامخ جګړه کې شهیدان شول؛ الماسه (غازي ادې) چې دا مهال (۲۰) کلنه مېرمن وه، د خپل زوی ټوپک یې راواخیست او د افغاني ملي مبارزینو سره یې اوږه په اوږه وسله واله مبارزه پیل کړه او د کټواز څخه د سنګ نوشتي پورې یې خپلې یرغلیزې مبارزې ته ادامه ورکړه. کله چې د غازي ادې د ننګ مېړانې او سربښندنې څخه غازي محمدجان خان وردګ خبر شو، ډېر خوشاله شو او یو اس او شاتره یې غازي ادې ته د سوغات په توګه ولېږه، ترڅو د جګړې او سفر پر مهال ترې ګټه واخلي. د غازي ادې د کورنۍ غړي او د جنګ د ډګر ملګري د جنرال محمدجان خان وردګ په سوغات ډېر خوشاله شو، مګر غازي ادې هغه ډالۍ ونه منله او ویې ویل چې زه د نورو غازیانو څخه زیاته نه یم چې د جګړې ډګر ته به په اس سپره ځم او نور ملګري به مې پلي ځي او د بلې خوا زه به خپل شهید مېړه او ځوانیمرګ زوی ته څه ځواب ورکوم؛ هغوی به راته وایي چې تاته دې خپل ځان زمونږ څخه ډېر خوږ و، چې د اخرت سفر دې پلی نشو کولای. (۹م۲۲۹)

د اسمایي غره په خونړۍ جګړه کې د افغاني ملي مبارزینو سره اوږه په اوږه (۴۰۰) تنو مېرمنو هم ګډون درلوده، چې په همدې خونړۍ جګړه کې د غازي ادې په ګډون (۸۳) مېرمنې د جګړې په ډګر کې شهیدانې شوې. د افغانانو د همدې پوځ د یرغل په ترڅ کې برتانوي پوځ ماتې وخوړه او د شېرپور چونۍ ته وتښتېدل، مګر افغاني مبارزین د نیمګړې وسلې له امله ونه توانېدل چې د برتانوي پوځ د توپونو په مقابل کې مقاومت وکړي، نو ځکه د شېرپور د پوځي چونۍ په نیولو بریالي نه شول. کله چې انګرېزان وپوهېدل، چې په مستقیمه توګه افغانستان نشي اداره کولی، نو ځکه یې د شهزاده عبدالرحمن خان سره خبرې پیل کړې او هغه ته یې د کابل د حکومت واک په (۲۲) جولای (۱۸۸۰) م کال په داسې حال کې وسپاره، چې بهرنۍ خپلواکي یې په بشپړه توګه نه درلوده او هم ورته د برتانوي چارواکو له خوا سپارښتنه وشوه، چې د افغانستان ټول ملي مبارزین د خپلې اغېزې لاندې وساتي او که چېرې کوم ملي مبارز اطاعت نه کوي، په بېلابېلو جسمي جزاګانو یې تهدید کړي، چې د هغوی له ډلې څخه غلام محمد طرزي، د غلام محی الدین انیس پلار غلام نقشبند او سردار محمدایوب خان د هېواد پرېښودو ته اړ شول او دویمه ډله محمدافضل خان وردګ یې سنګسار کړ، عصمت الله جبارخېل زندان کې د وهلو له امله مړ شو او ملي مبارزین عبدالغفور لنګري او غازي محمدجان خان وردګ یې په چل او فرېب ونیول او مزارشریف ته یې د تبعید په نوم ولېږل او هلته یې ووژل. (۴)

پایله:

له پورتنۍ څېړنې دې نتیجې ته رسېږو، چې افغانانو همېشه د خپل سر او مال په بدله له خپلې خاورې او عقیدې ساتنه کړې ده او یرغلګرو ته یې د تل لپاره غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی، چې د افغانستان د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې داسې زرینې بېلګې لرو؛ چې له دې ډلې یو هم غازي محمدجان خان وردګ دی چې خپل ټول ژوند یې له هېواد څخه د دفاع په مبارزه کې تېر کړ او هیڅکله د نړۍ د هغې مهال استعمار (برتانیې) او د هغې ګوډاګیانو تر اغېز لاندې رانغی او ورته تسلیم نشو او خپلې ملي او وطنپالې مبارزې ته یې د ژوند تر پایه ادامه ورکړه.

Abstract:

General Ghazi Mohammad Jan Khan Wardak

General Ghazi Mohammad Jan Khan Wardak Son of Saidaal Khan and grandson Of Akram Khan. For The first he opened his eyes to this world when Amir Dost Mohammad Khan announced his seigniory at **(1835)** in Baid Mashk gourbat Mountain area in wardak Province. When he was young, he Joined Afghan Armed groups, He stood beside groups and Started Fighting against British force, He fought very challengeable opposite British force. In the time when Amir Sheer Ali Khan doing good for the government, he com to Kabul and got admission in Afghan Army School and Started his Studying. After completing army school, he implemented in Afghan Army. After huge Struggling in the Battle Field, Smashing enemies and his job profissions reached him Self to the (General) Position in Afghan Army. He Battled very Intelligently in Afghan vs British Second War. When British government Submitted Afghan government to Amir Abdurrahman khan. He Invited to the Army Court by Command order illegally, by the of Banishment, he Forwarded to Mazar-e-Sharif and killed him on command order innocently at **(1881**).(Peace to his Soul).

اخځليکونه:

۱. حبيبي، عبدالحی (ژباړه د عبدالروف بېنوا). (۱۳۸۲ل). د افغانستان لنډ تاريخ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۲. ريښتيا ، سيد قاسم. (۱۳۴۶ل). افغانستان در قرون نوزده. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۳. غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۴۶ل). افغانستان در مسير تاريخ. دولتي مطبعه
۴. عطايي، محمدابراهيم.( ). د افغانستان معاصرتاريخ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
۵. فرهنگ، محمدصديق. (۱۳۷۳ل). افغانستان در پنج قرن اخر. تهران: اسماعليان مطبعه
۶. کاتب، فيض محمد.(۱۳۷۲ل). سراج التواريخ. تهران
۷. مجددی، عبدالحق. (۱۳۷۸). افغانستان از امير کبير تا رهبر کبير. ميوندکتابخانه
۸. هاشمي، سعدالدين. (۱۳۵۱ل). د افغانستان معاصر تاريخ. کابل پوهنتون
۹. هاشمي، غلام محی الدين. (۱۳۸۶ل). مشاهير افغانستان. ميهن خپرندويه ټولنه

پوهـندوی زلمـی (خـالـقي)
انجنیري پوهنځی- سیول ځانګه

د سېلاب او وچکالۍ اغېزې او د مخنیوي معیارونه یې

لنډیز:
د وچکالۍ او زیاتو سېلابونو شدت، تداوم او د هغوی زیادښت په ډېرو هېوادونو کې په تېره بیا زمونږ د هېواد له مهمو ستونزو څخه دي. زمونږ هېواد د وچ یا نیمه وچ اقلیم په لرلو سره د بارانونو له کموالي څخه پرته د بارانونو د شدت او نامناسب مکاني او زماني توزیع له کبله له یوه پلوه د ورښت په وخت کې د تخریبوونکو سېلابونو او له بله پلوه د اوبو متناوب کموالي او وچکالۍ سره مخ دی، چې ډول ډول اقتصادي او اجتماعي او په چاپېریال باندې د بدو اغېزو لامل کېږي؛ چې د دا راز اغېزو پېژندل او کمول د دولت دقیقو او سمو برنامو او پروګرامونو په واسطه ښایي ګټور او اغېزمن واقع شي. په دې مقاله کې د دوو پروګرامونو یعنې اساسي معیارونو او غیر فعال معیارونو (بحراني مدیریت) یوځای کول په یو ملي او جامع معیارونو کې څېړل شوي، چې د سېلاب او وچکالۍ د زیانونو په کمولو کې ډېر موثر واقع کېږي.

سریزه:
افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د ځمکې د کرې په وچ کمربند کې موقعیت لري او د اوبو کموالي، متناوبو وچکالیو او تخریبوونکو سېلابونو سره مخامخ دی. د نفوسو وده او انکشاف او د هغوی ورځ تر بلې زراعتي او حیواني محصولاتو ته د اړتیاوو زیاتېدل، د زراعتي محصولاتو لپاره د اوبو او خاورې محدودیت چې د زراعتي تولیداتو لپاره اصلي بستر تشکیلوي او د اوبو کموالي زمونږ د هېواد د جدي ستونزو له جملې څخه دي. د ورکړل شویو ارقامو په پام کې نیولو سره زمونږ هېواد کې د اوبو اندازه په وروستیو کلونو کې کمه شوې. د بارانونو د ورښت نامناسب زماني او مکاني توزیع، سېلاب او وچکالي باید د غیر مترقبه حادثې په شکل تلقي نشي. د سېلاب او وچکالۍ د رامنځته کېدلو پر مهال د اقتصادي، اجتماعي او د ژوندانه د چاپېریال اغېزې باید د نورو طبیعي پدیدو په شکل پیش بیني او سمه برنامه ریزي او کنترول شي، تر څو وکولای شو، کوم زیانونه او خسارات چې د هغوی له سببه پیدا کېږي، تر ټولو ټیټې کچې ته یې ورسوو. [۲،۱]

موخې:

- د سېلاب او وچکالۍ څخه د رامنځته کېدونکو ستونزو او د هغو د مخنیوي لارو چارو پېژندل
- په اړونده برخه کې د مسلک مینه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د سېلاب او وچکالۍ د سترو اقتصادي، اجتماعي او د ژوندانه د چاپېریال زیانونو پېژندل:

۱- د اوبو د کیفیت په خرابولو او نامناسبه تغذیه کې د سېلاب او وچکالۍ زیانونه: وچکالي د ځمکې لاندې د اوبو په طبیعي زیرمو باندې فشار راوړي او د هغوی په طبیعي تغذیه باندې تاثیر اچوي او همدارنګه د ناڅاپه سېلابونو د پیداکېدلو د احتمال اندازه زیاتوي.[۳]

په بندونو کې د اوبو کموالی، د څاه ګانو او مجراو وچېدل او د ځمکې لاندې د اوبو د سطحې ښکته تلل د دغه زیانبارو عواملو له امله وي.

۲- د نباتاتو د قشر د تخریب او د خاورې په خرابولو کې د سېلاب او وچکالۍ زیانونه: همدا اوس د وچکالۍ له امله د هېواد په ډېرو سیمو کې د نباتاتو قشر له منځه تللی، خاورو خپل د نفوذپذیرۍ خاصیت له لاسه ورکړی او د وروستیو

سېلابونو د واقع کېدلو موجب شوی، چې د هغې په اساس د ځمکو او د سيندونو د اړخونو د تخريب، د سيندونو د بستر او مسير تغير، د توليدي محصولاتو د ارزښت د کموالي او داسې نورو مسايلو سبب شوی دی. [۴،۵]

په وروستيو ۳۰ کلونو کې ٪30 کرنيزې ځمکې په دښتو او بيابان بدلې شوې دي، د اوسېدنې د چاپېريال خرابېدل، د خرابو او بيابانونو زياتېدل او د نباتاتو د قشر عدم تجديد د نوموړو زيانونو له يو بل مهم تهديد څخه دي. [۲،۷]

۳- د سېلاب او وچکالۍ ټولنيز زيانونه: د بې کورۍ له مسئلې سربېره چې د کور او کهول او د آبادۍ د لمنځه تلل، د خلکو مهاجرت چې له يو ځای څخه بل ځای ته کډه کېږي، په ماشومانو کې د راز راز ناروغيو رامنځته کېدل او د هغوی سؤتغذيه، په ساري ناروغيو باندې د خلکو اخته کېدل چې تل د غير صحي اوبو د استعمال له کبله وي او داسې نورې ستري ستونزې رامنځته کوي. دغه راز په ټولنه کې د بېکارۍ زيادښت او شغل او کار د لاسه ورکول، په خلکو کې ناامیدي، د اطمينان نه موجوديت له امله عدم سرمايه ګذاري او د منطقې د پراختيا په لاره کې د موانعو ايجاديدل، دا ټولې هغه اغېزې دي چې د وچکالۍ او سېلاب څخه رامنځته کېږي. [۸]

۴- د کورنيو حيواناتو او کرنيزو محصولاتو په لمنځه تللو کې د سېلاب او وچکالۍ اغېزې: د وچکالۍ او سېلاب تر شا په حيواني محصولاتو کې د سېلاب او کم آبۍ له امله د حيواناتو تلفات او د وښو کمښت، همدارنګه د وچکالۍ له امله په حيواناتو کې د راز راز ناروغيو او نورو عوارضو پيدا کېدل لکه سقط جنين، د حيواناتو د وزن کمېدل، د لبنياتو د توليد کموالی، د يخنۍ او تودوخې په مقابل کې د حيواناتو د مقاومت کمېدل او داسې نور په نوموړو زيانونو کې شامل دي.

۵- په بنسټيزو تاسيساتو او ځاني تلفاتو کې د سېلاب او وچکالۍ منفي اغېزې: په زراعتي بنسټيزو ساختمانونو باندې وارد شوي زيانونه لکه د کانالونو، د اوبو لګونې او زيم ايستنې شبکو او له سيندونو څخه د ابګير د مجراوو تخريب. د صنعت په برخه کې راپېښ زيانونه، لکه په کارخانو او د هغوی په لومړنيو موادو باندې له مستقيمو زيانونو پرته غير مستقيم زيانونه، لکه د کارګرانو بېکاري، د توليد کموالی او اوليه موادو ته نه لاسرسی هم ليدل کېږي.

ټولنيزو اسانتياوو په برخه کې زيانونه: د کليو او ښارونو تر منځ د لارو او شبکو تخريب او د کار د نيرو د انتقال ستونزه يو بل زيان دی، چې په دې برخه کې پېښېږي.

ځاني تلفات: په يوه سيمه کې د سېلاب او وچکالۍ تر ټولو مهم زيان د انسانانو تلفات تشکيلوي.

د سېلاب او وچکالۍ د زيانونو د اغېزو د کمولو لارې چارې:

د يادو ستونزو پر مهال که چېرې دوه برنامې اساسي اقدامات (ريسک مديريت) او انفعالي اقدامات (بحران مديريت) د ملي او بين المللي قوانينو سره په مطابقت يو ځای شي او د هغې په اساس اجرات صورت ونيسي، کېدای شي چې د دغو افتونو د اغېزو په کمولو کې اغېزمن او ګټور واقع شي. د نوموړې طرحې د ځينو اجزاو څخه کولای شو په لاندې توګه يادونه وکړو:

- د دغو طبيعي حوادثو او د هغوی د اغېزو سره علمي برخورد کول.
- د خبرتيا ورکوونکو سيستمونو په لاره اچول او د هغې د پراختيا او د اطلاعاتو او ارقامو راټولولو شبکو ايجادول.
- د بحران مديريت په ريسک مديريت باندې د بدلولو لارو چارو پيدا کول.

په دې اړه مشخص محورونه کېدای شي چې د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ګټور واقع شي:

- د اوبو استحصال (د نويو منابعو د اوبو د کميت او کيفيت ارزونه)
- د وچکالۍ په شرايطو کې د زراعت او باغدارۍ محصولاتو د اوبو د اړتياوو د اندازې تعينول.
- د هغو نباتاتو د مناسبو نمونو معرفي کول چې د اوبو د کمښت سره حساس دي.
- په وچو شرايطو کې د سېلابونو له زيانونو څخه مخنيوی.
- د اوبه خورد طرحو اجرا. [۹،۱۰]
- په وچکالۍ کې د جنيتيکي منابعو راټولول، پېژندل او ارزونه، د هغوی ساتنه او د هغوی د حفاظت لپاره له بيو تکنالوژيکي طريقو څخه استفاده کول. [۱۰]

- د حيواناتو د صحت او غذا (وښو) تامينول
- د حيواناتو او د هغوی د څرځايونو د طرحو د اجرا مديريت
- له تصفيه شويو فاضله اوبو څخه د استفادې د معيارونو تعينول
- د غذايي موادو د کموالي په مقابل کې د ستراتېژيو تهيه کول، چې دې مسئلې سره د مقابلې لپاره لازمه ده چې د سېلابونو د ظرفيت د زياتوالي د ايجاد لپاره کړنې تر سره شي؛ د محصولاتو د ساتلو لپاره دې سړې خونې جوړې شي او پراختيا دې ورکړل شي.
- د سېلاب او وچکالۍ په وخت کې د لنډې مودې لپاره د کار د برنامو تهيه کول
- د حيواني او زراعتي محصولاتو بيمو ته پراختيا ورکول
- د سېلاب او وچکالۍ په مديريت کې د خلکو د ګډون څخه استفاده کول
- د نړيوالو مرستو راجلبول
- د خلکو په نظرونو کې د زده کړو او جمعي رسنيو له لارې تغير راوستل
- په دولتي دستګاوو کې د همغږيو ايجادول
- د باران له اوبو څخه د استفاده کولو د استحصال طريقو ايجادول او پراختيا. [۷]

پايله:

سېلاب او وچکالي زمونږ د هېواد له اقليمي ځانګړنو څخه دي، چې د دې اصل د قبلولو لپاره اړينه برنامه ريزي بايد صورت ونيسي او له دې افتونو څخه د خلاصون لپاره بايد لاندې اسانتياوې برابرې شي:

- د ملي او بين المللي قوانينو او اسنادو په پام کې نيولو سره د دولت له خوا د يوې ملي هر اړخيزې طرحې د اجرا لپاره د اساسي او انفعالي کړنو (ريسک او بحران مديريتونه) په يو ځای کولو سره په دوامداره توګه د متخصصينو په مرسته خلکو او د ټولنې هر فرد ته د عمومي زده کړو برابرول، د طبيعت سره د کړنو اخلاق او قانون ايجادول او نورو دغه راز ورته کړنو ته د هغوی هڅول.
- د کم مقدار تخريب او ککړتياوو په واردولو سره له طبيعي منابعو (اوبه، خاوره او نباتاتو قشر) څخه ګټه اخيستل.
- د راتلونکو نسلونو په واسطه د طبيعت د تجديد پذيره اوزېرمو د مصرفولو اړتياوې په پام کې نيول.
- د تحقيقاتو، اطلاعاتو او ارقامو راټولول او تحليل سره علمي برخورد او په راتلونکې کې د تحقيقاتو، تغيراتو او د اراضۍ د بهبود لپاره د ښه مديريت پيش بيني کول.
- په نورو فعاليتونو کې د خلکو د ګډون د نقش محوري کولو ته پاملرنه.
- د نظرونو په تغيرولو کې د زده کړې نقش ته پاملرنه.
- د سېلاب او وچکالۍ د ضايعاتو په وړاندې د ظرفيتونو ارزونې ته پاملرنه، لکه سرمايه ګزاري، د رفاهيت له برنامو څخه د استفادې کولو قابليت او د دولت تګلاره.
- د برنامو د اجرا په وخت کې دايمي نظارت ته پاملرنه او د دولتي دستګاوو همغږه کول او د جمعي رسنيو داخلول.
- د اوبو د ساتنې د قوانينو ترتيبول او د ښاري او کليوالي پراختيايي حدوداتو تعينول، له نويو او مصرفي زېرمو څخه د استفادې د مديريت ايجادول.

د پورته کړنو په عملي کولو سره کولای شو د سېلاب او وچکالۍ زيانونه ډېر راکم کړو.

Abstract:

Drought and flood phenomena, including frequency, rate and persistency are one of the current important problems in Afghanistan and many other neighboring countries. In addition to lack of rainfall, improper distribution of it, leads to destructive floods. On the other hand causes the interval droughts and water scarcity which in turn makes different socio-economic and environmental problems. Awareness of these challenges is useful for governmental making policy. According to the present

paper, combination of two programs, the basic measures and the non active measures (crises management) in a single national and global measure will be more effective for reducing the different hazards involved in flood and doughtiness situation. Keywords: flood and drought, crises management, people involvement.

اخځليکونه:

۱. سردابی، ح.(۱۳۷۵ل). انتخاب گونه مناسب در مناطق خشک و نیمه خشک- فصل نامه جنگل و مرتع- شماره ۳۰
۲. ملک محمدی، ا. (۱۳۷۴ل). تحقیقی پیرامون شاخص های مشارکت مردمی در مدیریت منابع طبیعی. نشریه جنگل و مرتع- شماره ۲۹
۳. رستمی فر، ف. (۱۳۷۶ل). مسئله خشک سالی در دهه ۱۹۹۰. نشریه نیوار- شماره ۳۳
۴. رحیم زاده، ف. (۱۳۷۶ل). سیل. نشریه نیوار- شماره ۳۳
۵. فرج زاده، م. (۱۳۷۶ل). خشک سالی و روش های مطالعه آن. نشریه جنگل و مرتع- شماره ۳۲
۶. خلدبرین، ع. (۱۳۷۸ل). بیابان زایی و روند آن. نشریه جنگل و مرتع- شماره ۴۲
۷. نجفی نژاد، ع. (۱۳۷۵). ترجمه استراتیژی ها وتکنولوژی های ابخیزهای اسیا. نشریه آب، خاک، ماشین- شماره ۱۸سال سوم
8. ALIM. ABDUL KABIR. ASSOC.PROF.DR,WATER SUPLY ENGINEERING,VOL.1, GENRAL ASPECTS. 1996. PP.92, 107-108.
9. MonZavi. M.T, PE. Dr.Ing. WATER SUPPLY, Fourth Edition, Tenth Print, Department of civil Engineering Faculty of Engineering Tehran Universe City. 1999. P:1.
10. Mohzavi.M.T. Dr .Ing, WATER SUPPLY. Seventh Edition, Department of civil Engineering Faculty of Engineering Tehran University. 1994. P: 80

پوهـــندوی جـــانـــس (زړن)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- پښتو څانګه

ليف تولستوی او د ده د غوره اثارو شننه

لنډيز:
په دې علمي څېړنيزه مقاله کې د روسي ادبياتو د ستر ليکوال ليف نيکولايويچ تولستوی د ادبي شخصيت د دوو سترو رومانونو (يکشنبه او انا کارينينا) او دريم رومان ايپوپې (جنګ او سوله) باندې ليکنه شوې ده. په دې مقاله کې د دريواړو هنري اثارو خصوصيات بيان شوي دي. په انا کارينينا کې چې يو رواني سيکالوژيک هنري اثر دی، رواني خواوې ښودل شوي؛ په جګړه او سوله کې د لوړې طبقې په خصوصياتو او له فرانسې سره د ناپيليون په جګړه او ددې جګړې په اتلانو چې د جګړې اصلي اتل ولس دی او همدارنګه د رومان يکشنبې خصوصيات، د ليف تولستوی په شخصيت چې څو بعديز دی، څېړنه او سپړنه شوې ده.

سريزه:
په دې ليکنه کې په لنډ ډول د ليف نيکولايويچ تولستوی په شخصي ژوند، ادبي اثارو، رومان (ايپوپې) يا ايپوس چې يوه لاتيني کليمه ده، معنی يې د انسان د ژوند د بهرني اړخ تمثيل له نورو انسانانو او پېښو سره په متقابل اغېز کې، ايپيک اثر د ځای (مکان) او وخت (زمان) په چوکاټ کې نه محدود بېږي، هغه کولای شي چې ډېرې پېښې او زيات شمېر پرسوناژونه انځور کړي؛ د بېلګې په توګه د ليف تولستوی په (جنګ او سوله) کې د فيسينکو په وينا له څلورنيم سوو زيات پرسوناژونه تمثيل شوي دي. په ايپوس کې کيسه کوونکی ډېر رول لري. رومان (انا کارينينا) او رومان يکشنبې باندې څېړنيزه کتنه شوې ده او د ليف تولستوی نور ادبي هنري اثار هم پېژندل شوي دي، او هم د ليف تولستوی لوړ ادبي هنري شخصيت په نړيوال ډګر کې او د نړۍ نور ليکوال ليف تولستوی ته په کوم نظر ګوري؛ د هغوی نظر ونه هم په لنډو کرښو کې رااخيستل شوي دي.

موخې:
دا چې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کې د ادبي تيوری، ادبي تاريخ او ادبي کره کتنې تر څنګ د نړيوالو ادبياتو تاريخ هم لوستل کېږي، نو د ژبو او ادبياتو پوهنځي د ټولو څانګو محصلين او استادان ددې علمي څېړنيزې مقالې څخه په خپلو لکچرنوټونو او تدريس کې پوره استفاده کولای شي. بل هدف يې دادی چې ددې علمي مقالې څخه ليکوال استاد د يو فرعي اثر په توګه کار اخلي.

ليف نيکولايويچ تولستوی:
ليف تولستوی (۱۸۲۸_۱۹۱۰م) د روسي ادبياتو د نولسمې پېړۍ هغه نامتو ليکوال دی چې د درېو سترو رومانونو (جنګ او سوله)، (انا کارينينا) او (يکشنبه) مؤلف او د انتقادي ريالېزم د سبک د لومړنيو پېروانو له جملې څخه شمېرل کېږي. تولستوی دغه درې ستر رومانونه په خورا ادبي ژبه ليکلي دي، چې په نشر او چاپ سره يې نړيوال شهرت موندلی او د نړيوالو ادبياتو په تاريخ کې لوړ مقام او ځای لري. په ختيځ او لويديځ دواړو کې ددغه نامتو ليکوال اثار لا په تېره پېړۍ کې خپاره او د نړيوالو د خاصې توجه او پاملرنې وړ ګرځيدلي دي. تولستوی هغه ستر ليکوال دی چې په کورنيو شخړو او د ژوند په مهمو مسئلو کې نړيوال د تولستوی له اثارو څخه مشوره او د قناعت وړ ځوابونه ترلاسه کوي. په پرمختللې نړۍ کې تولستوی او دده اثار د ادبي سيمينارونو د تاوده بحث او څېړنې وړ ګرځېدلي وو او دي. د هغه په اتلانو باندې بحثونه کېږي، په دې اساس لازمه بولم چې د تولستوی د ژوند او د هغه د غوره ادبي اثارو د نړيوال ارزښت په هکله لنډ معلومات وړاندې کړم. (۱م م۲۲۲-۲۷۴)

تولستوی په (۱۸۲۸) کال د روسيې په (یاسنایاپلیانا) نومي سیمه کې په یوه اشرافه کورنۍ کې زېږېدلی دی. دی لا درې کلن شوی نه و، چې خوږه او زړه ته نژدې مور يې له لاسه ورکړه؛ کله چې نهه کلن شو پلار يې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. تولستوی په (۱۸۴۴) کال د کازان په پوهنتون کې شامل شو او د ختیځو ژبو، حقوقي او سیاسي علومو په زدکړه يې پیل وکړ، خو وروسته له درې کالو يې وړاندې تر دې چې دیپلوم ترلاسه کړي، تحصیل پرېښود. تولستوی لا د زلمیتوب له کلونو د مسکو د یو پېژندل شوي ډاکتر له کورنۍ سره چې په ختیه جرمنه وه، پېژندګلوي درلوده. دغې کورنۍ درې لونې درلودې، تولستوی غوښتل له مشرې هغې سره چې الیزاویته نومېده واده وکړي، خو ناڅاپه د هغه اراده بدله شوه او له منځنۍ هغې سره چې صوفیا اندرییونا (۱۸۴۴_۱۹۱۹م) نومېده، خوښه شوه؛ په دې وخت کې تولستوی څلور د برش کلن و، خو پېغله صوفیا لا د ۱۸ کالو وه، چې په ۱۸۶۲م کال يې ورسره واده وکړ؛ تولستوی تر صوفیا اندرییونا ۱۲ کاله مشر و. تولستوی د خپل کوچنیوالي له پیل نه لا د خپلې طبقې څخه نفرت درلود، په (۱۸۴۹) کال په خپل اصلي ټاټوبي کې د دویم ځل لپاره مېشت شو او په ژوند يې پیل وکړ، د خپلې سیمې د بزګرانو لپاره ګټور واقع شو. (۲م م۴۹۴-۴۹۷)

هر څومره چې د تولستوی لپاره طبقاتي تضادونه روښانه کېدل، په هماغه اندازه يې د بزګرې طبقې د ژوند له بدبختیو څخه رنځ وړلو؛ له دې امله ورو ورو د اشرافیت له عیش او عشرت له ډک ژوند نه ورته کرکه پیدا شوه او د مسکو د اشرافي طبقې او ټولنې رنځور ژوند يې پرېښود او له خپل لښکر سره د قفقاز سیمې ته لاړ. په(۱۸۵۲) کال تولستوی خپل لومړنی داستان چې (ماشومتوب) نومېده، روسي لیکوال (نیکراسوف) ته ولېږه. ددغه کتاب بریالي نشر نوموړی دې ته وهڅاوه چې نور هم د خپلې ټولنې لپاره د خلکو ژوند په خپلو اثارو کې بیان کړي؛ له دې کبله يې خپل پاتې عمر د ادبیاتو لپاره وقف کړ. په (۱۸۶۲) کال يې واده وکړ او له واده کولو وروسته د هغه روحي نړۍ نوره هم له رنځونو څخه ډکېده او نه پوهېده چې په څه ډول خپل وجدان ته د ټولنې د ناخوالو په وړاندې ځواب ووایي، نو يې خپل اثار (جنګ او سوله)، (اناکارینینا) او (یکشنبه) چې درې ستر رومانونه دي، ولیکل. ددغو اثارو په لیکلو سره يې سوچه مذهبي، اخلاقي ټولنیز او سیاسي مسایل بیان کړي دي. (۲م م۳۵، ۲۵، ۲۴)

د نړۍ نامتو لیکوالو لکه (رومین رولاند)، (الکسي ماکسیم ګورکي) او (انتون پاولویچ چیخوف) د تولستوی (جنګ او سوله)، (اناکارینینا) او (یکشنبه) څېړلي او د هغو په اتلانو يې خپل نظریات څرګند کړي دي. د (یکشنبې) رومان د روسیې د کلاسیکو ادبیاتو لومړنی ادبي اثر دی چې د شلمې پېړۍ په اوږدو کې څو واره چاپ او نشر شوی دی. تولستوی د نړۍ د زیاتو هېوادونو د راډیو، تیاتر، سینما او تلویزیون پاملرنه ځانته را اړولې ده. د تولستوی اثار په بریالي ډول سره د فرانسې، جاپان، چین او نورو هېوادونو په تیاترونو کې ښودل شوي دي. نو څرګنده ده چې تولستوی د نړۍ مشهور لیکوال او ډرامه لیکونکی دی. هغه نه یوازې خپل اثار لیکلي او چاپ کړي دي، بلکې د خلکو د ژوندانه مختلفې خواوې يې په خپلو ادبي هنري اثارو کې بیان کړي دي؛ له دې امله موږ دده مشهور رومان اناکارینینا ته لنډه کتنه کوو. (۳م۵)

اناکارینینا:

په (اناکارینینا) کې د یوې کورنۍ (ورونسکي) او (انې) د ژوند په باره کې خبرې او د دوی د ژوند مهم اخلاقي او رواني اړخونه بیان شوي دي. د لیکوال روحي بحرانونه د هغه له همدې هنري اثره جوتېږي؛ دا ډول هنري ادبي اثار نه یوازې د ټولنیز ژوندانه هېداره بلل کېږي، بلکې د ارواپوهنې د څېړنو له مخې د فردي او رواني غوښتنو انعکاس هم بلل کېږي. تولستوی د یو شخص او یا په بل عبارت د یوې کورنۍ د ژوند په ډرامه کې د هغه وخت د روسي ټولنې د خلکو ژوند او سرنوشت بیان کړی دی؛ د ټولنې ژوند او ریالستیک اړخونه يې د یوې کورنۍ په ژوند کې د هېندارې په شکل ښکاره کړي دي. د تولستوی پورتنی ادبي ستر رومان د (۱۸۷۶-۱۸۷۳) کلونو تر منځ د لومړي ځل لپاره د هغه وخت په یوه مشهوره روسي ورځپاڼه کې خپور شوی دی. تولستوی ته ددغه ادبي شهکار په بدل کې د هغه وخت شل زره روبله حق الزحمه ورکړل شوې ده، چې په هغه وخت کې دا پیسې ډېرې زیاتې او بې سابقې ګڼل کېدې. دې اثر په تزاري روسیه او وروسته په ټوله نړۍ کې زیات شهرت وموند؛ دغه رومان په ډېرو معتبرو ژبو ژباړل شوی دی او ادبي شهکار ګڼل کېږي. (۴م۵)

د روسي ادبیاتو نامتو لیکوال فیودرمیخایلویچ دستایفسکي (۱۸۱۲-۱۸۸۱) د (اناکارینینا) په هکله داسې لیکي: ((اناکارینینا) د لیکوالۍ د یوه شهکار په توګه د کمال مظهر دی، په تېره بیا چې دغه اثر په یو مناسب وخت کې لیکل شوی

دی، د اروپا په معاصرو ادبياتو کې يې ساری نه ليدل کېږي. ددې کتاب په ليکلو کې د تولستوی هنر دادی چې زمونږ د ملت ملي مميزات او دودونه يې په ښه توګه بيان کړي دي.))

د دستايفسکي نظر ددې داستان په هکله تر زياتې اندازې د مننې وړ دی، خو دا هم بايد وويل شي چې په (اناکارينينا) کې د تزاري روسيې د لوړې طبقې خصوصيات او د ژوند ډول په واقعي بڼه منعکس شوی دی. ظاهراً داستان د مينې او واده د مسايلو پر محور څرخي، خو په واقعيت کې تولستوی د خپل وخت اقتصادي، سياسي، ټولنيز، کلتوري او فکري جريانونه په ماجراجويانه توګه څېړلي دي. تولستوی په هنري شکل سره وکولای شول چې په ټولنه کې سياسي او فکري بدلون او تغيرات رامنځته کړي، البته ډېر هنري اثار شته چې د هنر رښتينې وظيفه نه شي ترسره کولای، چې په وګړو کې د ښکلا احساس راوپاروي او دوی ته خوښي وروبخښي. ډېر هنري اثار شته چې د هغو په لوستلو سره لوستونکي ته خواشيني او خپګان په برخه کېږي، لکه يوه له غمه ډکه کيسه؛ خو په هر صورت اصيل هنر د لذت بخښلو او د ښکلا خوښوني احساس همېشه او تل پاروي. رښتيا هم يو هنرمند او انځورګر هېڅکله دا نه غواړي چې لوستونکي، اورېدونکي او ليدونکي ته د موادو مرکبه سلسله وړاندې کړي، بلکې غواړي چې ددغو موادو په درک سره د دوی احساس وپاروي، د دوی ذهني پانګه ډېره شي، هغوی ته د ايجادګر ايډيا ورانتقال شي او هغه څه ورپه برخه شي، کوم چې ليکوال او انځورګر يې غواړي. په دې اړه ګورو چې تولستوی د خپل نابغانه تنوير په ذريعه په يو داسې هېواد کې چې د سرواژسستم د فشار لاندې ؤ، د ټول بشريت د بديعي پراختيا په لاره کې د يوه ګام په توګه مخ په وړاندې لاړ. (۵م ۷۴۵)

په (اناکارينينا) کې د تزاري روسيې د مختلفو طبقو حالات او د نويو سياسي تمايلاتو زړی او د ټولنيز پرمختګ لوری له ورايه څرګندېږي. د (اناکارينينا) له مطالعې څخه څرګندېږي چې بزګران د ممتازو طبقو له خوا په بې رحمانه توګه استثمارېږي. د دولت اراکين- شاهزادګان او فيوډالان د فساد او عياشۍ په منجلاب کې تر ستوني ډوب شوي دي چې په دې اړه تولستوی په (جنګ او سوله) کې پوره معلومات ورکړي دي.

جنګ او سوله:

په (جنګ او سوله) کې تولستوی غوښتل چې له ناپليون سره د (۱۸۱۲) کال په جګړه کې د بزګرو نقش يا رول وښيي. ليکوال په دغه اثر کې ډول ډول شخصيتونه، بېلې بېلې کورنۍ او د هرې طبقې وګړي راپېژني او د هغوی په څېرو کې يې څرګندوي، چې ددغې جګړې د فتحې حقيقي اتل ولس دی او د لوړې طبقې اشخاص په فتحه کې کوم مثبت رول نلري؛ دوی د جګړې په وخت کې هم په خپلو شخصي چارو، عيشونو او چرچو کې ورک دي. (۸م۲۲۲)

د تولستوی کريکټرونه په مجللو ماڼيو او د مېلمستياوو په محفلونو کې سره اشنا کېږي؛ په همدې مېلمستياوو کې د مينې راز او نياز پيلېږي، د خوندورو خوراکونو او مشروباتو په باره کې خبرې کېږي، له متنفذو کسانو سره د دوستۍ اړيکې ټينګېږي، قمارونه وهل کېږي، د ورځنيو پېښو او کله کله د سياسي موضوعاتو په باب ګرم بحثونه کېږي، د تياتر د صحنو او د غايبو کسانو په هکله تاوده بحثونه او د خصوصي ملاقاتونو او راشې درشې لپاره زمينې برابرېږي او داسې نور... د همدغسې محفلونو له جملې څخه په يوه محفل کې (اناکارينينا) د يو غټ بيروکرات مېرمن له يو ښکلي پوځي منصبدار (ورونسکي) سره اشنا شوه او په پای کې دغه اشنايي په يوه سوځوونکې مينه بدله شوه. (کارينين) د خپلې مېرمنې (انا) له محرمانه اړيکو څخه چې په وروستيو وختونو کې يې له (ورونسکي) سره ټينګې کړې دي، سترګې پټوي او زيار باسي چې د نصيحت او توصيې له لارې (انا) خپلو کورنيو مسؤليتونو ته متوجه کړي؛ خو (انا) په ډاګه ورته وايي چې له ده سره مينه نه لرم او غواړي له (ورونسکي) سره ژوند وکړي. (کارينين) هيله درلوده چې (انا) دې تش په نوم دده مېرمن پاتې شي او د خپل ځوی روزنه دې پر غاړه واخلي، خو دده هيله هغه وخت تش په نهيلۍ بدله شوه چې (انا) کور پرېښود او له خپل ملګري (ورونسکي) سره اروپا ته په سفر ولاړه. له سفر وروسته دوی دواړه هېواد ته راغلل او يوځای يې ژوند تېراؤ. د دوی د يوځای والي په نتيجه کې (انا) د لور خاونده شوه، خو دغه لور رسماً د (کارينين) لور ګڼل کېده، ځکه چې (انا) ته لا تر اوسه طلاق نه و ورکړل شوی. (انا) ورو ورو دې نتيجې ته رسېږي چې (ورونسکي) له ده سره هغه پخوانۍ مينه نلري او په پای کې انتحار کوي. سره له دې چې تولستوی د (انا) د ښکلا، پوهې، ادبپوهنې، سليقې سره ډېره علاقه ښيي، خو نشي کولای چې هغه ته له سقوط څخه نجات ورکړي او له انتحار څخه يې وژغوري. د (انا) ورور (ابلونسکي) هم په کورنيو

جنجالونو اخته دی، ځکه چې دده مېرمن د (آلې) د يو پټ ليک له موندلو څخه دې نتيجې ته رسېږي، چې مېړه يې له يوې بلې ښځې سره محرمانه اړيکې لري. په دې ترتيب ګورو چې داستان له يو لړ بدګومانيو، کورنيو جنجالونو او د لوړې طبقې له فسادونو پرده پورته کوي. سره له دې د داستان له مطالعې څخه داسې نه ښکاري چې تولستوی دې د کرکې او بېزارۍ له مخې د لوړې طبقې څېره افشا کړې وي، که څه هم (انا) د اخلاقي موازينو په خلاف ګام پورته کوي، خپل ځوی او مېړه له بدبختيو سره مخامخ کوي او په نامشروع ډول له خپل کور نه دباندې ځي؛ خو تولستوی نه شي کولای خپله همدردي او ستاينه له (انا) وسپموي. دی هيڅکله د (انا) او (ورونسکی) له ستاينې څخه ډډه نه کوي، او حتی د دوی په شاوخوا کې له ډېرو کسانو څخه چې د تظاهر او رياکارۍ په ناروغۍ اخته دي، (انا) او (ورونسکي) ته امتياز ورکوي. تولستوی د مختلفو کرکټرونو له خولې بېلابېلې سياسي او فلسفي نظريې څرګندوي، خو په هغو کې صرف دومره معلومېږي چې يوه نظريه د بلې په نسبت تر يوې اندازې غوره ده. تولستوی ټولنيزې ناروغۍ په تېره د بزګرانو فقر او بېوسي او د ملکانو او درباريانو تجملي ژوند په خورا عالي سبک او رياليستيک ډول څرګندوي، خو د معالجې لپاره کومه نسخه او چاره نه وړاندې کوي. د (انا) او (کارينين) په داستان کې تولستوی له دې څخه خوشحاله او راضي دی، چې (لوين) يو شکاک فيوډال په پای کې کليسا ته پناه وړي او د ځان د تسلۍ لپاره وسيله پيدا کوي. (۷م۲۵)

تولستوی په ډېر قوت خپلې پوښتنې طرحه کړې دي، خو ځواب يې ډېر کمزوری دی چې ښايي دی به هم د هغه پر سموالي ډاډ نه لري، اما بيا ترجيح ورکوي چې انسان بايد خپلو اندېښنو او روحي کړاونو ته د تسکين لپاره يوه لاره پيدا کړي او له مطلقې ګمراهۍ څخه خپل ځان وژغوري، کوم وخت چې تولستوی مخالف نظرونه وړاندې کوي، دغه نظرونه سره نه ټکرېږي، ځکه چې د يوې طبقې دننه پخلاکېدونکي تضادونه دي؛ په دغو نظرونو کې يوځل بيا يوازې غوره والی په پام کې نيول کېږي. د تولستوی په دغه داستان کې د (ارسطو) د يووالي قانون بېخي په نظر کې نه دی نيول شوی؛ په داستان کې يواځې د (انا) په باره کې خبرې نه کېږي، بلکې په حقيقت کې درې داستانونه سره يو ځای شوي دي. (انا) له (ورونسکي) سره يوځای کېږي، (ګيتي) له (لوين) سره واده کوي، (ابلونسکي) او (کارينين) هم له بېلو بېلو برخليکونو سره مخامخ کېږي؛ داسې ښکاري چې د داستان کرکټرونه او د هغوی د ژوند پېښې د روسيې د اوضاعو د تحليل لپاره له يوې بهانې نه زيات قيمت نه لري، خو په عين وخت کې هغه کسان چې موضوع ته يوازې د هنر له نظره ګوري، هغوی کولی شي چې ددې اثر په لوستلو سره خپله ادبي تنده ماته کړي. تولستوی په خپلو ټولو اثارو کې د بزګرانو د ژوند او همدارنګه د فيوډالانو د عياشۍ په باره کې يادونه کړې ده. تولستوی په دې خاطر چې بزګرانو ته يې خدمت کړی وي، په خپلو شخصي پيسو باندې په (ياسنايا پليانا) کې ښوونځي جوړ کړل او د بزګرانو د اولادونو د سرنوشت په هکله يې تل فکر کړی دی او تل په همدغه نظر و، چې د روسيې بزګران څنګه له بدبختيو څخه وژغوري او څنګه د فيوډالې ټولنې د بې عدالتيو په هکله د خپلو اثارو په وسيله مبارزه وکړي. د پورته ذکر شويو درېو سترو رومانونو (جنګ او سوله)، (اناکارينينا) او (يکشنبې) په هکله داسې ويلی شو چې دغه درې ستر رومانونه لا د تېرې پېړۍ په دويمه نيمايي کې د نړيوالو ادبياتو لوړې پوړۍ ته رسېدلي وو. تولستوی په دغو درېو سترو رومانونو سره د ژوند پراخې برخې تصوير کړي دي، خو په (جنګ او سوله) کې يې پېړۍ انځور کړې ده. تولستوی په خپلو مهمو رومانونو کې لوستونکي له ظلم سره مبارزې او د هغې له منځه وړلو ته نه، بلکې د مبارزې پر ځای زغم او تحمل ته رابولي؛ د پانګوالو اړيکو پرځای چې په کرکه او نفرت ورته ګوري، د ځمکوالۍ د زاړه نظام خصوصيات يې تشريح کړي دي. (۹م۱۷۳)

تولستوی د خپلې ټولنې د هغې زمانې د تضادونو سپړونکی دی. تولستوی له دوو شيانو ډېر وېرېده، يو خپل نابښکلتوب او بل مرګ. تولستوی په خپلو اثارو کې خپلو خلکو ته د اخلاقو او ايمان درس ورکوي. د روسيې د ستر ليکوال ليف تولستوی ستر شهکار جنګ او سوله د نيوزيک مجلې لخوا د خپل وخت تر ټولو ستر اثر غوره شو، ددې ليکنې له مخې دغه اثر د سلو اثارو په منځ کې لومړی ځای ګټلی دی، چې ددې خبرې لامل د تاريخ په اوږدو کې پر نړيوال فرهنګ ددې اثر اغېزه او د لوستونکو زياته لېوالتيا ده. د ليف تولستوی په اړه روسی ليکوال ديمتري ميرژکوفسکي داسې ليکي: ((د تولستوی څېره د بشريت څېره ده، که د کومې بلې نړۍ اوسېدونکي زمونږ له نړۍ څخه پوښتلي وای، چې ته څوک يې؟ بشريت کولای شو تولستوی ته اشاره وکړي او ځواب يې ورکړی وای چې دا زه يم. د هندوستان رهبر مهاتما ګاندي

وايي:((تر هر څه زيات په تولستوی کې زه دې خبرې حيران کړی يم چې هغه خپلې ويناوې په عمل کې مدللې کړي او د ريښتيا په خاطر يې هر ډول قرباني زغملې ده، هغه د خپلې زمانې تر ټولو سپېڅلی انسان و؛ د هغه ټول ژوند پرله پسې هڅې وې، هغه د ريښتيا موندلو په هڅو کې خپل ژوند بايلودی دی. د سامرست په نظر تولستوی په خپل مشهور شهکار (جګړه او سوله) کې د يو قهرمان په وجود کې خپل ژوند هم ترسيم کړی دی. تولستوی هيڅکله دا هڅه نه ده کړې چې ريښتيا پټ کړي، هغه بدل کړي؛ هغه پرته له دې چې له ټولنيز او مصنوعي واک نه وډار شي، له هر ډول سازشه پرته په ډاګه ريښتيا غوښتل. د تولستوی په اړه الکساندرما ن وايي:((تولستوی لا تر اوسه هم د وجدان غږ ګڼل کېږي، هغه د هغو کسانو لپاره يوه ستره پناه ګاه ده چې په اخلاقي معيارونو ژوند کوي.))

د تولستوی هنري ليکنې لاندې ځانګړنې لري:

د تولستوی ليکنې هنري، فلسفي، تاريخي، اخلاقي، ټولنيزې، سياسي، رواني او .....رنګ لري. مشهور اثار يې جګړه او سوله، انا کارينينا، قزاقان، رستاخيز، ماشومتوب، زلميتوب، ځواني، ابليس، اعترافات او د مسکو سرشمېرنه، د ماشومانو کيسې، شيطان او پيسې، هنر څه ته وايي؟، درې پوښتنې، تش دهل، مېړتون او کوتره، سپېڅلی اختر، د مرګ سرود، د ايوان ايليچ مرګ، بېګناه محکوم، ارباب او نوکر، حاجي مراد، د سېواستوپول داستانونه، بې پايه مينه او نورې بېلابېلې ليکنې. (۲م۳۴)

پايله:

ددې هر اړخيزې څېړنې په پای کې دې نتيجې ته رسېږو، چې ليف نيکولايويچ تولستوی د نړيوالو ادبياتو هغه ستره او ځلانده څېره ده، چې د نړۍ په ګوډ ګوډ کې يې خلک له نامه سره اشنايي لري. د ليف تولستوی د ډېرو ادبي هنري اثارو سربېره دده درې رومانونه (جنګ او سوله)، (انا کارينينا) او رومان (يکشنبه) په نړيوال ادبي ډګر کې هغه ستر ادبي هنري اثار دي، چې د نړيوالو ادبياتو په تاريخ کې خاص ځای او مقام لري. دا هنري اثار د نړيوال ادبي تاريخ ګډ مال او ګډه پانګه ده او د نړيوالو فرهنګيانو او ليکوالو په کتابتونو کې په ويار سره ساتل کېږي.

Abstract:

In this particular academic research work an attempt has been made to illustrate the literary personality of the famous Russian Author, Leo Nikolayevich Tolstoy and three of his well-known Romance Novels that are Sunday, Anna Karenina and War and Peace. In the peculiar academic research article, an attempt has been made to elucidate the esthetic peculiarities of the above mentioned literary works. A special sort of argumentation has been provided in the article regarding Anna Karenina. Some light has been shed upon the characteristics of the Upper Class in the literary work, War and Peace. Plus, further research has been provided regarding the war of Napoleon versus France and has been shown that the real victors of the war were the nation. Furthermore, a discussion had been provided regarding the characteristics the romance novel, Sunday, and an advanced research has been provided about the personality of Leo Nikolayevich Tolstoy in this compact research article.

اخځليکونه:

۱- بېلينسکي. ګ. ی. (۱۹۸۵م). کورني ادبيات (رودنايه ليتراتورا- په روسي ژبه). مسکو: پرسويشينيه

۲- تولستوی، ليف نيکولايويچ. (۱۳۹۱ل). جګړه او سوله- د لطيف بهاند پښتو ژباړه. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه

۳- تولستوی، ليف نيکولايويچ. (۱۹۷۸م). رومان يکشنبه په روسي ژبه. مسکو: خودوژستوينايه ليتراتورا

۴- تولستوی، ليف نيکولايويچ. (۱۹۸۲م). ډرامې په روسي ژبه. کيف: ميشتيستوه

۵_ تراویک، باکنر. (۱۳۹۰ل). تاریخ ادبیات جهان- جلد دوم. تهران: چاپخانه فروزان
۶_ روهي، محمد صديق. (۱۳۸۶ل). ادبي څېړنې. دانش خپرندويه ټولنه
۷_ رشيدي، جمشيد. (۱۳۹۱ل). ادب تيوري. انتشارات نامی
۸_ سعيديان، عبدالحسين. (۱۳۶۹ل). دايرة المعارف ادبي. تهران: موسسه نشراتی امیرکبیر
۹_ شينواری، دوست. (۱۳۶۵ل). د ادب تیوری اساسونه. کابل: دولتي مطبعه
۱۰_ وزيري، محمداقبال. (۱۳۹۱ل) د ادبياتو تيوري. دانش خپرندويه ټولنه

پوهـــندوی میرحـــاتم (نـــیازی)
کرنې پوهنځی- حیواني علومو څانګه

د غوښې ساتنې بېلابېلې طریقې

لنډیز:

غوښه یو باارزښته او قوي غذا ده، چې په کافي اندازه پروتین، بي کمپلیکس ویټامینونه او معدني مواد لري. په عمومي توګه تازه غوښه 22.3٪ پروتین 1.8٪ شحم 0.75٪ اوبه 1.2٪ معدني مواد لري. غوښه د انساني غذا یوه مهمه برخه ده، چې د پورته موادو په شتون سره د انسان د وجود لپاره تقریباً مکمل خواړه بلل کېږي. د غوښې کیفیت د وخت په تېرېدو سره خرابېږي، د غوښې په رنګ خوند او بوی کې بدلون راځي او په نتیجه کې د میکروبونو او حشراتو د حملې لاندې راځي او په څو ورځو کې له منځه ځي. د غوښې د دوامداره ساتلو لپاره غوښه پروسس او ساتل کېږي. ددې هدف لپاره د ډېر پخوا څخه بېلابېلې طریقې استعمالېږي، لکه د غوښې وچول، غوښې ته دود ورکول، په غوښه مالګه وهل او منجمد کول.

سریزه:

په مجموع کې د غوښې اصطلاح اسکلیتي عضلاتو او بیوستي وازدې ته راجع کېږي، کوم چې د ګرمې وینې لرونکو حیواناتو څخه حاصلېږي. سربېره پر دې داخلي اعضاوو کوم چې د انسان د مصرف لپاره وړ او مناسبې وي، د غوښې اطلاق وربانديې کېدای شي. په مجموع کې غوښه له اوبو، شحم، غوړ، پروتین او منرالونو او لږه اندازه کاربوهایدریت څخه جوړه شوې ده. د غذایي اهمیت له مخې د غوښې تر ټولو مهمه برخه د غوښې پروتین ګڼل کېږي، د پروتین محتویات د خامې غوښې کیفیت ټاکي؛ همدارنګه د پروتین محتویات د پروسس شوې غوښې کیفیت او ارزښت ټاکي.

لاندې جدول د خامې، تازه او پروسس شوې غوښې ترکیب ښیي:

تازه غوښه	محصول	اوبه	پروتین	غـــوړ (شحم)	منرال	کـــالوري / ۱۰۰۰ ګرامه کې
	د غوبي سرخي غوښه	۷۵،۰	۲۲،۳	۱،۸	۱،۲	۱۱۲
	د چرګ غوښه	۷۵،۰۵	۲۲،۸	۰،۹	۱،۲	۱۰۵
	د غوایي د غوښې شحم	۴،۰	۱،۵	۹۴،۰	۰،۱	۸۵۴
پروسس شوې غوښه	تازه سرخي غوښه	۴،۵۸	۳۰،۵	۹،۲	۰	۲۱۳
	خام پاخه شوي ساسج	۵۷،۴	۱۳،۳	۲۲،۸	۳،۷	۲۴۰

موخې:

- د غوښې ساتنې د بېلابېلو طریقو پېژندل او د پروسس له ټکنالوژۍ سره یې بلدتیا
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او زده کوونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د غوښې ساتل (Preservation):

د ساتلو څخه مطلب دادی چې په غذایي موادو کې دا قابلیت پیدا شي، تر څو د ډېر وخت لپاره وساتل شي. که چېرې غوښه همداسې پرېښودل شي، نو د څو ورځو په دوران کې خرابېږي. که ضرورت وي چې وساتل شي، نو د ساتلو د اصولو او طریقو په عملي کولو سره کېدای شي، تر څو میاشتو پورې دوام وکړي؛ نو ددې لپاره چې د غوښې پروسس او ساتنه ښه تشریح کړو، لومړی باید د غوښې په باره کې معلومات ترلاسه کړو، یعنې دا چې کومه غوښه پروسس شي، د غوښې د

ترلاسه کولو لپاره څاروي څنګه او په کوم ځای کې حلال شي، همدارنګه په کومو طريقو ترې پوستکی وويستل شي او بيا دغه پروسس شوې غوښه په کوم ځای او په کومو طريقو وساتل شي. د ډېرې پخوا زمانې څخه د غوښې د ساتلو لپاره بېلابېلې طريقې استعمالېدلې او اوس هم د نړۍ په ټولو برخو کې لږ او ډېر رواج لري. عمده ترينه طريقه د غوښې د ساتلو لپاره د غوښې له وچولو څخه عبارت ده چې د تاريخ د وسط څخه تر اوسه د استفادې وړ ده. په عمومي توګه د غوښې د ساتلو لپاره لاندې طريقې وجود لري:

1. (Drying) يا د غوښې وچول
2. (Smoking) يا غوښې ته دود ورکول
3. (Salting) مالګه وهل
4. (Freezing) د غوښې منجمد کول

د غوښې وچولو طريقه: د غوښې د وچولو طريقه په لومړي ځل د لاتيني امريکا، هنديانو او شمالي امريکا د سور پوستو له خوا تر استفادې لاندې نيول شوې ده. د چلي په هېواد کې خلکو سلګونه کاله مخکې د غوښې اوږدې او نرۍ ټوټې د ونو په ښاخونو کې ځوړندولې او د باد او لمر د وړانګو په وسيله يې وچولې. دغه ډول غوښې د (Jerkea beef) يا Jerky يا Charquiپه نوم يادېږي. د پورته مقصد د سرته رسولو لپاره معمولاً د ملا او د ستون فقرات نازکې غوښې څخه استفاده کېږي. وروسته له هغه چې دغه غوښې وچې شي، د ځانګړو الاتو په وسيله ټکول کېږي او د خپلې خوښې مطابق وچې مېوې په کې علاوه کوي، وروسته يې بيا په کلمو کې ځای په ځای کوي او د ضرورت په وخت کې ورڅخه استفاده کوي؛ دا ډول غوښه خصوصاً د زيات سفر په وخت کې استعمالېږي. د قبرغي غاړې او د هغه مثالونه په تازه ډول مصرفېږي او يا لرې اچول کېږي. د غواګانو کولمې وروسته د مينځلو څخه ټوټه ټوټه کېږي او په غوړو کې د پخېدو څخه وروسته په مصرف رسېږي.(۲)

۱- انځور: لمر ته د غوښې د وچولو طريقې انځور

دود ورکولو طريقه (Smoking): وروسته له هغې چې غوښه د معين وخت لپاره په اچار سره معامله شي، په اوبو کې اچول کېږي. له هغه نه وروسته د يوڅه وخت لپاره ځوړندېږي او په دودخانه کې د دود ورکولو لپاره په داسې ډول ايښودل کېږي، چې د غوښې ټوټې يو د بل سره تماس ونلري او هم غوښه د اور څخه کافي ارتفاع ولري. څرنګه چې نباتات د دود ورکولو لپاره استعمالېږي، نو بايد د ستني پاڼو نباتاتو څخه استفاده ونه شي او کوښښ وشي، ترڅو د مڼو، الو، شفتالو، بادام، چارمغز او نورو لرګيو څخه استفاده وشي. د جوارو ټانټې د يوې ښې حرارتي سرچينې په توګه د دود ورکولو د توليد په منظور استعمالېدای شي. هرکله چې د لږ حرارت دود ته ضرورت وي، د اړې له بور څخه استفاده کېدای شي. د حرارت درجه هم په خپل نوبت سره د دود ورکولو او د غوښې سطحې ته د رنګ په ورکولو کې رول لري؛ په داسې ډول که چېرې د حرارت درجه لوړه شي، نو د دود د جذب اندازه زياتېږي او د غوښې رنګ په چټکه توګه په نصواري بدلېږي. په عمومي توګه د (۳۰-۴۰) ساعتونو پورې دود ورکول د (۹۰-۱۰۰) فارنهايت په حرارت کې د غوښې سطحه په نصواري رنګ تبديلوي. که چېرې د حرارت درجه د (۱۲۵-۱۳۵) فارنهايت ته لوړه شي، نو ذکر شوی وخت (۱۸) ساعتونو ته کمېږي او په (۸۰-۹۰)

فارنهايت کې (۳-۴) ورځو پورې دود ورکولو ته ضرورت پيدا کوي. په هره اندازه چې هوا سړه وي، بايد د وچو لرګيو څخه د دود ورکولو لپاره کار واخيستل شي؛ مګر په ګرمه هوا کې د نيمه مرطوبو لرګيو څخه استفاده کېږي. کومې غوښې ته چې دود ورکول کېږي، په خپله سطحه يو پنډ تيره نصواري رنګ جوړوي او په نتيجه کې د زيرمې وخت زياتېږي، همدارنګه د مصرف يا خوړلو په وخت کې د ذکر شوي غوښې د قشر زياته برخه تراش کېږي او ايسته غورځول کېږي، ځکه د بايرولينګس اسيد د زيات مقدار د موجوديت له امله د هاضمي جهاز د اختلال سبب ګرځي. هغه غوښه چې د وچ اچار سره معامله کېږي، د (۲-۵) فيصده پورې وزن کموي، چې په دودخانه کې د هغه وزن کموالی (۵-۷) فيصده تخمين شوی دی. د دود ورکولو کوټې جوړښت بايد داسې وي چې د بوالونه، فرش او چت يې غيرقابل نفوذ وي، فرش ته نژدې د دود اخيستلو مجرا ولري، او بله مجرا چت ته نږدې وي او د بوال يې د سوزېدلو ضد وي. يوه دودخانه چې ۸ فوټه عرض، ۹ فوټه اوږودوالی او ۶ فوټه ارتفاع ولري، د اوسپنې چنګکونه د غوښې ځوړندولو لپاره په کې نصبېږي. غوښه بايد په کافي اندازه د اور د پاسه ځوړنده شي او يو د بل سره تماس ونلري، ترڅو دود د غوښې ټولو برخو ته ورسېږي. که چېرې د حرارت څخه پرته دود ته ضرورت وي، نو لازمه ده چې اور د دودخانې څخه دباندې روښانه شي او دود يې د مخصوصو پمپونو په وسيله دودخانې ته رهنمايي شي. د نن ورځې دودخانې عصري او مجهزې دي، چې د الکترونيکي قوې په وسيله فعاليت کوي چې د دود اندازه ګرمول، يخول، اور وژل او روښانه کول يې په اتومات ډول ترسره کېږي. دغه دودخانې د جوش اوبو دستګاه لري، چې د غوښې يخولو لپاره په کار وړل کېږي او د يخو اوبو دستګاه چې د غوښې د اب کش کولو لپاره ده، هم لري. دودخانې وخت په وخت پاکولو ته ضررت لري، ځکه د دود طبقې يو په پل کېږي او په نتيجه کې د سکرويو پنډ قشر جوړوي. کله چې غوښې ته دود ورکړل شي، نو تحويلخانو ته نقل او ذخيره کېږي. (۲)

۲- انځور: د دود ورکولو عصري وسيلو انځورونه

لازمه ده چې د دود ورکولو کوټې د هوا کافي جريان ولري او کړکۍ يې جالۍ ولري، چې حشرات او مچان ورته داخل نشي. ددې لپاره چې د غوښې وزن کموالی ونکړي، د پنبه دانې تېل، شړشم تېل او نورو کې يې اچوو او وروسته يې د غنمو، آسبوس، يولاف او د اوربشو اوړو کې داخلوو او يا د مالګې پوډر ورباندې اچول کېږي او يا دا چې دغه غوښه په پلاستيکي لفافه يا پارافيني کاغذ کې نغاړل کېږي. د هغو حيواناتو غوښه چې ددې هدف لپاره تر استفادې لاندې نيول کېږي، بايد په يخ موسم (د مني په اخر يا د پسرلي اولو) کې حلال شي او د هغوی غوښه د پورته طريقې په وسيله معامله شي. په دې فصلونو کې د حشراتو حمله ډېره کمه وي، که چېرته د پورته ټکو په مراعت کولو سره بيا هم په استثنايي ډول د حشراتو د حملې لاندې واقع شي، نو په دې صورت کې ذکر شوي قشر يا سطحه څېرې کېږي او نوره برخه يې د مصرف وړ

ګرځي. د غوښې په ساتلو او ذخيره کولو کې مشکل د پوپنکو ښکاره کېدل دي، دا ډول فنجي په هوا کې موجود دي او په مرطوبو شرايطو کې تکثر او نمو کوي. ددې لپاره چې د فنجي مخنيوی وشي، بايد د حرارت درجه (۴۵-۹۵) فارنهايت ته ښکته شي؛ د غوښې يو مقدار اوبه د حرارت په دغه درجه کې ضايع کېږي او د پوپنک وهلو څخه يې مخنيوی کېږي. (۸)

۳- انځور: د غوښې لوګي د ورکونې وروسته زېرمه خونه

د دود ورکولو دوه اساسي تخنيکونه عبارت دي له Cold smoking يخه دود ورکونه، Hot smoking ګرمه دود ورکونه. يخه دود ورکونه د غوښې محصولات د دود ورکولو ډېره عنعنوي طريقه ده. دا طريقه په پخوا وختونو کې د غوښې د ساتنې لپاره استعمالېده. نن ورځ نوموړې طريقه اکثره د خوند او رنګ د توليد لپاره استعمالېږي؛ په دې طريقه کې متوسطه اندازه تودوخې درجه ۱۰- ۱۸ درجې سانتي ګريد حتی ۲۲ درجې سانتي ګريد پورې وي. په دې طريقه کې د اړې بورو ته په قراره سره چې لږ اندازه دود توليد کړي، اور اچول کېږي، د غوښې ټوټې له دود څخه په لرې فاصله کې وي. يخه طريقه کېدای شي چې څو ورځې دوام وکړي، اور اچونه په دوامداره توګه نه وي، بلکې په تدريجي او وقفوي توګه وي. په ګرمه دود ورکونه کې د ګرم دود څخه چې د تودوخې درجه يې ۲۰-۸۰ درجې سانتي ګريد وي، استفاده کېږي. ګرمه دود ورکونه له ۱۰ دقيقو څخه زيات وخت نه نيسي.

د دود ورکولو روغتيايي خطرونه:

يوه اندازه اضافه مواد په لوګي کې شته، چې خطرناک دي، دود ورکړل شوي غذايي مواد کېدای شي د مصرفوونکي لپاره تاوان ورسوي او له دغو موادو څخه مهمترين يې پولي سکليک دي، چې په (300 - 400) درجې د فارنهايت کې توليد ېږي او اکثراً سرطان جوړوونکي دي. د هغو په منځ کې ۴-۳ بينزوفرن چې تر ازمېښت لاندې نيول شوي دي، ډېر مشهور دي. بينزوفرن سرطان جوړوونکي دي، کوم ازمېښتونه چې په دود شويو غذايي موادو باندې شوي، راښيي چې دغه مواد سرطان پيدا کوونکي دي. (۲)

۴- انځور: د خرابه لوګي ورکولو انځور

د مالګې وهلو طريقه: په غوښه باندې د مالګې وهلو طريقه په پنځم قرن او د ميلاد څخه مخکې او حتی د هغه څخه يې هم ډېر مخکې رواج درلوده. د غوښې په ذخيره او ساتلو کې د مالګې رواجول په تصادفي توګه منځته راغلي دي، همدارنګه په ننني عصر کې نور کېمياوي مواد لکه سوديم، سوديم نايتريت، پوتاشيم نايتريت چې د اضافي موادو په توګه د مالګې سره يوځای کېږي، چې د غوښې د رنګ د ځلېدو باعث ګرځي.

۵- انځور: د مالګې په واسطه د غوښې وچونې د ببلابېلو طريقو انځورونه

د مالګې استعمال د سور پوستو په وسيله داسې ترسره کېده، چې پر غوښه باندې به يې په مساويانه توګه مالګه نه وهله، بلکې ځينې برخې د غوښې مالګينې او ځينې برخې بې مالګې پاتې کېدې او په نتيجه کې بې مالګې برخې ژر خرابېدې. پر غوښه باندې د مالګې وهل تر اوسه پورې دوام کوي. عمومي ماده په مالګې وهلو کې استعمالېږي، عبارت د سوديم کلورايد څخه ده؛ د مالګې وهلو په وسيله د غوښې اوبه خارجېږي او د غوښې په وچولو کې کومک کوي او په عين وخت کې اوبه باکتريا خارجوي او د باکتريا رشد او نمو دروي، اما هغه تعداد باکتريا بيا هم پاتې کېږي، چې په مالګين محيط کې ژوند کولای شي؛ خو که چېرې د مالګې غلظت په کافي اندازه وي، نو اکثره باکترياوې له منځه ځي. (۷)

د مالګې د استعمال طريقې په لاندې ډول دي:

۱- په وچ ډول (Dry): په دغه طريقه کې مالګه په وچه توګه مستقيماً د غوښې په سطحه وهل کېږي او معامله شوې غوښه د ملاحظې وړ وخت لپاره ذخيره کېږي او وروسته په مصرف رسېږي.

۲- په وچه توګه د مالګې او شکرې مخلوط: دغه طريقه د هغو کسانو لپاره د غوښې د ساتلو مطمينه طريقه ده، کوم چې د يخولو وسايل نه لري. اته پونډه مالګه درې پونډه شکره، ۰،۵ اونسه سوديم نايتراید او درې اونسه سوديم نايتريت چې يو مناسب فورمول جوړوي، د پورته مخلوط يو اونس د يو پونډ غوښې د سطحې د مالش کولو لپاره د ۳-۵ ورځو په وقفه کې صورت نيسي. معامله شوې غوښه بايد د لرګي صندقونو، د لرګي مخصوصو الماريو او د مېز په مخ واچول شي او هغه اوبه چې د غوښې په قاتونو کې جمع او منځته راځي، په غوښه باندې واچول شي، ترڅو په ښه توګه پر غوښه باندې عمل وکړي. (۵)

۲- انځور: په غوښې باندې د نایتریت مالګه علاوه کول

۳- د داغ مالګې په وسیله (Hot Salt Core): په دغه طریقه کې غوښه په داغ شوې مالګه کې د ۵ دقیقو لپاره اچول کېږي. زیاتره داغ شوې مالګه د یوې فلزي آلې په وسیله چې قطر یې د یو پنسل په اندازه وي، د غوښې په داخل کې خصوصاً هډوکي ته نږدې داخلېږي، وروسته معامله شوې غوښه د (۵-۷) ورځو پورې ذخیره کېږي. (۱)

د انجماد په طریقه د غوښې ساتنه: انجماد که طبعي وي یا مصنوعي وي، کولای شي غوښه د یوڅه وخت لپاره د باکتریاوو او پوپنک څخه وساتي. د انجماد څخه مخکې د یخولو ډېره موثره درجه ۳۲ فارنهایت ده، د یخچالو په خزانو کې د یخوالي درجه د ۴۰ فارنهایت په شاوخوا کې عیارېږي او د غوښې په یخوونکو دستګاوو یا کارخانو کې ذکر شوې د یخ درجه ۳۲ – ۳۸ فارنهایت تعین شوې ده. څرنګه چې د یخ وهلو درجه ۳۲ فارنهایت څخه پورته ده، اما د یخ کولو په دستګاه ډای هایدریشن څخه مخنیوی کېږي. د غوښې د انجماد څخه اصلي مقصد د غوښې او مېوه جاتو ساتل دي، چې وروسته په مصرف رسېږي. د لومړي ځل لپاره د انجماد طریقه په (۱۹۰۰) کال کې منځته راغلې، چې د غوښې د ساتلو لپاره مطمینه او ښه طریقه شمېرل کېږي چې غوښه او د غوښې نور تولیدات په اسانۍ سره د انجماد په طریقه ساتل کېږي. ساتل شوې غوښه د خواصو او کیفیت له مخې د تازه غوښې سره کاملاً مشابه وي، همدارنګه انجماد د انزایمونو او باکتریاوو فعالیت کاملاً خنثی کوي او غوښه د خرابوالي څخه ساتي. د انجماد اغېزه د تولید شوي یخ په زیاتوالي (شدت) پورې اړه لري، یعنې هرڅومره چې یخ زیات وي، په همغه اندازه د باکتریاوو او انزایمونو فعالیت ورو وي او حتی مکمل خنثی وي. د غوښې د پروسس کولو فابریکې د انجماد (۲۰) فارنهایت درجه لري، یادونه کېږي هغه غوښه چې هډوکي نلري، د (۲۰-۲۵) فیصده پورې اوبه په خپل ځان کې لري او دغه اوبه په ګرمۍ او هم په یخ کې خپل حجم زیاتوي. په هغه درجه کې چې اوبه په یخ بدلېږي، (۳۲) فارنهایت یا (۰) درجې د سانتي ګرید په شاوخوا کې ده. مګر د یخ په کرستل باندې د اوبو بدلیدل د (28 - 29) فارنهایت درجه کې صورت نیسي. په هره اندازه چې د انجماد چټکتیا زیاته وي، په همغه اندازه د غوښې اوبه ډېر ژر د یخ په کرستل بدلېږي. که چېرې د انجماد سرعت بطي وي، د غوښې اوبه په اهسته او تدریجي توګه په یخ بدلېږي. یخ او انجماد د غوښې غذایي موادو او ویټامینونو ته ضرر نه رسوي، اما د پخلي په وخت کې زیات مقدار ویټامینونه ضایع کوي. د انجماد په طریقه کې د غوښې د ساتلو او ذخیرې په وخت کې هغه غوښې باید انتخاب شي چې سالم او تندرسته حیوان څخه په لاس راغلې وي او وینه یې د حلالې په وخت کې ټوله له بدن څخه خارج شوې وي. (۵)

۷- انځور: د یخ په شکل د غوښې د ساتلو طریقو انځورونه

د چرګانو او نورو الوتونکو غوښه د پروګرام په نظر کې نیولو سره کېدای شي په مکمل، نیم او یا څلورمه حصه په لفافو کې تاوه او بیا په انجماد کې ذخیره شي. همدارنګه د مرغانو د بدن بېلابېلو برخو غوښې لکه سینه، ورون، وزر، غاړه، او ملا په جلا کڅوړو کې تاوېږي او ذخیره کېږي، ځکه چې د یوې خوا د هغوی ذخیره کول کم ځای نیسي او د بلې خوا د مختلفو برخو غوښې د غوښتنې مطابق حاصلېږي. که چېرې الوتونکي په مکمله توګه په انجماد کې ذخیره کېږي، اضافي وازدې دې لرې کړای شي، ځکه ددې کار په کولو سره له یوې خوا د اکسدیشن چانس کمېږي او له بلې خوا کم ځای نیسي. یخچالونه او فریزرونه چې د کمپنیو له خوا د یخ او منجمد کېدو لپاره جوړېږي، معمولاً په درې ګروپونو باندې ویشل شوي دي(۴):

۱- عمودي فریزرونه: غوښه او نور په کې په اسانۍ سره ذخیره کېږي.

۲- افقي فریزرونه: هغه چې د Freezer او Refrigerater څخه تشکیل شوي وي او اکثره یې په کورونو کې استعمالېږي، په دې یخچالونو کې تودوخه د ۰-۴ سانتي ګراد په منځ کې عیارېږي، په داسې حال کې چې د فریزرو درجه په داخل کې ۱۸- سانتي ګراد وي. د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې د یخ کولو لویې دستګاوې وجود لري، چې نه یوازې د یخولو قدرت لري، بلکې د حلالې، غوښې او د غوښې د محصولاتو د پروسس کولو وسایل هم لري. دا دستګاوې غوښې برابروونکو ته د اجارې په توګه ورکول کېږي او د مالدارانو لپاره یې د کتنې وړ اسانتیاوې رامنځته کړي دي. (۳)

د حرارت په مختلفو درجو کې د ځینو غذایي موادو د ساتلو وخت:

د غذایي موادو ډولونه	د حرارت درجه په سانتي ګراد	د ساتلو وخت موده
د غویي غوښې ټوټې، د چرګ تازه غوښه، ¼ د غوایي غوړي	0-۴ سانتي ګراد ۲ سانتي ګراد ۲ سانتي ګراد ۲ سانتي ګراد	۱-۲ ساعته ۲ - ۳ ورځې ۲-۸ ورځې ۳-۴ ورځې
حرارت ورکړل شوي، تړل شوي خام	۰-۲ سانتي ګراد ۴-۶ سانتي ګراد ۶-۱۵ سانتي ګراد ۱۲-۱۵ سانتي ګراد	۲-۳ اوونۍ ۲-۱۰ ورځې 2-3 میاشتې 2-3 میاشتې
تازه ماهي د تروو اوبو ماهي	۰-۲ سانتي ګراد ۴ - ۶	۲۴-۴۶ اوونۍ ۴ اوونۍ

دود ورکړل شوی ماهي	۴-۶	5-10 ورځې
د چرګ هګۍ	۰-۴ سانتي ګراد	۲-۶ مياشتو
د الوتونکو غوښه د غويي غوښه زياته وازده لرونکی ماهي لږ وازده لرونکی ماهي	۱۸- = = =	۳ مياشتې ۲-۱۲ مياشتې ۹-۱۸ مياشتې ۳ مياشتې ۴-۵ مياشتې

پايله:

څرنګه چې غوښه يوه باارزښته او قوي غذا ده او د انسانانو لپاره قوي غذايي ارزښت لري، نو لازمه ده چې غوښه په صحي توګه وساتل شي؛ ځکه که چېرې غوښه همداسې پرېښودل شي، نو په لږه موده کې خرابېږي او د استفادې څخه وځي. د غوښې ساتلو طريقې عبارت دي له دود ورکولو، مالګه وهل، غوښه وچول، او په يخ کې ساتل دي. له دې څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې په يخ کې د غوښې ساتلو طريقه تر ټولو موثره طريقه ده، چې په ټوله نړۍ کې عموميت لري؛ په دې طريقه کې د فريزرونو، يخچالونو او يخو خونو څخه استفاده کېږي.

Abstract:

Meat is good and important source of human food. Meat is composed of water, protein, vitamin B complex and minerals. In average water percentage in meat is 75% and the other is solid materials. The quality of meat decayed and changing occur in its color, taste and odor if it didn't keep in required and proper conditions. To keep it in safe and secure condition should be process and preserved. Different methods such us Smoking, Salting, Drying and freezing are used for this purpose.

اخځليکونه:

1. هرکنی، نورد. (۱۳۷۷). علوم و صنايع ګوشت- چاپ دوم. انتشارات دانشګاه تهران.
2. لالهاند، سپين جان. (۱۳۸۸). ذخيره و پروسس محصولات حيوانی. کابل: پوهنتون کابل، فاکولته زراعت.
3. مرتضوی، سيدعلی. (۱۳۸۰). تکنالوژی ګوشت و محصولات ان. مشهد: انتشارات دانشګاه فردوسی.
4. مرتضوی، سيدعلی. (۱۳۷۶). مايکروبيالوژی غذايی مودرن- جلد دوم.
5. UN Food and Agricultural Organization (FAO) United states department of agriculture for the US and non European country.
6. S. Iqbalsha National Book Fundation Islamabad reprint year 2005
7. JIMMY HOWARD, M.s., Dean dept of food seince, Food Animal production year 2004.
8. ANIMAL NUTRITION Pmc Donald sixth edition Head of dept agr. Bio chemistry Edinburgh school of agriculture printed in by inller pvt ltd year 1999.

پوهـــندوی احـــــسان الله (ثاقـــب)
ښوونې او روزنې پوهنځی- فزيک څانګه

د هګز (ميدان) تيورۍ په وسيله د ذراتو توليد

CPHT:Creative Particles of Higgs Theory

لنډيز:

سي. پي. اچ(CPH)يوه بنيادي ذره ده چې ثابته کتله لري او په ثابت سرعت حرکت کوي. دغه ذره دوراني مسير لري، په هر وړانګيز فعاليت کې چې دغه ذره په کوم سرعت توليد ېږي، له نورو ذرو يا قوو سره د هغې د سرعت په مقدار کې تغير نه راځي. د سي. پي. اچ(CPH)نظريې ته په کتنې سره يو فوتون د زيات شمېر سي. پي. اچ(CPH) درلودونکی دی چې دغه فوتونونه د نور له سرعت سره مساوي خطي سرعت باندې حرکت کوي. له بل پلوه پوهېږو چې نور يو الکترو مقناطيسي موج دی چې د مقناطيسي او برقي ساحو څخه چې يو پر بل عمود وي، تشکيل شوی دی. په همدې اساس نتيجه ترلاسه کېږي چې د فوتون په ساختمان کې موجود سي. پي. اچ(CPH)په دوه ډوله دی، يو هغه سي. پي. اچ(CPH)چې مقناطيسي ساحه تشکيلوي او بل هغه سي. پي. اچ(CPH)چې د فوتون برقي ساحه تشکيلوي.

سريزه:

د تکنالوژۍ او وسايلو د پرمختګ پر بنسټ د طبيعت د مطالعې او څېړنې لپاره نوې او پرمختللې تيوري ګانې وړاندې شوي، چې دا د علم وروستي پړاوونه نه دي، بلکې علم لا پرمخ ځي، وخت په وخت به د طبيعت د څېړلو لپاره نوې معلومات وړاندې کېږي. دا سمه ده چې معلومات به نوي منځته راځي، خو د مادې نوې پيداکېدل شونې نه دي؛ يعنې دا هر څه له پخوا نه د طبيعت له پيداکېدو سره يوځای دي، خو په اوايلو کې به د علم د کمې کچې پر اساس ترې معلومات کم وو. د دغو نظرياتو له ډلې څخه يوه هم د ذراتو د توليد او جاذبې ساحې تيوري ده چې د سي. پي. اچ(CPH) د تيوري په نوم يادېږي چې اوس يې د نړۍ د علماوو نظر ځانته را اړولی دی. ما هم اړينه وګڼله چې څه معلومات د همدې تيوري په هکله د يوې علمي مقالې په توګه د فزيک د علم مينه والو ته وړاندې کړم. په دې علمي مقاله کې لومړی د سي. پي. اچ (CPH) تيوري تشريح شوې او وروسته د سي. پي. اچ(CPH)د تيوری د منځته راتلو ضرورت او ددې تيوري په اړه د علماوو نظريات او سي. پي. اچ (CPH) او نور او ياهم د نور سرعت او په وروستيو کې د ريسمان تيوري چې له سي. پي. اچ(CPH)تيوري سره تړاو لري او په پای کې ددې تيوري نوې اند ښښنې توضيح شوي دي. کوښښ مې کړی چې مطالب په روانه ساده ژبه وليکل شي؛ الله تعالی دې وکړي چې د فزيک علم د مينه والو د پاملرنې وړ وګرځي.

موخې:

- د سي. پي. اچ(CPH)(Creative Particles of Higgs Theory) د نظريې په اړه د معتبرو علمي موادو راټولول او توحيدول
- په اړونده موضوع کې د مسلک د مينه والو لپاره د مرستندويه موادو برابرول
- د راتلونکو علمي ترفيعاتو لپاره ترې د يو فرعي اثر په توګه کار اخيستل

د سي. پي. اچ تيوري (Creative Particles of Higgs Theory):

د سي. پي. اچ(CPH) نظريه په 1366 کال کې د حسين جوادي په وسيله مطرح شوه؛ په دې نظريه کې کوښښ شوی چې د کوانت ميخانيک او نسبيت ترمنځ مشترکه وجه له مختلفو لارو څخه په يوې نوې طريقه مطالعه، تحليل او تجزيه کړي. د نور د سرعت ثابتوالی، له دې سوال سره مواجه کېږي چې دغه محدوديت يو طبيعي تصادف دی او که نه؟ د الکترون ـ پوزيترون جوړه خپرېدل او څنګه فوتونونه له دغې مسئلې سره په تړاو کې په ثابت سرعت سره حرکت کوي، مګر د مادې سرعت او د مادې د چارج مقدار ته تغير ورکولای شي، که نه؟ په دې نظريه کې قوه او انرژي يو پر بل باندې د اوښتو توانايي

لري او که د انشټين نسبيت ته وګورو په هغې کې کتله او انرژي يو د بل معادل مفاهيم دي، نو له دې ځای څخه داسې ويلای شو چې کتله، قوه او انرژي يو د بل معادل مفاهيم دی. http://cph-theory.persiangig.com

سي. پي. اچ(CPH) څه شی دی؟ که چېرې خارجي قوه په هغې عمل وکړي، د هغې د سرعت يوه برخه په دوراني سرعت بدلېږي او يا برعکس؛ په داسې حال کې چې د سرعت په مقدار کې تغير نشو راوړلای. يعنې د هغې خطي حرکت يو مقدار په دوراني حرکت بدلېږي او برعکس. په همدې اساس مجموعي انتقالي انرژي او د هغې دوراني انرژي هم ثابت دي، مګر يوازې انتقالي انرژي يې په دوراني انرژۍ بدلېږي او برعکس يې هم ممکن دی. يعنې څه وخت چې سي. پي. اچ(CPH) Spin ولري، هغې ته ګراويتون وايي. که سي. پي. اچ(CPH) په هر حالت او هر ډول فزيکي شرايطو کې قرار ولري، نو هغه دوراني او انتقالي حرکت دواړو لپاره سپين وجود لري. په داسې حال کې چې د هر ډول شرايطو لاندې د هغې د سرعت په اندازه کې هيڅ ډول کموالی نه راځي او تل د $V_c > c$ سرعت په لرلو سره حرکت کوي. د سي. پي. اچ (CPH) نظريه له درې کلمو څخه جوړه شوې ده: Creation توليد يا منځته راوړل، particle ذرات. دلته مونږ بايد د Higgs کلمه وپېژنو. www.gravity quantum.com

د ډېرو فزيک پوهانو په نظر د فزيک د علم لپاره تر ټولو مهمه مسئله د يوويشتمې پېړۍ څېړنې دي چې د هګز (هګز يو ډول کوچنۍ ذرې) په وسيله يې ترسره کړي. د هګز کلمه د لومړي ځل لپاره د پيتر هګز له خوا په 1960 کال د فزيک په علم کې داخله شوه، دغه ذرات د عمل او عکس العمل په وسيله چې د يوې ساحې په وسيله تر سره کېږي، صورت نيسي چې دغه ساحه د هګز د ساحې په نوم يادېږي.

www.gravity and space.com

د سي. پي. اچ(CPH) نظريه ولې وړاندې شوه؟ عام نسبيت بايد له کوانتم ميخانيک سره يوځای شي، څو چې په نظري فزيک کې شته مشکلات له منځه ولاړ شي. د عام نسبيت له مخې د نور مسير د جاذبې په ساحه کې ټيټ دی چې هغه د فضا او وخت تر سرليک لاندې مطرح کوي. کوانتوم ميخانيک له اتومي ذراتو څخه لاندې ذراتو په مطالعه باندې پيل کوي او له کوانتونو سره سر او کار لري، بايد د فرميونونو او بوزونونو ترمنځ ارتباط توضيح شي او هيګز بوزون ته بايد وضاحت ورکړل شي. دا رنګه چې ذرې په څه ډول کتله لاسته راوړي؟

يوه ذره چې د $P = mVc$ خطي سرعت درلودونکې ده، که يوه خارجي قوه پرې عمل وکړي، نو د خطي سرعت يوه څه اندازه په دوراني حرکت بدلېږي او برعکس، که ذره د دوراني حرکت درلودونکي وي او قوه پرې عمل وکړي، يوه اندازه يې په خطي حرکت بدلېږي او د سرعت په مقدار کې کوم تغير نه راځي. هرکله چې سي. پي. اچ(CPH) لرونکی حرکت د دوران د محور په شاوخوا وي په دغه وخت کې CPH د سپين (Spin) لرونکی دی چې دا د ګراويتون په نوم يادېږي. په لاندې شکل کې I جبري قوه ده. که د ګراويتون قوه کار ترسره کړي، نو ګراويتون په ناڅاپي ډول نه ليدل کېږي او د جسم کتله په انرژۍ بدلېږي. (۱م۴۷)

کله چې دوه ګراويتونونه يو د بل ترڅنګ ځای ونيسي، يو بل جذبوي او د جذبېدو په وخت کې يو څه روښنايي له ځانه ښيي چې دا روښنايي د انرژۍ په نامه يادېږي. په لاندې شکل کې دوه ګراويتونه د r په فاصله يو بل اخلي، دا چې د سرعت مقدار يې ثابت دی، نو يوازې انتقالي حرکت يې په دوراني حرکت (Spin) بدلېږي. (۲م م۱۴۸-۱۵۴)

د سي. پي. اچ(CPH) په نظريه کې جاذبه تل د ذراتو او اجسامو ترمنځ شتون لري، ځمکه د يوې جاذبوي ساحې درلودونکې ده، چې هره جاذبوي ساحه د څو جبري سي. پي. اچ(CPH) څخه تشکيلېږي، نو د ځمکې د جاذبې ساحه هم له بې شمېره سي. پي. اچ(CPH) څخه تشکيل شوې ده، چې د ځمکې په اطراف کې د حرکت په حال کې دي. هر کله چې يو ګراويتون ځمکې ته ورسېږي، نو سمدلاسه له ځمکې څخه ورته بل ګراويتون ځان رسوي. (۵م م۲۵۴-۲۵۲)



L د Angular Momentum (L زاويوي مومنټم دي)

$|L_1| = |L_2|$

CPH Takes Spin because (CPH دسپين لرونکی دي ځکه VC=0 دي)

grad Vc=0

نو ويلای شو چې فوتون $Spin$ لري، نو په همدې بنسټ که د فوتون سرعت د نور د سرعت معادل شي، نو فوتونونه له ګراويتونونو څخه جوړېږي او د نور سرعت د خطي حرکت او دوراني حرکت $(Spin)$ درلودونکی دی. د انشتين د نظريې پر بنسټ جاذبه د وخت او فضا هندسي اثر دی چې دغه موضوع يې په ډېرو سختو معادلو بيان کړه؛ نو ځکه نورو فزيک پوهانو دې موضوع ته توجه ونکړه. (۲م۷۱)

کولای شو ووايو چې په حقيقت کې يوه ساده ذره په طبيعت کې وجود لري او که چېرې نورې ټولې ذرې چې د ساده ذرو تر سرليک لاندې مطالعه کېږي، په پام کې ونيسو، نو باارزښته قوې، انرژي او کتله له يوې اساسي ساده ذرې څخه جوړ شوي دي چې هغه د سي. پي. اچ(CPH) تر سرليک لاندې مطالعه کېږي. (۷م۵۴۵)

نور د سي. پي. اچ(CPH) له نظره:

د کوانت ميخانيک له نظره نور يوه مادي نقطه ده چې ساختمان نلري، په ځانګړې نسبيت کې د نور سرعت په خلا کې ثابت دی، مګر په عام نسبيت کې د نور سرعت د جاذبې د ساحې د شدت تابع دی. له بل پلوه د نور سرعت په يوه مادي محيط کې چې د انکسار ضريب يې n وي د $V = \frac{c}{n}$ رابطې په وسيله ترلاسه کېږي.

د نور سرعت او سي. پي. اچ(CPH):

لومړی بايد ووايو چې د نور سرعت د هغې د خطي مولفو څخه تشکيل شوی دی، يا په بل عبارت خطي سرعت د فوتون متشکله اجزاوې دي چې هماغه سي. پي. اچ(CPH) ورڅخه جوړ شوی او د نور د سرعت برابر دی. که د سي. پي. اچ(CPH) خطي سرعت زيات شي د فوتون (نور) سرعت هم زياتېږي او که چېرې د سي. پي. اچ(CPH) خطي سرعت کم شي، نو لازمه ده چې د نور سرعت هم کمېږي. له دې پرته بايد متوجه شو چې سي. پي. اچ(CPH) تل په V_c ثابت سرعت سره حرکت کوي. په همدې اساس که د سي. پي. اچ(CPH) خطي سرعت زيات شي، د هغې د سپين (دوراني سرعت) مقدار هم کمېږي. که د سي. پي. اچ(CPH) خطي سرعت کم شي، په همغه اندازه يې د سپين مقدار زياتېږي. همدارنګه بايد پام وکړو چې په فوتون کې د سي. پي. اچ(CPH) تعداد د فوتون انرژي زياتوالی کوي. اوس د نور سرعت په لاندې حالتونو کې مطالعه کوو:

د جذب قوه په فوتون کار کوي او فوتونونه له ګراويتونونو څخه جوړ شوي دي، نو فوتون د جسم په لوري په تعجيلي حرکت پيل کوي او په پايله کې د فوتون فريکونسي، انرژي او سرعت زياتېږي. کله چې فوتون د سقوط په حالت کې وي، نو د جسم او فوتون ترمنځ فاصله وخت په وخت کمېږي، نو د فوتون فريکونسي، انرژي او سرعت ډېر لوړ ځي او وروسته د فوتون فريکونسي، انرژي او سرعت کمېږي. (۴م م۲۸۰-۲۸۵)

اول- د نور سرعت په خلا کې: نور په خلا کې د هيڅ بهرني عامل تر اغېز لاندې نه دی، نو د سي. پي. اچ(CPH) د خطي سرعت او سپين د ټاکلو عوامل همغه د فوتون په داخل کې د سي. پي. اچ(CPH) جذبولدي، نو په همدې اساس د سي پي اچ خطي سرعت او سپين ثابت پاتې کېږي. تر څو چې نور په خلا کې حرکت کوي هر تغير که هغه د سرعت او يا انرژي تغير

وي چې د فوتون د تشکيل شوو ذرو له جذب څخه عبارت دی، نو په همدې اساس د سي. پي. اچ(CPH)له نظره هم د نور سرعت په خلا کې ثابت او په داسې ډول دی، لکه څنګه چې په عام نسبيت کې مطرح شو.

دويم- د نور سرعت په نورو محيطونو کې: فرضوو چې نور له خلا څخه بل محيط ته لکه اوبه داخلېږي؛ خو هر مادي محيط له ماليکولونو او نورو ډېرو ذرو څخه تشکيل شوی دی چې د هغې په شاوخوا کې برقي او مقناطيسي ساحې وجود لري. دغه ساحې په چارج- رنګ او مقناطيس- رنګ (د فوتون په ساختمان کې موجوده سي. پي. اچ(CPH) اغېز کوي او د هغې له خطي سرعت څخه يوه اندازه کموي او د سپين په مقدار باندې يې ورزياتوي. کله چې نور له دې محيط څخه خارج او بل محيط ته داخل شي، د نوي محيط له قوو څخه پيروي کوي او کېدای شي چې نوی سرعت واخلي، نو له همدې امله د نور- فوتون سرعت د هغوی د ساختماني سي. پي. اچ (CPH) د خطي سرعت تابع دی او همدارنګه د سي. پي. اچ (CPH) خطي سرعت هم د خارجي قوو تابع دی.

دريم- د نورسرعت د جاذبې په ساحه کې: لومړی بايد پوښتنه وشي چې څنګه عام نسبيت تصريح کېږي، د نور سرعت د جاذبې په ساحه کې تغير کوي؟ فرضوو چې يو فوتون د جاذبې په ساحه کې د سقوط په حال کې دی. د سي. پي. اچ (CPH) د نظريې پر بنسټ د جاذبې ساحه د ګراويتونو څخه تشکيله ده چې د نور له سرعت څخه په لوړ سرعت حرکت کوي. دغه ګراويتونه (چارج – رنګ او مقناطيس- رنګ) د فوتون ساختمان ته داخلېږي او لکه څنګه چې نسبيت وړاندوينه کوي او په ازمايښتي ډول ثابت شوی دی، د فوتون انرژي زياتېږي. کله چې د جاذبې په ساحه کې ګراويتون د فوتون په ساختمان کې داخلېږي، د نوي فوتون حرکت د مخکښني فوتون د حرکتونو له مجموعې سره مساوي دي، د ګراويتون د حرکت مقدار او په نتيجه کې د فوتون سرعت زياتېږي. بايد پاملرنه وشي چې په دې حالت کې هم د سپين سي. پي. اچ(CPH) مقدار هم په خطي سرعت بدلېږي او په همغه اندازه د نور سرعت زياتېږي.

http://cph – theory.persiangig.com/c1032 – noorcph, htm

د سي. پي. اچ(CPH)له نظره فوتون:

د سي. پي. اچ (CPH) نظريې ته په کتنې سره يو فوتون د زيات شمېر سي. پي. اچ(CPH) درلودونکی دی چې دغه فوتونونه د نور د سرعت سره مساوي خطي سرعت باندې حرکت کوي. له بل پلوه پوهېږو چې نور يو الکترو مقناطيسي موج دی چې د مقناطيسي او برقي ساحو څخه چې يو پر بل عمود وي، تشکيل شوی دی. په همدې اساس دا نتيجه په لاس راځي چې د فوتون په ساختمان کې موجود شي. پي. اچ(CPH)په دوه ډوله دی: يو هغه سي. پي. اچ(CPH)چې مقناطيسي ساحه تشکيلوي او بل هغه سي. پي. اچ(CPH)چې د فوتون برقي ساحه تشکيلوي. د فوتون حرکت د جاذبې په ساحه کې د فنر او جسم په شان دی، چې فوتون د سقوط حالت غوره کوي او په ابي ساحه کې ځای نيسي او کله چې فوتون په سور رنګه ساحه کې ځای ونيسي، نو فوتون د فرار حالت غوره کوي؛ نو دا نظريه نن ورځ د نړۍ د ډېرو کوچنيو ابعادو لپاره مطرح کېږي. (۳م،۴۶۹)

د ريسمان کشش:

که څه هم ريسمانونه د ريسمان په تيوري کې په فضا- وخت کې لامبو وهونکي دي او د ګيتار په څېر مقيد نه دي؛ خو بيا هم په همدې حال کې کشش لري. د ريسمان کشش د ريسمان په تيوري کې د لاندې کميت په وسيله ورکړل شوی دی:

$$T_{string} = \frac{1}{2\pi\alpha'}$$

په دې فورمول کې α' د ريسمان د اوږدوالي له مربع سره متناسب دی. که د ريسمان تيوري د کوانتوم جاذبه وي، نو د ريسمان منځنۍ اندازه بايد د کوانتوم اوږدوالي ته نږدې وي چې د پلانک د اوږدوالي په نامه يادېږي او $L_p = 10^{-33}cm$ قيمت لري.

http://cph – theory.persiangig.com/1179 – cfarsi1 – 2htm

نوې اند ېښنې:

نويو اند ېښنو ته د لاسرسي موخه ېېلا ېېلې لارې شته چې ېېلا ېېلې نتيجې هم ورکوی؛ خو دا چې زمونږ بحث د فزيک په اړه دی او فزيک يو تجربوي علم دی؛ نو په همدې اساس زمونږ اوسنۍ اند ېښنې بايد په دې ډول وي چې پخوانۍ نظريې تعميم کړي، نو پر همدې بنسټ دغه ډول حالت چې نوې اند ېښنې ته د رسېدو لپاره بايد داسې تجربوي شواهد له ېېلا ېېلو لارو څخه تر مطالعې لاندې ونيول شي. د کلاسيک ميخانيک، کوانت ميخانيک نسبيت او د هګز بوزون نظريه بايد د اتکا وړ وي. هر څومره او هر وخت له دغو نظريو څخه هر يو خپل محدوديت لري، خو مونږ بايد هڅه وکړو چې نوې مفکورې بايد داسې وي چې يوه نوې نظريه رامنځته کړي. د دغه ډول مسايلو د حل لپاره بايد لاندې نقطې په نظر کې ونيول شي:

۱. تجربوي څېړنې په ګوته کوي چې د نيوټن د جاذبې نړيوال قانون بايد بيا له سره مطالعه شي.

۲. د فضا هندسي جوړښت د مادې د کثافت تابع دی چې د هغې د جاذبې په وسيله منځته راځي.

۳. د نيوټن دويم قانون بيا کتنې ته ضرورت لري، خو نه دا چې کتله تر بې نهايته پورې ومنو.

۴. د جهان په دې لوی جوړښت کې همغه قانون حاکم دی چې ددې جهان يو کوچنۍ واحد يې تابع دی.

۵. د کوانت ميخانيک له مخې بايد ګراويتون تعميم شي؛ ګراويتون علاوه له دې څخه چې د جاذبې انرژي اخلي، داسې خواص له خپل ځان څخه څرګندوي چې د برقي او مقناطيسي ساحې په موجوديت کې تر مطالعې لاندې نيول کېږي.

۶. د هګز بوزون نظريه بايد له ېېلا ېېلو نقطو څخه وخېړل شي، تر څو نويو نتايجو ته لاسرسی وشي.

http://cph – theory.persiangig.com/1179 – cfarsi1 – 2htm

پايله:

په پای کې ويلای شو چې د سي. پي. اچ(CPH)نظريه په 1366 کال کې د حسين جوادي په وسيله مطرح شوې. په دې نظريه کې کوښښ شوی چې د کوانت ميخانيک او نسبيت ترمنځ مشترکه وجهه له ېېلا ېېلو لارو څخه په يوې نوې طريقه مطالعه تحليل او تجزيه کړي. عام نسبيت بايد له کوانتم ميخانيک سره يوځای شي، تر څو په نظري فزيک کې شته ستونزې له منځه ولاړې شي. د عام نسبيت له مخې د نور مسير د جاذبې په ساحه کې ټيټ دی چې هغه د فضا او وخت تر سرليک لاندې مطرح کوي. کوانت ميخانيک له اتوم څخه لاندې ذراتو په مطالعه باندې پيل کوي او له کوانتونو سره سر او کار لري. د کوانت ميخانيک له نظره نور يوه مادي نقطه ده چې ساختمان نلري، په خاص نسبيت کې د نور سرعت په خلا کې ثابت دی؛ خو په عام نسبيت کې د نور سرعت د جاذبې د ساحې د شدت تابع دی. لومړی بايد ووايو چې د نور سرعت د هغې د خطي مولفو څخه تشکيل شوی، يا په بل عبارت خطي سرعت د فوتون متشکله اجزاوې دي چې همغه CPHورڅخه جوړ شوی او د نور د سرعت برابر دي. ريسمانونه د ريسمان د تيوري له مخې په فضا- وخت کې لامبو وهونکي دي، خو بيا هم په همدې حال

$$T_{string} = \frac{1}{2\pi\alpha'}$$

کې کشش لري؛ د ريسمان کشش د ريسمان په تيوري کې د لاندې کميت په وسيله ورکړل شوی دی:

په دې فورمول کې α' د ريسمان د اوږدوالی له مربع سره متناسب دی. که د ريسمان تيوري د کوانتوم جاذبه وي، نو د

ريسمان متوسطه اندازه بايد د کوانتوم اوږدوالي ته نږدې وي چې د پلانک اوږدوالی ورته ويل کېږی او $L_p = 10^{-33}cm$ قيمت لري. د جهان په هغه لويو جوړو شويو اجسامو کې چې کوم ډول قوانين د عمل او عکس العمل

وجود لري، په هماغه ډول په کوچنيو اجسامو کې هم همدغه قوانين د تطبيق وړ دي. (۶م۷۱)،

w.w.w.gravity and space.com

Abstract:

CPH is a basic particle which has constant mass and moves with constant velocity. This particle having circular path, in every radioactive activity when the mention particle at any velocity is to be produce, does not occur change in its quantity of velocity with other particles. Looking to CPH theory one photon consist of many CPH, these photons moves with speed of light at equal linear velocity, from other hand we know that light is an electromagnetic wave which consist from magnetic and electrical field and perpendicular on each other, so on, base of mention description at give a result that in the structure of photon two kind of CPH, one of them produce magnetic field and another is produce electric field.

اخځليکونه:

۱. اوهانيان. (1987). فزيک نوين، ترجمه پاشانی زاده و مغلی. تهران: مرکز نشر دانشگاهی

۲. ج ل اسکوايزر. (1377). ترجمه: نامور. مسا ئل کوانتم وحل انها. ايران: انتشارات علمی و فرهنگی

۳. ديويد هاليدی، رابرت رزنيک، جرل واگر. ترجمه: نصرتی جليليان. محمد رضا، عابدينی. محمد، خوش نظر خوش بين. محمدرضا. (1385). مبانی فزيک. جلد سوم. تهران: انتشارات صفار- اشراقی

۴. سرز و زيمانسکی. ترجمه: فروتن، فضل الله. (1383). فزيک دانشگاهی. جلد چهارم. تهران: نشر علوم دانشگاهی

۵. RJ هوک; IH هال. (1379). ترجمه: علی اکبر بابائی و مهدی. فزيک حالت جامد. تهران: انتشارات نشر مرکز دانشگاه

6. *John .D. fix, 2001, Astronomy, pro USA, Pag .71*

7. *N. SUBRAHMANYAM, BRIJLAL, M.N. AVADHANULU.* (2006). *A TEXTBOOK OF OPTICS.. PRINTED IN INDIA*

8. *http://www.gravity and space.com. Newton's Law of gravitation. Gravity for Astronauts in orbit. 3 months ago by Mark G. and 2 years ago by Felix Swenson.*

9. *http://www.gravity quantum.com.* ⊡Flucluations, information, gravity and the quantum potential. Auteur: CARROLL R. W. April 2005.

11. *http://cph – theory.persiangig. com/1179 – cfarsi1 – 2htm.* 1390/10/10

12. *http://cph – theory.persiangig. com.c1032 – noorcph.htm.* 1385/01/03

13. *http://cph – theory.persiangig. com.* 1392/اذر/12

پوهـــــندوی مســـتعلي (نيـــازی)
ښوونې او روزنې پوهنځی- تاريخ څانګه

د وزير محمد اکبرخان د ژوند بېلابېل اړخونه

لنډيز:

په دغه علمي څېړنيزه مقاله کې کوښښ شوی، چې د غازي وزير اکبرخان د ژوند بېلابېل اړخونه، لکه د هغه زوکړه، بخارا ته د تللو عوامل، د هري سنګ سره جګړه او د نوموړي وژنه، د انګرېزانو په لومړي يرغل کې د غازيانو مشري، د انګريزانو د سفير مکناټن وژنه، د نوموړي غازي اړيکې د نورو غازيانو سره، د نوموړي مړينه او يو شمېر نور مهم مسايل څېړل شوي دي.

سريزه:

د هېواد معاصر تاريخ له ګڼو داسې بېلګو ډک دی، چې ددې هېواد مسلمان او غيرتي ولس د استعماري ځواکونو د يرغلونه په مقابل کې د خپلو مشرانو تر لارښوونې لاندې د سر او مال په بدل مبارزه کړې او د نړۍ ډېر استعماري هېوادونه يې په ګونډو کړي او ماتې يې ورکړې، چې ددې سپېڅلې مبارزې د سرښندونکو مشرانو يادونه او د هغوی د ژوند څېړنه ځانګړې ارزښت لري، چې ډېرو څېړنو او اثارو د ليکنې سره سره بيا هم د هغوی د ويارمن ژوند د ټولو خواوو روښانتيا ناشونې ده. د افغانستان معاصر تاريخ کې لومړی ځل انګريزانو د (۱۸۳۸ز) کال د لاهور د مثلث تړون له لاسليکولو څخه وروسته فراري شاه شجاع سره يوځای د لودهيانه څخه د بولان د درې له لارې پر افغانستان يرغل وکړ. د وزير فتح خان ورونه ايران ته وتښتېدل او شاه شجاع په (۱۸۳۹م-۱۲۵۵هـ ق) د صفرې په ۱۲ د يکشنبې په ورځ د کندهار په ارګ کې پر تخت کېناست. لس ورځې وروسته د انګليسانو نماينده مکناټن په کندهار کې د شاه شجاع سره يو بل تړون لاسليک کړ، چې ددې تړون په اساس بايد انګريزان تل په افغانستان کې پاتې شي؛ مګر د انګليس سياستمدارانو تېروتنه وکړه، په دې پوه نشول چې د يو تن فراري پاچا سره د تړون په لاسليک کولو سره نشي کولی، چې يو غيرتمند او په ازادۍ مين ملت د نظامي قوت په اساس خپل غلام کړي او د دوی د خپلې تېروتنې پايله بيا د کابل- جلال اباد په لار کې وليدله، چې ټول پوځ يې د غازيانو په واسطه له منځه ولاړ. د افغانانو د قربانيو په نتيجه کې انګليسان مات او د هغوی هغه دسيسه چې تل په افغانستان کې پاتې کېږي، شنډه شوه.

موخې:

- د وزير اکبرخان د ژوند بېلابېلو اړخونو په اړه د ګټورو معلوماتو راټولول
- ځوان نسل د خپلو تاريخي مشرانو او د هغوی له کارنامو خبرول

د وزير اکبرخان زېږېدنه:

وزير اکبرخان د امير دوست محمد خان دويم زوی په (۱۱۹۲) لمريز، (۱۲۳۲) سپوږميز، (۱۸۱۷) زېږديز کال زېږېدلی دی؛ د مور نوم يې بي بي خجو د حاجي رحمت الله خان باميزايي لور او د حاجي درياخان لمسۍ وه، چې نوموړې مېرمن په (۱۲۸۰) هـ ق کال کې مړه او د کابل په عاشقانو او عارفانو هديره کې خاورو ته وسپارل شوه. (۳م۳)

وزير اکبرخان څلور مېرمنې درلودې، چې درې يې واده او څلورمه يې د پلار په کور کونډه شوه، چې د مېرمنو شهرت يې په دې ډول دی:

1. لومړۍ مېرمن يې د غلام محمد خان باميزي لور د مختارالدوله شېرمحمد خان لمسۍ د اشرف الوزرا شاه ولي خان شهيد (۱۱۸۶هـ ق) کړوسۍ وه.

2. دويمه مېرمن يې د غازي محمد شاه خان بابکرخېل لور، چې محمد شاه خان بابکرخېل د محمد امين خان زوی او د محمد جان لمسی ؤ. دوی اصلاً د تېزين اوسېدونکي وو، د لغمان بديع اباد ((الينگار)) ته کډه شول او هلته يې کلا جوړه کړه.
3. دريمه مېرمن يې د نائب امين الله خان لوګري لور وه.
4. څلورمه مېرمن يې د وزير يار محمد خان الکوزي لور وه، چې دا نجلۍ يې لا واده کړې نه وه، چې غازي وزير اکبرخان وفات شو او نوموړې د پلار په کور کونډه شوه؛ بيا سردار غلام حيدرخان په نکاح کړه. (۳م۵)

په دوه مهمو جګړو کې د وزير محمد اکبرخان ګډون:

۱- د کندهار جګړه: په (۱۲۴۹هـ ق) کال شاه شجاع د سند څخه د کندهار د نيولو په نيت را وخوځېد، په (۱۲۵۰هـ ق) کال په لومړيو کې شاه شجاع له خپل لښکر سره د کندهار د ښار د نادرآباد شاوخوا سيمو ته راورسېد. سهار د کندهار سردارانو (کهندل خان، مهردل خان او رحمدل خان) د خپلو لښکرو سره د شاه شجاع سره جګړه پيل کړه. د شپې په تيارې خپرېدو کندهاري سرداران ښار ته داخل شول، شاه شجاع ښار کلابند کړ؛ کلابندي سخته شوه، سردار کهندل خان له دوست محمد خان څخه مرسته وغوښتله. امير دوست محمد خان ورته مرستندوی لښکر راولېږه، چې د سپرو مشر په دې جګړه کې وزير محمد اکبرخان و او د پياده لښکر قوماندان عبدالصمد خان ؤ. وزير محمد اکبرخان د شاه شجاع په شخصي قرارګاه برید وکړ، شاه شجاع ماتې وخوړه او د جګړې ډګر يې پرېښود. (۳م م۶-۷)

د جمرود جګړه: کله چې هري سنګ په پېښور کې سلطان محمد خان ته ماتې ورکړه، هغه باجوړ ته ولاړ. هري سنګ د کابل حکمران امير دوست محمد خان ته يو ليک واستوه او غوښتنه يې ورڅخه کړې وه، چې کابل په سمه ورته پرېږدي. امير دوست محمد خان پر پېښور د سکانو قبضه په خپل تاريخ کې تور داغ ګڼلو او د پېښور نيولو ته ډېر لېواله و. ديني عالمان يې راټول کړل او د اميرالمؤمنين لقب يې غوره کړ. بل طرف ته هري سنګ په جمرود کې د يوې کلا د جوړولو اراده وکړه او نيت يې درلود چې په کابل باندې حمله وکړي. امير دوست محمد خان چې د هغه له ارادې څخه خبر شو، د خپل زوی وزير اکبرخان په مشرۍ يې خپل پوځونه د پېښور لوري ته ولېږل، چې دغه پوځونه د (۱۸۳۷ز) کال د مې په لومړۍ نېټه يې په جمرود کې په سکانو حمله وکړه. (۷م۷۸۳)

څه وخت چې وزير اکبرخان، سردار محمد افضل خان، نواب عبدالجبارخان او سردار شمس الدين په مشرۍ افغاني پوځونه د خيبر درې له لارې د لوارګي له سيمې تېر شول؛ وزير محمد اکبرخان او سردار محمد افضل خان د ښي اړخ، شمس الدين خان له چپ اړخ او نواب عبدالجبار خان د يو ډېر قوي لښکر سره د هري سنګ د لښکر پر زړه (منځ) حمله وکړه. کله چې جګړې زور واخيست، حاجي خان کاکړې هري سنګ ته ځواب ولېږه، چې په لار کې دده په طرف ولاړ دی. ده له خپلې خوا څخه نوموړې ته ډاډ ورکړ؛ هري سنګ ددې پيغام ترلاسه کولو وروسته ډېر زړور شو او په ډېر غرور سره يې د وزير محمد اکبرخان پر لښکرو حمله وکړه. نواب عبدالجبار خان، سردار شمس الدين، سردار محمد افضل خان، وزير محمد اکبرخان په خپلو ځايونو کې ټينګ ولاړ وو، خو عبدالجبارخان غوښتل چې د جګړې له ميدان څخه لرې ليرې ولاړ شي؛ وزير محمد اکبر خان هغه وليد، د هغه خواته ورغی او د هغه روحيات يې پياوړې کړل. پوره يوولس ورځې پرله پسې د سهار څخه تر ماښامه پورې مقابله او جګړه روانه وه، په دولسمه ورځ جګړه ډېره سخته شوه؛ د اسلامي لښکرو روحيه لږه ضعيفه شوه. هري سنګ په ډېرې چټکۍ او غرور سره خپله حمله تېزه کړه، تر څو اسلامي لښکرو ته قطعي ماتې ورکړي؛ په دغه وخت کې سردار محمد افضل خان د جګړې د منځ څخه ووت، خو وزير اکبرخان په ډېره زړورتيا سره جګړه کوله، چې په همدغه وخت کې د هري سنګ سره مخامخ شو. دوی يو بل نه پېژندل، خو دواړو ډېره سخته جګړه کوله. له ډېرې جګړې وروسته د وزير محمد اکبرخان د تورې وار پر هري سنګ برابر شو او ويې واژه.(۶م۱۷۲)

سردار شمس الدين هم غوښتل چې جګړه پرېږدي، د پياده لښکرو قوماندان ملااسمعيل پر وزير محمد اکبرخان غږ وکړ، چې د اسلام لښکر دې غرق کړ؛ وزير محمد اکبر خان ځواب ورکړ چې جګړه وکړئ، بريالیتوب نږدې دی. وزير محمد اکبر خان د هري سنګ له مړينې وروسته د هغه پر پياده لښکر حمله وکړه. سکانو چې خپل مشر مړ وليد او د مسلمانانو يو لوی پوځ د دوی په لوري روان و؛ د جګړې له ميدان څخه فرار وکړ. سردارانو هغوی تعقيب کړل او د جمرود په قلعه کې يې

کلابند کړل. سکان په قلعه کې تنگ شول، قلعه يې پرېښوده او د پېښور خواته يې مخه کړه. سردارانو غوښتل چې پېښور هم ونيسي. عبدالجبار خان ټينگار وکړ، چې امير دوست محمد خان څخه بايد هدايت واخيستل شي. د ليک په ذريعه يې د هغه څخه د هدايت غوښتنه وکړه. امير دوست محمد خان د رنجيت سنگ څخه د هري سنگ د لښکرکشۍ پوښتنه وکړه؛ رنجيت سنگ عذر وکړ او د هري سنگ دا کار يې يوه تېروتنه وگڼله، د جگړې له تصميم څخه يې ناخبري وښوده او د دوستۍ د ټينگېدو غوښتونکی شو. دغه راز يې د پنجاب، کشمير او ديرجاتو په نيولو ځان ناخبره وښود. امير دوست محمد خان د رنجيت سنگ پر عذر غوښتنه بسنه وکړه، او سرداران يې کابل ته راوغوښتل. (۷م۱۷۷)

بخارا ته د تللو عوامل:

شاه شجاع چې د انگريزانو په مرسته غزنی ونيو، امير دوست محمد خان له هېواد څخه د وتلو اراده وکړه. وزير محمد اکبر خان غوښتل چې ايران ته ولاړ شي، خو د خپل ورور عبدالجبار خان په غوښتنه بخارا ته لاړ. امير دوست محمد خان د خپلو زامنو هر يو سردار محمد افضل خان، سردار محمد اکبر خان، سردار محمد اعظيم خان، سردار شېرعلي خان، سردار ولي محمد خان، سردار محمد امين خان، سردار محمد شريف خان، او د ورونو له زامنو لکه سردار سلطان احمد خان، سردار محمد عمرخان، سردار سمندرخان او نور .... چې دده د ملگرو شمېر تقريباً ۱۰۰۰ تنو ته رسېده، له تاشقرغان څخه بخارا ته ولاړل؛ خو د بخارا پاچا د دوی احترام ونکړ، د اوسېدو ځای يې سم نه و او کوم خرڅ يې چې دوی ته ورکاوه، کفايت يې نه کاوه. افغانستان ته د امير دوست محمد خان له راتگ څخه وروسته وزير محمد اکبر خان، سلطان احمد خان د بخارا پاچا امير نصرالله خان له خوا بنديان شول، چې حضرت صاحب عبدالشکور چې نوموړی په بخارا کې اوسېده او د بخارا امير هغه ته خاص احترام درلود، نوموړی پاچا يې مريد هم و؛ د هغه د سپارښتنې په وجه په (۱۲۵۷هـ ق) کال کې له بنده خلاص شو او د کابل په لور يې حرکت وکړ، چې د باميانو د شېخ علي او غوربند له لارې کابل ته داخل شو. (۳م۳۸)

د انگرېزانو پر ضد جهاد کې گډون او د مکناټن وژنه:

غازي وزير محمد اکبرخان (۱۲۵۷هـ ق) کال د روژې په ۱۷ مه د (۱۸۴۲ز) کال د نوامبر په مياشت کې کابل ته د رارسېدو سره سم د ملي پاڅون له مشرانو سره يوځای شو او هغه تشه چې د عبدالله خان اڅکزي د شهادت چې د (۱۸۴۱ز) کال د نوامبر په ۲۹ نېټه زخمي کېدو وروسته وفات شو، ډکه کړه. د (۱۸۴۱ز) کال د نوامبر په ۲۲ نېټه مير مسجدي خان هم د مسموم کېدو څخه وروسته وفات شو. د (۱۸۴۱) د نوامبر ۲۸ مه نېټه محمد شاه خان بابکرخېل هم د مجاهدينو سره يوځای شو. (۵م۵۵۵)

مکناټن د افغانانو د شهامت او قربانيو په پايله کې خپل پوځ ته د اذوقې په برابرولو کې ناتوانه شو، په توطيه يې لاس پورې کړ، ترڅو د امين الله خان لوگري او وزير محمد اکبر خان سره اړيکې ټينگې کړي او د دوی ترمنځ مخالفت پيدا کړي. وزير محمد اکبرخان سردار سلطان احمد خان د سردار محمد اعظيم خان زوی ورولېږه. مکناټن هغه ته د (۵) ماده ييز تړون مسوده ورلېږله، چې په هغه کې لاندې مواد پکې ځای پرځای شوي وو:

۱- د شاه شجاع واکمني به مني. ۲- د وزارت څوکۍ وزير محمد اکبرخان يا د هغه په خوښه د هغه پلار دوست محمد خان ته ورکول کېږي. ۳- د کال په دوه لکه روپۍ دوی (وزير محمد اکبرخان) ته ورکول کېږي. ۴- د افغانستان په کورنيو چارو کې به مداخله نه کوي. ۵- وزير محمد اکبرخان به امين الله خان دستگير او انگليسانو ته به يې سپاري او نور ملي رهبران به له کابل څخه وباسي. مکناټن دده (وزيراکبرخان) څخه پټ د امين الله خان لوگري او محمد زمان خان سره هم اړيکې ټينگې کړې وې، ترڅو د ملي پاڅون رهبران په خپل منځ کې بې اتفاقه کړي؛ خو دغو وطنپالو ملي رهبرانو د مکناټن دا ټول فعاليتونه يو بل سره شريکول او د هغه توطيه يې افشا کوله، خو مکناټن ددې لپاره چې په خپله وعده کې ځان ريښتينی وښايي، د پورتني تړون پر سند يې لاسليک وکړ او هم يې خپله تفنگچه وزير محمد اکبرخان ته واستوله. وزير محمد اکبرخان د مکناټن د تېرايستلو او اعتماد په خاطر سردار سطان احمد خان د هغوی پوځي چوڼۍ ته واستاوه او په مکتوب کې يې ليکلي و، چې اوس درې ميلونه او د کال څلور سوه زره روپۍ ورکړي. د وزير محمد اکبرخان مطلب دا و، چې مکناټن دده سره غونډې کولو ته حاضر شي. (۵م۵۵۷)

د(۱۸۴۱ز) کال د ډسمبر په۲۳مه مکناټن، تريور، کپتان لارنسل او کپتان مکنزي د سورو له يوې قطعې سره له چونۍ څخه خارج د محمود خان قلعه خواته (۲۰۰ قدمه) له نظامي چونۍ څخه ليرې چې د غونډې ځای ټاکل شوی و، حرکت وکړ. د مکناټن له رسېدو سره سم وزير محمد اکبرخان، محمدشاه خان بابکرخېل د وزير محمد اکبرخان خسر نه، دوست محمد خان د محمدشاه خان بابکرخېل ورور، خدابخش خان د محمدشاه خان ورور، غلام محي الدين خان، نايب مومن خان غلجی، سردار سلطان احمد خان د محمد اعظيم خان زوی او يو څو تنه په ډېرو ناست وليدل. سلطان احمد خان د مکناټن هرکلی وکړ او خبرې په اواره ځمکه په يو افغاني پټو باندې پيل شوې. په غونډه کې مکناټن او د هغه درې واړه کپتانان، په مقابل لوري کې يې وزير محمد اکبرخان، سلطان احمد خان او محمدشاه خان بابکرخېل ناست وو. د محمدشاه بابکرخېل ورونه دوست محمد خان او خدابخش خان او محي الدين خان غلجی د دوی شاته ولاړ وو، خبرې پيل شوې. وزير محمد اکبرخان هغه دواړه سندونه چې مکناټن امين الله خان لوګري او وزير محمد اکبرخان ته استولي وو، وروښودل او هم يې د هغو ضد ونقيض وعدې چې د وتلو او پاتې کېدو په اړه يې کړې وې، وروښودلې او دغو خبرو ۱۵ دقيقې دوام وکړ. (۵م۵۵۹)

د مکناټن وژنه:

وزير محمد اکبرخان مکناټن ته وويل چې نور مونږ نشو کولای چې ستاسې په وعدو اعتبار وکړو، مونږ مجبور يو، چې تاسې د ګروګان په شکل وساتو، ترڅو ستاسې پوځونه د افغانستان څخه ووځي. بيا به مونږ تاسې برتانوي هند ته ولېږو. مکناټن چې قانع کوونکی ځواب يې نه درلود، عذر يې کاوه. بيا وزير محمد اکبرخان وويل بهتره داده چې تاسې له مونږ سره واوسېږئ، تر څو نتيجې ته ورسېږو، او د دوی د نيولو امر يې وکړ.

مکناټن وزير محمد اکبرخان تر يو لاس او سردار سلطان احمد خان تر بل لاس ونيو، کپتان تريور څخه دوست محمد خان وسله واخيستله، کپتان لارنسل څخه محمدشاه خان وسله واخيستله، کپتان مکنزي څخه غلام محي الدين خان وسله واخيستله. مکناټن او کپتان تريور له غازيانو سره له تللو ډډه وکړه او غازي وزير محمد اکبرخان مکناټن په هغه تفنګچه وواژه، چې مکناټن ورکړې وه. کپتان مکنزي د محمدشاه خان بابکرخېل په پناه کې له مرګه خلاص شو او کپتان لارنس ته لار خوشې شوه، چې پاتې انګرېزان له پېښې څخه خبر کړي. (۳)

غازيان د محمود قلعه ته داخل شول، هغوی غوښتل چې مکنزي هم ووژني، خو غازي وزير محمد اکبر خان مانع شو. له دې وروسته ۲۴ کلن وزير محمد اکبر خان د ملي رهبرانو له خوا د مشر په توګه وټاکل شو. (۵م۵۵۹)

د وزارت دنده:

د (۱۲۵۸هـ ق) د صفرې پر ۲۳مه د (۱۸۴۲ز) کال د اپريل په دريېمه شاه شجاع د کابل د بالاحصار څخه جلال اباد ته د تګ پر مهال د سياه سنګ په سيمه کې د نواب محمد زمان خان بارکزي د زوی شجاع الدوله له خوا ووژل شو. په کابل کې د امين الله خان لوګري او ځينو مشرانو د شاه شجاع زوی فتح جنګ پاچا کړ، خو ځينو مشرانو لکه نواب محمد زمان خان، مير حاجي د مير محمد عظيم خان زوی ددې پرېکړې مخالفت وکړ. کله چې فتح جنګ د خپل فعاليت ساحه تنګه وليده او ځان يې کلابند حس کړ، د مجبوريت په وجه يې د سولې لاره غوره کړه. په دې وخت کې د ملي مشرانو هر يو محمد شاه خان بابکرخېل، امين الله خان لوګري او سيد احمد خان بالاحصاري د يو داسې ترون طرحه جوړه کړه، چې فتح جنګ پاچا او سردار محمد اکبرخان دې وزير وي او دوی دواړه دې په يوځای د پاچاهۍ چارې سنبال کړي. وزير محمد اکبرخان دا ترون قبول کړ. دوی د ترون متن او د امين الله خان لوګري او محمدشاه خان بابکرخېل ځانګړې ضمانت ليکونه يې په قران شريف کې کېښودل او فتح جنګ ته يې ولېږل. له دې وروسته فتح جنګ د بالاحصار دروازې د وزير محمد اکبرخان پر مخ پرانستې او هغه بالاحصار ته داخل شو. له همدې وخت (۱۸۴۲ز) کال څخه وزير محمد اکبرخان د وزير په نوم ياد او تر نن پورې په همدې نوم ياد ېږي. (۱م۲۳۴)

نصير مهرين هم په دې اړه ورته نظر لري او داسې ليکي: ((از اختلافات که ناشی از قتل شاه شجاع و نبودن شاه بوجود امده بود، منجر به زدوخوردهای خونين گرديد. سرانجام پسر شاه شجاع مقتول را به حيث شاه، محمد اکبرخان بعنوان وزير فتح جنگ انتخاب گرديد، که از انروز به بعد به عنوان وزير محمد اکبرخان نامیده میشود)). (۱۰م۲۹)

وزير محمد اکبر خان د هېواد د ازادۍ څخه وروسته د داخلي اختلافاتو له منځه وړلو په خاطر د فتح جنگ وزارت قبول کړ.

مړينه:

د غه لوی مجاهد ، ملي قهرمان او غازي د (۱۲۲۳هـ ق) کال د صفرې په ۲مه د (۱۲۲۵) لمريز کال د دلوې په شلمه د (۱۸۴۷ز) کال د فبروري په لسمه نېټه وفات شو. قاضي عطاالله په خپل اثر پښتو په تاريخ کې په دې اړه داسې ليکي: ((اکبرخان څه معمولي شاني ناجوړه شو او يو هندو حکيم د هغه د علاج لپاره راغی، دې حکيم سره په دبلي کې ډېرې گولۍ وې، چې په هغې کې دوه گولۍ چې دې هندو حکيم ته معلومې او د زهرو گولۍ وې. د هغه دبلي نه دوه بې ضرره گولۍ دې حکيم د اکبر خان په مخکې د هغه د اعتبار راوستلو لپاره وخوړلې او د زهرو گولۍ يې اکبرخان ته ورکړې، اکبرخان دا گولۍ وخوړلې او په دريو گينټو کې يې دننه ساه ورکړه.)) (۹م م۵۷۶_۵۷۷)

ښاغلی مير غلام محمد غبار هم دې نظر ته ورته نظر ليکي: ((اکبرخان د ملاريا تبې ونيو ، چې د يو هندي ډاکتر له خوا د زهرو د گوليو په ورکولو سره مسموم شو ، چې په څو ساعتونو کې يې د انگليسانو په گټه له دې نړۍ څخه سترگې پټې کړې، چې دده مړی د کابل له لارې بلخ ته انتقال او د مزار شريف په روضه کې خښ شو.)) (۵م۵۷۶)

پايله:

انگرېزانو خپلې موخې ته د رسېدو په خاطر په (۱۸۳۹ز) کال پر افغانستان يرغل وکړ، هغوی ددې لپاره زمونږ هېواد په يو مستعمره هېواد بدل کړ، ترڅو هند د نورو استعماري هېوادونو د يرغل څخه وساتي، خو د افغانانو د قربانيو په پايله کې د دوی دا ارمان پوره نشو. د هېواد د نورو غازيانو په خوا کې يو هم وزير محمد اکبرخان ؤ، چې د انگرېزانو پر ضد مبارزه او جهاد کې يې ستره ونډه درلوده. انگريزانو د خپل سفير له وژنې وروسته هڅه کوله، چې پاتې انگرېزان د افغانستان څخه ژوندي وباسي؛ سياسي هلې ځلې يې پيل کړې او د برتانوي هند لويې امپراطورۍ خپله نظامي ماتې ومنله، خو ددې لپاره چې خپله ماتې پټه کړي، د يوه نظامي مانور څخه وروسته يې د سومنات دروازه چې سلطان محمود غزنوي راوړې وه، د ځان سره يې يوړه او د خپلې ماتې د پټولو په خاطر يوه پوځي مشر هنديانو ته داسې وويل: ((د هندوستان خلکو زمونږ فاتحو عسکرو د سومنات دروازه له افغانستان څخه راوړه، چې اوس يې تاسو ته سپارو ، لازمه ده چې زمونږ او ستاسې اتحاد دايمي اوسي.)) (۴م۲۳)

زمونږ هېواد په دې جگړه کې ډېر زيان وليد ، خو د نړۍ ډېر لوی استعمار ته يې نظامي ماتې ورکړه او انگرېزان يې په دې وپوهول چې د افغانستان خلک د ازادۍ سره مينه لري، ددې هېواد نيول او ساتل يو ناشونی کار دی؛ خو له وتلو وروسته يې هم د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله جاري وساتله.

Abstract:

A short introduction to the life of wazeer Muhammad Akbar khan. In the issue we attempted to talk a bout the different part of akbar khans life, such as going to bukhara , fighiting with hary sing being the leader of Mujahiddin , in first attack by britihs killing of maknatan, the ambassador of British and finally dying of akbar khan, we strugle to talk a bout the relation ship of Ghazi akbar khan , with the other Ahazies. selecting of faith Jang as a king for the success of Jihad accepting to be the Ministery for being loyat to has goals and special struggle of akbar khan for the profit of his country and we discuse so on a bout akbar khan.

اخځليکونه:

1. ارشاد ، اورنگزيب. (۱۳۸۹ل). نوميالی او شمله ور غازي محمد شاه خان بابکرخېل. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
2. حبيبي، عبدالحی. (۱۳۸۰ل). تاريخ تجزيه شاهنشاهی افغان. پيشاور: مرکز تحقيقاتی علامه حبيبی اداره خدمات کلتوري افغانستان.
3. رشاد ، عبدالشکور. (۱۳۸۵ل). ملي اتل غازي وزير محمد اکبرخان. کندهار: علامه رشاد اکاډيمي.

4. عطايي، محمد ابراهيم. (۱۳۸۲ل). د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه- دويم چاپ. کابل: انتشارات ميوند- سباکتابخانه.
5. غبار، مير غلام محمد. (۱۳۴۶ هـ ش). افغانستان در مسير تاريخ. کابل: مطبعه دولتي.
6. کاتب، فيض محمد. (۱۳۷۲ هـ ش). سراج التواريخ، جلد اول. موسسه انتشارات بلخ.
7. کاکاخېل، سيد بهادرشاه ظفر. (۱۹۲۵ ز). پښتانه د تاريخ په رڼا کې. پېښور: يونيورستي بک ايجنسي.
8. کهزاد، احمدعلي. (۱۳۷۶ هـ ش). در زوايای تاريخ معاصر افغانستان. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
9. قاضي عطاءالله (۲۰۰۴ز). د پښتنو تاريخ. پېښور خيبر بازار.
10. نصير، مهرين. (۱۳۸۵ل). کمپنی هند شرقی و مرگ وزير محمد اکبرخان. پېښور: انتشارات مطبعه ميوند.

پوهندوی گل اضغر (الوزی)- ښوونې او روزنې پوهنځی- کېمیا څانگه

د تېزابي باران د لاملونو او اغېزو څېړنه

لنډيز:

د چاپېريالي ستونزو څخه چې نن ورځ ورسره نړيوال مخامخ دي، يو هم تېزابي باران دی. تېزابي باران هغه ږلۍ، واورې يا باران ته ويل کېږي چې تېزاب په کې حل وي؛ هغه باران چې pH يې له ۵.۲ څخه کم وي، تېزابي خاصيت لري، د pH دغه مقدار د CO_2 اوبو او تېزابو ترمنځ د کېمياوي تعادل بيانوونکي ده. تېزابي باران د زيان لرونکو ايکولوژيکي پايلو سره مل وي چې نباتاتو او ودانيو باندې ناوړه اغېزه کوي.

سريزه:

د چاپېريال له زياتو ستونزو څخه يوه هم تېزابي باران دی، چې د نړۍ پرمختللي هېوادونه ورسره مخامخ دي. هغه غازات چې د SO_2 او NO_x په شکل له فابريکو، موټرونو، طبيعي جوړښتونو څخه هوا ته پورته کېږي، هلته د اوبو د څاڅکو سره په يو ځای کېدو تېزاب جوړوي؛ دغه تېزاب چې د باران په شکل د ځمکې مخ ته راځي، نو په ځمکه کې په ودانيو خصوصاً هغه ودانۍ چې د مرمرو او اهکي موادو څخه جوړې شوي وي، تخريبوي؛ ځنگلونو کې د ونو پوستکي اړوي او د ناروغيو په مقابل کې د هغوی مقاومت ته زيان اړوي. دغه راز د ځمکې پر مخ اوبيزو ژوو ته زيان اړوي. اړينه ده چې ددې پديدې د مخنيوي لپاره د هغو غازاتو هوا ته د خپرېدو مخنيوی وشي، چې د تېزابي باران لامل کېږي. هغه فابريکې چې هوا ته د SO_2 غاز خپروي او هم نقليه وسايل چې د نايتروجن اکسايد غازونه خپروي. همدارنگه اړينه ده چې په ښارونو کې د نفوس د زيات تراکم د مخنيوي لپاره په کليو کې د ژوند شرايطو د ښه کولو لپاره هڅې وشي.

موخې:

- د تېزابي باران او د هغې د عواملو او دغه رازيې د اغېزو پېژندل.
- د تېزابي باران د مخنيوي د لارو چارو پېژندل.

تاريخچه:

د تېزابي باران تخريبي اغېزې په آهکي او مرمرينو ډبرو باندې په اوولسمه پېړۍ کې د جان ايويلين (John Evelyn) په وسيله وپېژندل شوې، خو د ۲۰ پېړۍ شپږمې لسيزې پورې بېرته هېرې شوې. په ۱۸۷۳ کال کې انگليسي پوهه رابرت انگوس سميت (Robert Angus Smith) لومړی کس ؤ، چې د تېزابي باران ستونزه يې مطرح کړه. د صنعتي انقلاب څخه وروسته اتموسفير ته د SO_2 او NO_x غازاتو خپراوی زيات شو. په ۱۹۵۲ کال کې د تېزابي باران وريځو د لندن ښار تياره کړ او خلک يې له زياتو ستونزو سره مخ کړل چې ۴۰۰۰ ناروغ کسان ددې پديدې له امله مړه شول. په متحده ايالاتو کې د تېزابي باران په هکله عامه پوهاوی په ۱۹۶۰ کال کې زيات شو، چې نيويارک ټايمز مجلې د نيوهمشاير د ځنگلونو د تېزابي باران اغېزو پايلې په يو راپور کې خپرې کړې، چې په صنعتي ساحو کې د 2,4 په اندازه pH لرونکي تېزابي باران راپور ورکړل شو.(۸م۱۳۹)

پېژندنه:

صنعتي تېزابي باران چې په غيرمعمولي ډول تېزابي خواص ولري، يعنې د هايدروجن د ايونو زيات شمېر ولري، په هوا کې د CO_2 غاز له اوبو سره تعامل کوي، چې کاربونيک اسيد جوړوي. کاربونيک اسيد يو ضعيف تېزاب دی، چې د جوړېدو تعامل يې په لاندې ډول دی:

$$H_2O\ (L) + CO_2(g) \rightleftharpoons H_2CO_3\ (aq)$$

کاربونيک اسيد بيا په اوبو کې ايونايزکېږي، چې هايدرونيم او کاربونات ايونونه جوړوي:

$$H_2O\ (L) + H_2CO_3(aq) \rightleftharpoons HCO_3^-(aq) + H_3O^+$$

زياتره تېزاب لرونکی باران بيا نور کېمياوي موادهم لري، چې د هغوی pH اغېزمن کوي، چې ښه بېلګه يې نايتريک اسيد دی چې د الکتريکي دس جارچ په وسيله په اتموسفير کې د رعد و برق په وخت کې توليد ېږي. همدارنګه سلفوريک اسيد چې د ډبرو سکارو د سوزولو څخه تشکيلېږي. همدارنګه د نايتروجن اکسايدونه چې د موټرونو څخه خپرېږي، د اوبو سره په يو ځای کېدو نايتريک اسيد جوړوي:

$$SO_2\ (g) + H_2O(L) \rightarrow H_2SO_3(aq)$$
$$H_2O\ (L) + NO_2\ (g) \rightarrow HNO_3(aq)$$

دغه ټول تېزابونه چې په باران کې شتون ولري، هغه باران ته اسيدي خاصيت ورکوي. (۳م۲۸)



۱- شکل: د تېزابي باران د جوړېدو دوراني حالت وينئ.

د تېزابي باران عوامل:

د باران اوبه هېڅکله خالصې نه وي او د صنعتي فعاليتونو په پرمختګ سره د هغې ناخالصتوب زياتوالی مومي. طبيعي ناخالصي په باران کې د منحلو مالګو شتون سره تړاو لري، خو ګازات او لوګی د انسان د فعاليت پورې اړه لري. د ځنګلونو اور اخيستنه هم د يو عامل په ډول پېژندل کېږي؛ اتش فشاني فعاليتونه په محلي ډول د تېزابي باران لامل ګرځي، په صنعتي ساحاتو کې د باد جريان ددې لامل ګرځي چې له کارخانو څخه وتونکی لوګی په پراخه ساحه کې خپاره کړي.

۲- شکل: په متحده ايالاتو کې د ګاوين په نوم د برېښنا د توليد فابريکه چې د ډبرو سکاره پکې سوزي.

په تېزابي باران کې عمده تېزابونه سلفوريک اسيد او نايتريک اسيد دي، په ټوليز ډول دغه تېزابونه په هوا کې د لومړني ډول ککړوونکو د SO_2 غاز او NO_x شتون پورې تړاو لري. په نړيواله سطح د SO_2 غاز اتش فشاني فعاليتونو او د نباتاتو د تجزيې څخه هم منځته راځي او په انساني فعاليت کې د ډېرو سکرو سوځول چې SO_2 توليدوي. همدارنګه د نفتو د صنعت د تصفيې په وخت کې SO_2 توليد ېږي او هم د H_2S په شکل هوا او طبيعي ګاز څخه خپرېږي. زياتره کاني مواد په طبيعت کې د سلفايد په شکل شتون لري، د هغوی څخه د فلزاتو د استخراج په وخت کې SO_2 هوا ته خپرېږي، چې د اوبو بخاراتو سره په هوا کې ترکيب کېږي او H_2SO_4 توليدوي چې په ټيټه تودوخه کې په اسيدي باران بدلېږي. (۲م۱۲)

د NO_x غاز لږ مقدار د رعد او برق په وخت کې توليد ېږي، ځکه چې اکسيجن او نايتروجن دواړه د هوا په ترکيب کې شته دي، خو زياتره د NO_x غاز بټيو او موټرونو کې د نفتي موادو له سوزېدو څخه توليد ېږي. (۷م۴۱۳)

د تېزابي باران اغېزې:

د اسيدي باران هغه اوبه چې اسيدي خاصيت لري، کولای شي چې د آهکو په ډبره اغېزه وکړي او هغه په ځان کې حل کړي:

$$CO_2(aq) + H_2O(L) + CaCO_3(s) \rightleftharpoons Ca(HCO_3)_2(aq)$$

کلسيم هايدروجن کاربونيت په اوبو کې د حلېدو وړتيا لري، په همدې اساس کله چې دغه اوبه د چونې ډبرې له پاسه يا منځ څخه تېرېږي، هغه مينځي او ځان سره يې وړي. دغه اغېزه ډېره جالبه وي او هغه ساحو څخه چې چونه پکې شتون ولري، د تېرېدو په وخت کې زړه راښکونکې جوړښتونه منځته راوړي. هغه ودانې چې له آهکو او مرمرو څخه جوړې شوي وي، نو اسيدي باران هغه په ځان کې حلوي او دغه ودانۍ او جوړښتونه په تدريجي ډول کوچني کېږي او تخريبېږي، د ځمکې لاندې هغه طبقې چې دغه ډول جوړښت لري، زياتره تر اغېز لاندې راولي. (۴م۴۴)

پر نباتاتو او ځنګلونو يې اغېزې:

په ځنګلونو او زراعتي محصولاتو باندې د تېزابي باران اغېزه په سختۍ سره ټاکل کېدای شي. لکه چې پوهېږو ځنګلونه د انسان په ژوند کې مهم رول لري، ونې د سلولوز په لاس راوړلو کې اهميت لري، کومو ته چې د کاغذ د جوړولو په صنعت کې اړتيا ليدل کېږي. ځنګلونه خپل چاپېريال کې آب وهوا تنظيموي، همدارنګه د وحشي حيواناتو د ژوند لپاره پناګاه جوړوي.

۳- شکل: چک جمهوريت کې د جزيرا د غره ځنګل چې تېزابي باران اغېزمن کړی دی

د نړۍ په هره برخه کې چېرته چې د تېزابي باران د جوړېدو عوامل شتون لري، هلته نباتات د زيات خطر سره مخامخ دي. کله چې په ځنګلونو باندې تېزابي باران وشي، د هغوی وده ګډوډوي او د هغوی پوستکي ته زيان رسوي؛ د پوستکي زيان ددې لامل ګرځي چې هغوی د حشراتو او نباتي ناروغيو تر حملې لاندې راشي او په لږه موده کې له نمو څخه ولوېږي. تېزابي باران همدارنګه د ونو په شاوخوا خاورو بده اغېزه کوي، د ونو غذايي مواد چې په خاوره کې وي، له منځه ځي. (۵م۴۳)

اسيدي باران تاريخي ودانيو ته هم زيان رسوي، د نړۍ مشهورې ودانۍ لکه پارتنون ودانۍ Parthenon په اتن کې، د ازادۍ مجسمه Independence sculpture په نيورياک کې، د سن پول son pool کليسا په لندن کې، په هندوستان کې تاج محل، په روم کې د ترايان trayon ودانۍ د کولن Coln لرغونې ودانۍ په کولن المان کې د تېزابي باران تر اغېزې لاندې راغلي او د هغوی څېرو او شکل تغير کړی دی. څرنګه چې په دغه ودانيو کې آهکي ډبرې کارول شوي، هغوی د کېمياوي تعامل څخه وروسته په پوډري شکل اړوي. (۱م۱۲۲)

د همدغو تعاملاتو په اساس د امريکا په واشنګټن کې د ابراهم لينکن مرمري مجسمه اتيا کلونو په لړ کې تقريباً د اته ملي مترو څخه زياته کمه شوې ده. همدارنګه اسيدي باران د ريل ګاډي پټلۍ، فلزي پلونو، موټرونو او د هغوی په جريان کې واقع شوو نورو شيانو ته زيان رسوي.

د تېزابي باران د مخنيوي لارې چارې:

د فضا او چاپېريال ککړتيا د يوې زيانمنې ستونزې په ډول کارپوهان دې ته واداره کړل، چې د مخنيوي لپاره يې هلې ځلې وکړي. د تېزابي ککړتيا د مخنيوي له ساده لارو څخه يوه هم د ډبرو سکرو مخکې له دې چې وسوځېږي، تصفيه کول دي. ددې کار لپاره د ډبرو سکاره مخکې له دې چې مصرف شي، واړه کوي او په اوبو کې يې پرېمينځي يا د خاصو عمليو په سرته رسولو سره د هغې سلفر لرې کوي. د نفتو په هکله هم ورته د تصفيې عمل صورت نيسي او په خاصو طريقو د هغوی سلفر تصفيه کوي. د اسيدي ککړتيا په مخنيوي کې له فلترونو څخه ګټه اخيستل زيات ارزښت لري، چې موټرونو او نقليه وسايلو کې د پام وړ اسيدي ککړتيا په مخنيوي کې ستر رول لري.



۴- شکل: فلزي کتلستي کنورټر چې د هوا د ککړتيا په مخنيوي کې ستر رول لري.

له ټولو څخه مهمه داده چې د انرژۍ د تامين لپاره پلان جوړونه وشي، په حقيقت کې څرنګه چې کارخانې او نقليه وسايل د اسيدي باران سره مستقيمې اړيکې لري، د بلې ځای نيوونکې مادې کارونه چې د فوسيلي سوځېدونکو موادو ځای ونيسي، په اوږدمهال کې د چاپېريال ککړتيا يوه معقوله لار ده؛ له دې لارې کولای شو چې د انرژۍ له نويو سرچينو لکه لمريزې انرژۍ، بادي انرژۍ څخه ګټه واخلو، د کومو موادو مصرف چې د هوا ککړتيا له ځان سره نه لري. دا خبره په زړه پورې ده چې شونې ده يو هېواد اسيدي ککړتيا توليدوونکې سرچينې ونلري، ولې په سختۍ سره د تېزابي باران تر حملې لاندې راشي چې ښه بېلګه يې کاناډا ده چې هر کال تېزابي وريځې له شمالي امريکا څخه ورته ورځي. د اسيدي ککړتيا موضوع زياتره صنعتي پرمختللي هېوادونو کې معمول ده، ددغو ملکونو خلک د اسيدي ککړتيا څخه زيان وينې؛ ځنګلونه او نباتي منابع يې د نابودۍ په حال کې دي، نو ځکه د خلکو له لخوا ددې چاپېريالي ستونزو په مقابل کې مقاومت زور اخيستی دی، داسې ګوندونه (Green Parties) جوړ شوي، چې د ککړتيا په مقابل کې د مسوولينو د پام اړولو او په دې لړ کې د مبارزې په خاطر ايجاد شوي دي. د يادونې وړ ده چې دغه ستونزه مخ پر ودې هېوادونو کې نسبت پرمختللیو هېوادونو ته نه رسېږي، خو دا بايد هير نکړو، که څه هم زمونږ هېواد زياتې صنعتي فابريکې نه لري، خو د هېواد پراخه مساحت ته په کتو د نفوس تراکم په ځانګړو محدودو ساحو کې تمرکز مومي، چې د چاپېريالي ستونزو د پيدا کېدو لامل ګرځي. (۲م۱۲)

پايله:

څرګنده شوه چې تېزابي باران په نړۍ کې يوه چاپېريالي ستونزه ده، چې خلک ورسره مخامخ دي. تېزابي باران هغه ږلۍ، واورې يا باران ته ويل کېږي چې تېزاب په کې حل شوي وي. هغه عوامل وپېژندل شول چې هوا ته د سلفر، نايتروجن او کاربن غازونه خپروي. تېزابي باران زيانمنو ايکولوژيکي پايلو سره مل وي، چې نباتاتو، ودانيو باندې نه غوښتونکې خرابې اغېزې لري، چې د مخنيوي په اړه يې بايد په مقاله کې ذکر شوې لارې چارې تعقيب او مراعت شي.

وړانديزونه:

۱. دولت بايد په کليو او بانډو کې د ژوند شرايطو برابرولو کې پوره هڅې وکړي، تر څو په ښارونو کې د نفوس د زيات تراکم څخه مخنيوی وشي.

۲. نوي صنعتي پارکونه او صنعتي ساحې بايد له ښارونو څخه ليرې جوړې شي.

۳. هغه سوځېدونکي مواد چې هوا ته د سلفر ډای اکسايد او نايتروجني اکسايدونو د وتلو لامل ګرځي، د سوخت څخه يې تر زياته بريده مخنيوی وشي.

۴. د رسنيو او نورو رسنيزو لارو څخه د ککړتيا د مخنيوي په خاطر د روزنيزو او عامه پوهاوي د پروګرامونو خپرول.

Abstract:

Acid Rain is an ecological problem in the world.Snow,rain which has acidic properties and its pH is lower from 5,6 called Acid Rain,when SO2,NOX or CO2 react with water vapors in the air forming acid rain which has dangerous effects on plants, buildings .To prevent emission of these gases to the air,The factoies Should be used filters also Vehicles should be have catalytic converters to control the gases emission.

اخځليکونه:

۱. رقيه عابدی کرجيبان، زهرا ايمانی پور واصفی.(۱۳۸۱). شيمی هوا. انتشارات محراب قلم.

۲. مخدوم مجيد(مترجم). (۱۳۷۷). زيستن در محيط زيست. انتشارات دانشگاه تهران.

۳. مسعود گياهی. (۱۳۸۷). شيمی هوا کره. انتشارات مدرسه.

۴. مهديه سالار کيا، نعمت الله ارشدی (مترجمين). (۱۳۹۱). شيمی عمومی جونز. انتشارات مدرسه.

5. J.Laurence kulp. and Herrick, C.N. (1999), The Causes and Effects of Acid Deposition. Interim Assessment, National Acid Precipitation Assessment Program. Washington, D.C

6. David L. Alles,(2009), Asian Air Pollution,Western Washington University.

7. Manahan,Stanley. E, (2000).Enveronmental Chemistry,Lewis Publishers,United states.

8. Richter, A., et al. (2005). Increase in tropospheric nitrogen dioxide over China observed from space. Nature, 437(Sept 1).

پوهـــندوی محـــب الـــــرحمن (جـنتي)
ساينس پوهنځی- رياضي او فزيک څانګه

د سمسون او ګوس د مربعي فورمولونو پرتله کول

لنډيز:
ددې مقالې محتوی د معينو انتګرالونو د محاسبه کولو دوه اساسي طريقې دي، چې د هغوی په مرسته کولای شو په انجينرۍ، تخنيکي علومو، اقتصاد، کمپيوټر ساينس او داسې نورو علومو کې مربوطه مسايل تر يو معين دقت محاسبه کړو. په دې ځای کې لومړی د ګوس د درې نقطو لپاره مربعي فورمول او بيا د سمسون د درې نقطو لپاره مربعي فورمول تشريح شوی او بيا سره مقايسه شوی دی؛ په پای کې دا ښودل شوې چې د معينو انتګرالونو لپاره د ګوس مربعي فورمول يو مناسب او دقيق فورمول دی.

سريزه:
که چېرې د $f(x)$ تابع د $[a,b]$ په قطعه خط کې متمادي او $G(x)$ د $f(x)$ تابع اوليه تابع وي، نو په دې صورت کې د $f(x)$ تابع د معين انتګرال د محاسبه کولو لپاره د لاندې فورمول څخه چې د نيوتن- ليبنتز (Newton – Libniz) د فورمول په نوم يادېږي، ګټه اخيستل کېږي.[۲م م۵۱-۵۰]

$$\int_a^b f(x)\,dx = G(x) - G(x)$$

په اکثرو حالتونو مونږ نه شو کولای چې اوليه تابع پيدا کړو او يا اکثراً داسې واقع شي چې د $f(x)$ تابع د يو جدول په شکل ورکول کېږي، نو په همدې ترتيب د انتګرال د محاسبه کولو لپاره تقريبي فورمولونو ته ضرورت ليدل کېږي، چې مونږ يې يادونه کوو. د يوګوني انتګرالونو تقريبي محاسبې په محاسبوي رياضياتو کې د مربعي طريقو په نوم يادېږي. د مربعي فورمولونو ډېر ډولونه شته چې کولای شو د هغې له جملې څخه د مستطيلي، ذوذنقه اي، چبشيف، ګوس او سمسون طريقو څخه چې خورا مهمې طريقې دي، يادونه کوو. دا ښودل شوي چې د مستطيلي، ذوذنقه اي او چبشيف تر مربعي طريقو، د سمسون طريقې دقت ډېر دی.[۱م م۹۲-۸۴]

په دې برخه کې د يو تعداد ضروري موضوعاتو څخه يادونه کوو. د لژاندر (Legendre)پولينوم د لاندې شکل لرونکی دی:

$$p_n\ (x) = \frac{1}{2^n n!}\frac{d^n}{dx^n}\ [(x^2-1)^n] \quad , (n = 0,1,2,\dots,\infty)$$

ددې پولينوم د درې اساسي خصوصيتونو څخه يادونه کوو:[۵م م۱۹۲-۱۹۰]

$$i) \quad p_n\ (x) = 1 \quad , \quad p_n\ (-1) = (-1)^n, n = 0,1,\dots,\infty$$

$$ii) \quad \int_{-1}^{1} p_n\ (x) Q_k\ (x)\ dx = 0\ , (k < n)$$

$Q_k\ (x)$ يو اختياري پولينوم دی، چې ترتيب يې تر n کوچنی دی. $iii)$ د $p_n\ (x)$ پولينوم د $(-1,1)$ په انتروال کې د n جذرونو لرونکی دی. کولای شو د نمونې په شکل د لژاندر پولينوم د پنځه پولينومونو ګراف وګورو په (۱ شکل) کې وګورو:

$$p_1\ (x) = 1 \quad , \quad p_2\ (x) = x \quad , \quad p_3\ (x) = \frac{1}{2}(3x^2-1)$$

$$p_4\ (x) = \frac{1}{2}(5x^3-3x) \ , \quad p_5\ (x) = \frac{1}{8}(35x^4-30x^2+3)$$



(۱- شکل)

موخې:

- د رياضي ټولو مينه والو ته د سمسون او گوس د درې نقطو ميتودونو په هکله د لازمو معلوماتو تهيه او ارايه کول.
- د تخنيکي او اقتصادي علومو مينه والو ته ددې طريقو د دقت په گوته کول.
- په کومو محاسباتو کې چې د معين انتگرالونو د تقريبي محاسبو څخه گټه اخيستل کېږي، د محاسبه کولو د دقيقې طريقې پېژندل.

د مسئلې طرح: په دې برخه کې د سمسون او گوس طريقې د درې نقطو لپاره پېژنو او بيا يې سره مقايسه کوو.

د گوس مربعي طريقه: د $f(x)$ تابع چې د $[-1,1]$ په مشخص انتروال کې ورکړ شوې، په نظر کې نيسو. مونږ مسئله دا ډول مطرح کوو:

د $t_1, t_2, \dots, t_n$ څه تعداد نقطې او د $A_1, A_2, \dots, A_n$ ثابتونه وټاکو، تر څو لاندې مربعي فورمول د $f(x)$ د n−ام ترتيب پولينومونو لپاره صدق وکړي.

$$\int_{-1}^{1} f(t)\, dt = \sum_{i=1}^{n} A_i\, f(t_i) \qquad (1)$$

د (1) فورمول د گوس د مربعي فورمول په نوم يادېږي، کله چې t_i د لژاندر پولينوم $p_n(x)$ جذرونه او A_i د لاندې سيستم په واسطه وټاکل شي:

$$\left.\begin{array}{l} \sum_{i=1}^{n} A_i = 2 \\ \sum_{i=1}^{n} A_i\ t_i = 0 \\ \\ \sum_{i=1}^{n} A_i\ t_i^{2n-2} = \frac{2}{2n-1} \\ \sum_{i=1}^{n} A_i\ t_i^{2n-1} = 0 \end{array}\right\} \quad \ldots\ldots\ldots\ldots \qquad (2)$$

اوس غواړو د ګوس مربعي فورمول لاسته راوړو، کله چې $n = 3$ وي. ددې منظور لپاره د لژاندر پولينوم لاندې شکل غوره کوي:

$$p_3\ (t) = \frac{1}{2}(5t^3 - 3t)$$

د دې پولينوم جذرونه عبارت دي له:

$$t = 0 \quad , \quad t = \sqrt{\tfrac{3}{5}} = 0{,}774597 \quad , t = -\sqrt{\tfrac{3}{5}} = -0{,}774597$$

اوس د (2) له سيستم څخه د A_2, A_1 او A_3 ضريبونه لاسته راوړو:

$$\left\{\begin{array}{l} A_1 + A_1 + A_1 = 2 \\ -\sqrt{\frac{3}{5}}A_1 + \sqrt{\frac{3}{5}}A_1 = 0 \\ \frac{3}{5}A_1 + \frac{3}{5}A_1 = -\frac{2}{3} \end{array}\right.$$

د دې سيستم د حل په نتيجه کې لاسته راوړو:

$$A_1 = A_1 = \frac{5}{9} \quad , \quad A_1 = \frac{8}{9}$$

په دې ډول د ګوس مربعي فورمول د درې نقطو لپاره لاندې شکل غوره کوي:

$$\int_{-1}^{1} f(t)\ dt = \frac{1}{9}\left[5\ f\left(-\sqrt{\frac{3}{5}}\right) + 8\ f(0) + 5\ f\left(\sqrt{\frac{3}{5}}\right)\right]$$

اوس د ګوس فورمول د $\int_a^b f(x)\ dx$ لپاره په نظر کې نيسو. [۷م م۲۲۷-۲۴۳]

د دې منظور لپاره د $x = \frac{b+a}{2} + \frac{b-a}{2}\ t$ له تعويض څخه کار اخلو. ليدل کېږي کله چې $a \le x \le b$ وي، نو $-1 \le t \le 1$ دی. همدارنګه $dx = \frac{b-a}{2}\ dt$ په نتيجه کې د (1) فورمول څخه ليکو:

$$\int_a^b f(x)\ dx = \frac{b-a}{2}\int_{-1}^{1} f\left(\frac{b+a}{2} + \frac{b-a}{2}\ t\right) dt$$

$$= \frac{b-a}{2}\ \sum_{i=1}^{n} A_i\ \ f(x_i) \qquad (3)$$

په داسې حال کې چې:

$$x_i = \frac{b+a}{2} + \frac{b-a}{2}\ t_i \ , \qquad (i = 1,2,3)$$

t_i د $p_n\ (t_i) = 0$ لژاندر پولينوم جذرونه دي. [۶م م۳۵۲-۳۵۰]

د سمسون طريقه (يا د پارابوليک فورمول): فرضوو چې $f(x)$ د $[a, b]$ په قطعه خط کې متمادي تابع ده. د $[a, b]$ انتروال په n برخو ويشو، داسې چې $x_0 = a, x_n = b, x_i = x_0 + i\ h\ (i = 0,1, \ldots n)$ او د هرې برخې طول $h = \frac{b-a}{n}$ وضع کوو. فرضوو x_i د تقسيم شويو نقطو فاصله او $y_i = f(xi)$ د $f(x)$ تابع قيمتونه په نوموړو نقطو کې وي، نو که n جفت عدد وي، لاندې فورمول د سمسون طريقې د عمومي فارمول په نوم يادوي. [۹م م۳۵۲-۳۵۰]، [۳م م۲۰۸-۲۰۵]

$$\int_a^b f(x)\ dx \approx \frac{h}{3}\ [(y_0 + y_n) + 4(y_1 + y_3 + \cdots + y_{n-1}) + 2(y_2 + y_4 + \cdots + y_{n-2})]$$

اوس که چېرې n=3 وي، یعنې فرضوو چې $f(x)$ د $M_0(x_0,y_0)$ ، $M_1(x_1,y_1)$ او $M_2(x_2,y_2)$ له نقطې څخه تېرشي، لکه په (ش۲) کې. [۸م م۳۵۲-۳۵۰]

نو په دې صورت کې:

$$\int_a^b f(x)\,dx = \int_{x_0=a}^{x_3=b} f(x)\,dx = \frac{h}{3}((y_0 + 4y_1 + y_2)...$$

د سمسون طریقه د درې نقطو لپاره: فرضوو چې $f(x)$ یوه متمادي تابع او د (x_0,y_0)، (x_1,y_1) او (x_2,y_2) نقطو څخه تېرېږي، نو د سمسون د درې نقطو فورمول او یا د سمسون کوچنی فورمول کولای شو، دارنګه ولیکو (2 ش):

$$\int_{x_0}^{x_2} f(x)\,dx = \frac{x_2-x_0}{6}\,[\,f(x_0) + 4\,f(x_1) + f(x_2)]..... (\ 4\ )$$



(۲- شکل)

د (4) فورمول د سمسون د درې نقطو فورمول او یا د پارابول فورمول په نوم یادېږي. د (4) سمسون طریقې فورمول باقي مانده لاندې شکل لري. [۴م م۳۴۲-۳۹۹]

$$R_3 = -\frac{h5}{90}\,f\,(\xi) \quad , \quad x_0 < \xi < x_2$$

اوس غواړو په عددي مثال کې د دواړو میتودونو د محاسبې دقت مقایسه کړو.

مثال: لاندې انتګرال د سمسون او ګوس په طریقه محاسبه او بیا یې مقایسه کړئ:

$$\int_{-1}^{1} \sqrt{4+x}\ dx.$$

حل: لومړی د انتګرال اصلي قیمت محاسبه کوو، پوهېږو چې d(4+x) =dx نو:

$$I = \int_{-1}^{1} \sqrt{4+x}\ dx = \int_{-1}^{1} (4+x)^{\frac{1}{2}}\,d(4+x) = \frac{(4+x)}{\frac{3}{2}}\Big|_{-1}^{1} = \frac{2}{3}\left[5^{\frac{3}{2}} - 3^{\frac{3}{2}}\right]$$

= 0,66666 . 5,984187= 3,989460

اوس نوموړی انتګرال د سمسون په مربعي طریقه حلوو. په دې حالت کې h=1 او د $(-1,\sqrt{3})$ ، $(0,2)$ ، $(1,\sqrt{5})$ نقطو په نظر کې نیولو سره لرو:

$$I = \int_{-1}^{1}\sqrt{4+x}\ dx = \frac{1}{3}\left[\sqrt{3} + 4.2 + \sqrt{5}\right] = \frac{1}{3}\,.\,11{,}968119 = 3{,}989373$$

په همدې ترتیب نوموړی انتګرال د ګوس په مربعي طریقه حلوو:

$$I_2 = \int_{-1}^{1} \sqrt{4+x}\ dx = \frac{1}{9}\left[5.f\left(-\sqrt{\frac{3}{5}}\right) + 8.f(0) + 5.f\left(\sqrt{\frac{3}{5}}\right)\right]$$

$$= \frac{1}{9}\left[5.\ \sqrt{4-0{,}774597} + 8\ .\ \sqrt{4+0} + 5.\ \sqrt{4+0{,}774597}\right]$$

$$= \frac{5}{9}\ (1{,}795941 + 3{,}2 + 2{,}185085) = 0{,}555556\ .\ 7{,}181026 = 3{,}989459$$

له دې ځايه:

$$I - I_1 = 0{,}000087$$
$$I - I_2 = 0{,}000001$$

څرنګه چې ليدل کېږي، د ګوس ميتود دقت په محاسبه کې خورا ډېر دی.

پايله:

ددې مقالې په پايله کې دا په ګوته شوه، چې د معينو انتګرالونو اهميت په تخنيک کې د ستر اهميت لرونکی دی، نو ددې لپاره چې په محاسباتو کې د پوره دقت څخه کار واخيستل شي، لازم دي چې د مربوطه موضوعاتو د مطالعې په صورت کې دې د ګوس له مربعي ميتود څخه کار واخيستل شي، تر څو د نتايجو کار په دقيق توګه ترلاسه شوی وي او د اقتصادي زيان څخه مخنيوی شوی وي.

وړانديزونه:

۱. ددې لپاره چې يو معين انتګرال محاسبه شي، نو بايد د انتګرال د محاسبې لپاره د انتګرال نيولو د حدونو په پام کې نيولو سره درې اساسي نقطې په نظر کې ونيول شي.

۲. د لازمي محاسبې د ترسره کولو لپاره د ګوس مربعي طريقه پکار يوړل شي.

۳. د محاسبې د دقت په منظور دې کوښښ وشي، چې په عشاري برخه کې د رقمونو د شمېر زياتوالي ته توجه وشي.

Abstract:

The context of this essay show two basic method of defiant integrals calculation, by the help of these method we can find the cretin error of Engineering, Economy, Computer science and techniques problems. At first we illustrate the Gaussian method and the Simpson method of three points quadratic formula then compare of both method ,finally we obtain the Gaussian formula it is the best ,convent and valid formula then Simpson.

Conclusion:

The end of this essay I find the result which is defiant integral is more important in and applicable in Techniques. As well as for more rigorously in computation we essential to use the quadratic formula in order to obtain sufficiently accuracy result which has defiantly benefit in Ec.

اخځليکونه:

1. دوندوچنکه. ل. ی، عزيزالله سادات. (۱۳۲۰). رياضيات عالی. انتشارات پولی تخنيک کابل
2. غوری، محمد انور. (۱۳۸۴). رياضيات عالی. انتشارات نعمانی
3. Баврин И.И(1995).Общий Курс Высщий Математики Москва Наука(cc-205-208).
4. Бохан.К.А (1972). Курс Математичиского Анализа,Том IМосква Наука (cc-399-402).
5. Гребенча.М.К(1951).Курс Математичиского Анализа,Том IМосква Наука(cc-90-92).
6. Demidovich.B.P(1981) Computational Mathematics.Mir Publishers, (pp603-617).
7. Крылов.В.И(1976).Вычислительные методы,Москва Наука(cc-243-268).
8. Smit.R.T (2002). Calculus, University of Pennsylvania, (pp389-384).
9. Фихтенгольц.Г.М (1968).Основы Математичиского Анализа, Москва Наука(cc-350-352).

پوهندوی عزت الله- ښوونې او روزنې
پوهنځی- جغـــرافيې څـــــانگـــه

پر طبيعي منابعو د اب و هوا د بدلون اغېزې

لنډيز:

د ځمکې د کرې اتموسفير د تودوخې لوړېدو په هکله لومړنۍ څېړنې د سنت ارينوس له خوا ترسره شوې دي. د ارينوس څېړنو وښودله چې د ځمکې د اتموسفير د گرمېدو اصلي لامل په اتموسفير کې د کاربن دای اکسايد په تېره د شين کوريزو غازونو زياتېدل دي. که څه هم طبيعي شين کوريز غازونه (۸) واره تر هغو غازونو زيات دي، چې د انساني کړنو په واسطه رامنځته کېږي، ولې د ځمکې د مخ شته سمندرونه دا توان لري، چې د کاربن دای اکسايد د غاز هغه اندازه چې په طبيعي ډول رامنځته او په اتموسفير کې د ياد غاز د غلظت لامل گرځي، په ځان کې جذب او د اړتيا په صورت کې بېرته اتموسفير ته ورکړي. د ځمکې د کرې د هوا گرمېدل پر اوبيزو سرچينو د ناڅاپي پېښو د رامنځته کېدو لامل گرځي. د اورښت په مودې، چټکتيا، جوړښت او زمان کې بدلون کولای شي، چې د ځمکې د کرې په مختلفو برخو کې د وچکالۍ يا د سېلابونو په رامنځته کولو کې ستر بدلونونه رامنځته کوي. په طبيعت کې د اوبو موجوده بيلانس د کمېدو يا زياتېدو په صورت کې به شته ځنگلي سيمې په بې ساري توگه زيانمنې شي، ولې که چېرې دا بدلونونه ورو او دوامداره وي، د نباتاتو ډولونه به بدلون مومي او نوي ايکو سيستمونه رامنځته کېږي؛ له بلې خوا د ځمکې د اتموسفير د گرمېدو له امله په گرمو سيمو کې د ساري ناروغيو په شمېر او په سړو سيمو کې د مړينې د کچې د لوړېدو سبب گرځي. په دې ډول د اتموسفير د تودوخې لوړېدل په سيده او ناسيده ډول نه يوازې د ژوندیو موجوداتو پر صحت او سلامتيا ناوړه اغېزې کوي، بلکې د ځمکې پر مخ ټول طبيعي منابع له گواښ سره مخ کوي.

سريزه:

ځينې وختونو کې کوچنۍ کوچنۍ مسئلې او موضوع گانې په لويو ستونزو بدلېدای شي. د بېلگې په ډول که مونږ يوه ورځ خپل غاښونه مسواک نکړو، شايد چې کومه خاصه پېښه رامنځته نشي، مگر که چېرې غاښونه يوه مياشت او يا تر هغې زياتې مودې لپاره مسواک نه شي، څه پېښې به رامنځته کېږي؟؛ او يا که چېرې د څو ورځو لپاره د ځمکې د کرې تودوخه زياته او په آب و هوا کې بدلون رامنځته شي، هيڅ مهمه نه وي او کومه مهمه پېښه هم نه رامنځته کېږي، ولې که د ځمکې تودوخه د اوږدې مودې لپاره او په دوامداره توگه گرمه شي، په ځانگړې توگه د ځمکې د کرې بيوسفير Biosphere او نورې طبيعي سرچينې به د يو شمېر ستونزو او بدلونونو سره مخامخ شي. (۴م م۱۱۲-۱۱۲)

د ځمکې د کرې گرمېدل چې د اتموسفير د منځنۍ تودوخې د څو چنده کېدو څخه عبارت دی، په ځانگړې توگه د (۱۹) ميلادي پېړۍ څخه راپدېخوا د صنعتي تاسيساتو په پراختيا او د بشر اقتصادي کړنو په پايله کې د کاربن دای اکسايد او نورو شين کوريزو غازونو (Green House Effect) اغېزې په زياتېدو سره دا بدلون پيل شوی، ولې پوهان د ځمکې د کرې د گرمېدو د پيل مهال مختلفو لاملونو او معيارونو پورې تړلی بولي. ځينې ددې بدلونونو پيل صنعتي انقلاب او يو شمېر نور يې بيا تقريباً د (۱۹) پېړۍ وروستۍ (۵۰) کلونه بولي؛ که څه هم د تودوخې د لوړېدو تر ټولو زياتې پېښې د (۱۹۹۰) او (۲۰۰۷) ميلادي کلونو په منځ کې ثبت شوي چې د تودوخې دا لوړېدنه په تېرو (۱۵۰) کلونو کې بې ساري وه. همدارنگه وړاندوينه شوې چې د ځمکې د گرمېدو پروسه تر (۲۱۰۰) ميلادي کال پورې د چټکې وچکالۍ، سوزنده تودوخې او د ويروونکو توپانونو لامل به وگرځي. (۸م۲۰۱)

څرنګه چې د ځمکې د کرې د تودوخې په اړه لومړنۍ څېړنې سويډني کېميا پوه سنت ارينوس له خوا تقريباً (۱۰۰) کاله وړاندې پيل شوې. نوموړې په (۱۸۹۶) ميلادي کال کې ادعا وکړه چې د ځمکې د کرې د اتموسفير (Atmosphere) د تودوخې د لوړېدو اصلي لامل په اتموسفير کې د کاربن دای اکساید غاز زياتېدل دي، مګر په هغه وخت کې زيات شمېر پوهان په دې باور و، چې د توليد شوي کاربن دای اکساید غاز په پرتله سمندري جريانونه او د اوبو توښونه زيات د اتموسفير د ګرمېدو لامل ګرځي، ځکه چې د ځمکې د مخ شته سمندرونه دا توان لري د کاربن دای اکساید هغه اندازه غازونه چې په طبيعي ډول توليد ېږي، ځان کې جذب او په اتموسفير کې د کاربن دای اکساید غاز د غلظت کچه ټيټه کړي. وروسته د يو شمېر نورو پوهانو څېړنو وښودله چې موجوده سمندرونه د کاربن دای اکساید د توليد شوي غاز څخه يوازې د $\frac{2}{3}$ برخې د جذب توان لري او پاتې $\frac{1}{3}$ برخې چې د بشري کړنو له کبله منځته راځي، په اتموسفير کې پاتې کېږي؛ نو په دې ډول د اتموسفير د تودوخې د لوړېدو لامل ګرځي. (۱م ۹۶)

د کلينګ څېړنو ښودلې چې د ځمکې د مخ په مختلفو برخو کې د توليد شوي کاربن دای اکساید غاز اندازه مخ په زياتېدو ده، بايد په ياد ولرو چې ځمکه په طبيعي ډول هم د شين کوريزو غازونو د توليد سبب ګرځي. هغه طبيعي شين کوريز غازونه چې په طبيعي ډول توليد ېږي د اوبو توښونو، کاربن دای اکساید، ميتان، نايتروجن اکساید او اوزون (O۳) څخه عبارت دي. ولې بشري کړنې ددې غازونو په اندازه او زياتوالي کې بدلون رامنځته کوي. که چېرې ځمکه په طبيعي ډول د شين کوريزو غازونو د توليد او رامنځته کولو وړتيا ونه لري، د ځمکې د مخ تودوخه د سانتي ګريد (۱۷-) درجې يا د يو معمولي يخچال د تودوخې سره به معادل وي. په اتموسفير کې د کاربن دای اکساید غاز د غلظت زياتېدل د ځمکې پر مخ د رامنځ ته شوې تودوخې له انعکاس او خارجېدو (فرار) څخه مخنيوی کوي چې دا په خپله د هوا د ګرمېدو لامل ګرځي، يوازې د وچو شوو ونو بوټو له پاتې شونو (Humus) له تجزيې څخه هر کال تقريباً (۲۲۰) ګيګا ټنه د کاربن دای اکساید غاز اتموسفير ته لېږدول کېږي. دا توليد شوی غاز د هغه غاز په پرتله (۸) واره زيات دی چې د انساني کړنو له امله توليد او اتموسفير ته لېږدول کېږي. (۲م ۲۱-۲۳)

هغه طبيعي زېرمې چې د اتموسفير د ګرمېدو او د تودوخې د بدلون په پايله کې اغېزمنېږي، د خوړو اوبو د زېرمو، طبيعي ځنګلونو، ځمکنيو او اوبيزو ايکو سيستمونو، صحت يا روغتيا او داسې نورو څخه عبارت دي. د آب وهوا بدلون د نفوسو د بدلون په شان د چاپېريال د تخريب او د ځمکې د کرې پر مخ منفي اغېزې لري، چې مونږ دلته دا منفي اغېزې پر طبيعي سرچينو باندې له نظره تېروو. (۵م ۳۹)

موخې:

- پر طبيعي منابعو د ځمکې د اتموسفير د ګرمېدو اغېزو ښودل.
- مينه والو او لوستونکو ته په اړونده برخه کې د معلوماتو برابرول.

د خوړو اوبو پر زېرمو د ځمکې د کرې د ګرمېدو اغېزې:

د شلمې پېړۍ په اوږدو کې د ځمکې د کرې د اتموسفير منځنۍ تودوخه تقريباً د سانتي ګريد (۵) درجو پورې لوړه شوې ده. پوهان تمه لري چې د راتلونکو (۱۰۰) کلونو په اوږدو کې به د ځمکې د کرې تودوخه له سانتي ګريد (۵،۱) څخه تر (۵،۳) درجو پورې لوړه شي. شايد ځينې دا ګومان وکړي چې دا خو چندان لوړېدنه نه ده، ولې د تودوخې د درجې همدا لوړېدنه کولای شي چې د ځمکې د کرې آب و هوا ته په بې ساري توګه بدلون ورکړي، امکان لري چې د سمندرونو د اوبو سطحه، د کرنيزو ځمکو اندازه، هغه هوا چې يې تنفس کوو او يا هغه اوبه چې ژوندي موجودات يې څښي، پراخو بدلونونو سره مخامخ شي. (۱م م ۱۴-۱۲)

د هرې سيمې اقليم Climate په هغه سيمه کې د اورښت Precipitation او د لمر د وړانګو د لګېدو زاويې او اندازې په نظر کې نيولو سره ټاکل کېږي. په يوه سيمه کې د شته اوبو اندازه د هغې سيمې د اورښت، واورې، د اوبو جريان او د اوبو کلنۍ تبخير اندازې سره تړاو لري. د ځمکې د کرې د اتموسفير ګرمېدل په اوبيزو سرچينو باندې د ناڅاپي پېښو د رامنځته کېدو

لامل گرځي، لکه وچکالي يا د سيلابونو زياتېدل چې د دې حالت رامنځته کېدل د اوبو پر کميت او کيفيت باندې اغېزې لري. تمه کېږي چې د ځمکې د کرې د آب وهوا د گرمېدو په پايله کې به په نړيواله کچه د اورښت اندازه په گرمو او وچو سيمو کې زياته شي. (۸م م۷۳-۷۵)

هغه پوهان او څېړونکي چې شين کوريز غازونه او د هغې معلقې (ځوړندې) ذرې په نظر کې نيسي، د اسيا د براعظم په هغو سيمو کې چې موسمي اورښت لري، لکه هندوستان او ددې براعظم په جنوب شرقي ټاپوگانو کې د لږ مقدار اورښت د وربدو وړاندوينه کوي. په داسې حال کې هغه څېړونکي چې يوازې شين کوريز غازونه په نظر کې نيسي، په پورته سيمو کې د اورښتونو د زياتېدو تمه لري. د اورښت چټکتيا ممکن چې د روانو اوبو په مقدار او د ځمکې د سطحې لاندې اوبو پر سرچينو منفي اغېزې ولري. لوړه تودوخه چې له يوې خوا د زيات تبخير لامل گرځي، د بلې خوا د روانو اوبو د زياتوالي، د ژمنيو واورو د ويلي کېدو او په پسرلني موسم کې د روانو اوبو د کمښت سبب کېږي. د طبيعي يخچالونو Natural Glacier ويلي کېدل چې معمولاً د تودو موسمونو په سر کې پيل کېږي، د اوړي په موسم کې به د اړتيا وړ اوبو لپاره په دغو اوبيزو سرچينو او زيرمو کې واوره او کنگل شتون ونلري. د قطبي يخچالونو ويلي کېدو سره د سمندرونو د اوبو اندازه زياته او په پايله کې به د سمندرونو د اوبو سطحه لوړه شي. هغه وگړي چې د سمندرونو او سمندرگيو په شاوخوا او يا د ټاپوگانو په غاړو کې ژوند تېروي، کېدای شي چې خپل د ژوند ټول امکانات د خپلې استوگنې په شمول له لاسه ورکړي؛ ساحلي کرنيزې چارې نابود او کرنيزې ځمکې به تر اوبو لاندې پټې شي، د سمندرونو د اوبو د سطحې جيگېدو سره به د خوړو اوبو سرچينې زيانمنې او يا د گټې اخيستو څخه به ووځي. (۲م م۲۱۲-۲۰۸)

په ټوليز ډول د ځمکې د کرې د گرمېدو منفي اغېزې د اوبو پر سرچينو په لاندې توگه خلاصه کولی شو:

۱- د اورښت د دوام موده، چټکتيا، جوړښت او زمان کې بدلون کولای شي، د ځمکې د کرې په مختلفو سيمو کې د وچکالۍ او يا د سيلابونو د زياتېدو لامل وگرځي.

۲- د روانو اوبو په حجم، مدت او زمان کې بدلون د اوبيزو سرچينو څارنې او مديريت ستونزو سره مخامخ کوي، د بېلگې په ډول د اوبو د بهېدو په حجم او زمان کې بدلون د اوبو د برابرولو مسئله ستونزمنوي او په پايله کې د اوبو د گټې اخستنې په پروسه کې ستونزې رامنځته کېږي.

۳- په غرنيزو سيمو کې د روانو اوبو د سرچينو په توگه د واورو زېرمه کېدل د اوسنيو سيندونو د بهېدنې وضعيت له ستونزو سره مخامخ کوي.

۴- د يوې څېړنې د وړاندوينې پر بنياد چې د نوولز او کايان له خوا سرته رسېدلې، په (۲۰۲۰) ميلادي کال به د کلفورنيا د واورو او کنگلونو په زېرمو کې (۵) سلنه، په (۲۰۶۰) ميلادي کال (۳۳) سلنه او په (۲۰۹۰) ميلادي کال (۵۰) سلنه کمی رامنځته کېږي. (۵م۹۶)

۵- د نباتاتو له سطحې او د حيواناتو له تنې څخه د تبخير او خولې کېدو مسئله به په کرنيزو چارو کې د اوبو په اړتيا کې زياتوالی رامنځته او د اوبو د برابرولو مسئله له ستونزو سره مخ کړي، په دې ډول به د اوبو د کمښت مسئله په کښت او کرنيزو چارو کې د بدلون سبب شي.

۶- د سمندرونو، سمندرگيو او جهيلونو د سطحې د اوبو د تودوخې درجې لوړېدنه به په اوبيزو ايکوسيستمونو او اوبيز ژوند منفي اغېزې وکړي او د هغو کبانو د مړينې سبب به وگرځي، کوم چې د تودوخې پر وړاندې حساس او په گرمو اوبو کې ژوند نشي کولای.

۷- د ځمکې د اتموسفير د تودوخې زياتېدو سره به په ښاري چاپېريال کې د خوړو اوبو تقاضا زياته او د اوبو په برابرولو کې به ستونزې رامنځته شي.

۸- د ژوند د ادامې لپاره د اوبو په تقاضا کې بدلون، په سمندرونو کې د اوبو د سطحې لوړېدنې او د زيات تبخير په پايله کې به د اوبو د تروشوالي (مالگينتوب) اندازه زياته شي. (۲م م۱۴-۱۲)

۹- د ځمکې د اوږد تاريخ په مختلفو جيولوژيکي دورو کې يخچالونو څو واره پرمختګ او شاتګ کړی، د (۱۱۵۰ او ۱۸۵۰) ميلادي کلونو په اوږدو کې يخچالونو پرمختګ، ولې له ۱۹۴۰ ميلادي کلونو څخه وروسته د ځمکې د ګرمېدو په پايله يو وار بيا په يخچالونو کې شاتګ ليدل شوی.

د ځمکې د تودوخې لوړېدنه چې د يخچالونو او کنګلونو د شاتګ لامل شوی، دغه وضع تر هر بل ځای وړاندې د الپ Alp، انديز Andes، هماليا Hemalaya او راکي Rocky په غرونو کې ليدل شوي. د ملګرو ملتونو د يو راپور پر بنسټ هغه لوی سيندونه لکه ګنګا Ganga، يانګ تيز Yangtes، اندوس Indus، برهماپترا Brahmaputra ، ميکانګ Mekong او ژير سيندونه چې د هماليا له غرونو څخه سرچينه اخلي، تر (۲۰۳۵) ميلادي کال د هماليا د غرونو د يخچالونو له ويلي کېدو څخه وروسته به دا سيندونه له منځه ولاړ شي. په دې ډول د هوا د ګرمېدو له کبله به د خوږو اوبو زېرمې لږې، نباتي او حيواني ژوند به له ستونزو او ګواښونو سره مخ شي. (۸م م۴۶-۴۹)

پرطبيعي ځنګلونو او کرنيزو چارو د ځمکې د ګرمېدو اغېزې:

د ځمکې د کرې پر مخ شته ځنګلي سيمې د اوبو د موجوده بيلانس کمېدو او زياتېدو په صورت کې به په جدي او بې ساري توګه زيانمنې کېږي. د کاربن دای اکسايد غاز د دوه چنده کېدو حالت په نظر کې نيولو سره د نړۍ څه نا څه ($\frac{1}{3}$) طبيعي ځنګلي Natural Forest سيمې او نباتي پوښښ Vegetation Cover به د اساسي بدلونونو شاهد وي، چې دا بدلونونه به د اوسېدو په ډول او څرنګوالي باندې ډېره اغېزه وکړي. (۴م۷۷)

د تودوخې د هر سانتي ګريد درجې په لوړېدو سره اقليمي سيمې تقريباً (۱۵۰) کيلومتر له استوا څخه قطبونو په لور او (۱۵۰) متره مخ په پورته د اتموسفير په لور بې ځايه کېږي. که چېرې دغه بدلونونه ورو او دوامداره وي، ددې حالت په نظر کې نيولو سره د نباتاتو ډولونه بدلون مومي؛ پس په يوه ګرمه نړۍ کې ممکن چې د لويو وچو د داخلي برخو ځنګلي سيمې لمنځه ولاړې شي او که چېرې دا بدلونونه ورو او تدريجي وي، کېدای شي نوي ايکو سيستمونه رامنځته شي. (۲م م-۱۵۱ ۱۴۹)

په اتموسفير کې د کاربن دای اکسايد د غاز په زياتېدو د موجوده نايتروجن په تناسب به د څرځايونو په کميت او کيفيت کې بدلون رامنځته شي؛ په ځنګلي سيمو او څرځايونو کې به په تدريجي ډول د اور لګېدنې پروسه چټکه شي، او به د کرنې لپاره خصوصاً په هغو سيمو کې چې د ژوندانه چارې د کرنې له لارې تامينېږي، ډېرې مهمې دي. د ځمکې د کرې د اتموسفير د ګرمېدو په پايله کې د خاورو زياته اندازه اوبو تبخير چې دا پروسه د خاورې د وچېدو لامل او په وروستي تحليل کې د خاورو د تخريب Erosion باعث ګرځي؛ همدارنګه د تودوخې لوړېدو سره به په نباتي افاتو کې زياتوالی راشي. د يو شمېر وړاندوينو پر اساس په چين کې به د غنمو په محصول او توليد کې (۱۰) سلنه او په کوريا کې (۲۰) سلنه لږوالی رامنځته شي؛ په ارجنتاين کې به د غنمو د کښت ساحه کمه شي، په داسې حال کې چې د استراليا په ځينو برخو کې به د غنمو په توليد کې (۲۵) سلنه زياتوالی رامنځته کېږي. (۳م م۳۲-۲۹)

پر ژوندي موجوداتو د ځمکې د ګرمېدو اغېزې:

په نړيوال ډګر کې د انسان منځني عمر مخ په زياتېدو، د ژوند کولو لپاره هيلې زياتې او په مخ پر ودې هېوادونو کې د ماشومانو د مړينې کچه کمه شوې ده، ولې د داسې مثبتو بدلونونو په وړاندې د ساري امراضو کچه زياته شوې ده. (۷م۲۹)

مخ پر ودې هېوادونو کې د ښاري ژوند د پراختيا يو اصلي لامل د نفوسو زياتوالی دی. داسې ګومان کېږي چې په (۲۰۲۰) ميلادي کال د ژوندانه د ښاري کېدو سطحه (۵۰) سلنې ته لوړه شي، چې دا بدلونونه ځان سره يو شمېر ستونزې هم رامنځته کوي، لکه د پاکو اوبو سرچينې ته نه لاسرسی، د هوا ککړتيا، د حفظ الصحي خرابتيا او داسې نور. د اتموسفير د تودوخې دا لوړېدنه ممکن چې د ځينو طبيعي زيان رسوونکو پېښو د زياتېدو لامل هم وګرځي، که چېرې د ځمکې د اتموسفير تودوخه لوړه شي، په پايله کې به د کال د ګرمو ورځو شمېر زيات او هغه شمېر ساري مرضونه چې د تودوخې د لوړېدو له کبله رامنځته کېږي، لکه ملاريا، مار چيچنې او د ځينو نورو عفوني ناروغيو پېښې به زياتې شي. د آب و هوا د ګرمېدو

منفي اغېزې پر کرنيزو چارو، کرنيزو محصولاتو، انساني او حيواني غذايي سرچينو او د ځمکې د مخ د زياتو اوبو د تبخير په پايله کې به انسان او نور ژوندي موجودات د خوراکي توکو او روغتيايي اوبو له کمښت سره مخامخ کېږي. د ځمکې د اتموسفير د تودوخې بدلون به پر حيواني او نباتي ډلو باندې منفي اغېزې شيندي؛ که چېرې دا بدلونونه ورو ورو پېښ شي، شايد چې نباتي او حيواني ټولنې دې تدريجي بدلونونو سره توافق وکړي؛ ولې د چټک بدلون او ژر راپېښېدو په صورت کې په ځانګړې ډول د ژويو ژوند به له ګواښونو سره مخامخ کړي. د بېلګې په ډول هغه حيوانات او الوتونکي چې د کال مختلفو موسمونو کې له يوځای څخه بل ځای ته مهاجرت کوي، امکان لري چې د مهاجرت لپاره مناسب ځای او هم د خوړو لپاره به پوره غذايي توکي ونلري.

د اتموسفير د ګرمېدو سيده او ناسيده بدلونونه پر انساني صحت او روغتيا باندې پوره اغېزې شيندي. د تودوخې د زياتېدو مستقيمې اغېزې عبارت دي د تنفسي، قلبي، عروقي او ورته نورو بيماريو يا هغه زيانونه چې د سېلابونو، هوايي او سمندري طوفانونو په پايله کې منځته راځي؛ همدارنګه پوهانو څرګنده کړې ده چې د ځمکې د ګرمېدو په اثر د نويو خطرونو لکه د ويجاړوونکو زلزلو او د اورشيندونکو د پېښو د پېښېدو انتظار هم بايد ولرو. په دې ډول د هوا د تودوخې زياتېدل د ژوندیو موجوداتو پر صحت به ناوړه اغېزې وکړي او د ځمکې پر مخ ټولې طبيعي او ضروري سرچينې به له ګواښ سره مخ شي. (۶م م۱۳۳-۱۳۹)

د ځمکې د اتموسفير تودوخې د لوړېدو اغېزې له نړيوالو موضوعاتو څخه دي او ددې پديدې د منفي اغېزو د کمولو لپاره نړيوالې اجماع او ګډې مبارزې ته ضرورت ليدل کېږي؛ سره له دې چې د اقليم د ګرمېدو لاملونه په مختلفو سيمو کې مختلف وي، خو بيا هم هر هېواد د خپلو اقليمي شرايطو، جغرافيايي موقعيت، آب و هوا او اقتصادي جوړښت په تړاو کې به ددې پديدې له زيانونو څخه اغېزمن کېږي. د يو شمېر پوهانو په اند د عامه پوهاوي په رواجولو، د شنو او ځنګلي سيمو په پراخولو، د ځنګلونو د تخريب څخه مخنيوی او د فوسيلي موادو د سوزولو پرځای د متبادلې انرژۍ لکه د لمر وړانګو او باد له انرژۍ څخه د ګټې اخستنې په صورت کې کولای شو چې ددې پديدې له منفي اغېزو څخه مخنيوی وکړو، ځان او خپله نړۍ له دې خطرونو څخه وژغورو. (۱م م۲۴-۲۷)

پايله:

د ځمکې د کرې د هوا ګرمېدل په اوبيزو سرچينو د ناڅاپي پېښو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. د اورښت په مودې، چټکتيا، شکل او زمان کې بدلون کولای شي چې د ځمکې د کرې په مختلفو برخو کې د وچکالۍ يا د سېلابونو د زياتېدو په رامنځته کولو کې ستر بدلونونه رامنځته کړي. شته طبيعي ځنګلي سيمې د اوبو د موجودې بيلانس د کمېدو او زياتېدو په صورت کې به په بې ساري توګه زيانمنې شي؛ ولې که چېرې دا بدلونونه ورو او دوامداره وي، ددې حالت په نظر کې نيولو سره به د نباتاتو ډولونه بدلون مومي، په وچو او اوبيزو برخو کې به نوي ايکوسيستمونه رامنځته کېږي. همدارنګه د ځمکې د اتموسفير د ګرمېدو له کبله د ځمکې د مخ په ګرمو سيمو کې د مرضونو په شمېر او په سړو سيمو کې د مړينې د کچې د زياتېدو سبب ګرځي. په دې توګه د هوا د تودوخې زياتېدل په سيده او ناسيده ډول د ژوندیو موجوداتو پر صحت او طبيعي زېرمو ناوړه اغېزه کوي او د ځمکې پر مخ ټولې طبيعي سرچينې به له ګواښ سره مخامخ کړي.

Abstract:

Research concerning raising global temperature primarily have been conducted by Docent Arenus. He stated that the causal agent of raising global atmospheric temperature is increasing of Co2 especially greenhouse gases in the atmosphere. Nevertheless, naturally produced greenhouse gases are 8 times more compared to those produced in the result of human activities, however the existing oceans on the earth surface have the capability to absorb the naturally released Co2 and release it back to atmosphere during the necessity to it.Warming of the atmosphere of the earth result unexpected phenomenon in water resources. Changes in duration ,quickness , forms and times of rainfall cause to bring great changes in the occurrence of droughts, and floods at different parts of the earth . If the existing balance of water decreases or increases the frost areas will be seriously damaged, but if these changes are slow

and continuous, plant species will change, and new ecosystem will be created. On the other hand increase infectious diseases at warm season areas, and may result to increase death incidents at cool season areas, hereby raising of atmospheric temperature not only causes direct or indirect bad influences on the health of living organisms, but due to it all the natural resources of the earth could be faced with great danger.

اخځليکونه:

۱- احدی، محمدصادق. (۱۳۸۳). گرمایش جهانی. تهران: نشرات دفتر طرح ملی تغیرات اب وهوا.

۲- تقدسیان، حسن. (۱۳۸۴). انچه باید بدانیم. تهران: نشرات دفتر ملی تغیرات اب و هوا.

۳- معتمد ، احمد. (۱۳۸۶). زمین شناسی دوران چهارم. تهران: انتشارات دانشگاه تهران.

۴- مخدوم، مجید. (۱۳۷۷). زیستن در محیط زیست. تهران: انتشارات دانشگاه تهران.

۵- نوربخش، فرشید. (۱۳۸۶). گاز های گلخانه ای. تهران: نشرات سازمان بهره برداری انرژی.

6- Don, J.(1995) Easter brook Geological Evidence of cous Global cooling and warming weather Washington University . Bellighan press.

7- Jeremy, Leggett. (1999) The Carbon War. Global warming and the en of the oil Era Global warming . published England.

8- Negel, Lawson.(2008) An apeal to reason: A cool Look at Global warming published London.

پوهـــــندوی محمد زبیر (نورمـــل)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانګه

وزګـارتیا
او د هغـې اندازه کول

لنډیز:
وزګارتیا نه یواځې داچې دیموګرافیکي اړخ لري، بلکې بل مهم اړخ یې اقتصادي او اجتماعي اړخ دی؛ لـه دې نقطې نظره وزګارتیا موجودیت په یوه اقتصاد کې منفي پدیده ده او له ټولنیز نظره هم ناوړې پایلې لري. په دیموګرافي او اقتصاد کې د وزګارتیا تعریف داسې راغلی چې هر هغه شخص چې د کار سن یا عمر یې پوره کړی وي، د کار لپاره یې درخواست موجود وي، د کار کولو توان او خواهش ولري او د کار په لټه کې وي، خو په اوس وخت کې دنده ونلري؛ نوموړي شخص ته وزګار ویل کېږي. یا په بله وینا وزګارتیایي حالت یعنې که چېرې اشخاصو د کار سن پوره کړی وي، د کار لپاره موجود وي، د کار کولو وړتیا او خواهش ولري او د دندې د پیدا کولو په هڅه کې وي، خو دنده ونلري، وزګارتیا ده. په یوه ټولنه کې د وزګارتیا اندازه کول ډېر ضرور دي، تر څو په راتلونکي کې ورته تدابیر وسنجول شي. په یوه ټولنه کې د وزګارتیا د سنجولو لپاره بېلابېلې لارې شته، لکه د استخدام د اداري آمار او ارقام، د نفوسو سروې، د کار ځواک نمونوي سروې، د ټولنیزې بیمې د ارقامو مقایسه او یو شمېر رسمي تخمینونه. په دې توګه له پورته اندازه ګیرۍ وروسته د بېکارۍ د له منځه وړلو او یا اقلاً د هغې د کمښت لپاره لازم تجویزونه او تدابیر تر کار لاندې نیول کېدای شي.

سریزه:
لکه څرنګه چې پوهېږو استخدام سطحه او ملي عاید اندازه دوه هغه اساسي شاخصونه دي چې د یو هېواد اقتصادي حالت څرګندوي، نو په دې خاطر چې په دې پوه شو چې یو هېواد به څه ډول اقتصادي حالت کې قرار لري او په نوموړي هېواد کې د خلکو د ژوند او عاید سطحه څه ډول ده، نو په نوموړي هېواد کې باید د بېکارۍ د اندازه ګیرۍ په اساس د وزګارتیا نرخ پیدا شي. په پرمختیایي هېوادونو او له هغې جملې څخه په افغانستان کې یوه لویه ستونزه د بېکارۍ مسئله ده، چې د اقتصادي اړخ ترڅنګ ټولنیز اړخ هم لري، لکه څرنګه چې پوهېږو هر دولت د خپل ملت په وړاندې یو لړ مسئولیتونه لري، چې د هغه مسوولیتونو د جملې څخه یو هم استخدام دی، یعنې د ملت لپاره د کار شرایط برابرول او د هغوی لپاره د کار پیدا کول دي، نو ددې لپاره چې د دولت دغه مسوولیت ارزیابي شي چې تر کومه حده دولت خپل مسوولیت ترسره کړی او یا پاتې راغلی. مونږ ته اړتیا ده، تر څو د بېکارۍ نرخ پیدا کړو او په دې ډول د دولت د مسوولیت په اړوند پرېکړه وکړو چې تر کومه حده دولت دغې ستونزې ته د حل لارې لټوي.

موخې:
- د بېکارۍ د اندازه کولو او سنجولو پېژندنه
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مینه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د وزګارتیا پېژندنه:

د کار د نړیوال سازمان (ILO) له خوا وزګارتیا په دې ډول تعریف شوې ده: هر هغه شخص چې د کار سن یا عمر یې پوره کړی وي، د کار لپاره موجود وي، د کار کولو توان او خواهش ولري او د کار په لټه کې وي، خو په اوس وخت کې دنده ونلري، نوموړي شخص ته وزګار ویل کېږي. (۱م۱۹۴)

د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ لپاره لارښوونې: مخکې له دې چې مونږ د وزګارتيا اندازه ګيري وکړو، د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ څخه مخکې بايد لاندې ټکيو ته پاملرنه وشي:

۱. د کاري ځواک نمونه چې انتخابوو، بايد په داسې ډول وي چې کوم خصوصيات چې څرګندوي، بايد د ټول نفوس نماينده ګي وکولای شي.

۲. د سروې لپاره بايد وخت مشخص شي، پداسې ډول چې په هغه وخت کې د خلکو انتقال ډېر کم وي.

۳. د معلوماتي تکنالوژۍ او د ستېلايت تصاويرو استعمالول، تر څو په مربوطه ساحه کې د نفوس د تراکم په اړوند معلومات راټول شي.

۴. د سروې په صورت کې د مرکې کوونکي همدارنګه بايد د اشخاصو د لوړو زده کړو او د علاقې وړ کاري ساحې پوښتنه هم وکړي.

۵. د وزګارو خلکو څخه بايد وغوښتل شي چې دوی د وزګارتيا په صورت کې بايد د خپلې وزګارتيا په اړوند د استخدام ادارې ته خبر ورکړي.

د وزګارتيا اندازه کول:

د کار په بازار کې له درې شاخصونو څخه د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ لپاره استفاده صورت نيسي، چې عبارت د کار د بازار له شاخصونو (Labor Market Indicators) څخه دي او په لاندې ډول دي(۵م۱۳۹):

۱. د بېکارۍ نرخ = $\frac{\text{دبېکارانوشمېر}}{\text{دکارګرځواک}} \times 100$

۲. $\left(Unemployment\ Rate = \frac{number\ of\ people\ unemployed}{Labor\ Force} \times 100\right)$

په کار کې د برخه اخيستونکو کارګرو نرخ = $\frac{\text{دکارګرځواک}}{\text{د کار وړ اشخاص}} \times 100$

۳. $Labor\ Force\ Participation\ Rate = \frac{Labor\ Force}{Working-Age\ Population} \times 100$

۴. د استخدام نسبت نفوس ته = $\frac{\text{دبېکارانوشمېر}}{\text{د کاري نفوس}} = 100$

$$Employment-to-Population\ Ratio = \frac{number\ of\ people\ unemployed}{working-age\ population} \times 100$$

(۲۲۵م۸)

څرنګه چې پورته فورمولونو يا شاخصونو ته ګورو، د فهم او د رياضيکي حل له مخې ساده ښکاري، پداسې حال کې چې دا ډېره پېچلې پروسه ده، ځکه که چېرې مونږ د وزګارتيا نرخ پيدا کوو، نو د وزګارو خلکو شمېر پر کاري ځواک ويشو او پدې ډول به مونږ ته د وزګارتيا نرخ په لاس راشي؛ ولې اوس سوال دادی چې مونږ څرنګه د وزګارو خلکو شمېر او همدارنګه د کار ځواک شمېر پيدا کوو؟ ځکه پدې خاطر چې د پورته شاخصونو څخه استفاده وکړو، نو بايد نوموړي ارقام موجود وي، نو پدې خاطر چې مونږ پورته ارقام ترلاسه کړو، په هر هېواد کې په لومړي قدم کې بايد د نفوسو بررسي يا Population survey صورت ونيسي. (۱م۲۰۱)

د نفوسو سروې (Population Survey): لومړی بايد ټول نفوس د نفوسو په سروې کې معلوم او په دوه برخو وويشل شي، چې دا دوه برخې عبارت دي له:

۱. هغه اشخاص چې د کار کولو عمر يې پوره کړی وي working-age population

۲. هغه اشخاص چې د کار کولو عمر يې پوره کړی نه وي، يا په شفاخانو کې بستر او يا هم په زندانونو کې دي او د کار کولو وړتيا نلري. (Young and institutionalized)

هغه اشخاص چې د کار کولو عمر یې پوره کړی (Working age population) ، دا هغه اشخاص دي چې عمر یې ۱۶ کلن یا تر هغه زیات وي او همدارنګه په زندانونو او شفاخانو کې بستر نه وي؛ البته دغه عمر نسبتاً په ځینې هېوادونو کې فرق کوي. مثلاً په اروپا کې د کار کولو عمر ۱۵ کاله دی، خو په امریکا کې ۱۶ کاله دی. تر دې وروسته هغه اشخاص چې د کارکولو عمر یې پوره کړی، بیا په دوه برخو ویشل کېږي:

۱. هغه چې د کار په ځواک کې شاملېږي(Labor force)

۲. هغه چې د کار په ځواک کې نه شاملېږي(Not in labor force)

او پدې ډول د کار ځواک بیا په دوه برخو ویشل کېږي، چې عبارت دي له:

۳. استخدام شوي (Employed): دا هغه اشخاص دي، چې د ټول وخت یا نمایي وخت یعنې part time یا full time دنده ولري.(۳م۳۸)

۴. وزګار (Unemployed)

که چېرې یو شخص د کار په بازار کې د کار لپاره موجود وي او همدارنګه د کار کولو توانایي او رضایت ولري او د کار د پیدا کولو په هڅه کې وي، خو کار ونلري، عبارت د وزګار څخه دی. د دې لپاره چې پورته ویناوې ساده کړو، یو مثال وړاندې کوو: څرنګه چې په لاندې شکل کې ګورئ چې په ۱۹۹۸م کال کې د امریکا ټول نفوس ۲۷۰،۲ میلونه و چې له دې جملې څخه ۲۵ میلونه نفوس یې د ۱۶ کاله څخه کم عمر درلود یا هم په ځینې نهادونو کې وو، لکه زندان، شفاخانه او داسې نور؛ او ۲۷،۵ میلیونه نفوس یې په کاري ځواک کې شامل نه و، چې له دې څخه زیات خلک تقاعد شوي وو او یا هم په مکتب کې شاګردان وو او د کار کولو رضایت یې نه درلود او پاتې ۱۳۷،۷ میلیونه خلک یې د امریکا د کار په ځواک کې شاملېدل، چې له دې جملې څخه ۱۳۱،۵ استخدام شوي وو او ۶،۲ میلیون خلک یې وزګار وو.



(۵م۱۳۸)

د وزګارتیا د اندازه کولو روشونه: د کار د نړیوال سازمان یا(ILO) لخوا د وزګارتیا نرخ د اندازه ګیرۍ لپاره څلور روشونه (میتودونه) وړاندې شوي دي، چې په لاندې ډول پرې بحث کوو:

۱. د کار ځواک د نمونې سروې (Labor Force Sample Survey): د وزګارتیا د اندازه ګیرۍ دغه روش ډېر د علاقې وړ روش یا میتود دی، ځکه نتایج یې ډېر د فهم وړ دي او همدارنګه ددې ډول روش څخه په استفادې د مختلفو ګټګوریو لکه نژاد، جنس او نور د وزګارتیا په اړوند معلومات ترلاسه کېږي، د کار ځواک سروې د کورنۍ د نمونه اخستلو په اساس ترسره کېږي(۴م۲۰۴). په لومړي پړاو کې د کورنۍ نمونه انتخابېږي او بیا یو معیاري پوښتنلیک ترتیب او د نوموړې

کورنۍ څخه د استخدام په اړوند پوښتنې کېږي او مربوط معلومات يا data راټولېږي؛ او د عمر په اساس د کار وړ اشخاص يعنې کاري ځواک په دوه برخو ويشل کېږي چې عبارت د استخدام شوي او بل يې وزګار اشخاصو څخه دي. د نمونې څخه د پوښتنليک په ذريعه د پوښتل شويو پوښتنو په واسطه ترلاسه شوي معلومات يا data بيا ددې لپاره استعمالېږي، تر څو د اشخاصو شمېر چې استخدام شوي او وزګار دي، معلوم کړي.(۷م۹۳)

د کار د ځواک د سروې نيمګړتياوې: د کار د ځواک سروې يو لږ نيمګړتياوې لري، لکه د معياري پوښتنليک استعمالول خپله ناقص دي، ځکه هغه څوک چې نوموړو پوښتنو ته ځواب وايي، ممکن د خپل طرز فکر په اساس ځواب ووايي چې غلط لور ته د رهنمايۍ سبب ګرځي. بله دا چې د نمونې اخستنې ميتود زيات احصايوي غلطي لري، ځکه نمونه د ټول جمعيت اړوند دقيق ارقام نه شي وړاندې کولی. همدارنګه باتجربه سوپروايزرانو او مرکه کوونکو ته اړتيا ده، خو تر ټولو مثبته نقطه داده چې د نړيوالو معيارونو سره برابر دي او د وزګارتيا ترلاسه شوي ارقام کېدلی شي، چې په مختلفو وختونو او مختلفو هېوادونو کې سره مقايسه شي.

۲. د ټولنيزې بيمې ارقام (Social Insurance Statistic) : په دې کې هغه اشخاص شاملېږي چې د وزګارتيا بيمه لري او د وزګارتيا په صورت کې د وزګارتيا مدد معاش مطالبه کوي. دغه اشخاص د بيمې د سازمانونو د ارقامو څخه په استفادې معلومېږي. په دغه روش له دې امله انتقاد شوی دی، چې ممکن مخکې له دې چې يو کارګر په دنده بېرته وګمارل شي، د هغه د وزګارتيا د بيمې موده پوره او په دې توګه هغه بيا په وزګارو اشخاصو کې ونه شمېرل شي. همدارنګه ددې ويره هم شته چې يو شخص دروغ ووايي، يعنې هم کار وکړي او هم د وزګارتيا بيمه ترلاسه کړي او د بيمې د سازمانو د ارقامو څخه د استفادې په صورت کې نوموړی وزګار وګڼل شي.

د ټولنيزې بيمې د ارقامو مثبتې نقطې: الف: دغه ميتود د نمونې اخيستلو اشتباهات نلري. ب: دا ډول معلومات يا data ترلاسه کول ډېر مصرف ته اړتيا نلري.

د ټولنيزې بيمې د ارقام منفي نقطې: څرنګه چې مختلف هېوادونه د محاسبه کولو مختلفو اصولو څخه کار اخلي، نو دا به مشکل وي چې د بېکارۍ احصائيه د نورو هېوادونو سره مقايسه شي، بله ستونزه يې دا ده چې اصول د وخت په اوږدو کې بدلېږي، نو ځکه د وزګارتيا معلومات يا data د مختلفو وختونو سره نشي مقايسه کېدلی (۲م۴۰۰). بله دا چې دغه ميتود يوازې د نفوسو يوه برخه په نظر کې نيسي، کوم چې ځان يې د استخدام د ادارې سره ثبت کړی يا د وزګارتيا بيمه لري، نو هغه وزګار خلک چې په پورته دواړو ادارو کې يې ځان نه وي ثبت کړی، هغوی همداسې پاتې کېږي او وزګار اشخاصو کې نه شمېرل کېږي، نو ځکه دغه روش د بېکارۍ نسبت حقيقي وزګارتيا ته کمه تخمين کوي.

۳. د استخدام د ادارې آمار يا ارقام (Employment Office Statistics): د نوموړې ادارې د ارقامو څخه استفاده هم د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ لپاره استعمالېدلی شي، يعنې هغه اشخاص چې وزګار وي د نوموړې ادارې سره ځان ثبتوي او د نوموړو ارقامو څخه په استفادې مونږ ته د وزګارو اشخاصو تعداد معلومېږي، خو دغه تعداد ډېر د علاقې وړ نه وي، ځکه په دې روش کې هغه وزګار اشخاص هم شاملېږي، څوک چې د کار د نړيوال سازمان د تعريف په اساس وزګار نه ګڼل کېږي.

۴. رسمي تخمين (Official Estimate): رسمي تخمين د يو يا زياتو پورته درې نورو ميتودونو د معلوماتو د يوځای کولو په اساس صورت نيسي او د کار ځواک د سروې په نسبت دغه روش کم د علاقې وړ دی.

د کار د بازار شاخصونه (Labor Market Indicators): کله چې مونږ د پورته روشونو څخه په استفادې د کار ځواک، د استخدام شوو اشخاصو د شمېر او د وزګارو اشخاصو په اړوند معلومات ترلاسه کړل، نو تر هغه وروسته بيا مونږ د کار د بازار د لاندې شاخصونو څخه استفاده کولای شو.

۵. د وزګارتيا نرخ يا (Unemployment Rate): د وزګارتيا نرخ عبارت د کاري ځواک له هغه سلنې څخه دی، چې وزګار دي او

د پيدا کولو لپاره يې د لاندې فورمول څخه استفاده صورت نيسي:

$$\text{د وزګارتيا نرخ} = \frac{\text{دبېکارانوشمېر}}{\text{دکارګرځواک}} \times 100$$

$$Unemployment.rate = \frac{Numeber.of\ .people.unemployed}{Labor.\ force} \times 100 \qquad (۹۳م۷)$$

يعنې په 1998م کال کې په امريکا کې د هغه خلکو شمېر چې استخدام شوي وو، 131,5 ميليونه او د هغه خلکو شمېر چې وزګار وو 6.2 ميليونه و. د پورته مساواتو څخه په استفاده کاري ځواک 137,7 ميلونه (131,5m+6,2m) او د وزګارتيا نرخ 4,5 فيصده و، يعنې (6.2m/137.7m او بيا ضرب 100). شکل:



Source: Economic Report of the President, 1999.

1.1 شکل: شکل ښايي چې په امريکا کې د وزګارتيا نرخ د OPEC بحران او د ۱۹۸۲ او ۱۹۹۱-۱۹۹۰ د بحران په حالت کې اعظمي حد ته ورسېد. (۹۴م۷)

۱. د کار د ځواک د ګډون نرخ يا (The Labor Force Participation Rate): د کاري ځواک د ګډون نرخ د عمر په اساس د کار وړ اشخاصو له هغه فيصدي څخه عبارت دی، څوک چې په کاري ځواک کې شاملېږي.

$$\text{په کار د برخه اخيستونکو کارګرو نرخ} = \frac{\text{د کار ځواک}}{\text{د کار وړ اشخاصو ګډون}} \times 100$$

$$Labor.\ force.paritcipat\ ion.rate = \frac{Labor.\ force}{Working - age.participat\ ion} \times 100$$

په ۱۹۸۸م کال کې د کار ځواک په امريکا کې 137.7 ميليون او د کار وړ شمېر البته د عمر په لحاظ 205.2 ميليونه و. د پورته مساواتو څخه د استفادې په صورت کې کولای شو چې د کارګرۍ قوې د ګډون نرخ ترلاسه کړو.

$$Labor.\ force.paritcipat\ ion.rate = \frac{137.7}{205.2} \times 100 = 67.1\%$$

د کارګرې قوې د ګډون نرخ منحني د 1.1 شکل د چپ لوري ارقامو څخه د استفادې په اساس ترسيم شوی او څرنګه چې ګورو زياتېدونکي يا پورته کېدونکي ميلان درلودونکی دی؛ په بل عبارت د 59 فيصدو څخه په 1960 کې 67 فيصدو ته په 1990 ميلادي کال کې پورته شوی دی.

۲. د نفوس- استخدام نرخ يا (The Employment to population Ratio): دا شاخص د عمر په لحاظ د هغه کار وړ اشخاصو له فيصدۍ څخه عبارت دي، چې دنده لري او کېدای شي د لاندې فرمول په واسطه لاسته راشي:

$$\text{د استخدام نسبت نرخ} = \frac{\text{د استخدام شمېر}}{\text{کاري شمېر}} = 100$$

$$Employment.to.Population = \frac{Number.of.people.employed}{Working-age.population} \times 100$$

په ۱۹۸۸م کال کې د استخدام شوو اشخاصو شمېر د امريکا متحده ايالاتو کې 131.5 ميليونه وو او د عمر په لحاظ د کار وړ اشخاصو شمېر 205.2 ميلونه وو، چې د پورته مساوات څخه په استفادې کولای شو، چې د نفوس- استخدام نسبت يا نرخ يې محاسبه کړو (۷م۹۵):

$$Employment.to.Population = \frac{131.5}{205.2} \times 100 = 64.1$$

1.1 شکل: شکل ښايي چې د نوس- استخدام نرخ په امريکا متحده ايالاتو کې د 55 فيصدو څخه د 1960 کال کې 64 فيصدو ته په 1998م کال کې لوړ شوی دی(۲م۴۰۰). د نفوس– استخدام نرخ يا Employment to Population Ratio کې زياتوالی دا معنی ورکوي، چې د امريکا په متحده ايالاتو کې د دندې ايجادولو نرخ نسبت د عمر په لحاظ د کار وړ اشخاصو يا Working ageشمېر زياتوالي ته سريع ؤ.

د وزګارتيا د اندازه کولو بديل شاخصونه:

U1: د کاري ځواک هغه فيصدي ښايي چې د ۱۵ يا زياتو اوونيو لپاره وزګار پاتې شوی وي.

U2: د کاري ځواک هغه فيصدي ښايي، چې دنده يې له لاسه ورکړې وي او يا يې يوه موقته دنده ترسره کړې وي او د نوموړې دندې موده پای ته رسېدلې وي.

U3: د کار د نړيوال سازمان د تعريف له مخې دا د وزګارتيا هغه رسمي نرخ دی، چې کله خلک دنده ونلري او د تېرو څلورو هفتو راپدېخوا يې د دندې لټه کړې وي.

U4: U3 جمع، مايوسه شوي کارګران يا هغه کارګران چې نور د دندې په لټه کې نه وي، ځکه موجوده اقتصادي حالت دوی قانع کړي وي، چې نور نو د دوی لپاره دنده نشته.

U5: U4 جمع هغه اشخاص چې د کار خواهش او توانايي لري، اما د دندې په لټه کې نه دي، يعنې سست کارګران يا د حاشې کارګران.

U6: U5 جمع پس له وخت کارکوونکي څوک چې غواړي ټول وخت يا Fulltime کار وکړي، اما د اقتصادي بحران له وجهې دوی ته کامل وخت کار نه پيدا کېږي. اوس پوښتنه دا ده چې ولې کامل استخدام نه رامنځته کېږي، يا ولې95% استخدام ته کامل استخدام ويل کېږي او يا هم ولې طبيعي بېکارۍ نرخ5 يا5.5 ښودل شوی؟ ددې پوښتنې د ځواب لپاره او همدارنګه پدې خاطر چې موږ هغه اشخاص مشخص کړو، چې د کار په ځواک کې شاملېږي او هغه اشخاص کوم چې د کار په ځواک کې نه شمېرل کېږي، نو پدې خاطر موږ د کار د بازار جريان يا د وزګارتيا جوړښت تر مطالعې لاندې نيسو.

د کار د بازار جريان يا د وزګارتيا جوړښت:



(۱۸۹م۸)

هغه اشخاص چې له دندې څخه په دايمي يا موقت ډول ويستل شوي وي، دوی ته د دندې د لاسه ورکوونکي يا Job Loserويل کېږي. د دندې د لاسه ورکوونکو يو شمېر نور نو د دندې په لټه کې نه وي او پدې ډول د کاري ځواک څخه وځي او د کار په ځواک کې نه شمېرل کېږي او پاتې نور يې کوم چې د دندې په لټه کې وي، د کار په ځواک کې شمېرل کېږي. همدارنګه هغه خلک چې په خپله خوښه دنده پرېږدي، هغوی د دندې ترک کوونکي يا Job leavers په نامه ياد ېږي، لکه د دندې له لاسه ورکوونکي په شان دوی څخه هم يو تعداد يې نور د دندې په لټه کې نه وي او په موقت يا دايمي ډول د کار د ځواک څخه خارجېږي او پاتې نور يې د دندې په لټه کې وي او پدې توګه د کار په ځواک کې شمېرل کېږي. هغه اشخاص چې د کار قوې ته داخلېږي يا هم دوباره داخلېږي، هغوی ته داخلېدونکي يا دوباره داخلېدونکي ويل کېږي. داخلېدونکي اصلاً هغه خلک دي چې دوی تحصيلي ادارو څخه فارغ شوي وي او د کار په ځواک کې شاملېږي. دوباره داخلېدونکي هغه خلک دي چې پخوا د کار ځواک څخه خارج شوي وي او بيا د کار ځواک کې شاملېږي او زيات ددغو خلکو مايوسه شوي کارګران وي؛ بناءً په همدغه جرياناتو چې همېشه د کار د بازار په جريان کې شامل وي، 94.5 يا 95 فيصده استخدام شوي اشخاصو ته کامل استخدام ويل کېږي.

د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ اړتيا:

۱. تر څو د وزګارتيا ستونزې او علتونه په ګوته شي.
۲. د استخدام په اړه د حکومت د پاليسۍ او مسوولیت د ارزيابۍ په خاطر.
۳. د کار د ځواک د شدت سکتور په ګوته شي.
۴. د زده کړې په سکتور کې د پانګې اچونې اندازې په اړه تصميم ونيول شي.

۵. د بېکارۍ ساحه او ميلان په ګوته شي.
۶. ترڅو هغه سکتورونه په ګوته شي، چې د دولت له خوا يې حمايه صورت ونيسي او په دې توګه د استخدام سطحه لوړه شي.
۷. ترڅو په ګوته شي چې دولت د کوم ډول مالي پاليسۍ او پولي پاليسۍ څخه د استخدام د لوړوالي لپاره کار واخلي.
۸. د متوازن منطقوي انکشاف لپاره پلان جوړونې سره د مرستې په خاطر.
۹. د وزګارتيا نرخ پيدا شي.
۱۰. هغه ټاکلی نفوس په ګوته شي، چې د حکومت فوري مرستې ته اړتيا لري.
۱۱. د يو هېواد د اقتصادي حالت د څرګندولو په خاطر.

پايله:

په دې خاطر چې د يو هېواد د اقتصادي وضعيت په اړه معلومات ترلاسه کړو، نو د نوموړي هېواد د وزګارتيا نرخ بايد پيدا کړو. ددې لپاره چې د وزګارتيا نرخ پيدا کړو، لومړی بايد د نفوسو سروې ترسره شي او د سروې وروسته د وزګارتيا د نرخ د سنجش څخه مخکې يو له هغه شاخصونو څخه وټاکل شي او بيا ترې استفاده وشي، چې د کار د نړيوال سازمان له خوا وړاندې شوي او تر هغې وروسته موږ کولای شو چې د ترلاسه شويو ارقامو څخه په استفادې د کار د بازار شاخصونه وسنجوو او په دې توګه يې په يوه هېواد کې د استخدام د نورو مختلفو کلونو سره مقايسه کړو او د اقتصادي حالت او د خلکو د ژوند په سطحه کې د بدلون په اړوند معلومات ترلاسه او هغه اشخاص په ګوته کړو، چې د دولت مرستې ته اړتيا لري.

وړانديزونه:

۱. د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ لپاره بايد په هر هېواد کې لومړی د نفوسو سروې وشي، ترڅو د يو هېواد ټول نفوس د عمر په لحاظ د کار وړ اشخاص، د کار ځواک، استخدام شويو او وزګارو اشخاصو شمېر معلوم شي.
۲. د وزګارتيا اندازه ګيرۍ لپاره د هر هېواد د شرايطو په پام کې نيولو سره د وزګارتيا د اندازه ګيرۍ ميتود يا روش مشخص شي.
۳. د کار ځواک د سروې په خاطر په هر هېواد کې داسې نمونې انتخاب شي، ترڅو د ټول هېواد نماينده ګي وکړای شي.
۴. ددې لپاره چې د وزګارتيا اندازه ګيري اسانه شي، نو د وزګارتيا بيمه دې په هېواد کې عامه شي.
۵. ددې لپاره چې د وزګارتيا اندازه ګيري اسانه شي، نو پکار ده چې په هېواد کې د وزګارتيا د معلوماتو يا data د لاسته راوړلو لپاره سازمانونه رامنځته شي.

Abstract:

As all understand unemployment is not only demographical and economical problem, but it is also a social problem. By employment is meant an engagement of a person in some occupation, business, trade or profession, etc. The nature of desiring to be employed can be explained by talking three established fact, working hour per day, wagerate, aman state of health. If the normal working hours per day in an established firm are, say, seven and a healthy man have the capacity to work for nine hours, it cannot be said that the man is unemployed for two hours a day. Similarly, if the wage rate in a particular occupation is certain money (wages) per day and certain man demands money per day then he would not be able to get employment. Finally, if a man sick and unable to work, he cannot be included in the rank of the unemployed. But unemployment is the case in which a person doesn't have any wages or occupation. We will find the measures for calculation of unemployment. For solving of this problem there are some techniques and scientific and demographic ways. For finding the best way, we will measure the rate of unemployment. We will not forget that there are different types and categories of unemployment. Employment official statistics, official estimates, unemployment rate survey, the labor force participation rate, and observation of work force applies are the best methods for this measurements.In this article we find the methods which are common use for these goals. Unemployment is a modern problem in economy. We can very well use some of these methods In Afghanistan.

اخځليکونه:

1. شبان، محمدانور. (۱۳۷۵). تیوریها عوامل و سیاست های انکشاف. پشاور: یونیون اید
2. Ahuja, H.L,.(2011). Modern Macroeconomics (Seventeenth Revised. Edition): New York.
3. Hamid,Shahid.(2008).Macroeconomics Urdu Bazar Lahore.
4. Mankiw, N. Gregory. (2005). Principles of economics (6th edition).Harvard University.
5. Michael,Par kin. (2000)Macroeconomic (Fifth Edition) San Francisco.
6. Nasir,M.S.(2012).Macro Economics . Imtiay Book Depot,Urdo bazaar.
7. Roger, A. Arnold.(2012).Economics (Fourth Edition) New York.
8. Samuelson, A. Paul &Nordhaus, D. William. (2009). Economics (Nineteenth edition) Los Angeles.

پوهنمل سيد غفور (غفوري)
ژبو او ادبياتو پوهنځی- عربي څانګه

نحوي مدرسې يا مکتبونه

لنډيز:

د عربي ژبې ګرامر چې په نحو او صرف باندې مشهور دی، هغه وخت د علماوو توجه ځانته راواړوله، چې کله غير عرب په عربو کې د اسلامي فتوحاتو څخه وروسته ورګډ شول، او د عربي ژبې په نطق او زده کولو کې د يو لړ مشکلاتو سره مخامخ شول او هم يې په عربي ژبه کې لحن يعنې خطاګانې ورګډې کړې. په همدې مهال علماوو په عربي ګرامر ليکلو پيل وکړ، چې ددې عربي ګرامر پيل د عراق د دوه مهمو ښارونو چې يو يې بصره او بل يې کوفه نوميده، وشو چې دا دواړه ښارونه په تاريخي لحاظ باندې هم ډېر اهميت لري او وروسته چې کوم ګرامري (نحوي او صرفي) نظريات دي، د همدغو دواړو ښارونو علماوو ته منصوب شوي چې د کوفې او بصرې مکتبونو په نوم باندې يادېږي، چې دا دواړه مکتبونه د عربي ګرامر موسسين دي.

سريزه:

هره ژبه خپل ځان ته ګرامر لري او د هرې ژبې د يادولو، ليکلو او لوستلو لپاره د هغې ژبې ګرامر پوهنې ته اړتيا ده، څرنګه چې د قرآن کريم ژبه په عربي ده او الله تعالی دا کتاب په عربي نازل کړی او خپل کتاب لپاره يې دا ژبه اختيار کړې، په دې کې يو غټ راز پروت دی او هغه دا چې عربي يو کامله پراخه او غني ژبه ده، چې هيڅ يوه ژبه د هغې سره پرتله کېدای نشي چې دوست او دښمن ټول په دې باندې اعتراف کوي. ددې ژبې د بقا يو اصلي عامل قرآن کريم دی، چې دا ژبه يې ژوندۍ ساتلې ده؛ هره ژبه په مرور د زمان سره يا بدله شوه او يا په کلي شکل له منځه تللې، مګر يوازې عربي ژبه ده چې په خپل حال پاتې ده. د اسلامي شريعت علماوو په دې خاطر چې د خپل دين خدمت يې کړی وي، د عربي ژبې د سالمې پاتې کېدو لپاره يې هلې ځلې کړي، چې د هغې ټول قواعد يې راجمع کړي، ليکلي يې دي او د عربي ټول مربوطه علوم يې په خپلو فروعو کې سره جلا کړي او د هغوی ټول جزئيات يې بيان کړي چې په نحو، صرف، بلاغت، ادب، عروض وقافيه او داسې نورو علومو يې ويشلي دي. په دې عمل سره يې د عربي ژبې د ټولو علومو د محفوظ پاتې کېدو چانس زيات کړی دی چې نن مونږ ددې علماوو د کوښښونو په نتيجه کې ډېرې اسانتياوې وينو، چې د عربي ژبې د زده کړې لپاره رامنځته شوي او هم د قرآن کريم پوهنې لپاره يوه آسانه طريقه او لاره ده، حتی چې نورو ژبپوهانو د عربي ژبې د ګرامر څخه نقل کړی او زياتره اصلاحات او قوانين چې په نورو ژبو کې ګورئ، نو د عربي ژبې څخه اخيستل شوي دي؛ چې دا ددې پخوانيو علماوو د عمل برکت دی، چې مونږ بايد د هغوی دغه عمل تقدير او وستايو.

موخې:

ددې مقالې د ليکنې اصلي موخه د عربي ژبې د ګرامر اصل مدارک او مرکزونو پېژندل او د هغوی په ارزښت او قدر پوهېدل دي.

نحوي مدرسې يا مکتبونه:

کله چې مونږ د نحوې د نشأت او يا آغاز خبره څېړو، نو دا اصطلاح به مونږ له ځان سره د نحاتو او اهل علم النحو د مناهجو او په اصولو او فروعو کې د هغوی د اختلافاتو لوري ته کش کړي؛ ترڅو ددې مناهجو، مدارسو او مذاهبو سره توپير او تميز وکړو او ويې پېژنو. مخکې له دې څخه چې په دې مسايلو کې بحث وکړو، پکار ده چې د تقسيم موضوع چې په دوه مرحلو ويشل شوي، وپېژنو.

اوله مرحله: د علماوو نومول د هغوی په وطنونو او امصارو باندې چې دا د هغوی د خاص مذهب د موجوديت اظهار کوي، لکه مذهب اهل الکوفه يا مذهب اهل البصرة.

دوهمه مرحله: د هغوی د مناهجو او طريقو تقسيمول او د يو مذهب په شکل کې يې راټولول.
اول: د هغو مؤرخينو چې د نحوې او نحاتو باره کې يې ليکنې کړې دي، د طريقو او مناهجو څخه مونږ ته دا معلومېږي، چې هغوی په خپل ترتيب کې هغه ښار يا ملک ته د ځان منسوبولو متابعت کړی، کوم کې يې چې نحو زده کړې او تدريس يې کړی دی، او هغوی د بصرې، کوفې او بغداد علما دي. (۷م۱۳)
د دوی له جملې څخه يو هم محمد بن سلام الجمحي (۱۳۹-۲۳۱ هـ) دی او هغه وايي: ((د بصرې خلکو په عربي کې سابقه لرله او د عربو په لغاتو او نحو يې ډېر اهتمام کولو)). (۱۰م۱۲)
محمد بن سلام د ابوالاسود الدولي تاريخ ليکلی او هغه يې د علم نحو مؤسس ګڼلی دی، او هم يې د يحيى بن يعمر، عبدالله بن ابی اسحاق، الحضرمي ابو عمرو بن العلاء په باره کې ليکنې کړي دي او هغوی يې دې مدرسې ته نه دي منسوب کړي، بلکې د اهل بصره څخه يې شمېرلی دی. (۷م۷)
ابومحمد عبدالله بن مسلم الدينوري (۲۱۳-۲۷۶ هـ) هم همدا کار کړی او د هغې مشهورو نحاتو ترجمه يې ليکلې، چې هغوی يې کوم مذهب او يا مدرسې ته ندي منسوب کړي. ابو الطيب عبدالواحد اللغوي الحلبي (۳۵۱هـ) د ابومحمد او محمد بن سلام څخه وروسته راغلی او هغوی د (مراتب النحويين) په نامه کتاب ليکلی دی او دې علماوو به اهل النحو يا نحاة خپلو امصارو ته منسوبول او ددې دليل دادی چې ابوالطيب خپل کتاب د کوفيونو او بصرينو د ذکر څخه وروسته په دې قول ختم کړی دی: ((لا علم للعرب الا فی هاتين المدينتين.)) نشته دی عربو لره علم، مګر په بصره او کوفه کې. (۷م م۸-۱۰)
دويم: ابوبکر محمد بن الحسن (۳۷۹هـ) د اول ځل لپاره د مذهب کلمه استعمال کړه، کله يې چې د ثعلب د اصحابو په ترجمه او سيرت کې ليکنه کوله او د ابي موسى الحامض په باره کې داسې وايي: ((هغه په عربي او نحو کې ماهر وو، او د کوفينو په مذهب وو)). او د ابن کيسان په باره کې ابوبکر محمد بن الحسن داسې وايي: ((هغه بصري او کوفي و، هغه به دواړه قولونه يادول، او په دواړو مذهبونو پوهېدلو، او هغه د ثعلب او المبرد څخه اخذ کړی دی، او هغه د مذهب البصرة طرف ته مايل و)). (۴م م۱۷۰-۱۷۱)
له پورتنيو دلايلو څخه معلومېږي، چې ابوبکر الزبيدي لومړنی شخص دی چې نحاة يې د امصارو او بلدانو له مخې په مجموعاتو او ډلګيو ويشلي دي او د اول ځل لپاره يې د (مذهب الکوفيين) او (مذهب البصريين) او (المذهبين) کلمات استعمال کړي دي. (۷م۱۱)
دريم: معاصرو او وروستنيو باحثينو او علماوو د (المدرسة) کلمه د نحوي مذهب لپاره استعمال کړه او دوی ددې کلمې په استعمال کې د غربيانو څخه متاثره وو، ځکه دا کلمه په غرب کې د مذهب په نوم ډېره مشهوره ده. (۹م۱۴۸)
(جوتولد فايل) او (برو کلمان) له اولنيو کسانو څخه دي، چې د المدرسة البصرية او المدرسة الکوفية مصطلحات يې استعمال کړل او برو کلمان وايي: د عربي علماوو د نحوي مذاهب په درې قسمونو تقسيم کړي (بصريين، کوفيين- د بغداد علماء). (۳م م۱۲۴-۱۲۵)
معاصرو علماوو هم دا کلمه استعمال کړه چې د هغو څخه يو هم د (مدرسة الکوفة و منهجها فی دراسة اللغة والنحو) کتاب مؤلف دوکتور مهدي المخزومي او يو هم د (المدارس النحوية) کتاب مؤلف دوکتور شوقي ضيف او بل هم د (مدرسة البصرة النحوية) کتاب مؤلف دوکتور عبدالرحمن السيد دی.(۷م۱۳)

د مذهب او مدرسې مفهوم:

۱- د نحوي مذهب مفهوم: مذهب يو فقهي اصطلاح ده، لکه مذهب الامام شافعي و غيره، او د عربي ادبياتو ته هم انتقال شوې، چې د يو مفکر د رايو او مبادئو څخه يې تعبير کولو. (۱۱م۱۵)
د مذهب تعريف د نحوي له نظره: د يو علم هغه ډلګۍ چې يو مذهب ته قايل وي او د يوې مشترکې نحوي رايې د اصولو او طريقې اتباع کوي، ولو که دوی په جنس او ځای کې سره مختلف وي. (۸م۱۴۴)
۲- د المدرسة النحوية مفهوم: المعجم الوسيط د المدرسة د اصطلاح په تعريف کې داسې ليکي: ((المدرسة د هغو مفکرينو، باحثينو او فلاسفه و ډله ده، چې د يو معين مذهب اتباع کوي او يا يوې مشترکې رايې ته قايل دي)). (۷م۱۴۸)

استاذ علي النجدي ناصف د المدرسة تعريف داسې بيانوي: ((د يو مشخص علم او يا فن هغه طايفه چې د علم يا فن اصول او مناهج يې په يو مشترک قالب کې راټولوي، ولو که دوی په جنس، وطنونو او شخصياتو کې سره توپير ولري او په فروعو او تفاصيلو کې سره اختلاف ولري)). (۹م۱۴۹)

آيا نحوي مذاهب او يا نحوي مدارس شته؟

۱- نحوي مذاهب: پخواني علماء وايي چې هلته دوه مذاهب وو، چې يو يې المذهب البصري او بل يې المذهب الکوفي په نامه يادېدل، خو بعضې تاليفات ليکي چې مصري او اندلسي نحاة هم موجود وو. (۸م۱۴۵)

۲- نحوي مدارس: د نحوي مدارسو په باره کې د علماوو رايې مختلفې دي، اوله رايه: نحوي مدارس مطلقاً نشته، بلکې هغه جغرافيوي تجمعات دي او داسې نحوي مدرسې نشته چې هر يوه د يو خاص اسلوب، طريقې او منهج باندې جلا وي او د مشترکو او خاصو اصولو اتباع وکړي، ولو که په فروعو کې اختلاف هم لري او چا چې دا رايه انتخاب کړې، د هغوی څخه يو هم استاذ سعيد الافغاني او بل استاذ علي ابو المکارم دی. (۹م۱۵۱)

دويمه رايه: يوازې يوه نحوي مدرسه شته، چې هغه (مدرسة البصرة) ده او ددې رايې د خلکو د مدرسة الکوفة د موجوديت څخه انکار کړی دی او ددې رايې ويونکی: استاذ الدکتور ابراهيم السامرائي او جوتولد فايل دي. (۴م م۲۱۳-۲۵۳)

دريمه رايه: دريم ټولګی د نحاتو د مدرسة الکوفة او مدرسة البصرة موجوديت ثابت کړی او د مدرسة بغدادية د موجوديت په قبلولو کې متردد شوي دي. (۲م م۱۳۹-۱۴۱)

ددې رايو ترمنځ ترجيح: که چېرته مونږ په هغو اوصافو کې فکر وکړو، چې پخوانيو علماوو د (الدراسات النحوية غير البصرية والکوفية) په باره کې بيان کړي، نو دې نتيجې ته به ورسېږو چې مونږ يوازې د نحوي دوه مدرسې لرو. يوه يې بصري او بله يې کوفي ده او نورې مدرسې، لکه مصري او اندلس ددې مدرسو تابع دي. هغه کومې مستقلې مدرسې نه دي، بلکې يوازې په يو څه فروعو کې يې اجتهادات کړي دي او بس. (۷م۱۲)

په لاندې توګه به د نوموړو نحوي مدرسو څخه د يوې مدرسې چې ډېر شهرت او په تاريخي لحاظ د نورو څخه سبقت لري، يادونه وکړو چې هغه د بصرې مدرسه ده.

د بصرې مدرسه: په پخوا زمانه کې نحو په دې نوم نه پېژندل کېده، بلکې د عربي علم (علم العربية) په نامه يادېدله، او دا نوم (نحو) د بصرې علماوو د دويمې طبقې په دور کې رابرسېره شو، کله چې ددې طبقې د علماوو هغه تاليفاتو خورا شهرت وموند، کوم چې په نحوي تاليفاتو (مؤلفات نحوية) نومول شوي وو او له دې څخه د نحوي نوم منځته راغی او مشهور شو. (۱م۲۸)

د نحوي د آغاز ځای يا د نحوي نشأت او نمو:

ټول مصادر په دې متفق دي چې عراق هغه زانګو ده چې عربي نحوي په کې سر راپورته کړی او پيدا شوه، البته د لاندينيو څو اسبابو له وجې:

۱- عراق ته د اسلامي فتوحاتو څخه وړاندې عجم راتلل او وروسته د فتحې ورته مسلمانو عربو او عجمو هم مخه وکړه، ځکه چې هلته د ژوند ډېر سهوليات مهيا وو.

۲- ددې اختلاط له وجې عراق ډېر متاثر شوی و، د عربو او عجمو د اختلاط له وجې ډېرې غلطيانې (لحني غلطيانې) په عربي کې را پيدا شوې وې.

۳- د عراق خلک له ډېر پخوا څخه د علومو او تاليفاتو سره بلد وو او په دې برخه کې يې ډېره تجربه لرله، او له دې جملې څخه بصره ښار تر ټولو پخوانی او لومړنی ښار و، چې د نحوي سره بلد و او د کوفې په نسبت يې لا د يوې پېړۍ څخه د مخه خپله غېږه د نحوي لپاره خلاصه کړې وه، بصره وه چې د نحوي د کلا بنسټ يې ايښودی و او د هغې بنيادونه يې محکم او پورته کړي وو، او دا ټول په داسې وخت کې چې د کوفې خلک د قرآن کريم د قرائتونو په تعليم- شعر او احاديثو په رواياتو مشغول وو. پخواني علماء په دې حقيقت پوهېدل، نو ځکه يې په دې باره کې په مختلفو عبارتونو او ټکو ليکنې کړې دي او د دوی له جملې څخه يو هم د ابن سلام الجمحي قول دی چې وايي: ((د بصرې خلک په عربي کې سابقه لرله، او په نحوه او د عربو په لغاتو يې ډېر اهتمام کولو). يو بل عالم ابن نديم دا حقيقت لا روښانه کوي او د بصرې او کوفې د نحاتو (اهل نحو)

په باره کې وايي: بصريين بهتر دي، ځکه د عربي علم د هغوی څخه اخيستل شوی دی). له دې څخه وروسته د بصري او کوفي علماوو په مشترک ډول د نحو د ترقۍ او نمو لپاره کار شروع کړ چې دا سلسله د بصرې د دوهمې طبقې شيخ الخليل بن احمد له دور څخه پيل وموند او د عباسي خلافت په اوږدو کې يې خورا زيات پرمختګ وکړ. (۱م۲۹)

د عربي نحوې د اينبودلو او وضع کولو اسباب:

د عربي نحوې د وضع کولو مختلف عوامل او وجوهات دي، چې بعضې له دې وجوهاتو څخه ديني او بعضې نور يې غير ديني دي.

۱- ديني عوامل: د قرآن کريم د نصوصو په سالمه او فصيحه توګه اداکول، ځکه چې په عربي ژبه کې (اللحن) غلطي ورګډه شوې وه، حتی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې بعضې راويان وايي چې مونږ يو سړی وليد چې په خبرو کې يې غلطي درلوده، نو رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((ارشدوا أخاکم فانه قد ضل)). خاصتاً کله چې مغلوب شوي قومونه د عربو سره راګډ شول، هغوی ډېرې لحني غلطيانې لرلې، چې دې په عربو ډېر تاثير وکړ، حتی چې د عربو په فصحاوو او خطيبانو هم او په عربي ژبه يې هم تاثير پرېوت. دا او دې ته ورته نور عوامل وو چې د عربي نحوې د وضع کولو سبب شول. (۴م۲۲)، (۱۱م۱۱)

۲- بعضې قومي عربي اسباب هم دي چې له هغې څخه يو هم دادی چې عربو په خپله ژبه ډېر فخر کولو او له دې څخه په ويره کې وو، چې د عجمو سره د رامنځته شوي اختلاط له وجې يې ژبې ته نقصان ونه رسېږي.

۳- بعضې اجتماعي اسباب هم وو چې د هغې له جملې څخه يو يې هم دادی چې هغه مستعربه قومونه چې نوي راګډ شوي وو، هغوی محتاج شول چې يو څوک ورته د عربي نحوې او صرف قواعد وضع کړي، ترڅو وکولای شي په سالمې طريقې سره د عربي ژبې نطق اداءکړي.

عربي نحوې سره په اشناکېدو کې د بصرې مخکېوالی:

اول- سياسي عامل: بصره د اموي خلافت تر امارت لاندې وه، او په دې وخت کې په کوفه کې ډېر سياسي مشکلات وو، ځکه چې د کوفې اکثره خلک د اموي خلافت څخه خپه وو، او د علي رضي الله عنه طرفداران وو، نو ځکه کوفه وروسته پاتې شوه او بصرې د امويانو توجه او پاملرنه ځانته راجلب کړې وه.

دويم- جغرافيوي موقعيت: د بصرې جغرافيوي موقعيت د عربي نحوې سره د بصرې د اشناکېدلو په مخکېوالي کې خورا اهميت او تاثير درلود، ځکه چې بصره د عراق هغه ښار دی چې د عربو سره ډېر نږدی و، او دې نږدېوالي د بصرې خلکو سره د عربو څخه د زده کړې په سلسله کې ډېر کومک وکړ. (۱م۳۱)

دريم- ثقافتي عامل: د المربد بازار يا (سوق المربد) نږدېوالی د بصرې سره؛ دا هغه بازار و چې دلته به عربي شعراء او اديبان راتلل او خپلې قصيدې او شعرونه به يې تقديمول، او علمي مجالس به دايرېدل چې دا کټ مټ د جاهليت په زمانه کې د (سوق عکاظ) په شان و. (۲م۱۳۵)

د نحوي مدرسو مشهور علماء او د هغوی مشهور مصنفات:

يوه ډله د پخوانيو نحوي علماوو څخه ده چې د وروستيو مدرسو لپاره بنيادي استاذان ګڼل کېږي، اګر چې دوی په بصره کې وو، خو د دوی نظريات او آراء يوازې د بصرې مدرسې پورې تړلي نه دي، بلکې د کوفې او بصرې دواړو مدرسو علماء د دوی د شاګردانو څخه دي چې ددې علماوو څخه ابن ابي اسحق، عيسی بن عمر الثقفي، ابو عمرو بن العلاء، يونس بن حبيب او الخليل بن احمد الفراهيدي شمېرل کېږي. (۵م م۱-۸)

د بصرې د مدرسې مشهور علماء او د هغوی مشهور مصنفات: د بصرې مدرسې د مشهورو علماوو څخه يې لومړی سيبويه دی چې دده کتاب (الکتاب) په نحو کې اساسي او اصلي مصدر ګڼل کېږي.

دوهم- الاخفش الاوسط: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (المسائل الکبير) دی.

دريم- قطرب: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (العلل فی النحو او الاشتقاق) دي.

څلورم- ابوعمرالجرمي: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (المختصر او الابنيه) دي.

پنځم_ المازني: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (الديباج فی جوامع کتاب سيبويه) دی.
شپږم_ المبرد: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (المقتضب) دی.
اووم_ الزجاج: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (شرح ابيات سيبويه) دی.
اتم_ ابن السراج: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (الاسول الکبير) دی.
نهم_ السيرافي: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (المدخل الی الکتاب) دی.
د کوفي مدرسې مشهور علماء او د هغوی مشهور کتابونه: ددې مدرسې د لومړنيو علماوو څخه الکسائي دی، چې د مشهورو کتابونو څخه يې مختصر النحو، الحدود فی النحو، ماتلحن فيه العوام دي.
دوهم_ هشام بن معاويه الضرير: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (الحدود، المختصر او القياس) دي.
دريم_ الفراء: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (الکتاب الکبير او لغات القران) دي.
څلورم_ تعلب: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (المجالس) دی.
پنځم_ الانباوي: چې د مشهورو کتابونو څخه يې (الاضداد او الموضح فن النحو) دي. (۵م م۱-۸)

پايله:

د عربي ژبې د ګرامر صحيح پېژندل مونږ ته دا خبره جوتوي، چې عربي ژبه د نورو ژبو څخه په ګرامر کې ډېر سبقت لري او قواعد يې خورا په ډېر دقت او غور سره راټول شوي چې وروسته د ټولو ژبو دودونه د همدې عربي ګرامر څخه متاثره دي، چې په مجموع کې ويلی شو چې د ګرامر پېژندنې اساس لومړی د عربي ژبې پوهانو ايجاد کړی دی. دوهمه دا خبره ده چې د نحوي دوه مکتبونه چې يو يې په بصري او بل يې په کوفي باندې مشهور دي، ددې بېلګې دي چې عربي ژبه يوه ډېره پراخه او وسيع البنياده ژبه ده چې دا خصوصيات په نورو ژبو کې نه ليدل کېږي.

وړانديزونه:

1. د عربي ژبې ګرامر بايد د نورو ژبو د ګرامر سره پرتله شي، ترڅو هغه مقدار او اندازه معلومه شي چې د عربي ژبې څخه اخيستل شوې ده.
2. د عربي ګرامر د سبقت موضوع بايد نوره هم په دقيقه توګه وڅېړل شي، ترڅو خلکو ته دا جوته شي چې عربي يوه کامله، غني او د نورو ژبو څخه مخکې ده.
3. څرنګه چې عربي د قرآن کريم ژبه ده، هر مسلمان بايد ورته توجه وکړي او د هغې په قواعدو ځان پوه کړي، ترڅو د خپل کتاب قرآن کريم په يادولو کې ورته اسانتياوې رامنځته شي.

Abstract:

Arabic Grammatical Schools of Thought
By: Assist. Prof. Said Ghafoor Ghafoori
Faculty: Languages and Literature
Dept: Arabic

The grammar of Arabic language recognized as Nahwa (Syntax) and Sarf (Semantics).Attracted the attention of Arabic Linguists and Academicians; right after Islamic Victories, when Muslims of Non-Arab world joined Arabic groups. Muslims from Non-Arab world faced certain challenges in acquiring Arabic Language being in an Arab territory and due to inaccurate translations of so called linguists and academicians. They committed certain mistakes while acquiring the accurate form of Arabic Language. This became the only reason that compelled Arab Linguists and Academicians to develop a sort of standard Arabic grammar to those who learn Arabic as a second language. For the first time, this grammar was developed in two regions of Iraq named Basra and Kufa that are famous and historical cities in Iraq. Therefore, all Arabic grammatical theories take their origins from the works of the linguists of the stated cities. Those Linguists and Academicians are known as Kufi and Basri schools of thought and are accepted and respected as the founders of Arabic Grammar; Nahwa (Syntax) and Sarf (Semantics).

اخځلیکونه:

1. ابراهیم عبود ، السامرائي. (۱۹۹۸). المفید فی المدارس النحویة. اردن: دارالمسیرة للنشر والتوزیع و الطباعة.
2. احمد امین. (۱۹۹۲). ضحی الاسلام. بیروت: دارالکتاب العربی.
3. احمد حسن الزیات. (۱۹۹۰). تاریخ الادب العربی- طبع الهند.
4. الزبیدی. (۱۹۹۰). طبقات النحویین واللغویین. مصر: طبع مصطفی البابی.
5. الزرکلی، خیرالدین. (۱۹۹۹). الأعلام. بیروت: طبع دارالعلم للملایین.
6. د- ابراهیم السامرائی. (۲۰۰۲م). المدارس النحویة اسطورة و واقع. بیروت: طبع المکتب الاسلامی.
7. د- خدیجة الحدیثی. (۲۰۰۰م). المدارس النحویة. بیروت: طبع دارالفکر العربی.
8. د- صالح بلعید. (۱۹۹۵م). فی اصول النحو. مصر: طبع البابی الحلبی.
9. د- عبدالله الخثران. (۱۹۹۲م). مراحل تطورالدرس النحوی. بیروت: طبع دارالفکر العربی.
10. محمد بن سلام الجمحی. (۱۹۹۳م). طبقات فحول الشعراء. بیروت: طبع دار الکتب العلمیة.
11. شوقی ضیف. (۱۹۹۱م). المدارس النحویة. مصر: دارالمعارف.

پوهنمل محفوظ الله (عارفي)
پوهندوی نقيب الله (ثاقب)
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
جزا او جنايي علومو څانګه

د رشوت جرم څېړنه

لنډيز:

دا چې د رشوت اخيستل او ورکول نن ورځ يو رواج ګرځېدلی، او د دولت زياتره کارکوونکي کوښښ کوي چې ددې نامشروع لارې ځانونه غنيان کړي، نو موږ هم زيار ګاللی، چې دغه ناوړه پديده او د هغې ناوړه عواقب د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو په رڼا کې په ښه شکل تشريح کړو.

سريزه:

ښکاره خبره ده چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې هر حکومت د دولتي چارو د پرمختګ او ترسره کولو لپاره خپل مامورين مقرروي، ترڅو په دولت پورې اړونده چارې پرمخ بوځي او همدارنګه دا دولتي کارکوونکي دي، چې په اداري او نورو دولتي برخو کې د خلکو خدمت کوي؛ نو که چېرې دا کارکوونکي نه وی، نو دولتي چارې نشي ترسره کېدای. خو کله چې دولت د دولتي کارونو د اجرا کولو لپاره مامورين استخداموي، نو د هغوی د واک، صلاحيت او د کارونو د اجرا د څرنګوالي لپاره ورته قواعد او مقررات وضع کوي، ترڅو ددې قواعدو او مقرراتو په چوکاټ کې خپلې کړنې عيارې کړي او ددې قواعدو مطابق د خپل واک او صلاحيت څخه استفاده وکړي. که چېرې دولتي کارکوونکي ددې وضع شويو مقرراتو څخه تېری کوي او د چارو په ترسره کولو کې د هغې مراعت نکوي، نو د دوی دا ډول عمل يو قانوني تخلف ګڼل کېږي او په نتيجه کې ورته مسوولیت راجع کېږي، چې دا مسوولیت به يا اداري وي، يا مدني او يا به هم جزايي وي، چې د جزايي مسوولیت د راجع کېدو په صورت کې دغه ډول سرغړونو ته د دولتي کارکوونکو جرايم ويل کېږي. د دولتي کارکوونکو جرايم بيا په لومړي قدم کې په دوو برخو ويشل شوي دي، چې يو هغه جرايم دي، چې د دولتي کارکوونکي پرته نور عادي خلک هم هغه ترسره کولای شي، لکه سرقت، قتل، حريق او داسې نور...، دويم يې هغه ډول جرايم دي چې د دولتي کارکوونکي څخه پرته نور عادي اشخاص هغه نشي تر سره کولای، چې دې ډول جرايمو ته د دولتي کارکوونکو خاص جرايم ويل کېږي، چې دا جرايم بيا مختلف ډولونه لري چې يو ډول د هغوی څخه يې د اموالو په ضد جرايم دي، لکه اختلاس، رشوت، غيرقانوني تصرف او تدليس. ددې جرايمو د تحقق لپاره دا ضروري ده، چې د هغې مرتکب به دولتي کارکوونکی وي او د بلې خوا دا هم ضروري ده، چې دا جرم به يې د وظيفې د اجرا پر مهال ترسره کړی وي. لکه چې پوهېږو يو د لويو بلاګانو څخه چې له پخوا راهيسې بشري ټولنه ورسره لاس او ګرېوان ده او زيات دوام لري، د رشوت خوړلو موضوع ده، چې د اجتماعي عدالت د پلي کېدو په لاره کې يو لوی خنډ دی او دا ددې سبب کېږي چې قوانين ددې په ځای چې د عامو خلکو ګټې وساتي، د ظالمانو په نفع چې هغه يې بايد محدود کړی وای، کارول کېږي؛ ځکه زورواکان او قوي خلک کولای شي، چې په خپل زور سره خپلې ګټې خوندي کړي. ښکاره خبره ده که چېرې د رشوت دروازې خلاصې شي، نو صحيح قوانين به معکوسې نتيجې ورکوي، ځکه داسې خلک شته چې قوي دي او د رشوت ورکولو توان لري، نو په نتيجه کې همدا رشوت د زورواکانو په لاس کې د ظلم او تېري د دوام او د کمزورو خلکو په حقوقو د تېري يوه ښه وسيله ده. نو همدا دليل دی، چې په کومه ټولنه کې رشوت نفوذ وکړي، د هغې ټولنې ښېرازي له منځه ځي او د هغوی په ټولو حقوقي، سياسي او ټولنيزو برخو کې ظلم، فساد، تبعيض او بې عدالتي نفوذ کوي او د قانوني عدالت به يوازې نوم پاتې وي. د يادونې وړ ده چې ددې ليکنې د کتابتوني څېړنې او ليکنې برخه د پوهنمل محفوظ الله عارفي له خوا بشپړه شوې، او د ذيصلاح ارګانونو څخه د رشوت د جرم په اړه د معلوماتو د راټولولو چارې د پوهندوی نقيب الله ثاقب له خوا ترسره شوي دي.

موخې:

- د اسلامي شريعت او قانون په رڼا کې د ټولنې ټولو اقشارو ته د رشوت د جرم معرفي کول.
- په ټولنه کې د رشوت رامنځته کېدو عوامل.
- د رشوت د جرم د له منځه وړلو د لارو چارو په ګوته کول.

مواد او کړنلاره:

د څېړنې بڼه کتابتوني او ساحوي ده؛ په ليکنيزه برخه کې يې د معتبرو منابعو او اثارو څخه استفاده شوې ده، او دغه راز د دويمې برخې د بشپړتيا په موخه د يو شمېر قضايي او امنيتي ارګانونو د مسوولينو سره مرکې شوي او بيا په سيستماتيک ډول په مقاله کې ځای پرځای شوي دي.

د رشوت پېژندنه:

څرنګه چې د رشوت په لفظ کې د پراخوالي له نظره اختلاف موجود دی، نو اړينه ده چې دغه کلمه د لغوي او اصطلاحي لحاظه تعريف شي.

الف- د رشوت لغوي تعريف: رشوت يوه عربي کلمه ده، چې د (رشو) څخه اخستل شوې، چې د (را) په فتح، کسره او ضمه باندې تلفظ شوې، چې د هغه جمع د (را) ضمه او کسره سره (رش) يا (ريش) ده، چې د مزد او پاري په معنی ده. يا د رشوت د کليمې لغوي معنی کود (سره) او خاشاک ده، او خپله رشوت د (رشو) مصدر دی او د هغه شي په معنی دی، چې د حق د ضايع کولو او د باطل د حق کولو لپاره يو چاته ورکول کېږي. همدارنګه د رشوت څخه ګڼ شمېر تعريفونه شوي دي، چې ټول تقريباً په کم او زيات توپير په يوه معنی دي، لکه (رشوت عبارت د هغه شي څخه دی، چې د يو ناحقه کار د جوړولو لپاره يو چاته ورکول کېږي)، يا (رشوه) د (جُعل) په معنی ده او هغه شی ته وايي چې د کار جوړونې لپاره ورکول کېږي او همدارنګه د اجورې په معنی ده، يا ويلای شو چې دا لفظ د (رشاء) څخه اخيستل شوی او (رشاء) د (رسن) يعنې هغه پړي په معنی دی، چې په هغه پورې بوکه تړي او د کوهي څخه پرې اوبه راوباسي؛ يا رشوه د ناحقه قضاوت لپاره د مال ورکول دي.

ب- د رشوت اصطلاحي تعريف: څرنګه چې د رشوت د لغت د معنی په برخه کې د علماوو ترمنځ اختلاف شته، په همدې ډول علما د رشوت د اصطلاحي تعريف په بر خه کې هم اختلاف لري، ځکه د رشوت په تعريف کې د اهل لغت پر نظرياتو تکيه کوي او هر يو د رشوت لپاره بېل- بېل تعريف کوي، چې په لاندې توګه يې مطالعه کوو.

۱- د رشوت تعريف: د عامه خدمتونو د هر يو موظف لخوا چې د يوې وظيفې د اجرا، امتناع يا اخلال په موخه چې پرې مکلف شوی، په خپل نوم يا د بل په نوم د نغدو پيسو، مال يا يو څه اندازه ګټې غوښتلو ته رشوت وايي. (د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، ايډلو ۱۳۸۷ مخ۱۸۱).

۲- تعريف: ډاکتر ايرج ګلدوزيان په خپل کتاب حقوق جزای اختصاصي کې بيا رشوت داسې تعريف کړی دی: رشوت عبارت دی له هغه پيسو، مال، او يا د مال د تسليمۍ يا پيسو د ورکړې سند څخه چې د دولت يا درې ګونو قواوو يا مسلحو قواوو يا ښاروالیو او يا په هغه پورې تړلو شرکتونو او سازمانونو يا عامه خدمتونو باندې د مامور شويو موسساتو هر مستخدم د هغه کار د کولو يا نه کولو په منظور چې د يادشويو سازمانونو مربوط وي، په مستقيم يا غيرمستقيم ډول قبول کړي؛ پرته له دې چې يادشوی کار دده د دندې پورې اړه لري يا دا چې د نوموړي سازمان په بل مامور پورې اړوند وي. که غوښتل شوی کار يې کړی وي يا يې نه وي کړی، هر څومره چې د هغه ترسره کول د وظيفې او حقانيت مطابق وي او يا د هغه په ترسره کولو کې موثر شوی وي يا نه، بيا هم رشوت تحقق پيدا کوي. (۸)

۳- تعريف: رشوت د هغه جرم څخه عبارت دی چې موظف مامور د دندې په بهير کې د هغه مرتکب شي، په داسې توګه چې د يوه کار د اجرا يا د هغه څخه د امتناع په بدل کې مال يا منفعت مطالبه يا قبول کړي. څرنګه چې ليدل کېږي، دغه پورته تعريف ډېر په رشوت اخستونکي تکيه کوي، يعنې يوازې د رشوت اخستل جرم ګڼي، په داسې حال کې چې د رشوت ورکول هم په خپل وار جرم دی او د هغه د مرتکب لپاره جزايي مسوولیت رامنځته کوي. دغه تعريف د هغه د محدودوالي له امله د منلو وړ ندی، ځکه د ډېرو هېوادونو جزايي قوانينو نه يوازې د رشوت ورکولو او رشوت اخستلو عمل جرم ګڼلی دی، بلکې

د رشوت واسطه هم په جرم کې شريک ګڼي؛ نو ځکه رشوت له دې کبله چې د هغه ورکوونکی او اخستونکی دواړه مجرمين ګڼل کېږي، نو بايد رشوت په لاندې ډول له دوه ليدلورو تعريف شي.

۴- تعريف: رشوت د هغه د اخستونکي له ليدلوري د مال يا منفعت مطالبې يا اخستلو ته وايي چې د هغه شخص لخوا، چې د يوه کار د اجرا لپاره موظف شوی دی، د بل شخص څخه د هغه کار د اجرا يا امتناع لپاره صورت نيسي.

۵- تعريف: د رشوت ورکوونکي له ليدلوري رشوت د مال يا منفعت ورکړه يا د هغه د ورکړې وعده ده، چې د يوه شخص له خوا بل شخص ته چې د يوه کار لپاره موظف دی، د يوه کار د اجرا يا د هغه څخه امتناع ته د هڅولو لپاره ورکول کېږي. نو د رشوت دغه دوه ګونی تعريف نظر نورو تعريفونو ته جامع دی او د زياتره هېوادونو په جزايي قوانينو کې ورته ځای ورکړل شوی دی. (۱۰)

د رشوت عمل قبح (مذمت):

د رشوت عمل يو ناروا او ناوړه عمل دی، چې ترسره کوونکې ته يې لکه څرنګه چې په وضعي قوانينو کې بېلابېلې جزاګانې ټاکل شوي، همدارنګه په قرانکريم او نبوي احاديثو کې هم ددې عمل مذمت شوی او ترې منعه راغلې؛ دغه راز مرتکب ته يې سخت وعيدونه ذکر شوي دي، چې په لنډه توګه ترې يادونه کوو.

د قرانکريم ايتونه:

الله تعالی خپل بنده ګان په باطله توګه د مال له خوړلو منعه کړي، د سورت بقرې (۱۸۸) ايت کې يې داسې فرمايلي:

((وَلَا تَأْكُلُوٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۱۸۸))

ژباړه: او تاسې په خپلو منځونو کې په باطله طريقه سره مالونه مه خورئ او مه يې حاکمانو ته وړاندې کوئ، چې د دوی په ذريعه به د خلکو مالونو څخه يوه ټوټه مال په ګناه او ظلم سره وخورئ او حال دا چې تاسې پوهېږئ، چې هغه ستاسې حق ندی. يا دا چې د رشوت د حرمت لپاره علماء وربانديې استناد کوي، دا ايت شريف دی، چې الله (ج) فرمايي:

((سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ...))

ژباړه: دروغو ته زيات غوږ نيسي او زيات حرام خوري. په دې ايت کې د يهودو د علماوو صفت بيان شوی، چې د هغوی د ځانګړتياوو څخه يوه هم د رشوت خوړل و؛ يهودي علماوو به د خلکو څخه رشوت اخيسته او د الله (ج) حکم به يې بدلاوه. په دې ايت شريف کې د رشوت څخه پر (سُحت) تعبير شوی دی. (۱،۷)

رشوت د احاديثو له نظره:

۱- عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم، قال: ((لعن الله الراشی والمرتشی فی الحکم.)) ژباړه: له ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د قضاوت په وخت کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخستونکي د خدای جل جلاله لعنت دی).

۲- عن عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهم قال: ((لعن رسول الله صلی الله عليه وسلم علی الراشی والمرتشی. الترمذی، ج۲، م۲۹۷)) ژباړه: د عبدالله زوی د عمر رضی الله تعالی عنهم څخه روايت دی، چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په رشوت ورکوونکي او رشوت اخستونکي باندې لعنت ويلی. ځينې نور بيا رشوت ورکوونکی، اخيستونکی او واسطه په مطلق ډول تر لعنت لاندې راولي، که هغه د قضاء او يا هم په بله برخه کې وي. (۳)

د رشوت موضوع:

د رشوت د موضوع په هکله بايد ووايو، چې د رشوت موضوع پيسې، مالونه او سندونه دي، چې هر يو يې په لاندې ډول توضيح کوو.

الف- د رشوت وړ وجوه (پيسې): د وجوه څخه منظور نغدې پيسې دي، چې ممکن هغه داخلي وي او يا خارجي وي او همدارنګه کاغذي (بانکنوټونه) وي او يا سکې وي چې هغه په داخل د هېواد کې رواج لري او که د هېواد څخه بهر رواج لري او که چېرې داسې سکې ورکړي، چې رواج نلري، ولې مالي ارزښت ولري، نو ښه به دا وي چې هغه مال وبولو نه پيسې.

ب- د رشوت وړ مال: مال هم هغه شي ته ويل کېږي، چې په پيسو باندې د بدلولو وړتيا ولري او په ګلي ډول د اقتصادي ارزښت لرونکی وي. د مال د کليمې اطلاق ته په کتو سره مال منقول او غيرمنقول دواړه کېدای شي. اما هغه مطلب چې بايد د مال په بحث کې وڅېړل شي دادی چې ايا د رشوت د جرم د تحقق لپاره د رشوت ورکوونکي لپاره د رشوت د مال ملکيت چې رشوت اخستونکي ته يې ورکوي، شرط دی او کنه؟ ددې سوال په ځواب کې بايد ووايو، چې د رشوت د جرم د تحقق لپاره د رشوت د مال لپاره د رشوت ورکوونکي مالکيت شرط ندی؛ که چېرې رشوت ورکوونکی د غلا مال هم رشوت اخستونکي ته د رشوت په عنوان ورکړي، دا هم رشوت دی. همدارنګه که يو شخص هغه مال چې دده سره امانت دی، يو چاته د رشوت په عنوان ورکړي، دده دا عمل د رشوت څخه علاوه په امانت کې د خيانت جرم هم دی.

ج- په رشوت کې د پيسو د ورکړې د سند ورکول: سند عبارت د هر هغې ليکنې څخه دی، چې د دعوې او دفاع په مقابل کې د استناد قابل وي. خو دلته داسې ښکاري، چې په دې ځای کې د مال او پيسو د سند د ورکړې څخه منظور هغه سند دی، چې هغه په پيسو باندې د تبديلۍ او همدارنګه د تقويم (جنسي قيمت) لرونکی وي. دې ته په کتو سره چې چک نن ورځ د پيسو د ورکړې يو مهم سند ګڼل کېږي، نو غواړو په دې اړه څو ټکيو ته اشاره وکړو.

۱- صرف د رشوت په منظور د چک ورکول د رشوت د جرم يو مکمل عمل دی، که څه هم د چک پيسې حاصل نشي.

۲- که چېرې هغه چک چې د رشوت په عنوان ورکول کېږي، د غلا چک وي يا بانک ته د ورتګ څخه وروسته په هر علت چې وي، هغه ورته اجرا نشي (پيسې ورنکړي) بيا هم د رشوت جرم د يو مکمل جرم په حيث تحقق پيدا کړی دی.

۳- که چېرې رشوت ورکوونکی مرتشي ته داسې يو چک ورکړي، چې په هغه کې يې د پيسو داسې وعده ورکړې وي، چې د کار د اجرا څخه وروسته د وعدې مطابق په يو معين وخت کې د اجرا وړ دی؛ نو په محض د چک په ورکولو جرم تحقق پيدا کړ او د کار تر سره کول او نه ترسره کول مهم ندي، همدارنګه که چېرې دواړه لوري په چک کې د وعده شويو پيسو د سپارلو نه مخکې ونيول شي او پيسې د مرتشي لاس ته ور نشي، بيا هم جرم د مکمل جرم په ډول ترسره شوی دی.

۴- هغه سوال چې هغه ته په څو ډوله ځواب ورکول کېدای شي، هغه دادی چې که چېرې رشوت ورکوونکی مرتشي ته لاسليک شوي سپين چک ورکړي، ترڅو د کار د ترسره کولو نه وروسته د هغه متن په خپل زړه وليکي. په دې صورت کې ايا صرف د همدې لاسليک شوي سپين چک ورکول جرم دی؟ يعنې سپين لاسليک شوی چک د پيسو د ورکړې سند حسابېږي او کنه؟ په دې برخه کې کولای شو دوه برداشته مطرح کړو. لومړی برداشت څرنګه چې سند سپين دی او په متن کې يې کوم مبلغ ندی ليکل شوي، نو ځکه د پيسو د ورکړې سند ندی، ځکه د پيسو سند څرنګه چې د نوم څخه يې معلومېږي، بايد د يوې اندازې نغدو پيسو باندې پېژندل شوی وي؛ نو چې داسې سند د پيسو د ورکړې سند نه دی، نو جرم هم ندی محقق شوی دا برداشت زيات د متهم په نفع دی او د جزايي قوانينو د تفسير د اصل سره هم مطابق دی. دوهم برداشت څرنګه چې چک په خپل ذات کې د پيسو د ورکړې سند دی او په هغه کې درج شوی مبلغ يوازې په هغه کې د پيسو اندازه په ګوته کوي او د هغه په سندیت او نه سندیت باندې کوم تاثر نلري او قانون هم دې ته اشاره کړې ده، چې چک د پيسو د ورکړې يو سند دی او په هغه کې درج پيسې يوازې د مجازاتو د اندازې په معلومولو کې تاثر لري، نه د جرم په تحقق او نه تحقق کې؛ نو د سپين امضاء شوي چک په ورکولو سره هم د رشوت جرم تحقق پيدا کوي. داسې معلومېږي چې دا دويم برداشت د قانون د روح او منطقي تفسير سره زيات جوړجاړی لري، ولې په عمل کې هغه وخت مشکل رامنځته کوي، چې کله داسې يو شخص ونيول شي، چې سپين چک يې د رشوت په حيث ترلاسه کړی دی، نو قاضي د هغه د مجازاتو په تعين کې د ستونزو سره مخامخ کېږي، ځکه مجازات په چک کې تعين شوو پيسو ته په کتو سره ټاکل کېږي او په دې ځای کې پيسې موجودې ندي.

د رشوت د جرم متشکله عناصر:

څرنګه چې موږ پوهېږو هر جرم د متشکله عناصرو لرونکی دی او دا متشکله عناصر بيا د هر جرم په دوه ډوله دي، چې يو عمومي متشکله عناصر او بل خصوصي متشکله عناصر دي، چې عمومي متشکله عناصر عبارت دي له قانوني، مادي او معنوي عناصرو څخه، چې دا متشکله عناصر په هر جرم کې شتون لري او په ټولو جرايمو کې يو شان دي؛ دوهم يې خصوصي متشکله عناصر دي، چې دا عناصر د هر جرم لپاره مختلف دي او د هر جرم د جرمي وصف تعين د همدې خصوصي متشکله عناصرو په واسطه کېږي او په اصل کې د جرم دا ډول عناصر د جرم د مادي عنصر د اجرا د څرنګوالي او د مرتکب د

عمل او د هغه د نتيجې تر منځ د علت او سببيت د رابطې څخه عبارت دي. نو د رشوت عمل هم من حيث د يو جرم د متشکله عناصرو لرونکی دی، چې د نوموړي جرم متشکله عناصر په لاندې توګه څېړو.

قانوني عنصر: يو د هغه تر ټولو ارزښتناکه عناصرو څخه دی، چې د جرمونو او جزاګانو په ساحه کې فوق العاده زيات ارزښت لري. دغه عنصر د هغو عناصرو د ډلې څخه دی، چې د هغه نشتوالی د فعل د اباحت او ترک سبب کېږي؛ لکه څرنګه چې پوهېږو د افغانستان د جزا د قانون ۳۷ مادې د جرم قانوني عنصر (په قانون کې د جرمي اعمالو او د هغوی د جزاګانو تصريح) تعريف کړی دی. که چېرې دغه موضوع د رشوت د جرم په اړه په پام کې ونيول شي، د رشوت جرم، جزاګانې او د هغې اړونده نورې موضوعګانې د افغانستان د جزا د قانون په ۲۵۴ _ ۲۲۷ مادو کې په واضح توګه تصريح شوي دي. له دې کبله ددغو موادو د مندرجو اعمالو د ارتکاب په صورت کې چې شخص د رشوت په جرم مرتکب شي، نو په دې موادو کې د ټاکل شويو مجازاتو مستوجب کېږي. مثال د يادشوي قانون په ۲۵۴ ماده کې ليکل شوي دي (د عمومي خدمتونو هر مؤظف چې د وظيفې د اجرا يا امتناع يا اخلال په مقصد چې پرې مکلف شوی، پخپل نوم يا د بل شخص په نوم نغدې پيسې، مال يا يوه ګټه وغواړي يا د شخص څخه د هغه وعده واخلي او يا هم بخششي ومني، رشوت اخستونکی ګڼل کېږي)؛ او په ۲۵۵ ماده کې بيا داسې حکم شتون لري (رشوت اخستونکی په هغه حبس چې د دوه کلونو څخه کم او لسو کلونو زيات نه وي او په نغدي جزا د هغه څه معادل چې د رشوت په حيث يې غوښتي يا ورکول شوي، يا په هغه وعده ورکول شوي وي، محکومېږي) (۴). همدارنګه د ايران د هېواد يو قانون چې د اختلاس، رشوت، کلاهبرداري د مجازاتو د تشديد قانون په نوم چې په ۱۳۲۷ هـ ش کال تصويب شوی دی او اوس هم قانوني اعتبار لري، ددې قانون دريمه ماده رشوت ته خاص شوې ده، بنا پر دې په اوس وخت کې نوموړې ماده د رشوت د جرم د قانوني عنصر تشکيلوونکې ده. نوموړې ماده داسې صراحت لري (د دولت هر يو د مستخدمينو او مامورينو څخه که هغه قضايي او اداري يا د شوراوو يا ښاروالیو يا انقلابي بنسټونو او په ګڼلي ډول د درې ګونو قواوو، همدارنګه د مسلحو قواوو يا د دولتي يا دولت پورې اړوند سازمانونو او شرکتونو يا د عامه خدمتونو رسمي او يا غير رسمي ماموران وي، د يو کار د کولو يا نه کولو لپاره چې په نوموړي سازمان پورې اړوند وي، په مستقيم يا غيرمستقيم ډول پيسې، مال يا د پيسو د ورکړې سند قبول کړي، نوموړی د رشوت اخيستونکي په حکم کې راځي ...).

مادي عنصر: د جرمونو د متشکله عناصرو د جملې څخه يو مادي عنصر دی، دغه عنصر په حقيقت کې خپله د جرمي عمل د اجراء سره مرتبط دی، دغه عنصر د جرم په ارتکاب کې د علت او سببيت پر اړيکه متمرکز دی، داسې چې که چېرې د شخص د عمل او د ترلاسه شوې نتيجې تر منځ هيڅ اړيکه موجوده نه وي، شخص ددغې نتيجې مسئوليت نلري. د جرمي عمل د مادي عنصر په اړه د افغانستان د جزاء د قانون ۲۷ ماده داسې صراحت لري (د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل ارتکاب يا امتناع ده، په داسې توګه چې عمل د جرمي نتيجې باعث شي او د عمل او نتيجې تر منځ د عليت او سببيت اړيکه موجوده وي). دغه تعريف په ظاهر کې جامع او کامل دی، مګر که په ځير سره وکتل شي په هغه کې يوه ګڼلي نيمګړتيا شته او هغه دا چې د قانون د مخالف عمل څخه يې امتناع هم جرم ګڼلې ده، په داسې حال کې چې د قانون مخالف عمل څخه امتناع جرم نه دی، له دې کبله ددغه عبارت په ځای کولای شو (د هغه عمل څخه امتناع چې قانون يې د کولو حکم کړی ده) ځای پرځای کړو. د رشوت په جرم کې ددغه عنصر د موجوديت په اړه بايد وويل شي چې يوازې د پيسو ورکړه يا منفعت ترلاسه کول په حقيقت کې د مادي عنصر د تحقق بيانوونکی نه دی، بلکې د دې عنصر اکمال ځينې شرايط لري، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

د رشوت د فاعل له پلوه:

د رشوت مرتکب بايد د عامه خدمتونو مؤظف وي، چې د عامه خدمتونو موظفين د افغانستان د جزا د قانون د دولسمې مادې په اساس لاندې کسان دي:

۱- د دولت او دولتي تصديو مامورين او اجيران.

۲- د عامه موسساتو مامورين او اجيران.

۳- د دولت د ارکانو او ولايتي او محلي جرګو غړي.

۴- مدافع وکيل، حکم، اهل خبره، شهود او نور هغه اشخاص چې تصديقونه يې معتبر ګڼل کېږي.
د قانون ددغه مادې له متن څخه واضح کېږي، چې هغه اشخاص چې ددغه کټګوريو څخه په يوه کې شامل نه وي، د عامه خدمتونو موظف نه ګڼل کېږي. بايد وويل شي چې د افغانستان د جزا د قانون په ۲۵۹ ماده کې د پارلمان او ښاروالیو غړي چې انتخابي غړي دي، هم د عامه خدمتونو د مؤظف په توګه پېژندلي دي. ددغه امر منطق په دې کې دی چې څرنګه چې د پارلمان غړي د دوی د انتخابي والي له نظره د زيات صلاحيت لرونکي دي او څرنګه چې د اجرائيوي لوړپوړو مقاماتو څخه د پوښتنو صلاحيت لري، له دې کبله امکان لري چې په ځينو مواردو کې د خپلو صلاحيتونو په کارولو په ځينو مواردو کې د عامه خدمتونو پر موظفينو خپل نفوذ اعمال کړي او د حق په ابطال او يا د باطل د احقاق په اړه امر يا نهي وکړي، له دې کبله قانون جوړوونکي په حکم کې ددغه اشخاصو له خوا هر ډول نفوذ د رشوت په حکم کې ګڼي او د هغه لپاره يې عين د رشوت د جرم مجازات ټاکلي دي.

د فاعل د فزيکي کړنې له پلوه:

د رشوت ورکوونکي عمل عبارت دی د پيسو، مال، د پيسو د ورکړې د سند او يا د مال د تسليمۍ د سند د ورکولو يا د فزيکي کار د ترسره کولو څخه؛ او د رشوت اخستونکي عمل عبارت دی د مال، پيسو، د پيسو د ورکړې سند، د مال د تسليمۍ سند او يا د فزيکي کار د قبلولو څخه، چې د رشوت دا ياد شوي ټول اعمال مثبت فعلونه دي او د رشوت ورکول او اخستل د فعل په ترک باندې نه واقع کېږي. اما مهم ټکی چې دلته مطرح کېږي هغه د ورکړې او اخستلو په بحث کې دی، يعنې ايا د رشوت اخستلو او ورکولو لپاره دا لازمه ده، چې د مال يا پيسو ورکړه به د مرتشي له خوا اخستل کېږي يا نه؟ يا په بل ډول که مرتشي مال وانخلي هم رشوت تحقق پيدا کوي؟ يا په کلي ډول ايا د رشوت اخستل او ورکول يو د بل لازم او ملزوم دي اوکه نه؟؛ نو په دې اړه بايد ووايو چې داسې بايد استنباط نکړو، چې که يو څوک د رشوت اخستلو په واسطه محکوم شي، نو حتماً به هغه بل د رشوت ورکولو په واسطه محکومېږي! ځکه ډېر وخت داسې پېښېږي چې يو طرف بنا په شخصي علتونو يا د رواني عنصر د عدم موجوديت په وجه د جزايي تعقيب څخه معاف کېږي، ولې مقابل طرف يې بيا په جزا محکومېږي. نو له دې څخه داسې نتيجه اخلو چې د رشوت دواړه لوري هغه وخت ګناهګار ګڼل کېږي، چې په معامله کې د دواړو قصد موجود وي؛ او که چېرې د يوه قصد موجود وي او د بل نه وي، نو د قصد لرونکی ګناهګار دی او هغه چې قصد نلري، بې ګناه دی.

د رشوت د موضوع له پلوه:

د رشوت ورکول به د يو کار د اجراکولو او يا نه اجراکولو په خاطر ورکول کېږي، چې نوموړی کار به په هغه سازمان پورې مربوط وي په کوم کې چې نوموړی دولتي مامور خدمت ترسره کوي، اما دا لازمه نده، چې حتما به يادشوی کار د نوموړي مامور د دندو څخه وي او همدارنګه دا هم مهمه نده، چې مامور هغه کار د کوم په خاطر چې يې پيسې ترلاسه کړي، اجرا کړی وي يا نه وي؛ يعنې د رشوت جرم يو مطلق جرم دی او صرف د پيسو په ترلاسه کولو دا جرم تحقق پيداکوي. اما که چېرې هغه کار چې مامور د هغه د اجرا په خاطر پيسې اخستې دي، په هغه سازمان پورې اړوند نه وي، چې دی پکې دنده تر سره کوي، نو دده دا عمل رشوت ندی، بلکې داسې اعمال زياتره د کلاهبرداري سره شباهت لري. همدارنګه د رشوت د جرم په تحقق کې د هغه کار حق توب او ناحق توب هم کوم تاثير نلري. (۱۲)

معنوي عنصر:

د جرمي عمل د عمومي عناصرو څخه يو معنوي عنصر دی، ددغه عنصر اساس او بنسټ په حقيقت کې د شخص اراده ده. اراده د يو عمل د ماهيت د درک سره سره د هغه عمل د سرته رسولو غوښتنه ده؛ ددغه تعريف پر بنسټ اراده د دوو برخو لرونکې ده: يو د عمل د سرته رسولو غوښتنه او بل د عمل د ماهيت درک دی. که چېرې په يو جرمي عمل کې د ارادې ددغه دوو اجزاوو څخه يو موجود نه وي، په هغه صورت کې د جرم معنوي عنصر عملاً موجود نه وي. د افغانستان د جزاء قانون مخکې لدې چې معنوي عنصر تعريف کړي، هغه په قصد او خطاء ويشي او وروسته د ۳۴ تر۳۶ موادو په ترڅ کې يې دغه دوه توضيح کړي دي. بايد ذکر کړو چې په يوه جرمي عمل کې اراده کېدای شي په دوه شکلونو تبارز وکړي:

۱- قصد: که چېرې اراده په يوه جرمي عمل کې صريح او مستقيم دخالت ولري، قصد بلل کېږي.
۲- خطاء: که چېرې اراده په يوه جرمي عمل کې غيرصريحه او غيرمستقيم دخالت ولري، خطاء بلل کېږي.
د رشوت د جرم په اړه په مربوطه موادو کې اراده په صراحت سره نده ذکر شوې، يوازې د جزا د قانون په **۲۵۷** ماده کې داسې تذکر شوی دی، چې که چېرې د عامه خدمتونو موظف شخص د بل شخص لخوا د مادي او معنوي اکراه په واسطه د يو کار اجراء او يا امتناع ته اړ کړل شي، اکراه کوونکی شخص د رشوت د جرم په جزا محکومېږي. دلته ليدل کېږي چې يوازې د اکراه کوونکي شخص د مسئوليت ذکر شوی دی او د اکراه کړل شوي شخص د مسئوليت څخه يادونه نده شوې، له دې کبله ويلای شو څرنګه چې اکراه د ارادې د نيمګړتياوو د عواملو څخه ده او د اکراه په صورت کې د شخص اراده نه په صريح او نه په غير صريح بڼه تبارز پيدا کوي، له دې کبله اکراه کړل شوی شخص مسئول نه پېژندل کېږي او د قانون سره سم د هغه لپاره هېڅ ډول مجازات ندي ټاکل شوي. نو له دې څخه معلومېږي چې د رشوت جرم د قصدي جرايمو د جملې څخه دی او ددې جرم د تحقق لپاره د مرتکب د مجرمانه قصد ښکاره کول ضروري دي. ډاکتر (پاد) په دې اړه ليکي: (د رشوت قصد د هغه معنوي عنصر دی او په رشوت کې دا لازمه ده چې ددې جرم مرتکب به مال او پيسې د رشوت په قصد اخلي، نو بنا پر دې هغه شخص چې بې د قصد څخه د يو شخص څخه مال يا پيسې واخلي، مثلاً د قرض حسنه، هبې، عاريت يا امانت په نيت او وروسته معلومه شي چې مال ورکوونکي په دې خاطر ده ته پيسې ورکړي دي، چې کوم کار يې په ده پورې بند وو، نو په دې ځای کې د مستخدم دا عمل د رشوت د قصد (معنوي عنصر) په نه لرلو سره جرم نه ګڼل کېږي. که هرڅومره مقابل جانب د رشوت په قصد دا شی ورکړی وي، ولې د مقابل جانب په برخه کې بيا جرم تحقق پيدا کړی دی. دا خبره د رشوت ورکوونکي په حق کې هم صدق کوي، يعنې د رشوت د جرم د تحقق لپاره بايد مال ورکوونکی په دې علم ولري چې دا شخص دولتي کارکوونکی دی او دی مال په دې خاطر ورکوي چې دده هغه کار ترسره کړي، کوم چې د ياد شوي کارکوونکي د دندې څخه دی. ددې دوه شرطونو د نه موجوديت په صورت کې د رشوت جرم تحقق نه پيدا کوي. مثال د مال ورکوونکی په دې نه پوهېږي چې مقابل جانب د دولت مامور دی او يا په دې پوهېږي چې د دولت مامور دی؛ ولې مال په دې قصد نه ورکوي چې دده کوم کار دې، چې د نوموړي مامور له دندې څخه دی ترسره کړي، يا دې ترسره نکړي. مثال د هبې په شکل بې له دې چې د هغه څخه د کوم کار د ترسره کولو انتظار ولري ورکوي، چې دا د رشوت جرم نه دی. همدارنګه يوازې د هغو پيسو کشف چې په متهم باندې د نوموړو پيسو د رشوت اخيستلو ادعا شوې ده، د هغه په ګناهګار ګڼلو باندې دليل نشي کېدای، بلکې د مرتشي رضايت د پيسو په اخستلو کې او همدارنګه د راشي سره د هغه توافق د رشوت د جرم د تشکيلوونکو ارکانو څخه دی، نو بنا پر دې که چېرې متهم داسې ادعا وکړي چې دې شکايت کوونکي د حيلې په اساس او پرته د اطلاع څخه دده په جيب کې پيسې اچولې دي، نو که د تحقيق په مهال همدې خبرې ته توجه ونشي، نو په دې تحقيق کې نقصان دی او د صورت دعوا د نقض سبب ګرځي. همدارنګه هغه پيسې چې د کارمند په غياب کې د هغه له موافقې او اطلاع څخه پرته د هغه د مېز په څنګ کې اچول شوې وي، هغه ته د معنوي عنصر (قصد) د نشتوالي په سبب جرم نشو ويلای؛ او که متهم داسې ادعا وکړي، چې ده دا پيسې د هغه کار په ترسره کولو کې چې د اداري وخت څخه بهر يې ترسره کوي، ترلاسه کړي دي، نو محکمه بايد دده دې دلايلو ته رسيده ګي وکړي. په اخر کې بايد ووايو چې رشوت د مطلقو قصدي جرايمو څخه دی او ددې جرم په تحقق کې د دولت د کارکوونکي له خوا د کار ترسره کول يا نه ترسره کول تاثير نلري، فقط د مال په اخستلو سره د رشوت جرم تحقق پيدا کوي. (۴)

د رشوت جرم مجازات:

څرنګه چې پوهېږو د هر جرم په مقابل کې د ټولنې له لوري ټولنيز غبرګون ښکاره کېږي، ترڅو د ټولنې هغه نظم کوم چې د جرم په واسطه ګډوډ شوی دی، بېرته اعاده شي، چې دا عکس العملونه بيا د يو ځانګړي جرم لپاره نظر د هرې ټولنې جوړښت، عرف او عاداتو ته مختلف وي؛ څرنګه چې رشوت د دولتي کارکوونکو له خوا د اموالو ضد جرايمو څخه يو د مجازاتو وړ جرم دی، نو د دې جرم مجازات هم په هره ټولنه کې يوڅه توپير لري. موږ هم د رشوت د جرم مجازات لومړی د خپل هېواد (افغانستان) د قوانينو او په دويم قدم کې د ايران د هېواد د قوانينو په رڼا کې په لاندې ډول تشريح کوو.

د افغانستان د قوانينو په اساس د رشوت جرم مجازات:

د افغانستان د جزا قانون د رشوت د جرم د مرتکب لپاره اصلي او تکميلي مجازات ټاکلي دي، چې د لازيات وضاحت لپاره هره يوه په جلاجلا توگه تر څېړنې لاندې نيسو.

اصلي جزاگانې: د اصلي جزاگانو له ډلې څخه چې د رشوت د جرم د مرتکب لپاره د جزاء په قانون کې ټاکل شوې دي، کولای شو د طويل (اوږدمهاله) حبس، متوسط حبس، قصير (لنډمهاله) حبس او نغدي جريمې نوم واخلو.

طويل (اوږدمهاله) حبس: د جزاء د قانون د **۲۵۵** مادې پر اساس که چېرې شخص د جرم مرتکب شي، محکمه کولای شي دغه شخص تر لسو کالو په حبس محکوم کړي، چې نوموړې ماده داسې صراحت لري (رشوت اخستونکی په هغه حبس چې د دوه کلونو څخه کم او د لسو کلونو زيات نه وي او په نغدي جزا د هغه څه معادل چې د رشوت په حيث يې غوښتي يا ورکول شوي يا د هغې وعده ورکول شوې، محکومېږي) نو لکه څرنگه چې د طويل حبس موده له پنځو کلونو څخه زياته او تر پنځلسو کلونو کمه وي، له دې کبله له پنځو څخه تر لسو کلونو حبس په دې کټگورۍ کې شامل دی. همدارنگه د جزاء د قانون **۲۲۳**ماده داسې صراحت لري (چې هر رشوت د عامه شتمنۍ د تلف کېدو باعث گرځي، يا هم د حق د پټېدو او يا هم د باطل د احقاق سبب کېږي، په هغه صورت کې شخص په **۲۵۵** ماده کې د ذکر شوې جزا په اشد مجازات باندې محکومېږي). څرنگه چې وينو په ماده کې ټاکل شوي اشد مجازات د لسو کلونو حبس دی، چې دا هم د طويل حبس په کټگورۍ کې راځي.

متوسط (منځمهاله) حبس: د جزاء د قانون **۲۲۰** ماده حکم کوي، چې که څوک د عامه خدمتونو موظف مامور ته رشوت وړاندې کړي، مگر موظف شخص د هغه د اخيستلو څخه ډډه وکړي، په هغه صورت کې رشوت ورکوونکی په متوسط حبس محکومېږي؛ همدارنگه د جزاء د قانون په **۲۵۵**ماده کې د رشوت د جرم لپاره د حبس موده له دوو څخه تر پنځو کلونو پورې قيد کړې ده او لکه څرنگه چې متوسط حبس له يوه څخه تر پنځو کلونو دی، له دې کبله له دوو څخه تر پنځو کلونو پورې حبس په دې کټگورۍ کې شامل دی.

قصير (لنډمهاله) حبس: د جزا د قانون په **۲۲۱** ماده داسې صراحت لري (که چېرې د عامه خدمتونو موظف د عمل په جرمي خاصيت د پوهېدو سره سره ددغه قانون د(**۲۵۴**- **۲۵۸**-**۲۵۹** مادو کې د مندرجو احکامو سره سم د بخشش يا منفعت يوه ناڅيزه برخه بالواسطه ومني، په هغه حبس چې تر يوه کاله زيات نه وي او د هغه څه چې ترلاسه کړي يا منلي دي، په معادله نغدي جزا محکومېږي)، نو دغه تر يوه کال کمه موده د قصير حبس په کټگورۍ کې راځي.

نغدي جريمه: د جزاء د قانون **۲۵۵**مادې رشوت اخيستونکی او رشوت ورکوونکی د هغه څه معادل په نغدي جزا چې ورکړل شوي يا يې وعده شوې ده، محکوم کړي دي. همدارنگه د جزاء د قانون **۲۵۲**مادې سره سم که چېرې د هغه جرم مجازات چې د رشوت جرم د هغه لپاره ارتکاب موندلی د رشوت تر مجازاتو زيات وي، سربېره پر دې چې ددغه جرم په جزاء محکومېږي، د رشوت د جرم په نغدي جريمه هم محکومېږي. د**۲۲۰** مادې سره سم که چېرې يو شخص د عامه خدمتونو مامور ته د رشوت وړانديز وکړي، مگر مامور د هغه د منلو څخه ډډه وکړي، په هغه صورت کې رشوت ورکوونکی شخص د ۱۲۰۰۰ افغانيو څخه تر۲۰۰۰۰ افغانيو په نغدي جزا محکومېږي.

تکميلي جزاگانې: د رشوت د جرم په اړه د تکميلي جزاگانو له ډلې څخه دوه ډوله يې د جزا په قانون کې پيشبيني شوي دي، چې هغه عبارت دي د مالونو د مصادرې او د حکم د خپرېدو څخه.

د مالونو مصادره: د جزاء د قانون **۲۲۲** ماده تصريح کوي، چې د دريم فصل په ټولو مندرجو احوالو کې چې د جرم په اړه دی، هر هغه څه چې د رشوت په توگه وړاندې شوي وي، مصادره کېږي.

د حکم خپرېدل: د جزا د قانون **۲۲۷** مادې سره سم که چېرې د رشوت د جرم په اړه د شخص د محکوميت په باره کې د محکمې حکم قطعي شي، دغه حکم خپرېږي. مصادره او د حکم خپرېدل دواړه د جزاء د قانون د**۱۱۷** مادې له مخې د تکميلي جزاگانو له ډلې څخه گڼل کېږي. (۲)

عملي ساحه:

وروسته له دې چې د رشوت جرم په عملي توګه وڅېړل شو، ددې اړتيا پيدا شوه چې موضوع د ننګرهار ولايت کې وڅېړل شي، چې په همدې موخه ددې ولايت د عدلي او قضايي ارګانونو سره په اړيکه کې شو؛ لومړی د ننګرهارولايت د استناف څارنوالۍ او ورپسې د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې مسئولينو سره اړيکه ونيول شوه. د يادو ارګانونو د مسئولينو سره له ځانګړو مصاحبو وروسته جوته شوه، چې د ۱۳۹۲ لمريز کال لومړيو (۹) مياشتو کې د رشوت درې کيسونه اړوندو ارګانونو ته رسېدلي وو، چې د هغې جملې څخه په دوو حکم شوی و او يوه قضيه په څارنوالۍ کې کار لاندې وه.

پايله:

د پورته موضوعاتو د تشريح څخه وروسته دې نتيجې ته رسېږو، چې يادشوي د دولتي کارکوونکو خاص جرايم لکه رشوت، اختلاس، غيرقانوني تصرف د الهي احکامو او قانون د نه تطبيق او د ټولنيز عدالت د له منځه تللو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه کله چې په يوه ټولنه کې د حاکمانو لخوا رشوت واخستل شي، نو هلته د الهي احکامو سره سمې فيصلې نه کېږي او اجتماعي عدالت له منځه ځي؛ ددې پر ځای چې قوانين د کمزورو خلکو ګټې وساتي، د زورورو او شتمنو ګټې په ناحقه ډول ساتي، ځکه چې هغوی د رشوت د ورکړې توان او طاقت لري او په پايله کې د دولت او عوامو ترمنځ فاصله پيدا کېږي او په ټولنه کې د انارشۍ او ګډوډيو سبب کېږي. د يادو ستونزو د مخنيوي په موخه بايد د الهي احکامو او قانون په تطبيق تمرکز وشي، ځکه که د رشوت د جرم مرتکبين مجازات شي، نو د نورو لپاره د عبرت سبب ګرځي، او په دې توګه د ياد جرم ريښې د ټولنې له منځه وځي.

وړانديزونه:

1. د افغانستان د جزا په قانون بايد له سره کتنه وشي او په هغه کې د وخت د غوښتنو سره سم تعديلات راشي، ترڅو ددې اعمالو مخه ونيول شي.
2. پوليسو، څارنوالۍ منسوبينو، قضاتو او نورو دولتي مامورينو ته دې ښه او لازم مادي او معنوي امتيازات او سهولتونه برابر شي.
3. د کارونو د ښه پرمخ بيولو لپاره او په مربوطه کارونو کې د ښه شفافيت په منظور اړينه ده، چې د دولت د ټولو مامورينو شخصي سرمايې او پانګې ثبت او راجستر شي؛ چې يادې چارې کولی شي تر ډېره بريده د اختلاس د جرم مخه ونيسي.
4. لکه څنګه چې پوهېږو د رشوت د له منځه وړلو لپاره د رشوت د عللو او عواملو له منځه وړل يو ضروري کار ګڼل کېږي، نو ددې هدف لپاره بهتره به وي، چې د هېواد اړوند ارګانونه او ادارات وخت په وخت د رشوت اخستلو واقعي علل او عوامل پيدا او د هغو په له منځه وړلو کې يو د بل سره د همکارۍ په روحيه لازم اقدامات ترسره کړي.

مناقشه:

د رشوت جرم د مخنيوي لپاره د هرې ټولنې وګړو د خپل ټولنيز جوړښت په نظر کې نيولو سره سم قوانين او مجازات پيشبيني کړي دي، چې مونږ په دې برخه کې يوازې د افغانستان او ايران قوانين کتلي دي، چې په هغوی کې ددې جرايمو لپاره مجازات پيشبيني شوي دي او هر قانون د ځينې خصوصياتو په نظر کې نيولو سره خفيف او شديد مجازات ورته ټاکلي دي. د بېلګې په توګه ګورو، چې د افغانستان د جزا قانون د نوموړي جرم د مجازاتو د شدت او خفت لپاره د نوموړي جرم د ارتکاب څرنګوالی په نظر کې نيولی دی او د لنډ حبس څخه نيولې تر اوږد حبس پورې يې ورته د حبس او همدارنګه د مالونو مصادره او نغدي جزا پيشبيني کړې ده؛ او د ايران قوانينو بيا ددې جرايمو د مجازاتو د شدت او خفت لپاره د مرتکب اداري موقف او د جرم د موضوعه مال او پيسو اندازه په نظر کې نيولې، يعنې که ددې جرايمو مرتکب لوړپوړی وي، د هغه مجازات نظر هغه چاته چې په لاندې پوړ کې وي، زيات دي. همدارنګه څومره چې د دې جرايمو د مرتکب لخوا زيات مال او پيسې وړل کېږي، په همهغه اندازه يې جزا هم ورسره زياتېږي. که چېرې موږ ددې دواړو هېوادونو قوانين سره مقايسه کړو، نو دا به راته جوته شي چې د ايران قوانينو نسبت د افغانستان قوانينو ته د نوموړو جرايمو په اړه تفصيلي بحث کړی دی، ځکه د افغانستان قوانين د يادشويو جرايمو د جملې څخه يوازې د رشوت او اختلاس جرايم د دولتي

کارکوونکو لخوا د اموالو په ضد د خاصو جرایمو په عنوان پېژندلي دي او هغوی یې هم په تفصیل سره ندي څېړلي او د غیر قانوني تصرف او د دولتي معاملې په مهال د تدلیس د جرایمو څخه یې په ځانګړې ډول یادونه نده کړې، اما برعکس د ایران قوانینو بیا د رشوت او اختلاس په جرایمو سربېره چې په تفصیل سره یې بیان کړي، د دولتي کارکوونکو دوه نور د اموالو په ضد جرایم چې غیر قانوني تصرف او د دولتي معاملې په مهال تدلیس دی، هم پیشبیني کړي دي. د افغانستان د جزا د قانون په دې او نورو برخو کې د داسې نیمګړتیاوو عمده علت دادی، چې دا قانون له نن څخه ۳۴ کاله مخکې تصویب شوي، چې د هغه وخت او اوس وخت وضع او حالت کاملاً یو د بل سره توپیر لري، ځکه په هغه وخت کې د رشوت او اختلاس جرایم ډېر کم واقع کېدل او ټولنې ته یې دومره ګواښ نه و متوجې کړی؛ ولې نن که وګورو خبره سرچپه ده، نوموړي بد او شنیع اعمال خپل اوج ته رسېدلي، تر دې چې ځینو ته خو ددې پر ځای چې دا اعمال حرام او بد ښکاره شي او ځان ترې وساتي، یو ډول مشروع حق ورته ښکارېږي او په رنګ رنګ فریب او نیرنګ سره ورته د مشروعیت بڼه ورکوي.

Abstract:

Since bribery has become a traditional deed in our society, most of the government employees try to get richer through many such illegal ways. Therefore, we have tried our possible best through the research we have done in this article to shed some light upon bribery in the light of Islam and other worldly constitutions.

اخځلیکونه او سرچینې:

۱. قرآنکریم
۲. ابن کثیر، امام عمادالدین. (۱۳۶۷ل). ابن کثیر تفسیر- پښتو ژباړه: زاهدي احمدزی. پېښور: د اخلاص جریدې اداره.
۳. احسان، فضل الله (۱۳۸۷ل). رشوت د لغت، قرآن، سنت او اسلامي فقهې له نظره؛ عدالت میاشتنۍ مجله- د عدلیې وزارت نشراتي ارګان، پرله پسې ۲۹ګڼه.
۴. د قضایي روزنې کورس. (۱۳۸۷ل). د جزا د قانون ځانګړې برخه. کابل: د افغانستان د عدلي او قضایي چارو پروژه.
۵. شهرستاني، قضاوتپوه شاه علي اصغر. (۱۳۸۷ل). په محاکمو کې د اختلاس جرمونو ته رسیده ګي؛ عدالت میاشتنۍ مجله- د عدلیې وزارت نشراتي ارګان، پرله پسې ۲۸ګڼه.
۶. عدلیې وزارت، رسمي جریده. (۱۳۵۵ل). د جزا قانون. ۳۴۷ ګڼه.
۷. عزیز، مولوي سلطان. (۱۳۷۲ل). عزیزالتفاسیر.
۸. ګلدوزیان، داکتر ایرج. (۱۳۸۴ل). حقوق جزای اختصاصی. ایران: موسسه انتشارات و چاپ دانشګاه تهران.
۹. مودودي، ابوالاعلی. (۱۳۶۷ل). تفهیم القرآن- لومړی ټوک؛ پښتو ژباړه: قیام الدین کشاف. پېښور: اداره احیاء العلوم.
۱۰. مهاجری، علی. (۱۳۷۹ل). جرایم خاص کارکنان دولت. تهران: سازمان انتشارات کیهان.
۱۱. میرمحمد صادقی، داکتر حسین، (۱۳۸۷ل). حقوق کیفر اختصاصی. تهران: کتابخانه ملی ایران.
۱۲. ولیدی، داکتر محمدصالح. (۱۳۸۱ل). حقوق جزای اختصاصی. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر.
۱۳. عملي ساحه: د ننګرهار ولایت د امنیه قوماندانۍ، څارنوالۍ او محکمې له یو شمېر مسئولینو سره مخامخ مرکې.

پوهنمل مــیاپاچا (میاخېل)
انجنیري پوهنځی- د عمومي
تخنیکي مضمونونو څــانګه

د (CAD-2014) سافټ وېر په مرسته په دوو لارو سره د اوبو د حوزې مساحت او فاصلې د لاسته راوړنو پرتله کول

لنډیز:

د دې مقالې محتویات چې د هایدرولوجیکي دوران په نتیجه کې اوبه له یو حالت څخه بل حالت یا شکل ته بدلون کوي، یو هم له هغو څخه ورېښت دی، چې د هغې په نتیجه کې په توپوګرافیکه سطح کې د اوبو لـه حرکت (Runoff) څخه چې په (۱- شکل) کې ښودل شوی دی، د اوبو لویې حوزې منځته راځي چې Watershed او Drainage basin ورتـه ویـل کېږي. پـه کـار ده چې د ځمکې پرمخ دا ډول نقشې له جوړولو څخه وروسته تطبیق او هم د ځمکې پرمخ د دغه ډول لویو ساحو اوږدوالی او مساحت د CAD ۲۰۱۴ سافټ وېر په واسطه چې دې لیکنه کې په دوه کړنلارو سره تر څېړنې لاندې نیول شوی دی؛ دې تـه اړتیا ده چې لومړی باید د حوزو د جوړښت لپاره اړینې علمي موضوعګانې مطالعه او وڅېړل شي.



۱- شکل د اوبو حرکت (Runoff) په توپوګرافیکه سطح کې

سریزه:

هایدرولوجي یوه یوناني کلیمه ده، چې د اوبو د مطالعې په معنی ده او د انجنیرۍ په اصطلاح کې هایدرولوجي د اوبو د حرکت، ویش او د ځمکې پر مخ د اوبو د علمي مطالعې څخه عبارت ده. هایدرولوجي دواړو د اوبو هایدرولوجیکي دوران او د اوبو منابعو ته خطاب کېږي.

موخې:

- د اوبو د دوران اساسي پېژندنه
- د اوبو د حوزو د اساساتو په هکله پوهېدنه
- د اټوکیډ (AutoCAD) ۲۰۱۴ په مرسته د حوزو او د اوبلارو د نقشو جوړونه

د اوبو دوران (Hydrologic cycle):

هايدرولوجيکي دوران همدا ډول د اوبو د دوران په نامه هم پېژندل کېږي، چې د اوبو حرکت د ځمکې د سطحې پرمخ، د ځمکې له پاسه او د ځمکې لاندې په دوامداره توګه مطالعه کوي، چې د دې دوران د پيل او پای نقطه معلومه نه ده. د دوران په مختلفو پړاوونو کې اوبه، يو له درې مختلفو ممکنه حالتونو څخه لکه مايعات، ګازات او جامدات پيدا کېدای شي. ددې پروسې د تطبيق ډېره ساده ښودنه په لاندې ډول توضيح کېږي: لمر د اوبو د دوران لپاره له مهمو محرکو قوو له جملې شمېرل کېږي چې د خپلې تودوخې په واسطه اوبه په بحرونو، سيندونو، جهيلونو اوبلارو او داسې نورو کې ګرموي او د هغې له اثره اوبه په بخار بدلېږي؛ بخار فضا ته پورته کېږي، چېرې چې د سړې هوا له کبله هغه ټينګ او په وريځو بدل شي او نوموړې وريځ د ګردلې په شکل پر ځمکه خپره او بيا د بخار يا ورښت (باران، ږلۍ، واورې، او پرخې) په ډول اوري. د باران اوبه په جهيلونو، سيندونو او د اوبو په حوزو کې جريان پيدا کوي. په سيندونو، جهيلونو او د اوبو په حوزو کې اوبه بيا هم په اتوموسفير کې په بخار بدلېږي او په پای کې بېرته بحرونو ته توېږي او د اوبو د دوران پروسه بشپړېږي. په ۲- شکل کې د اوبو د دوران حالتونه ښودل شوي دي. (۱م۸۷)



۲- شکل د اوبو طبيعي دوران

هغه بشري فعاليتونه چې د اوبو دوران ته بدلون ورکوي:

د بشري فعاليتونو ځينې فکتورونه چې د اوبو دوران اغېزمن کوي، عبارت دي له:

- کرنه
- د اتوموسفير د کېمياوي ترکيباتو بدلون
- د بندونو جوړول
- د ځنګلونو غوڅول او د ځنګلونو جوړول
- له ځاګانو څخه د ځمکې لاندې اوبو رايستل
- له سيندونو څخه د اوبو ښېلېدنه
- ښارجوړونه

اصطلاحات Terminology:

ورښت Precipitation: ورښت يوه پروسه ده چې بخار شوې اوبه په غليظ شکل د ځمکې د سطحې پرمخ ورېږي. په عمومي ډول سره ورښت د باران په شکل واقع کېږي؛ همدارنګه دا د واورې، ږلۍ، د پرخو د څاڅکو او د واورې او باران په شکلونو هم واقع کېدای شي.

جريان Runoff: د ځمکې پر ټول مخ باندې د اوبو د حرکت طريقې ته Runoff وايي. په دې کې دواړه د اوبو سطحي جريان surface runoff او د اوبلارې جريان channel runoff شامل دي. د جريان په حالت کې ممکن چې اوبه په ځمکه کې نفوذ وکړي او يا په فضا کې په بخار بدلې شي او يا په جهيلونو او د اوبو په ذخيرو کې را ټولې او د کرنې لپاره وويستل شي او يا د بشري فعاليتونو په خاطر ورڅخه ګټه واخيستله شي.

د واورو ويلي کېدنه Snowmelt: د واورې اوبه کېدل د اوبو جريان دی چې د واورو د ويلي کېدو په نتيجه کې منځته راځي.

له ځمکې لاندې اوبه Ground water: د ځمکې لاندې اوبه هغه اوبه دي چې د ځمکې لاندې اوبو د سطحې water table څخه ټيټ واقع وي.

د اوبو نفوذ Infiltration: د ځمکې پر مخ د اوبو د جريا ن له کبله، په ځمکه کې د اوبو جذب يا نفوذ منځته راځي او د ځمکې لاندې د خاورو په سوريو کې ځای نيسي او بيا د ځمکې لاندې اوبو د پيدا کېدو سبب ګرځي.

د ځمکې لاندې جريان Subsurface flow: د ځمکې لاندې د اوبو جريان ته subsurface flow ويل کېږي، چې ځمکې لاندې د مختلفو ميخانيکي عواملو په اساس حرکت کوي، چې ځينې وختونه د چينو په ډول بېرته د ځمکې سر ته پورته کېږي.

د تودوخې اغېزمنتيا Advection: په اتوموسفير کې د اوبو حرکت په مايع، ګاز او يا په جامد حالت سره اډويکشن نومېږي. د هوا له تودوخې څخه پرته د سمندرونو دپاسه په براس حالت باندې د اوبو بدلون ناشونی دی او دا هم امکان نه لري چې د ځمکې د پاسه ورښت وشي.

تبخير Evaporation: له مايع حالت څخه ګاز حالت ته د اوبو بدلون ته د اوبو براس يا تبخير وايي.

خوله کېدنه Transpiration: له نباتاتو څخه د خولې په شکل د اوبو براس ته خوله کېدنه وايي.

تبخير- تعرق Evapotranspiration: په مجموعي ډول سره د اوبو له مخ څخه براس او له نبات څخه د خولو په ډول د اوبو پورته کېدو عمليې ته تبخير- تعرق وايي.

پورته کېدنه Sublimation: د جامد (يخ) حالت څخه ګاز (براس) حالت ته د اوبو بدلون يا پورته کېدنې ته sublimation وايي.

بدلېدنه Condensation: له ګاز حالت څخه اوبلن حالت ته د اوبو له بدلون څخه عبارت ده. (په هوا کې د اوبو واړه څاڅکي د وريځو او پرخو په شکل توليد ېږي). (۲م۳۵۴)

د اوبو حوزه Watershed or Drainage basin: د اوبو يوه حوزه د ځمکې هغه ساحه ده چې اضافي اوبه د يوې اوبلارې په واسطه په يوه ټاکلې سيمه کې چې نوموړې ساحه د يوه هايدرولوجيکي سيستم په واسطه د هغې حدودات چاپېره شوي وي، داخلېږي. په عمومي ډول سره د اوبو د يوې ساحې د چاپېريال ټاکل د يوې نقطې يا د آبګير خولې (Outlet) په نسبت او د ځمکې په ټوله ساحه کې د باران د طوفان په جريان کې مخرج ته د اوبو بهېدل، د اوبو له حوزې څخه عبارت دي.

د هغه مفهوم استعمالول چې اوبه له پاس څخه لاندې خواته جريان لري. يوه ساحه د هغې د ټولو شاملو نقطو په واسطه، کوم چې د باران د ورښت پر اساس نوموړې نقطې د اوبو د راټولولو په خاطر مخرج (outlet) ته برخه اخلي. د۳- شکل د اوبو د يوې حوزې (watershed) د نقشې د چاپېريال يا سرحدي خط ښودونکې ده. د اوبو حوزې په مختلفو شکلونو او اندازو سره د يوې محلې، ايالت او د ملي سرحدونو څخه تېرېږي. د مثال په ډول د سيند اضافي اوبه د متحده ايالتونو د ۳۰ څخه زيات ايالتونه او د کاناډا دوه ولايتونه دې ډول حوزو تر پوښښ لاندې راوستي دي. (۲م۳۵۴)



۳- شکل د اوبو حوزه

د اوبو يوه حوزه Drainage basin د ځمکې يوه سيمه ييزه حوزه ده، چېرې چې د ورښت اوبه له لوړو ځايونو څخه لاندې خواته بهېږي او هغه په سيند، جهيل، د بند په ذخيره او په بحر کې توېږي. Drainage basin دواړه يعنې اوبلارې او د ځمکې پر مخ د اضافي اوبو بهېدل، چې اوبه په اوبلارو channels کې توېږي، په بر کې نيسي. د اوبو هره حوزه په توپوګرافيکي لحاظ د بلې ګاونډۍ حوزې څخه د ژۍ Ridge، غونډۍ يا غره په واسطه جدا کېږي، چې د اوبو ويش په نامه يادېږي. په ۳- شکل کې لنډ خط Dash line په هايدروګرافيکي حوزه کې د اوبو د اساسي ويشونکو په ډول ښودل شوی دی.

په شمالي امريکا کې د اوبو حوزې Watershed ته د هغې ساحې نسبت کېږي چې باراني اوبه په يوه مشخص سيند يا غدير (drainage basin) کې توېږي. د باراني اوبو ذخيرې Catchments د اوبو حوزه catchment area، د اوبو ذخيرې catchment basin، د اضافي اوبو ساحې drainage area، سيندنۍ حوزه River basin او د اوبو حوزې water basin، دا ټول د يوشان مفهوم لرونکو اصطلاحاتو ښودنه کوي. په هايدرولوژۍ کې د اضافي اوبو په حوزو drainage basin کې د اوبو د حرکت مطالعه، د اوبو د دوران د مرکزيت يوه منطقي سرچينه ده، ځکه د out let څخه اوبو د لويې برخې د وتلو ذمه واري او بېرته د ورښت په واسطه د اوبو د حوزو ډکول چې هغه د اوبو د پيدا ښت اساسي فکتور دی، تر څېړنې لاندې نيول کېږي. د اوبو يوه برخه له ځمکې لاندې له جذب کېدو څخه وروسته د ځمکې لاندې د اوبو په سيستم کې ګډ او جريان پيدا کوي او په يوه بله حوزه کې بيا د ځمکې لاندې شبکې څخه بيرون راوځي، چې د اوبو د اندازه کولو لپاره د حوزو په وتل ځايونو basin outlet کې د اوبلارې د اندازه کوونکې آلې stream gauge څخه ګټه اخيستله کېږي. (۲م۳۵۲)

د اوبو حوزې د رسمولو اساسي مرحلې Major steps in a watershed delineation: د اوبو د حوزو Watershed نقشو د ترسيم لپاره لاندېنۍ ستري مرحلې چې عبارت دي له:

لومړی مرحله: په توپوګرافيکه سطح کې په V ډوله ځايونو کې د يوې اوبلارې لپاره د مرکزي خط د جوړولو په خاطر د نقطو نښه کول او د هغو نښلول.

دويمه مرحله: په اوبلارو کې د لوړ ځای څخه ټيټ ځای ته د يوه غشې په واسطه د اوبو د جهت معلومول.

دريمه مرحله: د کانټوری نقشې د V او U ډوله ځايونو د لاندېنيو برخو د ارتفاعي نقطو د نښلولو څخه د حوزې سرحدي خطونو رسمول.

څلورمه مرحله: د حوزې څخه د اوبو وتلو د نقطې د موقعيت غوره او نښه کول او بيا د هغې نومول، د اوبو د وتلو نقطې ځای معمولاً د نظارتي ځای يا يوه هايدراليکي ساختمان په ډول استعمالېږي. (۵م۲۲۹)

د اوبو د حوزې ځانګړتياوې Watershed characteristics:

الف. د ډرېناج مساحت Drainage area: د يوه ساختمان د هايدروليکي ډيزاين لپاره ښايي چې د ډرېناج مساحت (A)، د اوبو د حوزې Watershed جوړښت يو له مهمو بېلوونکو ځانګړتياوو څخه وي او دا فکتور د اوبو د حجم انعکاس

ورکوونکی دی، چې د باراني اوبو څخه لاسته راځي. په عمومي ډول سره د هايدرولیکي ډیزاین لپاره د اوبو په حوزه Watershed کې د ورښت په پېښو کې د اوبو ژوروالی په یوه اندازه ثابت فرض کېږي. ددې فرضیې لاندې د ډرېناج په ساحه کې د اوبو ژوروالی، چې د ورښت په نتیجه کې په ځمکه کې جریان پیدا کوي، د اوبو د حجم څخه عبارت دی. په دې اساس د ډرېناج ساحه د یوه اټکل شوې ساده خطي معادلې چې په راتلونکې کې د یوې مغلقې کمپیوټري معادلې محاسبه به په بر کې ونیسي، وړاندوینه کوي. د ډرېناج مساحت ددې لپاره پیدا کېږي، ترڅو د ورښت په واسطه د اوبو د حوزې ژوروالی او د هغې د حجم توپیر لاسته راشي. (۵م،۲۷۰)

ب. د اوبو د حوزې اوږدوالی Watershed length: اوږدوالی (L) هم د اوبو د حوزې دویمه لویه ځانګړتیا ده. کله چې اوږدوالی زیاتېږي د اوبو شبکه هم لوېږي. د اوبو په حوزو کې د هایدرولوژیکي محاسباتو په خاطر د هغې اوږدوالی مهم رول لري. د حوزې اوږدوالی معمولاً د اساسي اوبلارې Main channel په اوږدو کې د اوبو د حوزې د وتل ځای watershed outlet څخه تر تقسیماتي ډنده Basin divide پورې د هغې فاصله مشخصه او اندازه کېږي. ددې کار لپاره چې کانال تقسیماتي حوض ته ونه غځول شي، بلکې دا لازمه ده چې د یوې شبکې غځول د اوبلارې د انجام څخه تقسیماتي ډنډ ته سره ونښلول شي، ترڅو د اوبو لوی حجم ددې لارې په واسطه په حرکت راشي، محاسبه کېږي.

ج. د اوبو د حوزې میلان Watershed slope: د سیلاب په واسطه د ساحې لاندې کول او د هغې د پراخوالي اندازه د سیلاب د جریان د شدت پورې اړه لري. میلان هم یو مهم فکتور دی چې د اوبو په حرکت کې شدت پیدا کوي. ښایي چې دواړه د اوبوحوزه او د اوبلارې میلان نزولي حالت ولري؛ د اصلي جریان په لوري، په اوبلاره کې د اوبو د حوزې میلان، د ارتفاعي قیمتونو توپیر د هغې د واټن په نسبت سره ښودل کېږي(۸م،۴۲۲). په ځانګړي ډول سره د جریان د اصلي اوبلارې رسمول او د حوزې د میلان (S) د محاسبې لپاره په اصلي اوبلاره کې د جریان د وروستیوارتفاعي نقطو توپیر (ΔE)، او د هایدرولوجیکي شبکې پر اوږدوالي (L) باندې ویش ته میلان وایي. د ارتفاعي نقطو توپیر (ΔE)، اړین نه وي چې په حوزه کې د نقطو تر منځ اعظمي حد ته ورسېږي، ممکن چې د نقطو ترمنځ لوړترین توپیر د حوزې د حدوداتو په اوږدو کې په نورو ځایونو کې واقع شي.

د اوبو د حوزې په رسمولو کې د اټوکېډ استعمال:

مهم لوی پړاوونه د اوبو د حوزو د نقشو په غوره کولو کې د اوبو د وتل ځای outlet او په کنټوری خطونو باندې د عمودي خطونو رسمول مهم رول لري، نو په همدې اساس په اټوکېډ کې دا ډول نقشې د لاندې نیو مرحلو په ترسره کولو سره رسمېدای شي:

۱. د ۲۰۱۴ اټوکېډ پیل Launch کړئ.

۲. کنټورې نقشه Contour map

- کنټورې نقشه جوړه کړئ.
- د کنټورې خطونو لپاره قشر (Layer) جوړ او له اندکس کنټورې خطونو ته پنډوالی ورکړئ او بیا نوموړی قشر د کار لاندې قشر(current layer) په ډول د ۴- شکل مطابق ومنئ.
- ضخیم کنټورې خط دې په عددي رقم سره ونومول شي. ددې کار لپاره د متن Text او Break کمانډونه استعمال شي(۸م،۴۲۴). ۵- شکل.



۳- شکل د نقشې قشرونه

مرکزي خط Center line:

- د مرکزي خط لپاره یو قشر Layer جوړ شي او د قشر رنګ، د خط پنډوالی او د هغې شکل تبدیل او په همدې وخت کې هغه د کار لاندې قشر په ډول قبول کړئ.
- په یوه اوبلاره کې اوبه د لوړ ځای څخه ټیټ ځای ته جریان پیدا کوي. څرګنده ده چې د کنټوري خطونو په نقشه کې د اوبلارې د بستر پورتنۍ برخه د (V) ډوله شکل د جوړېدو په نقطو یا ځایونو کې قطع کوي، نقطې په V ډوله ځایونو کې په نښه کړئ.
- د اوبلارې لپاره مرکزي خط رسم کړئ؛ ۱۱-۴ شکل.
- د پولی لاین *Poly line* کمانډ فعال کړئ.
- د v ډوله شکل له ټیټو نقطو څخه د پولی لاین Poly line خط تېر کړئ، کوم چې په ۱۱-۴ شکل کې ښودل شوی دی).(۸م۴۲۵)



۵- شکل: د توپوګرافیکي سطحې کنټوري خطونه

د جريان لوری Direction of the flow:

- په اوبلاره کې د اوبو د جريان د لوري معلومولو په خاطر (qleader) کمانډ په استعمالولو سره غشی رسم کړئ، چې د غشي د سر اندازه د ۱۸ څخه تر ۲۴ فټو پورې ده، لوری يا غشی په ۲- شکل کې ښودل شوی دی، رسمېږي.
- اوبلارې Channel او د هغې نوم ورکول په لاندې شکل کې ښودل شوي دي. (۸م۴۲۲)



۲- شکل: په اوبلاره کې د اوبو د جريان لوری

د اوبو وتل لاره outlet:

- د اوبلارې د وتل ځای لپاره يو قشر جوړ کړئ؛ د هغه رنګ او پنډوالي ته بدلون ورکړئ او د کار لاندې قشر په ډول يې قبول کړئ.
- په ۷- شکل کې د دايروي ډوله شکل په واسطه په حوزه کې نښه شوی ځای د اوبلارې (Channel) د اوبو د يو ځای کېدو يا د تقاطع نقطه ده چې د اوبو د وتل ځای په ډول غوره شوې ده.
- د اوبو په وتل ځای کې يوه نقطه رسمه او هغه په توري سره په نښه شوې ده.



۷- شکل کې د اوبو حوزه په دايروي شکل سره ښودل شوې ده

۷. د اوبو د حوزې رسمول Delineate the watershed:

- د حوزې د حدوداتو watershed boundary لپاره یو ځانګړی قشر جوړ کړئ، د هغې رنګ او پنډوالي ته بدلون ورکړئ او د کار لاندې قشر په توګه یې قبول کړئ.
- د کنټوري خطونو په نقشه کې کنټوري خطونه د ژۍ په لاندېنۍ برخه کې د (V) ډوله او یا U ډوله شکل د جوړېدو په نقطو یا ځایونو کې قطع کوي.
- د اوبلارې لپاره د هغې حدودات رسم کړئ.
- د *polyline* کمانډ فعال کړئ.
- د ۸- شکل په څېر د کنټوري خطونو د لاندېنۍ برخې د U ډوله ځایونو څخه یو پولي لاین خط رسم کړئ. (۸م۴۲۷)



۸- شکل: د حوزې د جوړولو په خاطر پولي لاین د U ډوله ځایونو څخه تېر شوی دی.

۸. د اوبو د حوزې خط ایستل Hatch the watershed:

- د اوبلارې د خط خط یا hatch لپاره یو قشر جوړ کړئ، د هغې رنګ او پنډوالي ته بدلون ورکړئ او د کار لاندې قشر په توګه یې ومنئ.
- د hatch کمانډ فعال کړئ او د اوبو د حوزې مقطع خط خط کړئ.
- د اوبلارې لپاره د hatch pattern ، زاویه او مقیاس په ترتیب سره د GRASS ، 0 درجې، او 70 برابر کړئ، ۹- شکل.



۹- شکل: د اوبلارې هچ شوې نقشه

۹. د اوبلارې اوږدوالی Channel length:

- د نقشې واحدونه په لاندې ډول سره انجنيري حالت ته واړوئ. (i) په کمانډ لاين کې *Units* وليکئ او د Enter تکمه کېګاړئ (ii) د Drawing units ډيالوګ بکس لاندې په طول *Length* کې انجنيري واحدات غوره کړئ، ۱۰ الف- شکل.
- د اوبلارې channel اوږدوالی (په مرکزی خط باندی د اوبلارې اوږدوالی) په فټ باندې پيدا کولو لپاره د لاندېنيو دوه لارو څخه ګټه اخيستل شوې ده:

۱. د مشخصاتوصفحې (Property sheet) استعمالول:

- د طريقې د سرعت او آسانتيا په خاطر د مشخصاتوصفحې property sheet پرانيزئ.
- د اوبلارې مرکزي خط باندې د طول د پيدا کولو په خاطر د ۱۰- ب شکل مطابق property sheet پرانيزئ.
- په هندسي تخته *Geometry* panel کې وروستني ثبت شوي معلومات د اوبلارې اوږدوالی دی، چې (۳،۷۸۹۵) فټو سره برابر دی، لاسته راځي. (۸م۴۲۸)

۲. فاصلې يا Distance command د اوږدوالي د لاسته راوړلو په خاطر استعمال کړئ.

- د اوږدوالي *Length* طريقه.
- په Home tab کې د *Utilities* د اندازو په dropdown مينو کې د فاصلې ابزار ( ) له پرانيستلو څخه وروسته د اوبلارې اوږدوالی (۳،۷۸۹۵) فټه لاسته راځي.



۱۰ب- شکل دپولي لاين د مشخصاتو تخته



۱۰ الف- شکل د نقشې انجنيري واحد

۱۰. د اوبو حوزې مساحت watershed area :

د اوبو حوزې د مساحت د لاسته راوړلو لپاره يو له دوو لارو څخه ګټه اخيستل شوې ده:

a) د مشخصاتوصفحې (Property sheet) استعمالول لکه چې د اوږدوالي د پيدا کولو لپاره توضيح شوې ده، هم د حوزې مساحت لاسته راځي، چې په پايله کې د حوزې مساحت ۱۲۵۰۷۰،۷۲۹۵ فټ مربع يا ۱۱۸۲،۴ ايکړه لاسته راځي.

b) د پلټنې (Inquiry) کمانډ په استعمال سره.

- د Tools dropdown مينو څخه لومړی د Inquiry option انتخاب کړئ او بيا د Area option غوره کړئ، په 11-8c شکل کې به پيغام ښکاره شي. په دې سره به د حوزې مساحت ۲۳۷۷۰۱۸۵،۰۵۴۲ انچ مربع يا ۱۲۵۰۷۰،۷۲۹۵ فټ مربع لاسته راشي، که چېرې پورتنی مساحت په 1Acre =43560 sq.ft وويشل شي، د حوزې مساحت به ۱۱۸۲،۴ ايکړه حاصل شي. (۶م۴۲۳)



۱۰ج– شکل

- د داخلېدو enter کیلي ته فشار ورکړئ.
- شی object انتخاب کړئ، د مساحت معلومات به د صفحې پر مخ ښکاره شي او د موس یا د کرسر cursor د حرکت اشاره به پټه شي.
- ترلاسه شوي معلومات به په کمانډ لاین (command line) کې ښکاره شي. (۸م۴۳۲)

پایله:

د طولونو او مساحتونو د پایلو ښودنه Display result of the length and area:

- یو جدول د ۱۱- شکل مطابق د هغې په لاندې برخه کې ترتیب شوی دی، چې د حوزې اوږدوالی او مساحت په کې په ترتیب سره ښودل شوی دی.
- په رسم کې د Text په ډول د اوبلارې لوری Direction د غشي په واسطه په پنډ خط سره ښودل شوی دی.
- په رسم کې د اوبو حوزه د خط خط Hatch په ډول سره د هغې مساحت ښودل شوی دی.
- کنټوري خطونه چې د توپوګرافیکي سطحې ښودنه کوي، د هغو لوړوالی د عددونو په واسطه ښودل شوی دی.



د حوزې مساحت (ایکر)	هایدرولوجیکي اوږدوالی (فټ)
۱۱۸۲،۴	۳،۷۸۹۵

۱۱- شکل: د حوزې مساحت او اوږدوالی

Abstract:

A watershed is the area of land that drains into a stream at a given location; that is, it is an area of land bounded by a hydrologic system. Generally, a watershed is defined in terms of a point or outlet and all the land area that sheds water to the outlet during a rainstorm. Using the concept that "water runs downhill," a watershed is defined by all points enclosed within an area from which the rain falling at these points will contribute water to the outlet boundaries. 12. A drainage basin is also a region of land where the precipitation's water flows downhill into ariver, lake, dam, or ocean. The majority of water that discharges from the basin outlet originated as the precipitation falling on the basin. In hydrology, the drainage basin is a logical unit of focus for studying the movement of water within the hydrological cycle. Remember that :Finally achievement regarding the of the length and area of a watershed net work can be obtained directly from the drawing of water shed and drainage basin which we found by CAD program and their related software. Here very important point of targeted work was assigned to achieve length and area of watershed. The length of the channel in feet can be obtained using one of the two techniques.

(a) Using the *Property* sheet

(b) Using the *Distance* command of Lengthy method! We found 3,7895 feet hydrological length of watershed. Watershed area: Find the area of the watershed in acres. The area of the watershed can be obtained using one of the two techniques.

(a) Using the *Property* sheet

(b) Using the *Distance* command, in the result we found 4,1182 acre watershed area, where ، Convert the area into acres using the conversion factor of 1 Acres = 43560 sq. ft.

References:

1. Priyani V.B Professor and Head of civil engineering Department INDIA Fundamental principles of irrigation engineering 1979 Edition.
2. B.C Dr. PUNMIA and B.B.LAL Dr.PNDE Irrigation and Water power engineering INDIAN Delhi. Book 1982
3. Nighat Yasmin. Introductions to AutoCAD 2008 for Civil Engineering Applications. Learning to use Auto CAD for civil engineering projects. United States of America, Clemson University
4. Engineering graphics technical sketching and Auto CAD 2009 Jerry W.Craig Washington university-School of engineering St.Louis Missori.
5. Nighat Yasmin. Introductions to AutoCAD 2010 for Civil Engineering Applications. Learning to use Auto CAD for civil engineering projects. United States of America, Clemson University
6. Nighat Yasmin. Introductions to AutoCAD 2012 for Civil Engineering Applications. Learning to use Auto CAD for civil engineering projects. United States of America, Clemson University
7. Nighat Yasmin. Introductions to AutoCAD 2013 for Civil Engineering Applications. Learning to use Auto CAD for civil engineering projects. United States of America, Clemson University.
8. Nighat Yasmin. Introductions to AutoCAD 2014 for Civil Engineering Applications. Learning to use Auto CAD for civil engineering projects. United States of America, Clemson University.

پوهنمل دوکتور عبيدالرحمن (الکوزی)
شرعياتو پوهنځی- فقهې او قانون څانګه

د مړي لپاره قرباني (اضحيه) کول

لنډيز:

په دې څېړنه کې چې د (مړي ته اضحيه کول) تر سرليک لاندې ليکل شوې ده، د اضحيې پېژندنه، مشروعيت، حکمت، حکم، شروط، د مړي اضحيه، د اضحيه کوونکي شرطونه، د اضحيې غوښه، د اضحيې مستحبات او مکروهات پکې څېړل شوي دي.

سريزه:

الحمد لوليه والصلاة والسلام علی نبيه و علی اله وصحبه اجمعين و بعد: الف: د موضوع اهميت: الله جل جلاله ټول مخلوقات د عبادت او بندګۍ لپاره پيدا کړي، مګر د هر مخلوق په جلاډول بنده ګي او عبادت وي. د انسان بنده ګي د جماد، نبات، ملايک سره توپير لري، نو بيا په دې مخلوق الله تعالی انسان ته ډېر غوره والی ورکړی او هم يې ډېر مکلفيت تر غاړی کړی، ترڅو د حيوانيت خوا يې کمه او د ملکوتيت برخه يې ډېره لوړه شي؛ نو همدا سبب دی چې دده ټول کارونه بايد د الله جل جلاله د رضا لپاره وي، لکه چې قران کريم هم پدې اړه ارشاد فرمايلی دی:

((قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١٦٢ـ)) (انعام-١٢٢)

ژباړه: په تحقيق سره زما لمونځ، د حج مناسک، ژوند، مرګ ټول د الله جل جلاله لپاره دي. په عباداتو کې چې مالي او بدني دي، نو يو د هغې نه اضحيه ده، چې الله (ج) هم پدې اړه فرمايلي:

(لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ) (الحج:٣٧)

ژباړه: يعنې هيڅکله الله تعالی ته غوښې يا وينې مطلوب نه وي او نه ورته پورته کېږي، بلکې الله ته تقوا او پرهيزګاري يعنې اعمال صالحه چې په تقوا او اخلاص سره مرتب وي او د الله جل جلاله مخ او رضا يې مقصد وي (مظهري ٦/٣٢٥). نو دا چې اضحيه هغه قرباني ده چې سيدنا ابراهيم عليه السلام د الله جل جلاله د رضا او خوشالۍ لپاره چې ترېنه وغوښتل شول زوی دې حلال کړه، نو دا څه عادي خبره نه وه، بلکې يو لوی امتحان ؤ، چې ابراهيم (ع) په دې امتحان کې بريالی شو. (٩)

ب: د موضوع موخه: لومړی دا چې اوس امت محمديه ته همدا سنت ژوندي کول هم يو مهم کار دی، چې څنګه يو څوک د الله (ج) پر وړاندې حد اقل يو څاروی قرباني کړي چې له يوه طرفه يې سنت پر ځای کړي وي، او له بله پلوه يې د غريب او فقير سره د غوښې مرسته کړی وي، او هم يې د خپلو خپلوانو سره ښېګڼه کړې وي، نو د همدې فلسفې په اساس چې دا يوه مهمه موضوع ده، مګر دا چې ځينې سوالونه په همدې اړه د ګڼو خلکو په ذهنونو کې شته، چې ايا که چېرې د يو چا پلار، مور، يا نور مشران مړه وي، نو مونږ د هغوی له طرفه کولای شو چې قرباني يا اضحيه وکړو؟ که وصيت يې کړی وي او که نه؟ او بيا يې غوښې د ژوندي کس په شان چې قرباني کوي، تقسيمېږي او که کوم تفاوت پکې شته؟ نو ما دا ضروري وګڼله چې مسلمانان په دې پوه شي چې د مړي نه اضحيه کولو په اړه اسلامي شريعت څه حکم کوي.

د اضحيې (قربانۍ) پېژندنه:

اضحيه يا قرباني اګر که مسلمانان يې ټول پېژني او ورسره بلد تيا هم لري، مګر اوس يې دلته په لغوي او اصطلاحي لحاظ بحث کوو، تر څو پوره وضاحت يې وشي.

د اضحيې لغوي معنی: الاضحی: مايضحی به من الشاة، الواحدة اضحاة ج: اضاحی (يوم الاضحی) عندالمسلمين: يوم النحرفی عرفات: اضحيه هغه ته وايي چې پسه پرې ذبحه کېږي، واحد يې اضحاة دی او جمع يې اضاحي ده، يا د اختر ورځ د مسلمانانو په نزد، د عرفات د ورځو اختر يعنې لوی اختر. الاضحية: الاضحاة، ج: اضاحی (لاروس ١/ ١١١): اضحية مفرد

او جمع اضاحی ده. اضحیه په اصطلاح کې د یو حیوان ذبح کول په خاص نیت د ثواب سره په یو خاص وخت کې، او یا ذبح او حلالول د حیوان دي، د اختر په ورځو کې الله جل جلاله ته د نژدې والي له امله. (۲م۵۹۴)

اضحیه په شرع کې: عبارت له هغه حیوان نه چې د اختر په ورځو کې په خاصو شرایطو سره الله جل جلاله ته د نژدې والي له امله ذبحه یا حلالېږي، ویل کېږي. نو هغه چې د الله جل جلاله د تقرب نه پرته حلال شي، هغه اضحیه نده؛ لکه ذابح چې د خرڅولو لپاره، د خوړلو، مېلمه او یا هغه چې په غیر له دې ورځو نه حلال شي، اګر که د تقرب (نژدېوالي) لپاره هم وي، اضحیه نه بلل کېږي. (۱۳م۷۴)

د اضحیې مشروعیت: الله جل جلاله فرمایلي دي: ((فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝)) (کوثر-۲). ژباړه: عطاء قتاده او عکرمه وایي: د اختر ورځې لمونځ وکړه، او حضرت انس وایي چې نبي کریم علیه السلام به لومړی نحر کاوه او بیا به یې لمونځ کاوه، نو بیا یې امر وکړ چې اول لمونځ وکړي او بیا قرباني وکړئ. حضرت سعد وایي دا ایت مبارکه حدیبیه کې نازل شوی دی، کله چې نبي کریم علیه السلام محاصره شو، بیت الله شریف ته د تللو نه، نو الله جل جلاله ورته امر وکړ چې لومړی لمونځ وکړه او بیا اوښه حلاله کړه او بیا بېرته وګرځه، نو دا کار یې وکړ. (۱۰م۲۱۸)

په نبوي سنتو کې هم راغلي چې (عن انس قال ضحی النبی صلی الله علیه وسلم بکبشین املحین فرائیته واضعا قدمه علی صفاحهما یسمی ویکبر فذبحهما بیده) (۳م۸۳۴). ژباړه: حضرت انس رضی الله عنه وایي چې جناب نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دوه څربو پسونو اضحیه کړې وه چې خپل قدم یې د پسه د څټ د پاسه ایښودی او بسم الله او الله اکبر یې ویلی او په خپل لاس سره یې ذبحه کړل. په دوهم کال د هجرت د قربانۍ (اضحیې) مشروعیت راغی او دا همغه کال هم و چې د اختر لمونځ او د زکات فرضیت پکې نازل شوی.

د اضحیې حکم: د جمهورو علماوو او فقهاوو لکه شوافع، حنبلی، او په راجح قول د امام ابویوسف کې راغلي چې اضحیه مؤکد سنت دي او همدا قول د حضرت ابوبکر، حضرت عمر، بلال، ابومسعود البدري، سوید بن علقمه، سعیدبن المسیب، عطاء، علقمه، اسحاق، او ابن المنذر دی (۱۳م۷۲). نوموړی دلیل په دې حدیث نیسي چې (اذا دخل العشر و اراد احدکم ان یضحی فلا یمس من شعره و لامن بشره شیئا). (۱۱م۱۲۰). ژباړه: کله چې لس ورځې د ذی الحجې داخلې شوې او یو په تاسې کې د قربانۍ اراده درلودله، نو د ویښتانو څخه او یا د مخ نه دې څه شی نه اخلي. یو بل روایت کې هم راغلي: (عن ام سلمه تقول قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کان له ذبح یذبحه فاذا اهل هلال ذی الحجة فلا یاخذن من شعره و لامن اظفاره شیئا حتی یضحی). (۷م۳۰). ژباړه: حضرت ام سلمه وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي د چا چې ذبحه وي او حلاله کوي، نو کله چې ذی الحجه داخله شي، نو د ویښتانو او نوکانو څخه دې هیڅ شی هم نه اخلي، تر څو چې اضحیه یې کړې نه وي.

احناف: اضحیه واجب ده، اول دلیل په دې ایت کریمه نیسي چې (فصل لربک وانحر. کوثر۲). دې ځای کې امر د وجوب لپاره دی او دا ځکه کله چې په نبي کریم علیه السلام باندې اضحیه واجب شوه، نو په امت یې هم واجب شوه. (۱۲م۲۲)

شوافع: اضحیه سنت ده او پرېښودل یې ښه ندي او څوک چې قرباني کوی، نو لږ تر لږه باید اوښه، غوا یا ګډه حلاله کړي. (۸م۲۲۱)

پورتني دوه نظرونه سره لږ تفاوت لري، یو د سنت مؤکد او بل د وجوب؛ نو که یو څوک توان ولري، نو هغه باندې لازم ده چې قرباني وکړي، چې له تقرب سربېره د فقیرانو او مسکینانو سره هم مرسته شوې وي.

د اضحیې(قربانۍ) شرطونه: د اضحیې لپاره لاندې شرطونه ضرور دي:

۱ـ په اضحیه کې هغه څاروي د حلالې لپاره شرط دي چې مباح وي، لکه: اوښ، اهلي غوا یا غویي، مېښه، پسه، چېلی، چېلۍ دي، چې په قربانۍ کې به ذبحه کېږي او که څوک هغه مباح حیوان چې غیر له دې پورته نه وي، لکه مرغان، چارپایان، او نور هغه نه صحیح کېږي؛ پدې دلیل چې الله جل جلاله فرمایلي دي:

((وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ)) ، (الحج ۳۴).

ژباړه: او د هر امت او ټولګي لپاره چې مسلمانان تېر شوي دي، مونږ ورته د عبادت ځايونه (د ذبحې او وينې تويولو او تقرب حاصولو) تعين کړي وو، ترڅو د الله جل جلاله نوم په هغه حيواناتو او چارپايانو ياد کړي، چې دوی يې ذبحه کوي. (۹م۳۲۲)

نو پدې اړه د نبي کريم عليه السلام نه د بل کوم حيوان باره کې څه ندي راغلي، نو که څوک چرګ، يا فيل مرغ يا نور په اضحيه کې حلال کړي، نه صحيح کېږي. دغه راز پسه په يو تن او غټ څاروی په اوو تنو (عن جابر قال نحرنا بالحديبية مع النبی صلی الله عليه وسلم البدنة عن سبعة والبقرة عن سبعة)، (۲م۲۲۲). ژباړه: حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې مونږ د نبي کريم عليه السلام سره په حديبيه کې حلاله وکړه، اوښ په اوو (۷) تنو او غوا هم په اوو (۷) تنو.

۲- اوښ، غوا، غويي به دوه کلن وي؛ چېلی به يو کلن او پسه به له شپږ مياشتو نه اوښتی وي.

۳- هغه څاروي چې په قربانۍ کې ذبحه کېږي، د لاندې عيبونو څخه به پاک وي:

الف: روند به نه وي، چې روندوالی يې ښکاره نه وي. ب: ټوله ژبه او يا اکثره به يې قطع يا غوڅه نه وي. ج: پوزه به يې ټوله يا اکثره برخه پرې نه وي. د: دواړه غوږونه او د يا د هر يو زياته برخه به يې پرې نه وي. ذ: داسې ګوډ به نه وي چې په لاره سم نشي تللای. ر: يوه پښه يا لاس يې پرې نه وي. ز: هغه چې د تيونو څوکي يې وچې يا مکله غولامزه يې وچه نه وي. س: لکۍ يې مکمله يا ډېره پرې نه وي. ش: په داخل د هډوکو کې يې ماغزه وچ نه وي.

مړي ته اضحيه (قرباني) کول:

په دې اړه د حضرت حنش نه روايت دی (قال رايت عليا يضحی بکبشين فقلت له ماهذا فقال ان رسول الله صلی الله عليه وسلم اوصانی ان اضحی عنه فانا اضحی عنه) (۷م۲۹). ژباړه: دی وايي چې ما حضرت علي رضی الله عنه وليد، چې دوه پسونه يې ذبحه کول، نو ما ورته وويل چې دا څه دي، نو هغې راته وويل ماته نبي کريم عليه السلام پدې وصيت کړی ؤ، نو زه د هغه نه قرباني (اضحيه) کوم. نو ددې نه معلومه شوه چې د بل چا څخه چې هغه مړ هم وي، قرباني کول جايز دي، ځکه دا مسئله د ايصال ثواب ده او په دې کې مړی او ژوندی تفاوت نلري؛ نو بناءً که چېرې مړي وصيت کړی وي، پدې توګه چې زما له طرفه به اضحيه (قرباني) وکړئ او يا يو څه وقف کړي، نو په اتفاق د علماوو داجايز ده. که دا د نذر په شکل واجب ګرځول شوې وي او که نه وي، نو په وارث يې نافذېدل لازم دي او که چېرې وصيت يې نه و کړی، مګر وارث او غير له دې نه بل چا غوښتل چې د خپل مال نه او هم د خپل ځان نه يې مړي پسې قرباني وکړي، نو د احنافو او مالکينو په نزد جايز دي؛ مګر د مالکينو په نزد د کراهيت سره جايز دي. ځکه چې مرګ خو د ثواب او تقرب مانع ندی، لکه چې په صدقاتو او حج کې او همدارنګه د نبي کريم عليه السلام نه ثابت دي چې دوی دوه پسونه ذبح کړي وو، يو يې د خپل ځان نه او بل يې د امت له طرفه و. (۱۳م۱۰۶)

احناف: که چېرې اووه کسه په يوه اوښه کې شريکان وي او يو کس مخکې له حلالې نه وفات شي او ورثه يې په دې راضي وي چې ددې مړي نه دې ذبحه وشي، نو جايز ده. استحسانا او قياس خو دا تقاضا کوي چې جايز نه دي او د قياس تقاضا داده کله چې انسان مړ شي، نو له ده نه ذبح ساقطه شوه او د وارث ذبحه نده روا دده لپاره، بلکې دا فقط غوښه ده او دا نور پاتې خلک له ذبحې نه پرېږدي. او د استحسان وجه داده چې مرګ مړی د ثواب څخه نه منع کوي، په دې دليل چې له ده نه خيرات کول او حج کول جايز دي، لکه چې نبي کريم عليه السلام د خپل ځان جلا او د خپل امت نه جلا قرباني کړې وه. (۱۲م۷۲)

د مړي د اضحيې غوښه:

د مړي څخه ذبحه بايد د مړي په خپل ژوند کې دده په غوښتنه او امر سره وشي او کومه غوښه چې په دې اساس سره لاسته راځي، بايد نوموړې ټوله غوښه خيرات کړل شي، چې همدا غوره او راجح قول دی. (۱۳م۱۰۳)

نورې عامې د قربانۍ غوښې هم پخپله نه خوړل کېږي، بلکې دغه غوښې هم درې تقسيمه کېږي، يوه برخه ځانله او بله خپلو خپلوانو ته، او بله برخه غريبو او بې وزلو ته ورکول کېږي؛ نو همدا ډول د مړي له طرفه اضحيه کې هم بايد د فقير او غريب مشکل په نظر کې نيول پکار دي، نو که ټوله بل چاته ورکړل شي ښه به وي.

د اضحيې وخت: د اضحيې د وخت په اړه د علماوو اختلاف نظر موجود دی، چې په لاندې توګه يې واضح کوو:
احناف: د اضحيې وخت د دويم سبا ختلو نه (صبح صادق ثاني) نه وروسته د اختر د لومړۍ ورځې سره برابره ده، البته د سبا ختلو نه وروسته د قريو او اطرافيانو خلکو لپاره او د اختر د لمانځه نه وروسته د ښاريانو لپاره ذبحه او قرباني روا ده، او ښاريانو ته د اختر لمانځه نه مخکې روا نه ده. (۱۲م۷۳)
شوافع: که چېرې دومره وخت د لمر ختلو نه ووت، چې ملا امام دوه رکعته لمونځ وکړي او بيا خطبه ووايي، وروسته له دې څخه نو دومره اندازه وخت چې تېر شو؛ نو بيا اضحيه او قرباني کول جايز دي. امام شافعي وايي چې اضحيه د اختر په ورځ او د منى په ورځو کې روا ده، ځکه چې همدا د نسک ورځې دي او که د شپې له پلوه د منى په ورځو کې حلاله وشي، نو بيا هم جايز ده. (۸م۲۲۳-۲۲۲)
مالکي او حنابله: د اضحيې (قربانۍ) ورځې درې دي، يعنې د اختر لومړۍ ورځ او دوه ورځې ورپسې. (۱۳م۹۵)
د اضحيې غوره وخت د اختر لمانځه نه فوراً بعد بايد وشي، که کوم غذر ورته نه ؤ، ځکه چې د نبي کريم عليه السلام لومړی عمل د لمانځه نه بعد د قربانۍ حلالول و؛ او که چېرې کوم مشکل ورته و، نو بيا د داسې کسانو لپاره د درېيمې ورځې د مازديګر پورې قرباني کېږي او دا هم قابل د ذکر ده چې که قرباني د ورځې له پلوه وشي، نو ښه به وي او که ضرورت و، نو بيا يې د شپې هم کولای شي. د ورځې ترجيح په دې کې ده چې د ذبحې طريقه او حلاله به په صحيح توګه ترسره شي.

د قربانۍ نه مخکې مستحبات:

۱. کوم څاروی چې ذبحه کېږي، بايد وتړل شي.
۲. غاړه کې (قلاده) ورته اچول مستحب دي.
۳. په ښه طريقه بايد د حلالې ځای ته يووړل شي.
۴. هغه څوک چې ذبحه کوي، بايد وينښتان د بدن نه لرې نکړي.
۵. که د قربانۍ حيوان شيدې ورکوي، نو په دې وخت کې بايد ورځنې وانخيستل شي، يعنې ونه لوشل شي.
۶. کوښښ دې وشي، هغه حيوان چې حمل ولري، ذبحه نشي؛ ځکه بچی يې ضايع کېږي او بل دا چې فقهاء يې د غوښې د خوړلو په اړه د نظر اختلاف لري.
هغه چې وروسته له ذبحې مستحب دي:
۷. ودې ليدل شي، ترڅو د حيوان ټول اندامونه ارام کړی شي.
۸. له عامو اضحيو څخه خوړل او يا ذخيره کول مستحب دي.
۹. د څاروی پوستکی نه به په خپله ګټه نه پورته کوي، بايد خيرات يې کړي.
۱۰. غوښه به درې برخې کړي، يوه ځانله، بله خپلوانو او درېيمه به فقيرانو او مسکينانو ته ورکړي. (۷)
۱۱. د څاروي د حلالولو په اجوره کې به قصاب ته پوستکی او غوښه نه ورکوي.
۱۲. د څاروي د غوښې له ذخيره کېدو دې د امکان تر حده ډډه وشي؛ خو ذخيره کول يې هغه مهال روا دي چې غريبو ته په کې برخه ورکړل شي.

په اضحيه کې نيابت:

د ټولو فقهاوو په نزد نيابت جايز دی، که چېرې نايب مسلمان وي(). په اضحيه کې نيابت جواز لري، نو دا جايز ده د يو انسان لپاره چې په خپله ذبحه وکړي او يا و بل ته ذبحه وکړي، مګر د هغه په اجازه؛ نو دا هم ثواب دی او د مال پورې مربوط ېږي، لکه د زکات او صدقة الفطر چې په دوی کې نيابت جواز لري (۱۳م۱۰۵). د نيابت مسئله په ټولو هغو شرعي کارونو کې چې جواز ولري، نو په اضحيه کې هم نيابت جواز لري، نو کولای شي چې بل څوک هم د اجازې په صورت کې د بل چا څخه قرباني وکړي.

د اضحيې فضيلت:

اضحيه ابراهيمي سنت دي، چې د هغه د صبر حوصلې په اړه مونږ ته لوی درس راکول کېږي او هم مونږ ته پکې اجر او ثواب او د الله جل جلاله او رسول عليه السلام رضا او خوشحالي راپه برخه کېږي، چې په همدې اړه د نبي کريم (ص) ارشاد دی، چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه روايت کوي: عن ابن عباس قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما من ايام العمل الصا لح فيهن احب الی الله من هذه الايام العشر فقالوا يا رسول الله و لا الجهاد فی سبيل الله فقال رسول الله و لا الجهاد فی سبيل الله الا رجل خرج بنفسه و ما له فلم يرجع من ذلک بشئ). ( )

ژباړه: حضرت ابن عباس (رض) وايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: نشته داسې يو عمل صالح په نورو ورځو کې چې ددغو لسو ورځو سره برابر وي او الله جل جلاله ته غوره وي؛ دوی ورته وويل جهاد د الله (ج) په لاره کې هم؟ نو نبي کريم عليه السلام ورته وويل نه جهاد د الله (ج) په لاره کې هم، مګر که چېرې يو سړی په خپل ځان سره او مال سره ووځي او بيا هم راواپس نشي په هيڅ شي هم، نو بيا به ددې سره برابر وي. د اضحيې په رابطه ډېر داسې دلايل شته چې ددې فضيلت او بهتري ترېنه واضحه ده او هم د فضيلت مفهوم ددې ايجاب کوي، چې بايد هغه څوک چې توان ولري، نو بايد قرباني وکړي او ددې د اجر او ثواب نه ځان محروم نه کړي.

پايله:

له پورتني بحث څخه دې پايلې ته رسېږو چې اضحيه يو لوی او عظيم عمل دی؛ څوک يې چې وسعه لري، بايد ترسره يې کړي. د حکم په اړه يې جمهور علماء وايي چې سنت موکد ده او کوم دليل چې نيسي، هغه دادی چې نبي کريم (ص) څخه په يو روايت کې راغلي دي چې که څوک اراده ولري چې قرباني وکړي، نو هغوی دې وينبسته نه کموي؛ نو دلته اختيار شرط شو، نو حکم يې سنت دی. د امام ابوحنيفه (رح) په نزد يې حکم واجب دی او هغه استدلال په ايت کريمه کوي او هغه دادی چې (فصل لربک وانحر) يعنې ته لمونځ وکړه او قرباني وکړه؛ نو د وانحر کلمه کې امر دی او امر د وجوب لپاره وي، نو په دې اړه د علماوو اختلاف موجود دی، خو په هرحال دا يو غوره عمل دی. بله دا چې د مړي نه قرباني هم جايز ده او هغه په دې دليل چې قرض، حج، صدقه، خيرات، د ايصال ثواب په نيت روا دي، نو قرباني هم يو ددې مالي صدقاتو او د ثواب او تقرب لپاره که د بل چا څخه چې هغه مړ وي، نو که د وصيت په صورت کې وي او که په غير د وصيت نه وي، جواز لري. که څوک توان ولري چې د خپل پلار، مور يا نورو لپاره قرباني وکړي روا ده، خو يو ټکي ته يې بايد پام وي چې د مړي لپاره د شوې قرباني غوښه به ټوله فقراوو او مساکينو ته ورکول کېږي او پخپله به ترې استفاده نکوي.

وړانديزونه:

۱. اضحيه يو ابراهيمي سنت دی، نو د توان په صورت بايد پرېښودل شي.

۲. که چېرې چا په اضحيې باندې وصيت کړی وي، د هغه وصيت پوره کول يوه اخلاقي مسئله ده.

۳. زه هيله کوم که چېرې د چا پلار، مور، يا بل کوم مشر چې د هغې سره خاصه مينه او محبت لري او په داسې حال کې چې اقتصادي وضعيت يې هم ښه وي، نو پکار ده چې هغوی ته قرباني وکړي، تر څو د ايصال ثواب په رابطه يې يو څه حاصل کړي وي.

۴. د قرباني او اضحيې په رابطه هغه شرايط چې ذکر شوي، بايد مراعت شي، ترڅو دا عمل په ښه صورت سره انجام او ترسره شي.

۵. په مجموع کې بايد له هغه چاسره چې وفات شوی وي، څومره چې کولای شو د خيرات، صدقات، اضحيې په شکل او يا دهغوی لپاره لاره، سرک، پل، مکتب، مدرسه، مسجد، مقبره، کوهی جوړول او د اړو او غريبانو سره د هر ډول ممکنه مرسته کولو په شکل مرسته وکړو.

خلاصة البحث:

قد بحثت فی هذا البحث عن ما یاتی:

- تعریف الاضحیة لغة واصطلاحا ای ذبح الحیوان بنیة القربة فی الایام العید الاضحی من حی او من میت بحالة الوصیة.
- والاضحیة عمل مشروع ثبت با القران والسنة والحکمة فیها الاتباع بسنة الابراهمیة وسنة النبی صلی الله علیه وسلم.
- والشروط التی شرطت فی الاضحیة الاموات، فهی نفس الشروط التی فی الاضحیة عن الاحیاء تماما، اما الفرق بالاموات با الوصیة او الاحسان من جانب الورثة والاصدقاء والاحباب علی طرقة ایصال الثواب والاجر.
- وتصح النیابة والوکالة فی الاضحیة الاحیاء فکذ لک تصح فی الاموات ایضا.
- ان الاضحیة عمل التقرب الی الله تعالی سواء من احیاء ومن اموات اذا کان توافرت فیها الشروط التضحیة التی ذکرنا فی البحث المذکور.

اخځلیکونه:

۱. القران الکریم.

۲. ابن ماجة، ابوعبدالله محمدبن یزید. ( ). سنن ابن ماجه. کراچي: قدیمي کتب خانه.

۳. البخاری، ابوعبدالله محمد بن اسماعیل. ( ). صحیح البخاری. کراچي: سعید کمپنی.

۴. الترمذی، محمدبن عیسی بن السورة. (۲۷۹). سنن الترمذي. دهلي: کتب خانه رشیدیه.

۵. الجر، دوکتور خلیل. (۱۹۷۳). لاروس معجم اللغة الحدیث. تحقیق محمد خلیل الباشاوهانی ابومصلح. پاریس: ۱۷شارع مونپارنارس.

۶. الزحیلی، دکتور وهبة. (۱۹۸۹). الفقه الاسلامی وادلته. بیروت: دارالفکر.

۷. السجستانی، ابوداود سلیمان بن اشعث. ( ).سنن ابوداود. لاهور: مطبعه مجتبایی.

۸. الشافعی، محمدبن ادریس. (۱۹۸۲). کتاب الام- ط ثانی.القاهره: دارالکتاب العربی.

۹. الفانی فتی، القاضی محمد ثناء الله. ( ). التفسیر المظهري. کویت: مکتبه رشیدیه

۱۰. القرطبی، ابی عبدالله محمد بن احمد الانصاری. (۱۹۴۰). تفسیر الجامع الاحکام القران. بیروت: داراحیاء التراث.

۱۱. القشیری، مسلم بن حجاج. ( ). صحیح مسلم. کراچي: قدیمي کتب خانه.

۱۲. الکاسانی، ابی بکر بن مسعود. (۱۴۰۰). البدایع الصنایع. کراچي: سعید کمپنی.

۱۳. لجنة العلماء، موسوعة الفقهیة الکویتیة. (۱۹۹۳). وزارة الاوقاف والشؤن الاسلامیة.

پوهنمل صديق الله (کريمي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

د ختم نبوت په اړه د قاديانيانو عقيدې څېړنه

لنډيز:

په دې علمي څېړنه کې چې د (د محمد صلی الله عليه وسلم د ختم نبوت په اړه د قاديانيانو عقيدې څېړنه) تر سرليک لاندې ليکل شوې، د قاديانيانو له خوا د محمد صلی الله عليه وسلم د ختم نبوت په اړه د شويو اعتراضونو او ادعاوو اصلی حقيقت او بڼه په کې څېړل شوې او د علمي قوي دلايلو په رڼا کې پرې رد هم شوی دی.

سريزه:

الله جل جلاله د نبوت د سلسلې پيل د آدم عليه السلام څخه وکړ او په محمد صلی الله عليه وسلم باندې يې پای ته ورسوله؛ په محمد صلی الله عليه وسلم نبوت ختم شو، هغه صلی الله عليه وسلم آخر الانبياء دی، او له ده صلی الله عليه وسلم نه وروسته بل نبي نه راځي، چې دې ته د شريعت په اصطلاح کې د ختم نبوت عقيده وايي. د هند د لويې وچې تر ټولو لويه مشهوره باطله ډله قاديانيه چې احمديه هم ورته وايي، ده. دا هغه باطله ډله او حرکت دی، چې د انګليس استعمار په لارښوونه د هند په نيمه وچه کې د ځينو خاصو باطلو او فاسدو افکارو د نشر او خپرېدو لپاره رامنځته شوه، چې مسلمانان د اسلامي روزنې او افکارو په ځانګړې توګه د جهاد له اهمې فريضې څخه ليرې وساتي. ددې ډلې له مهمو خصوصياتو څخه د دوی د مشر د نبوت دعوه، د قرآني نصوصو تحريف، د مسلمانانو تکفير، د کفارو سره دوستي او موالات او داسې نور وو. قاديانيه يا احمديه ډله د زمانې له پلوه يوه نوې ډله ده، دوی له باطنيه او اسماعليه فرقې سره ژور تړاو لري؛ البته په عقايدو کې د يو بل سره همغږې او هماهنګه ډلې دي، د بنسټ پالۍ نسبت يې غلام احمد بن غلام مرتضی بن عطا محمد قادياني ته کېږي، چې په (۱۸۳۹ م او يا په ۱۸۴۰ م) کال کې د پنجاب ايالت د قاديان په کلي کې پيدا شوی دی. دده کورنۍ د قوميت له پلوه معلومه نده، مغل او يا فارسيان دي او يا دواړه هم نه دي. دده د کورنۍ په اړه تاريخ دومره ليکلي دي، چې دوی په هند کې د انګرېزانو ملاتړي وو او په ځانګړې توګه د کورنۍ مشر يې د انګرېزانو سره نږدې اړيکې لرلې. همدارنګه مؤرخينو د تاريخ په اوږدو کې ليکلي، چې د غلام احمد پلار د انګرېزانو مخبر او جاسوس ؤ او خلک يې د انګرېزانو ملاتړ او پلوۍ ته هڅول او د خپل ولس په مقابل کې يې جنګونو ته تيارول. په (۱۸۵۷م) کال په هند کې د انګرېزانو خلاف ولسي پاڅون وشو، دوی د خپل ولس په مقابل کې د انګرېزانو سره د پنځوس اسونو او سړيو مرسته وکړه. مرزا غلام احمد په خپله د عبدالکريم په نامه يو تن په خپل جومات کې امام مقرر کړی ؤ، چې عبدالکريم د نورالدين په څېر غلام او ډېر مداح شخص ؤ. تاريخ ليکونکي وايي چې په (۱۹۰۰م) کال عبدالکريم د جمعې په خطبه کې اعلان وکړ، چې ميرزا غلام احمد د الله جل جلاله له لوري رالېږل شوی پيغمبر دی، په نوموړي ايمان راوړل واجب دي، هر هغه څوک چې په انبياوو ايمان لري او په غلام احمد يې ونلري، د الله جل جلاله له قانون څخه سرغړونه کوي، الله جل جلاله د خپل قانون يادونه داسې کړې ده، چې فرمايي: ((لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهِ)) (البقرې سورت ۲۸۵آيت). ژباړه: مونږه د پيغمبرانو ترمنځ توپير نه کوو. (۸م۸۹)

مرزا غلام احمد قادياني لعين په خپل کتاب (نزول المسيح ۳مخ) په حاشيه کې ليکلي: (د کامل سيوري په اعتبار سره زه رسول او نبي يم، او هغه هېنداره يم چې په هغې کې د محمد صلی الله عليه وسلم شکل (بڼه) ښکاري او محمدي نبوت پکې منعکس شوی دی.) (۱۳م۳). سره له دې چې نوموړي د نبوت دعوه وکړه او ځان يې محمد او احمد ګڼلو، بيا هم سيدنا محمد صلی الله عليه وسلم خاتم النبيين دی، او له ده وروسته بل نبي نه راځي. د تاريخ په اوږدو کې ډېرو داسې کسانو د نبوت دعوې کړې وې، چې الله جل جلاله هلاک کړل؛ نوموړی هم بالاخره په (۱۹۰۷م) کال د يو هندي عالم سره له مباهلې ديارلس

مياشتې او لس ورځې وروسته د طاعون په ناروغۍ هلاک شو. د ختم نبوت عقيده هغه اسلامي عقيده ده، چې ټول اسلامي امت پرې اتفاق لري، چې د اسلام له اصولو او د دين له ضروريا تو ځنې ګڼل کېږي، د نبوي عهد او زمانې څخه تر اوسه پورې هر مسلمان ايمان پرې لري، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرته له کوم تاويل او تخصيص خاتم النبيين دی (۲م۲۷). د ختم نبوت د موضوع په اړه د قرآن کريم (۱۰۰) سل آيتونه، د محمد صلى الله عليه وسلم ډېر مبارک احاديث چې ځينې يې متواتر هم دي، راغلي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د امت تر ټولو لومړنۍ اجماع هم په همدې موضوع ترسره شوې ده، لکه څرنګه چې د وخت امام مولانا سيد محمد انور شاه کشميري رحمة الله عليه په خپل کتاب خاتم النبيين کې ليکلي دي: ((اولين اجماعی که در اين امت منعقد شده اجماع بر قتل مسيلمة کذاب بوده، که بسبب دعوی نبوت بود،..... چنانکه ابن خلدون آورده، پس اجماع بلا فصل قرناً بعد قرن بر کفر و ارتداد و قتل مدعی نبوت مانده و هيچ تفصيلی از بحث نبوت تشريعيه و غيرتشريعيه نبوده)). د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم په ژوند کې چې د اسلام د سرلوړۍ لپاره څومره جګړې شوې دي، په هغې کې د شهيد شويو صحابه کرامو رضى الله عنهم شمېر (۲۵۹) تنه دی، په داسې حال کې چې د ختم نبوت د عقيدې د حفاظت او ساتنې لپاره د اسلام لومړنی تاريخي جنګ چې د ابو بکر صديق رضى الله عنه د خلافت په دور کې د مسيلمة الکذاب په خلاف د يمامه په ميدان کې وشو، په دې جنګ کې د شهيد شويو صحابوو شمېر (۱۲۰۰) تنه دی، چې (۷۰۰) کسان پکې د قرآن کريم حافظان وو. (۲م م۲۸-۲۹)، (۱۵م۳۰۴)

موخې:

د ختم نبوت عقيدې ارزښت او اهميت پېژندنه.

په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مينه والو د ګټورو معلوماتو برابرونه.

د ختم نبوت په اړه د قاديانيانو عقيده:

کوم متضاد اقوال چې د مرزا غلام احمد قادياني ذکر شوي، په هغې کې دومره ټکر دی، چې دده خپل پيروان پکې هم هک پک شوي او ځينې وخت دده پيروان د مسلمانانو د غولونې لپاره د مرزا غلام احمد هغه اقوال وړاندې کوي، چې د ختم نبوت عقيدې اعتراف د هماغه تفسير له مخې پکې شوی دی، کوم چې د ټول اسلامي امت عقيده ده. په داسې اقوالو وړاندې کولو سره ناخبره مسلمانان خپل لوري ته جذبوي؛ په همدې اساس اړينه ده، چې د (ختم نبوت) په اړه شواهد او دلايل او د (خاتم النبيين) په کلمه کې تفسير او وضاحت وشي، نو لومړی بايد د ختم نبوت موضوع د مرزا غلام احمد او د هغه د خلفاوو په مستندو بيانونو کې واضحه شي. دلته په سلګونو هغه اقوال نه يادوو، بلکې يو څو لنډ مثالونه او بېلګې يې را اخلو. د مرزا غلام احمد قادياني د متضادو ادعاوو د ښه څېړلو لپاره ضروري ده، چې دده ژوند په درېوو پړاوونو وويشل شي:

1. لومړی پړاو: کله چې مرزا غلام احمد د نورو مسلمانانو په څېر يو مسلمان ؤ او د امت ټولنيز عقايد او نظريات يې پرته د کوم تاويل او تحريف څخه منل او د اسلام د يو مبلغ په حيث يې څه ناڅه ليکل هم کول.
2. دويم پړاو: کله چې هغه ځينې تدريجي دعواګانې پيل کړې، لومړی يې دعوه وکړه چې مجدد شو، مهدي شو، تر دې چې د مسيح الموعود کېدو پورې ورسېد او بالاخره (دده په خپل فکر) چې مسيح الموعود خو د الله د اولوالعزم رسولانو او نبيانو څخه دی، نو ده هم دغه دعوه وکړه. څرنګه چې د مسيح الموعود عقيده د ختم نبوت له عقيدې سره په ټکر کې ده، نو ځکه ده پکې تاويلونه پيل کړل او ويل به يې چې نبوت څو ډولونه لري، چې له هغې جملې څخه يې تشريعي، غيرتشريعي، ظلي، بروزي، لغوي او مجازي دي؛ د ختم نبوت عقيدې عمومي اطلاق يې په شک کې اچول غوښتل او د محمد صلى الله عليه وسلم څخه وروسته د نبوت د سلسلې جريان درلودل يې د خپل ځان لپاره د نبوت د دعوې يوه مناسبه لاره بلله.
۳. درېيم پړاو: هر کله چې دی د تاويل او تحريف څخه مايوسه شو، نو په ډېره سپين سترګۍ سره يې پرته له دې چې کوم تشريعي او يا غير تشريعي توپير پکې وکړي، خپل ځان يې د شريعت خاوند (نبي) وبللو. دويم پړاو د نولسمې پېړۍ په پای يا د شلمې پېړۍ په پيل کې و، لومړی پړاو ترېنه مخکې او درېيم پړاو له دې څخه وروسته ؤ.

په لومړي پړاو کې د مرزا غلام احمد دريځ:

ـ مرزا غلام احمد په خپل کتاب (حمامة البشری صـ۳۰) کې داسې ليکلي: (مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا 40ــ) (۱:الاحزاب سورت۴۰آيت)

(الاتعلم ان الرب الرحيم المتفضل يسمی نبينا (صلعم) خاتم الانبياء بغير استثناً و فسره نبينا صلی الله عليه وسلم فی قوله لا نبی بعدی).

ژباړه: نه دی محمد صلی الله عليه وسلم پلار يو د سړيو ستاسې څخه مګر استازی د الله دی او خاتم النبيين دی (۱۵م۱۲/ج۱).

آيا ته نه پوهېږې، چې بېشکه رحيم او فضل کوونکي رب زمونږ نبي په خاتم الانبياء سره نومولی دی، پرته له استثناء څخه؟

او همدغه (آيت) زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم په خپل قول سره داسې تفسير کړی دی: (زما څخه وروسته نبي نشته).

ـ مرزا غلام احمد په خپل کتاب (آيام الصلح) کې ليکلي دي: ((په قرآنکريم کې د ختم نبوت تصريح په کمال سره ذکر شوې ده او د پخواني او يا نوي نبي استثناء پکې کول شرارت دی، په (لانبی بعدی) کې نفي عامه ده)).

ـ مرزا غلام احمد په خپل يو تحريري بيان کې چې د اکتوبر په ۲۳ نېټه په (۱۸۹۱م) کال يې د دهلي په جامع مسجد کې يوې جلسې ته ورکړی ؤ، ويلي و: ((په دې ټولو امورو کې زما هماغه مذهب دی کوم چې د نورو اهل سنت والجماعت دی، اوس زه د مسلمانانو په وړاندې د خدای جل جلاله په دې کور (د دهلي جامع مسجد) کې سپين اقرار کوم، چې د جناب خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم د ختم نبوت قايل يم او کوم کس چې د ختم نبوت څخه منکر وي، هغه بې دينه او د اسلام له دايرې څخه وتلي او خارج بولم)). (۱۵م۱۷/ج۱)

يادښت: پورتنی تحرير اوس هم دده (مرزا غلام احمد) په خپل کتاب (تبليغ رسالت) دويمه برخه کې درج دی.

په دويم پړاو کې له (۱۸۹۹م) کال څخه وروسته د مرزا غلام احمد دريځ:

ـ مرزا په خپل کتاب (تجليات الهيه ۲۵مخ) کې ليکي: ((اوس يوازې د محمد صلی الله عليه وسلم نبوت څخه پرته نور ټول نبوتونه بند دي، د شريعت والا نبي هيڅوک هم نشي راتلی او له شريعت څخه بغير راتلی شي، مګر په دې شرط چې د نبي صلی الله عليه وسلم امتي وي، نو له همدې کبله زه هم امتي يم او هم نبي.)) (۱۵م۱۸)

ـ همدارنګه په خپل کتاب (الحکم ۱۰ اپريل ۱۹۰۸ ميلادي) کې ليکلي: ((زه کوم نوی نبي نه يم، زما څخه مخکې هم سلګونه انبياء راغلي دي)). (۱۵م۱۹)

ـ مرزا غلام احمد په خپل کتاب (نزول المسيح ۴۸مخ) کې ليکلي: ((زه موعود مسيح يم او هماغه يم د چا نوم چې سرور انبياء صلی الله عليه وسلم (نبي الله) اېښی دی)). (۱۳م۴۸)

په دريم پړاو کې د ختم نبوت په اړه د مرزا غلام احمد دريځ:

ـ مرزا په خپل کتاب (تتمة حقيقة الوحی ۲۸مخ) کې ليکلي دي: ((زه په همغه خدای قسم کوم او وايم چې زما روح د چا په لاس کې دی، همغه زه رالېږلی يم او زما نوم يې نبي اېښی دی)). په همدې پورتنۍ حواله ۱۵۰مخ کې ليکلي: ((په صريح ډول د نبي خطاب ماته شوی دی)). (۱۵م م۲۱-۲۲)

ـ په خپله رساله (تحفه ګولړويه ۴۰مخ) کې وايي: (زموږ د محمد صلی الله عليه وسلم معجزات يوازې (۳۰۰۰) دي، او بيا په خپل بل کتاب (براهين احمديه ۵۲مخ) کې د خپل ځان لپاره يې (۱۰۰۰۰۰۰) لس لکه معجزې ښودلې دي)).

ـ مرزا په خپله رساله (حقيقة الوحی ۱۲۳مخ) کې ليکلي: ((هر چاته چې زموږ دعوت ورسېد او هغه قبول نکړ، مسلمان نه دی)). (۱۵م م۲۵-۲۷)

د قرآني نصوصو په رڼا کې د (خاتم النبيين) آيت تفسير:

لومړنی آيت: ((مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا 40ــ))، (۱:الاحزاب سورت۴۰آيت). ژباړه: نه دی محمد (حقيقي) پلار د هيڅ يو تن له سړيو ستاسې، لېکن د الله رسول دی (خلقو ته په شان د معنوي پلار) او مهر د (ټولو) انبياوو دی (چې پس له دې څخه بل نبي نشته دی) او دی الله جل جلاله پر هر څيز ښه عالم (۸م۲۸۷/ ج۲). په پورتني مبارک

آيت کې زموږ منظور د (خاتم النبيين) جمله ده. د خاتم النبيين په لفظ کې دوه قرائتونه مشهور دي، خاتِم په کسرې (زير) د (ت) سره او خاتَم په فتح (زبر) د (ت) سره. ابن جرير الطبري او جمهورو مفسرينو په خپلو تفاسيرو کې فرمايلي دي، چې لفظ د خاتَم د (ت) حرف په فتحې سره د دوه قاريانو امام عاصم رحمة الله عليه او امام حسن رحمة الله عليه قرائت دی؛ ددې څخه پرته د ټولو قاريانو په نزد لفظ د خاتِم د (ت) حرف په کسرې سره غوره دی. د خاتم لفظ د دواړو قرائتونو په معنی کې د غور کولو څخه وروسته معلومېږي، چې د دواړو معنی يوه ده او هغه دا چې محمد صلی الله عليه وسلم د ټولو انبياوو آخر دی او له ده صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل نبي نشي راتللی. (۱۵م۲۲)

د خاتم النبيين قرآني تفسير:

تر ټولو لومړی بايد د قرآن کريم تفسير په خپله د قرآن څخه وشي، د (ختم) لفظ په قرآن کريم کې (۷) ځايه راغلی دی:

۱. (خَتَمَ اللهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ).(۱: د البقرې سورت ۷ آيت)

ژباړه: الله جل جلاله د هغوی په زړونو مهر لګولی دی. (۱۲م۳)

۲. (وَخَتَمَ عَلٰي قُلُوْبِكُمْ) (۱:الانعام سورت ۴۶ آيت)

ژباړه: الله جل جلاله ستاسې په زړونو مهر لګولی دی. (۱۲م۱)

۳. وَّخَتَمَ عَلٰي سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ(۱:الجاثية سورت۲۳آيت). ژباړه: د هغه په غوږونو او زړه يې ټاپه وهلې؟. (۱۲م۷۹۸)

۴. اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓي اَفْوَاهِهِمْ(۱:يسين سورت ۶۵ آيت). ژباړه: نن به مونږ د هغوی خولې بندې کړو. (۱۲م۷۰۹)

۵. فَاِنْ يَّشَاِ اللهُ يَخْتِمْ عَلٰي قَلْبِكَ(۱:الشوری سورت ۲۴ آيت). ژباړه: نو که الله جل جلاله وغواړي، ستا په زړه به ټاپه ووهي. (۱۲م۷۷۵)

۶. (مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ 25ـــ)، (۱:المطففين سورت ۲۵آيت). ژباړه: سرپټو شرابو. (۱۲م۹۳۸)

۷. خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ، (۱:المطففين سورت۲۶آيت). ژباړه: مهر (ټاپه) ددې شرابو به له مشکو څخه وي. (۱۲م۹۳۸)

که چېرې په ذکر شويو آيتونو کې د (ختم) لفظ ته په ځير سره وکتل شي، نو دا به جوته شي، چې غرض د يو شي په داسې شکل بندول دي چې نه خو ورته له بهره څه داخل شي او نه هم له داخل څخه څه بهر شي؛ نو ځکه الله جل جلاله داسې فرمايي: ((خَتَمَ اللهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ)).

ژباړه: الله جل جلاله د هغوی په زړونو مهر لګولی دی. (۱۲م۳)

(که چېرې د خاتم النبيين لفظ د قرآني تفسير په رڼا کې وڅېړل شي، نو معنی او مفهوم به يې دا شي چې د محمد صلی الله عليه وسلم په راتګ سره الله جل جلاله د نبوت په سلسله باندې داسې بنديز او مهر ولګاوه، چې اوس نه کوم نبي له دې سلسلې څخه ويستل کېږي او نه کوم نوی کس پکې داخلېدی شي.) (۵م م۳۲-۳۷). د قرآنکريم د حقانيت يو روښانه دليل دا هم دی، چې د هغه ځينې آيتونه د ځينې نورو آيتونو تفسير کوي؛ نو ځکه اوس موږ دلته هغه آيتونه وړاندې کوو، کوم چې د مخکېنې مبارک آيت تفسير کوي. دا چې د ختم نبوت موضوع يوه ډېره حساسه او مهمه موضوع ده، نو قرآنکريم هم ددې مسئلې اهميت ساتلی او تقريباً د سلو څخه زياتو آيتونو پدې موضوع رڼا اچولې ده، چې دلته يوازې هغه آيتونه را اخلو، چې د خاتم النبيين آيت تفسير يې روښانه کړی دی. عامو مفسرينو لکه ابن جرير الطبري رحمة الله عليه، ابن کثير رحمة الله عليه او امام السيوطي رحمة الله عليه او نور په خپلو تفاسيرو کې ددې آيت په اړه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قرائت را نقل کړی دی: ((ولکن نبياً ختم النبيين))؛ يعنې محمد صلی الله عليه وسلم يو داسې نبي دی چې ټول انبياء پرې ختم شوي دي (۱۵م۷۷). دې قرائت د قاديانيانو هغه ټول تحريفات له بېخه وويستل چې د خاتم لفظ په اړه يې کوي، ځکه چې اوس دا معنی ښکاره شوه، چې محمد صلی الله عليه وسلم داسې نبي دی، چې ټول انبياء پرې ختم شوي دي. همدارنګه لاندې آيت هم د همدې معنی تاييد کوي: (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ)(۱:المائدې سورت ۳ آيت)

ژباړه: نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ، خپله لورينه مې درته پوره کړه (۱۲م۱۲۹). دې آيت په ډاګه وښودله، چې د اسلام دين، وحې او نبوت نعمت په محمد صلی الله عليه وسلم باندې پوره شوی دی او له ده صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د بل نبي د راتګ اړتيا او امکان نشته. همدارنګه په لاندې آيت کې هم الله جل جلاله د محمد صلی الله عليه وسلم په اړه فرمايي: (قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) (۱:الاعراف سورت ۱۵۸ آيت). ژباړه: ای محمده! ووايه، چې ای

خلکو زه تاسې ټولو ته د هغه الله جل جلاله له لوري رالېږل شوی يم، چې د اسمانونو او ځمکې واکمني يوازې د هغه سره دی. (۱۲م۲۷۰)

(وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا) (۱:سبا سورت ۲۸ آيت). ژباړه: ته مونږ ټولو خلکو ته زيری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې. (۱۲م۲۸۸)

په دې دواړو آيتونو او ددې په شان نورو آيتونو کې هم په ډاګه اعلان شوی دی، چې محمد صلی الله عليه وسلم د نړۍ د ټولو انسانانو لپاره رسول دی او په آيت کې د (کافةً) لفظ او (جميعاً) معنی داده، چې محمد صلی الله عليه وسلم د ټولې دنيا موجوده انسانانو او په راتلونکې کې پيدا کېدونکو ټولو نسلونو لپاره رسول لېږل شوی دی. دا خبره څرګنده شوه، چې د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته هيڅ نبي نشي راتلی او د ختم نبوت لمر (خاتم النبيين) صلی الله عليه وسلم رسالت تر قيامته پورې د ټول بشريت لپاره عام او شامل دی.

د محمد صلی الله عليه وسلم په مبارکو احاديثو کې د ختم نبوت موضوع څېړنه:

د قرآن تفسير په احاديثو باندې دويمه درجه د تفسير ده، په احاديثو مبارکو کې هم ډېر لوی درس ددې آيت په تفسير کې پروت دی او د هيڅ ډول شک او ترديد ځای پکې نه دی پاتې؛ البته د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ډېر زيات احاديث د ختم نبوت د موضوع په اړه رانقل شوي، چې د ټولو رانقلول ناشوني دي، يو څو يې ذکر کوو:

۱. عن ثوبان رضی الله عنه قال، قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ((انه سيکون فی امتی کذابون ثلاثون کلهم يزعم انه نبی و انا خاتم النبيين لا نبی بعدی)) (۱۱م۲۳۳/ج۲)، (۲م۸۸۳/ج۱). ژباړه: د ثوبان رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې زما په امت کې به دېرش دروغجن پيدا شي، هر يو به وايي، چې زه نبي يم، حال دا چې زه خاتم النبيين (آخري او ختم کوونکی د نبيانو) يم، زما څخه وروسته بل نبي نشته. په پورتني مبارک حديث کې د خاتم النبيين ترجمه رسول الله صلی الله عليه وسلم پدې لفظ سره کړې، چې (لا نبی بعدی) پس د جنجال ځای پکې پاتې نه دی؛ ځکه چې په (لا نبی بعدی) کې (لا) حرف د نفې جنس لپاره دی، چې موضوع پوره روښانه شوه او د هر ډول نبي د راتګ نفې وشوه.

۲. عن ابی هريرة رضی الله عنه ان النبي صلی الله عليه وسلم قال: ((کانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء، کلما هلک نبی خلفه نبی و انه لا نبی بعدی و ستکون خلفاء فتکثر)) (۴:ج۳م۸۸۲). ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد وفرمايه، چې د بني اسرائيلو رهبري په خپله د هغوی انبياوو کوله، چې کله به يو نبي وفات کېده، نو له هغه څخه وروسته به بل نبي راتللو، مګر زما څخه وروسته بل نبي نه راځي، البته خليفګان به وي او زيات به وي. دغه حديث روايتاً او درايتاً، سنداً او متناً د اوچتې درجې حديث دی او ښکاره اعلان کوي، چې د محمد صلی الله عليه وسلم د امت لپاره به هيڅ ډول نبي نه وي، په (لانبی بعدی) کې د هر ډول نبوت نفې شامله ده، او په خپله د حديثو د الفاظو څخه معلومېږي، چې په دې امت کې به داسې نبي هم نه راځي، لکه څرنګه چې په بني اسرائيلو کې د قيادت او مشرۍ لپاره راتلل؛ د نبوت دروازه بنده شوه، مګر اوس به خلفاء وي، هغوی به کارونه چلوي.

۳. عن ابی هريرة ان رسول الله قال: ((فضلت علی الانبياء بست اعطيت جوامع الکلم، و نصرت بالرعب، واحلت لی الغنائم، و جعلت لی الارض طهوراً و مسجداً، و ارسلت الی الخلق کافة، و ختم بی النبيين)) (۱۱:ج۱م۱۹۹). ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ماته په شپږو شيانو په نورو انبياوو فضيلت راکړ شوی دی، ماته جامع کلمات راکړل شوي دي، په رعب سره زما مدد شوی دی، د غنيمت مال راته حلال کړی شوی دی، د ځمکې مخ راته مسجد او د پاکوالي څيز جوړ شوی دی، زه ټول مخلوق ته رالېږل شوی يم، پر ما د انبياؤ سلسله ختمه شوې ده.

۴. عن ابی هريرة ان رسول الله قال: ((مثلی و مثل الانبياء من قبلی کمثل رجل بنی بنياناً فاحسنه و اجمله الا موضع لبنة من زاوية من زواياه فجعل الناس يطوفون به و يعجبون له و يقولون هلا وضعت هذه اللبنة قال: فانا اللبنة و انا خاتم النبيين)). (۴:ج۳م۲۲۲)، (۱۷:ج۲م۲۴۸)

ژباړه: د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل: ((زما او زما څخه د مخکې انبياؤ مثال داسې دی، چې يو کس ډېر ښايسته او ښکلی محل جوړ کړ، مګر د هغې په يو کونج کې يې د يو خښتې ځای پرېښود، خلک ترېنه (د ليدو لپاره) تاويدل او تعجب يې ورته کولو او ويل يې چې دغه خښته ولې نه ده لګول شوې؟ نو محمد صلی الله عليه وسلم و فرمايل: پس زه همغه خښته يم او زه د انبياؤ سلسلې ختمونکی يم، يعنې پر ما نبوت ختم شو.

۵. عن محمد بن جبير بن مطعم، عن أبيه، عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: ((إن لی أسماء، أنا محمد و أنا أحمد، و أنا الحاشر الذی يحشر الناس علی قدمی، و أنا الماحی الذی يمحی بی الکفر، و أنا العاقب والعاقب الذی ليس بعده نبی)). (۳:ج۲۷م۲۹۳)

ژباړه: محمد بن جبير بن مطعم رضي الله عنه له خپل پلار څخه، چې هغه د نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی، چې ويل يې: ((زما لپاره څو نومونه دي، زه محمد يم، زه احمد يم، زه حاشر (جمع کولو والا) يم، چې خلک به زما په قدمونو راپورته کېږي، زه ماحي (ختمولو والا) يم، چې زما په وسيله به الله جل جلاله کفر ختموي او زه عاقب (د ټولو څخه وروسته راتللو والا) يم، هغه چې وروسته ورڅخه بل نبي نه وي. د بخاري شريف په روايت کې راغلي دي، چې پنځه نومونه په پخوانيو کتابونو کې موجود او د خلکو په منځ کې مشهور وو، چې هيڅوک زما څخه مخکې پرې نه دي نومول شوي، چې وايي: (أنا مُحَمّد) قدمه لأنّهُ أشرفها (وَأنا أحْمد) أی أحْمد الحامدين لربّه (وَأنا الحاشر) أی ذُو الحَشْر (الذی يحْشر النّاس علی قدمی) أی علی أثر نوبتی أی زَمَنهَا أی ليسَ بعده نَبِی (وَأنا الماحی الذِی يمحو الله بِی الکفْر) أی يزِيل أهله من جَزِيرَة العَرَب أو من أکثر البِلَاد (وأنا العاقب).

ژباړه: زه (مُحَمّد) يم، له دې امله يې دغه نوم مخکې کړ چې ډېر معزز دی؛ زه (أحْمد) يم، ډېر حمد ويونکی رب خپل لره؛ زه (حاشر) يم، خاوند د حشر يم، په دې معنی چې زما پسې به خلک راولاړېږي په خپل وخت کې، او دا چې له ده صلی الله عليه وسلم نه وروسته بل نبي نشته، په دې معنی چې زما په وسيله به کفر (کافران به د عربي جزيرې او له زياتو هېوادونو) څخه الله له منځه يوسي؛ او زه (عاقب) د ټولو څخه وروسته راتللو والا يم، هغه چې وروسته ورڅخه بل نبي نه وي. (۱۲:ج۱م۳۴۳)

(وَأنَا المَاحِی الذِی يمْحُو اللهُ بِی الکُفْرَ) قالَ العُلَمَاءُ المُرَادُ مَحْوُ الکُفْرِ مِنْ مَکّةَ وَالمَدِينَةِ وَسَائِرِ بِلَادِ (وَأنَا الحَاشِرُ) أی ذُو الحَشْرِ (الذِی يحْشَرُ) أی يجْمَعُ (عَلَی قَدَمِی) (وفی شرح السنة أی يحشر أول النّاسُ لِقَوْلِه أنَا أَوّلُ مَنْ تَنْشَقُ عَنْهُ الأَرْضُ).

ژباړه: (زه محوه کونکی يم، هغه چې محوه کوي به الله کفر زما په وسيله). علماوو ويلي دي چې مراد د کفر د محوې نه د مکې، مدينې او نورو ښارونو څخه د کفر محوه ده؛ او حاشر څخه مراد راجمع کېدل مراد دي زما پسې. همدارنګه د سنتو په شرحه کې راغلي دي، چې تر ټولو لومړی به دی صلی الله عليه وسلم راجمع کېږي، چې دا قول د محمد صلی الله عليه وسلم پرې دليل دی: زه به تر ټولو لومړی کس يم، چې ځمکه راباندې ځيرې شي؛ يعنې له ځمکې څخه به راپاڅېږم. (وَقالَ الطِيبِي هُوَ مِنَ الإِسْنَادِ المَجَازِي لِأنّهُ سَبَبٌ فِي حَشْرِ النّاسِ لِأنّ النّاسَ لَمْ يحْشَرُوا مَا لَمْ يحْشَرْ (وَأنَا العَاقِبُ الذِي ليسَ بَعْدَهُ نَبِي.)

ژباړه: طيب وايي چې دا مجازي اسناد دي، ځکه چې محمد صلی الله عليه وسلم د خلکو په راجمع کولو کې سبب دی، چې نوموړی نه وي راجمع شوی، خلک به نه راجمع کېږي؛ او د عاقب معنی همدا ده چې له ده صلی الله عليه وسلم څخه به وروسته بل نبي نه راځي. (قالَ النّوَوِي أمّا العَاقِبُ فَفَسّرَهُ فِي الحَدِيثِ بِأنّهُ ليسَ بَعْدَهُ نَبِي أي جَاءَ عقبهم.) ژباړه: امام نووي د عاقب کلمه په حديث کې دارنګه تفسيروي، چې له ده صلی الله عليه وسلم نه وروسته بل نبي نشته، معنی دا چې وروسته پسې راشي. (۸:۱۴م۱۰۴)

په دې حديث کې محمد صلی الله عليه وسلم دوه مبارک نومونه دده صلی الله عليه وسلم په (خاتم النبيين) کېدو دلالت کوي:

لومړی (الحاشر) چې حافظ ابن حجر رحمة الله عليه په فتح الباري ۲ ټوک ۴۰۲ مخ کې ددې شرح کړې ده او ليکلي يې دي: (اشارة الی انه ليس بعده نبی و لا شريعة..... فلما کان لا امة بعد امته لانه لا نبی بعده، نسب الحشر اليه، لانه يقع عقبه).

ژباړه: دا دې ته اشاره ده، چې د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته هيڅ نبي او هيڅ شريعت نشته.....نو هر کله چې د محمد صلی الله عليه وسلم د امت څخه وروسته بل امت نشته، نو د خاتم النبيين صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل نبي نشته، د حشر نسبت محمد صلی الله عليه وسلم ته وشو، ځکه چې دده صلی الله عليه وسلم له بعثت څخه وروسته به حشر

وي. دويم نوم (العاقب) چې تفسير يې په خپله په حديث شريف کې موجود دی، (الذی ليس بعده نبی) يعنې د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل هيڅ نبي نشته. (۵م۵۶-۵۷)

له پورتنيو احاديثو څخه دا څرګنده شوه، چې له محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل کوم نبي او رسول راتلونکی نه دی او د نبوت هغه ښايسته محل او قصر بشپړ شو، په کوم کې چې يوازې د يوې خښتې ځای پاتې ؤ، په دې اړه هر ډول شک، تاويل او تحريف باطل، او منکر يې کافر دی.

د (خاتم النبيين) آيت تفسير د صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو د اقوالو په رڼا کې:

د قرآن مجيد د تفسير لپاره درېمه درجه کې د صحابه کرامو او تابعينو اقوال معتبر دي. ښکاره خبره ده، چې د ټولو اقوالو ذکر کول دلته ممکن نه دي، يو څو نمونې يې را اخلو:

۱. امام ابو جعفر بن جرير الطبري رحمة الله عليه په خپل تفسير کې د قتاده رضي الله عنه څخه د خاتم النبيين تفسير روايت کړی او ويلي يې دي: (عن قتادة.....ولكن رسول الله و خاتم النبيين: ای آخر هم). ژباړه: د قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی، چې هغه د دې آيت په تفسير کې وفرمايل: او مګر (محمد) د الله رسول او خاتم النبيين دی، يعنې آخري نبي دی. (۱۵م۸۵)

۲. همدارنګه امام السيوطي رحمة الله عليه په در منثور کې د عبد بن حميد په حواله د امام حسن رضي الله عنه څخه نقل کړی دی، چې فرمايي: (عن الحسن فی قوله و خاتم النبيين، قال: ختم الله النبيين بمحمد و كان آخر من بعث). ژباړه: د امام حسن رضي الله عنه څخه د خاتم النبيين آيت په اړه اقوال را نقل شوي دي، چې الله جل جلاله ټول انبياء په محمد صلی الله عليه وسلم باندې ختم کړي دي، او هغه صلی الله عليه وسلم په ټولو هغو انبياؤ کې چې لېږل شوي وو (د الله جل جلاله له خوا) آخري دی. (۵م م۳۹-۴۰)

۳. تفسير ابن کثير (۸) جلد ۴۸ مخ د ابن ابي حاتم په تخريج سره چې د ابو هريره رضي الله عنه څخه مرفوعاً نقل کوي: (انا اول النبيين فی الخلق و آخرهم فی البعث). ژباړه: زه په پيدا ايښت کې د ټولو انبياؤ څخه لومړی يم او په بعثت کې د ټولو څخه آخر يم. (۱۵م۸۷)

له دې څخه دا څرګند ېږي، چې د خاتم النبيين او آخر النبيين معنی همدغه ده، چې د محمد صلی الله عليه وسلم د نبوت وصف د بعثت په اعتبار سره له ټولو انبياؤ څخه وروسته دی او په همدې بنا د کوم مخکېنې نبي ژوندي پاتې کېدل د محمد آخر النبيين صلی الله عليه وسلم څخه وروسته لکه عيسی عليه السلام دې نړۍ ته دوباره راتلل، له دې آيت سره هيڅکله په ټکر کې ندي، آن تر دې چې هغوی به هم د همدې شريعت پيروي کوي.

د ختم نبوت په اړه د امت د علماوو پرېکړه:

د اسلامي امت د علماؤ دا پرېکړه ده، چې د ختم نبوت څخه انکار کفر دی او د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د هر بل نبي لپاره جواز ورکوونکی د اسلام له دايرې څخه بهر دی؛ په دې اړه د علماوو لاندې څو اقوال رانقلوو:

۱. علامه ابن حزم رحمة الله عليه په خپل کتاب (الفصل فی الملل والأهواء والنحل) لومړي ټوک ۷۷مخ کې فرمايي: ((وصح ان وجود النبوة بعده عليه السلام باطل لايكون البتة)). ژباړه: او دا خبره ثابته ده، چې د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د نبوت وجود باطل دی، هيڅکله نشي کېدای. (۷م۳۸۸)

۲. ملا علي قاري په شرح الفقه الاکبر کې ليکلي دي: (و دعوی النبوة بعد نبينا صلی الله عليه وسلم کفر بالاجماع). ژباړه: زمونږ د نبي صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د نبوت دعوه کول بالاجماع کفر دی. (۷م۳۸۹)

۳. علامه شاطبي رحمة الله عليه چې د اتمې هجري پېړۍ مشهور امام دی، په خپل کتاب الاعتصام کې د هغو خلکو مختصر او لنډ فهرست را اخيستی، کومو چې د نبوت، عصمت او وحې دعوې کړې دي، چې په اتفاق د اجماع د امت سره کافر، مرتد او واجب القتل وګڼل شول. (د الاعتصام ۲ ټوک ۲۲۳ مخ وګورئ). په همدې سلسله کې نوموړي امام د فازازي په نامه د يو تن پېښه ليکلې ده، چې هغه د نبوت دعوه وکړه او ډېر داسې امور يې وښودل چې کرامت او خارق العادة کار به ګڼل کېدل؛ يو تعداد عوام ورسره ملګري شول، دا کس هم د مرزا غلام احمد قادياني په څېر د قرآن مجيد د پيروۍ مدعي

ؤ، نو په همدې خاطر يې د خاتم النبيين په آيت کې داسې تاويلات پيل کړل، چې د هغې په سبب د محمد صلى الله عليه وسلم وروسته د نبوت يا نبي راتللو ته څه لاره پيدا کړي، مگر د وخت د علماؤ په اتفاق سره د نوموړي دعوې او تاويلات ټول کفر او الحاد وگڼل شول او د هغې زمانې مقتدر امام ابوجعفر بن زبير رحمة الله عليه د فتوې په اساس قتل کړای شو. (۱۵م م۱۰۱-۱۰۲)

۴. حافظ ابن کثير په خپل تفسير ۳ټوک ۴۹۳ مخ کې داسې ليکلي دي: (و بذالک وردت الاحايث المتواترة عن رسول الله من حديث جماعة من الصحابة) او په هر دور کې د اسلامي امت په دې اجماع ده؛ لکه علامه ابن نجيم مصري رحمة الله عليه چې په ابوحنيفه ثاني سره شهرت لري، په خپل کتاب (الاشباه والنظاير ۲ ټوک ۹۱مخ) کې ليکلي دي: ((اذا لم يعرف ان محمد آخرالانبياء فليس بمسلم لانه من الضروريات). ژباړه: هر هغه څوک چې په دې خبره پوه نشي، چې محمد صلى الله عليه وسلم آخرنی پيغمبر دی، هغه مسلمان نه دی، ځکه دا د دين له ضروريا توځنې ده.

۵. همدارنگه حجة الاسلام امام الغزالي رحمة الله عليه په خپل کتاب (الاقتصاد فی الاعتقاد ۱۲۳مخ کې) داسې رانقل کړي دي، چې فرمايي: (ان الامة فهمت بالاجماع من هذا اللفظ ومن قرائن احواله انه لا نبی بعده ابدا..... و انه ليس فيه تاويل و لا تخصيص فمنکر هذا لا يکون الامنکر الاجماع). ژباړه: بېشکه اسلامي امت د (خاتم النبيين) د لفظ څخه په اجماع سره دا معنی اخيستې ده، چې مفهوم يې دادی چې د محمد صلى الله عليه وسلم څخه وروسته به هيڅ نبي او رسول نه راځي، او په دې اجماع ده چې پدې لفظ کې هيڅ تاويل او تخصيص نشته او منکر يې د اجماع څخه منکر دی. (۵م م۵۸-۵۹)

د پورتنيو اقوالو په رڼا کې دا څرگنده شوه چې محمدصلى الله عليه وسلم آخرنی پيغمبر دی، له ده څخه وروسته بل کوم پيغمبر راتلونکی نه دی، او که هر څوک د نبوت دعوه وکړي، دعوه يې باطله او معتقد يې کافر او مرتد دی، او حکم به يې د پخوانيو درواغجنو په څېر وي، او هر ډول عقيده لرل پرې کفر او گمراهي ده.

پايله:

له پورتنۍ څېړنې دې پايلې ته رسېږو، چې الله جل جلاله د نبوت د سلسلې پيل د سيدنا آدم عليه السلام څخه وکړ او پر محمد عربي صلى الله عليه وسلم يې دغه سلسله پای ته ورسوله؛ په محمد نبوت ختم شو، هغه صلى الله عليه وسلم آخر د انبياؤ دی، او له ده صلى الله عليه وسلم څخه وروسته به هيڅوک د نبي په توگه نه راځي، چې دغه ډول عقيدې ته په اسلامي شريعت کې د ختم نبوت عقيده وايي. د ختم نبوت د موضوع په اړه د قرآن کريم (۱۰۰) سل آيتونه، د محمد صلى الله عليه وسلم ډېر مبارک احاديث چې ځينې يې متواتر هم دي، راغلي. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د امت تر ټولو لومړنۍ اجماع هم په همدې موضوع ترسره شوې ده، چې دغه ټکي ته د وخت امام مولانا سيد محمد انور شاه کشميري رحمة الله عليه په خپل کتاب خاتم النبيين کې هم اشاره کړې ده. د ختم نبوت عقيده هغه اسلامي عقيده ده، چې ټول اسلامي امت پرې اتفاق لري، چې د اسلام له اصولو او د دين له ضروريا تو څخه گڼل کېږي، د نبوي عهد او زماني څخه تر اوسه پورې هر مسلمان ايمان پرې لري چې محمد صلى الله عليه وسلم پرته له کوم تاويل او تخصيص څخه خاتم النبيين دی. دا چې د ختم نبوت موضوع يوه ډېره ضروري او مهمه موضوع ده، ځکه قرآن کريم، نبوي احاديثو او د امت د علماؤ اجماع هم پرې تاکيد کړی، چې دا په خپله ددې موضوع اهميت ثابتوي او هر ډول مخالفت يې شيطاني عمل دی.

خلاصة البحث:

إن الله عزوجل بدأسلسة النبوة بإرسال سيدنا آدم عليه السلام، و ختمها بإرسال النبی محمد صلى الله عليه وسلم العربی الأمی، خاتم الأنبياء والمرسلين، و لا نبی بعده. و هذه العقيدة فی إصطلاح الشريعة الاسلامية تسمی بعقيدة ختم النبوة. و قد ورد فيها حوالی مائة آية من القرآن الكريم، و كثير من الأحاديث المباركة. و هذه العقيدة أول ما أجمع عليها علماء الأمة، كما أشار إليها فضيلة الشيخ سيد محمد أنورشاه الكشميری فی كتابه (خاتم النبيين). و كذلک أستشهد حوالی مائتان و تسعة و خمسون رجلا فی عدة من غزوات الرسول صلى الله عليه وسلم بينما أستشهد حوالی ألف و مائتان من الصحابة و من بينهم سبع مائة من حفظة القرآن الكريم فی حروب الردة فی خلافة أبی بكر الصديق رضی الله عنه. و لاشک أن لهذا الموضوع أهمية كبيرة، و لذلک وردت فيها آيات كثيرة من القرآن الكريم والأحاديث النبوية المطهرة، و أجمع عليه علماء الأمة، و من

أنكر عقيدة ختم النبوة فهو كافر بإجماع الأمة، و أن الفرقة القاديانية فرقة باطلة و مبتدعة خارجة على الإسلام، و مؤسسها غلام أحمد القاديانى رجل ملعون مرتد و كافر بإتفاق علماء المسلمين.

اخځليكونه:

۱. قرآنكريم.
۲. الله وسايا. آئينه قاديانيت. اداره مركزيه دعوة و ارشاد چينوټ.
۳. أحمد بن حنبل. (۱۴۲۱هـ ق). مسند أحمد. بيروت: موسسه الرسالة.
۴. بخاری، محمد بن اسماعيل. (۱۹۹۰م). صحيح البخاري. پېښور: مدينه پبليشرز.
۵. تبريزی، ولی الدين محمد بن عبد الله الخطيب. (۱۴۰۵هـ ق). مشكوة المصابيح. پاكستان: المكتبة الحبيبيه كويټه.
۶. ترمذي، محمد بن عيسى. (۱۹۹۴م). سنن الترمذی. پاكستان: تاج كتب خانه پېښور.
۷. چېنوټي، منظور احمد. (۲۰۰۱ م). رد قاديانيت. پاكستان: اداره مركزيه دعوة و ارشاد چېنوټ.
۸. د افغانستان د جيدو علماؤ ژباړه. (۱۴۱۴هـ ق). كابلی تفسير. سعودي عربستان: مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشريف المدينة المنورة.
۹. د قاديانيانو مجله. (۱۹۳۱ م). فصل. لاهور
۱۰. د لاهوري قاديانيانو جريده. (۱۹۱۳ م). پيغام صلح. لاهور
۱۱. سجستانی، ابوداؤد سليمان بن الاشعث. (۱۴۲۲هـ ق). سنن ابي داؤد. پاكستان: مكتبة رحمانيه لاهور.
۱۲. سرفراز، جانباز. (۱۳۸۶ هـ ش). د قرآنكريم ټكي په ټكي روانه ترجمه. پاكستان: رفعت كتابفروشي پېښور.
۱۳. قاديانی، مرزا غلام احمد. (۱۹۰۲ م). نزول المسيح. پاكستان: اشتهارات چاپځای ربوه.
۱۴. مباركپوري، محمد بن عبد الرحيم. (۱۴۱۰هـ ق). تحفة الأحوذی بشرح الترمذی. بيروت: دار الكتب العلمية.
۱۵. مفتي محمد شفيع. (۱۴۲۲ هـ ق). ختم نبوت. پاكستان: ادارة المعارف كراچي.
۱۶. مناوی، زين الدين عبد الرؤف. (۱۴۰۸هـ ق). التيسير بشرح الجامع الصغير. رياض: د امام شافعي مكتبة.
۱۷. نيشاپوري، ابو الحسين مسلم بن الحجاج. (۱۴۲۰هـ ق). صحيح مسلم. پاكستان: مكتبة امداديه ملتان.

پوهنمل محمد حامد (کډوال)
وترنري علومو پوهنځی- پاراکلنيک څانګه

د شيدو ورکوونکو مېښو د شيدو پر حاصل د بلاربتوب اغېزو څېړنه

يادښت: دغه څېړنه چې د (د شيدو ورکوونکو مېښو د شيدو پر حاصل د بلاربتوب اغېزو څېړنه) تر سرليک لاندې د پاکستان د خيبر پښتونخوا ايالت د کرنې پوهنتون د لائيوسټاک منجمنټ ديپارټمنت د رېو تنو غړو محمد سبحان (قريشي)، س. خان او ن. احمد له لوري ترسره شوې، او د ايټالين ژورنال، ساينس- شپږم جلد کې خپره شوې ده؛ چې د ننګرهار پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د پارا کلنيک څانګې د اړتيا او سپارښتنې له مخې يې تاسې پښتو بڼه دلته لولئ. ژباړن

لنډيز:

دغه تحقيقي ليکنه دا راپور ورکوي چې په مېښو کې د بلاربېدو څخه وروسته د شيدو کموالی رامنځته کېږي. تجربوي مېښې د پاکستان سرحد ايالت کې انتخاب شوې. د Lactation په دوره کې د شيدو د حاصل مکمل ريکارډ د 48 اوونيو لپاره مدنظر ونيول شو، چې په دې جمله کې 465 بلاربې مېښې او باقي 179 وچې مېښې وې. 1-3 موډل استعمال شو، ترڅو هغه فکتورونه پيدا کړي چې د بلاربتوب په حالت کې د شيدو پر حاصل تاثير لري. 4 موډل ددې لپاره استعمال شو، چې د بلاربتوب په پيل کې د شيدو د حاصل کموالی تنظيم کړي؛ نوموړی عمل په منځنۍ کچه شخصي فارمونو کې ترسره شو، چې په دې جمله کې د 40 مېښو د Lactation د دورې ريکارډ شامل ؤ. معلومات ښيي چې په مېښو کې د بلاربوالي څخه وروسته د شيدو په حاصل کې کموالی وختې وي او د Lactation د دورې په 11-28 اوونيو په دوران کې احساسېږي، او ورپسې د 29-36 اوونيو په دوران کې او د 37-48 اوونيو کې د Lactation په دوران کې په پرله پسې توګه د شيدو کموالی احساسېږي. د شيدو د حاصل د پام وړ کموالی د بلاربتوب په دريمه، پنځمه او شپږمه مياشت کې په هغه حيواناتو کې پيدا کېږي، چې د Lactation دورې په لومړيو، منځنيو او وروستيو مراحلو کې بلاربېږي. په بلارب حيواناتو کې په لومړيو وختونو کې د بلاربتوب څخه وروسته تر دوه مياشتو پورې د شيدو حاصل زياتېږي او تر دې وروسته تر دوه مياشتو پورې د شيدو حاصل زياتېږي؛ او تر دې وروسته تقريباً په ثابت ډول د شيدو حاصل کمېږي. دغه کموالی د بلاربتوب په پنځمه اوونۍ کې ښکاره کېږي. د بلاربتوب په پرمختګ سره د شيدو کموالی زياتېږي او بالاخره هغه نقطې ته رسېږي، چې د Joining point په نامه يادېږي، تر دې وروسته دغه کموالی نور هم زياتېږي.

سريزه:

مېښه د شيدو د توليد يوه ستره منبع ده، چې په نړۍ کې 12.1% شيدې توليدوي؛ په اسيا کې 38.0 %، په هندوستان کې 55.0 %، په پاکستان کې 66.6 %، په چين کې 16.4 %، په مصر کې 50.8 % او په نيپال کې د شيدو ټول توليد يې 65.2 % ته رسېږي(ديفرنس). د تېرو 40 کلونو په دوران کې مېښو د نړۍ په سطحه 100% زياتوالی ښودلی، لېکن د غواګانو د نفوس زياتوالی د 20 کلونو په موده کې 40% ته لوړ شوی و. لېکن په آينده 20 کلونو کې به دغه مقدار تقريباً ثابت پاتې شي. په ايټاليا کې د مېښو نفوس 13 ځلې زيات شوی او تعداد يې 0.24 مليونه ته رسېدلی دی. د تېرو 47کلونو په دوران کې د شيدو ورکوونکو غواګانو نفوس د مېښو په مقابل کې40% راکم شوی دی. د چين هېواد د خپلو لبنياتو خصوصيات نړۍ ته معرفی کړل او خپل د جبيزو مېښو نسل يې د هندوستان او پاکستان د مېښو نسلونو سره کراس بريډ کړل (Borghese, 2006). د هندوستان او پاکستان مېښې دواړه د شيدو ورکوونکو له ډولونو څخه شمېرل کېږي، بدن يې تور رنګ لري، لور ته ورته ښکرونه لري، او د سيند د مېښو په نامه سره هم يادېږي(Macgregor (1939.

لېکن ذکر شوو ليکوالانو بيا د شيدو ورکوونکو مېښو په نامه سره نومولي دي؛ ددغو مېښو د شيدو په اړوند (Qureshi (karmarker 1964).., et al, 1999) راپور ورکړی دی، چې ددې مېښو د شيدو ورځنی حاصل 8.0 څخه تر 9.1 kg پورې په بمبيي او د پارګوان په ولسواليو کې دی. د شيدو د غوړو فيصدي يې 8% ده. په نيلي دوی مېښو کې غوړ لرونکو شيدو د توليد اوسط اندازه د نسل ګيرۍ په نورمال او ضيعفو موسمونو کې د 15.31 -13.55 kg پورې رسېږي (Qureshi , et al, 1999 , P < 0. 01,) او دغه اندازه د شيدو بيا د 2 څخه تر 35 kg/day په ورځ کې رسېږي، په لويه پيمانه ګڼل کېږي چې د شيدو توليد د بلاربتوب لپاره واقع کېږي. د يو ترکيب له مخې د بلاربوالي څخه مخکې د جنين د ضرورت لپاره 190 ورځو څخه وړاندې د شيدو اړتيا زياتېږي (NRC, 2001)، هارمون سره جوړه تجزيه شوي مواد د شيدو څخه ليرې کېږي (Oitebaca et al, 1980). دا تحقيقي مقاله راپور ورکوي چې په هغه صورت کې چې مېښې بلاربې شي، نو د شيدو توليد يې کمېږي.

مواد او کړنلاره:

تجربوي مېښې د پاکستان د سرحد ايالت د مرکزي درې څخه چې په 31 څخه تر 37^0N درجې شمال او 65 -74^0 E درجې شرق لوري ته موقعيت لري، انتخاب شوې. ددې سيمې اقليم لويې وچې ته ورته اقليم دی؛ تجربوي واحدونه لوی سايز لرونکي دولتي فارمونه وو. (د حيواناتو شمېر يې د 150څخه تر 1000 پورې و) او بل يې منځني سايز لرونکي تجارتي شخصي فارم و، چې د حيواناتو شمېر يې 100 و. ددې فارم د کټګوريو بنسټ د مقاصدو او د عملياتي پروسيجرونو په توپير ولاړ ؤ. په لويو دولتي فارمونو کې د شيدو د توليد معلومات د 1995 څخه تر 2005 کلونو په موده کې راټول شول. د Lactation دورې په 48 اوونيو کې د 465 بلاربو او 179 غير بلاربو مېښو د شيدو د حاصل مکمل ريکارډ د درې موقعيتونو څخه واخستل شو او په دې ډول د 30912 اوونيو د شيدو د حاصل ريکارډ په لاس راغی. لاندې پوره1 ماډل په يوې مياشتې کې د بلاربوالي مرحله شامله ده او 30912 ټول ريکارډ استعمالېږي، وروسته بيا 2- ماډل چې کم شوی دی، برابرېږي او د بلاربوالي مرحله ورڅخه ايستل کېږي.

Model 1: Y= L+ P +L X P+LW+Gm+E

Model 2: Y= L+P + L X P + Lw+ E

Y = د شيدو حاصل دی، L موقعيت دی (n = 3) , P مساوات دی، (n = 6) , Lw د شيدو ورکولو اوونۍ ده، E باقي پاتې موده ده چې موډل سره اړه لري. د بلاربتوب په وخت کې د شيدو د کموالي پلټنه، د بلاربو مېښو د شيدو اوسط حاصل د Laction د 48 اوونيو کې د غير بلاربو مېښو د Lactation د هرې اوونۍ څخه منفي کېږي. د Lactation د اوونيو په باره کې معلومات د تهيه کولو څخه وروسته تحليل کېږي او د شيدو کموالي په اړه معلومات په لاس راځي. لاندې موډل د معلوماتو د تحليل لپاره استعمالېږي او دغه تحليل د عمومي Linear (خطي) موډل پر بنسټ ولاړ دی، چې د Minitab Statistical Package په نامه يادېږي. Minitab inc-state cdlege PA 16801- 3008, USA –او د نوموړي احصايوي پيکج استعمال په واسطه هغه فکتورونه پيدا کېږي چې د بلاربتوب په وخت کې د شيدو د حاصل په کموالي باندې تاثيرلري.

Model 3: Y= L+ Cs + P + Lw + Gm + E

Y د شيدو د حاصل کموالی دی، L موقعيت دی، (n = 3) , Cn د بلاربتوب موسم دی، P مساوات دی (n = 6) , Lw د شيدو ورکولو اوونۍ ده، Gm د بلاربوالي مياشت ده. (n = 6) , E باقي پاتې موده ده، چې ټول موډل پورې اړه لري؛ د شيدو ريکارډ په درې فرعي سيټونو ويشل شوی دی: د Lactation دورې 11-28 اوونۍ (د شيدو ورکولو لومړۍ دوره)، 29-36 اوونۍ (د شيدو منځنۍ دوره) 37 -48 اوونۍ (د شيدو ورکولو وروستنۍ دوره)، په منځني سايز لرونکي شخصي فارمونو کې د بلاربتوب په واسطه د شيدو کموالی محاسبه شوی او دغه محاسبه په23 بلاربو مېښو او 17 غير بلاربو مېښو کې سره توپير درلود. د شيدو د حاصل لپاره معلومات (Data) د يوې اوونۍ لپاره او د بلاربوالي څخه وروسته د 1 څخه تر 23 اوونيو لپاره معلومات استعمال شو؛ تر هغې چې د بلاربتوب څخه وروسته د شيدو د حاصل کموالی برابر کړي. د دوه مستقيمو لاينونو موډل (Draper and smith, 1981 j Neter et al. 1985) د وصل نقطې ته د 8

اوونيو په موده کې ورسېد او 0.9629 څخه يې R^2 درلوده، په داسې حال کې دوهمه درجه موډل هم 0.9863 R^2 سره برابر و. د شيدو غواګانو لپاره، (1995) Coulon et al د صحيح اصطلاح په اړه يوه معادله استعمال شوه Pw – 18 چې دغه موډل O Value ته د رسېدو په خاطر 18 م بلاربتوب ته زور ورکوي. نوموړو ليکوالانو د Pw – 5 ,صحيح اصطلاح وکاروله، له دې امله د بلاربوالي ښکاره تاثير د بلاربوالي څخه وروسته په 5 مه اوونۍ کې يادا شت شو او دغه موډل په لاندې ډول تشريح شو:

Model 4: Y+ e 0.9602 (Pw – 5) e – 0,15 Pw R^2 + 0.9445

پايله:

په 1 جدول کې ابتدايي معلومات ښيي، چې په مېښو کې له بلاربوالي څخه وروسته د شيدو د حاصل کموالی په لومړيو وختونو کې صورت نيسي، چې د Lactation د دورې په 11– 48 اوونيو په دوران کې احساسېږي، او په پرله پسې توګه د 29–36 او 37–48 اوونيو په دوران دغه کموالی احساسېږي. د بلاربتوب په درېمې او شپږمې مياشتې کې د شيدو په حاصل کې د پام وړ کموالی پيدا کېږي، نوموړی کموالی په هغه حيواناتو کې احساسېږي، چې د Lactation په لومړيو، منځنيو او وروستنيو مراحلو کې قرار ولري. 1 – شکل د شيدو د حاصل تغير د بلاربتوب په پرمختللي حالت او د هغه مقايسه په غير بلاربو حيواناتو کې ښيي؛ د شيدو اساسي زياتوالی ښيي، چې د شيدو د حاصل مؤثريت او د حيواناتو د مثل د توليد مؤثريت سره يوځای وي، ددې مفکورې پر اساس په لوړ مقدار سره شيدې توليد ېږي. د شيدو کموالی د بلاربوالي څخه وروسته په 5 مه اوونۍ کې ښکاره کېږي، لکه څرنګه چې 2 - شکل څخه څرګند ېږي. Linear (خطي) موډل د شيدو ښه برابرښت نه په ګوته کوي او همدارنګه ددې موډل د اټکل شوي قيمت څخه هم په واضحه توګه معلومېږي. که څه هم په دوهمه درجه موډل په لومړی وخت کې ښه برابرښت ښيي او اټکل شوي قيمتونه په لږه اندازه د حقيقي قيمتونو سره توپير لري. JP 8 خطي موډل ښه برابرښت ښيي او اټکل شوي قيمتونه د حقيقي قيمتونو سره ډېر نژدې دي. د شيدو کموالی د بلاربوالي په پرمختللي حالت کې هغه نقطې ته رسېږي، چې د Joining Point په نوم يادېږي؛ تر دې وروسته دغه کموالی نور هم زياتېږي. دغه کموالی په لوړ حاصل ورکوونکو مېښو کې تر 16مې اوونۍ پورې زياتېږي او په ترتيب سره دغه کموالی نور هم پياوړی کېږي؛ په منځنيو توليد کوونکو مېښو کې د شيدو کموالی لږ وي، بلکې په ضعيفو توليد کوونکو مېښو کې د شيدو کموالی په اوسط ډول وي. په ضعيفو حاصل ورکوونکو مېښو کې د شيدو لږ کموالی ددې حيواناتو د شيدو د ضعيف حاصل په سبب وي، ځکه نو په لږه اندازه د بلاربوالي څخه وروسته د شيدو په حاصل کې کموالی منځته راځي.

1- جدول: د شيدو د حاصل کموالی د بلاربوالي څخه وروسته په مختلفو مياشتو کې (mean ±SE)
د بلاربوالي څخه وروسته مياشت د Lactation مرحله په هغه وخت کې چې حيوان بلارب وي

مياشت	11 – 28 اوونۍ	29 – 36 اوونۍ	37 – 48 اوونۍ
1	0.944 ± 0.4370	5.289 ± 1.0178	8.824 ± 3.8918
2	-0.757 ± 0.7174	3.341 ± 0.7953	4.940 ± 1.5700
3	-3.113 ± 1.0819	0.504 ± 0.7281	4.198 ± 0.8703
4	-3.738 ± 1.5861	-1.953 ± 0.8003	1.920 ± 0.5659
5	-4.359 ± 3.0647	-3.917 ± 0.9753	-1.053 ± 0.4092
6	--	-4.443 ± 1.2879	-3.155 ± 0.4231
7	--	--	-4.987 ± 0.5725

د اوونيو او د بلاربوالي د مياشتې تاثير د پام وړ (Significant) دی ($P < 0.001$).

ددې تحقيق د موندنې په اساس داسې نتيجه لاسته راځي، چې په شيدو ورکوونکو مېښو د بلاربتوب په لومړيو وختونو کې په غښتلې توګه د شيدو په حاصل کې کموالی رامنځته کېږي، په مقايسه د هغه بلاربوالي چې په وروستيو مرحلو کې منځته راځي. د شيدو د حاصل طبيعي زياتوالي څخه د بلاربوالي د واقع کېدو په لومړيو وختونو کې ممانعت کېږي. د پام وړ کموالی (تقريباً په اوونۍ کې 4 کيلوګرامه شيدې) د بلاربوالي څخه وروسته په 12 مه اوونۍ کې ليدل شوی دی. لوړ

حاصل ورکوونکې مېښې د شخصي منځني سایز لرونکو حیواناتو د فارم شرایطو لاندې د بلاربتوب په پیل کې ډېر حساس وي او د غذایي موادو کمزورې ذخیره او مالدار بې خبري ددې سبب کېږي، ښه کیفیت لرونکی خوراکه او سم اداري حمایت حیواناتو ته برابر کړي، نو شیدې ورکوونکې مېښې په خپل قیمت سره تولید نه کوي او د بلاربوالي په پیل کې د شیدو په حاصل کې کموالی رامنځته کېږي. نسبت غواوو ته هغه مېښې چې د Lactation دورې په لومړیو وختونو کې بلاربېږي، نسبت غیر بلاربو مېښو ته بیا هم ښې شیدې تولیدوي.



۱. شکل: په لوی سایز لرونکو دولتي فارمونو کې د بلاربوالي په پرمختللي حالت کې په شیدو ورکوونکو مېښو د شیدو په حاصل کې تغیر.

۲. شکل: په کوچني سایز لرونکي شخصي فارمونو کې د بلاربوالي په پرمختللي حالت کې په شیدو ورکوونکو مېښو کې د شیدو په حاصل کې تغیر.

Abstract:

This paper reports the decline in milk production of buffaloes after getting conceived. The experimental buffaloes were selected in NWF province of Pakistan. Complete milk yield records for 48 weeks of lactation were obtained for 465 pregnant and 179 no pregnant buffaloes. Model-1 to 3 was used to find out the factors affecting milk yield reduction due to pregnancy. Model 4 was used to modulate milk yield reduction with the onset of pregnancy at medium sized private farms comprising lactation records of 40 buffaloes. The data indicate that post-conception reduction in milk yield was earlier in the buffaloes thatconceived during 11-28 weeks of lactation, followed by those conceived during 29-36 and37-48 weeks of lactation respectively. Noticeable reduction in milk yield was found during3rd, 5th and 6th month of pregnancy in the animals conceiving at earlier, mid or later stages of lactation. Initially the milk yield in pregnant animals increased up to 2 months post-conception and then decreased at an almost constant rate. The reduction was visible after 5thweek post-conception. The decline in milk with advancement pregnancy was slight up to appoint which we declared as joining point; thereafter the decline was much greater.) ،

References:

1. Borghese A., 2006. Buffalo development in Asia. Asian Buffalo Magazine, 3 (2): 42-50.
2. Coulon J.B., Perochon, L. and Lescourret, F., 1995. Modeling the effect of the stage of pregnancy on dairy cows' milk yield. Animal Science, 60: 401-408.
3. DraperN.R. Smith, H., 1981. Applied regression analysis. 2nd Ed. John Wely and Sons Inc. New York. Pp. 250-257.
4. Karmarker R.G., 1964. A dairyman's experiments on farming for milk production. Indian dairyman. 16: 241.
5. Macgregor R., 1939. Thesis, Royal College of Veterinary Surgeons, London.
6. Neter, J., Wasserman, W. and Kutner, M.H., 1985. Applied linear statistical models. Richard D. Irwin, Inc. Homewood Illinois. Pp. 346-351.
7. NRC. 2001. Nutrient requirements of dairy cattle. 7th ed. Publ. Natl. Acad. Press, Washington, DC.
8. Oltenacu P.A., Rounsville, T.R., Milligan, R.A., and Lintz, R.L., 1980. Relationship between days open and cumulative milk yield in cows. J. Dairy Sci. 63:1317–1327.
9. Qureshi M.S., Samad, H.A., Habib, G., Usmani, R.H. and Siddiqui, M.M., 1999. Study on factors leading to seasonality of reproduction in dairy buffaloes. I. Nutritional factors, Asian-Aus. J. Anim. Sci. 12: 1019–1024.

پوهـــندوی پیرمحـــمد (ستانکـــزی)
پوهنمـــل اســـــدالله (دوســـــت)
وترنري علومو پوهنځی- کلینیک څانګه

په سپیو کې تیتانوس

(Tetanus in Puppies)

لنډیز:

تیتانوس یوه بکتریایي ناروغي ده چې کلوستریدیم تیتاني یې سببي عامل دی او یوه زونوزیز یا د حیواناتو او انسانانو مشترکه ناروغي ده، چې د پام وړ خطر رامنځته کولی شي؛ نو په دې اساس مو لازمه وګڼله چې د دې ناروغۍ په باره کې څېړنه وکړو. په دې اساس د ننګرهار ولایت په مرکزي حیواني کلینیک کې ۱۵ مختلفو عمرونو لرونکو کم عمره سپیو کې د تیتانوس ناروغي ولیدل شوه، چې دا د کلینیکي نښو په اساس تشخیص او وپېژندل شوه. له دې کیسونو څخه ۵ کیسونه د تداوی څخه وروسته نتیجه ورکړه، کوم چې په ابتدایي حالت کې وو او باقي ۱۰ کیسونه له منځه لاړل، چې لامل یې د کیسونو پرمختللی حالت ؤ.

سریزه:

د تیتانوس ناروغي د کلوستریدیم تیتاني بکتریا په واسطه منځته راځي، چې عصبي نښې نښانې ښکاره کوي او دا غیر هوازي ګرام مثبت بکتریا ده. په مرکزي حیواني کلینیک کې د څو مختلفو عمرونو پاپي (سپي) وکتل شول چې دا کوکري مرکزي حیواني کلینیک ته د تداوۍ لپاره راوستل شوي وو او همدارنګه د کانال په سیمه کې هم تر تداوۍ لاندې ونیول شول. تاریخچه یې داسې وه چې ژامې او خوله یې سره تړلي وې، لاړې ترې بهېدلې، (دیسپاګیا) او په پروت حالت کې وو؛ چې دوه ورځې یې کېدلې. د معاینه کولو څخه معلومه شوه چې ۴۰ سانتي ګراد درجه حرارت یې درلود، تکي کاردیا یې ۱۲۸/منت وه، نفس تنګي موجوده وه، لاړې یې بهېدلې او غوږونه یې نېغ (سیده) نیولي وو، سر یې هم نېغ و او خوله یې کلکه بنده یا لاک جا یې لرله او څلور واړه پښې یې شخې وې او همدارنګه ټول عضلات یې سره شخ شوي وو او د وروستۍ ښۍ پښې په هاک کې یو درې اوونۍ لرونکی زخم موجود و. د کلینیکي نښو او تاریخچې په اساس دا حالت په تخمیني ډول تیتانوس تشخیص شو.(۸)

موخې:

- په سپیو کې د تیتانوس ناروغۍ د نښو نښانو پېژندل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو ته د نویو معلوماتو برابرول

مواد او کړنلاره:

یو ځل یو پاپي په ۱۳۹۲/۸/۱۵ نېټه کلینیک ته راوستل شو، نو د معاینې کولو څخه وروسته ورته درملنه شروع شوه. لومړی سپي ته ۵ ملي ګرامه په هر کیلوګرام وزن د بدن دیازیپام او همدارنګه وروسته د راوستلو څخه ورته بینزایل پینسلین د عضلې له لارې ۲۰،۰۰۰ یونته د بدن په هر کیلوګرام وزن ورکړل شول او همدارنګه دیکستروز نارمل سلاین په اندازه د ۱۰ ملي لیتره په هر کیلو وزن د بدن د رګ له لارې ورکول شول. د یاد سپي درملنې نتیجه ورنکړه او په همغه ورځ مړ شو او باقي نورو سپیو ته هم له یادې تګلارې کار واخیستل شو او ذکر شوې اندازه دوایي پرې تطبیق شوه، چې په پایله کې کوم سپي چې په ابتدایي حالت کې وو، هغوی نتیجه ورکړه او کوم چې پرمختللي حالت کې وو، هغوی نتیجه ورنکړه او له منځه لاړل. (۴)

پايله:

تيتانوس د نوموړو سپيو د زخم له امله منځته راغلی و، چې نوموړي سپي د ۵ ورځو څخه تر ۳ اوونيو کې د زخم درلودلو له کبله چې په مخفي دوره کې ؤ. په نتيجه کې د ناروغۍ د شدت له وجې د زړه عدم کفايه او هم د عضلاتو سپازم له امله ۱۰ مړه او له منځه لاړل او پاتې ۵ کيسونه چې په ابتدايي حالت کې وو، هغوی نتيجه ورکړه، چې يو يې په (۱- شکل) کې ليدل کېږي. (۱)



(۱- شکل: د کلينيکي نښو له مخې د ليوني سپي په ناروغۍ د ملوث حيوان يوه مثبته پېښه ښيي.)

همدارنګه له دې څېړنې څخه مونږ دې نتيجې ته رسېږو چې عموماً د سپيو په برخه کې بايد زيات پام وشي، ځکه سپي زياتره يو له بل سره جنګېږي او زخمونه منځته راځي او له دې زخمونو څخه د تيتانوس د خطر چانس زيات وي. بله دا چې د تيتانوس ناروغي يوه زونوزيز ناروغي ده، نو انسانانو ته يې د انتقال امکانات زيات دي، نو بايد د ډېر احتياط څخه کار واخيستل شي. (۳)

مناقشه:

په ذکر شويو کيسونو کې تيتانوس د زخم د موجوديت په نتيجه کې منځته راغلی و او همدارنګه په بعضو واقعاتو کې معمولاً برادي کاردیا منځته راځي، خو په نوموړيو کسونو کې خلاف د نورو کيسونو تکي کاردیا مشاهده شوه، کوم چې کتي کولامين د ادري نرجيک ستي موليشن سره يوځای د زيات افراز په وجه منځته راځي. د عمومي تيتانوس کلينيکي نښې داسې دي چې سر يې نېغ نيولی وي، غوږونه او شونډې يې هم نېغې وي، ژامې يې کلکې نښتي وي. زمونږ څېړنې ته ورته څېړنه د ايرليند په هېواد کې هم سرته رسېدلې ده، چې د دريو اوونيو لپاره ورته درملنه په لاندې ډول تطبيق شوې: ۲۰،۰۰۰ د تيتانوس انتي توکسين او پينسلين جي د رګ له لارې ۲۰ ملي ګرامه پر کيلوګرام وزن د بدن هر ۸ ساعته وروسته؛ همدارنګه ديازيپام او اسيپرومازين. هر کله چې د سپي اشتها پيدا شوه، نو ميترونيدازول ۱۵ ملي ګرامه پر کيلوګرام وزن د بدن هر ۱۲ ساعته بعد ورکول کېږي. که چېرته ميديکل تداوي نتيجه ورنکړه، نو بايد جراحي عمليه تطبيق شي، خو په هغه صورت کې چې د تيتانوس په کيس کې هرنيا موجوده وي. په همدې ډول کاناډا او امريکا کې هم همدارنګه څېړنې سرته رسېدلې دي. د زياتره ناروغو سپيو وړاندوينه ځکه سخته وه چې د سختې اخته کېدنې په اساس مړه شول چې لامل يې د زړه عدم کفايه او د غير کنترول لرونکو عضلاتو شخوالی و، چې لارنکس، ديافراګم او داخل د پښتيو عضلې چې حيوان د تنفس عدم کفايې خواته بيايي. کوم کيسونه چې په جلال آباد ښار کې مطالعه او وڅېړل شول، له دې جملې څخه زياتره يې په ابتدايي حالت کې وو، د يادو درملو په ورکړه يې ډېره زر نتيجه ورکړه او هغه سپي چې په پرمختللي حالت کې وو، هغوی خپل ژوند له لاسه ورکړ. (۹،۷)

Abstract:

Tetanus is a bacterial disease and causative agent is clostridium tetani. This disease is zoonotic disease it is very dangerous diseases that is why I decide to write some thing about this disease for that purpose we studied 15 tetanus diseases cases in Nangarhar city central animals clinic various ages month old dogs or puppies observed which are suffered by tetanus those are diagnosed by clinical symptoms and case history. Five cases are cured and 15 cases are died. This disease caused by clostridium tetani which are anaerobic gram positive bacteria.

References:

1. Aiello, S.E. (1998). The Merck Veterinary Manual, 8th edn. Merck and Co.U.S.A. p: 447.
2. Ahmadsyah I, Salim A (1985). Treatment of tetanus: an open study to compare the efficacy of procaine penicillin and metronidazole. British Medical Journal; 291:648–650. doi: 10.1136/bmj.291.6496.648
3. Ansari MM, Matros LE. (1982).Tetanus. Compendium on Continuing Education for the Practicing Veterinarian;4:S473–S478
4. Bhadwal, M.S. and Wazir, V.S. (2005). Ind. Vet. J., 82: 446. Bark H. A case report: Canine tetanus. Canine Practice. 1980; 7:25–43.
5. Bark H. A. (1980). Case report: Canine tetanus. Canine Practice. 7:25–43.
6. Dieringer TM, Wolf AM. (1991). Esophageal hiatal hernia and megaoesphagus complicating tetanus in two dogs. Journal of the American Veterinary Medical Association. 199:87–89.
7. Ettinger, S.J. and Feldman, E.C. (2000).. Textbook of Veterinary Internal Medicine, 5th end. Vol. 1, W.B. Saunders Company, Philadelphia. P. 398.
8. Greene, C.E. (1998). Infectious diseases of the Dog and Cat, 2nd edn, W.B. Saunders Company, Philadelphia. P. 267.
9. Panciera , D.L. Baldwin , C.J. and Keene, B.W. (1998)..j. Am. Vet. Med. Assoc., 192: 225.

پوهنمل عبدالغفور (نيازی)
ښوونې او روزنې پوهنځی- رياضي څانګه

په اقتصاد او سوداګرۍ کې د ټاکلي انتيګرال کارونه

لنډيز:
د ټاکلي انتيګرال د څېړنې لپاره يو شمېر فورمولونه، قوانين او د معين انتيګرال ځانګړتيا په لنډ ډول په دې مقاله کې څېړل شوې ده، چې د هغوی په مرسته وکولای شو مهم اقتصادي او سوداګريز مسايل د معين انتيګرال په واسطه په اسانۍ سره معلوم کړو چې له دې ډلې څخه يو هم د مصرفوونکي مازاد، توليدوونکي مازاد او د شرکتونو ګټه او د هغوی تطبيقي مثالونه دلته څېړل شوي دي.
په دې معادلو کې د ټاکلي انتيګرال په مرسته د اقتصاد او سوداګرۍ مهم او اړين مسايلو او تطبيقي مثالونو شننه او څېړنه شوې ده.

سريزه:
څرنګه چې په نننی مهال کې هر علم په پراخه توګه د کارونې ساحې لري، په همدې ډول د اقتصاد په علم کې د رياضي څخه استفاده ډېر اهميت لري. لومړی دا چې له رياضي څخه د توابعو، فورمولونو او معادلو په واسطه د اقتصادي نظريو د تکامل په شکل ګټه اخيستل کېږي. دويم دا چې د رياضي په مرسته کولی شو اقتصادي پېچلي مسايل، پلان جوړونه او وړ سنجش ترسره کړو، لکه مشتقات، انتيګرال، مترکس، الجبره، توابع، ديفرانسيل، تفاضلي معادلې، د مستقيم خط معادلې او داسې نورو څخه په اقتصاد کې ډېره ګټه اخستل کېږي. رياضي ته په اقتصاد کې ددې لپاره برتري ورکړل شوې، چې په هر پړاو کې تحليلوونکي سنجيده استدلالونه وړاندې کوي، ترڅو خپلې فرضيې مشخصې کړي. Jewn جيون د اقتصاد يو لوی عالم په دې اړه وايي، ما د يوې اوږدې مودې لپاره فکر کاوه چې اقتصاد همېشه د مقدارونو او کميتونو سره سروکار لري، نو له همدې نقطې نظره بايد اقتصاد د رياضي يوه برخه وي. نوموړی عالم په دې اند دی چې که اقتصاد يو علم وي، بايد علم د رياضياتو وي؛ د همدې دليل پر بنسټ د نولسمې پېړۍ په اخر کې جيون او کورنات او نورو يو شمېر عالمانو اقتصاد د رياضياتو په شکل معرفي کړي، په دې پېړۍ کې انتيګرال په اقتصاد او تجارت کې ډېر مهم رول لري. په دې ليکنه کې ما په لومړي قدم کې هره موضوع معرفي او توضيح کړې، وروسته بيا توضيحي مثالونه کارول شوي، تر څو تر بحث لاندې موضوعات ښه روښانه او واضح شي.

موخې:
ددغې مقالې له ليکلو څخه زما موخه داده چې د معين انتيګرال ځانګړنې مطالعه کړو او د معين انتيګرال تطبيق په اقتصاد او تجارت کې وڅېړم او د اقتصاد او تجارت د علم مينه والو او د رياضي د څانګې محصلينو ته ګټور معلومات برابر کړم.

انتيګرال(Integral): د انتيګرال مفهوم د لومړي ځل لپاره د ايساق نيوټن په واسطه چې په (۱۷۲۳-۱۶۴۳) کال کې يې ژوند کاوه او W. Leibniz چې په (۱۷۱۶-۱۶۴۶) کال کې يې ژوند کاوه، رامنځته کړ، او ارشمدس يوناني رياضي دان په دې کامياب شو، هغه ساحه چې $y = x^2$ د پارابول منحني په واسطه x = t خط په واسطه احاطه شوې وي، د مربع په ډول جوړ او محاسبه کړل. هغه وويل د AH مساحت چې په شکل کې ښودل کېږي، د $\frac{1}{2}t$ په اندازه ده. (۲)

$$A(t)=\int_0^t x^2dx=\frac{1}{3}t^3$$

معين انتيگرال:

هر کله که $\sum_{k=1}^{n} f(c_k)\Delta x_k$ مجموعي لميت په هغه صورت کې چې $\lambda \to 0$ وکړي، موجود وي او $[a,b]$ د قطعه خط د ويشلو په طريقې پورې تړلي نه دي او د c_k انتخاب هر قطعه خط د $[x_{k-1},x_k]$ کې نه وي، هغه د $y=f(x)$ تابع د معين انتيگرال په نامه ياد ېږي او په لاندې ډول ليکل کېږي:

$$\int_a^b f(x)dx$$

$$S=\lim_{n\to\infty} Sn=\sum_{k=1}^{n} f(c_k)\Delta x_k=\int_a^b f(x)dx$$

او هندسي ښودنه يې دا رنگه ده.

د معين انتيگرال هندسي تعبير:

د معين انتيگرال هندسي مفهوم د منحني الحط ذوذنقې مساحت څخه عبارت ده، چې له پورته خوا $y=f(x)$ تابع منحني گراف په واسطه او له دواړو خواوو د x = a او x = b مستقيم په واسطه او له لاندې لوري د ox محور په واسطه محدود شوي وي. (۴)

$$A=A_a^b=\int_a^b f(x)dx=0$$

د رياضي فزيک مهم مسايل، لکه د سطحو د مساحتونو محاسبه او د هندسي اجسامو د حجمونو محاسبه، د اجراء شوي کار محاسبه د متحول قوې په واسطه د طول په مسير کې د اجسامو د ثقل د مرکز تعينول د مومنت د مسايلو حل، انرژي او نور د معين انتيگرال د محاسبو په واسطه کېږي چې د معين انتيگرال خواص دا رنگه دي:

1. $\int_a^b f(x)dx=0$
2. $\int_a^b f(x)dx=\int_b^a f(x)dx$
3. $\int_a^b cf(x)dx=c\int_a^b f(x)dx, c\in IR$
4. $\int_a^b [f(x)\pm g(x)]dx=\int_a^b f(x)dx\pm\int_a^b g(x)dx$
5. $\forall x\in[a.b]:\ f(x)\le g(x)\Rightarrow\int_a^b f(x)dx\le\int_a^b g(x)dx$
6. $\int_a^b f(x)dx=\int_a^c f(x)dx+\int_c^b f(x)dx, a<c<b$ (۵)

لاندې انتيگرالونه محاسبه کړئ:

$$\int_1^4 5xdx = \frac{5}{2}x^2\Big|_1^4 = \frac{5}{2}(16-1) = \frac{5}{2}(15) = \frac{75}{2} \quad 1.$$

$$\int_1^3 (x^2+1)dx = \frac{1}{3}x^3 + x\Big|_1^3 = \frac{1}{3}(27)+3-\frac{1}{3}-1 = \frac{32}{3} \quad 2.$$

$$3.\quad \int_{-2}^4 (x^2+3x)dx = \left[\frac{1}{3}x^3+\frac{3}{2}x^2\right]\Big|_{-2}^4 = \frac{1}{3}(4)^3+\frac{3}{2}(4)^2-\left[\frac{1}{3}(-2)^3+\frac{3}{2}(-2)^2\right] = 42$$

$$\int_5^2 \sqrt{(x+5)}dx \quad 4. \qquad \left.\begin{array}{l} x=-5 \\ u=0 \\ x=2 \end{array}\right) \quad u=7 \qquad \left.\begin{array}{l} u=x+5 \\ du=dx \end{array}\right)$$

$$\int_0^7 u^{\frac{1}{2}}du = \frac{2}{3}u^{\frac{3}{2}}\Big|_0^7 = \frac{2}{3}(7)^{\frac{3}{2}}$$

$$\int_1^4 (x^3-x^{\frac{1}{2}}+2)dx = \left[\frac{1}{4}x^4-\frac{2}{3}x^{\frac{3}{2}}+2x\right]\Big|_1^4 = \frac{1}{4}4^4-\frac{2}{3}4^{\frac{3}{2}}+8-\frac{1}{4}+\frac{2}{3}-2 = \frac{781}{12} \quad 5.$$

$$u=4+x \Rightarrow du=dx \qquad \int_2^5 x\sqrt{(x+4)}dx \quad 6.$$
$$x=u-4$$

$$\left.\begin{array}{l} x=2 \\ u=6 \end{array}\right) \qquad \left.\begin{array}{l} x=5 \\ u=9 \end{array}\right)$$

$$\int_6^9 (u-4)u^{\frac{1}{2}}du = \int_6^9 (u^{\frac{3}{2}}-4u^{\frac{1}{2}})du = \frac{2}{5}u^{\frac{5}{2}}-\frac{8}{3}u^{\frac{3}{2}}\Big|_6^9$$

$$= \frac{2}{5}.9^{\frac{5}{2}}-\frac{8}{3}.9^{\frac{3}{2}}-\left[\frac{2}{5}.6^{\frac{5}{2}}-\frac{8}{3}.6^{\frac{3}{2}}\right] = 29{,}119$$

$\int_0^6 f(x)dx$ او $f(x)=x^2$ کله چې $x \le 2$

(۳) $x \ge 2$ کله چې $=3x-2$

Solution: $\int_0^6 f(x)dx = \int_0^2 x^2dx + \int_2^6 f(x)dx$ -

Putting the given values here:

$$\int_0^6 f(x)dx = \int_0^2 x^2dx + \int_2^6 (3x-2)dx \text{ s}$$

$$\frac{x^3}{3}\Big|_0^2 + (\frac{3x^2}{2}-2x)\Big|_2^6$$

$$\left[(\frac{8}{3}-\frac{0}{3})+\left(\frac{3(6)^2}{2}-12\right)-\left(\frac{3(2)^2}{2}-4\right)=\frac{8}{3}-0+40=\frac{8+120}{3}=\frac{128}{3}Ans\right]$$

په اقتصاد کې د معين انتيګرال کارول:

په دې برخه کې د معين انتيګرال په واسطه په مهمو اقتصادي مسايلو کار کوو، چې عبارت دي له لګښت کوونکي مازاد، توليدوونکي مازاد، د شرکت ګټه.

لګښت کوونکی مازاد(Surplus of consumers): د تقاضا يوه تابع چې هغه ښکارندوي د مختلفو مقاديرو وي، د هغو توکو څخه چې په مختلفو قيمتونو سره خريداري کېږي، فرضاً که چېرې x د تقاضا مقدار او y قيمت وي او y=F(x) د تقاضا تابع وي او همدارنګه د بازار د تعادل قيمت y_e او مقدار د تعادل x_e د تقاضا لپاره وي، پس احاطه شوې سطحه په مابين د منحني د تقاضا y = F(x) او $y = y_e$ خط کې د مصرف کوونکي مازاد څخه عبارت ده، چې د لومړي ځل لپاره مارشال دغه مساحت ته مصرف کوونکی مازاد وويل (۲)



د S مساحت چې په مصرف کوونکي مازاد باندې دلالت کوي، له شکل څخه په ګټې اخستنې سره په دې ډول په لاس راوړو:

$$S=\int_0^{x_e}(f_{(X)}-y_e)dx=\int_o^{x_e}f(x)dx-\int_0^{x_e}y_e dx$$

$$S=\int_0^{x_e}f_{(X)}dx-\int_0^{x_e}y_e dx$$

تطبيقي مثالونه:

اول مثال: که چېرې د تقاضا تابع د $y=8-x^2$ په شکل وي او د بازار د انډول قيمت $y_e=4$ وي، تاسې مصرف کوونکی مازاد پيدا کړئ؟

حل: لومړی بايد د بازار د انډول مقدار پيدا کړو، د بازار د انډول د مقدار د پيدا کولو لپاره په لاندې ډول عمل کوو:

$$\begin{cases} y=8-x^2 \\ y=4 \end{cases} \Rightarrow 4=8-x^2 \Rightarrow x^2=8-4 \Rightarrow x^2=4 \Rightarrow x=\pm 2$$

څرنګه چې x = -2 قيمت منفي دی، په نتيجه کې د بازار د انډول د مقدار لپاره د قبلېدو وړ نه ده، نو مونږ x = +2 د بازار د انډول مقدار نيسو:



د لگښت کوونکي مازاد لپاره لرو چې:

$$S = \int_0^{x_e} (f_{(X)} - y_e)dx$$

$$S = \int_0^2 (8 - x^2 - 4)dx = \int_1^2 (4 - x^2)dx = (4x - \frac{1}{3}x^3)\Big|_0^2$$

$$= 4(2) - \frac{1}{2}(2)^3 - 0 = 8 - \frac{1}{3}(8) = 8 - \frac{8}{3} = \frac{24-8}{3} = \frac{16}{2}$$

پس لگښت کوونکی مازاد عبارت دی له:

$$S = \frac{16}{3}$$ (پولي واحد)

دويم مثال: که چېرې د تقاضا تابع په صورت

د $y = 27 - 4x - x^2$ وي، تاسې يې مصرفوونکی مازاد پيدا کړئ، په هغه صورت کې چې:

الف: $x_e = 3$ د تقاضا مقدار وي. ب: د $y_e = 22$ د تقاضا قيمت وي.

د الف جز حل: څرنگه چې $x_e = 3$ د تقاضا مقدار لرو، نو د تقاضا د قيمت لپاره د تقاضا دغه اندازه په تابع کې وضعه کوو، د تقاضا قيمت په لاس راځي، يعنې:

$$y = 27 - 4x - x^2$$

$$y_e = 27 - 4(3) - (3)^2 = 27 - 12 - 9 = 6$$

پس د بازار د تعادل نقطه عبارت ده له:

$$x_e = 3, y_e = 6 \Rightarrow E(3,6)$$

او مصرف کوونکی مازاد يې عبارت دی له:

$$S = \int_0^3 (27 - 4x - x^2)dx$$

$$= \int_0^3 (27 - 4x - x^2)dx = (27x - 2x^2 - \frac{1}{3}x^3)\Big|_0^3 = 21.3.2.9 - \frac{1}{3}.27$$

$$= 63 - 18 - 9 = 63 - 27 = 36$$ (پولي واحد)

د ب جز حل: څرنګه چې مونږ د بازار د تعادل قیمت لرو $y_e = 22$ دغه قیمت د تقاضا په تابع کې د y پر ځای وضعه کوو، د بازار د تعادل مقدار په لاس راځي، یعنې:

$$y = 27 - 4x - x^2$$

$$22 = 27 - 4x - x^2$$

$$x^2 + 4x - 5 = 0$$

$$(x-1)(x+5) = 0 \Rightarrow x_1 = 1, \quad \text{او} \quad x_1 = -5$$

څرنګه چې x = -5 مقدار منفي دی، په نتیجه کې د قبول وړ نه دی، پس x = 1 تر بحث لاندې نیسو. په x = 1 مقدار سره مصرف کوونکی مازاد عبارت دی له:

$$S = \int_0^1 (27 - 4x - x^2 - 22)dx$$

$$S = \int_0^1 (5 - 4x - x^2)dx = (5x - 2x^2 - \frac{1}{3}x^3)\Big|_0^1 = 5 - 2 - \frac{1}{3} = \frac{9-1}{3} = \frac{8}{3} \quad \text{(پولي واحد)}$$

(۵،۴)

د تولید کوونکی مازاد (Surplus of Producers): که چېرې x د تولید مقدار او y قیمت وي او y = F(x) عرضه تابع وي او همدارنګه د بازار د تعادل مقدار x_e او قیمت په دې سطحه د تولید کې y_e وي، یعنې د بازار د تعادل نقطه $E(x_e, y_e)$ وي پس احاطه شوې سطحه د عرضه د منحني په مابین کې y = F(x) او $y = y_e$ خط کې د تولید کوونکي مازاد یا عرضه کوونکي مازاد بلل کېږي، چې په لاندې شکل کې ښودل شوي. (۲)



د شکل څخه په ګټې اخستنې سره کولای شو، چې د S مساحت چې نومول شوی دی، تولید کوونکی مازاد په لاندې ډول په لاس راوړو:

$$S = \int_0^{x_e} [y_e - F(x)]dx = x_e y_e - \int_0^x F(x).dx \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots *$$

ممکنه ده چې دولت لپاره د هر واحد د t په برابر رایانه وضعه کړي او دغه پیسې تولید کوونکي ته ورکړي، ترڅو هغوی د مشتریانو څخه د t افغانۍ په اندازه کم واخلي، په دې صورت کې د نوې عرضې تابع په لاندې صورت ده:

$$y_t = F(x) - t$$

که چېرې دولت د رايانه پر ځای د t په اندازه ماليات وضعه کړي، په دې صورت کې د نوې عرضه تابع عبارت ده له:

$$y_t = F(x) + t$$

تطبيقي مثالونه:

اول مثال: که چېرې د يوه توليد کوونکي د عرضه تابع په صورت د $y = \frac{5x}{500-x}$ وي، د توليد کوونکي مازاد په قيمت د y=20 کې پيدا کړئ، که چېرې دولت د t = 5 په اندازه ماليات وضعه کړي، توليد کوونکی مازاد د همدې قيمت لپاره محاسبه کړئ؟

حل: د عرضه تابع شکل $y = \frac{5x}{500-x}$ په لاندې ډول ښودل شوي.



د بازار د تعادل قيمت y = 20 لرو او د بازار د تعادل مقدار لپاره په لاندې ډول عمل کوو:

د بازار د انډول اندازه عبارت ده له:

$$\begin{cases} y = 20 \\ y = \frac{5x}{500-x} \end{cases} \Rightarrow 20 = \frac{5x}{500-x} \Rightarrow x_e = 400$$

د توليد کوونکي مازاد چې په شکل کې په S سره ښودل شوی، برابر دی له:

$$S = \int_0^{400}\left[20 - \frac{5x}{500-x}\right]dx = \int_0^{400}\left[20 + 5 - \frac{2500}{500-x}\right]dx 25x + 2500Ln(500-x)\Big|_0^{400}$$

$S = 59760$ (پولي واحد)

د S د مساحت واحد پولي واحد دی، ځکه چې يو طرف يې اندازه او بل طرف يې قيمت دی، اوس فرضوو چې دولت د (پولي واحد) 5 برابره ماليات وضعه کړي، په دې صورت کې توليد کوونکی مازاد داسې تعينوو:

$$y_t = \frac{5x}{500-x} + 5$$

$$20 = \frac{5x}{500-x} + 5 \Rightarrow 5x = 15(500-x) \Rightarrow x = 375$$

اوس د توليد کوونکي مازاد تعين کوو:

$$S = \int_0^{375}(20 - \frac{5x}{500-x} - 5)dx$$

$$S = \int_0^{375}(15 - \frac{5x}{500-x})dx = \int_0^{375}(15 + 5 - \frac{2500}{500-x})dx$$

$$S = 20x + 2500Ln(500 - x)\Big|_{0}^{375} = 4034,25$$ (پولي واحد)

دويم مثال: که چېرې د يوه توليد کوونکي د عرضه تابع په صورت $y = \sqrt{9+x}$ وي او د بازار د تعادل قيمت $y_e = 4$ وي، تاسې توليد کوونکی مازاد تعين کړئ؟ (۲)



حل: د توليد کوونکي مازاد د محاسبې لپاره لرو چې:

$$S = \int_0^{x_e} [y_e - F(x)]dx$$

او يا دا چې مستقيماً احاطه شوی مساحت په مابين $y_e = 4$ او $y = \sqrt{9+x}$ کې تعين کوو:

$$S = \int_0^7 (4 - \sqrt{9+x})dx = \int_0^7 \left[4 - (9+x)^{\frac{1}{2}}\right]dx$$

$$= \left[4x - \frac{2}{3}(9+x)^{\frac{3}{2}}\right]\Big|_0^7 \Rightarrow 4(7) - \frac{2}{3}\left[(9+7)^{\frac{3}{2}} - (9-0)^{\frac{3}{2}}\right]$$

پس توليد کوونکی مازاد عبارت دی، له:

$$= 28 - \frac{2}{3}64 + 18 = \frac{10}{3}$$ (پولي واحد)

دوهمه طريقه

$$y = \sqrt{9+x} \Rightarrow x = y^2 - 9$$

(پولي واحد)

$$S = \int_3^4 (y^2 - 9)dy = (\frac{1}{3}y^3 - 9y)\Big|_3^4 = \frac{10}{3}$$

څلورم مثال: که چېرې د تقاضا تابع $y = 16x - x^2$ او د عرضه تابع y = 2x + 1 وي، تاسې د مصرف کوونکي مازاد د کامل رقابت په وضعيت کې پيدا کړئ؟ [۴]

حل: اول د بازار د تعادل نقطه تعين کوو:

y=y

$$\begin{cases} y = 16 - x^2 \\ y = 2x + 1 \end{cases} \qquad \begin{aligned} &16 - x^2 = 2x + 1 \\ &x^2 + 2x - 15 = 0 \\ &x_e = 3, y_e = 7 \Rightarrow E(3,7) \end{aligned}$$

د بازار د تعادل نقطه عبارت ده له:



د مصرف کوونکی مازاد:

$$S_1 = \int_0^3 (16 - x^2 - 7)dx = \int_0^3 (9 - x^2)dx$$

$$S_1 = 9x - \frac{1}{3}x^3 \Big|_0^3 = 27 - 9 = 18$$ (پولي واحد)

د توليد کوونکی مازاد:

$$S_2 = \int_0^3 (7 - 2x - 1)dx = \int_0^3 (6 - 2x)dx$$

$$S_2 = \left[6x - x^2\right]\Big|_0^3 = 18 - 9 = 9$$ (پولي واحد)

پنځم مثال: که چېرې د تقاضا تابع $y = 16 - x^2$ او د عرضه تابع y = 4 + x وي، تاسې د کامل رقابت په وضعيت کې مربوطه د توليد کوونکي مازاد پيدا کړئ؟ (۲)

حل: اول د بازار د تعادل نقطه تعينوو، څرنګه چې پوهېږو يو بازار هغه وخت د تعادل په حالت کې دی چې د تقاضا او عرضه توابع يې سره مساوي وي، يعنې څومره مواد چې بازار ته عرضه کېږي، په همغه اندازه خرڅېږي، نو د بازار د تعادل د نقطې لپاره ليکو چې:

$$\begin{cases} y = 16 - x^2 \\ y = 4 + x \end{cases} \Rightarrow 16 - x^2 = 4 + x \Rightarrow x^2 + x - 12 = 0$$

$$x_1 = 3, x_2 = -4$$

څرنګه چې $x_2 = -4$ منفي دي، د هغه څخه صرف نظر کوو او د $x_1 = 3$ قيمت د عرضه په تابع کې وضعه کوو، په لاس راځي:

$$x_e = 3, y_e = 7 \Rightarrow E(3,7)$$

د بازار د تعادل نقطه



توليد كوونكی مازاد:

$$S=\int_0^3 (7-(4+x))dx=\left[7x-4x-\frac{x^2}{2}\right]\Big|_0^3$$

$$=7(3)-4(3)-\frac{(3)^2}{2}=21-12-\frac{9}{2}-0=\frac{9}{2}$$ (پولي واحد)

د شرکت ګټه: يو توليدي شرکت يوه د دستګاه اخيستې ده، چې درآمد (عايد) يې په هره لحظه د وخت کې I(t) او لګښت يې په هره لحظه د وخت کې C(t) دی، چې درآمد (عايد) او لګښت منحني ګانې يې په لاندې شکل کې راکړل شوي دي. (۳)



د وخت په هغه فاصله کې چې I(t) > C(t) وي. د شرکت ګټه عبارت ده له: P(t) = I(t) – C(t)، کله چې لګښت او عايد سره مساوي شي يعنې I(t) = C(t) ګټه صفر کېږي، يعنې صفر ته رسېږي P(t) =0. په دې حالت کې T يعنې هغه وخت چې لګښت او عايد سره مساوي وي، ګټه په لاس راځي. T هغه وخت دی چې د ماشين د اخستلو څخه شروع کېږي او تر هغه وخته پورې دوام کوي چې لګښت او درآمد يو د بل سره مساوي شي، که چېرې د دستګاه ګټه په دې زماني فاصله کې وغواړو چې په لاس راوړو، پس لرو چې:

$$\pi = \int_0^T [I_{(t)} - C_{(t)}]dt$$

په دې رابطه کې π د ګټې څخه عبارت دی او دا هغه π نه دی، چې قيمت يې 3,1415 يا 180 درجې وي.

تطبيقي مثالونه:

اول مثال: يو شرکت يو خاص ماشين اخيستی دی، چې حاصل شوی درآمد (عايد) يې ددې ماشين څخه په هره لحظه د وخت کې د $I_{(t)} = 20 - t^2$ رابطې څخه په لاس راځي او همدارنګه لګښت ددې ماشين څخه په هره لحظه د وخت کې د $C_{(t)} = 2 + t^2$ رابطې څخه په لاس راځي. تاسې د شرکت ګټه د اخستلو ددې ماشين څخه په ابتداء د اخستلو کې په کومه اندازه ده او په څه وخت کې ګټه صفر ته رسېږي؟ د شرکت خالصه ګټه په دې زماني فاصله کې څه مقدار ده؟ (۳)

حل:

الف: په ابتداء د اخستلو کې t = 0 ده پس لرو چې:

پولي واحد $C_{(0)} = 2$ لګښت

پولي واحد $I_{(0)} = 20$ درآمد

پولي واحد $P_{(0)} = 20-2=18$ ګټه

ب: هغه وخت ګټه صفر کېږي يا صفر ته رسېږي، چې $I_{(t)} = C_{(t)}$ سره مساوي شي، يعنې:

$$20 - t^2 = 2 + t^2$$
$$2t^2 = 20 - 2$$
$$2t^2 = 18$$
$$t^2 = 9$$
$$t = 3$$

په نتيجه کې د شرکت ګټه هغه وخت صفر کېږي، چې T = 3 سره مساوي شي.

ج: د شرکت ګټه په طی کولو ددې وخت سره برابره ده له:

$$\pi = \int_0^3 (20 - t^2 - t^2 - 2)dt = \int_0^3 (18 - 2t^2)dt = (18t - \frac{2}{3}t^3)\Big|_0^3$$

$$18(3) - \frac{2}{3}(3)^3 = 54 - 18 = 36$$ (پولي واحد)

دويم مثال: د يوه شرکت مدير يو ماشين اخيستی دی، چې د شرکت درآمد (عايد) ددې ماشين په اخيستلو سره د $R_{(t)} = 25 - 0,004t^2$ رابطې په واسطه او د شرکت لګښت نظر دغه ماشين ته د $C_{(t)} = 5 + 0,004t^2$ رابطې په واسطه تخمين شوی دی. شرکت نوموړی ماشين هغه وخت د فعاليت څخه غورځوي، چې لګښت او عايد يې سره برابر شي.

الف: دغه وخت T تعين کړئ؟

ب: د شرکت ګټه د وخت په دې فاصله کې حساب کړئ؟

که چېرې t د مياشتې پر حساب وي. (۳)

حل: الف: ددې وخت T د تعينولو لپاره موږ پوهېږو، چې د شرکت لګښت او عايد هغه وخت سره برابرېږي، چې ګټه صفر شي او ګټه هغه وخت صفر کېږي، چې لګښت $C_{(t)}$ او عايد $R_{(t)}$ سره مساوي شي، يعنې: $R_{(t)} = C_{(t)}$

$$25-0,004t^2 = 5+0,004t^2$$
$$0,008t^2 = 20$$
$$t^2 = 2500$$

میاشتې t = 50 یعنې T = 50 میاشتې وروسته به د شرکت لګښت او عاید سره مساوي شي او ګټه به صفر شي. $(\pi = 0)$

ب: د وخت په دې فاصله کې د شرکت د ګټې د لاسته راوړلو لپاره لرو چې:

$$\pi = \int_0^{50} (25-0,004t^2-5-0,004t^2)dt$$

$$\pi = \int_0^{50} (20-0,008t^2)dt = \left[20-(0,008)\frac{1}{3}t^3\right]\Big|_0^{50} = 20(50)-(0,008)\frac{1}{3}(50)^3$$

=1000-333,333

په نتیجه کې د شرکت ګټه عبارت ده له:

(پولي واحد) 666,666=

درېیم مثال: د t کلونو راهیسې په یو شرکت کې یو ماشین په فعالیت بوخت دی، چې د عاید تابع یې نظر دغه ماشین ته $R_{(t)} = 5,000-20t^2$ ډالره په هر کال کې او د مصرف تابع یې چې په دغه ماشین پورې ارتباط لري، په هر کال کې د $C_{(t)} = 2,000+10t^2$ ډالره څخه عبارت ده، چې د لګښت تابع او د عاید تابع ګراف یې په لاندې شکل کې درکړل شوی دی. (۸)



الف: د دغه ماشین مفید عمر T (د ګټې عمر) په لاس راوړئ؟

حل: الف: د دې لپاره چې د ماشین د ګټې عمر T په لاس راوړو، نو لرو چې:

$$C_{(t)} = R_{(t)}$$
$$2,000+10t^2 = 5,000-20t^2$$
$$30t^2 = 3000$$
$$t^2 = 100$$

t = 10

پس په نتیجه کې د ماشین مفید عمر لس کاله T = 10 دی.

ب: څرنګه چې ګټه په $P_{(t)}$ یا π سره ښودل کېږي، او مساوي کېږي له:

$$P_{(t)} = R_{(t)} - C_{(t)} \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (I)$$

او خالصه ګټه چې ماشین یې په ټاکلي وخت کې لاسته راوړي، دغه ټاکلی وخت عبارت دی له:

$$0 \le t \le 10$$

اوس د ماشین ګټه په دغه ټاکلي وخت کې داسې لاسته راوړو، چې د (I) رابطې څخه په استفاده چې د ګټې څخه عبارت ده، معین انتیګرال نیسو، نظر د ماشین دغه ټاکلي وخت ته، یعنې:

$$\pi = \int_0^T P_t.dt$$

$$= \int_0^T [R_t - C_t]dt$$

$$= \int_0^{10} [(5000 - 20t^2) - (2000 + 10t^2)]dt$$

$$= \int_0^T (3000 - 30t^2)dt$$

$$= (3000t - 10t^3)\Big|_0^{10} = 20000$$

په نتیجه کې د شرکت ګټه په دغه ټاکلي وخت کې عبارت ده له: ډاله $\pi = 20000$

پایله:

له پورته څېړنې دې پایلې ته رسېږو، چې انتیګرال د انسان په ژوند کې یوه مهمه او ضروري موضوع پېژندل شوې او په راتګ سره یې یو زیات شمېر علمي، تخنیکي، اقتصادي او نظري ستونزو د حل لپاره لاره هواره شوې ده. د معین انتیګرال څخه د اقتصاد او تجارت په مختلفو برخو کې کار اخیستل کېږي، لکه مصرف کوونکی مازاد Surplus of consumers، تولید کوونکی مازاد surplus of producers د شرکتونو ګټه د اقتصاد په نورو برخو کې استعمالېږي.

وړاندیزونه:

۱. د معین انتیګرال د ښه پوهېدو لپاره باید د انتیګرال عمومي فورمولونو باندې ښه پوه شو.

۲. د معین انتیګرال خواص باید وڅېړو.

۳. د انتیګرال تطبیق په اقتصاد او تجارت کې د ښه پوهېدو لپاره په اقتصادي علایمو باندې باید پوه شو.

۴. د معین انتیګرال پروګرام باید د مکاتبو په تعلیمي نصاب کې شامل او تطبیق شي.

Abstract:

In this chapter some of formulas, rules and characteristics of definite integral are discussed for the purpose of analysis definite integral though which we can define important t issues in economic and Tralee lilac consumer surplus, prouder surplus, firms protest and their implemental examples. Through the definite integral some of the important issues and their implemental examples are expand in this chapter.

اخځليکونه:

1. صديقي، فيضان الله. (۱۳۹۰ل). رياضيات عالی ۲. اکاډمی ملی نظامی.
2. غوری، محمدانور. (۱۳۸۲ل). رياضيات عالی. کابل پوهنتون- ساينس پوهنځی
3. حسني، محمدي. (۱۳۸۷ل). رياضيات عالی. موسسه انتشارات خاور
4. کاظمی، محمدحسين پور. (۱۳۸۹ل). رياضيات برای اقتصاد و منتشرات. تهران
5. کاظمی، محمدحسين پور. (۱۳۹۱ل). رياضيات عمومی و کاربردهای آن. تهران

6. D.Hoffmann, Braddey, Geracefl. Calculus for business Economics and the social life sciences, Third Edition Mc Grawttill, New York

7. Finny, Thomes. (2005). Thomas Calculus 11 Edition pearson Addison wasley, New Yark

8. Omarzai, Usman Ali. (2010). Alculus & Analytic Geometry. Part-1 Peshawar.

پوهنمل محفوظ الله (عارفي)
پوهندوی نقيب الله (ثاقب)
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
جزا او جنايي علومو څانګه

د اختلاس جرم پېژندنه

لنډيز:

د يوې ټولنې رغښت او پرمختګ په همدې کې نغښتی، چې څنګه پر خپلو مذهبي او ملي بنسټونو ودرېږي او د ټولنې وګړي دغو بنسټونو ته ژمن پاتې شي، خو کله چې دولتي کارکوونکي او د عامه خدماتو مامورين د وظيفې د اجرا په وخت کې په بيت المال يا د اشخاصو په هغو اموالو چې دوی ته د وظيفې په توګه ورسپارل شوي وي د حد څخه تېری وکړي، نو په ټولنه کې فساد، ظلم او ناروا، ګډوډي او کړکېچونه را منځته کېږي؛ نو له دې امله مې پدې مقاله کې د اختلاس د جرم په اړه معلومات ځای پر ځای کړي، او هم پکې پدې بحث شوی، چې که څوک د دې جرم مرتکب شي، د کومو عواقبو سره مخامخېږي.

سريزه:

اختلاس د دولتي کارکوونکو او عامه خدماتو د مامورانو هغه تجاوز يا د حد څخه تېری دی، چې د وظيفې د سرته رسولو په وخت کې يې په عمومي اموالو، بيت المال يا د اشخاصو په هغو اموالو کې چې دوی ته سپارل شوي وي، ترسره کوي. اختلاس په امانت کې د خيانت يو ځانګړی ډول دی او د اختلاس اختلاف د خيانت سره په دې کې دی، چې د اختلاس د جرم مرتکب به حتمي دولتي مامور وي او اختلاس به دولتي مالونو يا د اشخاصو په هغو مالونو کې چې دولت سره په امانت ايښودل شوي وي، تر سره کوي. د يادونې وړ ده، چې د مقالې لومړۍ برخه چې د اختلاس د جرم څېړنه ده، په بشپړه توګه د پوهنمل محفوظ الله (عارفي) له خوا څېړل شوې، او د مقالې د مرکو او د ذيصلاح ارګانونو څخه د معلوماتو راټولولو برخه د پوهندوی نقيب الله (ثاقب) له خوا بشپړه شوې ده.

موخې:

- د قانون په رڼا کې د ټولنې ټولو افرادو ته د اختلاس جرم معرفي کول.
- د اختلاس جرم د له منځه وړلو لارو - چارو په ګوته کول.

مواد او کړنلاره:

د څېړنې بڼه کتابتوني او ساحوي ده؛ په ليکنيزه برخه کې يې د معتبرو منابعو او اثارو څخه استفاده شوې ده، او دغه راز د دويمې برخې د بشپړتيا په موخه د يو شمېر قضايي او امنيتي ارګانونو د مسوولينو سره مرکې شوي او بيا په سيستماتيک ډول په مقاله کې ځای پرځای شوي دي.

د اختلاس پېژندنه:

لکه چې مخکې مو ترې يادونه وکړه، اختلاس په امانت کې د خيانت د جرم يو شکل دی او د هغو جرايمو د جملې څخه دی، چې مرتکب به يې لازماً دولتي کارکوونکی وي، نو په لاندې ډول لومړی د هغه لغوي تعريف او ورپسې اصطلاحي تعريف کوو.

الف- د اختلاس لغوي تعريف: اختلاس په لغت کې هرڅومره زر په عجله او تېزۍ سره د يو شي د نيولو په معنی ده او همدارنګه د مناسب وخت څخه د ګټې پورته کولو په معنی ده او په فقه کې د غير محرز ځای څخه د مال اخستلو په معنی ده. يا اختلاس په لغت کې د يو شي، يا مال او يا پيسو د ترلاسه کولو په معنی راځي، که دا مال يا پيسې د دولت وي، او يا هم د اشخاصو پورې اړه ولري.

ب- د اختلاس اصطلاحي تعريف: په حقوقي لحاظ کولای شو اختلاس داسې تعريف کړو، چې اختلاس د دولتي کارکوونکي لخوا په سؤ نيت سره په خپله يا د بل په نفع د هغه دولتي يا شخصي مال د وړلو او تصاحب (د ځان) کولو څخه عبارت دی، چې د وظيفې د حکم په اساس د هغه په واک کې ورکړل شوی وي، او يا همدارنګه په دولت يا بيت المال پورې د اړوند مال يا پيسو او يا د هغه شيانو چې دولتي مامور يا د عامه خدمتونو رسمي يا غير رسمي مامور ته سپارل شوی وي، وړلو او تصاحب (د ځان کولو) ته اختلاس ويل کېږي. د جزا د حقوقو له مخې اختلاس د هغه مال، شيانو چې په دولت پورې اړوند وي (بيت المال) يا افردو د مالي وجوه د تصاحب څخه عبارت دی، چې د عامه خدمتونو موظفينو يا دولتي کارکوونکو ته د دندې په توګه سپارل شوي او يا هم په يو ډول د هغه په واک کې ورکړل شوي وي.(۴)

که وروستي تعريف ته په ځير وګورو، په حقيقت کې يې دوه ډوله اختلاس بيان کړی؛ يو هغه ډول چې شخص په هغه مالونو کې چې د دندې په توګه ورته سپارل شوی، په اختلاس لاس پورې کړي؛ او بل هغه ډول چې شخص په يو ډول د دولت مالونو ته لاسرسی لري او په هغه کې په اختلاس لاس پورې کوي.

د اختلاس جرم ځانګړتياوې:

د اختلاس د جرم تعريف او متشکله عناصرو ته په کتو سره د دولتي کارکوونکو دا ډول خيانت په پيسو، مالونو او يا اشخاصو پورې اړوندې ځينې ځانګړتياوې لري، چې په لاندې ډول دي:

الف- د دولت کارکوونکو ته د مال سپارلو له پلوه: د اختلاس د جرم د تحقق د ځانګړتياوو څخه يوه دا هم ده، چې مال يا د جرم موضوع به دولتي مامور ته يا د دولتي مؤسساتو مامور ته د دولت يا حقيقي اشخاصو لخوا د وظيفې له مخې سپارل شوې وي، نو بنا پر دې کله چې د دولتي کارکوونکي دنده هغه ته د مال د سپارلو غوښتونکې نه وي، ولې بيا هم مال هغه ته د قانوني مقرراتو يا اداري نظم خلاف تسليم شوی وي، نو که دا کارکوونکی نوموړی مال تصاحب کړي، دده دا عمل د اختلاس د جرم د تحقق موجب نه ګرځي.

ب- د جرم د موضوع له پلوه: د مالونو درجو او شکلونو ته په کتو سره غيرمنقول اموال د اختلاس د جرم موضوع نشي کېدای؛ ولې په منقولو اموالو کې په لومړي قدم کې د اختلاس په موضوع کې ټول هغه مالونه شامل دي، چې په دولت او بيت المال پورې اړه لري، لکه پيسې، طلبات (غوښتنې)، اسهام (ونډې)، اسناد او ارزښت لرونکې پاڼې، ولو که دا يادشوي شيان د دولت په هر سازمان يا موسسې پورې اړه ولري. په دويم قدم کې د اختلاس د جرم په موضوع کې هغه مالونه شامل دي، چې په حقيقي اشخاصو پورې مربوط وي او دولتي کارکوونکو يا د عامه خدمتونو رسمي يا غير رسمي مامورينو يا د هغه شرکتونو او مؤسساتو کارکوونکو ته کوم چې د دولت په دوامداره کومک سره اداره کېږي، سپارل شوي وي.

ج- د جرم د مرتکب له پلوه: د اختلاس د جرم د ځانګړتياوو څخه يوه مهمه ځانګړتيا دا هم ده، چې د اختلاس د جرم مرتکب بايد دولتي کارکوونکی وي، که هغه رسمي وي يا قراردادي يا پيماني وي، نو بنا پر دې که د خصوصي شرکتونو کارکوونکي د شرکت په مال کې خيانت وکړي او يا نور هغه عادي اشخاص چې په مختلفو دلايلو دولتي مالونه د هغه په اختيار کې ولوېږي او هغه يې تصاحب کړي، نوموړي کسان اختلاس کوونکي نه ګڼل کېږي. په همدې ترتيب کله چې يو دولتي کارکوونکی هغه مالونه چې د وظيفې په اساس ده ته سپارل شوي وي، يو بل غير دولتي کارکوونکي ته د تصاحب لپاره ورکړي، نو دا غيردولتي کارکوونکي ته اختلاس کوونکی نشو ويلای؛ ولې که ده همدې غيردولتي کارمند دا عمل د دولتي کارکوونکي د اختلاس د اسانتيا په معنی وي، نو د اختلاس د مرستيال په حيث د هغه محکومول ممکن دي.

د- د اختلاس جرم د ارتکاب د څرنګوالي له پلوه: د اختلاس جرم د ځانګړتياوو څخه يوه دا هم ده، چې د اختلاس کوونکي فزيکي کړنې بايد د مال د ځان کولو په شکل تحقق پيدا کړی وي؛ په دې معنی چې دولتي کارکوونکي به په دولتي مالونو او عامه شتمنۍ او يا د حقيقي اشخاصو په مالونو باندې کوم چې ده ته سپارل شوي، په ناروا ډول سلطه کړې وي، پرته له دې چې نوموړي کارکوونکي د همدې مال څخه په خپله نفع ناسمه ګټه اخلي يا د بل چا په نفع.

هـ- اختلاس يو قصدي مقيد جرم دی: د اختلاس د جرم يوه ځانګړتيا دا هم ده، چې اختلاس يو قصدي جرم دی او په دې باندې مقيد دی، چې د اختلاس د جرم په نتيجه کې به ضرر رامنځته کېږي، يعنې د اختلاس جرم هغه وخت تحقق پيدا کوي، چې دولتي کارکوونکی په سوء نيت او د خيانت په قصد عامه شتمني يا پيسې او يا په اشخاصو پورې مربوط مالونه کوم چې ده ته سپارل شوي، په ناروا توګه په خپله نفع يا د بل په نفع واخلي او په پايله کې دولت يا د مال خاوند ته د ضرر او تاوان سبب وګرځي، نو په دې اساس ويلای شو، چې د اختلاس په جرم کې د بل چا ضرر او زيان همېشه د پاملرنې وړ دی. (۵)

د اختلاس د جرم موضوع:

د هر جرم موضوع هغه شی وي، چې په هغه جرم واقع کېږي، او د هر جرم لپاره ضروري ده، چې موضوع ولري. د ايران اسلامي جمهوريت د مجازاتو د تشديد قانون په (۵) ماده کې د اختلاس د جرم موضوع يو د لاندې شيانو څخه ياد کړی دی:

الف- وجوه: وجوه جمع د وجه ده او وجوه د پيسو په معنی ده او منظور ترېنه هر ډول پيسې دي، که کاغذي پيسې (بانک نوټ) وي، يا فلزي پيسې (سکې) وي، همدارنګه که هغه داخلي پيسې وي، يا خارجي وي. په دې ځای کې د وجوه څخه منظور هغه هر ډول نغدې پيسې دي، چې دولت يې د تنخوا يا د اداراتو د خزانو د مصرف لپاره د کلنۍ بودجې په عنوان د دولت د حسابداري او مالي مامورينو په واک او اختيار کې ورکوي.

ب- حواله: حواله هغه اجازه ده، چې د وزارتخانې د جواز لرونکي مقام يا دولتي موسسې يا دولتي شرکت يا د محلي اجراتو دستګاه يا غيردولتي عمومي بنسټونو يا نورو اجرايوي دستګاه ګانو په وسيله په ليکلي ډول د تعهداتو د ورکړې او د سپارلو وړ پيسو لپاره د اعتبار د هغه ځای څخه چې د حساب د خاوندانو په ذمې پورې اړه لري، د ګټې د خاوند په وجه صادرېږي.

ج- مطالبات: مطالبات د مطالبې جمع ده او مطالبه د بل چا څخه د خپل شي يا حق غوښتلو ته وايي، نو د دولت مطالبات هغه څه دي، چې د عوامو څخه يې راټولوي، لکه ماليه، تکس او داسې نور.

د- اسهام (ونډې): د تجارت په حقوقو کې سهم د هغې پاڼې څخه عبارت ده، چې په يو شرکت کې د خپل خاوند د ونډې اندازه په ګوته کوي.

هـ- اسناد او ارزښت لرونکې پاڼې: اسناد او ارزښت لرونکې پاڼې د هغو پاڼو څخه عبارت دي، چې په يوه موسسه يا درازمدته پورونو کې د ګډون ښکارندويي کوي او د معاملې وړ وي. دا ورقې چې اغلباً په بورس (بورس د ارزښت لرونکو پاڼو د پلورلو او پېرودلو ځای، هغه ځای چې سوداګران او دلالان د معاملې او راکړې ورکړې لپاره پکې راټول شوي وي) کې هم ورباندې معامله کېږي، چې دا ورقې د بورس د ورقو په نوم هم يادېږي.و- هغه نور مالونه چې په قانون کې ذکر شوي دي: د مالونو په هکله چې کوم مهم سوال مطرح کېږي، هغه دادی چې ايا اختلاس يوازې په منقولو اموالو کې ترسره کېږي او که په غير منقولو اموالو کې هم ترسره کېدای شي؟؛ په دې برخه کې د حقوقپوهانو ترمنځ د نظر بېلوالی شتون لري. يوه ډله حقوقپوهان په دې عقيده دي او وايي چې که موږ پورتنيو مواردو ته وګورو، لکه (وجوه، حواله، مطالبات، سهمونه، ارزښتمنې پاڼې او اسناد) هر يو د همدې څخه د منقولو اموالو تصديق کوي او همدارنګه که د مجازاتو د تشديد قانون په پنځمه ماده کې د (نورو اموالو (سايرِ اموال)) قيد راوړلو ته وګورو، کاملاً يې دا مشخصه کړې ده، چې د اختلاس موضوع هر ډول منقول اموال دي. همدارنګه د ايران د هېواد حقوقي ادارې هم د ۱۳۷۳/۷/۲۴ هـ ش نېټه په ۴۲۱۸ ګڼه نظريه کې داسې نظر ښکاره کړی دی، چې اختلاس په غير منقولو اموالو کې نشي شاملېدای او يوازې په منقولو پورې خاص ده. ولې بله ډله حقوقپوهان بيا داسې نظريه او عقيده لري او وايي چې شايد دا نظريه په وخت او زمان پورې اړه ولري او هغه وخت د منلو وړ ده، چې هلته داسې تصور موجود وي، چې په امانت کې د خيانت جرم (چې اختلاس د هغه يو ډول دی) د داسې يو جرم په عنوان وګڼي، چې يوازې دا جرم په منقولو اموالو کې د تحقق وړ وي؛ حال دا چې د اسلامي مجازاتو قانون په ۶۷۴ ماده کې په صراحت سره دا واضح کړې ده، چې په امانت کې د خيانت جرم په منقولو او غيرمنقولو اموالو دواړو کې شامل

دی. نو دلته داسې کوم دليل نشته، چې هغه دې اختلاس يوازې تر منقولو اموالو پورې محدود کړي، په خاص ډول د مجازاتو د تشديد قانون، چې په پنځمه ماده کې د نورو مالونو (سايرِ اموال) د عبارت څخه يادونه کړې ده، نو د مال کلمه يوه عامه کلمه ده او منقول- غير منقول دواړو ته شاملېږي. دا دويمه نظريه قضايي رويې هم منلې ده او د قانون د نص سره هم جوړجاړی لري. (۵)

د اختلاس کوونکي اداري موقف:

اختلاس د هغو جرايمو له جملې څخه دی، چې د هغې مرتکب بايد حتماً دولتي کارکوونکی يا د عامه خدمتونو مامور وي، چې په دې کې لاندې کسان شامل دي:

الف- د دولت کارکوونکي (رسمي، قراردادي او ورځني تنخوا وال) چې په لاندې ډول دي:

1. د دولت يا دولت پورې تړلو ادارو کارکوونکي او کارمندان
2. د شوراګانو، سازمانونو او ښاروالیو کارکوونکي او کارمندان
3. د دولتي يا دولت پورې د تړلو مؤسساتو کارکوونکي او کارمندان
4. د دولتي يا دولت پورې د تړلو شرکتونو کارکوونکي او کارمندان

ب- د غير دولتي مؤسسو او عمومي بنسټونو کارمندان:

1. د عمومي محاسبو د ديوان کارکوونکي او کارمندان
2. د هغو مؤسساتو کارکوونکي، چې د دولت په دوامداره کومک سره اداره کېږي

ج- د قضايي او غير قضايي پايو لرونکي:

1. د قضايي پايو لرونکي (سره له دې چې د عامه دارايۍ څخه يې غلطه استفاده کړې وي).
2. د قضايي مراجعو کارکوونکي (سره له دې چې د عامه دارايي څخه يې غلطه استفاده کړې وي).

د- د مسلحو قواوو کارکوونکي:

1. د مسلحو قواوو دايمي مؤظفين
2. د مسلحو قواو مؤقت کارکوونکي (۲)

د اختلاس د جرم متشکله عناصر:

څرنګه چې پوهېږو هر جرم د متشکله عناصرو لرونکی دی او دا متشکله عناصر بيا د هر جرم په دوه ډوله دي، چې يو عمومي متشکله عناصر او بل خصوصي متشکله عناصر دي، چې عمومي متشکله عناصر عبارت دي له قانوني، مادي او معنوي عناصرو څخه؛ دا متشکله عناصر په هر جرم کې شتون لري او په ټولو جرايمو کې يو شان دي. دويم يې خصوصي متشکله عناصر دي، چې دا عناصر د هر جرم لپاره مختلف دي او د هر جرم د جرمي وصف تعين د همدې خصوصي متشکله عناصرو په واسطه کېږي، او په اصل کې د جرم دا ډول عناصر د جرم د مادي عنصر د اجرا د څرنګوالي او د مرتکب د عمل او د هغې د نتيجې تر منځ د علت او سببيت د رابطې څخه عبارت دی؛

نو د اختلاس عمل هم د يو جرم په حيث د متشکله عناصرو لرونکی دی، چې د نوموړي جرم متشکله عناصر په لاندې ډول څېړو.

قانوني عنصر: لکه څرنګه چې پوهېږو هر وخت چې د يو عمل کول يا نه کول د قانون په واسطه منع شوي وي او د هغه د ارتکاب په صورت کې ورته مجازات ټاکل شوي وي، نو د داسې عمل کول يا نه کول جرم ګڼل کېږي، چې دې ته د جرم قانوني عنصر ويل کېږي. بناءً قانوني عنصر يو د هغه تر ټولو ارزښتناکه عناصرو څخه دی، چې د جرمونو او جزاګانو په ساحه کې فوق العاده زيات ارزښت لري. دغه عنصر د هغو عناصرو د ډلې څخه دی، چې د هغه نشتوالی د فعل د اباحت او ترک سبب کېږي. لکه څرنګه چې پوهېږو د افغانستان د جزا د قانون ۳۷ مادې د جرم قانوني عنصر (په قانون کې د جرمي اعمالو او د هغوی د جزاګانو تصريح) تعريف کړی دی. که چېرې دغه موضوع د اختلاس د جرم په اړه په پام کې ونيول شي، د اختلاس جرم، جزاګانې او د هغه اړونده نورې موضوعګانې د افغانستان د جزا د قانون په ۲۲۸ _ ۲۷۴ مادو کې په واضح

توګه تصريح شوې دي؛ له دې کبله د دغه موادو د مندرجو اعمالو د ارتکاب په صورت کې شخص د اختلاس په جرم مرتکب ګڼل کېږي، نو په دې موادو کې د ټاکل شويو مجازاتو مستوجب کېږي. د جزا قانون په ۲۲۸ ماده کې داسې صراحت لري: (د عمومي خدمتونو هر مؤظف چې د دولت يا افرادو مالونه چې د وظيفې له حيثه ورته سپارل شوي وي، اختلاس يا پټ کړي، په اوږد حبس چې د لسو کلونو زيات نه وي، محکومېږي). همدارنګه که د ايران قوانينو ته وګورو، اختلاس يې تعريف کړی او هغه يې يو جرمي عمل ګڼلی او مجازات يې ورته پيشبيني کړي دي. د مثال په ډول د ياد شوي هېواد يو قانون چې د کلاهبرداري، اختلاس او رشوت د مرتکبينو د مجازاتو د شديد قانون په نوم يادېږي، ددې قانون په پنځمه ماده کې د اختلاس په اړه داسې صراحت موجود دی: (د دولتي اداراتو او سازمانونو يا شوراګانو يا ښاروالیو يا دولتي يا د دولت پورې د تړل شويو موسساتو او شرکتونو يا د انقلابي بنسټونو او د محاسباتو د ديوانونو يا د هغو موسسو چې د دولت په دوامداره کومک اداره کېږي، يا د قضايي پايو لرونکي يا په ګڼلي ډول د درې ګونو او مسلحو قواوو يا د عامه خدمتونو رسمي يا غير رسمي هر يو کارکوونکي چې د پورته ذکر شوې هرې موسسې يا سازمان وجوه، مطالبات يا حوالې يا اسهام يا ارزښت لرونکې پاڼې او اسناد او نور هغه مالونه چې په پورته ذکر شويو موسساتو او سازمانونو پورې مربوط وي، او يا د اشخاصو هغه مالونه چې د وظيفې په اساس نوموړي مامور ته سپارل شوي وي، په خپله نفع يا د بل چا په نفع واخلي او د ځان يا د هغه يې کړي، اختلاس کوونکی ګڼل کېږي او په دې ډول مجازات کېږي، چې که چېرې د اختلاس اندازه تر پنځو سوو زرو ريالو پورته وي، نو مرتکب يې د شپږو مياشتو څخه تر درې کالو پورې په حبس او د شپږو کالو څخه تر دريو کالو په موقت ډول له دندې څخه په ليرې کولو، او که د همدې مبلغ څخه زيات وي له دوه څخه تر لسو کالو په حبس او په دايمي ډول د دولتي خدمتونو څخه په ليرې کولو او په دواړو مواردو کې د پيسو يا مال په ردولو علاوه اختلاس کوونکی د نوموړي مال په دوه برابره نغدي جزا باندې محکومېږي.

مادي عنصر: د جرمونو د متشکله عناصرو د جملې څخه يو مادي عنصر دی، دغه عنصر په حقيقت کې خپله د جرمي عمل د اجراء سره مرتبط دی. دغه عنصر د جرم په ارتکاب کې د علت او سببيت پر اړيکه متمرکز دی، داسې چې که چېرې د شخص د عمل او د ترلاسه شوې نتيجې تر منځ هيڅ اړيکه موجوده نه وي، شخص د دغې نتيجې مسئوليت نلري. د جرمي عمل د مادي عنصر په اړه د افغانستان د جزاء د قانون ۲۷ ماده داسې صراحت لري: (د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل ارتکاب يا امتناع ده، په داسې توګه چې عمل د جرمي نتيجې باعث شي او د عمل او نتيجې تر منځ د عليت او سببيت اړيکه موجوده وي). (۳)

دغه تعريف په ظاهره جامع او کامل دی، مګر که په ځير سره وکتل شي، پکې يوه ګڼلي نيمګړتيا شته او هغه دا چې د قانون د مخالف عمل څخه يې امتناع هم جرم ګڼلې ده؛ په داسې حال کې چې د قانون مخالف عمل څخه امتناع جرم نه دی. له دې کبله د دغه عبارت په ځای کولای شو د هغه عمل څخه امتناع چې قانون يې د کولو حکم کړی دی، ځای پرځای کړو. د افغانستان د جزا د قانون په اساس کله چې د عامه خدمتونو يو موظف د دولت يا اشخاصو هغه مالونه چې ده ته د وظيفې د حيثه سپارل شوي وي، عملاً اختلاس يا پټ کړي، نو مادي عنصر تحقق پيدا کوي، يعنې د اختلاس مرتکب به د عامه خدمتونو موظف وي؛ خو څرنګه چې د اختلاس د خصوصياتو په اړه مو مخکې وويل په ښه ډول دا نتيجه لاسته راځي، چې د اختلاس د جرم د مادي عنصر تحقق په ځينو شرايطو پورې اړه لري، په خاص ډول د جرم د مرتکب د موقف او همدارنګه د د اختلاس د موضوع د څرنګوالي او په ناروا ډول به يې دولتي منقول اموال يا شخصي اموال په خپل تصرف کې راوستي وي. همدارنګه د اختلاس د جرم د تحقق لپاره اړينه ده، چې د اختلاس موضوع يا مال بايد پخوا د جرم د ارتکاب څخه ارتکاب کوونکي ته تسليم يا سپارل شوې وي او دا تسليمي به هم د وظيفې په اساس وي، چې دا شرايط په لاندې ډول ذکر کوو.

لومړی جز- مال به د دولتي مامور په اختيار کې ورکړل شوی وي: له دې څخه مطلب دادی، چې مال به مامور ته په حقيقي (مادي) ډول يا حکمي او اعتباري ډول تسليم شوی وي. د مال مادي تسليمي په حقيقت کې هغه ده، چې مال په مادي ډول د تسليموونکي څخه تحويلوونکي ته نقل شي؛ په داسې حال کې چې په اعتباري يا حکمي تسليمۍ کې مال د خاص قانون د احکامو په اساس د دولتي مامور يا مستخدم تر تصرف او اختيار لاندې راځي. د مثال په ډول کله چې د يوې تحويلخانې کيلي تحويلدار ته ورکړل شي، دا پدې معنی ده، چې په تحويلخانه کې ټول مالونه نوموړي ته وسپارل شول.

دويم جز- مال به دولتي مامور ته په قانوني ډول تسليم شوی وي: د مال تسليمي بايد په صحيح ډول او د قانون په چوکاټ کې وي، نو که چېرې يو مامور د قانوني ضوابطو څخه دباندې يو څوک ځانته ته د مال په تسليمولو واداره کړي او د مال خاوند هم د اکراه او جبر په نتيجه کې د مال تسليمولو ته حاضر شي او بيا وروسته نوموړی مامور هغه مال تصاحب (دځان) کړي، نو دده دا عمل به يوازې د بل څخه په زور د مال اخستل وي، نه اختلاس.

دريم جز- مال به دولتي مامور ته د وظيفې په اساس سپارل شوی وي: د اختلاس د جرم د تحقق لپاره يو مهم شرط دادی، چې د اختلاس موضوع (مال) به د وظيفې مطابق د دولتي کارکوونکي په اختيار کې ورکړل شوی وي؛ يعنې د مال د تسليمولو او د کارکوونکي د شغل او وظيفې (په کوم چې دی ګومارل شوی دی) تر منځ به د سببيت رابطه موجوده وي. نو ځکه ويلای شو، چې که چېرې يو مامور هغه مال او پيسې چې بل مامور ته د وظيفې په اساس سپارل شوې وي، يوسي او د ځان يې کړي، د هغه دا عمل سرقت ګڼل کېږي، نه اختلاس. همدارنګه که يو مامور هغه مال او پيسې چې ده ته د وظيفې په اساس سپارل شوي دي، خپل همکار ته چې په دې ځای کې د امانتداری قانوني وظيفه نه لري، د څو ساعتونو لپاره وسپاري او همدا دده همکار يادشوی مال د خپل ځان کړي، د همدې سړي دا عمل په امانت کې د خيانت جرم دی، نه اختلاس. همدارنګه هغه کسان چې بې د حقوقو او مزاياوو د لاسته راوړلو او بې د استخدام د اړيکې څخه په دولتي شرکتونو او سازمانونو کې مشغول وي او د مال د وړلو او تصاحب مرتکب شي، صرف په همدې مشغولتيا سره په امانت کې د خيانت په جرم کې شامل دی، نه اختلاس. او که چېرې اختلاس کوونکی د اختلاس مال په بل چا باندې خرڅ کړي، نو موږ نشو کولای د اختلاس کوونکي دې جرم ته بل وصف ورکړو، او همدارنګه د اخستونکي عمل هم په جرم کې کومک کول ندي، ځکه مخکې له دې چې د اختلاس مال خرڅ شي د اختلاس جرم کاملاً تحقق پيدا کړی دی؛ او کومک هغه ته ويل کېږي، چې د جرم په وقوع کې اسانتيا رامنځته کړي، په داسې حال کې چې دلته د اختلاس د مال اخستل د جرم په وقوع کې کوم کومک نکوي او له بلې خوا د اخستونکي عمل هم کومه جزا نلري، مګر په هغه صورت کې چې په دې علم ولري، چې دا مال د اختلاس ده او په نامشروع ډول ترلاسه شوی.

څلورم جز- مال به يا د دولت وي، يا به دولت ته په امانت سپارل شوی وي: د اختلاس وړ مال به يا د دولت وي، يا به هغه مال وي چې د خصوصي اشخاصو وي او دولت ته به د امانت په ډول سپارل شوی وي. دولتي مالونه هغه دي، چې د هېواد د عمومي بودجې څخه تهيه شوی وي او د دولت د درې ګونو قواوو او دولتي موسساتو او شرکتونو په واک کې وي.

پنځم جز- د اختلاس د جرم موضوع بايد مشخص اموال وي: د جرم موضوع هغه شی وي، چې په هغه باندې جرم واقع کېږي او هر جرم بايد لازماً موضوع ولري، چې د اختلاس د جرم موضوع د ايران د هېواد د رشوت، اختلاس او کلاه برداری د مرتکبينو د مجازاتو د تشديد قانون په **۵** ماده کې لاندې شيان ښودلي دي:

۱_ وجوه (پيسې) ۲_ حواله ۳_ اسهام ۴_ ارزښت لرونکې پاڼې او اسناد **۵**_ نور په قانون کې ذکر شوي مالونه (۷)

د اختلاس د جرم معنوي عنصر: په دولتي مالونو او شيانو کې د اختلاس جرم يو قصدي عمل پېژندل شوی دی او ددې جرم مرتکب به د عمل کولو په وخت کې سوء نيت لري، يعنې په خپله نفع يا د بل چا په نفع به د مالونو او شيانو د وړلو او تصاحب نيت او قصد لري او همدارنګه د همدې مال د تصاحب او وړلو څخه به نوموړي ته ګټه او د دولت مالونو او شيانو ته ضرر رسېدلی وي، يعنې دده د عمل او نتيجې د لاسته راوړلو (چې هغه د مال لاسته راوړل دي) تر منځ به د علت او سببيت رابطه موجوده وي. يا په دې ډول ويلای شو، چې د اختلاس د قصدي جرم د تحقق لپاره دا ضروري ده، چې دولتي کارکوونکي به د دولت يا اشخاصو مالونه کوم چې د وظيفې په اساس ورته سپارل شوي، په موقت يا دايمي ډول په سوء نيت سره اخستي او خپل کړي وي، او که چېرې نوموړی بې د سوء نيت څخه همدا ياد شوي مالونه چې ده ته د وظيفې په اساس سپارل شوي دي، يوازې د حفاظت په خاطر د يو ځای څخه بل ځای ته نقل کړي، نو د نوموړي دا عمل د سوء قصد د نشتوالي په اساس د اختلاس په جرم کې نه حسابېږي. همدارنګه د يادولو وړ ده، چې د اختلاس د جرم د تحقق لپاره د اختلاس په اساس د دولت يا د مال د خاوند ضرر شرط دی، ولې اختلاس کوونکي ته ګټه رسېدل شرط ندي، ځکه کېدای شي د نوموړي ددې جرمي عمل څخه يو دريم شخص ګټه پورته کړي؛ نو په دې اساس که چېرې دولتي يا په اشخاصو پورې اړونده مالونه کوم چې د دولتي کارکوونکي په لاس کې امانت دي، د نوموړي د بې احتياطۍ يا بې پامۍ او يا په سنجش او محاسبه کې د اشتباه او

داسې نورو په اساس تلف يا د منځه لاړ شي، دده دا عمل اختلاس نه ګڼل کېږي، بلکې کېدای شي د نوموړي لپاره د اداري او انتظامي مسؤليت باعث وګرځي. په دې دليل چې د اختلاس په جرم کې بايد لازماً د مال د خپلولو او د له منځه وړلو لپاره د کارکوونکي عام قصد او بل ته په ضرر رسولو کې خاص قصد موجود وي.

د اختلاس د جرم مجازات:

څرنګه چې پوهېږو د هر جرم په مقابل کې د ټولنې له لوري ټولنيز غبرګون ښودل کېږي، چې د ټولنې هغه نظم چې د جرم په واسطه ګډوډ شوی، بېرته اعاده شي، چې دا عکس العملونه بيا د يو ځانګړي جرم لپاره نظر د هرې ټولنې د عقايدو، جوړښت، عرف او عاداتو ته مختلف وي. څرنګه چې اختلاس د دولتي کارکوونکو له خوا د اموالو په ضد جرايمو څخه يو د مجازاتو وړ جرم دی، چې مجازات يې هم په هره ټولنه کې يو څه توپير لري، چې موږ د اختلاس د جرم مجازات لومړی د خپل هېواد د قوانينو او په دويم قدم کې د ايران هېواد د قوانينو په رڼا کې تشريح کوو.

د افغانستان د قوانينو په اساس د اختلاس د جرم مجازات:

د افغانستان د جزا په قانون کې د اختلاس د جرم لپاره د ۳۲۸ _۳۷۳ مادې پورې نظر د جرم اجرا ته مختلفې جزاګانې پيشبيني شوې دي، چې په هغې کې د نوموړي جرم لپاره هم اصلي او هم تکميلي جزاګانې پيشبيني شوي، چې دواړه په لاندې ډول تشريح کوو.

د اختلاس د جرم اصلي جزاګانې:

لومړی: د افغانستان د جزا د قانون په ۳۲۸ ماده کې د اختلاس د جرم لپاره داسې جزا پيشبيني شوې ده:

۱- د عامه خدمتونو هر موظف چې د دولت يا افرادو مالونه چې د دندې په توګه هغه ته سپارل شوي، اختلاس يا پټ کړي، په اوږد حبس چې له لسو کالو نه زيات نه وي، محکومېږي. (۳)

۲_ که په پورتنۍ فقره کې مندرج جرم د خزانه دار، تحويلدار، تحصيلي مامور، صراف، د پطرولو د مامور، د شکر د مامور، ګودام دار، نقدي او جنسي معتمدين او د ارزاقو موظفين او نورو هغو اشخاصو له خوا چې د دندې په توګه د اختلاس شويو يا پټ شويو شيانو په ساتنه مکلف دي، مرتکب شي، په اوږد حبس محکومېږي. که د پورتنۍ مادې لومړۍ او دويمې فقرې ته پاملرنه وکړو ليدل کېږي، چې دواړه په حقيقت کې داسې حالت بيانوي، چې په هغه کې مرتکب د داسې مالونو په اختلاس لاس پورې کوي، چې د دندې په اساس هغه ته سپارل شوي وي؛ مګر که چېرې د هرې فقرې متن ته پام وکړو ،د دوی تر منځ دوه توپيرونه ليدلای شو:

الف: دا چې لومړۍ فقره د دويمې فقرې په پرتله عامه ده، ځکه لومړۍ فقره يوازې د دغه قيد (د دندې په اساس هغه ته سپارل شوي وي) ذکر کړې ده، په داسې حال کې چې دويمې فقرې د ځانګړو دندو لرونکي ذکر کړي دي.

ب: دا چې لومړۍ فقرې د مرتکب لپاره جزا اوږد حبس ټاکلی، مګر په هغه کې يې (له لسو کلونو نه زيات نه وي) قيد ذکر کړی، په داسې حال کې چې په دويمه فقره کې يوازې د اوږد حبس کلمه ذکر شوې، پرته له دې چې کوم قيد پرې وضعه شوی وي، له دې کبله امکان لري چې د دغه مادې په دويمه فقره کې د ذکر شويو اشخاصو لپاره مجازات تر ۱۵ کلونو پورې ورسېږي. (۳)

دويم: د افغانستان د جزا قانون په ۳۲۹ ماده کې د اختلاس د جرم لپاره داسې جزا پيشبيني کړې ده: (د عامه خدمتونو هر موظف چې پيسې، ارزښتناکې پاڼې، امتعه، د دولت د ملکيت نور مالونه پرته د حقه تر خپل مالکانه تصرف لاندې راولي، په منځني حبس محکومېږي). په دې ماده کې ليدل کېږي، چې لومړی د دولت د مالونو نوم اخستل شوی، يعنې که چېرې هغه مالونه چې د عامه خدمتونو د موظف له خوا د مالکانه تصرف لاندې راغلي وي او دغه مالونه د دولت ملکيت نه وي، په هغه صورت کې د اختلاس د جرم تحقق امکان نلري؛ همدارنګه په دې ماده کې د مالکانه تصرف قيد راغلی دی، ددغې مادې د حکم په اساس که چېرې شخص ددغه مادې د مندرجو مالونو او شتمنيو په اتلاف لاس پورې کړي، د اختلاس په جرم مرتکب نه ګڼل کېږي، بلکې د هغه جرم ته بل وصف ورکول کېږي، ځکه د مالکانه تصرف قيد ايجاب کوي، چې شخص دغه مالونه او شتمنۍ د مالکانه تصرف په نيت تصاحب کړي وي. (۱)

درېم: همدارنګه په ۲۷۰ ماده کې داسې حکم موجود دی:
۱_ د عامه خدمتونو هر موظف چې په يو عقد، عمل او يا قضيه کې د دولت د منافعو په ساتلو مکلف وي، د خپل ځان يا بل شخص د منفعت حاصلولو لپاره دغه ګټې په کلي توګه متضررې کړي، په اوږد حبس چې له لسو کلونو زيات نه وي، محکومېږي.
۲_ که په دغه فقره کې مندرج ضرر جزوي وي، مرتکب د احوالو سره سم په متوسط حبس يا قصير حبس محکومېږي. که ددغې مادې حکم ته ځير شو، ليدل کېږي چې په هغې کې (د دندې) قيد موجود دی، يعنې د عامه خدمتونو موظف په يوه قضيه يا عقد کې د دولت د ګټو په ساتلو مکلفوي، له دې کبله ددغې مادې حکم ددغه قانون د ۲۲۸ مادې په شان دی، چې د اختلاس شويو مالونو د ساتنې او حراست لپاره يې د دندې موجوديت شرط ګرځولی. له بلې خوا ددې مادې لومړۍ فقره کې وړانديز شوي مجازات چې (تر لسو کلونو کم نه وي) چې په ۲۲۸ ماده کې پيشبيني شوي مجازاتو ته عيناً ورته دي، چې ددغه قانون د همدې فصل په نورو موادو کې پيشبيني شوي مجازاتو څخه کاملاً توپير لري. مګر بايد وويل شي چې موضوع يوازې ددغې مادې د لومړۍ فقرې په اړه چې په هغه کې وارده ضرر ګلي دی، مصداق لري؛ په داسې حال کې چې ددغه مادې په دوهمه فقره کې چې د جزئي ضرر موضوع ذکر کوي، موضوع صدق نه کوي، ځکه په دې فقره کې پيشبيني شوي مجازات قصير يا متوسط حبس دی، چې په ۲۲۸ ماده کې پيشبيني شويو مجازاتو څخه بشپړ متباين دی. بله موضوع چې په دې ماده کې د بحث وړ ده، د ګټې د لاسته راوړلو موضوع ده، ځکه په دې ځای کې د ګټې ترلاسه کول يوازې خپله د موجود شخص لپاره جرمي عمل نه دی، بلکې که چېرې دغه ګټه د بل شخص لپاره هم ترلاسه شي، جرمي عمل تحقق پيدا کړی دی.
څلورم: د جزا د قانون په ۲۷۱ ماده کې بيا داسې صراحت موجود دی: (د عامه خدمتونو هر مکلف چې په اداره، قراردادونو، عوايدو، وارداتو او يا په دولت پورې د نورو اړونده مالونو په ساتنه کې مستقيما مکلفيت ولري او د هغې له کبله په يوه پورتنۍ چاره کې په خپل يا د بل چا په نامه د خپل ځان يا د بل شخص لپاره ګټه ترلاسه کړي، يا هم د هغه په حصول کې تشبث وکړي، په متوسط حبس چې له دريو کالو کم نه وي، محکومېږي). که دې مادې ته په ځير سره وکتل شي په حقيقت کې شخص د يوه ځانګړي کار د تنظيم او څارنې مکلفيت لري او په نتيجه کې د هغه امکاناتو څخه په ګټه اخستنې چې ددې ځانګړي کار په اړه يې لري، ناوړه ګټه واخلي او د خپل ځان لپاره ګټه ترلاسه کړي او يا هم د هغه د لاسته راوړلو لپاره تشبث وکړي، يعنې شخص د هغه څه په اړه چې پرې موظف دی، په جرم مرتکبېږي. ظاهراً ددې مادې حکم ددغه قانون د همدې فصل د (۲۷۰) مادې د حکم سره ورته ښکاري، ځکه دواړه مادې داسې حالت بيانوي، چې په هغې کې شخص د يوه کار په اجرا مکلف وي او ددغه امر په اړه د خپل ځان لپاره د ګټې په ترلاسه کولو پيل وکړي، مګر په کم ځير سره ددغه دوه مادو تر منځ توپير موندلای شو.
الف: په ۲۷۰ ماده کې د ګټې ترلاسه کول کېدای شي خپله د مختلس شخص لپاره وي او يا هم د بل شخص لپاره وي، مګر په ۲۷۱ ماده کې د ګټې ترلاسه کول يوازې د مختلس شخص لپاره د بحث وړ دي او يوازې د ګټې ترلاسه کول د بل شخص په نوم امکان لري وشي، مګر نه د بل شخص لپاره ګټه. د بېلګې په توګه يو شخص مکلف دی د يو قرارداد چارې تنظيم کړي او قرارداد د هغه لوري سره چې تر ټولو ښه وړانديز وړانديز کوي، منعقد کړي. په دې ځای کې دغه شخص قرارداد د خپلې ګټې لپاره په خپل نوم يا هم د بل چا په نوم منعقد کړي او په دې ترتيب ګټه ترلاسه کړي.
ب: په (۲۷۰) ماده کې کوم شي ته چې پاملرنه شوې ده په حقيقت کې د دولت مالونه او شتمنۍ دي، چې کېدای شي جزئي او يا هم کلي وي، مګر کوم شي ته چې په ۲۷۰ ماده کې پاملرنه شوې ده، په حقيقت کې د مرتکب لپاره د ګټې حاصلول دي.
ج: په ۲۷۰ ماده کې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره تشبث اصلاً مطرح بحث ندی، ځکه د ګټې د ترلاسه کولو لپاره په تشبث کولو سره د دولت مالونو او شتمنيو ته نه جزئي او نه کلي ضرر رسېږي، مګر په ۲۷۱ ماده کې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره تشبث هم د مجازاتو وړ ګڼل شوی او عين د ګټې د ترلاسه کولو مجازات ورته په پام کې نيول شوي دي.
د: په هغه صورت کې چې په ۲۷۰ ماده کې د پام وړ ضرر کلي وي، مرتکب په طويل حبس چې تر لسو کلونو زيات نه وي، محکومېږي. په داسې حال کې چې په ۲۷۱ ماده کې پيشبيني شوې جزا متوسط حبس ده، چې د درېو کلونو کم نه وي. (۳)

پنځم: همدارنګه د جزا د قانون په ۲۷۲ ماده کې د اختلاس د جرم په اړه داسې حکم موجود دی: (د عامه خدمتونو هر مؤظف چې تر خپل اثر لاندې کارګران يا اجيران په رسمي وخت کې په شخصي کارونو بوخت کړي، يا د قانوني مجوز پرته د هغوی ټول اجرت يا د اجرتو يوه برخه حجر کړي، په قصير حبس يا نغدي جزا چې د دولسو زرو افغانيو زياته نه وي، محکوميږي).
که نوموړې مادې ته ځير شو په دې ماده کې دوه حالتونه يو د بل څخه بېلولای شو، يو هغه حالت چې شخص د خپل امر لاندې کارکوونکي او اجيران په رسمي وخت کې په شخصي کارونو وګماري؛ بل دا چې د عامه خدمتونو موظف شخص د کارکوونکو يا اجيرانو ټول اجرت يا د اجرت يوه برخه د قانوني مجوز څخه پرته حجز کړي. دادی دواړه حالتونه په لاندې توګه تشريح کوو:
لومړی حالت: په لومړي حالت کې شخص په حقيقت کې په خپل دغه کار د دولت د خزانې څخه په خپله ګټه منفعت ترلاسه کړی، په دې معنی چې که چېرې دولت تر خپل امر لاندې کارکوونکو او اجيرانو ته د عامه خدمتونو د موظف شخص تر امر لاندې په رسمي وخت کې د دوی د کار په وړاندې پيسې ورکوي، په هغه صورت کې که چېرې دغه کارکوونکي او اجيران په رسمي وخت کې د عامه خدمتونو د موظف شخص له خوا په شخصي کار وګمارل شي، په حقيقت کې هغه پيسې چې دولت يې کارکوونکو او اجيرانو ته ورکوي، د پام وړ کار په ترسره کولو کې نه دي لګول شوي.
دويم حالت: په دويم حالت کې د عامه خدمتونو موظف شخص د خپل ځان لپاره د نورو افرادو د حق څخه منفعت ترلاسه کړی دی، يعنې کارکوونکي او اجيران د هغه کار په بدل کې چې ترسره کوي يې د مزد مستحق کېږي، که چېرې دغه مزد د دوی د آمر له لوري تر حجز لاندې ونيول شي، په حقيقت کې د عامه خدمتونو موظف شخص د کارکوونکو او اجيرانو په زيان د ګټې په ترلاسه کولو بريالی شوی دی.
د دغه ټکي منطق چې دغه موضوع د اختلاس په مربوطه فصل کې تر بحث لاندې نيول شوې، دادی چې څرنګه چې د اختلاس په تعريف کې ذکرشوي، چې په حقيقت کې د دولت يا افرادو د هغه مال اخستل دي، چې د شخص په واک کې وي او هغه په خپله ګټه تصاحب کړي، له دې کبله په دغه ماده کې ذکرشوي موارد يا د دولت د مالونو او شتمنيو څخه د ګټې ترلاسه کول دي او يا هم د افرادو؛ نو له دې کبله په دې مبحث کې د دغه موضوع ذکر کول کاملاً منطقي ښکارېږي.

دويم جز- تکميلي جزاګانې:

په اخره کې د جزا د قانون په ۲۷۳ ماده کې د اختلاس د جرم لپاره د اصلي جزا نه علاوه تکميلي جزاګانې پيشبيني شوي دي، چې نوموړې ماده دارنګه صراحت لري:
۱_ مجرم په دې فصل کې په معينه جزاګانو سربېره د مال په رد او د اختلاس شوو مالونو يا د هغه څه چې د دولت د مال څخه يې تر خپل تصرف لاندې راوستي، معادل په نقدي جزا محکوميږي.
۲_ په هغه صورت کې چې د محکوم بها د حبس موده د درې کالو څخه زياته وي، مرتکب د مسلک څخه په طرد او يا د وظيفې څخه په انفصال هم محکوميږي. دغه ماده تصريح کوي، چې مرتکب نه يوازې د اختلاس شوو مالونو په رد کولو مکلف کېږي، بلکې مکلف په دې هم دی چې د هغه څه په معادل چې اختلاس کړي يې دي، د نقدي جريمې په توګه د دولت خزانې ته وسپاري. د دغه مادې دوهمه فقره داسې حالت بيانوي چې په هغه کې شخص تر درې کالو زيات حبس سربېره د مسلک څخه په طرد او د وظيفې څخه په انفصال هم محکوميږي. بايد يادونه وکړو چې د دغه مادې په لومړۍ فقره کې وړانديز شوې جزا د اصلي جزا د جملې څخه ده، په داسې حال کې چې د دغې مادې په دويمه فقره کې وړانديز شوې جزا د تکميلي جزا څخه ګڼل کېږي. (۳)

د ايران په قوانينو کې د اختلاس د جرم مجازات:

د ايران اسلامي جمهوريت هم د اختلاس جرم لپاره د مختلفو شرايطو په نظر کې نيولو سره مجازات ټاکلي دي او دا جرم يې قابل د مجازاتو ګڼلی دی. د ايران هېواد د کلاهبرداري، اختلاس او رشوت د مجازاتو د تشديد قانون په ۵ ماده کې د اختلاس کوونکي لپاره د مختلفو شرايطو په نظر کې نيولو سره لاندې شرايط پيشبيني کړي دي:

۱_ په هغه صورت کې چې د اختلاس اندازه تر ۵۰۰۰۰ رياله پورې وي، مرتکب له شپږو مياشتو حبس او له شپږو مياشتو څخه تر درېو کالو په موقت انفصال، او که ددې نه زيات مبلغ وي، نو دوه کلونو څخه تر لسو کلونو حبس او د دولتي خدمت څخه د ټول وخت لپاره په جلاکولو او په دواړو مواردو کې د اختلاس کړی شوو پيسو يا مال د سپارلو سربېره د هغه په دوه برابره نقدي جزا هم محکومېږي. ضمناً داسې دی که چېرې د جرم مرتکب د مديرکل يا د هغه څخه په لوړه رتبه کې وي، په دايم ډول د دولت د خدمتونو څخه په ليرې کېدو او په هغه صورت کې چې په ښکتنيو رتبو کې څرنګه چې ورته اشاره وشوه، د شپږو مياشتو څخه تر درېو کالو پورې د دولتي خدمتونو څخه په ليرې کېدو محکومېږي.

۲_ اختلاس د جعل او د هغه په شان د نورو سره يوځای: د مجازاتو د تشديد قانون د ۵ مادې د دويمې تبصرې په موجب څرنګه چې دولتي کارمند د اختلاس سره يوځای د جعل او تزوير جرم ترسره کړي، په هغه صورت کې چې د اختلاس اندازه تر ۵۰۰۰۰ رياله پورې وي، د اختلاس کوونکي جزا د دوه څخه تر پنځو کالو حبس او د يو څخه تر پنځو کالو پورې د دولتي خدمت څخه ليرې کولو ته شدت پيدا کوي او که چېرې د اختلاس اندازه تر ۵۰۰۰۰ رياله زياته وي، نو د جزا اندازه يې له اووه څخه تر لسو کالو حبس او د دولتي خدمت څخه د همېشه لپاره ليرې کولو ته رسېږي او همدارنګه په دواړو مواردو کې د اختلاس شوو پيسو او مال د ردولو نه علاوه اختلاس کوونکی د هغه معادل په دوه برابره نقدي جزا هم محکومېږي. بايد يادونه وکړو، چې په همدې ځای کې د اختلاس د مبلغ اندازه چې ۵۰۰۰۰ يا د هغې څخه به زياته وي مهمه ده، نه دا چې په يو ځل اختلاس شوېده او که په څو څو ځلې. د ذکر شوي قانون د ۵ مادې د لومړۍ تبصرې په موجب که چېرې دولتي کارکوونکی دولتي مالونه يا د اشخاصو مالونه چې ده ته سپارل شوي دي، قصداً ټول يا يو څه له هغو څخه تلف کړي، يا يې له منځه يوسي، د نوموړي دا اقدام نظر د مال اندازې او ارزښت ته د اختلاس د جرم د مجازاتو وړ ده او ضمناً اختلاس کوونکی د مال له حيثه د خسارې د جبران ضامن هم دی. همدارنګه د ايران د هېواد د مجازاتو د تشديد د قانون د (۵) مادې په (۵) تبصره کې داسې صراحت موجود دی (که چېرې د اختلاس اندازه له ۱۰۰۰۰۰ څخه زياته وي او کافي دلايل هم وربانديې موجود وي، نو د هغه لپاره د يوې مياشتې موقتې نيونې قرار صادرول لازمي دي او د اقرار جرم ته د رسيده ګۍ په يوه پړاو کې هم د بدلېدو وړ نه دی، او د دستګاه وزير کولای شي چې د همدې موقتې نيونې د مدت د خلاصېدو څخه وروسته نوموړی کارمند د رسيده ګۍ تر اخره او د هغه د اخري تکليف پورې د خدمت څخه تعليق کړي او د همدې د تعليق په ورځو کې نوموړی په هيڅ حالت کې د تعليق د حقوقو او مزاياوو څخه برخمن کېدای نه شي. که څه هم د ايران د هېواد د اصول محاکمات جزايي (آيين دادرسي کيفري) له نظره د متهم د موقتې نيونې قرار د تامين د قرارونو د جملې څخه شديدترين قرار دی، چې د هغې په اساس متهم د قضا د مقام په دستور زندان ته په لېږلو مجبورېږي او همدارنګه د متهم دا موقته نيونه ددې څخه چې (د زمې برائت اصلي حالت دی) مغايره ده، علاوه له دې څخه د متهم د دفاع حق هم د تهديد لاندې راولي او د هغه په محاکمه باندې هم خپل تاثير اچوي، ولې بيا هم که د اختلاس اندازه د ۱۰۰۰۰۰ څخه زياته وي او د اتهام کافي دلايل هم موجود وي، نو د جرم مرتکب په موقت ډول نيول کېږي. (۷)

د اختلاس په جرم پيل:

په دې بحث کې به لومړی د اختلاس په جرم باندې شروع تر بحث لاندې ونيسو، چې ايا د اختلاس په جرم شروع قابل د تصور ده او که نه؟ او له هغې نه وروسته به د اختلاس په جرم د شروع په مجازاتو باندې بحث وکړو. وړاندې تر دې چې د اختلاس په جرم شروع او په مجازاتو يې بحث وکړو، لومړی بايد دا مطلب واضح کړو چې ايا په اختلاس شروع قابل د پيشبيني ده او کنه؟ يعنې د اختلاس جرم د وقوع لپاره کوم داسې مراحل لري، چې موږ د هغه څخه دا ثابته کړو، چې دې شخص د اختلاس په جرم شروع کړې ده او يا يې نده کړې؟ ددې سوال په ځواب کې بايد ووايو چې د افغانستان او ايران په حقوقو کې په دې موضوع باندې لږ بحث شوی او حقوقدانانو يې د قانون د متن څخه په پيروۍ فقط د اختلاس په جرم باندې د پيل په مجازاتو باندې اکتفا کړې ده. اما په عربي ملکونو کې حقوقدانانو په دې موضوع باندې بحث کړی دی او نوموړو علماوو دوه ډوله نظرونه څرګند کړي دي؛ يوه ډله علماء په اختلاس باندې شروع د تحقيق وړ ګڼي او بله ډله چې مونږ هم له هغوی سره موافق يو، په اختلاس شروع د تصور وړ نه ګڼي. د مصر يو حقوقدان په دې هکله ليکي (په اختلاس باندې شروع د تصور وړ نده، يعنې نه شو معلومولای چې کوم عمل په اختلاس باندې شروع ده او کومه نده. اختلاس يا مطلق واقع کېږي

يا نه واقع کېږي او دريم حالت يا وضعيت په کې شتون نه لري). د اختلاس د جرم مادي عنصر ته په کتو سره چې هغه د مال اخيستل او تصاحب دی، بايد په دې قايل شو، چې دا نظريه درسته ده؛ ځکه لکه څرنګه چې مخکې وويل شول د اختلاس د جرم مادي عنصر د مال اخيستل او تصاحب او همدارنګه د مال سره د مالکانه چلند څخه عبارت دی، نو په دې ځای کې هم يا شخص د مال په تصاحب باندې اقدام کوي چې په محض اقدام سره د هغه دا عمل د اختلاس تکميل شوی جرم دی او يا هم دا چې لا تر اوسه يې مال نه دی اخيستی او نه يې تصاحب کړی؛ نو د اختلاس جرم يې هم نه دی ترسره کړی. ځکه چې د مال په تصاحب باندې شروع د تصور وړ نه ده او نه شو کولای چې تصاحب ته مراحل ورکړو. مثلاً داسې ووايو چې د فلاني عمل په ترسره کولو سره د مال تصاحب شروع کېږي او د فلاني عمل په کولو دا عمل ختمېږي، ځکه چې د مال سره په محض مالکانه چلند باندې تصاحب تحقق پيدا کوي او د اختلاس جرم پوره کېږي، او که څوک د مال سره مالکانه چلند ونکړي، د هغه دا عمل د مال تصاحب کول ندي او د اختلاس جرم هم نه دی واقع شوی. همدارنګه د مال د تصاحب لپاره د مقدماتي اعمالو ترسره کول هم د اختلاس په جرم شروع نشو ګڼلای، مګر دا چې دا مقدماتي اعمال په خپل ذات کې يو مستقل جرم وي؛ مثال دا چې يو شخص لومړی په يو سند کې تزوير ترسره کوي، ترڅو وروسته اختلاس ترسره کړي، نو په دې ځای کې دا تزوير په خپله يو مستقل جرم دی، که څه هم د شخص قصد او اراده د راتلونکي اختلاس لپاره ثابته شي، ولې د جرم مادي عنصر ندی ترسره شوی، نو شروع په اختلاس هم نده شوې.

په ننگرهار کې د اختلاس د جرم څېړنه:

کله چې مو د اختلاس جرم په علمي توګه وڅېړه، ددې اړتيا پيدا شوه، چې موضوع د ننگرهار ولايت په عدلي او قضايي ارګانونو کې په عملي توګه هم تر غور لاندې ونيسو، په همدې موخه د ننگرهار ولايت د استيناف څارنوالۍ له مسوولينو سره اړيکه ونيول شوه؛ له هغوی سره د ځانګړو مصاحبو کولو له لارې څرګنده شوه، چې د ۱۳۹۲ کال په تېرو شپږو مياشتو کې يوازې يوه دوسيه د اختلاس موجوده وه، چې هغه هم محکمې ته استول شوې وه. وروسته د همدې موضوع د څېړنې لپاره د ننگرهار ولايت د استيناف محکمې د مسوولينو سره اړيکه ټينګه شوه، اسناد مطالعه شول او داسې نتيجه ترلاسه شوه، چې د ۱۳۹۲کال په تېرو شپږو مياشتو کې د اختلاس يوازې دوه دوسيې موجودې وې، چې د هغې جملې څخه يې يوه د کار لاندې وه، او په بله دوسيه يې محکمې حکم کړی و؛ دا چې د دومره زيات اداري فساد سره سره زموږ په عدلي او قضايي ارګانونو کې د اختلاس د جرم کم کيسونه موجود دي، يو شمېر عوامل لري، چې څېړل يې ځانګړې څېړنې او تحقيق ته اړتيا لري. (۸)

پايله:

د پورته موضوعاتو د تشريح څخه وروسته دې نتيجې ته رسېږو، چې د دولتي کارکوونکو يادشوي خاص جرايم لکه اختلاس، غير قانوني تصرف او د دولتي معاملې په مهال تدليس په ټولنو کې د الهي احکامو د تعطيل، د ټولنيز عدالت د عدم تطبيق، د ټولنيز پرمختګ د مخنيوي او د ښه حکومت کولو د ټکنيتوب باعث ګرځي. مثلاً کله چې په يوه ټولنه کې د چارواکو لخوا اختلاس وشي، نو هلته د الهي احکامو سره سم دولتي او غيردولتي مالونه نه ساتل کېږي، اجتماعي عدالت له منځه ځي او په پايله کې د دولت او عوامو تر منځ فاصله پيدا کېږي او په ټولنه کې د انارشۍ او ګډوډيو سبب ګرځي؛ چې ددې ناوړه اعمالو د مخنيوي او د ټولنيز عدالت د تامين يوازېنۍ لاره په الهي احکامو عمل او د قانون تطبيق دی.

وړانديزونه:

۱. د افغانستان د جزا په قانون بايد له سره کتنه وشي او په هغې کې د وخت د غوښتنو سره سم تعديلات راشي، چې ددې ناوړه عمل مخه ونيول شي.

۲. پوليسو، څارنوالۍ منسوبينو، قضاتو او نورو دولتي مامورينو ته دې ښه او لازم مادي او معنوي امتيازات او سهولتونه برابر شي.

۳. د کارونو د ښه پرمخ بیولو لپاره او په مربوطه کارونو کې د ښه شفافیت په منظور اړینه ده، چې د دولت د ټولو مامورینو شخصي سرمایې او پانګې ثبت او راجستر شي؛ چې یادې چارې کولی شي تر ډېره بریده د اختلاس د جرم مخه ونیسي.

مناقشه:

څرنګه چې پوهېږو د هر جرم په مقابل کې د ټولنې له لوري ټولنیز غبرګون ښودل کېږي، تر څو د ټولنې هغه نظم چې د جرم په واسطه ګډوډ شوی، بېرته اعاده شي؛ چې دا عکس العملونه بیا د یو ځانګړي جرم لپاره د هرې ټولنې د عقایدو، جوړښت، عرف او عاداتو په نظر کې نیولو سره مختلف وي. څرنګه چې اختلاس د دولتي کارکوونکو له خوا د اموالو په ضد جرایمو څخه یو د مجازاتو وړ جرم دی، نو د همدې امله یې مجازات په هره ټولنه کې توپیر لري، د بېلګې په توګه ګورو:

۱- د افغانستان د جزا قانون د نوموړي جرم د مجازاتو د شدت او خفت لپاره د نوموړي جرم د ارتکاب څرنګوالی په نظر کې نیولو سره اصلي او تکمیلي جزاګانې پیشبیني کړې دي، په دې معنی چې جزا د لنډ حبس څخه نیولې تر اوږد حبس پورې ورته جزا پیشبیني کړې او همدارنګه د مالونو مصادره او نغدي جزاګانې هم ورته پیشبیني شوي؛ خو د ایران د اسلامي جمهوریت د قوانینو له مخې ددې جرایمو د مجازاتو د شدت او خفت لپاره معیار د پیسو اندازه ده، یعنې که چېرې د پیسو اندازه لوړېږي، په هغه اندازه مجازات شدید کېږي.

۲. که چېرې عملي ساحې ته نظر وکړو، نو ګورو چې په عمل کې زموږ ټولنه د اختلاس د جرم څخه ډېره ځورېږي، مګر که بیا عدلي او قضایي ارګانونو ته سر ښکاره کړو لیدل کېږي، چې په ذیصلاح ارګانونو کې د اختلاس د جرم کیسونه ډېر کم دي او یا هم هیڅ نشته. دا چې ولې؟ دا هغه پوښتنه ده چې څېړل یې ځانګړې تحقیق ته اړتیا لري.

Abstract:

The rehabilitation and development of a society closely depends upon how its nation is committed to its national and religious foundations. But, whenever governmental and social service employees during their duty misuse all the sources provided to them as national property by government in their given duties, society usually as a victim faces to deal with corruption, disorder and difficulties. Therefore, in this research article, I have presented and discussed the relevant information about embezzlement and its consequences.

اخځلیکونه او سرچینې:

1. د قضایي روزنې کورس، د جزا د قانون ځانګړې برخه. (۱۳۸۷). کابل: د افغانستان د عدلي او قضایي چارو پروژه.
2. شهرستاني، قضاوتپوه شاه علي اصغر. (۱۳۸۷). په محاکمو کې د اختلاس جرمونو ته رسیده ګي؛ د عدالت میاشتنۍ مجله- د عدلیې وزارت نشراتي ارګان، پرله پسې ۲۸ ګڼه.
3. عدلیې وزارت، رسمي جریده. د جزا قانون. (۱۳۵۵). ۳۴۷ ګڼه.
4. ګلدوزیان، داکتر ایرج. (۱۳۸۴). حقوق جزای اختصاصي. تهران: موسسه انتشارات و چاپ دانشګاه تهران.
5. مهاجری، علی. (۱۳۷۹). جرایم خاص کارکنان دولت. تهران: سازمان انتشارات کیهان.
6. میرمحمد صادقی، حسین. (۱۳۸۷). حقوق کیفر اختصاصی. تهران: کتابخانه ملی ایران.
7. ولیدی، داکتر محمدصالح. (۱۳۸۱). حقوق جزای اختصاصی. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر.
8. عملي ساحه: د ننګرهار ولایت د امنیه قوماندانۍ، څارنوالۍ او محکمې له یو شمېر مسئولینو سره مخامخ مرکې.

پوهنمل غـلام رسول (حسيني)
ښـــوونې او روزنې پوهـــنځی
مســلکي تعلـيماتو څـــانګه

جـانلاک
او د هغه پيداګوژيک- فلسفي نظريات

لنډيز:

دا علمي او تاريخي ليکنه د لوديځوال ډاکتر، فيلسوف او د ښوونې او روزنې د ډګر پياوړي انګليسي عالم جان لاک (John Locke) د پيداګوژيکو، سياسي او فلسفي هڅو او نظرياتو په اړه چمتوشوې ده. په دې ليکنه کې هڅه شوې، چې د جان لاک د زده کړو او د نوموړي د سياسي، فرهنګي او پيداګوژيکي فعاليتونو او نظرياتو په اړه معلومات وړاندې شي.

سريزه:

جان لاک د ۱۶۳۲ او ۱۷۰۴ زېږديزو کلونو ترمنځ ژوند کړی دی. سياسي خلک پر درېو برخو ويشل شوي، يوه هغه ډله ده چې د سياسي نظرياتو لرونکې وي؛ دويمه ډله هغه ده چې د سياست د عملي ډګر مېړني وي، او درېمه هغه ډله ده چې د سياست تر څنګ د عملي ډګر تکړه لوبغاړي واوسي. همدا راز د همدغه ويش په نظر کې نيولو سره د پيداګوژۍ د ډګر عالمان هم پر درې ډلو ويشل شوي، يوه هغه ډله ده چې د پيداګوژيکو نظرياتو لرونکي وي؛ دويمه ډله هغه ده چې د عملي ډګر تکړه او پياوړي لوبغاړي او وړاندې کوونکي وي، او درېيمه ډله هغه ده چې د پيداګوژيکو نظرياتو او عملي ډګر دواړو نوميالي وي. راځئ وګورو چې جان لاک په کومه ډله کې راځي؟ دغه پوښتنه د جان لاک د ژوند د پېښو په لوستلو حل کېږي؛ خو دلته يې په لنډه توګه داسې ځوابوو چې جان لاک دواړه سياسي او پيداګوژيکي نظريات وړاندې کړي دي او په دغو دواړه ډګرونو کې يې عملي ګام هم اخيستی دی.

موخې:

- د جان لاک د ژوند د بېلابېلو اړخونو څېړل
- د مسلک خاوندانو او لوستونکو ته د نړيوالو سترو شخصيتونو معرفي کول

پېژندنه:

جان لاک چې د (۱۷۰۷-۱۶۳۲) کلونو ترمنځ يې ژوند کړی، تر څوارلس کلنۍ پورې يې له خپل پلار څخه زده کړې وکړې، بيا يې د ۱۶۴۶ زېږديز څخه تر ۱۶۵۱ کال پورې (west Minster) ويسټ مانسټر په ښوونځي کې خپلې زده کړې پرمخ يوړې. په دغه ښوونځي کې يې يوناني او لاتيني کلاسيک اثار مطالعه کړل، چې د اکسفورډ په پوهنتون کې د علمي زده کړو لپاره ځان چمتو کړي. پر ۱۶۵۲ زېږديز کال د ۲۰ کلنۍ په عمر د اکسفورډ پوهنتون کې د کرست چرچ (Christ church) په پوهنځي کې ومنل شو.

د جان لاک اثار:

۱. د انساني فهم او ادراک په اړه رساله.
۲. د اسانتيا په اړه رسالې.
۳. د مدني حکومت په اړه دوه رسالې.
۴. د ښوونې او روزنې په اړه نظريات.
۵. د کوچني د تربيې په اړه نظريات.

د هغه نظريه چې د علم او معرفت په باب د (انساني فهم په اړه رساله) کې پر ۱۶۹۰زېږديز کال چاپ شوې ده، تجربوي فلسفې ته يې زيات ارزښت ورکړی، چې د عاقلاني فلسفې ځای ناستې وګرځېدله او ددې نظريې بنسټ ايښودونکی او رامنځته کوونکی (ديکارت) ؤ. د (انساني فهم په اړه رساله) يوه انتقادي څېړنه ده او رامنځته کوونکی اصل، د هغه د يقيني خوا او د بشر د معرفت د پراختيا په اړه بحثونه لري. ددې تر څنګ د (د حکومت په اړه دوه رسالې) چې دا هم پر ۱۶۹۰زېږديز کال چاپ شوې دي، همدومره ارزښت لري. په (د حکومت په اړه دوې رسالې) کې جان لاک له شاهانه الهي حق سره مخالفت ښودلی او په دې معتقد دی، چې ټول انسانان په طبيعي لحاظ ازاد او برابر دي او له طبيعي حقونو څخه برخمن دي. د لاک سياسي نظريات وروسته د امريکا په اساسي قانون او همدا راز د فرانسې په اساسي قانون کې لا ښه وځلېدل. هغه د خپل ژوند په اوږدو کې خپل زيات اثار په مستعار نامه سره چاپ کړي دي. نوموړی عالم وروسته سترو علمي او سياسي خدمتونو په ۱۷۰۴ کې مړ شو.

د جان لاک د پيداګوژيکو نظرياتو لنډه يادونه او تحليل:

لاک د سياست او پيداګوژۍ د ډګر ستر مفکر او فيلسوف تېر شوی دی، چې دده د افکارو له مخې په نړۍ کې ډېر زيات بدلونونه رامنځته شوي دي. د نوموړي دغه افکار زياتره د سياست، اقتصاد او پيداګوژۍ په ډګر کې دي، چې مونږ ته يې هغه افکار ډېر د ارزښت وړ دي، چې د پيداګوژۍ په برخه کې يې وړاندې کړي دي او د نړۍ او ملتونو د افکارو او ذهنونو په تغير کې يې ستر رول لوبولی دی. د جان لاک په نظر ښوونه او روزنه يو ډول اخلاق دي، چې تعليمي نصاب بايد له ټولو مضامينو څخه تشکيل وي، نو لازمه ده چې ټول علوم يا مضامين بايد د علمي ګټې په نظر کې نيولو سره تدريس شي. که چېرې د لاک پورتني نظر ته ښه متوجه شو، نو د هغه يوازېنی هدف دا ؤ چې هر څه بايد د انسان د ښېګڼې لپاره وي، يعنې که يو انسا ن علم حاصلوي، نو هغه بايد يو ډول اخلاق او ارزښتونه ترلاسه کړي، چې د ټولنې د خير لپاره تمام شي. هغه پخوانيو نظرياتو ته د نقد په سترګه کتل او دا خبره به يې سنجوله چې کوم عقايد چې د انسان لپاره ګټه ونلري، بايد پرېښودل شي او چې کوم ګټور دي، هغه دې وساتل شي. همدا لامل دی چې د لويديزوالو ټولنيزو حالاتو ته په کتلو سره د لاک په ازادۍ ټينګار کوي او دولت ته دا توصيه کوي، چې له هيڅ مذهبي ډلې څخه خپل ملاتړ مه اعلانوئ، ځکه چې که د يوې ډلې ملاتړ مو وکړ، په دې سره د نورو ډلو خلک نفرت او کرکه څرګندوي، او ورته په کار ده چې په دې برخه کې ناپېيلي پاتې شي او د ټولو زړونه ترلاسه کړي. د جان لاک له نظره له ښوونې او روزنې څخه د يوه انسان د شخصيت د جوړولو تر څنګ ترې بايد عملي ګټه هم واخيستل شي، چې د ټولنې لپاره په خير تمامه شي. (۵م۲۳)

د جان لاک له نظره د انسان لپاره تجربه ډېره مهمه ده، يعنې هر هغه څه چې دده په ژوند کې ترسره شي او دی يې د ځان لپا ره په مکرر ډول تکرار کړي، دغه عمل په تجربه بدلېږي او دده په مغزو کې ځای نيسي او هيڅ کله يې له ياده نه وځي. همدا سبب دی چې جان لاک د ماشوم ماغزه له سپينې لوحې، کاغذ، او يا هم تختې سره تشبيه کوي او وايي د ماشوم ماغزه د سپينې ښېښې په څېر دي او له تجربې مخکې په مغزو کې هيڅ نه وي. (۲م۴)

څرنګه چې د ماشوم ماغزه له هر څه پاک وي او کوچنی چې کله هم دنيا ته سترګې پرانيزي، ذهن يې په ټوله معنی خالي وي، نو پکار ده چې د کوچني په ذهن کې ښه شيان ځای پر ځای شي. درسي مواد چې وسايل، الات تکتيکونه او فعاليتونه رانغاړي، له څو کلونو راپدېخوا د ښوونې او روزنې پوهانو، مسلکي او مجربو مربيانو د هغوی اساسي رول او اهميت د ښوونځي په زده کړه او تربيه کې ډېر ضروري ګڼلی دی؛ ځکه چې درسي مواد، وظيفه، د تعليمي موضوع ګانو په زړه پورې کول او د زده کوونکو حواسو ته د تعليماتو او درسونو نږدې کول زده کوونکي واقعيت او حقيقت ته نږدې کوي. يعنې د ښوونځيو درسونه چې هرڅومره د منطق او خطابې له شکل څخه د عمل او تجربې بڼه غوره کوي، د زده کوونکو لپاره د هغوی زده کړه معنی لرونکې او اسانه وي. په همدې اړه جان لاک وايي: انساني پوهه د انسان او دباندني جهان د برخورد محصول دی. (۱م۵۳)

د بېروني عالم تحريکونه زمونږ د ذهن مختلفې قوې لکه ادراک، دقت، مشاهده، حفظ او سنجش په کار اچوي او د هغوی د پوهې او ارادې عملي کولو حس منځته راوړي. د لاک روزنيزه نظريه پر څلورو بنسټونو ولاړه ده: د ګټې رسولو بنسټ، د عقلانيت بنسټ، د زيار او تمرين بنسټ، او د مستقيمې تجربې بنسټ. د هغه په ښوونه اوروزنه کې درې جسماني، اخلاقي

او عقلاني خواوې شاملې دي او پر دې ټينګار کوي چې ښوونه او روزنه بايد د يوه شخصيت دغه درې خواوې د تکامل پړاو ته ورسوي. د يوه کامل او روغ انسان لپاره همدغه درې خواوې ډېرې ارزښتمنې دي، او د يوه شخصيت په جوړولو کې رغنده رول لري؛ ځکه چې روغ صحت د ښو او ټولنيزو اخلاقو درلودل او عقلانيت چې د روغ او ناروغ انسان تر منځ د بېلوالي کرښه راکاږي او صحيح استدلال کوي، هم ډېر مهم دی. د جان لاک له انده کوچني ته بايد لومړی مورنۍ ژبه ور زده کړای شي، دی زياتوي چې د ښوونې او روزنې دنده دا نده، چې يو ځوان په يوه موضوع يا يوه مضمون کې په بشپړ ډول وروزل شي، بلکې د ځوان دماغ ته بايد بشپړ پراخوالی ورکړل شي، چې خپل توان او قدرت ته په کافي اندازه عملي جنبه ورکړي او خپل ځان د هغه سره عيار کړي؛ په دې اساس بايد پوره ازادي ورکړل شي، چې په مختلفو ساحو او علومو کې نظر اندازي وکړي او کوم معلومات چې ترلاسه کوي د علومو تر نظر لاندې يې اجرا کړي. (۳م م۱۷-۱۲)

په دې ځای کې له ازادۍ څخه د لاک موخه داده چې فکر بايد په يوه تنګه محوطه کې راګېر نه شي، که چېرې فکر په يوه اډيالوژۍ پورې تړلی پاتې شي، نو دلته توند اډيالېزم رامنځته کېږي او دغه فکر له توند اډيالېزم څخه سرچينه اخلی او يوازې همغه اډيالوژي دماغ ته انتقالوي؛ مګر په يوه ځای کې بيا د توند اډيالېزم پلويتوب به کوي:

۱. په توند اډيالېزم کې ښه فکر او عقلي معيارونه له ځانګړې ارزښت څخه برخمن دي.

۲. په توند اډيالېزم کې وروستيو نسلونو ته د ښو ټولنيزو کردارونو پر انتقال او ساتنه ټينګار کوي.

۳. وروستيو نسلونو ته د ټولنيزو او فرهنګي ميراثونو انتقال د ټولنيز يووالي په ساتنه او د عمومي خير ښېګڼې په لاره کې ګټور تمامېږي.

۴. توندلاري اډيالېستان پر ذهني روزنې ډېر ټينګار کوي.

جانلاک د روزنې د هدف په باره کې معتقد دی، چې بايد يو فرد په فردي بريالیتونو او په ټولنه کې د ګډون لپاره يا د ننني ورځې په اصطلاح کې د ښاريتوب لپاره چمتو واوسي. البته د روزنې غايه هدف د هغه په اند د اخلاقي وړتيا کسبول او د پوه او لوړ شخصيت لرل دي؛ دی وايي د پياوړي او لوړ شخصيت لپاره لومړی شرط د سالم بدن لرل دي، ځکه د هغه په اند سالم عقل په سالم بدن کې وي، له همدې امله هغه يو لړ ټولنيز نصيحتونه وړاندې کړل او د ځينو سپورټونو تر سره کول اړين بولي. (۸م۱۲۱)

دده په کتاب کې د کوچني د روزنې په اړه ځينې نظريات ورکړل شوي او د لوړې پوړۍ عمده څلورګوني هدفونه وړاندې کوي:

۱. فضيلت يعنې په ښه او بد يا سم او ناسم پوهاوی.

۲. کميت يعنې په استادانه ډول د خپلو چارو د ادارې لپاره عملي فعاليت.

۳. ښه ترتيب يعنې د وقار او درناوي احساس چې د تکبر او تواضع تر منځ يو صفت دی.

۴. تعليمات يعنې هغه څه چې يوازې د ظاهري معلوماتو استازيتوب وکړي. (۲م م۳۱۹-۳۱۸)

همدا راز د جان لاک پر افکارو او نظرياتو ډېرې نيوکې هم شوي دي. پورتنی کتاب جان لاک خپل يو نجيب زاده دوست په غوښتنه د هغه ماشوم د لارښوونې او تربيې په موخه ليکلی دی، له همدې امله ددې کتاب زيات اصول دي چې د دغې طبقې د غړيتوب وړتيا او استعداد ولري. لاک د نورو طبقو روزنې ته چندانې پام نه لره او همدغه باور دده لپاره ستر عيب شمېرل کېږي. (۸ م م۳۳۴-۳۳۱)

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې جان لاک د سياست او پيداګوژۍ د ډګر ستر متفکر او فيلسوف تېر شوی دی، چې دده د افکارو له مخې په نړۍ کې ډېر زيات بدلونونه رامنځته شوي دي. د نوموړي دغه افکار زياتره د سياست، اقتصاد او پيداګوژۍ په ډګر کې دي، چې مونږ ته يې هغه افکار ډېر د ارزښت وړ دي، چې د پيداګوژۍ په برخه کې يې وړاندې کړي دي او د نړۍ او ملتونو د افکارو او ذهنونو په تغيير کې يې ستر رول لوبولی دی. وړانديز مې دادی چې د نړۍ د سترو شخصيتونو په اړه بايد څېړنې وشي او د هغوی له غوره افکارو څخه د خپلو ارزښتونو په پام کې نيولو سره ګټه واخيستل

شي.

Abstract:

John Locke has been passed his life between (1632-1704) Political people are dividing in three groups. First is that. Which has political thoughts and theirs second is that which are the players of practical environment and third is that which the beside of having political thoughts and theories, they are the strong and experienced players of practical field of politics. Although through seeing of this division the scientists of pedagogic field are their divided into three groups too. First is that which has pedagogic thoughts, second is that which the beside of having pedagogic thoughts and theories that are strong and really applicable presenters and players of practical field of pedagogy. So let's see John Locke in which groups is he coming? This question is possible to be solved in reading the life-events of John lock, but here we are shortly pointing: John lock presented his thoughts and theories in both (political and pedagogic) fields and he accomplished a practical job and mission in these two fields as well: so from this case we can say that John Locke is thinker and the applier of is thinks and thought.

اخځليکونه:

۱. ابراهیم زاده. (۱۳۸۶). فلسفه ترتیب (فلسفه اموزش و پرورش). تهران: انتشارات پیام نور
۲. باجوړی، پوهنمل بریالی. (۱۳۸۷). د ادبیاتو په لړ کې (دستارنامه د ښوونیزو او قانوني توکو مجموعه). حسام ادبي ټولنه
۳. ژکفر، داکتر هدایت الله (۱۳۸۹). نقد فلسفه جان لاک و دیموکراسی غرب. بنگاه انتشارات و مطبعه میوند
۴. زیباکلام، فاطمه. (۱۳۷۹). مبانی فلسفه اموزش و پرورش در ایران. تهران: انتشارات حفیظ
۵. شریعتمداری، علی. (۱۳۸۳). اصول تعلیم و تربیت- چاپ هفدهم. انتشار دانشگاه
۶. صابر نجف ابادی، داکتر ملیحه. (۱۳۸۹). کلیات تاریخ فلسفه به زبان ساده. تهران: انتشارات سمت
۷. کاردان، علی محمد. (۱۳۸۱). سیراء تربیتی در غرب. تهران: انتشارات سمت
۸. نژاد، شماری. (۱۳۸۱). فلسفه اموزش و پرورش- چاپ ششم. انتشارات امیرکبیر

پوهنوال فرمان الله (هيله من)
ښوونې او روزنې پوهنځی- کېميا څانګه

د اوزون د پوړ ماهيت پېژندنه

لنډيز:

اوزون د ځمکې په اتموسفير کې هغه ټينګ هوايي او غازي استر دی، چې د لمر او نورو سيارو خپرېدونکې تاواني وړانګې ځمکې ته نه راپرېږدي. د اوزون استر د هلوجنونو د اغېزې څخه زيانمنېږي. که د اوزون پوړ نری او يا سوری شي، نو د ځمکې ژوندي موجودات خوندي نه پاتې کېږي. د اوزون پوړ د انسانانو په لاس د جوړو شويو کېمياوي توکو په وسيله زيانمنېږي، همدارنګه د اوزون د پوړ ژغورل هم د انسانانو په لاسونو کې ده.

سريزه:

دا چې اوزون د لمريز نظام يوه برخه ده، نو ښه داده چې د لمريز نظام په هکله لنډ او عمومي معلومات وړاندې کړو؛ لمر د لمريز نظام يوازېنۍ سياره ده، چې نورې سيارې د هغه په شاوخوا ګرځي او د هغه له انرژۍ کار اخلي. ځمکه هم يوه د هغو سيارو څخه ده، چې د لمر په شاوخوا ګرځي. د ځمکې او لمر ترمنځ واټن د 149800000 کيلومترو په شاوخوا کې دی، چې په دې واټن کې ځمکه د لمر څخه $1.95x10^9$ واټه انرژي اخلي چې موږ د هغې د 0.0000002 برخو څخه کار اخلو. د لمر رڼا په 8.27 دقيقو کې ځمکې ته رارسېږي. هغه رڼا چې ځمکې ته رارسېږي 30% ځمکې ته له رارسېدو دمخه د هوا او فضا په طبقو کې د شتو ماليکولونو د انعکاس او غبرګون له کبله ځمکې ته نه رارسېږي او پاتې يې ځمکې ته رسېږي. د ځمکې 99% انرژي د لمر څخه او پاتې يې د سپوږمۍ او نورو ستورو څخه ده. د لمر سپينه رڼا د ملياردونو رنګونو څخه جوړه ده، چې دا هر يو رنګ يې ځانته د څپې اوږدوالی او ځانګړې انرژي لري او موږ کله چې دا رڼا تجزيه کوو، نو په اوو رنګونو يې ويشو، چې دا هر رنګ له ملياردونو رنګونو جوړ شوی دی. د بنفش څخه پورته وړانګو د څپو اوږدوالی ډېر لږ او ډېره انرژي لري؛ د بنفش څخه پورته وړانګې ډېره انرژي لري چې د ټولو ژوندیو موجوداتو لپاره خطرناکه ده او د پوستکي سرطان او يا د لمر سوځېدنې سبب کېږي. له نېکه مرغه ځمکه ددې خطرناکو وړانګو په مقابل کې د اوزون په نوم ساتونکی پوړ لري، چې ځمکې ته د خطرناکو وړانګو د راتګ مخه نيسي.

موخې:

- د اوزون طبقې د ارزښت پېژندل او هغې ته د زيان رسوونکو توکو پېژندل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او لوستونکو ته د ګټوور معلوماتو برابرول

اوزون:

اوزون يوه يوناني کليمه ده، چې معنی يې بوی او په ځانګړې توګه تېز بوی ته وايي؛ چې د اوزون ماليکول د اکسيجن د درې اتومو څخه جوړ دی. د اوزون د پوړ دپاسه يو بل پوړ د ۴-۳ کيلو مترو په پنډوالي د غازونو يو پوړ دی، چې هغې ته د (ورته عناصرو) پوړ وايي او دا پوړ د اوزون د پوړ ساتونکی پوړ دی. دا غازونه ډېر سپک غازونه دي او د اوزون د غاز څخه ډېر سپک دي چې په طبيعي توګه په ځمکه کې توليد ېږي او د لمر له څپو سره ډېرې اړيکې لري، ځکه چې د اتموسفير څخه ددې غازونو وتل د لمر د څپو په وسيله کېږي، دا غازونه د هستوي تعاملونو په پايله کې هم رامنځته کېږي. د اوزون د غلظت د اندازه کولو واحد دابسون (Dabson) دی چې يو دابسون په يو اتموسفير فشار او د سانتي ګريد د صفر درجې تودوخه کې د 0.01 ملي مترو پوړ په پنډوالي د سوچه اوزون د جوړېدو د اړتيا وړ ماليکولونو شمېره ده. د اوزون د پوړ منځنی پنډوالی د 300 دابسونو په شاوخوا کې او يا 3 ملي متره پنډوالی دی. لمر د انرژۍ ستره سرچينه ده، خو د انرژۍ د ورکونې تر څنګ د زيان رسولو ستر لامل هم دی؛ الله تعالی دا خاورينه ځمکه زموږ د اوسېدو او ژوندي پاتې کېدو لپاره

ښه مساعده کړې ده، هغه داسې چې له ځمکې څخه يې ګردچاپېره داسې شيان ځای پر ځای کړي دي، چې د لمر څخه خپرېدونکې زيان رسوونکې وړانګې نه پرېږدي چې ځمکې ته راورسېږي. په يو ځانګړي ميخانيکيت سره يې په ځان کې حلوي، زيانمنتوب يې له منځه وړي او په ګټورو وړانګو يې اړوي. دا پوړ چې زموږ لپاره د الله پاک ستر نعمت دی، څارنې او ساتنې ته اړتيا لري. که انسانان ددې پوړ په ساتنه او څارنه کې بې غوري وکړي، نو ليرې نه ده چې ژوند به يې له ګواښ سره مخامخ شي. په لاندې لومړي انځور کې لمر، ځمکه او ډول ډول پوړونه ليدل کېږي:

اول انځور: د لمر- ځمکې او هوا د پوړونو عمومي انځور. (۲)

اوزون او د بنفش لاندې (Ultra violet(UV وړانګې:

که د بنفش لاندې وړانګې ځمکې ته ورسېږي، د پوستکي د سرطان، د سترګې د کسي، د بدن د دفاعي يا معافيتي سيستم په ويجاړېدو او د نباتاتو په غټېدو منفي اغېزې کوي. د بنفش لاندې څپې اوږدوالی 400-280 نانومتره (د متر مليارديمه برخه) ده، د اوزون او اکسيجن ماليکولونه چې په ستراتوسفير کې شته، د بنفش څخه لاندې وړانګې جذبوي او ځمکې ته د هغې د ننوتلو مخه د يو سپر په څېر نيسي. د اوزون اکسيجن کولی شي، چې د بنفش لاندې وړانګو او په ځانګړې توګه د بنفش لاندې د C او B ډولونو ډېره انرژي لري او ژوند ته ستر ګواښ دی. د اوزون رول د پوهانو په اند دومره دی، چې د ځمکې پر مخ له اوزون پرته ژوند امکان نلري. کله چې د بنفش لاندې وړانګې د O_2 (اکسيجن) د ماليکول سره ټکر وکړي، د اتومونو تر منځ اړيکه شلېږي او اتومونه ازاد ېږي؛ بيا د اکسيجن اتوم د اتوم د ماليکول سره ترکيبېږي، او O_3 يا اوزون جوړوي، بيا چې د اوزون ماليکول د اکسيجن د اتوم سره تعامل وکړي د اکسيجن دوه ماليکوله جوړېږي. په همدې توګه کېمياوي تعاملونه چې د هايدروجن، نايتروجن، کلورين او برومين اتومونه پکې برخه لري، د اوزون د ويجاړېدو او جوړېدو يو انډول ساتي. (۴)

$$O_2 + {}_2uV \longrightarrow O + {}_3O$$

د اوزون پوړ د بنفش لاندې وړانګه د سور څخه په لاندې (Infra Red(IR وړانګه بدلوي او د ځمکې سطحې ته يې لېږي؛ د بنفش لاندې وړانګې بدلول د سور څخه په لاندې وړانګې بدلېږي، طبيعي تعامل يې داسې دی:

اتومي اکسيجن + ماليکولي اکسيجن ⟶ UV د بنفش لاندې + اوزون

$$IR + {}_3O \longrightarrow O + {}_2O$$

(IR) د سور څخه لاندې + اوزون ⟶ اتومي اکسيجن + ماليکولي اکسيجن

د ځمکې اتوموسفير: د ځمکې له پاسه هوا ته اتوموسفير وايي. اتوموسفير هغه فضا ده، چې په پنځو عمده برخو يعنې تروپوسفير، ستراتوسفير، مېزوسفير، ايونوسفير، ايګزوسفير ويشل شوې ده او اوزون په تروپوسفير کې موقعيت لري. د

تروپوسفیر برخه د ځمکې د سر څخه پیل او تر لسو کیلومترو پورې دوام مومي او د هغې د پاسه د اوزون پوړ دی، چې د پنځو څخه تر اوو کیلو مترو پورې پنډوالی لري، تر دې وروسته د ستراتوسفیر پوړ پیل کېږي او تر پنځوس کیلومترو دوام مومي. د اوزون او تروپوسفیر د پوړ ترمنځ د سپکو غازونو یو نری پوړ هم شته؛ د ناسا د ادارې په مرسته یو اخیستل شوی انځور چې دا پوړونه پکې په ښه توګه ښودل شوي دي، وګورئ(۴):

د ځمکې د پاسه تر ۵۰ کیلو مترو پورې د پوړونو یو تقریبي اټکلي انځور



۲ انځور: ځمکه او اتوموسفیر. (۲)

د اوزون نری والی او د هغې ساتنه: د ناسا د وړاندوینې له مخې په ستراتوسفیر کې د اوزون پنډوالی هره ورځ کمېږي، دا ځکه چې په ځمکه کې ځینې غازونه لکه کلورین او برومین ازادېږي؛ دا چې ارزانه غازونه دي، نو غو ښتنه یې هره ورځ ډېرېږي. دا غازونه د باد په وسیله د ځمکې ستراتوسفیر ته رسېږي او د اوزون له منځه وړلو سبب کېږي. په۱۹۸۷ م کال کې ملګرو ملتونو یو نړیوال تړون لاسلیک کړ، چې د هغې له مخې یې د سي-اف-سي ګانو تولیدول او جوړول بند کړل. دا تړون د مونتریال د تړون او یا پروتوکول په نوم مشهور دی. د اروپا اتحادیه ددې تړون څخه نوره هم مخکې تللې ده، د سي- اف- سي ګانو تولیدول یې بند کړیدي او نوي مرکبونه یې جوړ کړي دي، چې په هغه کې یې د کلورین او فلورین پر ځای هایدروجن ځای په ځای کړی دی چې تر ټولو نامتو یې اچ-سي-اف -سي 22 یا HCFC-22 دی، چې د کوټو د سړولو لپاره کارول کېږي. د هایدروجن اتوم په هایدروکسیل (OH) برید کوي او د دا ډول اچ- اف- سي ګانو ستره برخه ستراتوسفیر ته له رسېدو دمخه له منځه ځي؛ مګر یو شمېر یې د ستراتوسفیر پوړ ته ځي او د ډېر لږ اوزون د ویجاړېدو سبب کېږي. هالوکاربونونه هم د ستراتوسفیر د پوړ د اوزون ویجاړونکي دي، چې د کلورین او برومین په خپرولو سره د اوزون پوړ ویجاړوي. د اوزون ځینې ویجاړوونکي په هوایي او ځمکني نقلیه وسایلو، کورونو او نورو کې د سړولو لپاره کارول کېږي. د اوزون پوړ هر کال وړوکی کېږي، داسې چې په ۲۰۰۷م کال د سپتمبر په ۱۳مه ناسا وښودله چې د اوزون کنده ډېره غټه شوې ده او ۷، ۹ ملیون میل مربع سیمه یې (د شمالي امریکې په اندازه سیمه) پوښلې ده، په جنوبي قطب کې د اوزون د پوړ سوری ډېر غټ شوی دی. ددې لامل دادی چې د انسان په وسیله د جوړو شویو کولرونو کېمیاوي مواد چې ستراتوسفیر ته لېږدول کېږي، هلته اوزون ویجاړوي. د سي-ایف-سي ګانو په جوړولو باندې بندیز لګول به د اوزون د ژغورلو لامل شي. د نړیوالې هواپېژندنې اداره دې نتیجې ته رسېدلې ده، چې په ۲۰۴۵ م کال کې به دا کنده بېرته ډکه شي، مګر ناسا وایي چې د اوزون د دریو څخه دوه برخې به تر ۲۰۲۵م کال پورې ډکې شي او په دې توګه به د ټول اوزون پوړ وژغورل شي. (۸)

پر اوبو او هوا د اوزون د پوړ اغېزې:

دا چې ځمکه ګرمېږي، د شين کوريزو غازونو رول پکې د نورو په پرتله ډېر دی؛ اوزون د شين کوريزو له ډلې څخه دی، د کاربن دای اکسايد غاز چې شين کوريز غاز دی، د اوزون د پوړ د ښه والي لپاره ښه اغېزه کوي. د ايچ-سي-ايف-ګانو غازونه شين کوريز غازونه دي او د اوزون د پوړ د کوچنيوالي سبب کېږي. دا چې ټوله نړۍ توده شوې ده، خو جنوبي نيمه کره لا سړه پاتې ده او لامل يې په هماغه برخه کې د اوزون د پوړ کنده ده. په اوله درجه د ځمکې تودېدل د هغه کاربن دای اکسايد هغه اندازه ده، چې د ډېرو سکرو، نفتو، او نورو څخه دي. دا غازونه لکه د يوې پردې په شان په ټولې سيارې غوړېدلي چې د لمر تودوخه اخلي. سي اف-سي ګانې چې کاربونونه لري، د اوزون د کموالي سبب کېږي، نو په دې توګه د ځمکې تودوالی او د اوزون لږوالی سره اړيکې لري؛ سي اف سي ګانې ممکن تر ډېره وخته په هوا کې پاتې شي. د امريکې د متحده ايالتونو د چاپېريال ساتنې ادارې د وړاندوينې له مخې به ځمکه تر ۲۰۵۰ کال پورې ببرته خپل معمولي او طبيعي حالت ته راشي، د اوزون غاز چې د شين کوريزو غازونو له ډلې څخه دی، د هغې لږوالی د ځمکې د تودوالي سبب کېږي. (۴)

د اوزون- اکسيجن دوران: د اوزون ماليکول O_3 د اکسيجن د يو ماليکول او د اکسيجن د يو اتوم څخه جوړ دی، چې ناپايښته او ببرته تعامل کوونکی دی. د اوزون په ماليکول کې د اکسيجن د ماليکول او د اکسيجن د اتوم ترمنځ ډېره کمزورې اړيکه شته، چې د ډېر لږ ټکر له امله يو له بله بېله او يا د ډېرې لږې انرژۍ له امله ببرته لومړني حالت ته راځي، د اوزون پوړ د ځمکې د ستراتوسفير په پوړ کې دی. په شپه کې د اوزون پوړ د لمر د رڼا د ورکېدو له امله د ورځې په نسبت لږ دی، کله چې د بنفش دپاسه ultra violet وړانګې د اوزون د ماليکول سره ټکر وکړي، پورتنۍ وړانګې خپله ډېره انرژي له لاسه ورکوي او د سور څخه په لاندې (Infra red) باندې بدلېږي، چې د همدې ټکر له امله د اوزون ماليکول د اکسيجن په ماليکول او د اکسيجن په اتوم تبديلېږي او د لمر په بيا ځلېدو سره د اوزون ماليکول بيا جوړېږي. ددې سره سره چې د اوزون ماليکول زموږ لپاره ګټور دی، د هغې شتون د تروپوسفير په پوړ کې (په هغه پوړ کې چې موږ اوسېږو) ډېر زيان رسوونکی هم دی. د ډيزلي موټرو څخه د نايتروجن پراوکسايد غازونو د وتلو له امله او بيا هغه د لمر د رڼا سره د ټکر له امله فوتوکېمياوي تعامل د اکسيجن د ماليکولونو سره تعامل کوي او د اوزون ماليکولونه رامنځته کوي، چې د اوزون په ماليکولونو کې د اکسيجن فعال اتومونه (راډيکالي) وي او دا راډيکالي اکسيجن د تنفس په وخت کې د اسې ستونزې رامنځته کوي، چې تنفسي سيستم زيانمنوي. (۹)



۳ انځور: د اوزون دوران. (۱)

د اوزون کنده:

تر ۱۹۸۰ کال پورې د اوزون په پوړ کې د کوم سوري خبره نه وه، مګر په ۱۹۸۵ کال کې پوهانو په جنوبي قطب کې د اوزون د نريوالي خبر ورکړ.



۴- انځور: د اوزون کنده. (۳)

په جنوبي قطب کې د اوزون په پوړ کې غټه کنده (د سپتمبر ۲۰۰۲ د ناسا په وسيله اخيستل شوی انځور.

په اوسني وخت کې د اوزون د پوړ د نريوالي لامل د CFC (کلورين- فلورين او کاربن غازونه) دي. د سي ايف سي غازونه د يخچالونو، کولرونو او پلاستيکي موادو په جوړولو کې پکارېږي؛ پهCFC کې د کلورين غازونه ناپايښته او تعامل کوونکي دي او کله چې د سي ايف سي ته وخېژي، نو په پورتنيو پوړونو کې د لمر د رڼا سره د ټکر په نتيجه کې د کلورين غاز ازاد ېږي، د کلورين اتومونه د ستراتوسفير په پوړ کې داوزون د ماليکونو سره ټکر کوي، د کلورين هر اتوم کولی شي چې د اوزون 100000 ماليکولونه د منځه يوسي. په همدې توګه د ملګروملتونو لخوا د مونتريال د تړون له مخې ټول هېوادونه په دې ژمن شول، چې د سي- ايف- سي توليد او خرڅول به نه کوي او بې وزلو هېوادونو ته به ددې امکان برابروي، چې د نورو يخوونکو غازونو څخه به کار اخلي. موږ پوهېږو چې ډېر صنعتي هېوادونه په شمالي نيمه کره کې پراته دي، نو ولې په جنوبي نيمه کره کې د اوزون پوړ سوری شوی دی؟ ددې پوښتنې د ځواب لپاره ډېرې څېړنې ترسره شوي، چې ځينې يې لا تر اوسه روانې دي. په دې وروستيو کې د اوزون په پوړ کې د سوري لامل هغه ستر طوفانونه چې په جنوبي قطب کې پېښېږي، ګڼل شوی دی. داسې چې د ژمي په موسم کې په اوږدو قطبي شپو کې د لمر رڼا په جنوبي قطب کې هيڅ نه وي، نو له همدې امله په دې قطب کې د ستراتوسفير په پوړ کې ستر طوفانونه رامنځته کېږي، چې هغې ته قطبي ګردابونه يا Polar Vertex وايي. قطبي ګردابونه کولی شي، د هوا ذرې تجزيه کړي، دا ګردابونه د سړو وريځو د پيدا کېدو سبب ګرځي، چې هغه په جنوبي قطب کې وي. دې وريځو ته د قطبي ستراتوسفير وريځې(POLAR STRATOSPHERE) وايي، چې لنډيز يې PSO او ډېرې سړې وريځې وي، چې تودوخه يې 80- سانتي ګريد ته رسېږي.

PSC د نايتريک اسيد ترای هايدريت Nitric acid tri hydrate څخه جوړ شوی دی او له هغو وريځو سره چې موږ يې په اسمان کې وينو، ښېخي توپير لري. دا اسيدي وريځې کولی شي د اوزون پوړ ويجاړ کړي؛ نو په دې توګه د څېړنو د اسنادو له مخې د اوزون د پوړ ويجاړوونکي لاملونه لاندې دي:

1. د ځمکې ګرځېدل داسې دي، چې د لمر رڼا د شمالي قطب په نسبت په جنوبي قطب کې ډېره لګېږي، نو له همدې امله د اوزون پوړ په شمالي قطب کې د جنوبي قطب څخه زيات دی، ځکه پوهېږو چې د اوزون په ماليکول کې د اکسيجن د ماليکول او د اکسيجن د اتوم ترمنځ اړيکه ډېره سسته وي او ممکن چې ډېر وړوکی ټکر يو له بل نه بېل او يا د لږې انرژۍ په پيدا کېدو سره لومړي حالت ته وګرځي.
2. دويم دليل يې داسې دی، چې د جنوبي قطب هوا د شمالي قطب څخه سړه وي، نو کله چې ګرمه هوا جنوبي قطب ته ځي، نو دا چې هغه سپکه وي پورته خواته ځي او د اوزون د پوړ د ويجاړېدو باعث کېږي.
3. د ژمي په موسم کې د لمر رڼا په جنوبي قطب کې هيڅ نه وي، نو همدا لامل د سړوالي او د پي ايس سي وريځو د رامنځته کېدو باعث کېږي.
4. PSC وريځې تيزابي دي او له همدې امله د اوزون پوړ ته تاوان پېښوي.

پايله:

له پورتنۍ څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې:

1. د اوزون پوړ د لمر او نورو ستورو څخه د خپرېدونکو اولتراوايوليټ UV او يا بنفش وړانګو د جذبېدو لپاره ډېر ښه چت دی.
2. UV وړانګې د ځمکې د کرې د ژوندیو موجوداتو له منځه وړلو، په هغوی کې د سیستمونو د ویجاړولو ستر لامل دی.
3. د اوزون د پوړ ستر ویجاړوونکي تودوخه او شین کوریز غازونه دي.
4. شین کوریز غازونه کاربن دای اکساید او هلوجنونه دي.
5. د مونتریال تړون د اوزون د پوړ د ساتنې تړون دی، ټول هېوادونه باید هغه لاسلیک او په عملي کېدو یې ځانونه مکلف وګڼي.
6. زموږ هېواد د مونتریال تړون د لاسلیکوونکو څخه دی، باید هغه عملي کړي.
7. د مونتریال تړون له مخې د ۹۵ ډوله د اوزون ویجاړونکو غازونو تولیدول او کارول بند دي.
8. زمونږ په بازارونو کې همدا اوس هم د سړوونکو وسایلو ترمیم سوونکی د 134a په نوم غاز چې د 1,1,1,2-tetraflouroethane ترکیبي فارمول لري، کاروي چې د مونتریال د تړون له مخې د بندو غازونو له ډلې څخه دی. زموږ د چاپېریال ساتنې اداره دا دنده لري، چې د مونتریال د تړون مواد عملي کړي. (۷،۸)

وړاندیزونه:

- ددې لپاره چې هوا له ککړتیا څخه وژغورل شي، باید زاړه موټر ګرځېدو ته پرېښودو.
- د سي- ایف- سي ګانو کارونه په عملي توګه بنده شي.
- د چاپېریال ساتنې اداره باید ډېره فعاله شي، ترڅو د مونتریال د تړون له خوا بند شوي غازونه په عملي توګه بند کړي، ترڅو د اوزون د ویجاړېدو مخه ونیول شي.

Abstract:

The ozone layer forms a thin shield high up in the sky. It protects life on Earth from the sun's ultraviolet (UV) rays. In the 1980s, scientists began finding clues that the ozone layer was going away or being depleted. This allows more UV radiation to reach the Earth's surface. This can cause people to have a greater chance of getting too much UV radiation. Too much UV can cause bad health effects like skin cancer and eye damage. Recently, chlorofluorocarbons (CFCs) were used a lot in industry and elsewhere to keep things cold and to make foam and soaps. Strong winds carry CFCs up into the stratosphere where UV radiation breaks them apart, releasing chlorine atoms. Each chlorine atom can attack and break apart (destroy) as many as 100,000 ozone molecules during the time it is in the stratosphere. The chlorine from CFCs reduces (depletes) the amount of ozone in the stratosphere. Other ozone-eating chemicals are pesticides such as methyl bromide, halons used in fire extinguishers, and methyl chloroform used in businesses.

References:

1. "Science: Ozone Basics.". Retrieved 2007-01-29.
2. "Ozone layer". Retrieved 2007-09-23.
3. "NASA Facts Archive". Retrieved 2011-06-09.
4. Review: Ultraviolet radiation and skin cancer Deevya L. Narayanan MPH, CPH1, Rao N. Saladi MD1, Joshua L. Fox MD, FAAD2 International Journal of Dermatology Volume 49, Issue 9, pp. 978–986, September 2010
5. Energy Information Administration/Emissions of Greenhouse Gases in the United States 1996 (2008-06-24). "Halocarbons and Other Gases". Retrieved 2008-06-24.

6. "NOAA Study Shows Nitrous Oxide Now Top Ozone-Depleting Emission, NOAA, and August 27, 2009". Noaanews.noaa.gov. 2009-08-27. Retrieved 2011-11-08.
7. "Brief Questions and Answers on Ozone Depletion Ozone Layer Protection | US EPA". Epa.gov. 2006-06-28. Retrieved 2011-11-08.
8. zO Scientific Assessment of Ozone Depletion: 2010, sections 2.1.
9. US EPA (2008-09-03). "Ozone Depletion Glossary". Retrieved 2008-09-03.

پوهـــنوال ســيد محبوب شــاه (هــاشمي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

د توبې اهميت او د قبلېدو شرطونه يې

لنډيز:
الله تعالی انسان د خپل عبادت او اطاعت لپاره پيدا کړی، خو کله د غفلت او ناپوهۍ له امله نافرماني وکړي، يا په عباداتو کې ترې تقصير او کمی وشي؛ نو ددې لپاره چې انسان د ګناه نه خلاص شي او خپل ګناهګار نفس پاک کړي، الله تعالی په خپل فضل او رحمت سره خپلو بنده ګانو ته د توبې امر کړی، چې انسان د ګناه نه پاک، الله تعالی ته نېږدې او جنت ته د ننوتلو لاره پيدا کړي. په ريښتينې توبې سره انسان د جهنم نه خلاصېږي، د الله تعالی فرمانبرداره بنده جوړېږي؛ په ژوند او روزۍ کې يې برکت پيدا کېږي.

سريزه:
د الله تعالی د لويو پېرزوينو څخه پر خپلو بندګانو دا هم ده، چې ښه او بد يې ورته ښودلي، انبياء عليهم السلام يې هم په همدې خاطر مبعوث کړي، چې خلک سمې او نېغې لارې ته وبلي؛ د شرک، کفر او ناروا کارونو نه يې منعه کړي او که په سهوه، غفلت او ناپوهۍ کې ترې کومه ګناه صادره شي، الله ورته د جبران لاره پيدا کړي؛ هغه دا چې په اخلاص سره توبه ويستل، په کړو ګناهونو ندامت او پښېمانتيا ده، چې توبه د انسان د دواړو جهانونو د کاميابۍ ذريعه ده. مرګ راتلونکی دی، که انسان ګنهکار مړ شي، نو ملايکې به يې روح په سختۍ سره وباسي، د قبر په عذاب به ګرفتار وي او آخرت کې به شرمنده وي.

موخې:
- د توبې په ارزښت، اهميت او د قبلېدو په شرايطو يې پوهېدل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

د توبې معنی:
توبه عربي مؤنث نوم دی (تاب يتوب مصدر دی)، معنی يې د ګناه څخه مخ اړول او الله ته متوجه کېدل (پښېمانه کېدل)؛ نو توبه اقرار او اعتراف، پښېمانتيا، د ګناه څخه منع کېدل، د مخکېنيو بدو عملونو او د ګناه او نافرمانۍ څخه د اطاعت په لور رجوع کول. (۲م۹۰/ج۱)
د نصوح توبې تعريف داسې هم شوی دی: په ريښتينې توګه او اخلاص سره د ګناه نه ګرځېدل، په خپل کړي جرم اعتراف کول، د پښېمانتيا ښکاره کول، په دې کلک عزم چې بيا به دا ناوړه کړنې نه ترسره کوي؛ ريښتينې توبه د خولې استغفار او د زړه پښېمانتيا ته نصوح توبه، خالصه، ريښتونې او مقبوله توبه وايي. (۵م۳۸۰/ج۱)
د توبې شرعي تعريف: توبه په اصطلاح کې په تېرو ناوړو کارونو او ګناهونو، کړو او ويناوو باندې د هغو په بدوالي په پوهېدو سره پښېمانه کېدل او د تل لپاره يې د هغه د پرېښودلو په هکله ټينګ عزم او هوډ وي، البته که د چا څخه په ظلم او ناحقه د اخيستل شويو شيانو بېرته هغوی ته يا د هغوی وارثانو ته ورکړي او قضا شوي او ضايع شوي فرايض بېرته ادا کړي؛ دا به الله تعالی ته په اخلاص سره وي او پورته ټولې کړنې به له الله تعالی څخه د ثواب په هيله او دده له عذاب څخه د ويرې په خاطر وي، او دغه راز تر مرګ او له مغرب څخه د لمر د راختلو وړاندې به وي. (۳م۱۱/۲۳)
استغفار: اصلي معنی يې غفر د پټولو په معنی ده، نو مغفرت د يو شي پټول او ختمول دي، لکه څرنګه چې په نکريزو سره سپين وينښتان پټېږي، همدارنګه د استغفار په غوښتلو سره هم ګناه محوه کېږي او ختمېږي. (۷م۵۲۲/ج۱)

عفوه: د مخ اړولو او د ګناه د نه کولو په معنی ده؛ عفوه د ګناه د له منځه وړلو په معنی وشوه او عفو د مغفرت وروستۍ مرحله ده، داسې وبوله چې د ګناه بښنه مغفرت دی، او د ګناه او جرم بېخي د عملنامې څخه لرې کول عفوه ده؛ ګواکې د عفوې په نتيجه کې ګنهګار داسې شو، لکه ګرد سره چې ګناه يې کړې نه وي. (۷م۲۸۶/ج۱)

د توبې فلسفه:

هغه څوک چې د الله تعالی د اوامرو څخه مخ اړوي، دغه انسان د بد عمل په اجرا کولو سره د انسانيت د مرتبې څخه ځان ليرې کوي او د حيوانيت درجې ته نږدې کېږي، انسان د بدې کړنې په ترسره کولو سره د الله تعالی د نږدېوالي او برکاتو څخه لرې کېږي، له جنت نه ليرې کېږي او جهنم ته د داخلېدو مستحق ګرځي، چې په دې صورت کې دې انسان ته د توبې او استغفار څخه پرته بله لاره نشته، ځکه چې الله تعالی ورته پخپله د توبې امر کړی. (۹م۴/ج۴)

(وَتُوبُوٓا۟ اِلَى اللهِ جَمِيعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ). د نور سورت ۳۱ ايت. ژباړه: توبه وکړئ الله تعالی ته ټول په جمع سره ای مومنانو ! ددې لپاره چې تاسې کامياب شئ؛ يعنې که په احکامو کې له چا څخه کوتاهي شوې وي، نو په پرې لازم دي، چې ددې څخه توبه وکړي، په تېرو کړو باندې پښېمانه کېدو سره د الله تعالی څخه مغفرت وغواړي او په راتلونکې کې ترسره شوې خطا او ګناه ته د نه نژدې کېدو پخه اراده وکړي، نو دا به مو د کامياب سبب وګرځي. (۱۱م۱۷۲)

د توبې حقيقت:

په ګناه او نافرمانۍ باندې پښېمانتيا ته توبه وايي، خو چې حقيقي او ريښتيني پښېمانتيا وي، داسې چې د توبې او پښېمانتيا اثار او نتايج په عملي بڼه کې ښکاره کړي. يوازې پښېمانتيا صحيح توبه نده، په توبه کې بايد د توبې ټول شرايط بشپړ شي، چې پښېمانتيا او افسوس په تېرو کړو ګناهونو او په راتلونکې کې يې د نه کولو د کلک عزم او ارادې خاوند وي، چې بيا به دې ناوړه عمل ته نه نږدې کېږي او د تېرو ګناهونو جبران وکړي. (۱۳م۲۵)

د توبې اړتيا:

په ګناه او نا فرمانۍ ډېر ناوړه اثر، نښې او نتايج مرتب کېږي، چې د د نيا او آخرت د بربادۍ، خرابۍ او ناکامۍ سبب ګرځي. د الله تعالی د عذاب مستحق ګرځېدل، د نعمتونو بندېدل، عذاب ته لاره پرانيستل، د علم نه محرومېدل، د برکت ختمېدل، د توفيق نه ورکول، د ګناه سره عادت کېدل او د شيطان په لومو کې بندېدل؛ نو عاقل او هوښيار مؤمن چې په آخرت عقبده لري، جنت- دوزخ ورته ياد وي، نو خامخا بايد د توبې اقدام وکړي او خپل نفس د ګناه نه پاک کړي، چې د تلپاتې شرمنده ګۍ نه خلاص شي او د خپل مولا په وړاندې سپين مخ ودرېږي. توبې سره انسان پاک او الله تعالی ته نږدې کېږي، نو هر هوښيار مسلمان ته پکار ده، چې توبه خپل اشد ضرورت وګني. (۹م۱۴)

د توبې فضايل:

۱- توبه ويستونکي سره الله تعالی مينه کوي. الله تعالی فرمايي: (اِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ۲۲۲ـــــ). (د بقری سورت ۲۲۲ ايت)

ژباړه: يقيناً الله تعالی خپل بنده ګان خوښوي، چې بيا بيا ورته رجوع کوي، يعنې له ګناهونو څخه توبه وباسي او د بښنې غوښتنه ځنې کوي او هغه کسان خوښوي چې پاک اوسي له فواحشو او له ککړتياوو څخه لرې ګرځي.(۱۱م۱۲۱/ج۲)

۲- په توبه الله تعالی خوښېږي: امام مسلم په خپل سند سره د ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت کوي: (عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم لله اشد فرحاً بتوبة احدکم من احدکم بضالته اذا وجدها). (۱۰م۲۰۹۹/ج۴/ د حديث نمبر- ۲۷۷۵)

ژباړه: ابوهريرة رضی الله عنه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً الله جل جلاله ستاسې د يو بنده په توبه دومره خوښېږي، لکه يو ستاسې چې خپل ورک شوی شی بيا مومي.

۳- توبه د دنيا او آخرت کاميابي ده: الله تعالی فرمايلي: (...وَاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ). (هود سورت ۳ ايت)

ژباړه: او دا چې ښښنه وغواړي خپل رب څخه او بيا رجوع ورته کوي هغه ته چې فايدې ورسوي تاسو ته غوره فايده د يوې نېټې مقررې پورې او ورکوي هر زيات عمل کوونکي ته زيات فضل د خپل طرف نه. (۱۱م۱۱/ج۲)

۴- توبه کوونکي ته ملايکې د ښښنې دعاء کوي: الله تعالی فرمايي: (فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ). (مومن سورت ۷ ايت)

ژباړه: ملايکې د ايماندارو لپاره داسې دعاء او استغفار کوي چې ای زمونږ ربه ستا رحمت (عامه) او علم هر شي لره شامل دی، پس په ايماندارو په درجه اولی رحمت وي او د دوی د ايمان تاته علم هم دی، پس دې خلکو لره وښښې کومو چې د شرک او کفر نه توبه کړې ده او ستا په لاره باندې چلېږي او دوی لره د جهنم د عذاب نه بچ کړې. (۱۱م۲۴/۳۲)

۵- توبې سره د بندګانو ګناهونه به نېکيو بدلېږي: په دې اړه الله تعالی داسې فرمايلي: (الا من تاب وامن وعمل صالحاً إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا 70ــ). (فرقان سورت ۷۰ ايت)

ژباړه: مګر هغه چا چې توبه وويسته او ايمان يې راوړ او نېک عمل يې وکړ په اخلاص پس دغه کسان چې دي، د دوی ګناهونه به الله تعالی په نېکيو بدل کړي، الله تعالی ښښونکی او مهربان دی. د ايت د مضمون نچوړ داسې شو چې کوم مسلمان په غفلت سره ګناه کې اخته شي، بيا يې توبه وکړه او خپل عمل يې اصلاح کړ، نو توبه يې هم قبوله شوه او ګناهونه يې په نېکيو سره بدل شول. (۸م۳۷۲/ج۲)

د توبې د قبلېدو شرطونه:

څرنګه چې توبه په اسلامي شريعت کې ډېر اهميت لري، نو د قبلېدو لپاره يې علماوو لاندې شرطونه بيان کړي:

۱- سمدلاسه به د ګناه نه منع کېږي او ګناه به د تل لپاره پرېږدي.

۲- په تېرو ګناهونو به د پښېمانۍ څرګندوي.

۳- د توبې په وخت کې به کلکه اراده ولري، چې بيا به ددې ګناه ارتکاب نه کوي.

۴- مظلومانو ته به خپل حقوق ښېرته سپاري. (۱۳م۲۵)

۵- ګناه به خاص د الله تعالی لپاره پرېږدي، که چا ګناه په دې خاطر نه کوله چې قدرت يې پرې نه درلود، يا د خلکو له خبرو ويرېده، يا ګناه په دې خاطر نکوي، چې د هغه مقام، مرتبه، اثر او رسوخ ته زيان رسوي، يا کېدای شي د وظيفې نه ګوښه شي، يا ګناه په دې خاطر نکوي چې صحت ته يې زيان ونه رسېږي، مثلاً زنا په دې خاطر نکوي، چې په خطرناکو امراضو اخته نشي، يا يې کمزوری نکړي، يا يې حافظې ته زيان ونه رسېږي؛ غلا په دې خاطر نکوي، چې کور ته د تللو لاره نشي پيدا کولی، يا سيف او خزانه نشي خلاصولی، يا د پوليس او څوکيدار نه ويرېږي؛ رشوت پدې خاطر نه اخلي چې وظيفې نه منفک نشي، يا په دې وېره وي چې استخبارات يې څاري؛ شراب پدې خاطر نه څکي چې د اخيستلو توان يې نلري، يا د جانبي غوارضو نه يې وېره لري، يا د پوليس او يا چې خلک ورته شرابي ونه وايي. دروغ نشي ويلی، ځکه چې د خبرو مشکل لري يا داسې نور موارد، چې دا ټول په توبه کې نه داخلېږي.

۶- د توبې نه وروسته ګناه متضرره ورته بده ښکاره شي، د رېښتينې توبې اثر همداسې وي چې کله پخواني ګناهونه يادوي، د لذت او خوښۍ احساس ونکړي، يا يې په راتلونکې کې د بيا واپس کېدو اراده ونکړي.

۷- ګناه او عذاب يې ورته سپک ښکاره نشي، د بدو ملګرو څخه لرې والی غوره کړي او غوره ملګري ځانته انتخاب کړي. د توبې ويستلو بېړه او چالاکي وکړي، ځکه د ګناهونو زياتېدو سره زړه تور شي، بيا د توبې توفيق له بنده څخه سلبېږي. د خپلې توبې د نقض نه وويرېږي، چې هسې نه چې توبه يې قبوله شوي نه وي، دی به مغرور وي او د الله تعالی د عذاب نه به ځان په امن کې وشمېري. د ضايع شوو فرايضو او حقوقو جبران به د امکان تر حده کوي، لکه زکات او روژه. د ګناه ځای پرېږدي، ځکه چې بيا د ماحول د تاثير لاندې رانشي. هغه خلکو سره ملګرتيا پرېږدي، چا چې د ګناه سرته رسولو ته هڅاوه او مرسته يې ورسره کوله. د ګناه لوښي او اسباب له منځه يوسي، لکه د شراب د څکلو لوښي يا د لهو ولعب سامان. په دې هڅه کې دې وي، چې خپل خوراک حلال کړي او حرام پرېږدي. توبه بايد له مرګ وړاندې وباسي. (۹م۳۲/ج۴)

د توبې قواعد:

توبه د مومن مسلمان د ژوند لومړنی، منځنی او اخرنی پړاو او منزل دی، د مومن د توبې نه خلاصی نشته، ځکه توبه جنت ته د تلو لاره او د جهنم نه د خلاصېدو ذريعه ده.

۱- د هر بني ادم نه خطاء صادرېږي: هر انسان بايد په دې پوه شي چې دی مقصر دی، د الله تعالی کماحقه عبادت يې ندی کړی او نه يې کولی شي. د انسان نه په ناپوهۍ او غفلت ګناه صادرېږي، الله تعالی ورته د توبې چانس ورکوي؛ حديث کې راغلي د چپ لاس ملايکه تر شپږو ساعتونو پورې د ګنهګار مسلمان خطاء نه ليکي، که پښېمانه شو او بښنه يې وغوښته نو ګناه ترې ليرې شي او که د ګناه مرتکب شو يوه بدي ورته ليکل کېږي (۲م۹/۱۲) او دويم چانس ورته د مرګ تر راتلو پورې ورکوي.

۲- ګناه د هرې بلا او بدبختۍ سبب دی: هر مصيبت چې انسان ته رسېږي، لکه غم، مرض او تاوان سبب يې د بنده ګناه او معصيت دی. په ګناه سره ادم عليه السلام له جنت نه خارج شو، فرعون يې غرق کړ؛ الله تعالی فرمايي: (وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ). (الشوری /۳۰ ايت)

ژباړه: پر تاسې چې هر مصيبت راغلی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو نه راغلی دی.

۳- بلاګانې او عذابونه ګناه سره نازلېږي او توبې سره پورته کېږي: د بلا او مصيبت له منځه وړلو لپاره د نفس سره مجاهده پکار ده، چې تر خپلې وسې پورې بنده ګي وکړي او له ګناه څخه د امکان تر حده ځان ساتل، توبې ته اقدام کول او پخپل جرم اعتراف وکړي. ځينې خلک دا ګمان کوي، چې زه ګنهګار نه، بلکې معصوم يم په داسې حال کې چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (هر بنی ادم خطاکار دی). (۱۲م۴/۹۱). ځينې خلکو خپل ګناهونه هير کړي، خو د قيامت په ورځ به دا ګناهونه د هغوی په عملنامو کې موجود وي، کله به دوی ورته د ګناه په سترګه هم نه ګوري؛ الله تعالی فرمايلي: (وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ 47ـــ). (الزمر سورت ۴۷ ايت)

ژباړه: هلته د الله لخوا د هغو مخې ته هغه څه راشي، چې هغوی هيڅکله د هغې فکر ندی کړی.

۴- د بلا او مصيبت حکمت: کله چې له بنده نه ګناه صادره شي، الله تعالی ازمېښت پرې راولي؛ دا ځکه چې انسان ګناه وکړي الله تعالی ملايکو ته امر کوي چې ګناه يې وليکي او د قيامت په ورځ حساب ورسره کېږي. حکمت يې الف: په مصيبت صبر او رضا باندې ګناهونه عفو کوي. حديث کې راځي چې مسلمان بنده باندې همېشه مصيبتونه وي، تر هغې چې د مصيبت په ذريعه له ګناه نه پاک شي(۱۲م۴/۲۸۶). ب: د آخرت عذاب نه د دنيا مصيبت اسان دی، نو دنيوي مصيبت د مومن لپاره رحمت دی. ج: بلا او مصيبت سره غافل انسان تنبيه کېږي.

۵- ډېر ګناهونه د توبې مانع نشي ګرځېدی: د ګناهونه زياتوالي سره له الله تعالی څخه ناامیدي نه ده پکار، په ټولو ګناهونه کې لويه ګناه شرک ده، هغه د مرګ نه مخکې توبې سره بخښل کېږي. الله تعالی فرمايلي: (قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللهِ ۭ اِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ 53ـــ). (الزمر سورت ۵۳ ايت)

ژباړه: ای پيغمبره! هغو بنده ګانو ته مې ووايه کومو کسانو چې پر خپلو ځانونو تېری کړی، چې د الله د رحمت نه نهيلي کېږي، په يقيني ډول الله ټولې ګناوې بښي، هغه بښونکی او مهربان دی.

۶- د الله جل جلاله څخه په تمه نه مغرور کېدل: لکه څنګه چې الله تعالی د غرونو په اندازه ګناهونه بښي، خو کله په مثقال هومره ګناه بنده جهنم ته داخلوي. الله تعالی فرمايلي: (فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝). (د زلزال سورت ۸ ايت)

ژباړه: بيا چې يوه ذره قدرې نيکې کړې وي، وبه يې ګوري او چا چې يوه ذره قدرې بدي کړې وي، وبه يې ګوري. د نېکو اعمالو کول پکار دي او د ګناه پرېښودل، د الله تعالی نه حياء او د هغه د نعمتونو شکر ادا کول پکار دي، د جنت طمع لرل او د جهنم نه نجات غوښتل، په ارزوګانو مغروربدل ندي پکار، په همت سره متې نغاړل او د الله په طاعت کې د نفس سره مجاهده پکار ده.

د توبې نتايج:

۱- د ګناهونو پاکېدل، انسان هم ورسره پاکېږي او د عملنامې نه يې ګناهونه پاکېږي. (۴م۴/۳۹۳)

۲- الله تعالی ورسره مينه کوي: (اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ۲۲۲ـــــ) (بقره ۲۲۲ ايت). ژباړه: د الله هغه خلک خوښېږي، چې له بدۍ نه لاس واخلي او سپېڅلتيا غوره کړي.
۳- ستر او پرده: د توبه کوونکي په ګناهونو پرده واچول شي، چې د قيامت په ورځ يې عملنامه کې ګناهونه نه وي.

پايله:

د تزکيې لپاره غوره لاره د ګناه نه ځان ساتل دي، د توبې فلسفه داده چې د الله تعالی د رحمت او نزدېکت سبب ګرځي. د توبې حقيقت دا لازموي، چې د زړه د صدق نه پښېمانه شي او بيا ګناه ته زړه ښه نکړي. څوک چې د ګناه په زيان پوه شي، پکار ده چې سمدلاسه توبه وباسي. توبه بايد د عملي او اخلاقي دواړو ګناهونو نه وويستل شي، د توبې ثمره او نتيجه داده چې ګناهونه محوه کوي او ګناهونه په نېکيو بدلېږي. توبې سره زړه کې انکسار، تواضع او عاجزي د الله په وړاندې پيدا شي؛ الله تعالی ته د بنده داسې صفات خوښ دي. د توبه کوونکي زړه نرم شي، کبر وغرور او لويي ترې ورکه شي. له خلکو نه د توصيف اميد نلري، په نورو ځان غوره نه ګڼي او نه ورته په سپک نظر ګوري. که پورتني صفات پکې نه وي، پخپلې توبه دې نظرثاني وکړي او بيا دې له سره سمه توبه وباسي.

وړانديزونه:

۱. هر مسلمان بايد الله تعالی ته توبه کوونکی وي.
۲. ګناهګار دې د الله د رحمت څخه نه نا اميده کېږي.
۳. هر چاته په کار ده، چې خلکو ته د توبې ترغيب ورکړي.
۴. د توبې فوايد او د ګناهونو اضرار بيان شي.
۵. ګناه ته بايد په سپک نظر ونه کتل شي، اګر که ډېره کوچنۍ هم وي.
۶. د توبې اثر بايد ښکاره شي، چې انسان د تل لپاره غوره کارونو ته مخه کړي او له بديو ځان وساتي.

خلاصة البحث:

ان الله امر المومنين جميعاً باالتوبه فقال و توبوا الى الله جميعا ايه المومنون لعلكم تفلحون و قسم العباد الى تائب وظالم و ليس ثم قسم ثالث البته فقال عزوجل و من لم يتب فاولائک هم الظالمون و هذا او ان بعد فيه كثير من الناس عن دين الله فعمت المعاصى وانتشر الفساد حتى ما بقى احد لم يتلوث بشىء من الخبائث الا من عصم الله والتوبه امر عظيم لا بد له من شروط:

۱- الا قلاع عن الذنب فورا ۲- الندم على مافات ۳- العزم على عدم العوده ۴- ارجاع حقوق من ظلمهم او طلب البرائة منهم
۲- ان يكون ترک الذنوب لله ۲- ان يستشعر قبح الذنوب و ضرره. اعلم فى المسلم اضرار كثيرة للذنوب منها، حرمان العلم، و الوحشته فى القلب. قله التوفيق، محق البركه، ذهاب الحياء و ان التوبه يمحو الذنوب كلها نسال الله التوفيق للتوبه.

اخځليکونه:

۱. القرآن الكريم
۲. ابراهيم، مصطفى، احمد زيات. ( ). معجم الوسيط. طبع الدار الدعوة.
۳. ابن حجر. ( ). فتح البارى. بيروت: طبع دار احياء التراث.
۴. ابن كثير، ابو الفداء اسماعيل. (۱۴۰۷هـ ق). تفسير ابن كثير. بيروت: طبع دار الفكر.
۵. ابن منظور. (۱۳۸۵). لسان العرب. بيروت: دار الحياء التراث.
۶. البانى، محمد ناصر الدين. (۱۴۰۲). سلسلة الاحاديث الصحيحه. مدينة المنورة.

۷. بستانی، فواد فهرام. منجد الطلاب.
۸. دیوبندي، مولانا محمود الحسن. (۱۴۰۴). کابلی تفسیر. مطبعه خادم الحرمین شریفین، سعودی.
۹. غزالی، ابو حامد محمد بن محمد. (۱۹۸۲). احیاء علوم الدین. بیروت: طبع دار الفکر.
۱۰. قشیری، ابو الحسن مسلم بن حجاج. (۱۹۹۸). صحیح مسلم. کراچي: قدیمی کتب خانه.
۱۱. مفتي، محمد شفیع. (۱۴۰۴). تفسیر معارف القرآن. پېښور: طبع تاج کتب خانه محله جنگي.
۱۲. منذری، ذکی الدین عبد العظیم بن عبد القوی.(۱۹۸۷). الترغیب و الترهیب. قاهره: طبع دار الریان للتراث.
۱۳. نووی، ابو ذکریا یحیی بن شرف. (۱۹۸۹). ریاض الصالحین. اردن: مکتبه المنار.

پوهـــنوال ګلاب شـــاه (سبحـــاني)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانګه

د نړيوالو تړونونو ډولونه

لنډيز:

د هېوادونو تر منځ د سياسي، اقتصادي، کلتوري او نورو ګڼ شمېر روابطو په زياتېدو سره په نننی عصر کې نړيوال تړونونه ډېر مهم رول لري. کېدای شي نوموړي قراردادونه شفاهي او يا کتبي بڼه ولري؛ شفاهي قراردادونه هم اوږده تاريخي سابقه لري او تر اوسه منع شوي نه دي. په اوس وخت کې نړيوالو کتبي تړونونو د شفاهي تړونونو ځای نيولی او د تېر وخت په پرتله يې په نړيوالو عمومي حقوقو کې مهم دريځ نيولی دی او هم د نړيوالو عمومي حقوقو اصلي منبع ګڼل کېږي، چې په بېلابېلو ډولونو ويشل شوي دي. په دې څېړنيزه مقاله کې د همدغو بېلابېلو ډولونو په هکله مسايل روښانه شوي دي.

سريزه:

نړيوال تړونونه د نړيوالو عمومي حقوقو يوه مهمه څانګه ده؛ همدا نړيوال عمومي حقوق دي، چې د قراردادونو د انعقاد، عملي کولو او فسخه کولو طرزالعمل ټاکي. تړونونو په تاريخي لحاظ د عرف بڼه درلوده، دغه رشته د نړيوالو قراردادونو، د نړيوالو همکاريو او ملاتړ په پايله کې رامنځته شوې ده. د نړيوالو قراردادونو منځته راتګ او عملي کېدل په يوه يا بله بڼه د نړيوالو حقوقو سره نېغ په نېغه اړيکه لري، له همدې کبله د نړيوالو قراردادونو حقوق د نړيوالو عمومي حقوقو د جملې څخه شمېرل کېږي. د نړيوالو قراردادونو د اهميت زياتوالي د هغې تدوين او د برابرۍ ضرورت رامنځته کړ. دغو حقوقو د تاريخ په اوږدو کې د تعامل (عرف) په بڼه شتون درلود؛ هغه کوښښونه چې د لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته د هغو د تدوين او برابرۍ په هکله شوي وو، په بريالیتوب سره ترسره نه شول. يوازې په معاصرو شرايطو کې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې په ۱۹۲۹م کې د ويانا کنوانسيون و، چې د نړيوالو قراردادونو د حقوقو په اړه يې طرحه تدوين او تصويب کړه، چې په ۱۹۸۰م کې نافذ شو. دغه کنوانسيون په عمده او ځانګړې ډول نړيوال جاري حقوق تثبيتوي. نوموړی کنوانسيون د دولتونو ترمنځ د قراردادونو مسئله، د دولتونو او سازمانونو تر منځ، د نړيوالو سازمانونو د خپلمنځي قراردادونو لپاره زمينه برابروي.

موخې:

- د نړيوالو تړونونو (قراردادونو) د ډولونو پېژندل او د هغو په ارزښت پوهېدل.
- د يادو تړونونو په هکله د مسلک خاوندانو، زده کوونکو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

د نړيوالو تړونونو پېژندنه:

مخکې له دې چې د تړونونو يا قراردادونو په ډولونو خبرې وکړو، اړينه ده چې د تړون لغوي، اصطلاحي او حقوقي مفهوم روښانه کړو.

قرارداد (Treaty): په لغت کې تړون ته وايي (۳م۷۴۷)، او په اصطلاح کې هغه ژمنه ده، چې د دوو يا دوو څخه زياتو اړخونو يا لوريو (حقيقي او يا حکمي) شخصيتونه يې د يوه کار د ترسره کولو لپاره عقد کوي او د هر اړخ لپاره حقوق او وجايب رامنځته کړي او دواړه لوري يې په اجرا مکلف کړي. بايد وويل شي چې دلته زمونږ د څېړنې موضوع يوازې هغه نړيوال تړونونه دي، چې د نړيوالو حکمي اشخاصو تر منځ کېږي، نه د حقيقي اشخاصو تر منځ.

د تړون حقوقي مفهوم: تړون يو حقوقي عمل دی، يو حکمي يا حقيقي شخص کولای شي د خپلې ارادې له مخې داسې يو تړون لاسليک کړي، چې هغه له يوې خوا د حقوقي اثر لرونکی وي او له بلې خوا د قانون اغېزه هم وربانديې تحميل شي. دا په دې معنی چې د دواړو لوريو لپاره حقوق او وجايب رامنځته کوي. هر هغه تړون چې د ژمنو لوريو لپاره حقوق او وجايب رامنځته نه کړي، قرارداد ورته نشو ويلای.

په نړيوالو تړونونو کې لوري (اړخونه): د شاملينو او ګډونوالو د شمېر له پلوه په دوه اړخيزه او څو اړخيزه سيمه ييزو، او په ټولو هېوادونو الزامي (نړۍ شموله) تړونونو ويشل شوي دي (۴م۴۵). نړيوال تړونونه د دوو يا څو دولتونو تر منځ موافقه ده، چې په نړيوالو قواعدو کې شامل وي چې د نړيوالو حقوقو اصلي منبع ګڼل کېږي. که تړون د دوو لوريو تر منځ عقد شوی وي، دوه اړخيز تړون بلل کېږي او فقط د لاسليک کوونکو لپاره به الزامي وي، چې د نړيوالو حقوقو ځانګړی مثال دی. که چېرې دغه تړون د څو هېوادونو ترمنځ لاسليک شوی وي، څو اړخيزه تړون (قانون جوړونکی) دی؛ دا ځکه چې د نړيوالو حقوقو عامه قاعده يې رامنځته کړې ده. د عدلي بين المللي ديوان (۳۸) ماده نړيوال عام او خاص کنوانسيونونه چې قواعد يې صريحاً منل شوي او د ګډون کوونکو دولتونو لخوا امضاء شوي، د اجرا وړ دي. يا په بل عبارت نړيوال تړون نړيواله کتبي يا ليکلې موافقه ده، چې د دولتونو او يا نور نړيوال حقوقي موضوعات په کې شامل وي. د تړونونو حقوق چې د نړيوالو حقوقو تابع دي، کېدای شي په يو واحد او يا څو جلاجلا سندونو کې ترتيب او د مختلفو عناوينو لاندې عقد شي. د معاهدې کلمه په انګليسي ژبه کې د (Treaty) سره معادله ده، د کتبي توافقاتو د انواعو لپاره يوه ډېره پراخه اصطلاح ده او ټول قراردادونه په بر کې نيسي، چې د نړيوالو کتبي توافقاتو لپاره سره له دې چې ډېر متنوع دي، د هغو د نومونو لپاره کارول کېږي. د توافقنامې يا د موافقتنامې عنوان په نړيوالو حقوقو کې د هغوی په اعتبار کوم اثر نه لري. پرته د تړونونو څخه ډېر زيات شمېر کلمات لکه کنوانسيون(convention)، موافقتنامه(agreement)، د قرارداد ترتيبات(arrangement)، پيمان(pact)، ميثاق (covenant)، اعلاميه(declaration)، توافق(accord)، منشور(charter)، د توافق سند(act)، عمومي قرارداد(general act)، اساسنامه(statute)، ترتيبات(modus Vivendi)، پروتوکول(protocol)، د غونډې ترتيب د موافقې په اړه (procès-verbal) او مصالحه(concordat) چې دغه اخره اصطلاح د واتيکان د تړونونو او د کليسا د وضعيت په اړه د لوريو لپاره په کار وړل شوې. د عدلي بين المللي ديوان اساسنامې د معاهدې څخه (۳۶) مادې کې استفاده کړې ده، خو په (۳۸) مادې کې کنوانسيونونو ته اشاره کوي؛ په هر حال دا دواړه په هر نوع موافقو کې شاملېږي. د نهايي سند اصطلاح (final act) څخه چې د يو بين المللي کنفرانس نتايج په کې تشريح شوي وي، يادونه کړې ده. (۱م۴۰۰)

د شکل له مخې د نړيوالو تړونونو ويش:

نړيوال تړونونه د شکل، متعاقدو لوريو شمېره، د هغو پورې د نورو هېوادونو الحاق، ماهيت يا ميعاد له نظره په لاندې ډولونو ويشل شوي: په نړيوالو تړونونو کې چې کوم تصنيف کېږي، دا ددې لپاره دی، چې نوموړي تړونونه په ښه توګه درک کړل شي او دا ويش د نړيوالو تړونونو اعتبار او د نوموړو تړونونو هغه حتمي منلتوب ته زيا ن نه رسوي؛ د نړيوالو تړونونو ټول ډولونه بايد په ښه نيت سره پلي او تطبيق شي. نړيوال تړونونه د شکل له نظره تحريري (ليکنيزه) يا عامه شفاهي او سري او هغه چې د يو سند يا د تبادلې يا دابښتونو په بڼه لاسليک کېږي، او رياستي تړونونه، چې د حکومت او ديپارتمنتونو ترمنځ وي، ويشل کېږي، چې په لاندې ډول دي:

الف) ليکلې بڼه: په بنسټيز ډول هېوادونه بايد قراردادونه په تحريري (ليکنيز) بڼه يو د بل سره لاسليک کړي. د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور (۱۰۲) مادې لومړۍ فقره په دې اړه داسې وايي: (هره نړيواله معاهده يا موافقتليک چې ددې منشور د نافذېدو وروسته د هرو غړو ملتونو تر منځ لاسليک کېږي، بايد د ممکنه قدرت په زور په دارالانشاء کې ثبت او د هغې په واسطه بايد خپور شي) (۸م۲۲) او غړي هېوادونه په دې مکلف دي، چې نړيوال تړونونه په ليکنيزه بڼه عقد کړي، چې په راتلونکې کې د هيرېدو او بې باورۍ سبب نشي.

ب) نالیکلی يا شفاهي تړون: په شفاهي توګه نړيوال تړونونه هم د نړيوالو حقوقو له نظره منع نه دي، لکه په ۱۹۴۲م کال کې د امنيت شورا غړو موافقه وکړه، چې دوی دوه کاندیدان د لاتين امريکا او يو يو کاندید له شرقي، غربي اروپا، او نږدې منځني ختيځ او بريتانوي مشترک المنافع ملتونو له هېوادونو څخه د شپږو غير دايمي غړو منتخبو استازو په توګه د امنيت شورا ته مني. خو په دغسې تړونونو کې کېدای شي د هيرېدو، پښېمانۍ او نور مسايل رامنځته شي.

ج) څرګند يا ښکاره تړونونه: بايد وويل شي چې نړيوال څرګند تړونونه هغه تړونونه دي، چې ټول پرې خبرې وکړي او وروسته خپاره شي. پټه دې پاتې نه وي، چې په دې تړونونو کې د عدم رضايت، ابهام (ګونګتيا) تېروتنې، دوکې، د لوريو عدم مساوات او نورو خاليګاوو تر ممکنه حده مخنيوی کېدای شي.

د) پټ (ناڅرګند) تړونونه: پټ تړونونه چې په خاص ډول د امنيت او نظام په هکله وي، په قصدي توګه د عامو خلکو او نورو هېوادونو څخه پټ ساتل کېږي. د مثال په توګه د پخواني شوروي اتحاد ، امريکا متحده ايالاتو او بريتانيا ترمنځ د **۱۹۴۵**م کال د دسمبر د کريميا په کنفرانس کې چې د اساسي علتونو له امله د جګړې د موافقانه پای ته رسېدلو لپاره و ، او مخکې د **۱۹۴۵** م کال د دسمبر له دويمې نېټې څخه پای ته ونه رسېد . پټ تړونونه چې د نړۍ د مصلحت او سلا په بڼه د اوسنۍ وضعې په ګټه وي، په نړيوالو حقوقو کې تر اوسه نه دي منع شوي؛ خو کله چې مجرد (ځانګړي) او نامطلوب شرايط له منځه لاړل، تړون بايد ټولو ته نشر او خپور شي. خو پټ تړونونه کېدای شي وروسته د ملتونو د عدم رضايت سبب وګرځي. که چېرې تړون ښکاره او څرګند د ملتونو د راتلونکې په ګټه وي، نه يوازې يو هېواد بلکې ټول بشريت به يې په ورين تندي هرکلی وکړي. له بده مرغه ځينې وخت تاريخ ددې شاهدي ورکوي، چې د ملت له خوښې پرته د تړونونو او معاهداتو لاسليک کولو تاريخي بدمرغۍ زېږولي دي، چې مثالونه يې د افغانستان په تاريخ کې شته.

ه) رياستي تړونونه: هغه تړونونه چې د هېوادونو د مشرانو په واسطه لاسليک کېږي، د رياستي تړونونو په نوم يادېږي او د حکومتونو د مشرانو او يا د حکومت د باصلاحيته ارګانونو له لوري بايد لاسليک کړل شي. د مثال په توګه د ترانسپورتي، صحي، خدماتي، کلتوري، سوداګريز او همدارنګه د نورو اړونده موضوعاتو په اړه د حکومت د وزيرانو له لوري د ديپارتمنتونو ترمنځ تړونونه عقد کېږي.

و) له يوه تړون سره د نورو هېوادونو يوځای کېدل: دلته بايد يادونه وشي، چې د خلاص او تړلو تړونونو ترمنځ هم توپير شته دی، چې په لاندې ډول دي:

۱. پرانيستی (ازاد) نړيوال تړون: د مثال په توګه، د ملګرو ملتونو د سازمان منشور (اساسنامه) يو خلاص او ازاد تړون دی؛ يعنې هر دولت کولای شي په هغې کې ګډون وکړي (۲م۷۹). دا په دې معنی چې د نړۍ ټول هېوادونه کولای شي، چې د ملګرو ملتونو د اساسنامې د منلو په صورت کې په دې نړيوال تړون کې ګډون وکړي، وجايب ومني او حقوق لاسته راوړي، او د پورتني شرط د منلو څخه يې پرته ګډون ممکن ندی.

۲. تړل شوي او نيمه تړل شوي نړيوال تړونونه: دغه تړونونه تل دوه اړخيزه بڼه لري، لکه قونسلي، تجارتي، کلتوري او همدارنګه نور تړونونه ډېر وخت په ازاد نړيوال تړون پسې د الحاق (يوځای کېدو) خصلت د مربوطه تړون په يوه ماده کې درج کېږي، چې د همدغه شرط په رڼا کې يو هېواد کولی شي د الحاق او يوځای کېدو حق ترلاسه کړي. تړونونه د ماهيت له پلوه په سياسي او اقتصادي، مساوي او نامساوي او موقت حقوقي تړونونو ويشل کېږي.

۱. نړيوال سياسي تړونونه: په ټوليزه توګه سياسي تړونونه د انعقاد کوونکو لوريو له خوا د امنيت او نړيوالې سولې لپاره عقد کېږي؛ لکه د نه يرغل، ناپېيلتوب، بې وسلې کولو ، دوستۍ، ټوليزې دفاع تړونونه هم ددې تړونونو د جملې څخه شمېرل کېږي.

۲. نړيوال اقتصادي تړونونه: اقتصادي، تخنيکي، ټولنيزې او نړيوالې کلتوري مرستې او همکارۍ د اقتصادي تړونونو په واسطه اداره او تنظيمېږي؛ تړونونه د دوی مساوي حقوق دي.

۳. مساوي تړونونه: هغه تړونونه دي چې د يو لوري حقوق او وجايب به د بل لوري د حقوقو او وجايبو سره برابر وي او مطابقت ورسره ولري، چې همدې ډول تړون ته مساوي تړون ويل کېږي.

۴. نامساوي تړونونه: د نړيوالو موافقتنامو په خلاف کله چې په اقتصادي، سياسي طرفونو په حقوقو او وجايبو کې عدم مساوات وي، دا تړونونه به له منځه ځي، چې بېلګه يې لکه د کپتولاسيون تړونونه. په عمومي توګه نامساوي تړونونه لوی استعماري او امپريالستي دولتونه د کوچنيو او کمزورو هېوادونو سره لاسليک کوي. د مثال په ډول د استعمارګرو له لوري د مستعمره شويو او يا له هغه کمزورو هېوادونو سره چې نوې خپلواکۍ ته رسېدلي وي، ترمنځ تړونونه دي. بايد

وويل شي چې د لوريو لپاره چې منلې يې وي، حقوق او وجايب رامنځته کوي، چې داسې تړونونه د هېوادونو ملي ګټو ته زيان رسولی شي.

۵. موقت نړيوال تړونونه: موقت نړيوال تړونونه (contractual) دي، چې د دوو يا څو محدودو هېوادونو حقوق او وجايب درجوي او يوازې هغه هېوادونه چې دا يې لاسليک کړی وي، هغوی ته د اعتبار وړ وي؛ لکه کلتوري او سو داګريز تړونونه او داسې نور. (۲م۲۵)

۲. يو اړخيزه اعلاميې: په نړيواله کچه يو اړخيزه اعلاميې وجود لري، چې يو دولت په رسمي ډول خپلې حقوقي کړنلارې او معيارونه د نورو دولتونو له خوا د خپل دولت د رسميت پېژندلو په منظور اعلانوي. مثلاً د سويس اعلاميه د دايمي بې طرفۍ په اړه ددې خبرې ښه ثبوت دی. د غسې اعلاميې چې د بل دولت له خوا منل شوي وي؛ په حقوقي لحاظ د اعلاميې صادروونکی دولت او هم بل دولت متعهد او مکلف دی، چې حقوق او وجايب په کلکه رعايت کړي.

د نړيوالو تړونونو د غوره والي ځانګړتياوې:

نړيوال تړونونه چې له حقوقي پلوه له لوړ اعتبار څخه برخمن وي، عمده شرط يې دادی چې دا تړون به د خپلواکو هېوادونو له لوري لاسليک شوی وي؛ يعنې دا هېوادونه به د نړيوالو شخصيتونو د انعقاد بشپړ صفات په ځان کې لري. ځکه يوازې نړيوال شخصيتونه د بشپړ اهليت لرونکي وي. دويم شرط يې دادی چې د تړون کوونکو هېوادونو به بشپړ رضايت په دې تړون کې وي. په ټولېزه توګه په لاندې حالاتو کې تړونونه اعتبار نه لري، او د هغې پرته بيا د اعتبار او ډاډ وړ وي:

- په هغه صورت کې چې د تړون موضوع ناشونې او غير قانوني وي؛ د مثال په توګه د هغې سيمې د الحاق تړون چې هيڅ وجود ونلري، يا هم د هغه کشتۍ خرڅول چې د تړون څخه وړاندې غرقه شوې يا مخکې تر مخکې پلورل شوې وي، يا هيڅ شتون ونلري او نور هغه تړونونه چې په بشپړ ډول باطل وي.
- هغه حالت چې د طرفينو يا يو د لاسليک کوونکو تر منځ سوء تفاهم يا دوکه وي.
- په هغه حالت کې چې تړون د فشار او زور په واردولو سره لاسليک شوی وي.
- په هغه وخت کې چې په يو تړون کې غير عمدي خطا يا سهوې وي او سهوه درک کړل شي.
- په هغه وخت کې چې تړون داسې وجيبه رامنځته کړي، چې هغه له سره ناشونې وي.
- په هغه وخت کې چې يو د طرفينو اهليت او لازم واک او صلاحيت د تړون د لاسليک لپاره نلري. د مثال په توګه يو مستعمره يا تحت الحمايه هېواد د تړون د انعقاد صلاحيت نلري.
- هغه وخت چې نړيوال تړون د نړيوالو حقوقو له اصولو سره په ټکر يا د ملګرو ملتونو د منشور د اصولو نه پکې خطا وي او لاسليک شي.

د نړيوالو تړونونو د لاسليکولو مرحلې: په حقيقت کې شفاهي يا ژبنۍ موافقه د هېوادونو د استازو ترمنځ يو حقوقي او منل شوی تړون دی او بسنه کوي، خو څرنګه چې تړونونه د پام وړ ارزښت نه برخمن دي، نو بايد لاندې مراحل طی کړی شي، چې دا تړون په ليکلي توګه د راتلونکي لپاره سند وي؛ دا مراحل په لاندې توګه يادوو:

- استازيتوب (Representation): د هغو مذاکراتو لپاره د استازو ټاکل چې د هغه پر بنسټ لاسليک کېږي او دا د Representation په نوم يادېږي. همدارنګه استازي به د سند سره د استازيتوب يا د تړون لاسليک کولو لپاره يو ځای مخکې له مخکې چې د دواړو لوريو له خوا ټاکل شوي وي او يو نړيوال اهميت ولري، راحاضرېږي.
- مذاکرات (Negotiation): د استازو ترمنځ خبرې اترې او په ځانګړې توګه د هغه تړون په اړه چې دوی يې لاسليک کوي، په معمولي توګه دا مذاکرات د مقدمې، متن او د تړون د ضميمو په هکله کېږي.
- يادې شوې خبرې اترې او د هغه اړوند بحثونه او په ځانګړې توګه هغه د څو اړخيزه تړون په هکله د يو ديپلوماتيکي کنفرانس په بڼه جوړېږي.
- لاسليک (Signature): کله چې د تړون په هکله مذاکرات پای ته ورسېږي او د ټولو هېوادونو چې توافق يې کړی او منلی يې وي، يو توافق رامنځته شي؛ د پای مسوده ترتيبېږي او د همدغو غړو لخوا لاسليک کېږي. ډېر دا ډول تړونونه د

طرفينو تر لاسليکولو نه وروسته د پلي کېدو وړ وي، مگر هغه وخت بيا نه دي، چې متعاقدو (ژمن) هېوادونو هغه وروسته تصويب ته سپارلي وي.

- تصويب(Ratification): د نړيوال تړون د طرفينو د تاکيدي اکتونو او کړنو څخه عبارت دی.
- ډېری هغه هېوادونه چې غړي يې نړيوال تړون لاسليکوي، د تړون د پای تصويب پارلمان يا عامه خلکو ته - څرنگه چې يې په اساسي قانون کې ذکر وي- محول او راجع کوي. د لاسليکولو نه يو څه موده وروسته هېوادونه کولی شي، چې د قناعت وړ دلايلو په وړاندې کولو سره ځانونه د اړونده تړون په منلو او رعايتولو مکلف کړي. په عمومي توگه د قناعت وړ دلايل يا علتونه د نړيوالو تړونونو بې اعتباره کول دي، خو په دې سربېره کوم صلاحيتونه چې د دولت استازي ته د لاسليکولو په وخت کې ورکړل شوي دي او په هغه صلاحيتونو يرغل او تېری شوی وي، دا هم د قناعت وړ دليل دی. همدارنگه د افغانستان د ۱۳۸۲ اساسي قانون په پنځم فصل نوييمې مادې او پنځمې فقره کې دا رنگه ليکل شوي دي: (د دولتونو ترمنځ د تړونونو او بين المللي ميثاقونو او يا له هغې څخه د افغانستان د بېلولو واک او صلاحيت ملي شورا ته ورکړل شوی) (۹م۲۲). دا په دې معنی چې مهم نړيوال قراردادونه بايد د اساسي قانون سره په مطابقت کې وي، او ملي شورا ته راجع کړل شي.

الحاق (Accession) يا تر موجوده نړيوال تړون پورې د درېيم دولت تړل: کله چې يو درېيم هېواد د تړون مندرجه اصول ومني، نو که عقد يا تړون لاسليک شوی هم وي او د تړون د انعقاد په مراحلو کې دغه درېيم دولت برخه نه وي اخيستې، په هغه دولت باندې دا تړون د منلو وړ دی. د نړيوال تړون د انفاذ يا Entry وروسته د پورتنيو مراحلو او اسنادو د تبادلې نه دا تړون د انفاذ وړ دی.

ثبت(Registration): نړيوال تړونونه بايد د تصويب د مرحلې نه وروسته د نړيوال سازمان په مقر کې ثبت شي. دا مطلب د نړيوالې ټولنې په ميثاق کې ياد شوی دی او ددې معنی او مفهوم دادی، کوم تړون چې په نړيوال سازمان کې نه وي ثبت شوي، هېوادونه د هغې د موادو په اساس ادعا نشي کولای؛ يا دا چې دا دعوه په نړيوالو تړونونو کې يوه بې بنسټه ادعا ده او د اوربدلو وړ نه ده. په دې هکله د ملگرو ملتونو يوسل او دوهمه ماده کې داسې راغلي دي:

۱- هر تړون يا نړيواله موافقتپاڼه چې د نافذېدو وروسته د دغه منشور په واسطه، چې د ملگرو ملتونو د غړو له خوا منعقد شوی دی، بايد په ډېرې بيړې سره په دارلانشاء کې ثبت او نشر ته وسپارل شي.

۲- هيڅ يو د معاهدې د اړخونو څخه چې ددې مادې د لومړی فقرې د تصاميمو پر بنسټ ثبت نه وي، نشي کولای چې د ملگرو ملتونو د ارگان په وړاندې په دې بې ثبته تړون استناد يا دليل ونيسي (۱م۲۲). په دولتي حقوقو کې دغه تړونونو ته ځای ورکول ددې تړونونو وروستۍ او نهايي مرحله ده، خو هغه وخت به ځای پکې ورکول کېږي، چې لازم وي او په ټولو به د منلو وړ او دا ځانگړنه به له ځانه سره لري.

پر درېيم هېواد د تړونونو اغېزې: څرنگه چې مخکې يادونه وشوه، اصلاً تړون يوه حقوقي اړيکه ده چې د دوو لوريو حقوق او وجايب په ځای کوي. کله چې تړون دوه اړخيزه وي، نو حقوق او وجايب متقابل يا دوه اړخيز حقوق وړاندې کوي او پر کوم درېيم هېواد اغېزه نلري. خو کله چې درېيم هېواد هماغه د دوو هېوادونو شرطونه ومني او دا دوه تړون کوونکي هېوادونه هم په دې باندې خوښي او رضايت څرگندوي، چې درېيم هېواد دې هم د دوی د وجايبو او حقوقو څخه برخمن شي. د څو اړخيزو هېوادونو د تړون مسئله توپير لري، ځکه ددې ډول تړونونو ماهيت او ذات دا رنگه جوړېږي چې درېيم هېواد هم د هغوی له حقوقو څخه گټه واخلي. په هر صورت د درېيم هېواد مفهوم دا معنی ورکوي چې دغه هېواد د تړون په ټولو مرحلو کې گډون نه درلود. په عمومي توگه نړيوال تړونونه په ټاکلو موضوعاتو کې لکه د سمندرونو د کانال څخه استفاده، د درېيمو هېوادونو لپاره ځانگړې حقوق او وجايب او په هغو باندې حقوقي اغېزې لري. د ويانا د ۱۹۶۱م حقوقي کنوانسيون او د ويانا د ۱۹۶۳ ديپلوماتيک او يا د کونسلي چارو کنوانسيون چې دا يې لاسليک کړی نه وي، هم حقوقي اثار وربانديې اغېزه کوي او په مربوطه سيمو کې حقوقي اثار لري(۲م۳۲). نړيوال تړونونه د نن ورځې د ديپلوماسۍ او راز راز اړيکو يو مهم عامل دی؛ بېلابېلو تړونونو د هېوادونو ترمنځ اړيکې او متقابلې همکارۍ زياتې کړې دي، آن دا چې هيڅ داسې يو هېواد نشته، چې يو څو هېوادونو سره تړون ونلري.

پايله:

نړيوال تړونونه د هېوادونو د سياسي، اقتصادي، کلتوري او نورو بې شمېره اړيکو په زياتېدو سره رامنځته شوې، چې په اوسنۍ نړۍ کې د هېوادونو ترمنځ د ټولنيز ژوند په ټولو ساحو کې د پام وړ ارزښت لري. نړيوال تړونونه د نړيوالو عمومي حقوقو مهمه برخه تشکيلوي، چې د قراردادونو د انعقاد، عملي کولو او فسخه کولو طرزالعمل ټاکي. د نړيوالو تړونونو د اهميت زياتوالي د هغې د تدوين او ترتيبولو ضرورت رامنځته کړی. له پورتنۍ څېړنې او سپړنې څخه جوته شوه، چې نړيوال تړونونه په نننی عصر کې د هېوادونو تر منځ په مختلفو ساحو کې د اړتياوو د رفع کولو او عمومي روابطو د تنظيم لپاره يوه ستره اړتيا ده.

Abstract:

A contract is an agreement having a law full object entered into voluntarily by two or more parties each of whom intends to create one or more legal obligations between them. At international level the contracts entered and sign between two or more courtiers. The elements of contrast are (offer) and (acceptance) by competent persons having legal capacity who exchange consideration to create mutuality of obligation contracts are widely used in different area. Some other concepts are also use for this object for example: convention, arrangement, pact, act, charter accord, declaration, covenant, modus Vivendi, protocol etc.The steps are for contract: representation, negotiation signature and ratification. The word promise can be used as a legal synonym for contracts. In past few years Afghanistan has signed and ratification different and several contracts with some countries.

اخځليکونه:

۱- بوسچک، اربلدسو. (۱۳۷۵ل). فرهنگ حقوق بين المللی؛ ترجمه: بهمن اقايی. تهران: کتابخانه گنج دانش.
۲- دانشور، محمدعالم. (۱۳۶۸). حقوق بين المللی. کابل: پوهنتون کابل.
۳- زاهدمشوانی، عبدالقيوم. (۱۳۸۵ل). پښتو قاموس؛ د افغانستان د علومو اکاډمي- د پښتو څېړنو نړيوال مرکز. دانش خپرندويه ټولنه.
۴- صافی، ودير. (۱۳۸۷). نړيوال عمومي حقوق.
۵- صافی، ودير. (۱۳۸۲). حقوق بين المللی. ايران: سازمان مطالعه و تدوين کتب انسانی دانشگاه ها(سمت).
۶- صافی، ودير. (۱۳۸۸). نړيوال عمومي حقوق؛ ژباړن: امان الله ايمان وردگ. مستقبل خپرندويه ټولنه.
۷- ضيايی بيگدلی، محمد رضا. (۱۳۹۰ل). حقوق بين المللی عمومی. ايران: واحد رايانه گنج دانش کتابخانه ملی.
۸- د ملگرو ملتونومنشور. ( ). د ملگرو ملتونو د اطلاعاتو دفتر. کابل: گڼه ۸۰.
۹- د افغانستان اساسي قانون. (۱۳۸۲ل). کابل- افغانستان.
10-ПОПВ, Георги и други, (1979).краТък Политически, речНик, София.

پوهـــندوی احـــــسان الله (ثاقـــب)
ښوونې او روزنې پوهنځی- فزيک څانګه

له راډيو اکتيو وړانګــو څخـه ځـان ساتنه

لنډيز:

د وړانګو سرچينې په مختلفو مرکزونو کې د استفادې وړ دي، چې معمولاً د تړلې، خلاصې او يا د وړانګې جوړونې دستګاه په څېر کار کوي. په درېواړو حالتونو کې د وړانګو خارجي خطرونه وجود لري. له خارجي وړانګو څخه د خلکو د ژغورنې لپاره بايد وخت، فاصله او د ځان ساتنې وسايل په نظر کې ونيول شي. د وړانګيزې انرژۍ مقدار د خپرېدو له وخت سره مستقيماً متناسب دی، کله چې له نيوترون څخه د ځان ساتونکې مادې په څېر کار اخيستل کېږي، نو پدې صورت کې بايد دغې مسئلې ته زياته توجه وکړو چې په عمومي ډول نيوتروني منابع له دوو پوښونو څخه تشکيل شوي؛ يو يې هايدروجن لرونکي مواد او بل يې درانده مواد لکه سرب دي. سرب او هايدروجن دواړه بايد د پام وړ وي.

سريزه:

دا چې زمونږ هېواد څه دپاسه دېرش کالو راپدېخوا د جګړو ډګر ګرځېدلی دی او په دې جګړو کې د ډول ډول وسلو سربېره د انسانانو د وژلو لپاره له وړانګيزو وسلو څخه هم کار اخيستل شوی دی، نو دلته اړينه ده چې د راډيو اکتيف وړانګو په خطراتو ځانونه پوه او د ځان ژغورنې لپاره يې اړين تدابير ونيسو. په صنعت، زراعت او د ژوند په نورو چارو کې د ايون جوړونکو وړانګو په ډېرې کارونې سره اړينه ده چې د دغه ډول وړانګو د استعمال په وړاندې د ځان ساتنې په هکله تصميم ونيول شي، ترڅو وکولای شو د بيولوژيکي خطراتو په وړاندې ترې ځان خوندي وساتو. د وړانګو دغه ډول خطرونه کېدای شي داخلي او يا خارجي وي، چې هر يو يې په خپل ځای کې د انسان د نورمال ژوند تېرولو لپاره له خطر نه ډکه غميزه ده. د بېلګې په توګه د ماري کيوري لور ايرينيې ژوليت کيوري چې په ۱۹۳۲ کال کې يې له خپلې مور سره په لابراتوار کې کار کاوه، د بې پروايۍ له امله ترې يو بوتل چې په هغې کې پولونيم دوه سوه لس ساتل شوي و، وچاودېد، او د پولونيم راډيو اکتيف غاز يې تنفس کړ، په پايله کې په ۱۹۵۲ کال د ويني سرطان د ناروغۍ له امله مړه شوه. دغه پېښه د وړانګو د اغېزو يوه وتلې نمونه ده. لاندې الف شکل د راډيو اکتيف ايزوتوپ ايريديوم وړانګو د يوه مسلکي کارکوونکي د لاس ورغوی سوځولی او تنګاکې يې منځته راوړي دي. په ب شکل کې د يوه ماشوم عيب لرونکی غړی لکه د اوبو سر هايدروسيفالوس او د ستون فقرات مينينګوم ښه ډوله پړسوب ښودل شوی دی او په ج شکل کې د وړانګو سيندروم د بدن پوستکي کې يو ژور سوری او پرهار منځته راوړی دی. (۲م م ۲۴۰-۲۴۱)



الف_شکل ب_شکل ج_شکل

له وړانگو څخه ساتنه دا معنی لري چې داسې لارې چارې ولټول شي چې تر څو انسانان او ټول ژوندي او غير ژوندي موجودات د ايونايزونکو وړانگو له خطر او زيان څخه په امن کې وساتل شي، چې له مصنوعي او طبيعي راډيو اکتيف سرچينو څخه خپرېږي.

موخې:

- له جسمونو څخه د راډيو اکتيف وړانگو تېرېدل او ژوندي موجود ته د هغې خطراتو په اړه د معلوماتو برابرول
- له راډيو اکتيف وړانگو څخه د ځان ژغورنې د لارو چارو پلټل
- د يو فرعي علمي اثر په توگه يې کارول

خارجي وړانگيز فعاليت (*External rays activity*):

له هغه وړانگيز فعاليت څخه عبارت دی چې سرچينه يې د انسان له بدن څخه خارج وي. د وړانگو سرچينې په مختلفو مرکزونو کې د استفادې وړ دي، معمولاً د ترلې اويا خلاصې او يا د وړانگې جوړونې د دستگاه په څېر کار کوي؛ په درې واړو حالتونو کې د وړانگو خارجي خطرونه وجود لري. د وړانگو جوړونې له دستگاه څخه د خاموشۍ يا درولو په وخت کې څه خطر نه ليدل کېږي. (۳م۴۳۲)

جدول-1: د انرژۍ مجاز مقدار راښيي:

عامو خلکو لپاره	مسلکي کارکوونکو لپاره	د بدن د غړي يا عضوې نوم
$1mSv$	$20mSv$	ټول بدن ته د انرژۍ اندازه
$15mSv$	$150mSv$	سترگو ته د انرژۍ اندازه
$50mSv$	$500mSv$ m	پوستکي ته د انرژۍ اندازه
$1mSv$	$1mSv$	د مور په نس کې نهو مياشتو په موده کې د انرژۍ اندازه
$5mSv$	$50mSv$	د هډوکو سره ماغزه، جنسي غدې
$50mSv$	$500mSv$	لاسونه، پښې او پوستکی
$30mSv$	$300mSv$	هډوکي، پوستکی او ټايرايد

په پورته جدول کې د عام ولس او هغو کسانو لپاره چې د خپل مسلک په اساس د راډيواکتيف موادو سره کار کوي او وړانگې ورته رسېږي، د يو کال په موده کې د مجاز حد تر ټولو لوړه اندازه ليکل شوې ده(۲م۲۴۷). له خارجي وړانگو څخه د خلکو د ژغورنې لپاره لاندې درې عوامل په نظر کې نيول کېږي:

- د وړانگې د رسېدنې تر ټولو کم وخت (د وخت عامل)
- د وړانگې له منبع څخه د رسېدو تر ټولو کمه فاصله (د فاصلې عامل)
- د وړانگې د منبع په وړاندې د محافظت ايجادول (د محافظت عامل)

د وخت عامل (*The Factor of Time*): له خارجي وړانگو څخه د لاسته راوړنې مقدار له هغه وخت سره متناسب دی چې وړانگه په ساحه کې حضور پيدا کوي. د ساحې په ميدان کې د وړانگې د حضور وخت بايد تر ممکنه حده را ټيټ شي، سرعت يې بايد له حد نه زيات وي او د کار د ترسره کولو لپاره تعجيل نه توصيه کېږي، ځکه د خطا د منځته راتلو او يا د کيفيت د ښکته راتلو په وخت کې ممکن دی چې کار په جبري ډول تکرار شي او په نتيجه کې به د کار وخت د وړانگې په ساحه کې تر ټولو زيات شي. د وړانگې په ساحه کې د وخت د زياتوالی کېدای شي د ذهني او بدني مصروفيت لامل شي. په ګلي ډول د وخت په محدودولو کې کېدای شي وړانگيز فعاليت دا ډول کنترول شي چې تر مطالعې لاندې کار د وړانگيز فعاليت تر کنترول لاندې تر سره شي. د مجموعي اخيستل شوي مقدار د محاسبه کولو لپاره کولای شو له لاندې فورمول څخه استفاده وکړو(۴م۳۵۰):

مجموعي مقدار= د وړانگيز فعاليت وخت × د مقدار اواز يا د مقدار ريټ $Total\ Dose = Dose\ Rate \times Time$

$$Sv = \left(\frac{Sv}{h}\right) \times h$$

د مقدار اواز يا د مقدار ريټ (Dose Rate): په واحد وخت کې د هرې مادې د واحدې کتلې په وسيله له جذب شوې انرژۍ څخه عبارت دی، د وړانګو انرژي مقدار د خپرېدو له وخت سره مستقيماً متناسب دی. (۲۵۲م۵)

د فاصلې عامل($The\ Factor\ of\ Distance$): هغه وړانګې چې له يوې منبع څخه خپرېږي، له منبع څخه د فاصلې په زياتوالي سره تيتېږي، چې دغه تيتېدل له منبع څخه د مقدار د اواز د کموالي لامل کېږي. د مثال په ډول له منبع څخه د فاصلې په زياتوالي سره د يو متناسب مقدار اواز د مجوزې فاصلې په عکس سره کموالی کوي. څرنګه چې د يوې نقطوي سرچينې د مقدار اواز د d_1 په فاصله کې D_1^0 دی، کولای شو د مقدار اواز د D_2^0 په d_2 فاصله کې د لاندې رابطې په وسيله محاسبه کړو:

$$\frac{D_1^0}{D_2^0} = \frac{(d_2)^2}{(d_1)^2}$$

د وړانګو د انرژۍ اندازه د فاصلې له مربع سره معکوساً متناسب دی.

د محافظت عامل ($The\ Factor\ of\ Protection$):

الف: د الفا وړانګې په وړاندې محافظت ($Protection\ Factor\ against\ Alpha\ rays$) : الفا وړانګې په هوا کې د څو سانتي مترو فاصلې د طی کولو يا د کاغذ له يوې عادي ورقې يا جامو يا پوستکي د خارجي قشر څخه د تېرېدو په وخت کې خپله ټوله انرژي د مادې ماليکولونو او يا اتومونو ته ورکوي او خپله درېږي؛ نو په همدې اساس که چېرې د الفا ذرې د توليد سرچينه له بدن څخه دباندې وجود ولري، نو وړانګيز فعاليت د انسان بدن ته کوم تاوان نشي رسولای او د خارجي وړانګې نيونې په اساس د اهميت وړ نه دی. که چېرې د الفا ورکوونکې ماده تېره شي او يا د تنفس له لياري د انسان بدن ته ننوځي، د داخلي وړانګې نيونې لامل کېږي. څرنګه چې راډيو اکتيف مواد په محيط کې په اکسپوننسيل ($Exponential$)ډول د لاندې معادلې مطابق خپل فعاليت کوي، نو لازمه ده چې ددغو وړانګيزو فعاليتونو څخه ځان د يو مانع لکه د ډوال او يا هم کوم بل شي تر شا پټ کړو، تر څو د وړانګو له خطرونو څخه په امان کې شو:

$$D = D_0 e^{-\mu d}$$

په پورته رابطه کې D_0 د ګاما سرچينې د مقدار قدرت دی، کله چې د کوم سړي او سرچينې تر منځ کومه ماده موجوده نه وي او μ په ماده کې د وړانګو د کمزورتيا فکتور دی، د ګاما وړانګو اندازه د يوې مادې د پنډوالي په تابع په اکسپوننسيل ډول کمښت کوي. (۳۵۱م۴)

ب: د بيتا وړانګې په وړاندې محافظت($Protection\ Factor\ against\ Beta\ rays$) : د بيتا وړانګې له درندو عناصرو سره د ټکر په وخت کې خپله ډېره انرژي له لاسه ورکوي، که چېرې د محافظت وسايل څومره درانده هم وي، نو بيا هم د بيتا وړانګې يو مقدار انرژي د قرمزي ايکس($red\ ink - X$) په فوتونونو باندې بدلېږي؛ نو په همدې اساس د بيتا وړانګو څخه د محافظت لپاره بايد لاندې دوه عوامل په نظر کې ونيول شي(۹۵م۸):

۱- د بيتا وړانګو لوړه کچه انتقالول (هغه فاصله چې د بيتا وړانګه يې په مستقيم ډول په يوه ماده کې طی کوي، تر څو په کامل ډول ودرېږي، د بيتا وړانګو لوړې کچې انتقالولو په نوم يادېږي). (۲۸۱م۵)

۲- قرمزي ($red\ ink$)فعاليت چې په خپله منبع او محافظت کې د بيتا له جذب څخه منځته راځي. (۴۸۷م۷)

په همدې اساس له بيتا وړانګې څخه تر ټولو ښه ځان ساتنه د لاندې دوه ډوله پوخونو په وسيله تر سره کېږي :

اول پوخ: له داسې مادې څخه چې د چارج مقدار يې کم وي، لکه پلاستيک او داسې نورو څخه جوړېږي، چې د قرمزي وړانګو د تېرېدنې د کموالي لپاره پيش بيني کېږي. د مثال په ډول د بيتا تر ټولو لوړې کچې انرژۍ لرونکو لپاره چې کافي اندازه ضخامت ولري.

دويم پوخ: له داسې موادو څخه جوړېږي چې د چارج مقدار يې په کافي اندازه زيات وي، لکه سرب، ددې لپاره چې د قرمزي وړانګو د لګېدنې شدت په خپله سرچينه کې او له سرچينې څخه په پوره اندازه راټيټه کړي.

ج: د ګاما او ايکس وړانګو په وړاندې محافظت(Protection Factor against Gamma and X − rays): ګاما او ايکس وړانګې په ماده کې د نفوذ زيات قدرت لري. له مادې څخه د دغو وړانګو د تېرېدو په نتيجه کې ايونونه جوړېږي او نهايت په ماده کې جذبېږي او انرژي يې کمېږي. د دغو وړانګو د قدرت له توصيف څخه يو د هغې په وړاندې د هغې د محافظت د ضخامت اټکل دی. نيمايي کوونکی پوخ د مادې له هغه ضخامت څخه عبارت دی که چېرې د ايکس او ګاما وړانګو په مقابل کې راوړل شي، د وړانګو شدت د لومړي مقدار نيمايي ته راټيټوي. که چېرې د وړانګو په مسير کې له دوو نيمايي کوونکو پوخونو څخه استفاده وشي، نو د وړانګو شدت يو پر څلورمې برخې ته راټيټېږي. که د وړانګو اولنی شدت I_0 وي او وغواړو چې له n نيمايي کوونکو پوخونو څخه يې تېر کړو او د هغې مقدار I ته را ټيټ کړو، نو پدې صورت کې لاندې رابطه ليکلای شو(۷م۴۹۹)، (۲م۳۷):

$$\frac{I_0}{I} = 2^n$$

يو پر لس کوونکی پوخ د مادې هغه ضخامت دی، که د ايکس او ګاما وړانګو په مسير کې راوړل شي، نو شدت يې يو پر لس ته راټيټوي. که اولنی شدت په I_0 سره وښايو او وغواړو چې د واردېدونکو وړانګو شدت له m نيمايي کوونکې مادې څخه I ته را ټيټ کړو، نو پدې صورت کې لاندې رابطه ليکلای شو:

$$\frac{I_0}{I} = 10^n$$

جدول- 2: د تشعشع سرچينې او د ځان ساتنې عناصر راښايي:

د تشعشع سرچينې	سرب		اوسپنه		سيمنټ	
	HVL	TVL	HVL	TVL	HVL	TVL
تکنيسيوم - 99m	0.02	-	-	-	-	-
ايودين- 131	0.72	2.4	-	-	4.7	15.7
سيزيم- 137	0.65	2.2	1.6	5.4	4.9	16.3
ايريديم- 192	0.55	1.9	1.3	4.3	4.3	14.0
کوبالت - 60	1.1	4.0	2.0	6.7	6.3	20.3
د ايکس شعاع 100kv	0.0026	0.087	-	-	1.65	5.42
د ايکس شعاع 200kv	0.043	0.142	-	-	1.59	8.55

پورته جدول هغه مادې راښيي چې وړانګيز فعاليت $\frac{1}{2}$ او $\frac{1}{10}$ کوي، واحد يې سانتي متر دی نيمايي کوونکی په HVL او يو پر لس کوونکی د TVL په وسيله ښودل کېږي. (۴م۳۵۳)

د- د نيوتروني وړانګو په وړاندې محافظت(Protection Factor against Neutron rays):

نيوترون چارج نلري، د نورو موادو په څېر په اسانۍ سره خپله انرژي له لاسه نه ورکوي. د انرژۍ تر ټولو زياته اندازه انتقال هغه وخت منځته راځي چې نيوترون د هايدروجن اتوم له هستې يعنې پروتون سره مخامخ شي چې کتله يې د نيوترون له کتلې سره مساوي وي. که چېرې د نيوترون او پروتون له مخامخ کېدو سره سم پروتون په خپل طرف حرکت وکړي، د نيوترون ټوله انرژي پروتون ته انتقالېږي او نيوترون درېږي. له نيوترونو څخه ځان ساتل د هغې د سرعت د کمېدو او همدارنګه د کمې انرژۍ لرونکو نيوترونو د جذب له لارې ترسره کېږي. څرنګه چې هايدروجن د سريع نيوترونونو په سستولو او ضعيفه کولو کې عمده رول لري، نو په همدې اساس هايدروجن لرونکي مادې لکه اوبه، پارافين او داسې نورو څخه استفاده کوي. کله چې نيوترون خپله ټوله انرژي له لاسه ورکړي، د محافظت کوونکي مادې په وسيله جذبېږي او ګاما ورکوونکي راډيو ايزوتوپ منځته راوړي. په همدې اساس له نيوترون څخه د محافظت په صورت کې بايد دغې مسئلې ته زياته توجه وکړو، په عمومي ډول نيوتروني منابع له دوو پوخونو څخه تشکيلېږي:

اول پوخ: هايدروجن لرونکي مواد. دويم پوخ: درانده مواد لکه سرب. (۸م م۱۰۱-۱۰۰)

داخلي وړانګې اخیستنه(Reception of Internal Rays):

که چېرې تشعشعي ماده په یو ډول د انسان بدن داخل ته لیاره پیدا کړي، نو داخلي وړانګیز فعالیت شروع کېږي او تر هغه وخته چې راډیو اکتیف ماده په بدن کې پاتې وي ادامه پیدا کوي او د وړانګیز فعالیت د درولو یوازینۍ لاره داده چې له بدن څخه د هغې د وتنې پروسه سرعت واخلي. انسان د یو ژوندي موجود په صفت له دغسې موادو سره چې راډیو اکتیف دي، د مخ کېدو زیات عوامل لري، نو په همدې اساس له وړانګو څخه د انسانانو د حفاظت لپاره باید له مختلفو لارو څخه کار واخیستل شي. (۲م م،۴۰-۳۹)

د انسان بدن ته د راډیو اکتیف عناصرو د داخلېدو لارې:

۱- د ککړې هوا تنفس کول، د کارکوونکو د بدن ککړېدل تر ټولو مهمه لاره ده.

۲- د ککړو غذایي موادو او اوبو خوړل او څښل د داخلي وړانګیز فعالیت تر ټولو مهمه لار ده.

۳- د بدن د سالم پوستکي له لارې د هغې جذبول.

۴- د بدن پر پوستکي د یو زخم موجودیت.

۵- د نیوتروني وړانګو په وړاندې د بدن واقع کېدل.

۶- د بدن داخلي برخې ته د راډیو اکتیف ایزوتوپونو داخلېدل دي. (۴م،۳۵۲)

د بدن د داخلي ککړېدو د مخنیوي لارې چارې:

لکه مخکې چې وویل شول، راډیو اکتیف مواد بدن ته له درې لارو داخلېږي:

- د تنفس له لارې چې راډیو اکتیف ګرد او غبار پکې موجود وي.
- د ککړو اوبو او غذایي موادو خوړل او څښل.
- د روغ یا زخمي پوستکي له لارې بدن ته داخلېدل.

د محافظت معیارونه چې وړانګې د انسان بدن ته داخلې نشي، دادي چې یا خو بدن ته د ننوتلو لارې بندې شي او د وړانګیزو فعالیتونو توجه د انسان بدن څخه قطع شي چې دا کېدای شي د پوخ کولو یا د منبع د محدودولو او یا د محیط د کنترول او یا هم د شخص له خوا د تنفسي لارې د محافظت په وسیله ترسره کېدای شي. په دې ځای کې ددې نقطې ذکر ضروري دی چې د کنترول دغه معیارونه د صنعتي ژوند له معیارونو څخه چې د کارکوونکو د حفاظت په هکله ترې استفاده کېږي، متفاوت ندی. په لاندې جدول کې د راډیو اکتیف او غیر راډیو اکتیف ایزوتوپونو غلظت ښودل شوی دی. (۹م م۸۸-۹۴)

جدول- 3: د راډیو اکتیف او غیر راډیو اکتیف عناصرو غلظت راښیي:

د عنصر نوم	د مجاز غلظت اکثر حد ($\frac{gm}{m^3}$)	
	راډیو اکتیف	غیر راډیو اکتیف
بریلیم $^{7}_{4}Be$	1.7×10^{-8}	0.002
سیماب $^{203}_{80}Hg$	5×10^{-9}	0.1
سرب $^{210}_{82}Pb$	1×10^{-9}	0.05
ارسنیک $^{74}_{33}As$	3×10^{-9}	0.5
کدمیم $^{115}_{48}Cd$	2×10^{-10}	0.1
جست $^{65}_{30}Zn$	112×10^{-8}	5

په لاندې ډول د وړانګیزو فعالیتونو له سرچینو څخه د ځان ساتنې په اړه خبرې کوو:

الف- د سرچینې تحدید the threat of resource: په لابراتوارونو کې د وړانګیزو فعالیتونو د کنترول لپاره مهمه او اسانه لاره د سرچینې تحدیدول دي. دغه طریقه په ټیټه سطحه کې د راډیو اکتیف عناصرو لپاره چې د محیط ککړېدل

ترې محسوسېږي، کولای شي کافي وي. د وړانگيزو فعاليتونو د کنترول بله لار په هوا کې د خلا جوړېدل دي چې په صورت کې يې د راډيو اکتيف وړانگو تېرېدل له خارج څخه داخل ته جريان پيدا کوي.

ب- د چاپېريال کنترول the control of invoirement: د محيط په کنترول کې له راډيو اکتيف وړانگيزو فعاليتونو څخه د تعميراتو، بټيو او استوگنځايونو پاک ساتل عمده رول لري. د محيط کنترول د فزيکي وسايلو د استعمال په وسيله کولای شو ترسره کړو؛ لکه د ساختمانونو او بټيو د اطاقونو د ديوالونو په جوړولو کې د داسې موادو څخه استفاده کول دي چې د راډيواکتيف وړانگيز فعاليت مخه ونيسي او يا هم د استوگنې اطاقونه داسې جوړ شي چې د هوا جريان يې له داخل څخه خارج ته متوجه وي.

ج - د شخص کنترولthe control of person: په مختلفو طريقو سره شخص کولای شي خپل ځان له وړانگيز فعاليت څخه وساتي چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو(۴م۳۶۲):

حفاظتي پوښونه *Protective coverage*: د محافظت مختلفو معيارونو په نظر کې نيولو سره بيا هم د راډيو اکتيف خلاصو موادو په وړاندې د کار کولو په وخت کې د محيط د ککړتيا څخه د مخنيوي په خاطر يوڅه وړانگې د انسان بدن او نور محيط ته ننوځي. د بيا مخنيوي په خاطر ضروري ده که د راډيواکتيف خلاصو موادو په وړاندې کار کوو له محافظتي مناسبو پوښونو څخه دې استفاده وشي. (۱م۲۳۳)

د تنفسي دستگاه محافظت *The Protection of Respiratory system*: کله چې د کار کولو محيط د ککړتيا په مختلفو غلظتونو کې وجود ولري، نو ضروري ده چې د مختلفو وسايلو څخه د ککړې هوا د تنفس د مخنيوي لپاره کار واخيستل شي. په دې ځای کې بايد تاکيد وشي چې له داسې موادو څخه کار واخيستل شي چې د وړانگيزو فعاليتونو په وړاندې مقاومت ولري. هغه وسايل چې د ککړې هوا د تنفس کولو څخه پرې مخنيوی کېږي، عبارت دي له:

صافي لرونکی رسپيراتور *Filterated Respirator*: چې يوازې د گرد او غبار په شکل ککړتيا لپاره د استعمال وړ دی؛ دغه ډول وسايل د ککړو غازونو د مخنيوي لپاره مناسب ندي. رسپيراتور مختلف ډولونه لري، مختلفو حالاتو او مختلفو شرايطو کې د هغې له مختلفو ډولونو څخه استفاده کېږي.

تنفسي ماسکونه *Respiratory masks*: د ککړو غازونو او بادونو په وخت کې ترې استفاده کېږي، ددې ماسکونو يوه برخه د هوا د مخزنونو درلودونکې وي چې د انسان په وسيله انتقالېږي او بعضې نور يې د خارجي کڅوړو سره چې د يو پيپ په وسيله وصل شوي وي، تړل کېږي. (۴م۳۶۳)

پايله:

په پای کې ويلای شو چې د راډيو اکتيف ککړه شوې سيمه کې بايد د تم کېدلو وخت تر ټولو راکم شي، په ليرې فاصله کې درېدل او د يو شي تر شا ځان خوندي کول او داسې نور د وړانگو زيان کموي. هغه ښځې چې ماشومانو ته شيدې ورکوي، په داسې ځای کې بايد تم نشي چې په هغه سيمه کې د خوراک، څښاک او تنفس له لارې راډيو اکتيف مواد شتون ولري او بدن ته ورننوځي.

Abstract:

Rays resources can be used or untied in different centers. Usually closed and opened rays, resources act as rays producing apparatus. In above all three situations. The outer dangers of rays exist. In order to protect people from theses dangers it is it is necessary to take Cane of distance and self-protection means the rate or amount is directly attributing to their spread time. When neutron is taken in account that generally neutron resources are consisted of two courses, one is Hydrogenise object and the other is heavy objects such as lead in this case. Attention should be fixed to hydrogen and lead.

اخځليکونه:

۱- حيدری، مير محمد ظاهر. (1389). بيو فزيک. پوهنځی طب پوهنتون بلخ

۲- ځدران سلطانزی، نظرمحمد. ځدران سلطانزی، حاجي محمد. ځدران سلطانزی، غازي محمد. (1386). سرطان او د چاپېريال راديو اکتيويتي. جرمني

۳- فرداد، ابوالفضل. نداحجازی. (1387). شرحه بر مکانيک کوانتومی- جلد اول. دانشگاه تربيت دبير شهيد رجانی

۴- کارخانه ای، ابراهيم. (1381). شيمه هسته ای و حفاظت در برابر اشعه. تهران: انتشارات بوعلی سينا

۵- کنت کرين، ترجمه: ابوکاظمی، ابراهيم. رهبر، منيزه. (1389). اشنايی با فيزيک هسته ای- جلد اول. کتابخانه ای ملی ايران

۶- نظيفي، عبدالحی. تنها، محمد رحمت الله. (1386). د هستوي فزيک اساسات. ساينس پوهنځی- کابل پوهنتون

۷- هرمان هاکن و هان کريستوف ولف. ترجمه: سبحانيان، صمد. (1385). فزيک اتم ها و کوانتوم ها مقدمه ای بر اصول تجربی و نظری. انتشارات دانشگاه تبريز

۸- هنری سمت، جان ر، آلبرايت. ترجمه: بخشايی خسرو. (1367). اشنايی با فزيک اتومی و هسته ای- جلد دوم. تهران: مرکز نشر دانشگاهی

9- *S.N.GHOSHAL*, (2012). *NUCLER PHYSICS .PRINTED IN INDIA. PP*: 113,167,238.

پوهندوی حميدالله (يار)- ساينس
پوهنځی- رياضي او فزيک څانګه

په دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو کې د ياکوبيان کارولو ته يوه کتنه

لنډيز:

پوهېږو چې د رياضياتو علم د مختلفو هېوادونو د بېلوبېلو رياضي پوهانو د سالمو هلوځلو په برکت تر اوسه په ژوندی بڼه باقي پاتې دی. مونږ ته په دې تحقيق کې لومړی د ياکوبي جرمني عالم پېژندګلوي شوې او بيا راته د دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو لپاره ياکوبيان تعريف او محاسبه شوی دی. يادونه کوو چې په دوه ګونو انتيګرالونو کې ياکوبيان د ديکارتي او قطبي مختصاتو په بدلون کې او په درې ګونو انتيګرالونو کې ياکوبيان ديکارتي، استوانه اي او کروي مختصاتو د بدلون په منظور د مثالونو د حل سره يو ځای کارول شوی دی.

سريزه:

په دې پوهېږو چې د رياضياتو د علم پوهېدل د يوه فورمول په وړاندې کولو، د يوې موضوع په ليکلو يا د يوه کتاب په مطالعه کولو نه ترسره کېږي. هڅه بايد وکړو، تر څو په عالي رياضياتو هم ځانونه پوه کړو. مونږ دلته هم په عالي رياضياتو کې د دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو د محاسبه کولو په مېتودونو کې د يو ډېر مشهور جرمني عالم يو وړانديز چې ياکوبيان ورته وايي، په دې څېړنه کې د دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو د محاسبه کولو يو مېتود په پام کې نيسو. په دې مېتود کې يو ډېر مشکل دوه ګونی يا درې ګونی انتيګرال چې په حقيقت کې د متحول د تعويض او بدلون له مخې يې محاسبه شوې ده، په ډېرې آسانۍ د قايمو ديکارتي مختصاتو پر ځای په قطبي، استوانه اي او کروي مختصاتو سيستمونو کې د مناسبو حل شوو مثالونو په واسطه محاسبه او حل کړی دی.

موخې:

- د ياکوبيان پېژندنه، موندنه او د کارولو ساحې پېژندل
- په اړونده موضوع کې د مسلک مينه والو ته د نويو او ګټورو معلوماتو وړاندې کول

په دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو کې د ياکوبيان کارول:

کارل ګوستاو ياکوبي Carl Gustav Jacobe جرمني رياضي پوه چې په 1851 – 1804 کلونو کې يې ژوند کاوه، د څو ګونو انتيګرالونو په محاسبه کولو کې د اسانتيا په منظور يو ډېر مهم تابعي ديترمينانت د رياضي مينه والو ته وړاندې کړ چې تر اوسه د هغې په نوم (ياکوبيان) يادېږي. سره له دې چې د لومړي ځل لپاره نوموړی وړانديز د روسي رياضي پوه استروګرادسکي ګاوس له خوا په کار واچول شو، خو ياکوبي په دې وړانديز د جرمني د تعليم او تربيې په سيستم کې يو ډول مستقل ريسرچ ترسره کړ چې د همدې کره لټون د تحقيق په پايله کې هغه د تعليم او تربيې په يوه پوهنتون کې د استاد په صفت وګومارل شو. نوموړي خپل دا بدلون د قسمي تفاضلي معادلو او قسمي مشتقاتو څخه په استفاده د خپلو شاګردانو په ذهنونو کې ځای په ځای کړ چې تر اوسه ورڅخه عملاً ګټه اخيستل کېږي. د ياکوبيان کارول د دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو په محاسبه کولو کې د کومو چې محاسبه کول يې په يوه سيستم کې ګران وي، د متحول په بدلون يوه بل سيستم ته د اړولو په منظور پر مخ وړل کېږي. د متحول په تعويضولو کېدای شي ورکړ شوی انتيګرال له يوه سيستم څخه بل نوي سيستم کې په ډېرې اسانۍ محاسبه شي. د مطلب د وضاحت لپاره لاندې قضيه په پام کې نيسو:

قضيه (د متحول بدلون په دوه گونو انتيگرالونو کې): که چېرې د xoy پر مستوي (د قايمو مختصاتو په سيستم کې) د $f(x,y)$ يوې تابع دوه گونی انتيگرال د D پر يوې ساحې د $\iint_D f(x,y)\,dA := \iint_D f(x,y)\,dx\,dy$ په شکل راکړ شوی وي. که $x = g(u,v)$ او $y = h(u,v)$ د uov پر سيستم د R پر يوې ساحې عوض کړو داسې چې د g او h توابع د R پر ساحې متمادي او د قسمي مشتقاتو لرونکي وي. که چېرې $f = f(x,y)$ د D پر ساحې متمادي او $\frac{\partial(x,y)}{\partial(u,v)}$ خلاف د صفر وي، د دې بدلون له مخې راکړ شوی دوه گونی انتيگرال په لاندې توگه ليکو او بيا يې محاسبه کوو:

$$\iint_D f(x,y)dA := \iint_D f(x,y)\,dx\,dy = \iint_R f\{g(u,v),h(u,v)\}.|I|dudv =$$

$$= \iint_R f\{g(u,v),h(u,v)\}\left|\begin{vmatrix}\frac{\partial x}{\partial u} & \frac{\partial x}{\partial v}\\ \frac{\partial y}{\partial u} & \frac{\partial y}{\partial v}\end{vmatrix}\right| dudv.$$

داسې چې:

$$I = \frac{\partial(x,y)}{\partial(u,v)} = \begin{vmatrix}\frac{\partial x}{\partial u} & \frac{\partial x}{\partial v}\\ \frac{\partial y}{\partial u} & \frac{\partial y}{\partial v}\end{vmatrix} = \frac{\partial x}{\partial u}\frac{\partial y}{\partial v} - \frac{\partial x}{\partial v}\frac{\partial y}{\partial u}$$

په دوه گونو انتيگرالونو کې د متحول د تعويض (ياکوبيان) په نوم يادوي. [6م م 141-142]، [4م 660]

يادونه:

د پورتني بدلون په پايله کې کولای شو دوه گونی انتيگرال د يوه سيستم د يوې ساحې پر ځای د بل سيستم د بلې ساحې پر مخ محاسبه کړو، داسې چې د دوه گونو انتيگرالونو د محاسبې مېتودونه مو په خپل ځای (د دوه گونو انتيگرالونو په مبحث) کې مطالعه کړي دي. د نمونې په توگه که وغواړو د $\iint_D e^{\frac{x-y}{x+y}}dxdy$ محاسبه کړو، داسې چې د D ساحه د $y = 0, x = 0$ او $x + y = 1$ مستقيمونو احاطه کړي وي $(D: x \geq 0\,; y \geq 0 \wedge x + y \leq 1)$.

دلته که په پام کې ونيسو:

$$\left.\begin{matrix} x - y := u \\ x + y = v \end{matrix}\right\} \Rightarrow x = \frac{v+u}{2} \wedge y = \frac{v-u}{2}$$

او

$$I = \frac{\partial(x,y)}{\partial(u,v)} = \begin{vmatrix}\frac{\partial x}{\partial u} & \frac{\partial x}{\partial v}\\ \frac{\partial y}{\partial u} & \frac{\partial y}{\partial v}\end{vmatrix} = \begin{vmatrix}\frac{1}{2} & \frac{1}{2}\\ -\frac{1}{2} & \frac{1}{2}\end{vmatrix} = \frac{1}{2}$$

د u او v د حدونو تعينولو لپاره په پام کې نيسو.

$$\left.\begin{matrix} x = \frac{u+v}{2} \\ y = \frac{v-u}{2} \end{matrix}\right. \overset{x=0}{\Longrightarrow} \left.\begin{matrix} u + v = 0 \\ v - u = 0 \end{matrix}\right. \Rightarrow \left.\begin{matrix} u = -v \\ u = v \end{matrix}\right\} \Rightarrow -v \leq u \leq v$$

$$x + y = v \Rightarrow \begin{matrix} x = 0 \wedge y = 0\,; v = 0 \\ x + y = 1 \Rightarrow v = 1 \end{matrix} \Rightarrow 0 \leq v \leq 1$$

Y=0

اوس د اول شکل D ساحې پر ځای چې د xoy پر مستوي راکړ شوې ده د دويم شکل مطابق راکړ شوی:



اول شکل



دوهم شکل

انتيگرال د ياکوبيان په نظر کې نيولو سره د A پر ساحې په لاندې توګه محاسبه کوو، داسې چې:

$$R: 0 \le V \le 1 \quad \wedge \quad -V \le u \le v$$

$$\iint_D e^{\frac{x-y}{x+y}}\,dxdy = \iint_R e^{\frac{u}{v}}.|I|\,dudv = \int_0^1 \left[\int_{-v}^{v} e^{u/v}.\frac{1}{2}du\right] dv =$$

$$= \frac{1}{2}\int_0^1 \left[Ve^{u/v}\Big|_{u=-v}^{v}\right] dv = \frac{1}{2}\int_0^1 \left[Ve^{u/v} - Ve^{-u/v}\right] dv =$$

$$= \left(\frac{e-e^{-1}}{2}\right)\int_0^1 Vdv = \frac{e-e^{-1}}{2}\left(\frac{v^2}{2}\Big|_0^1\right) = \frac{e-e^{-1}}{4} = \frac{e-\frac{1}{e}}{4} = \frac{e^2-1}{4e}$$

[1م م1085-1048]

د ديکارتي سيستم څخه قطبي سيستم کې د ياکوبيان پيدا کولو لپاره، په دې پوهېږو چې په ديکارتي سيستم کې د يوې نقطې مختصات (x, y) او قطبي سيستم کې د يوې نقطې مختصات (γ, θ) دي. اوس که $x = \rho cos\theta$ او $y = \rho sin\theta$ په پام کې ونيسو، د ياکوبيان قيمت برابر دی په:

$$I = \frac{\partial(x,y)}{\partial(\rho,\theta)} = \begin{vmatrix} \frac{\partial x}{\partial \rho} & \frac{\partial x}{\partial \theta} \\ \frac{\partial y}{\partial \rho} & \frac{\partial y}{\partial \theta} \end{vmatrix} = \begin{vmatrix} cos\theta & -\rho sin\theta \\ sin\theta & \rho cos\theta \end{vmatrix} = \rho(cos^2\theta + sin^2\theta) = \rho$$

چې د دې له مخې کولای شو دوه ګونی انتيګرال له کارتيزيني سيستم څخه په قطبي سيستم په لاندې توګه وليکو:

$$\iint_D f(x,y)dxdy = \iint_R f\{\rho cos\theta, \rho sin\theta\}|I|\,d\rho d\theta =$$

$$= \int_\alpha^\beta \left[\int_{\rho_1(\theta)}^{\rho_2(\theta)} f(\rho cos\theta, \rho sin\theta)\rho d\rho\right] d\theta \;;\; \alpha \le \theta \le \beta \;;\; \rho_1(\theta) \le \rho \le \rho_2(\theta)$$

د نمونې په توګه که وغواړو د $\iint_D \sqrt{1-x^2-y^2}dxdy$ دوه ګونی انتيګرال په قطبي انتيګرال تبديل او بيا محاسبه کړو، داسې چې D د $R = 1$ واحد په په شعاع يوه دايره وي، نو د ياکوبيان $I = \rho$ په نظر کې نيولو سره لاسته راوړو چې:

$$\iint_D \sqrt{1-x^2-y^2}dxdy = \iint_R \sqrt{1-\rho^2}\rho d\rho d\theta = \int_0^{2\pi}\left[\int_0^1 \sqrt{1-\rho^2}\rho d\rho\right] d\theta = \frac{2\pi}{3}$$

[7م م141-140]، [3م م253-252]

ياکوبيان په درې ګونو انتيګرالونو کې:

لکه د دوه ګونو انتيګرالونو په شان ځينې وخت د f(x,y,z) يوې تابع لپاره د درې ګوني انتيګرال محاسبه کول ګران برېښي او يا مونږ غواړو نوموړی انتيګرال د يو سيستم پر ځای په کوم بل سيستم کې محاسبه کړو، په دې حالت کې د ياکوبيان په لاس ته راوړلو کولای شو هغه په آسانۍ محاسبه کړو. د دې منظور لپاره تر ټولو لومړی لاندې قضيه په پام کې نيسو:

قضيه (د متحول بدلون په درې ګونو انتيګرالونو کې): فرضوو چې د o,x,y,x درې بعدي فضا د R پر ناحيې د f(x,y,z) متمادي تابع درې ګونی انتيګرال راکړ شوی دی:

$$\iiint_R f(x,y,z)dv = \iiint_R f(x,y,z)dxdydz$$

که $x = g(u,v,w)$ ، $y = h(u,v,w)$ او $z = l(u,v,w)$ په پام کې ونيسو داسې چې د g ، h او l توابع درې بعدي فضا د S پر ناحيې د متمادي قسمي مشتقاتو لرونکې او $\frac{\partial(x,y,z)}{\partial(u,v,w)}$ د R پر ناحيې خلاف د صفر وي، پس:

$$\iiint_R f(x,y,z)dxdydz = \iiint_S f\{g(u,v,w), h(u,v,w), l(u,v,w)\}.|I|dudvdw$$

داسې چې:

$$I = \frac{\partial(x,y,z)}{\partial(u,v,w)} = \begin{vmatrix} \frac{\partial x}{\partial u} & \frac{\partial x}{\partial v} & \frac{\partial x}{\partial w} \\ \frac{\partial y}{\partial u} & \frac{\partial y}{\partial v} & \frac{\partial y}{\partial w} \\ \frac{\partial z}{\partial u} & \frac{\partial z}{\partial v} & \frac{\partial z}{\partial w} \end{vmatrix}$$

ته ياکوبيان ويل کېږي، د کوم چې قيمت يې د درېيم ترتيب ديترمينانت د محاسبې په نتيجه کې لاسته راوړل کېږي. که وغواړو د ياکوبيان قيمت د $oxyz$ درې بعدي سيستم پر ځای د $ouvw$ په يوه بل درې بعدي سيستم کې لاس ته راوړو، مونږ د دې تر څنګ دا لټوو چې د ياکوبيان قيمت د استوانه اي او کروي مختصاتو په سيستم کې لاسته راوړو.

ياکوبيان د استوانه اي مختصاتو په سيستم کې:

په دې پوهېږو چې که د xoy مستوي يوه ساحه موازي د oz له محور سره په فضا کې حرکت وکړي يو استوانه اي جسم جوړېږي، اوس که په $M(\rho,\theta,z)$ نبودله کېږي. $p(x,y,z)$ د فضا يوه نقطه د قايمو مختصاتو په سيستم کې راکړ شوې وي، نوموړې نقطه د استوانه اي مختصاتو په سيستم $o\rho\theta z$ کې لکه چې په شکل يې وينو، داسې چې:



$$o \le \rho < \infty \ , \ 0 \le \theta \le 2\pi \ , \ -\infty < z < +\infty$$

په دې توګه که $x = \rho Cos\theta$ ، $y = \rho Sin\theta$ او $z = z$ په پام کې ونيسو، د استوانه اي مختصاتو په سيستم کې د ياکوبيان قيمت برابر دی په:

$$I=\frac{\partial(x,y,z)}{\partial(\rho,\theta,z)}=\begin{vmatrix}\frac{\partial x}{\partial\rho} & \frac{\partial x}{\partial\theta} & \frac{\partial x}{\partial z}\\ \frac{\partial y}{\partial\rho} & \frac{\partial y}{\partial\theta} & \frac{\partial y}{\partial z}\\ \frac{\partial z}{\partial\rho} & \frac{\partial z}{\partial\theta} & \frac{\partial z}{\partial z}\end{vmatrix}=\begin{vmatrix}\cos\theta & -\sin\theta & 0\\ \sin\theta & \rho\cos\theta & 0\\ 0 & 0 & 1\end{vmatrix}=\rho$$

اوس که وغواړو د $\iiint_R f(x,y,z)dv=\iiint_R f(x,y,z)dxdydz$ درې ګونی انتیګرال د $oxyz$ درې بعدي سیستم پر ځای په $o\rho\theta z$ درې بعدي استوانه اي سیستم کې محاسبه کړو، په دې حالت کې که چېرې $I=\frac{\partial(x,y,z)}{\partial(\rho,\theta,z)}$ د R پر ناحیې خلاف د صفر وي کولای شو نوموړی انتیګرال په لاندې توګه ولیکو او بیا یې محاسبه کړو:

$$\iiint_R f(x,y,z)dxdydz=\iiint_S f\{\rho\cos\theta\,,\rho\sin\theta\,,z\}d\rho d\theta dz=$$

$$=\int_{\theta=\theta_1}^{\theta_2}\Big[\int_{\rho=\rho_1(\theta)}^{\rho_2}\Big\{\int_{z=z_1(\rho,\theta)}^{z_2} f\{\rho\cos\theta\,,\rho\sin\theta\,,z\}dz\Big\}d\rho\Big]d\theta$$

د نمونې په توګه که وغواړو د $\iiint_R \frac{1}{5}e^{x^2+y^2}dxdydz$ محاسبه کړو، داسې چې د R ناحیه د xoy مستوي $(Z=0)$ د $(Z=0)$ مستوي او $x^2+y^2=9$ استوانې محدوده کړې وي، نو د $0\le\rho\le 3\wedge 0\le\theta\le 2\pi$; $z=z\Rightarrow x^2+y^2=\rho^2=9$; $x=\rho\cos\theta$; $=\rho\sin\theta$ استوانه اي مختصاتو د بدلون په پایلې کې لاسته راوړو:

$$\iiint_R \frac{1}{5}e^{x^2+y^2}dxdydz=\int_0^{2\pi}\Big[\int_0^3\Big\{\int_0^5\frac{1}{5}e^{\rho^2}.\rho dz\Big\}d\rho\Big]d\theta=\pi(e^9-1)$$

[5م م877-876]، [2م م254-253]، [8م158]

یاکوبیان د کروي مختصاتو په سیستم کې:



اول شکل.

په دې پوهېږو چې که د xoy مستوي یوه ساحه د oz عمودي محور په شاوخوا دوران وکړي، یوه کره جوړېږي.



شکل 2



شکل 3

اوس که $M(x,y,z)$ د قايمو مختصاتو $oxyz$ په سيستم کې يوه نقطه راکړ شوې وي، د نوموړې نقطې د کروي مختصاتو پيداکولو لپاره که M له o سره وصل کړو او هغه په r وښيو، وينو چې $|\overrightarrow{OM}| = r$ د oz محور له مثبت جهت سره د φ زاويه جوړوي، داسې چې $\varphi \in [0,\pi] \Leftrightarrow 0 \le \varphi \le \pi$ او θ چې د xoy پر مستوي کې واقع ده $0 \le \theta \le 2\pi$ او $0 < r < +\infty$ ده. په دې توګه د $M(x,y,z)$ نقطې کروي مختصات $M(r,\varphi,\theta)$ دي. اوس د (شکل 2) له مخې لرو، چې:

$$cos\varphi = \frac{z}{r} \Rightarrow z = rcos\varphi \quad \wedge \quad sin\varphi = \frac{\rho}{r} \Rightarrow \rho = sin\varphi \ldots\ldots\ldots\ldots *$$

د (شکل 3) له مخې لرو چې:

$$cos\varphi = \frac{x}{\rho} \Rightarrow x = \rho\, cos\theta \quad \wedge \quad sin\theta = \frac{y}{\rho} \Rightarrow y = \rho sin\theta$$

که * له رابطې څخه د ρ قيمت په وروستيو رابطو کې وضع کړو لرو چې:

$$\begin{aligned} x &= \rho cos\theta = rsin\varphi cos\theta & 0 \le \varphi \le \pi \\ y &= \rho sin\theta = rsin\varphi sin\theta & ;\ 0 \le \theta \le 2\pi \\ Z &= rcos\varphi & 0 \le r \le +\infty \end{aligned}$$

اوس که د R پر ناحيه $I = \frac{\partial(x,y,z)}{\partial(r,\varphi,\theta)}$ خلاف د صفر وي، د $x = rsin\varphi cos\theta$ ، $y = rsin\varphi sin\theta$ او $z = rcos\varphi$ په نظر کې نيولو سره د درې ګونو انتيګرالونو لپاره د ياکوبيان قيمت برابر دی په:

$$I = \frac{\partial(x,y,z)}{\partial(r,\varphi,\theta)} = \begin{vmatrix} \frac{\partial x}{\partial r} & \frac{\partial x}{\partial \varphi} & \frac{\partial x}{\partial \theta} \\ \frac{\partial y}{\partial r} & \frac{\partial y}{\partial \varphi} & \frac{\partial y}{\partial \theta} \\ \frac{\partial z}{\partial r} & \frac{\partial z}{\partial \varphi} & \frac{\partial z}{\partial \theta} \end{vmatrix} = \begin{vmatrix} sin\varphi cos\theta & rcos\varphi cos\theta & -rsin\varphi cos\theta \\ sin\varphi sin\varphi & rcos\varphi cos\theta & rsin\varphi cos\theta \\ cos\varphi & -rsin\varphi & 0 \end{vmatrix} =$$

$$= r^2 sin\varphi \ ; i.e\ Jacobian := I = r^2 sin\varphi$$

[3م م252-253] ، [5م م876-877]

اوس کولای شو درې ګونی انتيګرال د کروي مختصاتو په سيستم کې دارنګه وليکو او بيا يې محاسبه کړو:

$$\iiint_R f(x,y,z)dxdydz = \iiint_S f\{rsin\varphi cos\theta, rsin\varphi sin\theta, rcos\varphi\}.|I|\,drd\varphi d\theta =$$

$$= \int_0^{2\pi}[\int_0^{\pi}\{\int_{r=r_1}^{r_2}(rsin\varphi cos\theta, rsin\varphi sin\theta, rcos\varphi)r^2 sin\varphi\}d\varphi]d\theta.$$

د نمونې په توګه که وغواړو $x^2+y^2+z^2=4$ کرې حجم پيدا کړو، په دې پوهېږو چې نوموړی حجم د $V = \iiint_R dxdydz$ په فورمول محاسبه کېږي او مونږ بايد د نيمايي پورتنۍ کرې حجم په لاس راوړو چې د هغې لپاره لرو:

$$x = rsin\varphi cos\theta\ ;\ y = rsin\varphi sin\theta;\ z = rcos\varphi\ ; 0 \le \varphi \le \pi\ ; 0 \le \theta \le 2\pi$$

$$x^2+y^2+z^2 = r^2 := 4 \ \Rightarrow 0 \le r \le 2\ ; I = r^2 sin\varphi$$

په پايله کې مطلوب حجم عبارت دی له:

$$V = \iiint_{R_{xyz}} dxdydz = \iiint_{S_{r\varphi\theta}} |I|\,drd\varphi d\theta = \iiint_{S_{r\varphi\theta}} r^2 sin\varphi drd\varphi d\theta =$$

$$= \int_0^{2\pi} [\int_0^{\pi} \{\int_0^{2} r^2 sin\varphi dr\} d\varphi = \cdots = \frac{32\pi}{3}.$$

پايله:

په دې پوهېږو چې هر فورمول يا وړانديز د يو لړ پايلو لرونکی دی، چې په دې څېړنه کې د ياکوبي د ا وړانديز د ډېرو ښو پايلو لرونکی دی او هغه عبارت دي له:

۱. کارول يې د انتيګرالونو په تېره بيا د سختو او مشکلو دوه ګونو او درې ګونو انتيګرالونو محاسبه کول اسانوي.

۲. د دې ډول انتيګرالونو محاسبه کول په ډېر کم وخت کې ترسره کېږي.

۳. انتيګرالونه پرې له يوه سسيستم څخه په بل سيستم کې په اسانۍ محاسبه کېږي.

۴. په کارولو کې درې ګوني انتيګرالونو لکه د دوه ګونو انتيګرالونو څخه په استفاده محاسبه کېږي.

۵. پايلې يې ډېرې ګټورې دي.

وړانديزونه:

۱. که دوه ګونی يا درې ګونی انتيګرال راکړ شوی وي، لومړی بايد ورته پام وکړو چې که بې د ياکوبيان له کارولو څخه محاسبه يې ګرانه نه وي، بايد ياکوبيان ونه کارول شي.

۲. که د انتيګرال محاسبه کول ګران او د ياکوبيان په کارولو اسانېږي، لازم دي په پام کې ونيسو:

۳. که انتيګرال يو دوه ګونی انتيګرال وي او په ديکارتي سيستم کې راکړ شوی وي، نو هغه بايد په قطبي سيستم د ياکوبيان په کارولو محاسبه کړو.

۴. که د انتيګرال يو درې ګونی انتيګرال وي او په ديکارتي سيستم کې راکړ شوی وي، نو هغه بايد په استوانه اي يا کروي سيستم د ياکوبيان په کارولو محاسبه کړو.

۵. د ياکوبيان د کارولو ښې پايلې او وړانديزونه بايد نورو ته وروسوو.

Abstract:

We know that mathematics in stile alive by different counties mathematicians. We know introduced at first in this writing the German mathematician carl-gastav Jacobi, and then he introduced Jacobian for calculating of double and triple integrals. It is mentionable that, Jacobian is a convert of Cartesians system on polar coordinat system. And in triple integrals Jacobian is used for converting of a cartisian system on cylindrical and spherical system. Also in double and triple integrals there are solved some example, and that references are listed about the research.

اخځليکونه:

۱. محمدي، ناصر. (1386). کتاب برکزيده کتاب آپوستيل- جلد دوم. تهران

2- Piskonov.N.C . (1981). Differential and integral calculus vol 2 Mir publishers Moscow. (pp 252-253).

3- Finney.R.L (1980) Calculus and Analytic Geometry 5th edition University of Illinois at Urbana-Champaign. (p 660).

4- Geveci. T Calculus 3 Moth 252, Son diego satate university California,2009 (pp 140-141).

5- Piskonov. N.C.(1981) Differential and integral calculus vol 2 Mir publishers Moscow. (p p 253-254).

6- Smith. T.R.Calculus 2nd Edition. Millersville University of Pennsylvania 2002. (pp 1048-1085).

7- smith. T.R. calculus 12th edition .university of California, Davis. 2006. (pp 876-877)

8-Spiegel.M.R (1976) Advanced mathematics for engineers and scientists. Rensselaer Polytechnic Institute New York. (p158).

پوهـــندوی زلمـــی (خـــالقي)
انجنيري پوهنځی- سيول څـانگه

د المونيم د معدني پوليمير څخه په گټې اخيستنې د اوبو د خړوالي ليرې کول

لنډيز:

په اوسني وخت کې د اوبو د خړوالي (مکدريت) ليرې کولو لپاره د اوبو په تصفيه خانو کې د المونيم سلفيت (آلوم) او د اوسپنې کلورايدو څخه د لخته کوونکو موادو په حيث استفاده کېږي. په داسې حال کې چې په کانادا، ايټاليا، امريکا، چين، فرانسه، ايران او انگلستان کې د پولي المونيم کلورايد (PACl) څخه د لخته کوونکو مادو په حيث استفاده کېږي. په دې څېړنه کې د اوبو د مکدريت يا خړوالي په ليرې کولو کې د اوسپنې کلورايد او آلوم په عوض د پولي المونيم کلورايد لخته کوونکې مادې په توگه استفاده کول، د اوبو د حرارت په مختلفو درجو کې د هغې د تأثير څېړنه او د لخته کولو د کړنو مطالعه کول دي، چې اوبه په مشابه توگه د کاولين په واسطه مکدري شوې. د مشاهداتو په نتيجه کې د هرې لخته کوونکې مادې په واسطه د لخته شويو موادو د رسوب د طرز يا ډول د ښودلو څخه پرته دا څرگنده شوه چې د المونيم کلورايد په واسطه د لخته شوو موادو د رسوب سرعت زيات و. پولي المونيم کلورايد د آلوم او د اوسپنې کلورايد لخته کوونکو موادو په نسبت د اوبو د حرارت د درجې په تغير سره حساس نه و او د مکدريت پاتې نوسانات پکې ونه ليدل شول. د PACl په کم غلظت سره هم لخته کولو صورت ونيو او د پام وړ باقي پاتې مکدريت د کمولو سبب وگرځېد.

سريزه:

د لخته کوونکو موادو په حيث الوم ډېر زوړ تاريخ لري، چې 2000 کاله له ميلاد څخه مخکې يې کارونه د مصريانو په واسطه شروع شوي دي. د تېرو اوږدو کلونو په تحولاتو کې د انعقاد (لخته) کولو عمل د فلتر تکميلوونکي عمل تر عنوان لاندې وپېژندل شو. معولاً فلزاتو مالگې لکه آلوم، فريک سلفيت، فروسلفيت، فريک کلورايد او د آنيوني، کاتيوني او غير ايوني پوليميرونو لرونکي لخته کوونکي موادو له جملې څخه دي. [۲،۱]

په دې وروستيو کې معمولاً د اوسپنې او المونيم مالگو په استفاده د لخته کونکو يوه نوې دسته د معدني پوليميري لخته کوونکو په نامه تهيه شوې او په ډېرو هېوادونو کې خصوصاً په چين، جاپان، روسيه او د غربي اروپا په هېوادونو کې کارول کېږي. د هغې له جملې څخه پولي المونيم کلورايد ډېر معمول دی چې په زياته پيمانه سره په کار وړل کېږي(۷،۲). غير پوليميري فلزي مالگو کړنې د ذراتو ناپايداره کولو څخه عبارت دي، چې د الکتريکي قشر د تراکم په واسطه د کلوئيدي ذرو په شااوخوا کې پيدا کېږي(۸). په داسې حال کې چې پوليميرونه د ناپايداره کولو کړنه د کلوئيدي ذرو د سطحو د جذب او د اتصالي پلونو جوړولو (ذره- پوليمير- ذره) له لارې انجاموي. بنا پردې د فلزي پوليميري مالگو لکه پولي المونيم کلورائيد څخه د پورتنيو کړنو په پام کې نيولو سره کولای شو چې د ناپايداره کولو دواړه کړنې صورت ونيسي، چې د ذراتو د ناپايداری د عملېې سرعت او بهبود او د ذراتو د بېلولو سبب کېږي. [۵،۴،۳]

موخې:

ددې څېړنې هدف په دې کې دی، چې د اوبو د مکدريت يا خړوالي په ليرې کولو کې د لخته کوونکې مادې په حيث د اوسپنې کلورايد او آلوم په عوض د پولي المونيم کلورايد استعمال، د حرارت په مختلفو درجو کې د هغې د تأثير څېړنه او د لخته کولو د کړنې مطالعه کول دي.

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې د کتنې لاندې اوبو د مصنوعي اماده کولو تر څنګ د دقيقې څېړنې سيستم په پام کې نيولو سره د لخته کوونکو موادو د زياتوالي د تاثير لازمو مقايسو صورت نيولی. د څېړنې د هدف تر لاسه کولو لپاره د تغيراتو په پام کې نيولو سره يو شمېر ازموينې تر سره شوې دي. د پولي المونيم کلورايد د خواصو د څېړنې لپاره د کائولين په واسطه د اوبو مصنوعي کدورت د څښلو په اوبو کې تهيه شوی. د Jar ازمايښتونه د 6 يو ليتره لوښو په مرسته انجام شوی؛ اوبو سره د لخته کوونکو موادو مخلوطول په تېزۍ سره په يوه دقيقه کې 120 rpm دوره او په کندۍ سره په 20 دقيقو کې 40 rpm دوره په نظر کې نيول شوې. جامد لخته کوونکي مواد لکه پولي آلمونيم کلورايد پودر، فريک کلورايد، المونيم سلفيت او نشايستې (د غنمو سپين ګرد) څخه ستندرد محلولونه تهيه شوي او په هر ازمايښت کې د مشخص مقدار په پام کې نيولو سره په نمونو کې تزريق شوي. د مخلوط د کند (سست) مرحلې څخه وروسته نمونې تر 20 دقيقو پورې پرېښودل کېږي، چې تشکيل شوي فلاکونه (يوځای شوي ذرات) رسوب وکړي. وروسته د فلاکونو د رسوب څخه د نمونو د څېړنې لپاره د پيپټي په کومک د نمونې د اوبو د سطحې څخه 2 cm لاندې يوه نمونه واخيستل شوه او د مکدريت اندازه د کدورت سنج په دستګاه کې پيدا شوه. نوموړې څېړنه په لاندې درېو مرحلو کې انجام شوې:

په لومړۍ مرحله کې ازمايښت د دريو لخته کوونکو مادو PACl(I)، آلوم او فريک کلورايد په استفاده په جلا جلا توګه صورت ونيو. د دغو درېو لخته کوونکو مادو په موجوديت کې د رسوب کولو د سرعت مقايسه کولو په منظور او همدارنګه د هرې لخته کوونکې مادې سره د فلاکونو د رسوب طرز په 1، 10 او 20 دقيقو کې د رسوب د شروع څخه وروسته نمونه ګيرۍ صورت نيولی او لاسته راغلې اندازې مقايسه شوې. په دويمه مرحله کې د اوبو د حرارت د درجې د تغيراتو اغېزې د PACl، آلوم او فريک کلورايد لخته کوونکو موادو په مختلفو غلظتونو سره بررسی شوې. د مکدرو اوبو حرارت درجه په څلورو 1.5، 5، 10 او 20 ^{o}C درجو د سانتي ګريد کې تنظيم شوی او د کتنې وړ ارقام لاسته راغلي. په دريمه مرحله کې د اوبو د مکدريت د لمنځه وړلو په خاطر د نشايستې د ترزيق اغېزې د PACl په مختلفو غلظتونو کې تر څېړنې لاندې نيول شوي دي.

پايله او مناقشه:

ددې څېړنې په لومړي شکل کې د لخته کوونکو موادو په مختلفو غلظتونو کې د فلاکونو د رسوب طرز ښايي. د آلوم د مصرف له اثره (۱-الف شکل) کې د کدورتونو مقايسه په 1، 10 او 20 دقيقو کې مشخص کېږي، چې د رسوب سرعت د مصرفي آلوم په ټولو غلظتونو کې سره مساوي دی؛ مګر څنګه چې انتظار کېده، چې د فلاکونو د کېناستلو يا رسوب کولو سرعت د وخت په تېرېدلو سره بايد کم شي، مګر د وخت په تېرېدو سره د فلاکونو د رسوب په حالت کې د کتنې وړ کوم تغير مشاهده نشو. (۲-ب شکل) هم د فريک کلورايد په مختلفو غلظتونو کې د فلاکونو د کېناستلو يا رسوب طرز ښايي. په دې کې هم د فلاکونو د رسوب سرعت، آلوم ته مشابه په ټولو غلظتونو کې تقريباً مساوي دی او د وخت په تېرېدو سره د فلاکونو د رسوب سرعت کمېږي. د کدورت په ليرې کولو کې د لخته کوونکې مادې د غلظت اندازه د 25 څخه تر 30 mgr په يو ليتر کې وه. د آلوم برخلاف د فلاکونو کېناستل په 1NTU څخه زيات غلظت کې د 20 دقيقو رسوب څخه وروسته بيا هم په اوبو کې کدورت باقي پاتې شوی. لکه څنګه چې په 1 شکل کې ليدل کېږي، د PACl (I) په مختلفو غلظتونو کې د فريک کلورايد او آلوم په نسبت د کېناستلو طرز لږ توپير لري؛ د کدورت د حذفولو په طريقه کې د يوې دقيقې څخه وروسته د غلظت په تغير سره د کدورت د پاتې شوني صعود يا نزول په سمه توګه ليدل شوي نه دي او په منځنيو غلظتونو کې د کدورت نوسانات مشاهده شوي دي، په داسې حال کې چې څرګندوني د وخت په تېريدو سره د صعود څخه نزول ته مخته ځي او د PACl په منځنيو غلظتونو کې ناپايداره کېدل او په لوړو غلظتونو کې بيا ځلي پايداره کېدل په مشخصه توګه د ليدلو وړ دي. داسې ليدل کېږي چې د PACl د 20 څخه تر 30 mgr په في ليتر غلظتونو کې د يوې دقيقې څخه وروسته لوستل شوی کدورت د بيا ځلي پايداره يا ناپايداره کلوئيدي پاتې شونو ذراتو څخه ندی، بلکې د تشکيل شوو فلاکونو څخه دی. دغه موضوع په 10 الی 20 دقيقه يې څرګندونو کې په ثبوت رسېږي چې د 30 ملي ګرام في ليتر څخه

پورته غلظتونو کې د ذراتو بياځلي پايدارۍ صورت نيولی. په دې څرګندونه کې د کېناستلو سرعت ډېر متغير دی او نشو کولای چې د سم متوسط مقدار اندازه پيدا کړو. دغه موضوع د PACl د کارد طرز نسبي توپير نسبت دوو نورو لخته کوونکو موادو ته ښايي.



اول شکل: په۱ ، ۱۰ او ۲۰ دقيقو کې د لخته کوونکو موادو په مختلفو غلظتونو کې د فلاکونو د کېناستلو طرز؛ په 2 شکل کې د خامو اوبو د حرارت د درجې تاثير په آلوم، فريک کلورايد او د پولي آلومونيم کلورايد لخته کوونکو موادو په کړنو (عملکرد) باندې تر غور لاندې نيول شوی، لکه څنګه چې په ۲ـ الف شکل کې ليدل کېږي، د آلوم د 30mgr في ليتر څخه لاندې غلظتونو کې د پاتې شوي کدورت نوسانات ډېر کم دي. مګر په ټيټو غلظتونو کې د خامو اوبو د حرارت درجې په تغير سره د کدورت په له منځه وړلو کې نسبتاً حساس او نوساني تر سترګو شوی، چې نوموړي نوسانات په عمل کې د اوبو په تصفيه خانو کې د لخته کوونکو موادو د غلظت د تزريق د اندازې براورد مشکل کوي. فريک کلورايد د حرارت د درجې په تغير کې د آلوم څخه ډېر حساس دی او په واضحه توګه ليدل کېږي چې په ټولو غلظتونو کې د خامو اوبو د حرارت د درجې په تغير سره د کدورت لمنځه تلل په شدت سره نوسانات کوي. (۲ـب شکل). د خامو اوبو د حرارت درجې په ټيټېدلو سره د لخته کوونکې مادې څخه کمه استفاده صورت نيسي چې دغه کمه استفاده کول د فريک کلورايد په ښکته او پورته غلظتونو کې ډېر ليدل کېږي. برخلاف د آلوم او فريک کلورايد دوو منعقد کوونکو مادو څخه ليدل کېږي، چې پولي المونيم کلورايد د خامو اوبو د حرارت د درجې په تغير سره حساس ندي او د باقي پاتې شوني کدورت کوم نوسان نه ليدل کېږي، (۲ـج شکل). دغه موضوع د PACl مناسبه کړنه د دوو نورو منعقد کوونکو موادو په مقايسه په ژمي او اوړي کې د اوبو د حرارت د درجې په تغير سره په سمه توګه څرګند بدلای شي.



۲ شکل: په ۱,۵ ، ۵ ، ۱۰ او ۲۰ درجې د سانتیګرید کې د مختلفو لختې کوونکو موادو سره د پاتې شوني کدورت د توپیمقایسه په ۳ شکل کې د PACl سره د لختې کوونکې کومکي مادې په توګه د نشایستې مختلفو مقدارونو د علاوه کولو د تاثیراتو نتیجه ښایي، لکه څنګه چې مشاهده شوې، د PACl په پورته غلظتونو یعنې ۲۰، ۳۰ او ۵۰ ملي ګرامه په فې لیتر کې د نشایستې په علاوه کولو سره د کدورت په پاتې شوني باندې کوم تاثیر نه درلود؛ په داسې حال کې چې په ۱۰ او ۱۵ ملي ګرامه فې لیتر غلظتونو کې نشایسته د لختې کوونکې کومکي مادې په توګه د کدورت د پاتې شونو په کمولو کې د کتنې وړ ونډه اخلي، نو داسې نتیجه اخیستل کېږي چې د PACl په ټیټو غلظتونو کې نشایسته په موثره توګه د منعقد کوونکې کومکي مادې په حیث استعمالول مناسب دي.



۳ شکل: د PACl سره د لختې کوونکې کومکي مادې په توګه د نشایستې متغیرو مقدارونو د علاوه کولو تاثیرات.

پايله:

ددې څېړنې مهمې لاسته راوړنې عبارت دي له:

الف: د PACl په استفاده د فلاکونو د کېناستلو سرعت د آلوم او فريک کلوراید لخته کوونکو موادو په نسبت زيات دی. PACl کولای شي چې د ۱۰ دقيقو څخه وروسته د نمونې کدورت NTU 1 مطلوبه اندازې ته ورسوي، چې دا د فلاکونو د کېنولو لوړترين سرعت دی، چې PACl لخته کوونکې مادې په استعمالولو کې يې لري.

ب: د الوم او فريک کلوراید لخته کوونکو موادو برخلاف پولي المونيم کلوراید د اوبو د حرارت درجې سره حساس ندی او د باقي پاتې کدورت نوسانات پکې نه ليدل کېږي، چې دغه موضوع د PACl مناسب کړنه د دوو نورو لخته کوونکو موادو په مقايسه په ژمي او اوړي کې د اوبو د حرارت درجې په تغير سره په ښه ډول څرګند ېږي.

ج: د PACl په لوړو غلظتونو کې د نشايستې زياتوالی په پاتې کدورت باندې کوم تاثير نلري، په داسې حال کې چې په ټيټو غلظتونو کې نشايسته د منعقد کوونکې کومکي مادې په حيث عمل کوي او د پاتې کدورت د کمولو سبب کېږي.

Abstract:

Today, coagulants used for water treatment predominantly inorganic salts of iron and aluminum while in many countries like Canada, Italy, U.S, China, France , Iran and England a new coagulant named Polyaluminum Chloride (PACl) is used as the alternative coagulant. The present investigation mainly aims to evaluate, the use of Polyaluminum Chloride in place of Ferric Chloride and Alum used as coagulants, the effect of temperature conditions and the effectiveness of using PACl doubled with starch as a coagulant aid, for turbidity removal of simulated turbid water with Kaolin. The results showed the trend of floc settlement and higher settling velocity for PACl flocs as well. Coagulation efficiency of PACl proved not to be sensitive to temperature changes, while Ferric Chloride and Alum did. Starch showed to be an effective coagulant aid only at low doses of PACl. Keywords: Water treatment, coagulation and Flocculation, Polyaluminum Chloride, Ferric Chlorid, Alum, and Temprature.

اخځليکونه:

1. شاه منصوری، ا.ا. نشاط، ا.ا. (۱۳۸۲). مقايسه پولی المونيم کلوراید ، المونيم سلفيت و فريک کلوراید در حذف کليفرم کل و TOC. مجله آب و فاضله آب
2. Alim. Abdul Kabir. Assoc. Proff. Dr, Water Supply Engineering, Vol.1, Genral Aspects. Kabul Afghanistan. 1996.
3. HRD Engineering, Inc. Handbook of public water systems, John Wiley and Sons, Inc., New York. 1991.
4. LaMer, V. K., and Healy, T.W. Adsorption-flocculation reactions of micromolecules at the solid-liquid interface. Rev. Pure App. Chem., 1963. PP. 13, 112-132.
5. MonZavi. M.T, PE. Dr.Ing. WATER SUPPLY, Fourth Edition, Tenth Print, Department of civil Engineering Faculty of Engineering Tehran Universe City. 1999. PP.1.
6. Monzavi. M.T. Dr .Ing, WATER SUPPLY. Seventh Edition, Department of civil Engineering Faculty of Engineering Tehran University. 1994. PP.80.
7. Parker, D. R., and Bersch, P. M. Formation of the “Al_{13}” tridecameric polycation under diverse synthesis conditions. Environ. Sci. Technol., PP. 26, 914-921.
8. Wang, D., Sun, W., Xu, Y., Tang, H., and Gregory, J. Speciation stability of inorganic polymer flocculant-PACl. Colloids and Surfaces. 2004. PP. 1-10, 243.

پوهندوی جان محمد (پيغام)
ښوونې او روزنې پوهنځی
تاريخ څانګه

د افغانستان د معاصر مؤرخ ملافيض محمد (کاتب) علمي او تاريخي هڅې

لنډيز:

دغه علمي او تاريخي مقاله د افغانستان د معاصر تاريخ د لومړني مؤرخ ملافيض محمد کاتب په زوکړه، زده کړه او د هېواد دننه او بهر کې د نوموړي په علمي او تاريخي هڅو په اړه شوې، د عنوان، لنډيز، سريزې، موخو، اصل موضوع او پايلې په لرلو سره پکې د ياد ملي او تاريخي شخص د ملي او وطنپالو هڅو او خدمتونو سپړنه او شننه شوې ده.

سريزه:

ملافيض محمد کاتب په (۱۲۴۱) لمريز کال د غزني د قرباغ د زردسنګ په قريه کې د سعيد محمد په کور کې زېږېدلی. لومړنۍ زده کړې يې په خپل پلرني ټاټوبي کې بشپړې کړې او بيا د لوړو زده کړو لپاره کندهار ته ولاړ او هلته د زده کړو وروسته د ايران نجف ته ولاړ او په (۱۲۲۴) لمريز کال د پاتې زده کړو د بشپړولو لپاره د هند لاهور ته لاړ او تر (۱۲۲۶) لمريزکال پورې يې په لاهور کې زده کړې وکړې. ملا فيض محمد کاتب هزاره په لاهور کې د استوګنې پر مهال يې (حکمت، کلام، تاريخ، فقه، اصول، ادبيات، عربي، منطق، لغت، هيئت، نجوم، حساب، جبر، جغرافيه او عصري علوم زده کړل او هم يې په لاهور کې د استوګنې پر مهال انګليسي او اردو ژبې زده کړې او عربي ژبه يې د اصول دين د مضامينو د زده کړې پر مهال او پښتو ژبه يې د پښتنو مسافرو انډيوالانو څخه د استوګنې پر مهال زده کړه، چې د دري او مورنۍ (هزاره ګي) ژبو په ګډون يې شپږ ژبې په بشپړه توګه ليکلې او لوستلی شوې. ملافيض محمد کاتب هزاره په کابل کې د استوګنې پر مهال د ملامحمد سرور اسحق زي تر لارښوونې لاندې ليکدود، اقليدس، خلاصةالحساب او د ښکلي او زېبا نستعليق خط زده کړه پيل کړه. د ديني او علمي زده کړو پرته د نستعليق ليک بهترين ليکوال هم په کابل کې وپېژندل شو او د امير حبيب الله خان دربار ته د کاتب په توګه ور ولېږل شو او د هغه پوهې او استعداد له امله چې درلوده يې، ډېر ژر د امير د دربار د دارالانشاء د پنځم غړي په توګه وټاکل شو. هغه ځانګړی استعداد چې امير حبيب الله خان په ملافيض محمد کاتب کې وليده، د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو په دنده يې وګماره او د سراج التواريخ ليکلو ته يې د امير د حکومت تر پايه د کتابت پرته د تاريخ ليکنې دندې ته هم ادامه ورکړه، چې په همدې مهال يې تحفةالحبيب، سراج التواريخ، تذکرةانقلاب، فيض فيوضيات او تاريخ حکمای متقدمين په اړه يې ليکنې افغان ولس ته چمتو او په ميراث پرېښودې.

د افغانستان د معاصر تاريخ لومړنی مؤرخ چې افغان ولس او حتی نړيوال مؤرخين يې د افغانستان د تاريخ د پلار په نوم يادوي او يا ځينو مؤرخينو يې د خپل عصر او مهال د بېهقي په نوم ياد کړی، د خپل عمر په اويا کلنۍ کې د اوږدې ناروغۍ له امله د کابل په چنداول کې د (۱۲/جدی/۱۳۰۹) نېټه مړ شو او د جوی چنداول په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

موخې:

- د ملافيض محمد کاتب هزاره د ملي او تاريخي شخصيت څېړل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو تاريخي معلوماتو برابرول

ملافيض محمد کاتب هزاره:

ملافيض محمد کاتب د سعيد محمد زوی او د خدايداد لمسی ؤ، چې د هزاره جات د غزني د قرباغ د زردسنګ په قريه کې په

۱۲۴۱ لمريز کال زېږېدلی او د قومي نسب له مخې د هزاره قبيلې د محمد خواجه د قوم سره اړيکې لري او پلار يې د همدې قوم يو مخور سپين ږيری او مشر ؤ. لومړنۍ زده کړې يې د (۱۲۴۷-۱۲۵۸) لمريزو کلونو پر مهال په خپل پلرني ټاټوبي کې بشپړې کړې؛ د نورو زده کړو لپاره کندهار ته ولاړ او بيا د کندهار څخه د ايران نجف ته ولاړ، ترڅو د يو پوخ عالم په توګه بېرته خپل هېواد ته راستون شي. کله چې يې په نجف کې خپلې زده کړې بشپړې کړې، په (۱۲۲۴) لمريز کال د نورو زده کړو د بشپړولو لپاره د هند په لور وخوځېد او په لاهور کې يې استوګنه غوره کړه. په (۱۲۲۲) لمريزکال د دوه کاله استوګنې او زده کړې وروسته د شرقي علومو د زده کړو لپاره کابل ته راغی. په کابل کې د استوګنې دمخه ملافيض محمد کاتب هزاره عصري او ديني علوم (حکمت، کلام، تاريخ، فقه، اصول دين، ادبيات، عربي ژبه، منطق، لغت، هيئت، نجوم، حساب، جغرافيه او عربي علوم زده کړل او په لاهور کې يې د استوګنې پر مهال انګليسي او اردو ژبه د استادانو څخه د زده کړې پر مهال او عربي ژبه يې له پخوا څخه زده کړې وه او پښتو ژبه يې د پښتنو څخه د استوګنې پرمهال زده کړه او په هند کې يې د زده کړو دبشپړولو سربېره د عصري علومو او لويديځ فرهنګ سره هم بلد شو.(۲م م۹-۱۰)

د نوموړي مؤرخ ليکوال او ديني عالم د زده کړو د بشپړولو له مهال څخه په لاندې توګه يادونه کوو:

په قره باغ کې (۱۲۴۷-۱۲۵۸) لمريزکال پورې، په کندهار او نجف کې د (۱۲۵۸-۱۲۲۴) لمريز کال پورې، په لاهور کې (-۱۲۲۲ ۱۲۲۵) لمريز کال پورې او په کابل کې (۱۲۲۲-۱۲۲۹) لمريز کال پورې خپلې زده کړې بشپړې کړې دي. ملافيض محمد کاتب دوه ويشت کاله د خپلو زده کړو پسې سرګردانه ګرځېدلی، چې په همدې مهال يې د زده کړو سربېره د خطاطۍ او خوش نويسۍ (ښکلو ليکلو) بهترين او پياوړی استعداد درلود او په کابل کې يې د استوګنې پر مهال د قرانکريم خطي نسخې او د ځينو پوهانو څو ټوکه کتابونه په نستعليق خط وليکل، چې د قرانکريم د خطي نسخو او د پوهانو د کتابونو د ليکلو وروسته ملافيض محمد هزاره د کابل د روښنفکرانو په ډلې کې ډېر شهرت وموند. ملافيض محمد کاتب هزاره د ځلميتوب پر مهال لومړنی واده د هزاره جات د غزني د قرباغ د سيمې يوې پېغلې سره وکړ، چې د هغې مېرمن څخه يې دوه اولادونه يوه لور او د عبدالصمد په نوم يو زوی زېږېدلي، چې نوموړی کوچنی ماشوم په هند کې د استوګنې پر مهال د هندي مسلمانانو او هندوانو د اختلاف او جګړو پر مهال ووژل شو او دويم واده يې د کابل د يو تن اوسېدونکي ميرزاخان بابا د لور سره وکړ، چې د نوموړې مېرمن څخه يې درې زامن (ولي محمد، علي محمد او محمد مهدي) په نومونو زېږېدلي او د درېم واده د اولادونو په اړه مو معلومات پېدا نکړل؛ په زيات ګمان چې د درېيمې مېرمن څخه به يې اولادونه نه وي زېږېدلي. (۲م۱۵)

ملافيض محمد کاتب هزاره د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال (۱۲۲۹) لمريز کال په کابل کې استوګنه غوره کړه او د مولوي محمد سرور اسحق زي سره يې اړيکې ټينګې کړې. د نوموړي څخه يې (ليک، اقليدس، خلاصة الحساب، چغمنی سرخ) د زده کړو او د ځانګړي ذهني پالونکي په توګه د سراج التواريخ په (۱۴۹) مخ کې يادونه کړې ده. (۲م۱-۹)

ملافيض محمد کاتب هزاره د ملامحمد سرور اسحق زي په سپارښتنه د امير حبيب الله خان په دربار کې د ځانګړي دفتر د کاتب په توګه په دنده وګمارل شو او هلته يې په دربار کې د پوهې او استعداد له مخې ډېر ژر د امير په حکم د دربار د دارالانشاء غونډې د غړي او د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو په دنده وګمارل شو او د نوموړي په ټاکنه د دربار د دارالانشاء د غړو شمېر پنځو تنو ته ورسېد. (۱م م۵۲۲-۵۲۱)

ملافيض محمد کاتب په (۱۲۸۱) لمريز کال د امير حبيب الله خان د حکم له مخې د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو په دنده په داسې حال کې وګمارل شو، چې د امير په حکم د تاريخ په اړه ټول اسناد او د اړتيا وړ تاريخي کتابونه په واک کې ورکړل شول. ملافيض محمد اديب، ليکوال، روشنفکر او د مشروطيت غورځنګ د لومړنيو لارويو له ډلې څخه ګڼل کېږي؛ د همدې غورځنګ د مبارزې په تور د خپلو (۳۲) تنو ملګرو سره يوځای زندان ته ولېږل شو. (۳م۱۹۳)

مګر دا چې امير حبيب الله خان د شهزاده ګۍ له دورې څخه پېژنده او هم يې پخوا د سراج التواريخ د ليکلو دنده ورته سپارلې وه، د امير په حکم له زندان څخه راخوشې شو او دويم ځل د سراج التواريخ د ليکلو په دنده وګمارل شو. (۲م۴۲)

کله چې ملافيض محمد کاتب هزاره د هند د لاهور څخه په (۱۲۲۲) لمريزکال کابل ته راغی او د کابل ښار چنداول د شاه منصور د کوڅې په يو کوچني کور کې يې استوګنه غوره کړه، د شاه منصور د کوڅې د لويانو پرته کوچنيو ماشومانو هم د هغې د کورنۍ د غړيو درناوی کاوه، ځکه چې نوموړی د علم او فرهنګ پالونکی او د افغانستان د معاصر تاريخ په اړه يې

افغان ولس ته ګټور تاريخي او علمي معلومات چمتو کول او د مړينې تر مهاله يې په همدې کوچني کور کې استوګنه کوله. ملافيض محمد کاتب هزاره د علمي او تاريخي هڅو سربېره د مشروطيت د غورځنګ د پياوړو او مخکښو لارويانو له ډلې څخه و او د افغانستان د خپلواکۍ د نهضت د پياوړتيا په لاره کې يې په صداقت او ايمانداري د افغان ولس تر څنګ ولاړ ؤ او د هغوی ملي او انقلابي هڅې يې پياوړې کولې او خپل ملي- افغاني مسئوليت يې ادا کاوه. اګر چې امير حبيب الله خان د نوموړي د ټولو ليکنو څارنه کوله، مګر د هغه د نظارت او څارنې سره يې بيا هم هڅه کوله چې خپلې تاريخي ليکنې په حقيقي او رښتينې بڼه د افغان ولس د لوست لپاره چمتو کړي او که چېرې د کومې تاريخي پېښې د حقيقي ليکنې د ليکلو توان به يې نه درلود، بيا به يې همغه پېښه د طنز او کنايې په شکل د لوست لپاره برابروله. که چېرې به امير حبيب الله خان د ليکنې پر مفهوم وپوهېده، هغه ليکنه به يې پرې دوباره ليکله؛ کله چې ملا فيض محمد کاتب د امير حبيب الله خان په دربار کې د تاريخ ليکلو او کتابت په دنده وګمارل شو، د افغانستان شاهي سلطنت د مطلقه حکومت د پياوړتيا پر لور هڅې کولې، د امير د همدې مطلقه شاهي نظام د ړنګولو لپاره د هېواد روښنفکرانو او ملي انقلابي شخصيتونو د مشروطه شاهي نظام د منځته راتګ لپاره هڅې پيل کړې وې، کله چې د مشروطيت د غورځنګ د پياوړتيا انګازې يې د امير غوږونو ته ورسېدې، د امير حبيب الله خان په حکم د هېواد ټول روشنفکران د څارنې لاندې ونيول شول او هيڅاته يې د خپلواکۍ د ملي غورځنګ په اړه د خبرو کولو او د ديموکراسۍ د منځته راتګ او پياوړتيا په اړه د خبرو او نظر اجازه نه ورکوله. ملافيض محمد کاتب په همدې مطلقه شاهي اداره کې د تاريخ ليکلو او کتابت په دنده بوخت ؤ او د هېواد روښنفکران يې د دولتي هرې تاريخي پېښې څخه خبرول او د هغوی غوږونو ته يې د دربار او امير ټول پټ رازونه رسول، چې ځينې مؤرخين او څېړونکي د ملافيض محمد کاتب په اړه داسې څرګندونې کړې:

پروفيسور هارونوا وايي: ((نن ورځ که هر څوک د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو اراده وکړي، خپله ليکنه د ملافيض محمد کاتب هزاره د کتابونو پرته نشي بشپړولی.)) او په همدې ترتيب نيلاب رحيمي په خپلو ليکنو کې يادونه کړې چې (په افغانستان کې هغه مهال د شخصي کتابتونونو څخه يو هم د ملافيض محمد کاتب ؤ او د خپل عصر د بيهقي لقب ورته ورکړ شوی ؤ.) لکه چې بيهقي د خپل ژوند پر مهال د سلطان مسعود غزنوي د واکمنۍ پېښې په تاريخ کې انځورولې، په همدې ترتيب ملافيض محمد کاتب د امير عبدالرحمن او امير حبيب الله خان د واکمنيو پېښې افغان ولس ته څرګندولې او په خپل قلم يې د افغان ولس لوست ته چمتو کولې. علامه عبدالحی حبيبي وايي: ((ملافيض محمد کاتب زړور ليکوال، ستر عالم او مؤرخ و، څرنګه چې د ټولنې په منځني طبقاتي قشر کې زېږېدلی و، نو ځکه يې په خپلو تاريخي ليکنو کې د افغان ولس اقتصادي او ټولنيزې ستونزې له ورايه ځلېدلې، ترڅو په خپلو ليکنو کې خپل طبقاتي وجدان تسکين کړي)).

د ملافيض محمد کاتب هزاره علمي او تاريخي هڅې:

کله چې ملافيض محمد کاتب هزاره په (۱۲۲۷)لمريز کال د کابل ښار د چنداول د شاه منصور کوڅه کې استوګنه پيل کړه او خپلې پاتې زده کړې يې تر(۱۲۷۷)لمريزکال پورې په کابل کې بشپړې کړې، نوموړی په (۱۲۷۷)لمريز کال د محمد سرور اسحق زی له خوا د امير حبيب الله خان دربار ته وروپېژندل شو، چې د امير له خوا لومړی د دربار د ځانګړي کاتب په توګه او بيا ډېر ژر د خپلې پوهې او استعداد له امله د دارالانشاء د غړي په توګه وټاکل شو او هم د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو په دنده وګمارل شو چې د امير حبيب الله خان د سلطنت تر پايه يې همدې دندې ته ادامه ورکړه. د همدې واکمنۍ پر مهال د دارالتأليف په دنده ټاکل شوی، ترڅو د هېواد ځوان نسل او تنکيو ماشومانو ته د تعليمي نصاب سره سم درسي کتابونه چمتو کړي. امير حبيب الله خان د سراج الاخبار د جريدې د خپرونې او د حبيبيې د ښوونځي د تأسيس سربېره يې ملافيض محمد کاتب ته يوه بله فرهنګي دنده وسپارله، ترڅو افغان ولس ته رښتينې تاريخي پېښې او حقايق راټول او د هغوی د لوست لپاره يې چمتو کړي، چې د احمد شاه بابا د واکمنۍ له پيل څخه د محمدزيو واک ته رسېدلو تاريخ د لومړي ځل لپاره د همدې مؤرخ له خوا تأليف او د لوستونکو په واک کې ورکړل شو. نوموړي مؤرخ په خپلو ليکنو کې هڅه کړې، چې د هغه مهال د مطلقه شاهي حکومتونو په اړه معلومات او د شهزاده ګانو او سردارانو خپلمنځي ستونزې او اختلاف د امکان تر حده په حقيقي او رښتينې بڼه د لوست لپاره چمتو کړي، تر څو راتلونکي نسلونه ترې د عبرت درس واخلي. (۵م۴۸۵)

ملافيض محمد کاتب د تاريخ ليکنې او د کتابت د هڅو له امله د امير حبيب الله خان پاملرنه ورته راوګرځېده، چې د همدې تاريخي ليکنې د څارنې وروسته يې د کتاب د قلمي نسخې په (۳۹) مخ کې په سور رنګ ورته داسې ليکلي و چې (ماشأالله). (۲م۴۳)

د افغانستان د معاصر تاريخ لومړني مؤرخ (ملافيض محمد کاتب) د رصةالصفا د مؤلف (ميرخواند) او د تېمورشاه د واکمنۍ د تاريخ ليکونکي وروسته دريم شخص دی چې د افغانستان تاريخ ليکنه يې پيل کړېده او د خپلو تاريخي او فرهنګي هڅو له امله چې ګڼ شمېر تاريخي کتابونه يې ليکلي، د افغانستان د معاصر تاريخ پلار ګڼل کېږي. ملافيض محمد کاتب نه يوازې اديب، د عصري او مذهبي علومو عالم، مؤرخ او خطاط ؤ، بلکې د خپل عصر او مهال په سياسي او ټولنيزو پېښو او مسايلو کې يې فعاله ونډه درلوده، لکه چې د مشروطيت د غورځنګ د غړيتوب او سياسي فعاليت په تور زندان ته هم لېږل شوی ؤ او څو مياشتې يې په زندان کې په ستونزمن حالت شپې او ورځې تېرې کړې، چې بالاخره د دربار او حکومتي ادارې د اړتيا له مخې د امير حبيب الله په حکم د زندان څخه راخوشې شو او په خپله پخوانۍ (د تاريخ ليکنې او کتابت) په دنده وګمارل شو.

ملافيض محمد کاتب د نورو علمي او فرهنګي خدمتونو سربېره يې د وروستيو دوه پېړيو تاريخ په ښکلي او ښايسته ليک په مستنده توګه افغان ولس او د تاريخ مينه والو ته په ميراث پرېښې دی، چې د افغانستان د معاصر تاريخ د کتاب ليکنه يې د سلطنتي لوړ رتبه مامورينو او په ځانګړې توګه د امير حبيب الله خان په خوښه چمتو کوله، مګر بيا يې هم په ډېره زړورتيا کله په څرګنده او کله يې په کنايه او طنزيه توګه تاريخي حقايق په ريښتينې بڼه د خپل عالمانه قضاوت، وظيفوي مسؤليت او مکلفيت له مخې د راتلونکي نسل د لوست لپاره برابرول. (۸م م۱۰۷-۱۱۰)

ملا فيض محمد کاتب د امير حبيب الله خان له مړينې وروسته د اعليحضرت امان الله خان د ځانګړې حکم له مخې چې (۱۲/ثور/۱۲۹۹) نېټه يې محمد کاسي ته ليکلی و، چې د سراج التواريخ او اماني واکمنۍ تاريخ بايد وليکل شي او ملا فيض محمد کاتب يې د پخوا په شان د تاريخ ليکلو په دنده وګماره. (۴م۸۳۰)

ملا فيض محمد کاتب د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ پر مهال څو ځلې د حبيبي د دارالعلوم د ښوونکي په توګه ټاکل شوی او د محمود طرزي په حکم څو ځلې د بهرني نظارت دفتر ته رسمي رابلل شوی، لکه د (۱۳/دلوه/۱۲۹۸) نېټې د حکم له مخې ورته لارښوونه شوې وه، چې د (۱۵/دلوه/۱۲۹۸) نېټه دې د بهرنيو چارو د نظارت دفتر ته ورشي او همدارنګه د اعليحضرت امان الله خان د ياور محمد سرور په امضأ د ارګ د ګل خانې مانۍ ته د (۱۰/قوس/۱۲۹۹) نېټه رابلل شوی ؤ او د يو تن ښوونکي او کنيزې په اړه يې د بهرني نظارت د مسايلو د حل وفصل لپاره هزاره جات ته د لېږلو خبر ورکړ او ورته ويل شوي ؤ، چې د موضوع د تحقيق او څېړنې وروسته به بشپړ او حقيقي معلومات شخصاً اعليحضرت امان الله خان ته وسپاري. فيض محمد کاتب سياسي لوبغاړی و او تل يې ليکنو پخه سياسي بڼه درلوده او په يو ځل لوستلو يې هيچا د ليکنې موضوع نه شوه تحليل کولای؛ دا ځکه چې نوموړی ستر عالم، بهترين او ريښتينی روښنفکر، سياست پېژندونکی، روانشناس، مذهبي او روحاني شخصيت، مؤرخ، تاريخ ليکونکی او د مشروطيت د غورځنګ مخکښ لاروی ؤ. کله چې د اعليحضرت امان الله خان د حکومت تخته نسکوره شوه او حبيب الله کلکاني د کابل د سلطنت واک ونيوه، د هزاره جات ولس د حبيب الله کلکاني د حکومت پر خلاف د اعتراض غږ پورته کړ او د امان الله خان د نسکور حکومت د پياوړتيا لپاره يې هڅې پيل کړې، ځکه د نوموړي د واکمنۍ پرمهال ګڼ شمېر هزاره ګانو چې په دربار کې يې د سردارانو او اشرافو په کورونو کې د غلامۍ (مرئيتوب) ژوند کاوه او پخپله اراده يې هيڅ کار نشو کولای، د اعليحضرت امان الله خان د حکم له مخې ټولو غلامانو ته د ازادۍ او خپلواک ژوند کولو زېری ورکړل شو او ډلې ډلې هزاره ګان د سلطنتي ارګ او د اشرافو او سردارانو د کورونو څخه راووتل او په خپلواکه توګه يې ازاد ژوند پيل کړ؛ نو ځکه د هزاره جات پراخه پرګنو د اماني واکمنۍ څخه خپل بشپړ ملاتړ پيل کړی و. ملافيض محمد کاتب هزاره د پغمان د لويې جرګې يو فعال او مخور ګډون کوونکی و، د لويې جرګې په عمومي تالار کې د اهل تشيع مذهب د رسميت پېژندلو وړانديز يې د جرګې غړو ته وړاندې کړ، مګر د جرګې تالار کې د حنفي مذهب د پېروانو لخوا ووهل شو او د څو شېبو لپاره يې د لويې جرګې د تالار په ګاونډ خونه کې بندي کړ. کله چې شاه امان الله خان د فيض محمد کاتب له حالاتو څخه خبر شو، هغه يې له بند څخه راخوشې کړ،

ځکه چې د افغانستان ځوان واکمن د ملا فيض محمد کاتب د مفکورې ملاتړ کاوه، ترڅو د افغان ولس بېلابېل قومونه او ملتونه د بشر د حقوقو د درناوي په رڼا کې خپل ژوند وکړي. (۲م۱۴)

د هزاره جات پراخه پرګنو د حبيب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال د اعليحضرت امان الله خان څخه هيله وکړه، چې خپل باوري شخص هزاره جات ته راولېږي، نو ځکه امان الله خان خپل کشر ورور محمد امين، عبد الغفور او هدايت الله هزاره جات ته ولېږل او هم يې د ځانګړې حکم له مخې د بهسودو د ولسوالۍ د خزانې څخه (۴۷۰۰۰) افغانۍ داوطلبو سربازانو ته د سوغات په توګه ورکړې. د هزاره جات خلکو لومړی د امان الله خان د مرستې لپاره ګڼ شمېر هزاره ولس غزني ته ولېږه، ترڅو د هغه پوځ پياوړی شي او پاتې هزاره ګان د شهزاده محمد امين، عبد الغفور کوهستاني او هدايت الله پر شا او خوا راټول شول او د حبيب الله کلکاني د حکومت خلاف يې سنګرونه ونيول. په همدې مهال د حبيب الله کلکاني د حکم له مخې يو هيئت د ملافيض محمد کاتب هزاره، محمد عظيم کوهستاني، ميراقا مجتهد او خليفه غلام حسن په ګډون هزاره جات ته ولېږل شو، ترڅو د هزاره جات د قبيلې څخه حبيب الله کلکاني ته بيعت واخلي؛ مګر د اونۍ د غاښې د مسؤل منصبدار ميرفتح محمد خان لخوا نوموړی هيئت ونيول شو او ولچک او زولنې د شهزاده محمد امين مرکز بهسودو ته ولېږل شو او همدا هيئت د شهزاده محمد امين په حکم د وردګو له لارې بېرته کابل ته راستون شو. کله چې د حبيب الله کلکاني لېږل شوی هيئت کابل ته راورسېده، د حبيب الله کلکاني د جاسوسانو لخوا د ملا فيض محمد کاتب په اړه غلط راپور ورکړل شوی و. حبيب الله کلکاني ملافيض محمد کاتب راوغوښت او ډېر سخت يې وواهه، چې د همدې وهلو له امله ناروغه شو، کله چې وپوهېده چې رنځ يې د هرې ورځې په تېرېدو زياتېږي، د خپلو ملګرو او د کورنۍ د غړو په مشوره د رنځورۍ د علاج لپاره ايران ته ولېږل شو، مګر هلته د طبيبانو د معاينې او دارو درملو د رانيولو وروسته د ګران هېواد سياسي او کړکېچنو حالاتو دومره ناارامه کړې و، چې يوه شېبه يې هم د هېواد د خوږې غېږې څخه بهر نه شو تېرولای، نو ځکه ډېر ژر کابل ته راستون شو. د هېواد سياسي حالاتو دومره ناارامه کړې و، چې د ايراني طبيبانو درملو پرې کومه اغېزه ونکړه، رنځوري يې د هرې ورځې په تېرېدو زياتېده، چې بالاخره دا ستر ديني او مذهبي عالم، مؤرخ او د فرهنګ د ډګر ستر لاروی د (۵۰) کاله علمي او فرهنګي خدمت وروسته د (۱۲/جدی/۱۳۰۹) نېټه د کابل ښار د چنداول شاه منصور په کوڅه کې د اويا کالو په عمر د اوږدې ناروغۍ وروسته وفات شو او د جوی چنداول په هديره کې خاورو ته وسپارل شو. انا لله وانا اليه راجعون. (۷م۴۵۲)، (۲م۱۵)

د ملافيض محمد کاتب علمي او تاريخي اثار:

کله چې ملافيض محمد کاتب هزاره د ملا محمد سرور اسحق زي لخوا د امير حبيب الله خان دربار ته وپېژندل شو او د کتابت په دنده وګمارل شو، په همدې مهال دوه ويشت کلن ځوان او د خپل ژوند تر پايه چې ټول پنځوس کاله کېږي، د يو علمي، ادبي او فرهنګي شخص په توګه يې د افغانستان د معاصر تاريخ د ليکلو په ډګر کې ستر خدمتونه کړي دي. په همدې مهال يې د حبيبې دارالعلوم کې د ښوونکي په توګه د هېواد د ځوان نسل د سالمې روزنې او پالنې لپاره يې ملي او وطنپالې هڅې کړي او د امير حبيب الله خان د سلطنتي دربار د دندې سربېره يې ځينې نور ستر خدمتونه هم کړي، چې په لاندې توګه د نوموړي د فرهنګي هڅو يادونه کوو:

۱- تحفة الحبيب: د امير حبيب الله خان په دربار کې د کاتب په توګه د ټاکنې څخه لږه موده وروسته ملافيض محمد کاتب ته د امير لخوا دنده وسپارل شوه، چې د احمد شاه بابا د واکمنۍ د پيل (۱۱۳۲ څخه تر ۱۲۲۲) لمريز کال پورې د افغانستان په اړه ټولې تاريخي پېښې راټولې او په منظمه توګه د کرونولوژي له مخې ترتيب کړي. دا تاريخي کتاب د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاريخ کې په دوه ټوکو کې په نستعليق خط په (۸۸۵) مخونو کې په منظمه توګه وليکل شو، چې اوس هم په ملي ارشيف کې خوندي ساتل شوی دی. د تحفة الحبيب تاريخي کتاب د امير محمد يعقوب خان د سلطنت د سقوط او د افغان او انګليس د دويمې جګړې پورې ټولې تاريخي او تراژيدي پېښې په کې رانغاړل شوي. کله چې دا تاريخي کتاب چمتو شو، د امير د پرېکړې له مخې هغو پخوانيو شخصيتونو ته همدا تاريخي کتاب ولېږل شو چې يا يې د هغه مهال تاريخي پېښې په خپلو سترګو لېدلې وې او يا يې د خپلو مشرانو څخه اورېدلې وې؛ چې په دې ډله کې د امير دوست محمد خان زوی سردار محمد يوسف، قاضي القضات سعد الدين، منشي محمد يعقوب او د غازي وزير محمد اکبرخان

منشي ميرزا مومن خان چې د همدې کتاب د بشپړولو پر مهال ژوندی و او د نوموړي کتاب په اړه هر يو په جلاجلا توګه خپل نظر څرګند کړی دی. (۲م م۴۳-۴۲)

ملافيض محمد کاتب د تحفةالحبيب په تاريخي کتاب کې د هغه مهال ټول ادبي، تاريخي او فرهنګي نورمونه په نظر کې نيولي او د همدې کتاب په (۳۹) مخ کې امير حبيب الله خان د همدې تاريخي موضوع د لوست وروسته پخپل قلم په سور خط د نوموړي تاريخي ليکنې ستاينه کړې؛ مګر څرنګه چې ملافيض محمد کاتب د افغان ولس په منځنۍ طبقاتي قشر کې زېږېدلی و، تر ډېره حده يې د بې وزلو او نادارو خلکو د ستونزو او مشکلاتو انځورونه په ليکنو کې له ورايه ځلېدل، نو ځکه د امير په حکم د کتاب د چاپ او خپرونې څخه ډډه وشوه او د تحفةالحبيب تاريخي کتاب ته د امير حبيب الله خان د ژوند تر پايه د چاپ او خپرونې اجازه ورنکړل شوه او ملافيض محمد د امير لخوا د بل کتاب د ليکلو په دنده وګمارل شو.

۲- سراج التواريخ: دا تاريخ د ملافيض محمد هزاره لخوا په پنځو ټوکو کې ليکل شوی، چې په لاندې توګه يې يادونه کوو:

الف: د سراج التواريخ په لومړي ټوک کې يې د سدوزيو د واکمنۍ (۹۸) کلنه دوره چې د احمد شاه بابا د واکمنۍ (۱۱۲۲) لمريز يا (۱۷۴۷) کال څخه پيل او د شاه محمود د واکمنۍ تر پايه (۱۸۱۸) کال پورې دوام کوي، ليکل شوې ده.

ب: د سراج التواريخ دويم ټوک د سدزيو او محمدزيو د اختلاف په لړ کې د محمدزيو واک ته د رسېدلو په اړه ليکل شوی او هم د هغه مهال سياسي ستونزو ته پکې اشاره شوې ده.

ج: په همدې مهال ملافيض محمد کاتب د سراج التواريخ دريم ټوک د ليکلو سربېره حکايتونه، کيسې او هغه تاريخي پېښې چې د (۱۲۵۸-۱۲۲۰ل) کلونو پر مهال پېښې شوي او د امير حبيب الله خان حکمونه او نظامنامې يې هم ليکلي دي.

د: د سراج التواريخ په څلورم ټوک کې د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ شپاړس کاله او د امير حبيب الله خان په اړه د ليکنو سربېره يې د امير حبيب الله خان د مړينې تاريخي پېښې ته هم په کې اشاره کړې وه، مګر د سراج التواريخ څلورم ټوک په همغه مهال د امير د مړينې وروسته ورک او لادرکه شوی دی.

هـ: تاريخ عصر امانيه (د سراج التواريخ پنځم ټوک): په دې تاريخي ټوک کې د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ اته کاله او درې مياشتنۍ واکمنۍ په اړه تاريخي پېښې او حقايق څېړل شوي چې د سراج التواريخ نوموړی ټوک د عبدالغفور (غرقه) سره په (۱۳۳۴) لمريز کال د قلمي نسخې په بڼه ليدل شوی؛ مګر د سراج التواريخ دا قلمي نسخه د (۱۳۳۴) لمريز کال څخه راپدېخوا د پوهنې وزارت له کتابتونه څخه لادرکه شوی دی. (۲م م۴-۵)

و: فيضي فيوضيات: ددې تاريخي کتاب قلمي نسخه ملافيض محمد کاتب د ايران د سفارت واکمن وزير مهدي فرخ ته په (۱۳۰۲) لمريز کال وسپارله. په دې تاريخي کتاب کې د افغانستان د تاريخ سياسي پېښو لومړی ټوک (د افغانستان سياسي تاريخ) په (۱۳۱۴) لمريز کال په تهران کې چاپ او خپور شو. په دې کتاب کې هغه سياسي پېښې او مطالب چې ملافيض محمد کاتب د خپلو يادداشتونو څخه راټول کړي وو او په افغانستان کې هغه مهال د هغې په اړه څرګندونې او خپرونې ممکنې نه وې، په کابل کې د ايران د سفارت واکمن وزير ته وسپارلې، ترڅو د نوموړي په مرسته په ايران کې چاپ او د لوست لپاره يې چمتو کړي.

ز: تاريخ حکمای متقدمين: په دې کتاب کې د حضرت ادم عليه السلام څخه د حضرت عيسی عليه السلام د بعثت پورې د رشيديه ټولګيو لپاره درسي کتاب د پوهنې وزارت د پرېکړې له مخې په (۱۸۹) مخونو کې د ملافيض محمد کاتب له خوا د چاپ لپاره چمتو شو او همدا تدريسي کتاب په (۱۳۰۲) لمريز کال له چاپ وروسته د رشيديه زده کوونکو په واک کې ورکړل شو. (۲م م۴۵-۴۲)

ح: تذکرة انقلاب: په دې کتاب کې ملافيض محمد کاتب د (۱۳۰۷) او (۱۳۰۸) لمريز کلونو مهمې پېښې او د اعليحضرت امان الله خان د واکمنۍ پای او د حبيب الله خان کلکاني د واکمنۍ پيل او هم د هېواد د ځينو نورو تاريخي پېښو په اړه ليکل شوی. ملافيض محمد کاتب ټولې پېښې هره ورځ ليکلې او هره پېښه يې د لمريز، سپوږمۍ او ميلادي نېټو سره د سمون وروسته ليکلې. دا تاريخي کتاب د سه شنبې په ورځ د ربيع الاول په ۲۱ چې د (۴/سنبلې/۱۳۰۸) نېټې سره سمون خوري، په ناڅاپي توګه پای ته ورسېده، ځکه چې ملافيض محمد کاتب د حبيب الله کلکاني په حکم هزاره جات ته لېږل کېږي او دا کتاب په (۲۰۹) مخونو کې ناتمام پاتې کېږي. نوموړی کتاب په نستعليق خط ليکل شوی او تر اوسه په ملي

ارشيف کې خوندي ساتل شوی دی. د نوموړي مؤرخ په يادښتونو کې ليدل شوي، چې د افغانستان عمومي تاريخ يې هم ليکلی او امکان لري چې د افغانستان عمومي تاريخ يې د ښوونځيو د تعليمي نصاب د بشپړولو په لړ کې ليکلی وي.

پايله:

له پورته څېړنې دې پايلې ته رسېږو چې د هېواد د معاصر تاريخ لومړني مورخ، عالم او اديب ملا فيض محمد کاتب د خپل ژوند زياته برخه (پنځوس کاله) عمر يې د تاريخ ليکنې او درسي کتابونو په ليکلو او چمتو کولو کې تېره کړې او په ياده برخه کې يې ډېرې قيمت بها ليکنې افغان ولس ته په ميراث پرايښې دي چې د همدې سترو خدمتونو له امله د افغانستان په تاريخ کې د ملافيض محمد کاتب نوم په زرين ليک ليکل شوی او د تل لپاره به د افغان ولس سره د يادګار په توګه پاتې وي.

Abstract:

Mula Faiz Mohammad katib Hazra is the son of said Mohammd and grandson of khudydad was born in zardsang village 1239 solar year, and related to Mohammad khawaja tribe. He got his primary primary educstion in his own village after he has gone to Kandahar, lran and lohor of india for obtaining high education. In the process of education he learned religious and in intellectual loges (Mantiq Hekmat , philosophy, kalam, History Fegha, Osol, literature, astrology, math, and intellectual and geography,) and beside he learned English, Arabic, urdu and Pashtu languages, After completion fo high he came back to Kabul, here he contact with Mula Mohammad sarwar he Iinked him with Ameer Habibullah khan. Ameer appointed him as an author in his own palace. Because of his talent he able to make way to Darul ensha membership, also he got reaponsibility to write modern history of Afghanistan. in the same time he prepared himself for teaches in the Habibya high school and a translator of newly books for young generation. When Habibullah died he was appointed to write Amany kingdom history book he always forced to hide reality of incidents by authorities. But he bravely implird to the incidents appearly and sometimes methapoly for readers. Mula faiz Mohammad katib Hazara was not only literature, scholar author or callgarpher but in his era he was an active politicin and social worker. In kingdom of Ameer Habibullah khan he had membership in constitutionalism political movement. Due to his membership in the mentioned movement he sent to prison after months he brought back to king Habibullah khan far his previous services Ameer appointed him to write modern history of Afghanistan. With Ameer order Mula faiz Mohammad katib Hazara has written many books of history, academic and articles, famous of them are (siraj Al Tawarikh, Tazkerariul- Enqilab, Amnul Tawarikh, Tarikh Asre Amanya, Fuqarat- E- sharea, Tarekh-E- Hukamaye Muqaddmeen). Mola Faiz Mohammad katib Hazara sent to Hazarlat by Habibullah kalakani to take allegiance of the people his kingdom, but he returned failure with his delegation to Kabul then he was beaten so hard from Habibullah kalakani due to beaten he became ill after he went lran for treatment. His illness increased day by day then he came back to Kabul. At last he died in Chandawal on date 1309\10\16 and submitted in there.

اخځليکونه:

1. ارشاد، اورنگ زيب. (۱۳۸۴). افغانستان پېژندنه. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه
2. حبيبي، عبدالحی. (۱۳۲۳). د مشروطيت غورځنګ. رياست نشرات کمېټه دولتی طبعه و نشر
3. دريغ، امين الله. (۱۳۷۹). افغانستان در قرن بيستم. انجمن نشراتی دانش
4. غبار، ميرغلام محمد. (۱۳۴۶). افغانستان در مسير تاريخ. کابل: دولتي مطبعه
5. فرهنګ، محمدصديق.(۱۳۷۳). افغانستان در پنج قرن اخر. مطبعه تهران
6. کاتب، فيض محمد. (۱۳۷۲). سراج التواريخ. تهران: انتشارات بلخ
7. مجددی، عبدالحق. (۱۳۷۸). افغانستان از امير کبير تا رهبر کبير. سباکتابخانه: مؤسسه انتشارات ميوند
8. هاشمي، غلام محی الدين.(۱۳۸۲). د افغانستان مشاهير. بورد ناصرباغ

پوهندوی ګل اضـغر (الوزی)
ښـوونې او روزنې پوهنځـی
کـېمـیـا څـانګـه

د فوتولومینسینس (Photoluminescence) پېژندنه او کارونه

لنډیز:

شوبیني ساعتونه، ځینې تسبیح او مرۍ به مو لیدلې وي، چې په تیاره کې رڼا خپروي، دا د فوتولومینسینس د عملیې بېلګې دي، چې پکې د موادو په وسیله جذب شوې نوري انرژي Fluoresence بېرته د نور په شکل له لاسه ورکوي. فوتولومینسینس چې په فلورسینس ویشل کېږي، تـوپیر یې دادی چې په فلورسینس کې Phosphorecence او فاسفورسینس د الکترونونو سپینونه تغیر نکوي او وخت یې هم کم وي، خو په فاسفورسینس کې الکترونونو سپینونه تغیر کوي او وخت یې هم زیات وي؛ ددې تجزیې میتودونه په چاپېریال ساتنه او طب کې زیات ارزښت لري.

سریزه:

هغه جسمونه چې جذب شوې نوري انرژي په تصادفي ډول په ټولو خواوو کې خپره کړي، فوتولومینسینس نومول کېږي، چې د فلورسینس او فاسفورسینس دوه ډولونه لري. زیاتره دواړه عملیې په یو جسم کې لیدل کېږي؛ په دې عملیو کې نوري انرژي چې اغلباً ماورای بنفش وړانګه وي، د نمونې لاندې ماده کې جذبېږي، چې بیا همدغه مالیکولونه یې په لوړ طول موج (مریي ساحه) کې خپروي. فلورسینس او فاسفورسینس د تحریک له مخې سره ورته دي، چې د فوتونو د جذب څخه رامنځته کېږي، ولې د الکتروني لمسېدنې انرژي په فاسفورسینس کې د الکتروني سپین له تغیر سره مل وي، چې په فلورسینس کې د الکترون سپین تغیر نه کوي؛ چې په پایله کې یې وخت هم لنډ وي او نور خپرول یې ناڅاپي ودرېږي، خو په فاسفورسینس کې د نور لګېدو څخه وروسته هم د څو ثانیو یا زیات وخت لپاره نور خپرول ادامه پیدا کوي. د عضوي او غیر عضوي موادو د ډېر لږ مقدار په ټاکنه کې ستر رول لري، چې د فلورسینس میتودونه زیات معمول دي، په اوسني وخت کې د تجزیې دغه میتودونه د هوا د ککړتیا په مخنیوي او هم په طب کې د ناروغیو په تشخیص او معالجه کې ستره ونډه لري.

موخې:

- د فوتولومینسینس د عملیې پېژندل
- د فوتولومینسینس د ډولونو فاسفورسینس او فلوریسینس پېژندنه
- د فلورسینس او فاسفورسینس طیف پېژندنه او د هغې کارونه

تاریخچه:

د فوتولومینسنس کشف په اوولسمې پېړۍ کې صورت نیولی، په هغه وخت کې اسپانیایي پوه نیکولاس مونارد س هغه اوبه چې په سپورمۍ ډوله لرګینو پیالو کې ذخیره کړې وې، هغه یې په ابي رنګ ولیدلې؛ په اوولسمه پېړۍ کې نورو پوهانو لکه بایل همدغه ډول پېښه ولیدله. د لومینسینس د تجزیې د میتود کارونه د لومړي ځل لپاره په ۱۸۲۴ کال کې د انګلیسي پوه جارج ستوک وسیله بیان شوه. په ۱۸۵۲ کال کې د هغه مقالې George stokes پوه جارج استوکز د وروستیو څېړنو لپاره د زیاتو مفاهیمو باندې پوهېدو کې مرسته وکړه. تې سي اوهاور په یوه تاریخي مقاله کې د لومینسینس طیف پېژندنې د تجزیې میتود چې تر نن ورځې ورځخه ګټه اخیستل کېږي، معرفي کړ. (۱م۵)

د فلورسينس او فاسفورسينس نظريه: فلورسينس عمليه په ساده سيستمونو او همدارنګه په پېچلو جامداتو، مايعاتو او ګازاتو کې سرته رسېږي. د فلورسينس ساده ډول هغه دی چې د رقيقو اتومي بخاراتو په وسيله ښودل کېږي، د بېلګې په ډول د سوديم د اتومونو د 3S الکترونونه چې تبخير شوي وي، کولای شي چې د ۵۸۹۶ د څپو په اوږدوالي د نور په جذب سره د 3P حالت ته ولمسېږي، پس له لږ وخته الکترونونه اصلي حالت ته راګرځي، په ضمن کې دغه عمل همغه نور په ټولو خواوو کې په همغه موج اوږدوالي سره خپروي؛ دغه ډول فلورسينس کې چې جذب شوی نور په فريکونسي کې بې له تغيره بياځلي خپرېږي.

هغه لمسيدلي حالتونه چې فلورسينس او فاسفورسينس توليدوي: دغو عمليو باندې پوهېدو لپاره اړينه ده، چې د الکترون سپين او هم يوتايي Singlet او درې تايي Triplet لمسيدلي حالتونو باندې رڼا واچوو.

د الکترون سپين (Electron Spin): د پاولي د پرنسيپ په اساس دوه الکترونونه په يو اتوم کې نشي کولای چې د کوانتومي يو شان څلور عددونه ولري؛ دغه حالت دا څرګندوي چې له دوه الکترونونو څخه زيات په يو اربتال کې نشي ځای کېدای، نو دوه الکترونونه بايد متفاوت سپين ولري. ددې شرايطو لاندې ويل کېږي چې سپينونه جوړه شوي دي، د سپينونو د جوړه کېدو له امله زياتره ماليکولونه خالصه مقناطيسي ساحه نلري، نو ځکه ديا مقناطيس بلل کېږي، يعنې د دايمي مقناطيسي ساحې له امله دفع کېږي، په مقابل کې راډيکالونه چې يو ناجفته الکترون لرونکي دي چې مقناطيسي مومنټ لري، په پايله کې د يوې مقناطيسي ساحې په واسطه جذبېږي، نو ځکه ازاد راډيکالونه پارا مقناطيس ګڼل کېږي. (۱۲۲م۷)

يوتايي او درې تايي لمسيدلي حالتونه (Singlet and triplet Excited States): هغه ماليکولي الکتروني حالت چې پکې ټول سپينونه جوړه شوي وي، يوتايي حالت ورته ويل کېږي او کله چې ماليکول د مقناطيسي ساحې تر اغېز لاندې راځي، د انرژۍ په سويه کې هيڅ شلېدنه صورت نه نيسي (پدې ځای کې د هسته يي سپين اغېز په نظر کې نه نيول کېږي)؛ له بلې خوا اساسي حالت د يو ازاد راډيکال لپاره يو دوه تايي حالت دی، ځکه بې جوړې الکترون په يوه مقناطيسي ساحه کې کولای شي چې دوه جهته اختيار کړي، په پايله کې د جزوي تفاوت لامل د سيستم په انرژۍ کې کېږي. کله چې يو له جوړه الکترونونو څخه د يو ماليکول يو لوړ انرژي لرونکي قشر ته تحريک شي، يوتايي يا درې تايي حالت توليدولی شي. په تحريک شوي يوتايي حالت کې د ارتقا پيداکړي الکترون سپين د پخوا په شان د الکترون د سپين سره په اساسي حالت کې جوړه شوی وي. سربېره پر درې تايي حالت کې د دوه الکترونو سپينونه نه جوړه کېږي، نو ځکه موازي دي، دغه حالتونه په لاندې ډول ښودل کېږي چې غشی د سپين له جهت څخه نماينده ګي کوي.(۱۹۱م۱)



د الکترون د سپين اصلي، درې تايي او يوتايي لمسېدلي حالتونه

د يوتايي، دوه تايي او درې تايي حالتونو نومونه د طيف ليدنې څوګونو حالتونو څخه مشتق شوي دي، پام کې ولرئ چې لمسيدلي درې تايي حالت د يوتايي حالت په مقايسې متناظر او کمه انرژي لري. د يو لمسېدلي ماليکول درې تايي حالت خواص د يوتايي حالت د ماليکول سره د پام وړ توپير لري، د بېلګې په ډول يو ماليکول په درې تايي حالت کې پارا

مقناطيس خواص لري او په يوتايي حالت کې ديا مقناطيس خواص لري، د ماليکول سپين څوګانګي په لاندې ډول تعريفېږي:

$$M=2S+1$$

د S ماليکول سپيني عدد دی او هغه د ماليکول د الکترونو د سپينو مجموعي سره مساوي دی، دلته لومړی د عضوي ماليکولونو لپاره بحث کوو، زياتره عضوي ماليکولونه (S=0) دي، ځکه چې دغه ماليکولونه جوړه الکترونونه لري، د همدې لپاره لاندېنی انرژي حالت يې (اصلي حالت) هغه حالت دی، چېرته چې د ټولو الکترونو سپينونه جوړه شوي وي، نو ځکه څوګانګي يې په لاندې ډول محاسبه کېږي:

$$0 + 1=1،M=2$$

دغه حالت ته يوتايي حالت وايي، چې په S_0 ښودل کېږي، په داسې حال کې چې دويمي او درېمي تحريک شوي حالتونه په S_1 او S_2 ښودل کېږي. کله چې ماليکول په تحريک شوي حالت کې وي، الکترون کولای شي خپل سپين تغير کړي، له دې شرايطو لاندې M=3 کېږي؛ ځکه S=+1/2+1/2=1 دی. دغه حالت ته درې تايي حالت وايي، چې ښکتنۍ انرژي د درې تايي حالت په T_1 ښودل کېږي. له دې ځايه څرګندېږي، چې هغه ماليکولونه چې د الکترونو شمېر يې جوړه يې وي، نو نشي کولای چې اصلي درې تايي حالت ولري، ځکه ټول الکترونونه د انرژي ښکتني حالت د جوړه شوو سپينونو لرونکي وي. هغه ماليکولونه چې يو بې جوړې الکترون (بې جوړې الکترونونه) ولري، لکه ازاد راډيکالونه په دوه تايي Doublet حالت کې وي. (۵م۳۲)



د جابلونسکي په ګراف کې د الکترونو لمسېدلي حالتونه د نور د جذب او خپراوي سره وينئ

د جذب او خپراوي د عمليو د ښودنې لپاره د جابلونسکي د انرژۍ سطوحو ګراف څخه ګټه اخيستل کېږي، که چېرې د الکترون د تحريک لپاره د نور د څپې اوږدوالی 300nm وي، د نور سرعت ته په کتو د جذب وخت به 10^{-15} ثانيې وي. که چېرې په دې فاصله کې يو عضوي ماليکول يو فوتون جذب کړي، تحريکېږي او د S_1 او S_2 حالت ته تحريک کېږي. (۲م۱۴۳)

د چاپېريال ساتنې په څېړنو کې د فلورسينس او فاسفورسينس کارونه:

د اوبو او هوا د ککړتيا په څېړنه کې د فلورسينس او فاسفورسينس تجزيې کارول کېږي، په خاصه توګه د اوبو ککړتيا په څېړنو کې فلورسينس تجزيه په زياته اندازه کارول کېږي. د فلورسينس نيوونکی (فلترونه) نسبت راډيو اکتيف نيوونکو ته برتري لري، بې لدې چې کوم ډول ککړتيا يا خطر منځته راوړي؛ يو معمول رنګ چې فلورسينس کوونکی خاصيت لري، رودامين بي څخه عبارت دی چې په ډېر لږ غلظت سره کارول کېدای شي، چې د دغه ډول لومړنی رنګ دی. د رودامين فلوريسنس خپېدل د دې مرکب له ۵ څخه پورته تر PH10 او د (0,01ppd) غلظت د تشخيص او ټاکنې وړتيا لري. د صنعتي نيوونکو څخه په ګټې اخيستنې سره کولای شو چې د چاپېريال ککړتيا لږه يا کنترول کړو. د وختي اندازو اخستنو په وسيله چې د رودونو، نهرونو، دريابونو او اوقيانوسونو په مسير کې کېښودل کېږي، چې کولای شو د ځای، وخت او مناسب

سرعت د اضافي موادو د تخليې لپاره پرې وتاکو. د فلورسينس او فاسفورسينس د طيف پېژندنې ميتودونه د ککړې هوا په تجزيه کې او هم د ځينو کېمياوي ککړوونکو موادو په ټاکنه کې په کار وړل کېږي. د ځينو اروماتيک هايدروکاربنو ډولونه چې څو هسته يي وي، د چاپېريال ساتنې د سازمان لخوا د لومړي درجه ککړوونکو په ډله کې نومول شوي، نو کولای شو چې د فلورسينس طيف پېژندنې په وسيله يې اندازه کړو. د چاپېريال د ککړتيا د ټاکنې لپاره د فلورسينس طيف پېژندنې ميتود نسبت د ماورای بنفش طيف پېژندنې روش ته ګټور دی، ځکه په هوا کې د ډېر لږ غلظت د هايدروکاربنو د ټاکنې وړتيا لري. دغه ډول تجزيه له زيات ارزښت څخه برخمنه ده، ځکه ځينې له اروماتيک هايدروکاربنو څخه سرطان پيداکوونکي دي، يو ددغه ډول هايدرو کاربنو څخه بنزويي پيرين يا ۳،۴ بنزويي پيرن دی؛ يو خاص ميتود د بنزو a پيرن د ټاکنې لپاره چې په ککړه هوا کې شتون ولري، د محلل په ډول له سلفوريک اسيد څخه ګټه اخستل دي. دغه مرکب په سلفوريک اسيد کې يو کتيون په قوي جذبي صفحې سره په 520nm کې جوړوي، نور اروماتيک هايدروکاربنونه هم په دغه ساحه کې ضعيف جذب لري، ولې يو هم د دوی د بنزو a پيرن په شان په 545nm کې فلورسينس خپرېدنه نلري. د ټاکنې لپاره د بنزو a پيرن د نمونې ډول 520nm کې تحريکوي او فلورسينس خپرېدنه يې په 545nm طيف پېژندونکي په وسيله اندازه کېږي. بنزو a پيرن کولای شو چې د نورو څلوېښتو مخلوطو مرکباتو څخه جلا او وټاکو؛ دغه تجزيه له دې امله هم غير عادي ده چې په هغې کې د ماليکول د تحريک لپاره د ماورای بنفش نور په ځای له مريي نور څخه ګټه واخستل شي. (۱۳۴م۳)

په طب کې د فلورسينس طيف پېژندنې د ميتود کارونه: د فلورسينس د ګټورو کارونو څخه يو هم د بيولوژيکي ماليکولونو ټاکنه او پېژندنه ده، چې د درملنې يا تشخيص لپاره په بدن کې ارزښت لري. دغه مواد په طبيعي ډول فلورسينس کوونکي وي، ولې ځينې يې د کېمياوي تعاملاتو له مخې په فعالو مرکباتو تبديلېږي؛ د بېلګې په ډول د تيروزين، تريپتوفان او فنايل الانين امينو اسيدونه چې د فلورسينس طيف پېژندنې په وسيله ټاکل کېږي. تيروزين او تريپتوفان د اروماتيک نور خپروونکې کړۍ لرونکي دي، چې ډېر جذبېږي، نو ځکه په طبيعي ډول د فلورسينس خاصيت لري. تيروزين په 225nm څخه تر 280nm کې تحريک او په 303nm، تريپتوفان په 220nm څخه تر 280nm کې تحريک او په 438nm کې خپرېدنه کوي. برعکس فنايل الانين چې يوه بنزيني کړۍ لري، يا ضعيف جذب لري چې فلورسينس خپرېدنه يې د کمو اندازو لپاره هم قوي ده؛ معمولاً ميتود يې دادی چې دغه امينو اسيد له نين هايدرين، د مسو ۲ ايون او ايل ليوسيل ايل الانين چې د قوي فلورسينس فعاليت لرونکي محصول د تشکيل لامل ګرځي، د فنايل الانين اندازه ټاکنه د فلورسينس طيف پېژندنې ميتود څخه په ګټې اخستنې سره د فنايل کتونوريا چې يو ارثي ميتابوليکي اختلال دی، کوم چې د ذهني وروسته والي لامل ګرځي، په پېژندنه کې ګټه ورڅخه اخيستل کېږي. (۲م۱۱)

پايله:

څرګنده شوه چې فوتولومينسينس د يوې مادې په وسيله د جذب شوي نور خپرېدنې څخه عبارت دی، چې دوه ډولونه لري؛ په فلوريسينس کې د تحريک شوي الکترون سپين حفظ کېږي او د کم وخت لپاره نور خپرېدنه ادامه پيدا کوي، خو په فاسفورسينس کې بيا د تحريک شوي الکترون سپين تغير کوي او نور خپرېدنه يې هم شونې ده چې تر دقيقو يا ساعتونو ادامه پيدا کړي. د فلورسينس طيف پېژندنې ميتود په چاپېريال ساتنه کې د ککړوونکو موادو په پېژندنه او هم په طب کې د ځينو ناروغيو په تشخيص او درملنه کې خاص ارزښت لري.

Abstract:

Photoluminescence describes the phenomenon of light emission from any form of matter after the absorption of photons. Luminescence (light emission) has two forms fluorescence and phosphorescence, In Fluorescence excited electron not change its spin but in phosphorescence electron changes its spin. The period between absorption and emission can be extremely short. for phosphorescence, it can also be extended into minutes or hours under special circumstances.

Fluorescence and phosphorescence spectrophotometry methods has important rules in air pollution control and medical.

اخځليکونه:

1. ادریسی، محمد ؛ نژاد بهرام ناصر. (۱۳۸۳). اسپکتروسکوپی تجزیه ای. دانشگاه صنعتی شریف.
2. سلاجقه، عبدالرضا ؛ مترجم. (۱۳۸۵). اصول تجزیه دستگاهی. مرکز نشر دانشگاهی
3. سلاجقه، عبدالرضا ؛ مترجم. (۱۳۸۷). مبانی شیمی تجزیه. تهران: انتشارات مبتکران
4. میر شکرایی، احمد ؛ رایي نادره ؛ مترجمین. (۱۳۸۷). شیمي تجزیه دستگاهی. تهران: انتشارات دانشگاه پیام نور.
5. نژاد ، عزیزالله. (۱۳۸۸). شیمی تجزیه۲. تهران: انتشارات دانشگاه پیام نور.
6. A.Fernandes.Gutierrez and A. M,Dela pena(1985). Molecular Luminescence spectroscopy,Wiley, New York.
7. Kira, M.; Koch, S. W.(2011). Semiconductor Quantum Optics.Cambridge University Press.
8. Klingshirn, Claus F. (2012). Semiconductor Optics.Springer

پوهـــنوال فـــرمـان الله (هـــیله من)
ښوونې او روزنې پوهنځی- کېمیا څانګه

د ښوونې او روزنې پوهنځي په محصلینو کې د بي ایم ای (BMI) میتود په وسیله د چاغوالي او خوارځواکۍ پېښو څېړنه

لنډیز:

په دې څېړنه کې د نورمال وزن، ډنګروالي او چاغوالي په هکله معلومات وړاندې کېږي؛ د چاغوالي او ډنګروالي لاملونه څېړل کېږي، وړپسې بیا د بي ایم آی میتود معرفي کېږي، چې ددې میتود په وسیله څرنګه کولی شو، چې نورمال، ډنګر او چاغ اشخاص معلوم کړو او هغوی ته د نورمال حالت ساتلو، د ډنګرېدو څخه د نورمال وزن ته پورته کولو او د چاغوالي څخه د نورمال حالت ته د راټیټېدو ممکنه لارې چارې په ګوته کړو.

سریزه:

د نورمال وزن، چاغوالی او ډنګروالي د اندازه کولو لپاره ډول ډول لارې شته، خو ډېره معموله او په نړیواله کچه منل شوې لاره چاره د بي ایم آی د ټاکلو څخه عبارت ده. بي ایم آی په بدن کې د وازدو د کچې د معلومولو واقعیت ته ډېره نږدې لاره ده. ددې میتود په کارونې سره موږ کولی شو چې د نظر وړ شخص لپاره داسې غذایي رژیم ورپه ګوته کړو، چې د هغې په کارونې سره د شخص روغتیایي حالت کې ښه والی راشي او هغه ښکلی ښکاره شي. که ددې میتود څخه په کار اخیستنې کې یو څوک چاغ څرګند شي، نو هغې ته د ځانګړي غذایي رژیم تر څنګه د فزیکي کارونو د سرته رسولو سپارښته کېږي. هغوی چې معیاري بي ایم آی ولري، د خوړو په خوړلو کې د افراط او تفریط دواړو څخه د مخنیوي سپارښتنه ورته کېږي او که څوک د بي ایم آی په میتود کې ډنګر ثابت شو، هغه داسې یو روغتیایي متخصص ته ورپېژندل کېږي، ترڅو معلوم کړي چې د نظر وړ شخص خو به کومه ناروغي نلري، چې د ناروغۍ د نه لرلو په صورت کې ورته ځانګړی غذایي رژیم ښودل کېږي، چې د هغې څخه په کار اخیستنې سره یې روغتیایي ستونزه اوارېږي.

موخې:

- د بي ایم آی میتود پېژندنه او د کارونې لارې چارې یې
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او محصلینو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

مواد او کړنلاره:

په دې څېړنه کې د یوې تلې او د یو متري اندازه کوونکي څخه کار اخیستل شوی؛ څېړنه د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي په (۳۰۰) تنو محصلینو ترسره شوې ده. د څېړنې د شمېرنې لپاره د څېړنې وړ محصلینو قدونه په متر او وزنونه یې په کیلو ګرام اندازه شوي، او د بي ایم آی د ټاکلو لپاره له لاندې فارمول څخه کار اخیستل شوی دی:

وزن په کیلو ګرام

BMI=----------

قد په متر مربع

اړین مفهومونه:

د انساني روغتیا نورمال حالت: هغه حالت دی چې شخص په فزیکي، رواني او ټولنیز درېواړو حالتونو روغ- جوړ وي او د ناروغۍ هیڅ احساس ونکړي؛ دغه راز د هر ډول فزیکي او دماغي چارو د سرته رسولو توان ولري.(۱،۲)

متوازن خواړه: د خوړو هغه ډول دی، چې د خوړو بېلابېل ډولونه په هغه مقدار او کچه ولري، چې د انرژۍ امينو اسيدونو، ويټامينونو، منرالونو، شحمياتو، کاربوهايدريتونو او نورو مغذي موادو اړتيا په کافي اندازه پوره کړي؛ او د روغتيا ساتنې، د ژوند عمومي ښه والی او همدارنګه يوه کوچنۍ زېرمه د لنډې مودې لپاره د ضعيفوالي څخه د مخنيوي لپاره ولري. متوازن خواړه د غذايي موادو د کموالي څخه د خلکو د ساتنې لپاره يوه منل شوې وسيله ده. (۵،۷)

خوارځواکي (Malnutrition): اوږد مهاله اغېز لرونکې ناروغي ده. د يو کوچني تغذيوي حالت هر وخت د هغه په پخواني تغذيوي حالت پورې تړاو لري، چې په دقيق ډول د هغه په موجوده حالت باندې اغېزه لري، يا په بل عبارت د هغه غذايي تاريخچې د موادو غذايي حالت سره تړاو لري چې دا بيا په خپل وار سره د مورد کوچنيوالي، د اوسېدو شرايطو او غذايي تاريخچې سره تړاو لري. (۲)

يا خوارځواکي د انسان په وسيله رامنځته شوې ناروغي ده، چې په انساني ټولنو پورې تړاو لري. نوموړې ناروغي په دوديز ډول د داخل رحمي ژوند څخه پيل او تر ګوره پورې دوام مومي. (۵)

چاغوالی (Obesity): د چا چې د انرژي اخيستلو مقدار د اړتيا له اندازې څخه ډېر وي، د چاغوالي لامل ګرځي، چې ترايګلايسرايدونه په شحمي انساجو کې زيرمه شي، چې په پايله کې چاغوالی منځته راوړي. (۳)

(Body Mass Index) BMI: بي ام ای (د بدن د کتلې ښودونکی) دا د بدن د شحمونو معلومول دي، چې د قد او وزن پورې اړه لري او د معلومولو فارمول يې په لاندې ډول دی:

$$BMI = \frac{\text{وزن په کيلو ګرام}}{\text{قد (په متر)}^2} \qquad (۱،۲)$$

تيوري:

کله چې انسانان خواړه خوري، خواړه د انسانانو په بدن کې جذبېږي، کومې حجرې چې زړې او يا تخريبې شوې وي، هغه د بدن څخه ووځي او پر ځای يې نوې حجرې ځای نيسي. که د خوړل شويو خوړو کچه د انسان د اړتيا څخه ډېره وي، په دې صورت کې خواړه په بدن کې ذخيره کېږي. که دا پروسه په پرله پسې توګه دوام ومومي، د انسان د چاغوالي سبب ګرځي، چې ترايګلايسرايدونه په شحمي انساجو کې زېرمه شي، چې په پايله کې چاغوالی منځته راوړي. د چاغوالي له امله د فشار ډېروالی رامنځته کېږي، د فشار ډېروالی فلجېدل او په ناڅاپي توګه مړينه رامنځته کوي. ددې لپاره چې فشار مو د خوړو د خوړلو له امله لوړ نه شي، چاغوونکي او نه چاغوونکي خواړه بايد تفکيک شي. د بدن د چاغوالي د کچې معلومولو معموله نړيواله لاره چاره د بي ايم آی د ميتود کارول دي. (۵،۲،۷)

عملي کار: د بي ايم آی ميتود د کارونې لپاره مو د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلين غوره کړل، د هغوی له ډلې مو پر ۴۰۰ تنو محصلينو نوموړی ميتود وکاراوه او داسې پايله مو ترلاسه کړه:

کتنې	خوارځواکي ٪	چاغوالی ٪	د نورمال وزن څخه ډېر ٪	نورمال وزن ٪
	۲،۹۴	۲،۹۴	۵،۸۸	۸۸،۲۳

(۹)

پايله:

د هغوی چې بي ايم آی يې د ۱۸،۵ څخه تر ۲۴،۹ پورې وي، دا د بدن نورمال حالت دی؛ او که بي ايم آی يې د ۲۵ او ۲۹،۹ تر منځه وي، دا د ډېر وزن په معنی دی، او که بي ايم آی يې د ۳۰ څخه پورته وي، چاغوالی دی. موږ د پورتنۍ شمېرنې څخه داسې پايله ترلاسه کوو: د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلين چې ټول يې د ۲۰-۲۵ کلونو ترمنځ دي او ډېری يې د کليوالو سيمو نارينه او سېدونکي دي، د هغوی ۸۸،۲۳٪ يې مناسب وزن او قد لري، د هغوی بايد په دې پوه شي، چې په خوړو کې نه ډېروالی او نه هم کموالی وکړي، چې ښکلی قد او قامت يې او دغه راز روغتيا يې تر ډېره همداسې سالمه وي.

هغوی چې د نورمال څخه ډېر وزن لري، بايد د خپلو خوړو په مينو کتنه وکړي او د وقايوي طب د يو متخصص په سلا او مشوره د مناسبو خوړو خوړل پيل کړي. همدارنګه هغوی چې چاغ دي او د چاغوالي په ناروغۍ اخته دي، دوی بايد سمدستي د يو متخصص ډاکتر د مشورې سره سم ځانته د خوړو مينو جوړه کړي او همدارنګه دوی بايد ډېر فزيکي فعاليت وکړي، چې په لنډه موده کې يې د چاغوالي درملنه وشي. د خوارځواکو خلکو سره خواخوږي په کار ده، د هغوی د ناروغۍ له منځه وړل په کار دي او ورپسې مغذي خوړو ته مخه کول دي. د هغوی چې بي ايم آی يې د ۱۸،۵ څخه تر ۲۴،۹ پورې وي، دا نورمال حالت دی؛ دا نېکمرغه خلک دي او خپل دې حالت ساتلو ته بايد دوام ورکړي. که بي ايم آی د ۲۵ څخه تر ۲۹،۹ تر منځه وي، دا ډله خلک هغه دي چې د چاغوالي په لور يې شين څراغ لګولی دی، دا خلک د نارمل څخه ډېر وزن لري، خو چاغ نه دي. دوی دې خپل خوراک کنترول کړي، غوړين او کاربوهايدريت لرونکو خوړو خوړل بايد کم کړي او په عين وخت کې دې خپل فزيکي فعاليت ډېر کړي. که د چا بي ايم آی له ۳۰ څخه پورته وي، دا ډله خلک د چاغوالي په ناروغۍ اخته دي؛ دوی بايد خپل غذايي رژيم د يو طبي متخصص د سلا او مشورې سره سم جوړ کړي، خپل فزيکي فعاليتونه ډېر کړي، د غوړين او انرژي لرونکو خوړو له خوړلو څخه پرهيز وکړي. که د چا بي ايم آی د ۱۸،۵ څخه ټيټ وي، دوی په خوارځواکۍ اخته دي؛ داسې خلک هم بايد د يو متخصص ډاکتر سره په مشوره د ناروغۍ د له منځه تګ په صورت کې د مغذي خوړو خوړلو ته اړتيا لري.

مناقشه:

د بي ايم آی څېړنې د انګولا، بوتسوانا، کينيا، لېنروتو، ملاويا، موزمبيق، نامېبيا، نايجريا، جنوبي افريقا، يوګندا، زمبيا او زمبابوی کې ترسره شوي دي؛ مونږ دلته يوازې د انګولا د څېړنې پايله چې په ۲۳۰۹ تنو هغو کوچنيانو چې عمرونه يې د ۱-۲ کلونه وو، ترسره شوې ده، رانقلوو:

نورمال وزن٪	د نورمال وزن څخه ډېر٪	چاغوالی٪	خوارځواکي٪	کتنې
۹۰،۲۸	۴،۳۳	۲،۵۹	۵،۱۹	

Reference: doi: 10.137/Journal. Pone. 0033189.t00

وړانديزونه:

- ټول خلک دې ته رابولو چې خپل بي ايم آی معلوم کړي او د هغې په رڼا کې د يو متخصص ډاکتر تر نظر لاندې خپل غذايي رژيم جوړ کړي.
- د چاغوالي په صورت کې د چاغوونکو خوړو څخه پرهېز کول او فزيکي کارونه سرته رسول په کار دي.
- د معياري بي ايم آی په لرلو سره د خپل روان غذايي رژيم ته دوام ورکول او په هغې کې د ډېروالي او لږوالي څخه ځان ساتل اړين دي.
- د بي ايم آی په وسيله د ډنګروالي د ښودلو په صورت کې د خپلو شتو ناروغيو درملنه او ورپسې د يو متخصص تر نظر لاندې د ځانګړي غذايي رژيم عملي کول پکار دي.

Abstract:

The body mass index, or BMI, is a metric used to estimate the amount of body fat a person has. Though BMI doesn't measure body fat directly, it correlates with other direct measures of body fat, according to the Centers for Disease Control and Prevention (CDC). On the BMI scale, anything below 18.5 is considered "underweight," 18.5 to 24.9 is "normal," 25.0 to 29.9 is "overweight" and an index of 30 or more is "obese." In the health care setting, physicians use BMI to gauge if their patients are at risk for certain health issues. For example, studies have shown that people with BMIs of 30 or more have increased risk of death from a number of diseases, including heart disease, diabetes and colorectal cancer. There are also issues with being underweight on the BMI scale, such as increased risk for

malnutrition, osteoporosis and anemia. In recent years, many experts have expressed their doubts about relying too much on the body mass index, stressing that it is not an accurate measure of body fat or health.

References:

1. Van Lohuizen, M. et al. Cell 65, 737−752 (1991). | Article | Pub Med | ChemPort
2. Levy, L. S., Lobelle-Rich, P. A. & Overbaugh, J. Oncogene 8, 1833−1838 (1993). | PubMed | ChemPort |
3. Brunk, B. P., Martin, E. C. & Adler, P. N. Nature 353, 351−353 (1991). | Article | PubMed | ChemPort |
4. van Lohuizen, M., Frasch, M., Wientjes, E. & Berns, A. Nature 353, 353−355 (1991). | Article | PubMed | ChemPort |
5. Paro, R. Trends Genet. 6, 416−421 (1990). | Article | PubMed | ISI | ChemPort |
6. Van der Lugt, N. M. T. et al. Genes Dev. 8, 757−769 (1994). | PubMed | ChemPort |
7. Van Lohuizen, M. et al. Cell 56, 673−682 (1989). | Article | PubMed | ChemPort |
8. http://bmi.webmasters.sk/bmi-table.php?type=american
9. د ټولګيو دننه د محصلينو قد او وزن معلومول

پوهـــنوال ګلاب شـــاه (سبحـــاني)
اقتصاد پوهنځی- ملي اقتصاد څانګه

د ملګـرو ملتونو عمومي اسامبلې دندې او واکونه

لنډيز:

عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو له شپږو اساسي څانګو څخه لومړۍ څانګه ده، چې تر نن ورځې پورې د نړۍ (۱۹۳) هېوادونه پکې غړيتوب لري او هر غړی د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبله کې د يوې رايې حق لري. همدارنګه عمومي اسامبلې د خپل کار د اسانتيا لپاره خپل کار په (۷) اصلي او اساسي کمېټو ويشلی دی. عمومي اسامبله له نوموړو کمېټو څخه پرته له يو لړ فرعي ارګانونو څخه تشکيل شوې ده او کولای شي چې د ضرورت پر وخت موقتي کمېټې او کمېسونونه ايجاد کړي او په سازمان کې د اصلاحاتو او پرمختګ لپاره امکانات برابر کړي. دغه اسامبله درې ډوله غونډې لري چې عادي، خصوصي او اضطراري دي او رايه ورکول يې په دوه ډوله مستقيمه او پټه رايه اچونه ترسره کېږي.

سريزه:

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله د دغه سازمان د شپږو اساسي ارګانونو څخه لومړنی اساسي ارګان دی، چې د غړو هېوادونو څخه رامنځته شوی او د خپل واک او صلاحيت له مخې ټول موضوعات تر بحث او څېړنې لاندې نيولای شي، چې منشور ورته اجازه ورکړې وي. عمومي اسامبله نشي کولی چې کوم عمل په کوم هېواد باندې د بل حکومت په وسيله تحميل کړي، خو د اسامبلې سپارښتنې د نړيوالې نظريې وزن لري. اسامبله د ملګرو ملتونو سکرتريت لپاره د کړنلارو او پروګرامونو پرېکړې کوي او د پرمختګ لپاره هدفونه او فعاليتونه ټاکي او رهبري کوي. عمومي اسامبله ځانګړې او هم د امنيت شورا سره مشترکې دندې لري. د عمومي اسامبلې د کار څرنګوالی او په ملګرو ملتونو کې اصلاحات او پرمختګ د ۲۰۰۰م کال پورې، د غونډو دايرول او رايه ورکول او عمومي اسامبلې پورې مربوطه نورو مسايلو باندې پوهېدل اوږدې څېړنې ته اړتيا لري؛ چې د مقالې د اوږدوالي د مخنيوي په خاطر غواړم، چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په پېژندنه، دندو، صلاحيتونو او اصلاحاتو لنډه څېړنه ترسره کړم.

موخې:

ددې مقالې موخه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پېژندنه، دندې، صلاحيتونو او پرمختګ څرګندول دي، چې د حقوقو او سياسي علومو، عامه ادارې او پالېسۍ پوهنځيو محصلينو او نورو عامو لوستونکو لپاره ګټوره ثابته شي.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې پېژندنه:

اسامبله په لغت کې غونډې، کېناستلو او تجمع ته وايي (۲م۲۱) او په اصطلاح کې د ملګرو ملتونو يو ارګان دی، چې د سازمان اصلي دندې او صلاحيتونه ښکاره کوي. يا په بل عبارت عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نظرياتو د تبادلې ارګان دی، چې په انګليسي ژبه کې ورته (deliberative organ) وايي چې د ټولو غړو هېوادونو د استازو له خوا رامنځته شوي دي (۵م۴۹). يا په بله وينا عمومي اسامبله د يو نړيوال مجلس په توګه د نړيوالې ټولنې د غړو له خوا چې د جلا جلا عقايدو درلودونکي دي، د نظرياتو او بحثونو ځای دي (۸م۹۱). په همدې ترتيب عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو د سازمان د شپږو اساسي ارګانونو څخه يو مهم ارګان دی، چې د غړو هېوادونو د عمومي کنفرانس په توګه کارکوي. له دې پرته يې د خبرو اترو لپاره يو ډګر پرانستی، چې هلته د شخړې په حال کې ملتونه يا د تېرې لاندې راغلي هېوادونه خپل غږ اوچت کړي او خپل شکايتونه د نړيوالو غوړونو ته ورسوي. (۲م۴۳۴).

د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي اسامبله د غړو هېوادونو لپاره د ازاد بحث او نظرياتو د تبادلې او ارايه کولو ځای دی، چې کولای شي د خپلو هېوادونو او هم د نړۍ د نورو هېوادونو د ستونزو او مشکلاتو د حل او فصل کولو لپاره خپل نظريات ارايه کړي، او د هغو لپاره مشروع لارې چارې ولټوي. بايد په ياد ولرو چې ځينې ليکوالانو د ملګرو ملتونو

عمومي اسامبلې ته د نړيوال پارلمان حيثيت ورکړی دی، خو دا لويه تېروتنه ده؛ دا ځکه چې د هېوادونو د پارلمانونو سره يې نشو پرتله کولای. عمومي اسامبله داسې قوانين نه تصويبوي چې الزامي او اجباري وي، بلکې پرېکړه ليکونه يې يوازې توصيوي بڼه لري. له حقوقي پلوه د پارلمان د جوړښت، دندو، صلاحيتونو او د قوانينو د اجباريوالي او الزامي والي سره اړخ نه لګوی، بله دا چې د ملګروملتونو سازمان دولت نه دی، چې پارلمان ولري او قوانين تصويب کړي. غړي هېوادونه د خپل واک او صلاحيت له مخې دا حق لري چې د خپل يو هيئت په جوړښت کې (۵) تنه نماينده ګان، (۵) نايبان، مشاورين، متخصصين او نور ضروري پرسونل چې په راس د هيئت کې رئيس د هيئت قرار لري، عمومي اسامبلې ته ولېږي.(12.ct.19)

د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي غونډې، دندې او واکونه:

الف- ځانګړې دندې: د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله د خپل واک او صلاحيت له مخې په ټولو هغو مسايلو چې په منشور کې درج وي، خبرې کولی شي او تصميم پرې نيولی شي؛ پرته له هغو مسايلو څخه چې د امنيت شورا پرې فيصله کړې وي او يا پېښه تر بحث او څېړنې لاندې وي.

- همدارنګه هغه وخت چې سوله د کوم خطر سره مخامخ وي او د امنيت شورا پرې تصميم نشي نيولی، عمومي اسامبله پرې تصميم نيسي او حتی د قوې د استعمال توصيه هم کوي.
- عمومي اسامبله د ټولو اصلي او فرعي ارګانونو کمېټو او کمېسونونو او اختصاصي مؤسساتو د کار او فعاليت راپور حصول او بررسي کوي او هغو ته توصيه کوي.
- د سولې او امنيت په ساتلو کې د ګډو هڅو همکاريو توصيه او هغې ته رسيده ګي، د وسلو د تنظيم او بې وسلې کولو په شمول اصول دي.
- په هره هغه مسئله باندې بحث او څېړنه کولی شي، چې د ملګرو ملتونو د سازمان د کوم ارګان په وظايفو اغېزمنه وي، د توصيې صدور.
- د ملګرو ملتونو د بودجې منظوري او ورته رسيده ګي، د غړو هېوادونو د سهمېې ټاکل، د اختصاصي موسساتو د بودجې ټاکل، غور او تدقيق او داسې نور. (۳م۲۳۸)
- پټه دې پاتې نه وي، چې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله په هغو مسايلو کې چې د امنيت شورا صلاحيت وي، د مداخلې حق نه لري، او خپلې فيصلې به د امنيت شورا ته راجع کوي. (۷م۲۴۳)

ب- د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې او امنيت شورا مشترکې دندې:

- د امنيت شورا په سپارښت د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړيتوب منل، د هغو د شرايطو ټاکل، چې د نوموړو شرايطو په نظر کې نيولو سره هېوادونه د (عدلي بين المللي دېوان) د آيين نامې سره سم عضوه کېدای شي.
- د امنيت شورا په سپارښت د ملګرو ملتونو د سر منشي انتخاب.
- د امنيت شورا په سپارښت د نړيوالې محکمې د قاضيانو انتخابول. (۹م۴۴)
- د امنيت شورا په سپارښت د يوه هېواد غړيتوب ته تعليق (ځنډول) ورکول، چې د امنيت شورا د هغې په وړاندې قهري يا احتياطي تدابير نيولي وي او د هغې د حق او امتياز په اړه تصميم.
- د امنيت شورا په سپارښت د تعليق د حالت څخه د يوه هېواد ايستل.
- د امنيت شورا په سپارښت د اقتصادي او اجتماعي شورا د غړو انتخابول.

چې دا ټول کارونه د امنيت شورا په سپارښت ترسره کېږي او ۲/۳ برخو اکثريت حاضرو رايو ته ضرورت لري او په نورو عادي مسايلو کې يوازې حاضر اکثريت د تاييد وړ دی. (۱۰م م۱۴-۸۷)

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د خپل کار د اسانتيا لپاره خپل کار په (۷) اصلي کمېټو ويشلی او د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد په هغې کې د خپل نماينده د ټاکلو حق لري او مربوطه چارې پرمخ بيايي، چې دغه کمېټې په لاندې ډول دي:

۱. د سلاح د تنظيم په ګډون سياسي او امنيتي کمېټه.

۲. خاصه سياسي کمېټه، چې د لومړۍ کمېټې په کارونو کې برخه اخلي او مرسته کوي.
۳. پولي او اقتصادي کمېټه.
۴. اجتماعي، بشري او ثقافتي کمېټه.
۵. د غير خودمختارو سيمو په ګډون د قيموميت کمېټه.
۶. اداري او بودجوي کمېټه.
۷. حقوقي کمېټه.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله بر علاوه د پورتنيو کمېټو څخه د يو لړ فرعي ارګانونو څخه تشکيل شوې ده، چې په لاندې توګه دي:

۱. د بين المللي حقوقو کمېسون.
۲. د بې وسلې کولو کمېسون، يا خلع سلاح کمېسون.
۳. د فضايي بېړيو څخه په سوله ييزه توګه د استفادې کولو کمېسون.
۴. د مستعمره هېوادونو د ازادۍ د اعلامې کمېټه او نور.....(۴م۱۲۵)

ددې څخه پرته په هره نوبتي غونډه کې جنرال کمېټه او د هغې رئيسان ټاکي؛ د عمومي غونډې رئيس د هغې (۱۷) نايبان، د (۷) اصلي کمېټو رئيسان د نومورو کمېټو د کار او فعاليت، رهبرۍ او هماهنګۍ دنده په غاړه لري او د خپلو صلاحيتونو په حدودو کې د هغو کارونه او فعاليتونه رهبري کوي (11,CT.529)، چې دغه کمېټه د هماهنګۍ د کمېټې په نوم ياد ېږي. د عمومي غونډې په وخت کله کله جلسې کوي، د اسامبلې د کار جريان ګوري، او د اجلاس په هره دوره کې کمېټه د نماينده ګانو اعتبارنامې ګوري او عمومي غونډې ته يې راپور ورکوي، او د هرې موضوع لپاره د عمومي او د کمېټو د جلساتو په شکل صورت نيسي. د ۱۳۵۱م کال د احصايې له مخې په دغه کمېټه کې د اسامبلې د رئيس ۱۳ نايبان او د ۷ اصلي کمېټو رئيسان شامل وو. (۹م م۵۴-۴۴)

د ۱۹۷۹م کال د احصايې له مخې د رئيس د نايبانو شمېر د (۱۳) تنو څخه (۱۷) تنو ته لوړ شوی دی، چې د (۷) اصلي کمېټو د رئيسانو په شمول يې تعداد (۲۴) تنو ته رسېږي(11,CT.529). د ۱۳۷۲ کال د احصايې له مخې په دغو عمومي کمېټو کې د عمومي اسامبلې رئيس چې د جلسې رياست په غاړه لري، د رئيس (۲۱) نايبان او د (۷) اصلي کمېټو رئيسان پکې شامل وو. هېڅکله د عمومي کمېټې دوه نماينده ګان د يوه هيئت څخه نماينده ګي نشي کولای او جوړښت بايد داسې وي، چې د عامه نماينده ګۍ خصلت ولري. د هغو کمېټو رئيسان چې د عمومي اسامبلې په ترڅ کې ټاکل کېږي، کولای شي چې د عمومي کمېټې په جلساتو کې پرته د رايو ورکولو څخه ګډون وکړي (۵م۷۷). د عمومي اسامبلې رئيس، معاونين او د (۷) کمېټو اصلي نماينده ګان هم د پورتنيو (۷) کمېټو غونډو کې د رايو ورکولو پرته ګډون کولای شي.

په عمومي اسامبله او د ملګرو ملتونو په سازمان کې پرمختګ:

په نړيوال ډګر کې د بدلونونو په پام کې نيولو سره په نړيوالې ټولنې کې د حاکمو قواعدو او نورمونو اصلاح، بيا کتنې (تجديد نظر) ته اړتيا ليدل کېده، نو ددې ضرورت له مخې د ملګرو ملتونو منشور ته هم د نورو تړونونو په څېر اصلاح او بيا کتنې ته اړتيا رامنځته شوه. د هېوادونو (دولتونو) تر منځ د قدرت په موازنه کې بدلون، د هېوادونو د شمېر زياتوالي باعث شوی دی، چې د سازمان په مقرراتو کې يو لړ لازم او ضروري اصلاحات رامنځته شي، چې د نړيوالو ستونزو په حل کې اغېزمن تمام شي، چې دا اصلاحات په لاندې ډول واضح کولای شو:

الف: د ملګرو ملتونو د سازمان د تاسيس څخه تر زريزي اعلاميې پورې (۲۰۰ م کال).
ب- ۲۰۰۰م کال کې د زريزي اعلاميې وروسته د اصلاحاتو نوی بهير.

الف- د ملګرو ملتونو د تاسيس څخه تر۲۰۰۰م کال پورې: د ملګروملتونو د سازمان په جوړښت کې د اصلاحاتو لپاره هڅې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۷م کال کې د امريکا د سنا مجلس د مالي چارو د کمېټې له طرحې وروسته بيا پيل شوې، او هغه عمده اصلاحات چې په دې وخت کې ترسره شول، په لاندې ډول دي:

د امنيت شورا د غير دايمي غړو د شمېر زياتوالی: د ۱۹۴۷م کال راپدېخوا د امنيت شورا د غير دايمي غړو شمېر له ۶ څخه ۱۰ ته لوړ شوی دی. په ۱۹۲۳م کې د عمومي اسامبلې له خوا د يوه پرېکړه ليک په ترڅ کې د امنيت شورا د غير دايمي غړو په شمېر کې زياتوالی راغی، چې دغه کار د سازمان په جوړښت کې د بدلون لامل شو. په ۱۹۴۵م کال کې د سازمان د ټولو غړو شمېر ۵۱ هېوادونه وو، خو په ۱۹۲۳کال کې دغه شمېر ۱۱۴ ته لوړ شو، چې په اوس وخت کې يې شمېره ۱۹۳ هېوادونو ته رسېږي.

د امنيت شورا په غونډو کې د رايې اخيستنې په نصاب کې بدلون: د عمومي اسامبلې د ۱۹۲۳کال پرېکړه ليک له مخې د امنيت شورا د غړو د رايو اکثريت له ۷ څخه ۱۰ ته لوړ شو چې دغه اکثريت د دايمي غړو په شمول و.

د جغرافيوي ويش له مخې د امنيت په شورا کې د غير دايمي غړو شمېر: تر ۱۹۶۵کال پورې د امنيت شورا د غير دايمي غړو لپاره جغرافيوي ويش په دې ډول و:

۱. د لاتيني امريکا هېوادونه (۲غړي)
۲. ختيځه اروپا (۱غړی)
۳. لويديځه اروپا (۱غړی)
۴. منځنی ختيځ (۱غړی)
۵. د ګډو ګټو هېوادونه (۱غړی)

خو د ۱۹۲۳ کال پرېکړه ليک له مخې په ۱۹۶۵ کال کې د جغرافيوي ويش په اساس د امنيت شورا په غير دايمي غړيتوب کې په لاندې توګه بدلون راغی:

۱. اسيايي افريقايي هېوادونه (۵غړي)
۲. د لاتيني امريکا هېوادونه (۲غړي)
۳. د ختيزې اروپا هېوادونه (۱غړی)
۴. د لويديزې اروپا هېوادونه (۱غړی)
۵. نور هېوادونه (۱غړی)

د امنيت په شورا کې د غړيتوب موده: که څه هم د منشور ۲۳ مادې په امنيت شورا کې د غير دايمي غړيتوب موده دوه کاله ټاکلې ده، خو له شپېتمې ميلادي لسيزې وروسته هغو دولتونو ته د يوه کال لپاره په امنيت شورا کې د غړيتوب زمينه برابره شوه، چې د عمومي اسامبلې له خوا يې مساوي رايې ترلاسه کړې وې.

د اقتصادي او ټولنيزې شورا د غړو زياتوالی: د ۱۹۲۳ کال پرېکړه ليک له مخې د اقتصادي او ټولنيزې شورا غړي له ۱۸ څخه ۲۷ او له ۲۷ څخه ۵۴ ته لوړ شول، چې تر اوسه په خپل حال پاتې دي. د (XXVI) ۲۸۴۷نمبر پرېکړه ليک له مخې د منشور ۶۱ ماده اصلاح شوه، چې پر اساس به يې د اقتصادي او ټولنيزې شورا غړي د جغرافيوي ويش له مخې ټاکل کېدل.

د غړو هېوادونو په مالي ونډه کې بدلون: تر ۱۹۵۵ کال پورې امريکا (۳۹) سلنه، انګلستان (۱۱) سلنه، پخواني شوروي اتحاد (۶)سلنه د ملګروملتونو بودجه پرې کوله، چې د بودجې ټولټال (۶۰) سلنه برخه يې جوړوله او پاتې (۴۰) سلنه د نورو غړو له خوا ورکول کېده؛ خو د سازمان د غړو زياتوالي ته په پام سره چې ۱۱۸ ته رسېدلي وو، عمومي اسامبلې په ۱۹۵۵زيږديز کال کې د غړو هېوادونو د مالي ونډې په کچه کې بدلون راوست، چې حداقل (۳)سلنه او حداکثر (۴) سلنه وټاکل شوه. د درېيم ځل لپاره په ۱۹۷۷کال کې د غړو په مالي ونډه کې بدلون راغی، خو د وروستي ځل لپاره په ۲۰۰۰ميلادي کې حداکثر (۲۵)سلنه او حداقل (۲۲) سلنه وټاکل شوه. خو د ضرورت له مخې کېدای شي په راتلونکې کې هم مثبت بدلونونه رامنځته شي.

ب- په ۲۰۰۰ميلادي کال کې د زريزي اعلاميې له مخې د نويو اصلاحاتو بهير: عمومي اسامبلې د ۲۰۰۰م کال په سپتمبر کې د ۱۴۷ غړو هېوادونو په ګډون د يوې غونډې په ترڅ کې د زريزې اعلاميې (Millennium declaration) په نوم يوه ګډه اعلاميه خپره کړه، چې په کې د ملګرو ملتونو د نويو اصلاحاتو پيلامه ګڼل کېږي. دغه اقدامات د پخواني منشي کوفي عنان له خوا په ۱۹۹۷ کې پيل شوي وو. نوموړی په ملګروملتو کې د لازمو اصلاحاتو په موخه يو ۱۲ کسيز پلاوی وګومارهٔ

پلاوي د (ننگوني، گواښونو او بدلونونو، سوله ييزه نړۍ، زموږ گډ مسئوليت) تر نامه لاندې په ۲۰۰۴کال کې خپل راپور خپور کړ. کوفي عنان هم د ياد راپور پر بنسټ د (امنيت، ازادۍ او بشري حقوقو د لا تحقق په موخه هڅې) په نوم په ۲۰۰۵کال کې خپل راپور د نظر او ارزونې په موخه د عمومي اسامبلې غونډې ته وړاندې کړ. عمومي اسامبلې د درې ورځنۍ سرمشريزې غونډې په پای کې د ملگرو ملتونو د اصلاحاتو په اړه يو پرېکړه ليک خپور کړ، چې په لاندې ډول دی:

۱. د بشر حقوقو د شورا جوړول

۲. د سولې کمېسون جوړول

۳. د بشريت پر وړاندې د جنايت د مخنيوي طرحه، ټولوژنه او جنگي جنايت

خو په دې ناسته کې غړي په دې بريالي نه شول، چې په سازمان کې اړين او لازم اصلاحات راولي؛ دغه اصلاحات په امنيت شورا کې اړين وو (۸م م۲۹-۷۲). د ځينو معلوماتو له مخې د ملگرو ملتونو عمومي اسامبلې استراليا، ارجنټاين، جنوبي کوريا، روندا، او لوگزامبورگ د۲۰۱۳ او۲۰۱۴ لپاره د امنيت د شورا د غير دايمي غړو په توگه انتخاب کړل، چې د کولمبيا، المان، پرتگال، جنوبي افريقا او هند ځای به ونيسي. په دې انتخاب کې د رايې گيرۍ په صورت کې ارجنټاين ۱۸۲، روندا ۱۴۸، استرليا۱۴۰، جنوبي کوريا ۱۴۹ او لوگزامبورگ ۱۳۱رايې لاسته راوړې، چې د پخوانيو نورو موقتي غړو (اذربايجان، پاکستان، توگو، گواتيمالا، مراکش) سره چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ لپاره ټاکل شوي وو، يوځای شول. دا په داسې حال کې ده چې ارجنتاين د غير دايمي عضويت نهمه دوره، استراليا څلورمه او روندا دويمه دوره ترسره کوي. (۱۳)

د ملگرو ملتونو د اسامبلې رسمي ژبې:

دا چې د نړۍ بېلابېل هېوادونه ځانته خپلې ملي ژبې لري او د ملگرو ملتونو عضويت يې حاصل کړی دی، د ملگرو ملتونو سازمان نشو کولای، چې د ټولو هېوادونو ژبې د ملگرو ملتونو په سازمان کې په رسمي ډول ومني؛ ځکه چې د ټولو هېوادونو له ژبو څخه کار اخيستل په يوه نړيوال سازمان کې د ځينو مشکلاتو د رامنځته کېدو باعث کېدای شي، له همدې کبله د ملگرو ملتونو رسمي ژبې په تاريخي لحاظ په لاندې ډول توضيح کولای شو:

په تاريخي لحاظ هغه ژبې چې په نړيوالو روابطو اسنادو کې ترې استفاده کېدله، د ۱۷ پېړۍ تر پايه پورې په اروپا او هغه مناطقو کې چې د اروپايي دولتونو تر تاثير لاندې قرار درلوده، په بين المللي اړيکو کې لاتيني ژبه استعمالېده. د ۱۸ پېړۍ له اوايلو څخه د فرانسوي ژبې استعمال شروع شو، کومه چې د ۱۸ پېړۍ په منځ کې حاکمه ژبه وه، د لومړۍ نړيوالې جگړې وروسته فرانسوي او انگليسي ژبې په موازي توگه استعمالېدې. د روسيې د اکتوبر انقلاب څخه وروسته روسي ژبه هم استعمالېده. د ملگرو ملتونو رسمي ژبې انگليسي، هسپانوي، چينايي، روسي، فرانسوي، او عربي قبولې کړې دي، چې تر اوسه پورې پکې کوم تغير نه دی راغلی (۱۴). د مساوي حقوقو او پرنسيپونو په نظر کې نيولو سره د دوه اړخيزو قراردادونو او رسمي اسنادو د ترتيب لپاره د هېوادونو ترمنځ د هغو د خپلو ژبو څخه استفاده کېږي (11,ct:453). په عمومي اسامبله کې له دغو شپږو ژبو څخه که څوک په هرې يوې ژبې خبرې کوي، په همغه لحظه بايد په شفاهي ډول د سازمان نورو رسمي ژبو ته وژباړل شي. همدارنگه هر استازی کولای شي چې د اسامبلې د رسمي ژبو څخه پرته په نورو ژبو وينا وکړي، چې په دې صورت کې نوموړی استازی بايد د ژباړې اسانتيا برابره کړي، چې د ده وينا يا خبرې په ژوندۍ بڼه د اسامبلې د شپږو رسمي ژبو څخه يوې ته وژباړي، چې گډون کوونکي د ستونزې سره مخامخ نشي. هغه وينا چې په نورو غير رسمي ژبو د ملگرو ملتونو د سکرتريت د ژباړونکو له خوا وړاندې کېږي، د وينا متن مخکې له مخکې بايد ژباړل شوی وي. د عمومي اسمبلې د غونډو په لړ کې (د ملگرو ملتونو ورځپاڼه) د اسمبلې په رسمي ژبو چاپېږي؛ همدا راز ټول پرېکړه ليکونه او اړونده اسناد هم په همدغه رسمي ژبو خپرېږي.

پټه دې پاتې نه وي، چې د ملگروملتونو په نورو رسمي ژبو د اسنادو د خپرولو لگښت د سازمان په غاړه دی، مگر په عربي ژبه د خپاره شويو اسنادو لگښت عربي هېوادونه په خپله ورکوي. (۸م۱۰۹)

د عمومي اسامبلې د غونډو ډولونه:

الف) عادي غونډه: ملګري ملتونه هر کال خپله عمومي غونډه د دسمبر د دريمې اوونۍ د سې شنبې په ورځ دايروي؛ (۱۰۰) موضوعګانې بررسي کوي، او درې مياشتې دوام پيدا کوي (11, ct: 529)، او کېدای شي د ضرورت په اساس په کې زياتوالی يا کموالی راشي. غونډه يې معمولاً د ملګرو ملتونو په اصل مقر نيويارک کې دايرېږي، چې لومړۍ عمومي غونډه يې په ۱۹۴۲م کال کې د جنوري په (۱۰) نېټه دايره شوې ده. همدارنګه کېدای شي عمومي اسامبله د تېرې غونډې د پرېکړې او اکثريت غړيو د غوښتنې پر بنسټ د اصل مقر څخه پرته په بل ځای کې جوړه کړي. په همدې ترتيب هر غړی کولای شي، چې د کلنۍ غونډې د شروع څخه درې مياشتې مخکې د سازمان څخه غوښتنه وکړي چې غونډه په بل ځای کې جوړه کړي. عمومي منشي ددغو وړانديزونه په اړه ټولو غړيو ته اطلاع ورکوي او يو مياشت وخت لري، څو په دې اړوند غور وکړي. که چېرې د نوموړې مودې وروسته د غړيو اکثريت په دې موافقه وکړي، نو غونډه په هماغه ځای کې دايرېږي، چې وړانديز يې شوی وي. عمومي منشي د کلنۍ غونډې د شروع څخه درې مياشتې مخکې بايد ټول غړي خبر کړي او کولای شي، چې غونډه تر يوې معلومې نېټې پورې وځنډوي (۸م۱۰۷). د ملګرو ملتونو د تاسيس له دورې څخه راپدېخوا د ۱۹۸۶م کال تر پايه پورې (۱۴) مخصوص او (۹) فوق العاده غونډې دايرې کړې دي (۵م۱۲۴)، او تر اوسمهال پورې يې (۲۲) کلنۍ غونډې دايرې کړې دي.

ب) مخصوصې (ځانګړې) غونډې: د ضروري مسايلو او جدي اختلافاتو په صورت کې عمومي اسامبله د امنيت شورا د وړانديز په اساس يا د ملګرو ملتونو د اکثريت غړيو او يا د يوه غړي د غوښتنې له مخې چې اکثريت يې تاييد کړي، د عمومي اسامبلې د داخلي کړنلارې د (۸) او (۹) مادې په پام کې نيولو سره د (۱۵) ورځو په ترڅ کې دايرېږي. (۸م۱۰۷).

ج) اضطراري (بېړنۍ) غونډې: د (۷) ۳۷۷A پرېکړه ليک په اساس عمومي منشي بايد د امنيت شورا د غوښتنې له مخې چې (۷) غړو د رايې ورکولو لپاره ګډون کړی وي، يا د اکثريت غړيو د غوښتنې له مخې يا د يوه غړي د غوښتنې له مخې چې اکثريت يې تاييد کړي، د (۲۴) ساعتونو په موده کې اضطراري غونډې جوړولای شي. عمومي منشي بايد د غونډې د پيل څخه مخکې لږ تر لږه (۴۰) ورځې مخکې د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته د موضوع په اړوند خبر ورکړي. که چېرې د (۸) مادې پر بنسټ غونډه رابلل کېږي، عمومي منشي بايد د غونډې تر دايرېدو (۱۲) ساعته مخکې ټول غړي خبر کړي او د منشور د (۵۷) مادې د ۲ فقرې له مخې د ملګرو ملتونو ټول اصلي او فرعي ارګانونو ته د غونډې د دايرېدو په اړوند اطلاع ورکړي (۸م۱۰۷). په همدې ترتيب هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان عضويت نه لري، د اضطراري (بېړنۍ) غونډې غوښتنه وکړي او اکثريت يې تاييد کړي، بېړنۍ غونډه دايرېږي. همدارنګه د عادي غونډې اجنډا د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا تنظيم او د غونډې تر پيل لږ تر لږه (۲۰) ورځې مخکې د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته ولېږل شي.

د رايو ورکولو ډولونه:

د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه د مساوي حقوقو پر بنا مساوي نماينده ګي کوي، او هر غړی هېواد د يوې رايې حق لري او رايه د نماينده هيئت د رئيس له خوا ورکول کېږي، نه د اعضاوو له خوا، او د مهمو مسايلو فيصلې د حاضرو رايه ورکوونکو د ۲/۳ اکثريت يو شرط دی (۱م۵۹)، او نور عادي مسايل د حاضرو رايه ورکوونکو په اکثريت سره تصويبېږي. (۵م۹۰)

د رايو ورکولو دوه ډولونه وجود لري چې د مستقيمې رايې ورکونې او پټې رايې ورکونې څخه عبارت دي. ځينې وخت د رايې اچونې اعلان د ټولو غړو د خوښې (ګډ تصميم) پر اساس صورت نيسي او د اسامبلې غړي د ګډ تصميم هرکلی کوي او د ټولپوښتنې اړتيا له منځه وړي، خو ځينې وخت د توافق په صورت کې خپل يو لاس پورته کوي او خپله رايه څرګندوي.

۱. مستقيمه رايه اچونه: دغه راز ډېر وختونه مستقيمه رايه هم کاروول کېږي، چې په دې ډول رايه اچونه کې د هر هېواد د استازي نوم اخيستل کېږي او راځي خپله رايه وړاندې کوي.

۲. پټه رايه اچونه: پټه رايه اچونه هم يوه طريقه ده، چې معمولاً په ټاکنو کې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي. د رايې ګيرۍ دغه ډول تر ډېره حده ګټور دی، دا ځکه چې د غړو تر منځ د ناندريو او شخړو مخنيوی کوي. په عمومي اسامبله کې د ټولو غړو رايې سره برابرې دي او د اسامبلې ټول غړي (لوی، کوچنی، ځواکمن، کمزوری، لږ نفوسه او ډېر نفوسه) هېوادونه د رايې

اچونې د برابرو حقوقو څخه برخمن دي. په يوه سازمان کې د رايې د برابرۍ اصل د يوې مسئلې د اغېزمن حل تر ټولو غوره لار ګڼل کېږي (۸م۹۳)، چې دا د هېوادونو ترمنځ د برابرۍ يوه ښه بېلګه ګڼل کېدای شي.

پايله:

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله يو مهم نړيوال ارګان دی، دغه ارګان په ملګرو ملتونو کې لوړ صلاحيت لري. ددې لومړني مهم او اساسي ارګان اتوريته او اعتبار هغه وخت لازيات شو، چې د نړۍ اکثريت هېوادونو پکې غړيتوب لاسته راوړ. دغه ارګان نړيوال اکثر مسايل څېړي او د حل لارې ورته لټوي؛ دغه راز د خپلو ورځنيو چارو لپاره ځانګړي طرز العملونه لري، چې د هغو مطابق عمل کوي او د خپل تشکيل، د غونډو دايرېدلو او ديموکراتيکو اصولو د رعايت له مخې يوه بېلګه يېز ارګان شمېرل کېدای شي.

Abstract:

General Assembly of United Nations is the first organ of its six fundamental organs, which has (193) member's countries so far and every member country has the right of only one vote. As well, in order to facilitate its activities, General Assembly has divided its activities on (7) original and basic committees. Except the mentioned original committees, the General Assembly conducts some other time bounded organs as well, and it can found committees and commissions, do reforms and find possibilities for development at the time when they are needed. The General Assembly has three kinds of gatherings, normal, private and emergency gatherings. It has also two kinds of voting, which are direct voting and hidden voting.

اخځليکونه:

۱. پيس ګيت اس، کلی.(۱۳۸۷). سازمان های بين المللی؛ مترجم: حسن شريفی طراز کوهی. ايران: نشرميزان، کتابخانه ملی.

۲. پستا، حسن. (۱۳۷۹). فرهنګ روابط بين المللی. ايران: کتابخانه ملی.

۳. توفيق، محمد کريم. (۱۳۴۳). مردم و سرزمين های دنيا؛ طبع سمعی و بصری. کابل: دولتی مطبعه.

۴. دانشور، محمد عالم. (۱۳۲۸). حقوق بين المللی؛ وزارت تحصيلات عالی و مسلکی. کابل: پوهنتون کابل.

۵. دبير، محمد رضا. (۱۳۷۲). اداب تشريفات و ايين کار در سازمان ملل متحد. تهران.

۶. زاهد مشوانی، عبدالقيوم. (۱۳۸۵). پښتو قاموس. د افغانستان د علومو اکاډمي- د پښتو څېړنو نړيوال مرکز. دانش خپرندويه ټولنه.

۷. ضيايی بيګدلی، محمد رضا. (۱۳۹۰). حقوق بين المللی. تهران: کتابخانه ملی.

۸. موسوی زاده، رضا. ژباړن:محمد نظيم سمون. (۱۳۹۱) نړيوال سازمانونه. ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

۹. ځان او جهان. (۱۳۵۱). د افغانستان کالنی- د اطلاعاتو او کلتور وزارت.کابل: دولتي مطبعه.

۱۱. د ملګرو ملتونو منشور. د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو دفتر. کابل: ګڼه,۸۰

12. ПОПВ, Георги и други, (1979).краТък Политически, речНик, София.

13. ПОПВ, демитър.(1982).МеЖдуНародНа, ПоЛиТика, София,.

14. http//hoghoogh.blogfa.com.

15. http//UN.org. (UN General Assembly-Rules of procedure –languages).

پوهـــندوی زلمـــی (خـــالقي)
انجنيري پوهنځی- سيول ځانګه

په بېلابېلو ريکتورونو کې د ښاري فاضله اوبو د لجن پودر په واسطه د کادميم فلز د جذبولو څېړنه

لنډيز:

په دې مقاله کې د فاضله (ککړو) اوبو څخه د وچ شوي لجن (بايوساليد) په واسطه د اوبو د محلول څخه د کادميم فلز د جذبولو ډول او طريقه چې د حرارت په ۲۲-۲۴ درجو د سانتي ګريد د pH قيمت د ۲ څخه تر ۶ پورې، د تماس وخت ۵ څخه تر ۴۲۰ دقيقو پورې، د مخلوط کولو اندازه په في دقيقه کې ۵۰ څخه تر ۳۰۰ دورو پورې، د لابراتواري مقياس مطابق تر څېړنې لاندې ونيول شو. مخکې د بايوساليد په تصفيه کې د ذراتو کوچني کول، وچول او صنفبندي چې په ۵۰ الی ۱۲۰ نمبر غلبېلونو کې صورت نيوه، شامل و. د بايوساليد په واسطه د کادميم د جذب ښه شرايطو برابرولو لپاره بايد pH د ۴ سره معادل، د تماس وخت ۱۲۰ دقيقې او د مخلوط کولو اندازه ۲۰۰ دوره په يوه دقيقه کې په پام کې ونيول شي. د جذب ايزوترم د لانګموير د مودل سره کاملاً مطابقت لري او د بايوساليد په واسطه د کادميم اعظمي جذب (q_{max}) اندازه ۰,۳۸ ملي مول په في ګرام وچ بايوساليد کې (۴۱,۵ ملي ګرامه په في ګرام کې) براورد شوی دی او د لانګموير (K_d) ثابت ۰,۱۰۴۴ ملي موله په في ليتر کې (۱۱,۳۷ ملي ګرامه په في ليتر کې) لاسته راغلی دی.

سريزه:

د منديليف په جدول کې کادميم IIB ګروپ عناصرو پورې اړه لري چې اتومي نمبر يې ۴۸ او اتومي وزن يې ۱۱۲,۴۰ دی. کادميم څخه د سولېدلو په مقابل کې د زيات مقاومت په لرلو سره د فولادو په اب ورکولو کې زياته استفاده کېږي؛ همدارنګه د اوسپنې، مسو، برنجو او داسې نورو الياژونو پرمخ د سولېدلو د مخنيوي لپاره د پوښ په شکل استفاده کېږي. په امريکا کې د څښلو په اوبو کې د کادميم مجازي اندازه ۰,۰۱ ملي ګرامه په يو ليتر کې تعين شوې ده. [۱، ۲، ۴، ۵]

د فاضله اوبو څخه د درندو فلزاتو ليرې کولو لپاره معموله طريقه د هايدروکساید يا سلفايد په موجوديت کې کېمياوي رسوب ورکولو او يا د ايوني تعويض څخه عبارت ده. دغه طريقه د لوړ قيمت په لرلو سره د فابريکو د مالکينو لپاره د منلو وړ نده او له بله طرفه د کېمياوي رسوباتو څخه حاصل شوی لجن مشکلات هم لري، ځکه چې دغه مشکل د اوبو په محيط کې د اوسېدنې چاپېريال لپاره نامناسب دی. [۷، ۸، ۲].

داسې مشکلات ددې سبب شوی، چې د بيولوژيکي ليرې کولو طريقه چې هم اقتصادي ده او هم چاپېريال سره سمون لري، د توجه وړ ګرځېدلې ده. د تصفيه خانو د لجن پر مخ د درندو فلزاتو ليرې کولو مطالعه د فعال لجن، دفعي لجن، هوازي او غير هوازي ګرانولونو په شمول صورت نيولی. [۳، ۴]

په دې وروستيو کلونو کې ډېرو مطالعاتو د درندو فلزاتو بيولوژيکي جذب په اړه د بيولوژيکي جذبوونکو لکه مرخيړي يا قارچ، الجي او فنجي، د مختلفو مېوو پوستکي او داسې نورو په واسطه صورت نيولی، چې په مرخېړيو، الجي او فنجي باندې مطالعې د ټولو څخه زيات او د لجن پر مخ مطالعې د ټولو څخه کم صورت نيولی. نظر څېړنو ته د بايوساليد په واسطه د فلزاتو مخصوصاً د کادميم په جذب کې محدودو مطالعو صورت نيولی، نو ځکه په دې مقاله کې د ښاري فاضله اوبو څخه د حاصل شوي لجن پودر (بايوساليد) په واسطه د اوبو د محلولونو څخه د کادميم د جذب د مېتود څېړنه په پام کې نيول شوې ده. په دغه څېړنه کې د مختلفو شرايطو په پام کې نيولو سره په جلاجلا ريکتورونو کې د لابراتواري مقياس لاندې د جذب د تحرک او د هغې مودل جوړولو، په جذب کې د pH د تغيراتو تاثيرات او د pH قيمت پيدا کول، په جذب کې د مخلوط کولو د اندازې تاثير او د هغې د اندازې پيدا کول، د جذب د ايزوترم د مودل جوړول او د جذب د ظرفيت د اعظمي اندازې (q_{max}) پيدا کولو په هدف څېړنې صورت نيولی. د يادولو وړ ده چې په دې مقاله کې د جذب څخه هدف د

بايوساليد بيولوژيکي خصوصيت په پام کې نيولو سره چې د جذبوونکي په حيث ورڅخه استفاده شوې، بيولوژيکي جذب (Biosorption) څخه عبارت دی.

موخې:

- په بېلابېلو رياکتورونو کې د ښاري فاضله اوبو د لجن پودر په واسطه د کادميم فلز د جذبولو څېړل
- په اړونده برخه کې د مسلک خاوندانو او مينه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرول

مواد او کړنلاره:

د بايو ساليد تهيه کول: په دې څېړنه کې د بايوساليد څخه د بيولوژيکي جذب کوونکي په حيث استفاده شوې او د هغې د تهيه کولو لپاره د فاضله اوبو د تصفيه خانو څخه د حاصل شوي لجن څخه استفاده شوې ده. د بايوساليد په تصفيه کې مخکې د ۱۰۴-۱۰۳ درجې د سانتي ګريد حرارت لاندې د ذراتو وچول او د ذراتو کوچني کول شامل و او بايوساليد په ستندرد غلبېلونو (۱۲۰-۵۰) کې دانه بندي کېده. د بايوساليد په واسطه جذب شوی کادميم مقدار نظر د اندازه کولو ستندرد لارښود کتابونو مېتود ته د نايتريک اسيد د هضم په طريقې سره او د اتومي جذب انالیز له مخې ۰,۰۰۰۱۳۱ موله پر يو ګرام وچ بايوساليد کې لاسته راغلی. [۴]

کېمياوي مواد: د ازمايښت لپاره د استفادې وړ کېمياوي مواد انتخاب شول. د کادميم محلول ۰,۱ موله نظر ستندرد لارښود کتابونو طريقو ته د کادميم د نايتريت پودرو ($Cd(No_3)_2 * 4H_2O$) څخه چې ۳۰۸,۴۷ ګرامه پر مول تهيه شوې او د ۱,۵ ملي ليتره نايتريک اسيد چې pH اندازه يې د ۲ څخه کم او د يخچال حرارت لاندې ساتل شوې مقطرو اوبو څخه چې د الکتريکي هدايت اندازه يې د ۳ څخه کمه وه او د نايتريک اسيد (1+1) څخه د وسايلو او ظروفو د مينځلو لپاره استفاده شوې ده.[۵]

لابراتواري وسايل او دستګاوې: هغه وسايل چې په دې څېړنه کې ورڅخه استفاده شوې، عبارت دي له پيپټ، بالون، فلزي غلبېل، د نمونې اخيستلو لپاره ظروف او د فلتر ريز ممبران څخه عبارت دي، او همدارنګه د فلتر، ديجيتل ترازو (Mettler) مادل (AE2000) ، واکيوم پمپ (Deep Vacum Pump) مادل (JIB IL60507) ، منقل مادل (Gallenkamp) ، بخاري مادل (Jenway1000)، جار تست (Phipps & Birdstirrer) مادل (Richmond 7790-402)، ديجيتل pH متر (HACH) مادل (Sension 378) ، اتومي جذب اسپکترومتر دستګاه (AA Spectrometer) مادل (UNICAM 919) دستګاو څخه استفاده شوې؛ دغه راز د جلاجلا رياکتور سيستم په کار اچولو کې د جار تست دستګاه او يو ليتره لوخو څخه هم استفاده شوې ده.

د ازمايښت کړنلاره: ازمايښتونه د ۸۰۰ ملي ليتره په حجم سره جلاجلا رياکتور سيستم کې د لابراتواري مقياس لاندې تر سره شوي. د انجام شوې مطالعې په پام کې نيولو سره د کادميم او بايوساليد محلولونو د پام وړ غلظتونه تهيه شوي. د ۲۴ څخه تر ۲۲ درجو د سانتي ګريد معين حرارت لاندې په پام وړ pH کې تماس ورکړل شوی، او د دوو ساعتونو څخه وروسته (يا په حرکي ازمايښت کې په متوالي وختونو کې) د کادميم د فلز د جذب اندازې څېړنې لپاره د سيستم څخه نمونې اخيستل شوي، په محلول کې د موجوده فلز د اندازې د سنجش لپاره نظر د لارښود کتابونو ستندرد طريقو ته نمونې د منفذ لرونکي ممبران فلتر (د منفذونو اندازه ۰,۴۵ نانومتره) څخه تېرې شوي، چې pH يې د دوو څخه کم و او د يخچال په حرارت درجه کې ساتل شوي وو ، تر څو وروسته د اتومي جذب انالیز لاندې ونيول شي.[۲]

په نمونو کې د کادميم غلظت سنجش د اتومي جذب دستګاه (UNICAM 919) په واسطه سرته ورسېد. د يادولو وړ ده چې د نمونو غليظ کولو او رقيق کولو صورت نيولی او د جذب شوي فلز د اندازې په محاسبه کې د ترقيق او تغليظ ضريبونه په پام کې نيول شوي. ټول ازمايښتونه حد اقل دوه ځلې تکرار شوي او د هغوی د اوسط څخه استفاده شوې ده.

د جذب د تحرک مطالعه: په دې څېړنه کې ۸۰۰ ملي ليتره د کادميم محلول په ۰,۲۵ ، ۰,۷۵ او ۱,۵ ملي مولاره په يو ګرام بايوساليد کې په pH=4 ، د حرارت درجه ۲۲-۲۴ سانتي ګريد او د مخلوط کولو اندازه ۲۰۰ دوره په يوه دقيقه کې په جلاجلا

رياکتورونو کې تماس ورکړل شوی او په ۵، ۱۰، ۲۰، ۳۰، ۶۰، ۱۲۰، ۱۸۰، ۳۰۰ او ۴۲۰ دقيقو کې جذبېدلو حرکت تر څېړنې لاندې نيول شوی دی.

د pH د تاثير ازمايښتونه: په دې ازمايښت کې ۸۰۰ ملي ليتره د ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولار کادميم په في ګرام بايوسالید محلولونو کې چې د حرارت درجه ۲۲-۲۴ درجه سانتي ګرید، د مخلوط کولو اندازه ۲۰۰ دوره په في دقيقه کې او د تماس وخت يې دوه ساعته و، د نايتريک اسيد په اضافه کولو او د غلظت په پام کې نيولو سره د pH تاثير د pH په ۲، ۳، ۴ او ۶ قيمتونو سره د کادميم د جذبېدلو نتيجه څېړل شوې ده.

د اختلاط د اندازې تاثير: په دې ازمايښت کې ۸۰۰ ملي ليتره د ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولار کادميم په في ګرام بايوسالید محلولونو کې چې د حرارت درجه ۲۲-۲۴ درجه سانتي ګرید او د pH مساوي ۴ په لومړني قيمت سره د ۲ ساعتونو په مداومت تماس ورکړل شوی او د مخلوط کولو تاثير په ۵۰، ۱۰۰، ۲۰۰ او ۳۰۰ دوره په في دقيقه کې د کادميم د جذبېدلو نتيجه وڅېړل شوه.

د جذب د ايزوترم څېړنه: په دې څېړنه کې ۸۰۰ ملي ليتره د کادميم محلول د ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولاره غلظتونو په لرلو سره د ۰,۵، ۱، ۲ او ۴ ګرامه بايوسالید د pH = 4 او د مخلوط کولو اندازه يې ۲۰۰ دوره په في دقيقه کې د ۲۲-۲۴ سانتي ګرید حرارت درجې لاندې د ۲ ساعتونو په مداومت په تماس کې واقع شو او د هغې نتيجه د جذب د ايزوترم او مودل جوړونې له نظره مطالعه شوه.

پايله او مناقشه:

د کادميم د جذب تحرک: په ۰,۲۵، ۰,۷۵ او ۱,۵ ملي مولار غلظتونو کې د کادميم د جذب د تحرک زياتوالی په ۱- شکل کې ښودل شوی دی. په دې اساس په دې غلظتونو کې د کادميم د جذب د تعادل وخت د ۲ ساعتونو سره معادل دی، چې د کادميم د محلول په لومړني غلظت کې د نسبي جذب فيصدي په ۵ لومړيو دقيقو کې زياتېږي، مګر د وخت په تېرېدو سره دغه فيصدي کمېږي. د کادميم د محلول د لومړني غلظت په زياتېدلو سره د کادميم د جذب فيصدي کمېږي؛ يعنې په ۰,۲۵ ملي مولار غلظت کې د کادميم د جذب اعظمي اندازه په سيستم کې د موجوده کادميم ۸۲,۱ فيصده تشکيلوي. په ۰,۷۵ ملي مولار غلظت کې ۴۴,۸ فيصده او په ۱,۵ ملي مولار غلظت کې په سيستم کې د موجوده کادميم د جذب اعظمي اندازه ۲۸,۸ فيصده ته رسېږي. په دې صورت کې د محلول د لومړني غلظت زياتوالی په ملي ګرام يا ملي مول فلز په في ګرام بايوسالید کې د جذب د زياتوالي سبب کېږي. د Norton او دده د نورو همکارانو لخوا کومه څېړنه چې د بايوسالید په واسطه د فلز جذبولو لپاره په ۰,۰۷۲، ۰,۳ او ۱,۵ ملي مولار غلظتونو کې صورت ونيو، دا څرګنده شوه چې په ۰,۰۷۲ او ۰,۳ ملي مولار غلظتونو کې د ۵ ساعتونو په موده کې چې د pH اندازه يې ۴ وه، د جذب تعادل حالت ته رسېدلی و، چې په دې حالت کې د اعظمي جذب اندازه په ترتيب سره ۰,۰۰۶ او ۰,۰۲۲ ملي مولار په في ګرام بايوسالید کې ښودل شوې ده. [۷]

د کادميم د جذب د تحرک مودل جوړونې لپاره د لاګرګرن (Lagergren) د مودلونو څخه استفاده شوې. د Lagergren لومړی درجه مودل سره مشابه مودل په ۱ رابطه کې ښودل شوی دی. د نوموړې معادلې په انتيګرال نيولو سره او د وخت (د t=0 څخه تر t=t پورې) او د جذب اندازې (q=0 څخه تر q=qc پورې) په پام کې نيولو سره په لاندې توګه ۲ رابطه لاسته راځي.

$$d_q/d_t = k_{1ads} (q_c - q) \quad (1)$$

$$\log (q_c - q) = \log q_c * k_{1ads}/2.303 * t \quad (2)$$

په پورته فورمول کې q_c د بيولوژيکي جذبوونکي پر مخ د فلز د ايون د جذب د تعادل اندازه ښايي په ملي ګرام پر ګرام سره. q د مطالعې لاندې وختونو په هر انتروال کې د بيولوژيکي جذبوونکي پر مخ د فلز د ايون د جذب اندازه ده او k_{1ads} په لومړی درجه بيولوژيکي جذب کې د لاګرګرن ثابت دی.

د لوګاريتمي معادلې په رسمولو سره د تعادلي جذب او د وخت په هر انتروال کې د جذب اختلاف، $\log (q_c - q)$ چې د t وخت په مقابل کې لاسته راغلی، منحني چې خطي حالت ولري، د جذب تحرک د نوموړي مودل او درجې پيروي کوي. [۸]

د دويمې درجې سره مشابه مودل په دې فرضيه باندې استوار دی، چې بيولوژيکي جذب د دويمې درجې ميکانېزم پيروي کوي. ۳ رابطه د نوموړي مودل ښکارندوی ده. د نوموړي معادلې په انتيګرال نيولو سره د وخت (د t=0 څخه تر t=t پورې) او د جذب اندازې (q=0 څخه تر $q=q_c$ پورې) او د هغې خطي کولو په پام کې نيولو سره ۴ رابطه لاسته راځي:

$$d_q/d_t = k_{2ads} (q_c - q)^2 \quad (3)$$

$$t/q = (1/k_{2ads}\, q_c^2) + 1/q_c * t \quad (4)$$

په پورته فورمول کې k_{2ads} په دويمه درجه بيولوژيکي جذب کې د لاګرګرن ثابت دی په ګرام في ملي ګرام په يوه دقيقه کې (gr/mgr/minute). د q_c او k_{2ads} مقادير د t وخت په مقابل کې د (t/q) خطي منحني څخه لاسته راځي، د نوموړي مودول د جذب سره په مطابقت کې دڅېړنې لپاره د رګرسيون انالیز څخه استفاده کېږي. [۱۲]

د رګرسيون د معادلو نتيجې په دوو مودولونو کې د کادميم د جذب په تحرک باندې د دويمې درجې مشابه مودول سره مطابقت لري. په دې حالت کې د (q_c) تعادلي جذب اندازه ۳۱,۵۴ ملي ګرامه کادميم په في ګرام وچ بايوسالید کې لاسته راغلی، چې د جذب د تحرک منحني څخه لاسته راغلی قيمت ۳۳,۵۷ سره نږدې دی. همدارنګه k_{2ads} د دوهمې درجې د جذب اندازې ثابت محاسبه شوی، چې د ۰,۰۰۹۷ سره مساوي دی. انتونز (Antunes) او همکارانو يې هغه څېړنه کې چې د الجي او فنجي په واسطه د مسو جذبول تر سره کړل، دا څرګنده شوه چې د سارګاسوم ګروموفيتا (Sargassum chromophyta) الجي په واسطه د نوموړي فلز جذب د لاګرګرن د دويمې درجې سره مشابه مودول څخه پيروي کوي. [۹]



۱- شکل: په ۰,۲۵ ، ۰,۷۵ او ۱,۵ ملي مولار غلظتونو کې د کادميم د جذب د تحرک زياتوالی

په جذب باندې د pH تاثير: ۲- شکل د کادميم په جذب باندې د pH تاثير ښايي، لکه څنګه چې په شکل کې مشخص شوي، په ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولار کادميم غلظتونو کې په جذب باندې د pH تاثير تقريباً يو شان دی. د ۲ سره معادل pH کې جذب صورت ندی نيولی او د ۳ سره معادل pH کې د جذب نسبي زياتوالی ليدل شوی او د pH= 4 په قيمت سره په جذب کې د ليدنې وړ زياتوالی راغلی دی او د ۴ څخه پورته قيمت کې کم زياتوالی ايجاد شوی، نو په دې اساس د کادميم د جذب لويه اندازه د pH = 4 کې مشاهده شوې. نورتون او همکارانو يې په هغه مطالعه کې چې د بايوسالید په واسطه د فلز جذب سرته رسولې، دې نتيجې ته رسېدلي چې په ۰,۰۷۲ ملي مولار غلظت کې چې pH يې د ۲ سره مساوي و، د جذب سبب شوی او د pH زياتوالی د ۲ څخه ۳ ته په جذب کې د ليدنې وړ زياتوالي باعث شوی او تر ۲ پورې د pH په قيمتونو کې د جذب په زياتوالي کې کوم تغير محسوس شوی نه دی. نسبت pH ته د جذب ډول په ۰,۳ مولار غلظت کې هم په پورته ډول دی، مګر توپير يې په دې کې دی چې د pH مساوي ۲ سره جذب ډېر ناخيز دی. [۱۲]

کاوسارن (Kaewsarn) دا وښودله چې د پادينا (Padina sp) الجي په واسطه د مسو جذب د pH تر تاثير لاندې وي. د ۲ څخه کم pH کې جذب ناخيز وي او د pH د ۴ څخه په زياتو قيمتونو کې د جذب په اندازه کې د ليدنې وړ زياتوالی درلود او د ۴ څخه په زيات pH کې د جذب زياتوالی ناخيز دی. [۱۰]



۲- شکل: په ۲۵.۰ او ۰,۷۵ ملي مولار غلظتونو کې د کادميم په جذب باندې د pH د تاثير زياتوالی

د فلزاتو په جذب کې د اختلاط د اندازې تاثير: د مخلوط کولو د اندازې په تغير سره د کادميم د جذب د اندازې د زياتوالي تغيرات په ۳ شکل کې ښودل شوي. په ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولار غلظتونو کې د اختلاط مناسبه اندازه، لکه څنګه چې په ۳- شکل کې ښودل شوې، په يوه دقيقه کې د ۱۵۰ څخه تر ۲۵۰ دورو پورې ده. ماميري (Mameri) او همکارانو يې د سترپتومايسيس ريموسوس(Stroptomyces rimosus) غير فعال بکتريا په واسطه د فلز د جذب په مطالعه کې يې دا مشخصه کړله، چې د فلز په جذب کې د ۳ ګرامه بايومس سترپتومايسيس بکتريا په واسطه چې pH = 6.5 ، د حرارت درجه ۲۰ درجې د سانتي ګريد او د غلظت لومړنۍ اندازه يې ۱۰۰ ملي ګرامه في ليتر وه، د اختلاط اندازه يې په يوه دقيقه کې ۲۵۰ دوره ده. نورتون او همکارانو يې د بايوساليد په واسطه د فلز جذب لپاره د اختلاط اندازه ۲۰۰ دوره په يوه دقيقه کې انتخاب کړې ده. ونګ (Weng) په خپله مطالعه کې د لجن پودر په واسطه د نيکل په جذب کې د اختلاط اندازه ۱۷۰ دوره په يوه دقيقه کې انتخاب کړې ده. [۱۲،۱۱]

د اختلاط په ټيټو اندازو کې د جذب کموالی، د سيستم په يوه برخه او يا په ټول محلول کې د جاذب جمع کېدل او د هغې د عدم پراګنده ګۍ له سببه وي. ټول سيستم سره د مناسب عدم تماس او عدم اختلاط له کبله د جاذب او جذب کېدونکې د مناسب تماس د اندازې د کموالي سبب کېږي.



۳- شکل: په ۰,۲۵ او ۰,۷۵ ملي مولار غلظتونو کې د کادميم په جذب باندې د اختلاط د تاثير زياتوالی

د جذب د ايزوترم مودول جوړوني مطالعه: د موجوده مختلفو ايزوترمونو څخه د لانګموير (Langmuir) او فروندليخ (Fraundlich) دوه ايزوترمونه چې معمولاً د بيولوژيکي جذب مودولونو لپاره ورڅخه ډېره استفاده کېږي، د څېړنې لاندې ونيول شول. د لانګموير خطي معادله په لاندې رابطه کې ښودل شوې ده:

$$C_{eq}/q_{eq} = (K_d/ q_{max}) + (1/q_{max}) * C_{eq} \quad (5)$$

په پورته فورمول کې: C_{eq} د باقي پاتې فلز غلظت دی، q_{eq} د بيولوژيکي جذب کوونکي پر مخ د جذب شوي فلز تعادلي اندازه ده، K_d ثابت دی چې د جذب انرژۍ پورې اړه لري او هر کله چې د جذب د بانډ قدرت زيات شي، هغه کمېږي. د فروندليخ تجربوي فورمول د جذب شوې مادې د اندازې (q_{eq}) او باقي پاتې فلز غلظت (C_{eq}) د نسبت پورې اړه لري، چې په ۲ رابطه کې ښودل شوی دی:

$$q_{eq} = K_F (C_{eq})^{1/n} \qquad (6)$$

د رګرسيون خطي انالیز د کادميم د جذب تطابق د نوموړي مودول سره ښايي. د بايوساليد په واسطه د کادميم جذب د لانګموير او فزوندليخ د مودولونو په تطابق سره کوم ضريبونه چې لاسته راغلي، په ترتيب سره ۰,۹۹ او ۰,۹۲ سره مساوي دي، نو په دې اساس د بايوساليد په واسطه د کادميم جذب د لانګموير د مودول پيروي کوي. د رګرسيو خطي معادله (y= 2.7084x + 0.2827) د ۵ رابطې په مقايسه دا مشخصوي چې: $1/q_{max} = 2.7084$، نو په دې اساس د کادميم د اعظمي جذب (q_{max}) اندازه ۰,۳۷ ملي مول کادميم په يو ګرام وچ بايوساليد (۴۱,۵ ملي ګرامه پر ګرام) کې محاسبه شوی او نظر $K_d/q_{max} = 0.2827$ ، د لانګموير ثابت K_d=0.1044 ملي موله په يو ليتر کې (۱۱,۳ ملي ګرامه پر يو ليتر) لاسته راځي.

پايله:

د کادميم د جذب د تعادل وخت کولای شو چې په ۰,۲۵ ، ۰,۷۵ او ۱,۵ ملي مولار غلظتونو کې ۳ ساعته په نظر کې ونيسو چې د هغوی د جذب تحرک د دويمې درجې مودول سره مشابه دی. د pH زياتوالی د ۲ څخه ۳ ته د جذب د نسبي زياتوالي باعث شوی او د pH زياتوالي د ۳ څخه ۴ ته د جذب د ليد وړ زياتوالي سبب شوی او د pH زياتوالی د ۴ څخه وروسته په جذب کې کم زياتوالی ايجادوي؛ نو په دې اساس د کادميم د جذب زياترين اندازه د pH د پورتني قيمت په ۴ کې مشاهده کېږي او کله چې pH مساوي د ۲ سره وي، ويلای شو چې جذب صورت نه نيسي. په ۰,۲۵ او ۰,۷۵ غلظتونو کې د کادميم د جذب لپاره د مخلوط کولو مناسبه اندازه په يوه دقيقه کې ۱۵۰ څخه تر ۲۵۰ دوره ده. د بايوساليد په واسطه د کادميم د جذب اعظمي ظرفيت (q_{max}) اندازه د لانګموير د مودول مطابق ۰,۳۷ ملي مول کادميم په يو ګرام وچ بايوساليد (۴۱,۵ ملي ګرامه پر ګرام) کې ده. د بايو مسو په مقايسه د بايوساليد په واسطه د کادميم د جذب ظرفيت د توجه وړ دی، چې مکملې مطالعې لپاره زمينه مساعدوي.

Abstract:

This study was conducted to investigate the adsorption of Cadmium from aqueous solutions by using the powder of excess sludge (bio solid) from municipal wastewater, at 24 to 26^{0}C, a pH value of 2 to 6, over a contact time of 5 – 420 minutes, and at 50 to 300 rpm stirring rate in a batch reactor on the laboratory scale. The pretreatment of bio solids consisted of dewatering, grinding, and grainsizing with sieves (mesh dimensions between 50 and 120). According to the results, the best conditions for bio solids to adsorb Cadmium was pH = 4, 120 minutes of contact time, and a stirring rate of 200rpm. Cadmium adsorption was observed after two hours. The adsorption isotherm was in accordance with the Langmuir model. Maximum adsorption capacity of bio solids (q_{max}) was estimated at 0.38 m-mol/g of dry biosolid (41.5 mg/g) and the Langmuir constant (K_d) was found to be 0.1044 m-mol/lit (11.37mg/lit).

References:

1. Antunes. W. M. , Luna. A. S, Henriques. C. A , and Da Costa. A. A. An evaluation of copper biosorption by a brown seaweed under optimized conditions. Electronic Journal of Biotechnology. Pp. 174-184.
2. AWWA. Water quality and treatment. 4th Ed. McGrow-Hill. Inc. New York. 1990. Pp. 208-216.
3. Baird. C. Environmental chemistry. W.H. Freeman and Company. New York. 1995.
4. Gadd. G. M. Heavy metal accumulation by bacteria and other microorganisms. Experientia. 1990.

5. McCabe. W, Smith. J. and Harriot. P. Unit operation of chemical engineering. 4th Ed. McGrow-Hill. Inc. New York. 1992. Pp. 105-108.
6. Norton. L, Baskaran. K and McKenzie. T. Biosorption of zinc from aqueous solutions using biosolids. Advances in Environment Research. 2004. Pp.629-635.
7. Stoeppler. M. Hazardous metals in the environment, Elsvier science Publisher Amsterdam. 1992.
8. Volesky. B. Detoxification of metal-bearing effluents. John Wiley & Sons INC. New York. 2001. Pp. 203-216.
9. Watts. R. J. Hazardous wastes. Sources, pathways, receptors. John Wiley & Sons INC. New York. 1994.
10. Weng. C. H. removal of nickel from dilute aqueous solution by sludge-ash. Journal of Environmental Engineering. Pp. 716-722.
11. WHO. Guideline for drinking water quality. Vol 2. 2nd Ed. WHO Geneva.
12. Yan. G and Viraraghavan. T. Heavy-metal from aqueous solution by fungus Mucor rouxii. Water Research. Pp. 4486-4496.

پوهنمـــــل صـــــديق الله (کـــــريمي)
شرعياتو پوهنځی- اسلامي تعليماتو څانګه

په اسلام او هندواله کې د اله مفهوم او تصور څېړنه

لنډيز:

په دې علمي او څېړنيزه مقاله کې چې (په اسلام او هندواله کې د إله مفهوم او تصور څېړنه) تر سرليک لاندې ليکل شوې، په اسلام او هندو مذهب کې د إله مفهوم او تصور په اصلي او حقيقي بڼه بيان شوی؛ د إله (معبود) په اړه د هندوانو عقيده څېړل شوې او د علمي قوي دلايلو په رڼا کې پرې رد هم شوی دی.

سريزه:

دا چې د اسلام سپېڅلی دين ځمکې ته د الله جل جلاله د اخرني پيغام په توګه راغلی، ددې وړتيا او صلاحيت لري، چې په هر ډول حالاتو کې د تطبيق وړ واوسي؛ د انساني مصالحو ساتونکی او د هر ډول فساد په مخکې د يو محکم دېوال حيثيت لرونکی دين دی. همدا راز د يوې داسې سالمې، هوسا، همکارې او پرمختللې ټولنې رامنځته کول دي، د داسې وګړو په وسيله چې د پوهې او اخلاقو په ګاڼه سمبال او د دين او وطن په مينه روزل شوي وي. څرنګه چې مسلمانان له نورو قومونو او مذاهبو سره په نړۍ کې ګډ ژوند لري، نو ځکه مسلمانان اړ دي، چې د خپل مبارک دين تر څنګ د نورو باطلو ډلو له افکارو او عقايدو ځان خبر کړي، چې د اسلام د سپېڅلي دين حقانيت ورته څرګند او د باطلو ډلو- ټپلو بطلان ورته معلوم شي.

موخې:

- د هندوانو په عقيده کې د إله تصور او د اسلامي شريعت په رڼا کې يې ردول.
- په اړونده موضوع کې د مسلک خاوندانو او لوستونکو ته د ګټورو معلوماتو برابرول.

د إله د کلمې پېژندنه:

إله يوه عربي کلمه ده، چې له (ا، ل، ه) څخه جوړه ده؛ له نوموړيو تورو څخه جوړې شوې کلمې او د هغې معناګانې په عربي ژبه کې په لاندې ډول دي:

- (ألهت الى فلان) أى سكنت إليه. ژباړه: هغه ته په پناه ورورلو کې مې ډاډ ترلاسه کړ.
- (أله الرجل يأله) اذا فزع من أمر نزل به فألهه غيره، أى أجاره. ژباړه: ديو مصيبت د راښکته کېدو له وېرې د ځان د بچ کېدو هڅه کوي.
- (أليه الرجل إلى الرجل) أى اتجه إليه لشدة شوقه إليه. ژباړه: د ډېرې مينې له امله يې هغه ته مخه کړه.
- (أله الفصيل) إذا ولع بأمه. ژباړه: يعنې د مور سره يې ژوره مينه ده.
- (أله، إلاهة، وألوهة) أى عبد. ژباړه: عبادت يې وکړ.
- و قيل الا له مشتق من (لاه، يليه، ليها) اى إحتجب. ژباړه: له چا څخه پټ او په پرده کې شوی دی.

که چيرې په پورتنيو معناګانو کې پوره غور وشي، نو ورڅخه څرګند ېږي چې د (أله، يأله، إلهة) معنا عبادت او لمانځنه ده، او د إله معنا (معبود) دی. ددې په خاطر چې موضوع لاروښانه شوي وي، په لاندې څو ټکو کې يې مفهوم داسې بيانوو:

۱. د انسان په ذهن کې د عبادت لپاره لومړی ولولې راپيدا کېدل د انسان د اړتيا څخه رامنځته کېږي. انسان تر هغې د إله د عبادت تصور نه کوي، تر څو دی په دې ډاډمن نشي، چې دده حاجتونه او اړتياوې هغه پوره کولای شي، په ستونزو او کړاونو کې ورسره مرسته کولای شي، او همدارنګه په اندېښنو او غمونو کې پوره ډاډ وربخښلی شي او که نه؟

۲. کله چې انسان کوم ذات خپل اړتيا پوره کوونکی وبولي، له نوموړي تصور سره دا خبره حتماً تړلې وي، چې هغه به له ځان څخه پورته او لوړ ګڼي، يوازې د مرتبې په لحاظ نه، بلکې د توان او ځواک په لحاظ يې هم پورته او لوړ ګڼي.
۳. دا هم حقيقت دی، چې په کومو اسبابو او وسايلو د انسان اړتياوې پوره شي او د انسان د سترګو په وړاندې صورت ونيسي او يا هم کم ترکمه د هغه علم پرې راشي؛ هرو مرو د داسې شيانو په هکله د انسان په فکر او ذهن کې د عبادت او لمانځنې تصور او خيال هم راپيدا کېږي.
۴. کله چې يو انسان د چا په هکله دا ګومان وکړي، چې د اړتيا په وخت کې يې حاجت پوره کولای شي، په خطر کې پناه ورکولای شي او په اندېښنو او غمونو کې ډاډ او اطمينان وربخښلی شي. د داسې چا په هکله د انسان هر ډول پاملرنه او توجه حتمي وي.
د پورتني تحقيق او څېړنې څخه دا څرګنده شوه، چې د معبود لپاره د (إله) کلمې استعمالول او له هغې څخه لاسته راغلی مفهوم په دې ډول دی، چې حاجت او اړتيا پوره کوونکی، پناه ورکوونکی، ډاډ او اطمينان بخښوونکی، پورته والی او لوړوالی، واک او اختيار درلودونکی او داسې نور.....(۹:ج۱م۹)

په هندو مذهب کې د إله مفهوم او تصور:

اوس مونږ د إله د لفظ د بيان څخه وروسته لومړی په هندو مذهب کې د إله مفهوم او تصور څېړو، چې دا څرګنده شي، چې هندوان څه ډول او په څومره خدايانو ايمان لري. که چېرې له عامو هندوانو څخه پوښتنه وشي، چې تاسې په څومره خدايانو ايمان لرئ؟ هغوی به هرومرو بېلابېل ځوابونه ولري؛ څوک به ووايي چې په درېو خدايانو ايمان لري، څوک به ووايي چې په پنځه دېرشو، څوک به ووايي چې په زرو، څوک به ووايي چې په درې سوه او دېرشو مليونو خدايانو ايمان لري. مګر که همدا پوښتنه د يو باسواده هندو څخه چې د خپل مذهب په اړه ورته بشپړ معلومات وي، وشي، نو د هغه ځواب به هرومرو د نورو هندوانو څخه مختلف وي. هغه به په ځواب کې ووايي چې د هر هندو لپاره پکار ده، چې يوازې په يو خدای جل جلاله ايمان ولري او بس. دلته د هندوانو د مسلمانانو سره اختلاف يوازې په اضافت کې دی؛ هندوان وايي چې ونه، لمر، سپوږمۍ او انسان خدايان دي. مګر برعکس مسلمانان بيا وايي نوموړي شيان خدای جل جلاله پيدا کړي دي او په خپله بذاته خدايان نه دي؛ ځکه د هر شي مالک او خالق الله جل جلاله دی، چې قرآنکريم په دې خبره ګواه دی، الله جل جلاله په دې هکله فرمايي:
اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ (۱:الزمرسورت ۲۲ايت). ژباړه: الله جل جلاله د هر شي پيدا کوونکی دی او په هر شي باندې وکيل (ساتونکی) دی.(۲:ج۲م۹۲۹)

اوس راځو د هندوانو هغو درې مشهورو خدايانو ته چې په هندو مذهب کې ډېر شهرت لري او هر يو يې په تفصيل سره شرحه کوو:

په هندو مذهب کې درې ګوني خدايان:

هندو مذهب د برهمنانو (هندوانو) اصلي دين ګڼل کېږي، چې إلهي تصور يې د درېو خدايانو مجموعه ده، چې په سانسکريتي ژبه کې ورته (تريموتي) ويل کېږي، چې عبارت دي له:
۱. برهما: يعنې د ټولو کائناتو پيدا کوونکی خدای.
۲. سيوا: د مرګ او هلاکت خدای.
۳. ويشنو: ژوند ساتونکی خدای.
هندوان عقيده لري، چې په عالم کې همدا درې خدايان وجود لري، چې د هندوانو د خاصو او عامو عقيدوي مرجع بلل کېږي؛ د زمانې په تېرېدو سره واړه خدايان په دې درېو خدايانو کې مدغم شوي دي. دې درېو خدايانو ته د هندوانو په (مها بها راتا) نومي کتاب کې هم اشاره شوې ده او د وخت په تېرېدو سره د هغوی په اړه په ليکنو او آثارو کې هم ذکر او يادونه شوې ده، چې دا په دوه مجموعو کې دي چې عبارت له (پودانه او تنتره) څخه دي. په پيل کې هندوانو ګومان کولو چې هر يو

ددې درېو خدايانو څخه د يو بل بشپړوونکي دي، مگر وروسته د هغوی د پيروانو د رقابتونو په نتيجه کې د هغې برخلاف ځينې تحولات رابرسېره شول، چې شرحه يې د (پودانه) په اتلس تاريخي داستانونو کې راغلې ده. بالاخره ددې درېو خدايانو د (پودانه) مجموعه، د فولکلور افسانې او حکايتونه وگرځېدل. هر هندو نومورو خدايانو ته په ښځو قايل شول، چې (شکتي) نومېږي. د هر يوه په باره کې رسالې او ليکنې وجود لري، چې د (تنتري) مذهب اصول او مبادي تشکيلوي. (۱۲م۱۹)

۱. برهما: دا د پيدايښت خدای دی او ډېر لږ د عبادت وړ گرځېدلی دی او په ټول هندوستان کې د برهما اړوند شپږ ځانگړي معبدونه وجود لري. د هندوانو د خدايانو خدای (رب الارباب) نومېږي، چې د نړۍ د پيدايښت نه وروسته د ځمکې پر مخ بل څه کار او فعاليت نلري، سره له دې چې هندوان تر دې دمه ورته احترام لري، د هغه صورت د يو بادشاه په شکل جوړوي، چې څلور سرونه لري او د ويدنو (د هندوانو د کتاب) په لوستلو بوخت دی. هندوان هغه په سپينې مرغابۍ سپور نقاشي کوي، چې البته دا د هغه د مقام او منزلت د لوړوالي څرگندونه کوي. (۱۲م۲۴)

۲. سيوا: سيوا د هندوانو په عقيده يو ستر او لوی خدای دی. هغه ته د (مهادوه) لقب ورکړل شوی دی او په ډول ډول سپېڅلو صفاتو ورته قايل دي، لکه د (اودره) په څېر هغه هلاکوونکی خدای يې گڼي. د (يگورويدا) په کتاب کې راغلي، چې (سيوا) قهار، جبار، معذب او مهلک خدای دی؛ آن تر دې چې وچه پاڼه د ونې نه راولېږي، چې د هغه قدرت پکې دخيل گڼي؛ مگر دوی وايي چې (سيوا) سره د دومره صفاتو يوازې د شر او فتنو سرچينه او منبع ونه گڼو، بلکې د هغه نوم د خوشحالتيا او تبرک موجب هم دی. د هندو پخوانيو قبايلو نيکونو له هغه نه په ويدونو (ليکنو) کې په بېلابېلو نومونو او القابو يادونه کړې. د (سيوا) لقب چې نورو خدايانو ته هم ويل شوی، دده خاصه گرځول شوې ده، پرته له دې نه چې د موجوداتو د هلاکېدو قوت په لاس کې ولري، موجوده صفات هم ورکړل شوي دي. د چين پخوانيو قبايلو گومان کاوه، چې (سيوا) په غرونو کې مقام لري؛ کله کله په ډاگونو او ميدانونو حمله کوي او د صحراوو او سېدونکو ته ډول ډول مصيبتونه راوړي، مگر وروسته چې يې د غرونو په لمنو کې سپينې او شنې گياوې وليدلې، نو په دې باوري شول چې دا هم د (سيوا) برکت او پېرزوينه ده، چې خلک ترې استفاده وکړي، او دا عقيده يې ترلاسه کړه چې (سيوا) ددې نه علاوه د خير فکر هم لري. هندوان عقيده لري چې (سيوا) حيواناتو او نباتاتو ته نوی ژوند وربښونکی دی، د نباتاتو په راټوکېدو او د نسلونو په کثرت او زيادت کې د هغه لاس دی. له همدې کبله د نارينه او ښځې جنسي غړي دواړه په خپلو اشکالو سره په کورونو او معبدونو کې ږدي او عبادت يې کوي. په غالب گومان د (سيوا) انځور داسې انځوروي چې د نڅا او گډا په حالت کې دی، په لاس کې طبله لري او اوبه يې له زلفو جاري دي. دوی په دې باور دي، چې د (سيوا) گډا او نڅا د تولد او تناسل رمز دی، د تندي په منځ کې درېمه سترگه لري او په غاړه کې غاړکی لري. د (سيوا) په ځينو تصويرونو کې هغه د ژور فکر په حالت کې ښکاري او هغه څوک هغه ته نژدې وي، چې خپل نفساني خواهشات يې تر پښو لاندې کړي وي. په همدې اساس دوی بايد خپل جسدونه وسوځوي، چې منور شي او خواهشات يې مړه شي، تر څو (سيوا) ته نږدې شي. (۱۱:ج۱م۲۷۶)

د سيوا مېرمنې: د (سيوا) فعال او ايجادوونکي صفات د هغه په مېرمنو کې هم څرگند دي، چې په مختلفو نومونو سره په مختلفو سيمو کې يادېږي، لکه پاراباتي، اوما، چاندي، کالي). دا ښځينه خدايان دي، چې د گټې او ضرر دواړو رسوونکي دي او ډول ډول مرضونه خپروي. (کالي) د بنگال په آيالت کې د ټولو د مور په نوم ستايل کېږي او گڼ شمېر خلک د هغې خدمت ته ځانونه وقف کوي. د (سيوا) د مېرمنو څخه يوه (گنيشه) نومېږي، سر يې د فيل او نور شکل يې د انسان دی. دا د (سيوا) په ټولو عبادت ځايونو کې ليدل کېږي او د قوت رمز يې گڼل کېږي. د (سيوا) د مېرمنو عبادت او ستاينه په هندوانو کې خاص مقام موندلی، چې د (شکتي يا انوثيت توان) په نامه يادېږي او د هند په شرقي سيمو کې د يو مستقل مذهب شکل يې ځانته غوره کړی. دا مذهب په دوه ډوله دي:

۱. د ښي لاس مذهب.

۲. د کيڼ لاس مذهب.

د ښي لاس مذهب فلسفي اړخ لري او مفيد گڼل کېږي؛ دا د مرگ او ژوند د فلسفې نه جوړ دی، چې د وروستنيو پېړيو شاعرانو لکه (ټاگور، راماکريشنا) د هغې په اړه خبرې کړي او (شکتي) يې د (مايا) سره چې په (اوپانيشادونو) کې موجود

دی، رابللی دی. مگر د کينې لاس مذهب گمراه کوونکی اړخ لري، چې ټول رواجونه او عبادات يې په سحر ولاړ دي. د (سيوا) دوه مېرمنې (دورگا، کالي) ددې مذهب نماينده گان دي، چې په پټ او ښکاره ځايونو کې عبادتي مراسم ترسره کوي او په بربنډه توگه ورته گډېږي، بيا د وينو گډ شراب څښي او جنسي اعمال ترسره کوي. همدارنگه پنځه کارونه چې په (ميم) سره پيل کېږي، په هندو مذهب کې حرام دي، چې عبارت دي له ماريا (شراب)، مانسا (غوښه)، ماتس (ماهي)، مودرا (حبوبات)، او ميتوفار (جنسي موافقه)؛ مگر يوازې په محرمانه محافلو کې نوموړي شيان ترسره کول مباح دي او دا د نفس تزکيه گڼي، چې شهواني قوه په کنترول کې راولي. (۱۱:ج۱م۲۷۷)

۳. ويشنو: د هندوانو د درې گونو خدايانو څخه يو خدای (ويشنو) دی، چې ساتونکی گڼل کېږي. دا د خيرات او ميراث منشا ده او د لطف او مهربانۍ کامل مظهر گڼل کېږي. هغه د اسمان دپاسه د مخلوقاتو د اعمالو مراقبت کوي او کله چې وگوري يو کس د هلاکت سره مخ دی، خپلې قواوې د هغه مرستې ته ورلېږي او د هغه سره مرسته کوي. له همدې کبله هندوان نسبت نورو خدايانو ته ددې خدای زياته ستاينه کوي او د هغه انځور د څلورو لاسونو سره رسموي، چې په دوه لاسو کې يې د سلطنت رمز او نښه نيولې، په دوه لاسونو کې يې يوه اوسپنيزه کړۍ او د سحر او جادو قوي نښې نيولې دي، په سر يې تاج دی، پښې يې شنې، جامې يې زيړې او شنې اسماني سترگې لري، چې هندوان يې ځانته راجذب کړي. د هغه مېرمن د سعادت او ښايست خدای گڼل کېږي او (لکشمي) نومېږي. هندوان وايي: (کله چې د (بالي) په نوم ديو (ديو صفته انسان) د ځمکې پر سر حاکم ؤ، (ويشنو) د وړوکي انسان په شکل کې ورته حاضر شو او په ډېرې عاجزۍ سره يې ترې وغوښتل، چې ده ته په ځمکې کې لږ ځای ورکړي، چې ترڅو قدمونه يې اوچت کړي؛ (بالي) وخندل او د هغه غوښتنه يې ومنله، (ويشنو) په دوه گامونو سره ټولې ځمکې او اسمانونه ووهل، خپله اصلي بڼه يې راښکاره کړه، د لوی الوهيت څښتن شو، چې ځمکه يې انسانانو ته ورکړه او اسمانونه يې نورو خدايانو ته ورکړل؛ مگر دريم گام يې پورته نکړ، ځکه چې دوزخ باقي پاتې شي او هغه يې اهريمن (دښمن) ته پرېښود. هندوان عقيده لري، چې (ويشنو) د ضرورت سره سم له اسمان نه ځمکې ته راکوزېږي، په مختلفو شکلونو ځان جوړوي، د انسانانو او حيواناتو په بدن کې دننه کېږي. (۱۲م۲۵)

د ويشنو راښکاره کېدل: د (ويشنو) ښکاره کېدل او له اسمانه ځمکې ته د راکوځېدو په اړه د ليکل شويو روايتو په اساس لس ځلې ښکاره کېدل ثابت شوي دي، مگر مروج اعتقادات په دې عدد زياتونه کوي، او وايي چې د هغې له جملې څخه تر دې دمه د (ويشنو) نهه ځلې ښکاره کېدل ليدل شوي او لسم يې پټ دی. د نوموړي دغه ښکاره کېدل په لاندې ډول دي:

لومړی ځل د يو پهلوان په صورت کې ښکاره شوی، چې (راما) نومېده، دويم ځل د (کريشنا) پهلوان په صورت کې ظاهر شوی، دريم ځل د (ونژوان) په شکل ظاهر شوی، څلورم ځل د يو ماهي په شکل ظاهر شوی او يو سړی، چې (مانو) نومېده، د ډوبېدو څخه يې وژغوره؛ پنځم ځل د يوې شمشتۍ په شکل ظاهر شو، همدارنگه د انسان (برهمني) په شکل او په آخر کې (د بودا) په شکل رامنځته شو، چې په نړۍ کې د هغه نه د بودا دين رامنځته شو. په لسم ځل به (ويشنو) په راتلونکي کې د (کالي) په صورت راښکاره کېږي او د عيسی (ع) په څېر به د بشر د نجات لپاره په هغه توره چې (اودتري) نومېږي، چلوي؛ په آس به سپور وي، د حق دعوت به کوي او باطل به له منځه وړي. لکه څرنگه چې ليدل کېږي، د بودا ېزم د مؤسس نوم د (ويشنو) د تجلياتو په فهرست کې ذکر شوی، دا هغه تدبير ؤ، چې په هند کې رامنځته شو، چې د هندواله او بودا ېزم تر منځ سوله وکړي او په هند کې سوله راوړي. د (ويشنو) له دې تجلياتو نه د (راما) او (کريشنا) په صورت کې ظاهرېدل د هند وگړو ته خاص ارزښت لري، چې (راما) په هندي حماسو او ورځپاڼو کې د مېړانې کامل مظهر گڼل کېږي. همدا راز د هغه مېرمن (اوسيتا) هم د انوثيت کامله ښکارندوی او صفت کوونکې گڼل کېږي. (کريشنا) هم د (راما) په څېر ستايل کېږي او خلک يې عبادت کوي. دا په هندوانو کې خاص او ستر منزلت نه برخمن دی، چې د خدايانو مظهر ورته وايي. د (مهابها) کتاب يې ډېر صفت کړی او هغه يې د (شپېليو شپونکی) گڼلی او په ټول هند کې زيات ستايل کېږي. له دې څخه د ځوانانو احساس او فکر راپورته کوي، ځکه چې (ويشنو) د ټولو مظهر او (کريشنا) يې تجسم دی. په بل مظهر کې (کريشنا) د ځوانۍ او خوشحالۍ په توگه راغلی، چې په عامو افسانو او کيسو کې لوړ مقام لري. په زرگونو هندي ښځې په ورځ کې د (کريشنا) عبادت کوي، مجسمې ته يې په اخلاص سره گوري او کله کله هغه د يو شپونکي په څېر راښکاره کوي، چې

شپېلۍ يې په شونډو وي او خپلې رمې په زړه راښکونکو نغمو سره ځاري. د (ويشنو) په اړه رانقلوي، چې هغه له سلو ښځو سره ودونه کړي وو. د بنګال هندوانو په وړاندې (کريشنا) د (راد) په نوم يوه مېرمنه درلوده، چې د هغه ابدي ښځه ده او د (ويشنو) د دين پيروان د دواړو عبادت کوي. دوی په دې عقيده دي چې هر څوک په ډېر اخلاص سره ددې دوه وو خدايانو عبادت وکړي، د مرګ پر مهال چمنونو ته وړل کېږي، چې هلته (کريشنا) د خپلې مېرمنې سره د تل لپاره په عشق، عياشۍ او فحاشۍ کې بوخت دی. ددې خدايانو سره مينه يو ډول عشقي رمز لري او د تصور په نړۍ کې د (کريشنا) لپاره پاک او د شهوت څخه خالي عشق ته قايل وي. (۱۱:ج۱م۲۷۸)

په اسلام کې د إله تصور او مفهوم:

په اسلام کې د يو إله تصور موجود دی، داسې إله چې هيڅ شريک او مثل ونلري، داسې خدای چې د پوره واک څښتن دی، چا ته محتاج ندی، نه له ده څخه څوک زېږېدلي دي او نه دی له چا څخه زېږېدلی، او هيڅ سيال هم نلري. په دې هکله الله جل جلاله داسې فرمايي:

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ Á اَللّٰهُ الصَّمَدُ Ą لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ Æ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ C (۱:الإخلاص سورت ۴-۱آيتونه) ژباړه: ووايه (ای محمده صلی الله عليه وسلم! دوی ته) شان دادی چې الله جل جلاله يو دی (په ذات او صفاتو خپلو کې)، الله جل جلاله بې پروا دی (الله جل جلاله ته هر شی محتاج دی)، نه يې دي زېږولي (هيڅوک) او نه دی زېږول شوی دی (له هيچا نه) او نشته دی دغه (الله جل جلاله) لره برابر سيال هيڅوک. (۲:ج۲م ۱۷۷۹-۱۷۷۸)

مسلمانان د يو خدای جل جلاله بنده ګي کوي او هر څه د هغه زېږنده بولي؛ ټول باطله آلهة ردوي، داسې ذات چې ډېر مهربانه او رحم کوونکی دی. په دې اړه په يو بل ځای کې الله جل جلاله داسې فرمايي:

وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۱۶۳ــ(۱:د البقرى سورت ۱۲آيت). ژباړه: او معبود ستاسې معبود يو دی، نشته دی د عبادت وړ بل څوک، مګر همدی خورا مهربان او پوره رحم لرونکی دی (۲:ج۱م۱۱۰). هغه د ټولو کائناتو خالق دی، د هر شي تدبير د هغه په لاس دی؛ نه په ذات، نه په صفاتو او نه هم په افعالو کې څوک شريک بولي، د ټولو کارونو پای همده ته کېږي، دی اول او هم آخر دی، ظاهر او هم باطن دی، په هر شي باندې قادر دی، څه يې چې زړه وغواړي هغه کېږي، د اسمانونو او ځمکو اختيارات د همده په لاس دي؛ عزت او ذلت ورکولو والا دی، خوښي او خپګان له ده سره دی، مرګ او ژوند دده په لاس دی، د انسانانو هدايت او ګمراهي دده په واک کې ده، دده په احکامو منلو کې کاميابي ده او په نه منلو کې يې رسوايي او ناکامي ده، د نېکانو ملګری او د بدانو دښمن دی. همدارنګه د البقرې سورت کې داسې فرمايي: وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ۱۱۶ــ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۱۱۷ــ(۱:د البقرې سورت۱۱۲ـ ۱۱۷آيتونه). ژباړه: او وايي (کفار- يهود او نصاری) داسې چې نيولی دی الله جل جلاله زوی، پاکي ده ده لره (له ځوی څخه)، بلکې ده لره، دی هر هغه شيان چې په اسمانونو او ځمکې کې دي، ټول دده حکم منونکي دي؛ نو پيدا کوونکی د اسمانونو او ځمکو دی او هر کله چې اراده وکړي د يوه کار، نو بې له شکه هم دغه خبره ده، چې وايي هغه کار ته چې وشه! نو هغه وشي. (۲:ج۱م۷۸)

همدارنګه الله جل جلاله د البقرې په سورت کې داسې فرمايي:

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ 21 الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَاۗءَ بِنَاۗءً ۠ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ 22ــ (۱:د البقرى سورت ۲۱-۲۲ آيتونه)

ژباړه: ای خلکو! عبادت وکړئ د رب خپل هغه (رب) چې پيدا کړي يې تاسې او هغه کسان چې وو پخوا له تاسې څخه، لپاره ددې چې تاسې ځان وساتئ (د الله جل جلاله له عذابه) هغه (رب) چې ګرځولې يې ده تاسې ته ځمکه فرش او اسمان چت او نازلې کړي يې دي له اسمانه اوبه، پس راويې ويستې په دې (اوبو) له هر ډول مېوو څخه روزي تاسې ته، نو مه ګرځوئ تاسې له الله جل جلاله سره شريکان، حال دا چې تاسې ښه پوهېږئ (چې الله جل جلاله شريک نلري). (۲:ج۱م۱۷)

څومره انبياء چې الله جل جلاله خپلو قومونو ته رالېږلي وو، د ټولو يوه خبره وه او هغه دا چې تاسې د يو الله جل جلاله بنده ګي وکړئ، او ستاسې لپاره بل معبود نشته. په دې هکله الله جل جلاله داسې فرمايي:

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ 25ــ (۱:الأنبياء سورت ۲۵ايت)

ژباړه: او نه ؤ لېږلی پخوا له تانه هيڅ رسول، مگر چې وحې به کوله مونږ هغه ته (داسې) چې بې له شکه شان دادی چې نشته دی د عبادت وړ، مگر زه يم (يوازې) نو بنده گي کوئ تاسې زما (۲:ج۲م۱۴۲). همدارنگه د همدې سورت په يو بل ځای کې فرمايي:

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ۭ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ (۱:الأنبياء سورت ۲۴آيت).

ژباړه: ايا نيولي دي (مشرکانو) بې له دغه الله جل جلاله څخه نور معبودان، ووايه (ای محمده صلی الله عليه وسلم!) دوی ته چې راوړي خپل دليل. (۲:ج۲م۱۴۰)

د نوح عليه السلام په هکله الله جل جلاله داسې فرمايي:

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ (۱:الأعراف سورت ۵۹ايت).

ژباړه: قسم دی په تحقيق سره لېږلی ؤ مونږ نوح په لوري د خپل قوم، نو وويل (نوح) ای قومه زما! تاسې د يو الله جل جلاله عبادت وکړئ، تاسې ته له ده (الله جل جلاله) څخه بغير بل معبود نشته (۲:ج۱م۸۸۷). ډېری پيغمبران لکه نوح، إبراهيم او داسې نور د إلهي اوامرو او احکامو پابند وو، او هغه پاک ذات ته يې سر ټيټ کړی ؤ، تر دې چې إبراهيم عليه السلام غوښتل چې خپل زوی د خدای جل جلاله په حکم قرباني کړي، چې الله جل جلاله دی په خپل امتحان کې کامياب او دده ځوی ته يې نجات ورکړ. کله چې نوح عليه السلام د خپل قوم د هدايت او لارښوونې څخه مايوسه شو، د خدای جل جلاله په حکم يې يوه بېړۍ جوړه او د هر جنس څخه يې پکې يوه يوه جوړه واچوله، چې الله جل جلاله ورته له طوفان څخه نجات ورکړ او باقي قوم يې هلاک شو. دې خبرې ته قران کريم دارنگه اشاره کړې ده:

حٰمٓ اِذَا جَاۗءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ۭ وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ 40ــ (۱:هود سورت ۴۰ايت).

ژباړه: تر هغې پورې کله چې راغی أمر (د عذاب حکم) زمونږ او راوخوټېده تنور، وويل مونږ (نوح ته) سواره کړه په دې بېړۍ کې له هرې (نوعې حيوانات) جوړه دوه دوه (نر او ښځه) او اهل خپل؛ مگر مه سوروه هغه چې ړومبۍ شوې ده په ده وينا (او حکم د ډوبېدو) او هغه چې ايمان يې راوړی دی، او نه وو ايمان راوړی سره له دغه (نوح)، مگر لږو خلکو. (۲:ج۱م-۱۲۲۰ ۱۲۲۱)

الله جل جلاله په خپلو بندگانو ډېر مهربانه دی، د عاجزانو سوال او غوښتنې په اسانۍ سره مني، ظالمانو ته سخته سزا ورکوونکی دی؛ هر شی دده د حکم تابع دی او بالاخره که هر طرف ته انسان مخ واړوي، نو خپل خالق به بيامومي، چې په دې اړه الله جل جلاله داسې فرمايي: وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۱۱۵ــ

(۱:د البقرې سورت ۱۱۵ايت). ژباړه: او خاص الله جل جلاله لره دي مشرق او مغرب، نو هر لوري ته چې مخ واړوئ، نو همدغه لوری د الله جل جلاله د طاعت دی (۲:ج۱م۷۷). د إبراهيم عليه السلام واقعه له نمرود سره قران کريم داسې بيانوي:

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَاۗجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ۭ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۲۵۸ــ (۱: د البقرې سورت ۲۵۸ايت)

ژباړه: ايا نه دې ليدلي تا هغه سړي (نمرود) ته چې جگړه يې کړې وه إبراهيم سره په رب دده کې، له دې امله چې ورکړی ؤ ده ته الله جل جلاله ملک (پاچاهي)؛ کله چې وويل ابراهيم رب زما هغه ذات دی، چې ژوندي کوي او مړه کوي، وويل (نمرود) چې زه (هم) ژوندي کوم او مړه کوم؛ نو وويل إبراهيم بې له شکه الله جل جلاله راولي لمر له مشرقه نو ته يې راوله هغه له مغربه! پس خړ شو هغه چې کافر شوی ؤ، او الله جل جلاله نه ښيي قوم د ظالمانو ته سمه لار. (۲:ج۱م۲۱۳)

د بقرې په سورت کې د عزير عليه السلام د مرگ د واقعې بيان، د کهف د ځوانانو واقعه له (۲۷-۱۱ايت) پورې د توحيد د عقيدې درس دی، هغه داسې چې (د دقيانوس په زمانه کې يو شمېر ځوانانو چې شمېر يې په قران کريم کې هم نه دی مشخص شوی، د دقيانوس له غلامانو څخه وو، چې د نوموړي په خدايۍ قايل نه وو، يو له بل سره يې مشوره وکړه چې دې هيڅکله خدای کېدای نشي؛ هرومرو داسې يو ذات شته چې مونږ يې پيدا کړي يو. د نوموړي پاچا له وېرې يې يو غار ته چې (کهف) نومېده، پناه يوړه چې يو سپی هم ورپسې ؤ، خدای جل جلاله دوی او د دوی سپی درې سوه او نهه کاله په خواړه خوب ويده کړل، کله چې له خوبه راويښ شول، له دوی څخه يو تن يې بازار ته د سودا اخيستلو لپاره ورغی، کله چې دوکاندار دده په لاس کې پيسې گوري، چې د (دقيانوس) پاچا په زمانې پورې اړه لري، نو حيران شو، د وخت حاکم ته يې

خبر ورکړ، کله چې حاکم او مشران له ده سره بېرته راغله، نو يې وليدل، چې ټول ويښ ناست دي، له هغوی ځنې يې پوښتنې وکړې، دا خبره ورته څرګنده شوه، چې دوی دلته درې سوه او نهه کلونه تېر کړي دي) (۴:ج۱م۲۷-۲۴). چې د قران کريم په کهف سورت کې ورته هم اشاره شوې ده، چې الله جل جلاله داسې فرمايي:

اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا 10ـــ (۱:الکهف سورت۱۰ايت).

ژباړه: ياد کړه هغه وخت چې رجوع وکړه هغو زلميانو غار ته، نو وويل دوی ای ربه زمونږ! راکړه مونږ ته له خپله نزده رحمت، او تيار کړه مونږ ته له دې کاره زمونږ هدايت). (۲:ج۱م۱۲۸۵-۱۲۸۴)

د مسلمانانو په نزد خدای جل جلاله يو دی، بې نيازه دی، نه له ده څخه څوک زېږېدلي او نه دی له چا څخه زېږېدلی دی، په ذات او صفاتو کې شريک او مثل نلري. دی عالم دی، قادر دی، ژوندی دی، سميع او بصير دی. د آسمانونو او ځمکو واکمن دی، عزت او ذلت دده په لاس کې دی، چې په دې اړه داسې فرمايي:

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ۫ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ؕ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ؕ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ 26ـــ(سورت آل عمران۲۶ ايت). ژباړه: ووايه (ای محمده صلی الله عليه وسلم!) يا الله جل جلاله مالکه د سلطنت، ورکوې ته پاچاهي هر هغه چا ته چې اراده يې وکړې، او بېرته اخلې پاچاهي له هر هغه چا نه چې اراده يې وکړې، او عزت ورکوې هر هغه چا ته چې اراده يې وکړې، او ذليله کوې هر هغه څوک چې اراده يې وکړې، په لاس ستا کې خير دی، بې له شکه ته پر هر څه ښه قادر يې. (۲:ج۱م۲۲۷)

ورپسې ايت کې راغلي دي:

تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۚ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۚ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ 27ـــ (۱:سورت آل عمران۲۷ايت).

ژباړه: ننه باسي شپه په ورځ کې او ننه باسي ورځ په شپه کې، وباسي ژوندی له مړي نه، وباسي مړی له ژوندي نه او روزي ورکوې هر چاته چې خوښه دې شي بې حسابه. (۲:ج۱م۲۲۸-۲۲۹)

د (إله) د کلمې څخه (معبود) مراد دی، په قران کريم کې دغه کلمه د حق او باطل دواړو معبودانو لپاره استعمال شوې ده؛ لکه څرنګه چې د حق معبود لپاره استعمال شوې، چې فرمايي: فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (۱:محمد سورت۱۹ايت). ژباړه: نو پوه شه (ای مخاطبه!) شان دادی، چې نشته دی د عبادت وړ، مګر يوازې الله جل جلاله دی (۲:ج۲م۱۱۲۲). دارنګه دغه کلمه په قران کريم کې د باطل معبود لپاره هم استعمال شوې ده، چې الله جل جلاله داسې فرمايي: اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰـهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ (۱:الجاثية سورت۲۳ايت).

ژباړه: ايا پس وينې ته هغه څوک چې نيولی وې ده معبود خواهشات خپل او ګمراه کړی وې الله جل جلاله ده لره په علم باندې (۲:ج۲م۱۱۱۵). کلمه د شهادت نده، مګر د يو خدای جل جلاله په وحدانيت اقرار او اعترف کول دي او دا عقيده درلودل، چې د بنده ګۍ وړ يوازې يو الله جل جلاله دی، چې هيڅ شريک نلري، دا خبره په خوله او زړه دواړو ظاهرول دي (۵:م۱۷-۱۲). لنډه دا چې د اسلام په مبارک دين کې د يو خدای جل جلاله عبادت او بنده ګي ضروري ښودل شوې او هر ډول شرک او کفر رد شوی؛ د الله جل جلاله نه پرته بل چا ته سر ټيټول ناروا او ګمراهي ګڼل شوې ده، د نفعې او ضرر طمع له همده څخه کېږي، دی په هر څه قادر او هيڅ شی دده له علم څخه پټ نه دی، هر څه همده ته محتاج دي او بالاخره د ټولو امورو تدبير د همده په لاس دی، او هر څه دده په اراده چلېږي، نور الهة هيڅ هم نشي کولی.

پايله:

له پورتني بحث څخه دې نتيجې ته رسېږو، چې د (إله) د کلمې څخه مطلق معبود مراد دی او په قران کريم کې دغه کلمه د حق او باطل دواړو معبودانو لپاره استعمال شوې، مګر حقيقي إله يوازې يو الله جل جلاله دی. په ټولو سماوي اديانو په تېره بيا د اسلام په مبارک دين کې د يو خدای جل جلاله د عبادت او بنده ګي امر شوی او هر ډول شرک او کفر رد شوی؛ له الله جل جلاله پرته بل چاته سر ټيټول ناروا او ګمراهي ګڼل شوې ده. الله جل جلاله انسان په همدې خاطر په ټولو مخلوقاتو غوره ګرځولی او عقل يې ورکړی دی، چې د الله جل جلاله وحدانيت او حقانيت په سمه توګه وپېژني. الله جل جلاله ته د بنده ګۍ سر ټيټ او ورته په سجده شي، او د شرک څخه ځان وساتي. الله جل جلاله شرک تر ټولو لويه ګناه بللې او د قران کريم په

بېلابېلو ځايونو کې يې مشرکان په سخت عذاب ګواښلي دي. هر انسان چې د الله جل جلاله څخه پرته بل شي ته سر ټيټ کړي، په دنيا کې به ترې د خلاصون او نجات لاره ورکه وي او په آخرت کې به هم د إلهي عذاب سره مخ وي. په الله جل جلاله باور او ايمان درلودل د انسان د سمون ستره وسيله ده او آخر دا چې اسلامي شريعت د انسان لپاره يوه داسې موحده روښانه، پاکيزه او خوشحاله ټولنه جوړول غواړي، چېرته چې هر وګړی د يو خدای جل جلاله د اوامرو لاندې د اطمينان، خوښۍ او سلامتيا نه ډک ژوند تېرول غواړي.

وړانديزونه:

۱. مسلمانان تل بايد د خپلو سوچه او پاکو اسلامي افکارو او عقايدو څخه په کلکه دفاع وکړي.
۲. مسلمانان بايد د باطلو اديانو او مذاهبو له ګمراه کوونکو افکارو او عقايدو په هکله معلومات ولري او ځانونه ورڅخه وساتي.
۳. له ټولو مسلمانانو په تېره بيا له علم خوښوونکو خلکو څخه مې دا غوښتنه ده چې د تل لپاره د هر چا بې ځايه خبرو ته غوږ ونه نيسي.
۴. له علماء کرامو څخه مې دا غوښتنه ده، چې د نورو شيانو د ښوونې تر څنګ اساسي توجه د خدای جل جلاله وحدانيت ته وکړي او په ټولنه کې د هر ډول شرکياتو او خرافاتو مخه ونيسي.

خلاصة البحث:

تطلق كلمة (إله) فى القرآن الكريم على كل معبود، حقا كان أو باطلا، و لكن اله الحقيقى هو الله سبحانه وتعالى، هو الأحد الذى لاثانى له، هو الصمد الذى يصمد إليه كل شى، لم يلد و لم يولد و لم يكن له كفوا أحد، الإله الحق، لا مثل له ولا ند له، و هو القادر، الخالق، المدبر، فعال لما يريد، لا يعزب عنه مثقال ذرة فى السموات و لا فى الأرض، عالم الغيب و الشهادة، و هو على كل شى قدير، و هو رب كل شئ و لا رب سواه، هو الأول والآخر والظاهر والباطن، و هو بكل شى عليم، ليس كمثله شى، و هو السميع البصير، لذا يجب على الانسان أن يعرف ربه حق المعرفة، و لا يعبد غيره، و أن يتضرع له، و يعتقد أن الخير والشر كلاهما منه، و أن الأمر بيده سبحانه و تعالى، و أما الآلهة الباطلة فلا تملك من الامر شيئا، لا تنفع و لا تضر، لانها مخلوقة لله سبحانه، و قال الله لا تتخذو الإلهين إثنين، إنما هو إله واحد، فإياى فارهبون، و سبحانه أن يكون له ولد، له ما فى السموات و مافى الأرض، يخرج الحى من الميت و يخرج الميت من الحى. و قال: (أو ليس الذى خلق السموات والأرض بقادر على أن يخلق مثلهم، بلى و هو الخلاق العليم؛ إنما أمره إذا أراد شيئا أن يقول له كن فيكون، فسبحان الذى بيده ملكوت كل شئ وإليه ترجعون.) و اما الهنود فهم يؤمنون بالآلهة المتعددة (بالالآف والملايين) فكل ظاهرة كونية إله عند قوم لديهم، فمنهم من يؤمن بثلاثة آلهة، و منهم من يؤمن بخمسة و ثلاثين، و منهم من يؤمن بالآلف الآلهة، و منهم من يؤمن بثلاثين مليون آلهة. فالشجرة عندهم إله، الشمس و القمر عندهم آلهة و حتى الانسان عندهم إله. و هؤلاء يعتقدون بآن للعالم ثلاثة آلهة؛ فالإله برهما، خالق الموجودات، والإله سيفا، إله الموت، ثم الإله ويشنو، إله الحفظ و الآلهة المذكورة تسمى باللغة السنسكريتية (تريموتى) و هى تعنى الآلهة الثلاثة. الإله برهما هو رب الارباب؛ قد بنيت له ستة معابد، و قد صوروا صورة خيالية له بشكل ملك، له أربعة رؤس، يطالع كتاب الهنود، و راكب على بطة بيضاء، للدلالة على علو منزلته. و اما سيوا إله الموت فإله كبير و هو إله القهر و الشر و الفتنة، و احيانا يكون علامة البركة و السعادة ايضا، و يظنون انه يسكن الجبال و يهاجم على السهول، و يصورونه فى حالة الرقص و فى يده طبلة، و الماء جار من ضفائره، و يظنون أنه علامة التولد و التناسل، و له عين ثالث بين عينيه على جبهته، و فى عنقه قلادة (طوق)، و هو فى حالة التفكير العميق. و اما ويشنو إله الحفظ والصيانة، فهو يراقب امور المخلوقات فوق السموات، و يصفونه غاية التوصيف، و يصورونه على ايديهم بشكل على رآسه تاج، اخضر الرجلين، ازرق العينين، اصفر الثوب، حسن الصورة والمنظر، و فى يديه علامة السلطة والسحر وحلقة من حديد، يجذب الناس اليه. فعقيدتهم شبيهة باليهود والنصارى فى التعدد والتثليث، و هى عقيدة باطله و منحرفة لااصل لها فى دين الله عزوجل.

اخځلیکونه:

۱. قرانکریم.
۲. د افغانستان د جیدو علماوو ژباړه. (۱۴۱۴هـ ق). کابلی تفسیر. سعودي عربستان: مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشریف المدینة المنورة.
۳. دراز، عبدالله (۱۹۸۵م). الدین. لبنان: دارالفکر بیروت.
۴. رضایی، عبدالعظیم. (۱۳۸۰هـ ش). تاریخ ادیان جهان- دویم چاپ. انتشارات علمی مهارت کتابتون.
۵. زیدان، عبدالکریم. (۱۹۷۲م). اصول الدعوة- دریمه طبعه. د یو ټولنې په مرسته داکتاب چاپ شوی دی.
۶. شاهد ،ایس.ایم. (۱۳۸۶هـ ش). نړیوالو ادیانو او مذاهبو پېژندنه؛ ژباړن: جمال الدین عرفان. پاکستان: دانش خپرندویه ټولنه پېښور.
۷. عمید ، عبدالرزاق محمد اسود. (۱۴۲۰ هـ ق). موسوعة الادیان و المذاهب. لبنان: دارالفکر بیروت.
۸. فوزی، محمد حمید. (۱۴۲۸هـ ق). عالم الادیان بین الاسطورة و الحقیقة. لبیا: جمیعة الدعوة الاسلامیة العالمیة طرابلس.
۹. مودودي، سید ابوالاعلی. (۱۳۸۸ل). د قران څلور بنسټیز اصطلاحات؛ ژباړن: عبدالواسع صابر. افغانستان: انتشارات اصلاح افکار کابل.
۱۰.مودودي، سیدابوالاعلی. (۱۴۰۹هـ ق). تفهیم القرآن؛ ژباړن: قیام الدین کشاف. پاکستان: مرکزالدعوة الاسلامیة پېښور.
۱۱. ناس، جان بایر. (۱۳۸۲هـ ش). تاریخ جامع ادیان؛ ژباړن: علي اصغر حکمت. ایران: انتشارات علمی فرهنگی تهران.
۱۲. نایک، عبدالکریم ذاکر. (۱۳۸۶ل). په بېلابېلو ادیانو کې د الله په هکله تصور؛ ژباړن: محمد حسین روحاني. پاکستان: میهن خپروندویه ټولنه.
۱۳. نایک، عبدالکریم ذاکر. (۱۳۸۷هـ ش). اسلام او هندواله؛ ژباړن: هجرت الله اختیار. افغانستان: پیر چاپ خونه کابل.
۱۴. نایک، عبدالکریم ذاکر. (۱۳۸۷هـ ش). اسلام او هندو مذهب؛ ژباړن: محمد حسین روحاني. پاکستان: میهن خپرندویه ټولنه پېښور.

...په تېر پسې:

د ننګرهار پوهنتون ژورنالېزم پوهنځي

مرام او موخې

مرام:

- ✓ په افغانستان کې د ژورنالېزم پیاوړتیا او دغه مسلک ته د پوهو او مسلکي کدرونو وړاندې کول.
- ✓ د وړتیا پر بنسټ د ژورنالېستیکو کدرونو روزنه او هغو موخو ته رسېدل، چې د ژورنالېزم په برخه کې یې هیلې او امیدونه شته.
- ✓ د مسلکي وړتیا پر بنیاد د ژورنالېستیکو ادارو پیاوړتیا.
- ✓ د ژورنالېزم په برخه کې له تیوری سره سره د عملي ګامونو پورته کول.
- ✓ په افغانستان کې له معلوماتي او تحلیلي ژورنالېزم سره سره د پلټونکي ژورنالېزم پیاوړتیا.
- ✓ د چاپي، غږیزو او انځوریزو رسنیو د پیاوړتیا لپاره اساسي او بنیادي کار کول.

موخې:

- ✓ په مسلکي ژورنالېزم کې د هېواد لپاره د اړتیا وړ ځوانو کدرونو روزنه، چې په داسې روحیه سنبال شي، چې ورسپارل شوې چارې په ښه ښه ترسره کړای شي.
- ✓ د مسلکي ژورنالېزم له لارې د ټولنې خدمت کول، چې خلکو ته ژورنالېزم په ټولنه کې د یوې رښتینې پدیدې په توګه څرګند شي.
- ✓ د صحافت او ژورنالېزم له لارې د خلکو ستونزو ته د لاسرسي پر ارزښت د نویو ژورنالېستانو پوهول او پر دوی د ټولنې باور پیدا کول.
- ✓ ځوانان له نړیوالو ژورنالېستیکي ارونو سره اشنا کول، چې ټول هغه اخلاق او موازین ومني، چې په ټولنه کې اصلاحات رامنځته کوي.
- ✓ د داسې مطبوعاتو منځته راوړل، چې ولسي باور ترلاسه کړي او ولس بېرته په مطبوعاتو کې خپل ځان ووینې.
- ✓ په ټولنیزو چارو کې فعاله ونډه اخیستل، چې ژورنالېزم خلکو ته د یو خیر رسوونکي مسلک په توګه څرګند شي.

پای